ولقد يسرنا القرآن للذكر

تفسیر
جواهر القرآن پښتو

مع ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتب خانه
پشاور

اَلقُرآنُ الحَکِیم

مَعَ

تفسیر جواہر القرآن پښتو

از افادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حُسین علی صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ترجمہ شیخ الہند حضرت مولانا محمودُ الحسن صاحب دیوبندی رحمۃ اللہ علیہ

مَع

ترمیم واضافہ

شیخ القرآن حضرت مولانا غُلامُ اللہ خان صاحب رحمۃ اللہ علیہ

فوائد موضح قرآن:۔ از مولانا شاہ عبد القادر صاحب محدث دہلوی رحمۃ اللہ علیہ

فوائد فتح الرحمٰن:۔ از مولانا شاہ ولی اللہ صاحب محدث دہلوی رحمۃ اللہ علیہ

یوویشتمه ۲۱ ۔ دوویشتمه ۲۲ ۔ درویشتمه ۲۳ ۔ څلیرویشتمه ۲۴ ۔ پنځویشتمه ۲۵

وَحِیدِی کُتُب خانه

قصہ خوانی بازار پشاور ــــ فون نمبر ۲۵۶۳۹۹۱

موبائیل نمبر ــــــــ ۰۳۰۰-۹۵۹۶۱۵۰

پنځم جلد

د کتاب نوم ــــــــــــ تفسیر جَوَاهِرُ الْقُرْآن

مع ترمیم و اضافه ــــــ شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب

پښتو مترجم ــــــــــــ مولانا عبد المالک صیب

د قرآن مصحح ــــــــــــ قاری عبد الله

د تفسیر او ترجمې مصحح ــــ مولانا عبد اللطیف سکند رفاضل جامعه بنوریه ټاون کراچي

د کاتب نوم ــــــــ ارقم جان (چارسده روډ) بخشي پُل کلے خدو خیل

ناشر

وحیدی کُتب خانه

قصّه خوانی پیښور ښار

فون نمبر ــــــ ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ــــ ۰۳۰۰ــــ ۹۵۹۹۶۱۵

اُتْلُ مَاۤ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ

تہ اُولوله کوم چه نازل شوي دي ستا طرفته تګه کتاب او قائمه کړه مونځ، بیشکه

الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ وَ لَذِكْرُ اللّٰهِ

مونځ منع کوي د بے حیائۍ نه او د خرابو خبرو نه، او د الله یاد دے

اَكْبَرُ ؕ وَ اللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَ لَا تُجَادِلُوْۤا اَهْلَ

ډیر لوئے، او الله خبر دے څه چه تاسو کوئ ف۔ او جګړه مه کوئ تاسو اهل

الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ۖۗ اِلَّا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ

کتاب سره لیکن په هغه طریقه چه بهتره وي، لیکن څوک چه په دوي کښې بے انصاف دي

وَ قُوْلُوْۤا اٰمَنَّا بِالَّذِیْۤ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَ اُنْزِلَ اِلَیْكُمْ وَ اِلٰهُنَا

او دا سې او وایئ مونږ منلے چه مونږ ته کوم چه په مونږ باندې نازل شوي او نازل شوے پتاسو او بندګي زمونږ

وَ اِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّ نَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَ كَذٰلِكَ اَنْزَلْنَاۤ

او ستاسو یو (الله) د بارګاه او مونږ د هغه په حکم چلیږو ف۲۔ او همدا شان مونږ نازل کړو

اِلَیْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ

پتا باندې کتاب، نو چا ته چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوي دا مني،

وَ مِنْ هٰۤؤُلَآءِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَ مَا یَجْحَدُ بِاٰیٰتِنَاۤ اِلَّا

او دوي مکے والو کښې هم څوک دي چه دا مني، او منکر صرف هغه دي زمونږ د خبرو نه کوم چه

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَ مَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ

نافرمان دي ف۳ او ته لوستونکے نه وے کړدے نه مخکښې د کوم کتاب،

وَّ لَا تَخُطُّهٗ بِیَمِیْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ بَلْ

او نه دې لیکل کول ته په خپل ښي لاس نو هغه وخت به ضرور په شک کښې غورځیدلے دا دروغژن ف۴ بلکه

هُوَ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ فِیْ صُدُوْرِ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ؕ وَ مَا یَجْحَدُ

دا قرآن خو آیتونه دي واضح ګټه د هغه خلقو په سینو کښې چا ته چه ورکړے شوے کا پوهه، او منکر نه دے

بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ

زمونږ د آيتونو لېكن هغه خلق چې بې انصافه دي ف ٥ - او وائي ولې نازل نۀ شوې په ده باندې معجزې د ده د رب طرف

قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

ته ووايه معجزې خو دي د الله سره، او زۀ خو صرف اورَولو والا يم ښكاره.

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ

آيا دوى د پاره دا كافي نۀ دۀ چې مونږ په تا نازل كړو كتاب چې په دوى لوستلې شي، بېشكه

فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ ع ٥

دې كښې رحمت دے او پوهول دي د هغه خلقو د پاره چې دا مني -

نکات: ١ د توحيد په دعوىٰ باندې دليل وحي ٢ د تبليغ د طريقې بيان. ٣ دليل نقلي د اهل كتابو مؤمنانو سره ٤ شكوى ٥ جواب شكوى ٦ هم دا شان جواب شكوى.

موضح قرآن ف ١ څو مره وخت چې په مانځه كښې لګى دو مره وخت خو د هرې ګناه نه بچ شي، اُميد دے چې اَئنده به هم بچ كيږي او د الله تعالىٰ ياد خو د دے نه زيات اثر دے يعني د ګناه نه بچ شو او اعلىٰ درجاتو ته اوختلو - ف ٢ يعني د مشركانو دين خو د اصل او بنيا د نه غلط دے او د كتاب والو دين خو په اصل كښې صحيح او رېښتونے وو نو هغوى سره دا سې جهګړه مكوئ چې د هغوى خبره د بنيا د نه پرېكړئ په نرمئ سره ئې خبره باندې پوهه كړئ ليكن څوك چې په دوى كښې بے انصافه دي هغوى ته سزا وركړئ - ف ٣ دے خلقو كښې يعني په مشركانو كښې او كوم اهل كتابو چې خپل كتاب صحيح كنړلے دے هغوى به هم دا مني - ف ٤ يعني د شبهې او شك ځائے وُو چې د مخكنو تېر شوو كتابونو نه ئې لوستلي دي او معلوم كړي ئې دي، نبي عليه السلام خو نۀ چرته استا ذ سره ناست دے او نۀ ئې په لاس كښې قلم نيولے دے - ف ٥ يعني پېغمبر د چا نه ليكل لوستل نۀ دي زده كړي ليكن دا وحي كومه چې په ده نازله شوې ده پېغمبر د ليكلو ته به جاري وي، سينه په سينه به نقل كيږي. نور كتابونه به نۀ شو يا د ولې، دا كتاب يا دولو سره باقي دے، ليكل دد دے نه علاوه او زياتي دے +

فتح الرحمن ف ١ ځنې مفسرينو وئيلي دي چې مراد د اَلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ نه يوائې د نبي عليه السلام ذات دے.

تفسير ٥١ - دا د توحيد په دعوىٰ باندې دليل وحي دے. دا د توحيد مسئله

دَ وحی په ذریعه تا یانو نازله شوې ده۔ دَ دې وجې نه کوم کتاب چه پتا یانبِ نازل شوې تا سو دَ هغې نه دَ توحید مسئله بیانوئ او دَ کتاب الله ایتونه تولوئ او اوروئ۔ وَاَقِمِ الصَّلٰوۃَ الخ دا امرِ مُصلح دے یعنی دَ توحید دَ مسئلې بیانولو په وجه دَ کافرانو لطرفه چه کوم تکلیفونه او ضرورونه تاسو ته رسیږی دَ هغې دَ اثر کمولو دپاره تاسو مونځ قائم کړئ۔ مونځ سره به دَ الله پاک خصوصی تعلق قائم پاتې شی، دَ صبر او استقامت جذبه به پیدا شی او دَ مصیبتونو او مشکلاتو اهمیت به په زړه کښې کم شی۔ دَ اَلۡفَحۡشَآءِ نه دَ کافرانو خباثتونه او دَ هغوی تکلیفونه رسول مُراد دی یعنی مونځ به دَ کافرانو دَ خباثتونو او تکلیفونو اثر دَ زړهٔ نه ختم کړی۔ اَلۡمُنۡکَرِ خلافِ شریعت کارونه۔ مونځ سره دَ انسان په زړهٔ کښې دَ الله تعالیٰ ویره، عاجزی او خاکساری وغیره ښهٔ صفتونه پیدا کیږی۔ په دې وجه مونځګذار سړے طبعاً دَ خلافِ شریعت کارونو نه متنفر او اجتناب کونکے وی۔ لهٰذا دا صفت به صرف په هغه صورت کښې پیدا کیږی کله چه انسان دِ شعور سره مونځ ادا کړی چه دے دَ احکم الحاکمین په حضور کښې ولاړ دے او دَ مونځ فریضه ادا کوی۔ بټول مونځ کښې ئے توجّه مونځ طرفته وی، دَ توجّه نه بغیر صرف ظاهری ارکان دَ مانځه ادا کولو سره دا صفات او اثار نشی ظاهرید لے۔ وَلَذِکۡرُ اللّٰهِ اَکۡبَرُ دَ ذکر نه مُراد مونځ یا عام دَ الله پاک ذکر مُراد دے یعنی مونځ یا هر وخت په هره معامله کښې الله پاک یادول او دَ هغهٔ دَ نافرمانۍ نه بچکیدل دَ ټولو نه لوئ او دَ ټولو نه اَهم کار دے۔ الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو اَعمالو نه خبر دے او هغه به دَ هر عمل مطابق دَ هغې سزا او جزاء ورکړی۔

۳۴ دا دَ تبلیغ طریقه ده۔ دَ مکې دَ مشرکانو پشان اګرچه اهلِ کتاب هم په تکلیف رسولو کښې مخکښې دی لیکن بیا هم په تبلیغ کښې نرمی اختیار کړه او دَ سختۍ نه کار مهٔ اخله۔ اِلَّا الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا الخ لیکن دوی کښې چه څوک ضد او عناد او بے انصافی کوی او دَ نرمۍ څهٔ اثر پرې نهٔ کیږی، دَ هغوی سره لږ شان سخته لهجه اختیار کړه چه دَ هغوی دَ غرور او تکبر جواب ورکړے شی: اِلَّا الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ بالافراط فی الاعتداء والعناد ولم یقبلوا النصح ولم ینفعهم الرفق فاستعملوا معهم الغلظة (روح ج ۲۱ ص ۲) ـــ یا استثناء منقطع ده یعنی کچرے تاسو نرمۍ سره تبلیغ کوئ نو دِ سره به هغوی زیات متأثره کیږی۔ اِلَّا الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ البته دوی کښې چه کوم ضدیان او بے انصافه دی هغوی به ئے نهٔ منی (قاله الشیخ رحمه الله)

۳۵ دا دَ تبلیغ ښکلے طریقے دی۔ اَهلِ کتابو ته دا سے ووایه چه مونږ خو په هغه وحی هم ایمان راوړے دے کومه چه په مونږ نازله شوے ده او په هغې هم کومه چه په تاسو نازله شوے ده۔ زمونږ او ستاسو معبود او کارساز هم صرف یو الله تعالیٰ دے او مونږ خو صرف دَ دغه برحق معبود تابعدار یو۔ نو اے اَهلِ کتابو تاسو هم دَ هغهٔ پوره پوره فرمانبردار جوړ شئ او دَ هغهٔ په اخری کتاب او دَ هغهٔ په اخری

پیغمبر صلی الله علیه وسلم بانډ ایمان راوړی ۔
٣٩ کاف دپاره د بیان کمال دے اوداد الکتاب یعنی د قرآن منلو ترغیب دے۔ داسے عظیم الشان اومدلل اومحکم کتاب نازل ول زمونږ کمال دے ۔ اوس تاسوله په دے کتاب بانډ عمل کول پکار دی ۔
٤٠ داد توحید په دعوی بانډ نقلی دلیل دے د اهل کتابو مومنانو سره ۔ یعنی د اهل کتابو نه چه کوم حق خوښونکی او انصاف دار دی هغوی په قرآن بانډ ایمان راوړے دے ۔ داهم د دے خبرے دلیل دے چه قرآن او د دهٔ بیان کړے شوے د توحید مسئله حق ده ۔ وَ مِنْ هٰٓؤُلَآءِ نه اهلِ عرب یا اهلِ مکه مُراد دی یعنی د اهلِ کتابو نه علاوه پخپله د مشرکانو نه هم ډیرو خلقو ایمان راوړے دے ۔ وَمَا يَجْحَدُ : دا زجر دے ۔ اهل کتابو او مشرکانو کښ چه کوم خلق انصاف خوښونکی وُو نو هغوی خو ایمان راوړے دے او زمونږ د ایتونو نه انکار صرف هغه خلق کوی کوم چه ضدیان او معاندین دی ۔ همدا وجه ده چه د اهلِ کتابو او مشرکانو نه ډیر خلق د حق پیژندلو با وجود محض د ضد او عناد په وجه ایمان نهٔ راوړی ۔
٤١ داد نبی علیه السلام د نبوت او دعویٰ توحید د صداقت دلیل دے یعنی د قرآن د نزول نه مخکښ نهٔ خو تاسو مخکنی کتابونه لوستلی وُو او نهٔ خو دِ څهٔ لیکل کړی وُو یعنی تاسو لیکل لوستل پیژندلے هم نهٔ وو ۔ که چرے تاسو لیکل لوستل پیژندلے نو باطل پرستو یعنی د مکے مشرکانو ته به د شک شبهے یوه پلمه لاره هم ملاؤ شوے وه او ویل به ئے چه محمد (صلی الله علیه وسلم) د تیرو شوؤ کتابونو مطالعه کوی او بیا خپلو لاسونو سره مضامین لیکی، د وحی الٰهی په نوم سره ئے زمونږ وړاندے پیش کوی لیکن اُوس د دے شبهے هیڅ گنجائش نشته ۔ د دے وجے نه اُوس به دا منل ضروری وی چه نبی علیه السلام کوم څهٔ بیانوی هغه د الله تعالیٰ وحی سره کوی او هغه د الله تعالیٰ رښتونے رسول دے ۔
قال النحاس دلیلا علیٰ نبوته لقریش لانه لا یقرأ ولا یکتب ولا یخالط اهل الکتٰب ولم یکن بمکة اهل الکتاب فجاءهم باخبار الانبیاء والامم وزالت الریبة والشک ۔ (قرطبی ص ٣٥١ ج ١٣)
٤٢ داد ماقبل نه اضراب دے یعنی دے مبارک کتاب کښی د شک شبهے څهٔ سوال، دا خو د اهلِ علم په سینو کښ محفوظ شوے دے او ایمان والو دا پخپلو سینو کښ محفوظ کړے دے، د هر قسم تحریف او تبدیل نه او د شک شبهے رسیدلو نه ئے په امن کړے دے ۔ وَمَا يَجْحَدُ الخ: زمونږ ایتونه چه پوره په پوره نور هدایت او واضح دلائلو بانډ مشتمل دی، د دینه انکار صرف هغه خلق کوی چه په ضد او عناد او مکابره (غرور) کښ د حد نه تیر شوی ۔
٤٣ دا شکوه ده ۔ د اهلِ کتابو تیزؤلو او راپارؤلو سره په مشرکانو د نبی علیه السلام نه مطالبه کوله چه څنګه موسیٰ علیه السلام یدِ بیضا او عصا معجزے ښودلے او ښکاره کړے

کړے وے، تاسو هم د هغه پشان معجزے ښکاره کړئ. قُلْ اِنَّمَا الْاٰیٰتُ الخ دا جواب د شکوے دے یعنی معجزے راوړل زما په اختیار کښ نه دی بلکه د الله تعالیٰ په اختیار کښ دی. کله چه هغه غواړی یوه معجزه د خپل پیغمبر په لاس ظاهروی څه خود هغه په حکم د هغه پیغام رسوم او تاسو ته د هغه د عذاب نه ویروم. اِنَّمَا الْاٰیٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ینزل ایتها شاء ولست املک شیئا منها. (مدارک ص ۲۰۰ ج ۳)

۲۲ دا هم په جواب شکوه کښ داخل دے. مشرکان کچرے واقعی د حق تلاش کوونکی وی او اطمینان د پاره معجزه طلب کوی نو آیا د دوی د اطمینان او د شکوک او شبهات لرے کولو د پاره دا کافی نه دے چه مونږ پتا سو باندې قرآن نازل کړے دے چه هر وخت هغوی ته لوستلے او اورولے شی. د د ښه واضح آیتونه او واضحه دلائل ستاسو صدن آفت د روښنا نه ورځے پشان واضحه کوی او هر قسمه شکوک او شبهات لرے کوی. کچرے واقعی دوی ایمان راوړل غواړی او ضد سرکشی د دوی مقصود نه وی نو دا قرآن ټول رحمت او عبرت دے، دیکښ د غور فکر اوکړی او د دے نه د د فائدے اخستلو کوشش وکړی. ای اولم یکفهم اٰیة مغنیة عن سائر الاٰیات ان کانوا طالبین للحق غیر متعنتین هذا القراٰن الذی تدوم تلاوته علیهم فی کل مکان و زمان فلا تزال معهم اٰیة ثابتة لا تزول ولا تضمحل الخ. (بحر. ج ۷ ص ۱۵۶) ؎

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي

ته ووایه کافی دے الله خما او ستاسو په مینځ کښ گواه ؎ پوهیږی په هغه څه چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا

آسمانونو او زمکه کښ دی، او هغوک چه یقین راوړی په دروغو بانديې، او منکر شویدی

بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۭ

د الله نه، هم دوی دی نقصان موندونکی والا. او زر غواړی لتا نه ؎ آفت،

وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ۭ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ

او کچرے نه وے یوه وعده مقرره، نو راغلے به وو دوی باندې آفت، او البته راځی به شی دوی باندې

بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۭ

ناگهانه او دوی ته به خبر نه وی ؎ زر غواړی لتا نه عذاب

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ

او دوزخ کېرُووي منکرانو لره ۵۴ - کومه ورځ چه احاطه وکړي په دوئ عذاب

مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا

دَ دوی د پاسه او دَ خپو نه لاندے او وائي به او څکئ څنګه چه

كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي

تاسو کول ۵۵ - اے بندګانو زما چه یقین مو کړے ګټه زما زمکه

وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ

فراخه ده نو زما بندګي کوئ - هر یو ژوندے به مرګ څکي ،

ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

بیا به زمونږ طرفته واپس راځئ ۵۷ او کومو خلقو چه یقین وکړو او وے کړل نیک کارونه ګټه

لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

هغوی ته به مونږ ځائے ورکړو په جنت کښ ماڼئ لاندې بهیږي دَ هغے نه نهرونه

خَالِدِينَ فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٥٨﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَ

همیشه به اوسیږي په هغے کښ، ښه بدله ملاؤ شوه کار کوونکو ته ، چا چه صبر وکړو او

عَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾ وَكَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لَّا تَحْمِلُ

پخپل رب باندے بهروسه وکړه ۵۹ - او ډیر دَ ذي روح (ساه والو) نه ګټه چه نشي پورته کولے

رِزْقَهَا اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ وَهُوَ السَّمِيعُ

خپل رزق ، الله رزق ورکوي هغوی ته او تاسو ته هم ، او هغه دے اوریدونکے

الْعَلِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

پوهے والا ۶۰ - او که ته هغوی نه تپوس وکړې چه چا پیدا کړي دي آسمانونه او زمکه

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾

او چه کار کے لګولي دي نمر او سپوږمئ نو دوي به وائي الله ، بیا څنګه ګرځولي شي (دَ توحید نه) ف

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ

الله فراخوی رزق لره چا لره چه وغواړی د خپلو بندګانو نه او تنګوی چا لره چه وغواړی

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۶۲﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ

بیشکه الله په هر خیز خبردار دے ف۱. او که ته تپوس وکړے له دوی نه چا نازل کړیدی

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا

اوبه د آسمان نه، بیا ئے ژوندی کړو په هغے سره زمکه د هغے د مرګ نه روستو،

ع ۶/۱۲ ۲ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ ع

نو به وائی الله تعالیٰ، ته ووایه ټول صفتونه الله لره دی، خو ډیر خلق نه پوهیږی ف۱

نکات:- ۱ زجر سره د تخویف ۲ متعلق د اولے دعوے سره. ۳ بشارت اُخروی. ۴ دویم عقلی دلیل. ۵ دریم عقلی دلیل. ۶ څلورم عقلی دلیل ؛

موضح قرآن

ف۱ د الله تعالیٰ ګواهی دا ده چه رښتونی ئے ورځ په ورځ زیات کړل او دروغژن ئے ختم کړل. **ف۲** د دے اُمت عذاب دا وُو چه د مسلمانانو په لاس قتل کیدل او قید کیدل نو د مکے د فتح په ورځ د مکے خلق نا خبره وُو چه د نبی علیه السلام لښکر ورته په سر اودریده. **ف۳** یعنی د آخرت عذاب، خو دوی عبث او بے ځایه سوال کوی. دغه عذاب کښې خو غورځیدلی دی. دا کفر او بد عملی به مرګ سره په نظر راشی چه د دوزخ اور و دوی سوزوی. **ف۴** دا به الله تعالیٰ ووائی یا به هغه عذاب ووائی لکه چه د زکوٰة نه ورکوونکی مال به د مار په شکل کښې د هغه په غاړه کښې واچولے شی او غاړه کا به ورله چیچی او وائی به څه ستا مال یم څه ستا خزانه یم. **ف۵** کله چه کافرانو په زمکه کښې ډیر ظلم وکړو نو حکم نازل شو د هجرت. اتیا (۸۰) درے اتیا کورونه پاڅیدل د حبشے ملک ته ئے هجرت وکړو د هغے په نسبت دلته وائی چه دغه څو ورځے ژوند هر چرته چه ممکن وی هلته ئے تیر کړئ بیا به ټول مونږ ته یو ځائے راجمع کیدونکی یئ او راتلونکی یئ. دا ئے مهاجرینو ته تسلی ورکړه چه وطن پریښودل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم جدائی پرے آسانه شی.

ف۶ یعنی د دے وطن پریښودو له کښې به بل وطن ملاؤ شی. **ف۷** دا ئے لره طرفه د زړه اطمینان ورکړه چه د اکثرو ساه لرونکو په کورونو کښې د صبا روزی نه وی په نوے ورځ کښې نوے روزی ور رسوی. **ف۸** یعنی د رزق اسباب هغه پیدا کړیدی ټولو ته معلومه ده بیا په هغه ولے بهروسه نکوی؟ چه هم هغه به ئے در رسوی،

لیکن څو مره چه هغه وغواړي ئ نه چه څو مره تا سو غواړئ - دائے راتلونکی ایت کښې اوښود له **وف** په الله ازلا کوی ئے داسے نه چه بالکل ئے نه ورکوی - **ف۱۰** یعنی باران هم په هرځا یو شان نه وریږی او همدا شان په حال احوال بدلولو کښې هم دو مره وخت نه لګی یا په لږ وخت کښې خوار غریب مالدار او غنی ګرځوی ۱۲

فتح الرحمٰن **ف۱** الله تعالیٰ ترغیب ورکوی دے ایت سره د حبشے او مدینے په هجرت باندې ۱۲

تفسیر:- ۴۵ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته حکم وشو چه د دومره دلائلو او براهینو باوجود که بیا هم نه منی نو تاسو ورته وفرمایئ ځما او ستاسو مینځ کښې ځما په صداقت باندې الله تعالیٰ د ټولو نه لوئے ګواه دے او هغه په ټول هرڅه عالم دے کوم څه چه تاسو کوئ هغه ترینه پټ نه دی تاسو ته به د هغے سخته سزا درکوی - وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ - د باطل نه مُراد د الله نه غیر معبودان دی - وهو ما یعبد من دون الله تعالیٰ (ابو السعود ص ۷۰۰ ج ۶) قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ای بغیر الله عزوجل وهو شامل لنحو عیسٰی والملائکة علیهم السلام والباطل فی الحقیقة عبادتهم الخ (روح ص ۸ ج ۲۱)

۴۶ دا زجر دے سره د تخویف دُنیوی او اُخروی نه - دا معاندین د عذاب تلوار سره د راتللو مطالبه کوی لیکن د عذاب وخت مقرر دے - که چرے د هغے وخت مقرر او متعین نه وے نو تر اوسه پورے به هغوی عذاب سره هلاک شوی وُو - د عذاب وخت زمونږ په علم کښې مقرر دے لیکن دوی ته ئے علم نشته نو هغه به ناګهانه په خپل وخت باندې دوی ته راشی - د دے نه قیامت یا د جنګ بدر عذاب مُراد دے - و هو یوم القیٰمة او یوم بدر - (مدارک) یَسْتَعْجِلُوْنَكَ الخ دا د مخکورہ زجر دوباره ذکر دے دوی تلوار سره د عذاب راوړلو مطالبه کوی - تاسو ورایئ عذاب به راځی دا ټول کافران او مشرکان به دوزخ کښې وغورځولی شی او دغه وخت به ورته و ویلے شی چه نن د خپل مشرکانه اعمالو ینهٔ مزه وڅکئ - دا هغه عذاب دے کوم چه تاسو په بے صبرئ سره غوښتلو او د استهزاء په طور به موږ زمونږ د پیغمبر نه مطالبه کوله -

۴۷ دا اولے دعوے سره متعلق دے - د سُورت په شروع کښې او ویلے شو چه د توحید په خاطر به مصیبتونو او مُشکلاتو سره مخامخ کیدل وی - او کدے منافقانو پشان مه کیږئ چه معمولی تکلیف باندې د توحید لوړ اخستل پریږدی - او س ئے دلته او فرمایل چه که مشرکان دومره ډیر تکلیفونه تاسو ته ورسوی چه په وطن کښې پاتے کیدل مشکل شی نو زما زمکه فراخه ده د وطن نه هجرت وکړی بل ځائے ته لاړشئ چه هلته تاسو ځما خالص عبادت اوکړے شئ - كُلُّ نَفْسٍ الخ دا څو ورځے دُنیوی ژوند دے ، اخر به هر یو ته مرګ راځی او تا سو ټول به ما ته راځئ -

۴۸ دا د هجرت کوونکو د پاره بشارت اُخروی دے - کوم خلقو چه په توحید باندې

ایمان راوړو او د توحید په وجه ئے تکلیفونه برداشت کړل، خپل کورونه ځائیونه ئے پریښودل، په آخرت کښ به مونږ هغوی ته اعلیٰ قسم ماڼۍ ورکړو چه د هغے د لاندنو او ماڼو لاندے به نهرونه بهیږی او هغوی به دیکښ همیشه وسیږی۔ اَلَّذِیْنَ صَبَرُوْا الخ دا د هغه ایمان والو اجر دے چا چه خپل ژوند کښ د توحید نمونه پیش کړه او د حق دین په خاطرے مصیبتونه برداشت کړل او همیشه ئے په الله تعالیٰ بهروسه او اعتماد اوساتلو۔

۴۹ف وطن پریښودلو سره د فقر و فاقے خطره وه لکه چه ځنے مسلمانانو د دے اظهار هم کړے وو چه هجرت وکړو او مدینے ته لاړشو نو هلته به څهٔ خورو۔ د دے سره الله پاک وفرمایل په الله تعالیٰ بهروسه وکړئ چه ټولو حیواناتو ته روزی ورکوی، هغه ستاسو رازق هم دے۔ تاسو وینئ ټول حیوانات خالی لاس وی لیکن الله تعالیٰ ټولو ته روزی وررسوی۔ نو هغه به تاسو ته ولے روزی نهٔ درکوی۔ لما امر رسول الله صلی الله علیه وسلم من اسلم من مکة بالهجرة خافوا الفقر والضیعة فنزلت۔ (مدارک ج ۳ ص ۲۰۱) —— الله تعالیٰ هره خبره آوریدونکے او په هر څهٔ عالِم دے، د هغهٔ نه هیڅ څیز پټ نشته۔ هغه ستاسو آواز آوری او ستاسو د حاجتونو نه خبر دے۔ نو په هغهٔ باندے بهروسه وکړئ، د هغهٔ د دین په خاطر هجرت وکړئ هغه به ستاسو ټول کارونه آسان کړی۔

۵۰ف دا دویم عقلی دلیل دے په دعوی د توحید باندے علی سبیل الاعتراف من الخصم۔ کله چه مشرکان پخپله تسلیموی چه د زمکے او آسمان خالق الله تعالیٰ دے او دا ټول شمسی نظام هم د هغهٔ په تصرف او اختیار کښ دے نو بیا د دوی په عقل باندے څهٔ شوی دی چه د الله تعالیٰ نه سوا نورو له د کارساز کیدلو سره رابلی۔

۵۱ف دا دریم عقلی دلیل دے۔ رزق چه د انسان د ټولو نه بنیادی ضرورت دے هغه د الله تعالیٰ په قبضه کښ دے۔ د رزق فراخی او تنګی د هغهٔ په اختیار کښ ده او هغه عَالِمُ الْغَیْب هم دے لهٰذا په ټولو حاجتونو او مصیبتونو کښ صرف هغه کارساز او برکات ورکوونکے دے بل څوک نهٔ دے۔

۵۲ف دا څلورم عقلی دلیل دے علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم۔ مشرکان منی چه د آسمان نه باران رحمت نازلولو سره مختلف قسم غلے او میوے صرف هغه پیدا کوی نو بیا په دوی افسوس دے چه د الله تعالیٰ نه سوا نور برکات ورکوونکی او کارساز ګنړی۔ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ دا د مذکوره دلائل عقلیه ثمره ده۔ هر کله چه د مشرکانو د خپل اقرار او اعتراف نه ثابته شوه چه د ټولو کائناتو خالق او په دیکښ متصرف او مختار الله تعالیٰ دے نو تاسو اعلان وکړئ چه د دے نه معلومه شوه چه ټول صفات د کارسازئ د الله تعالیٰ په ذات پورے خاص دی او په دے صفاتو کښ ورسره هیڅوک شریک نشته لیکن د دلائلو د دومره وضاحت او ظاهریدلو باوجود اکثر خلق په دیکښ غور او فکر نکوی ✧

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۭ وَاِنَّ الدَّارَ

او نه ده دا ژوند د دنیا خو بس زړه خوشالول او لوبې دي، او کور

الْاٰخِرَةَ لَهِىَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٤﴾ فَاِذَا رَكِبُوْا وقف لازم

د آخرت هغه خو دے ژوند حقیقي، کچرے دوی پوهیدلے. بیا چه کله سواره شي

فِى الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۥ فَلَمَّا

په کشتۍ کښې نو آواز کوي الله ته خالص په هغه باندې اعتقاد لرلو سره، بیا چه کله

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ وَ

خلاصے ورکړي هغوی ته د زمکے طرف ته هغه وخت شریکان جوړوي چه منکر شي نو زمونږ ورکړي شوي نعمت باندې

لِيَتَمَتَّعُوْا ۫ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا

او مزے اخلي، نو نزدے ده چه پوهه به شي. آیا نه گوري چه مونږ نو گرځولے دے

حَرَمًا اٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۭ اَفَبِالْبَاطِلِ

حرم امن ورکونکے او خلق تښتولی شي د دوی نه گیرچاپیره، آیا په دروغو

يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ

دوی یقین لري او د الله احسان نه مني. او د هغه نه زیات بے انصافه څوک

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا

دے چه وتړي په الله باندې دروغ یا دروغ وگڼړي رښتونے خبره کله چه

جَآءَهٗ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِيْنَ

ورته راورسیده، آیا دوزخ کښې د اوسیدو ځائے نشته نه انکار کونکو د پاره. او چا چه

جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ

محنت وکړو نو زمونږ د پاره مونږ به او ښایو هغوی ته لارے خپلے، او بیشکه الله ملگرے دے

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٦٩﴾ ع ٦/٣

د نیکی کونکو سره نو وي.

موضح قرآن

ف۱ دَ مکے خلق دَ الله تعالیٰ دَ کور په برکت سره دَ دُښمنانو نه په امن کښ وُو او ټول عرب ملك کښ فساد وُو نو دوی دَ بُتانو احسان په دروغه منی او دَ الله تعالیٰ دا نِکاره او ربښتونے احسان نۀ منی۔

ف۲ خپله لارے یعنی لارے دَ نزیکت او دَ رضا چه جنت دے۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی په دوستیٔ دَ یو بل په سبب دَ را جمع کیدلو په شرك باندِ فائده اخلی۔

تفسیر:۔ ۵۳ دَ دُنیا دَ سپکوالی او کموالی بیان دے۔ مشرکان او اهلِ دُنیا چه په کوم دولت او دَ دُنیا په شان وشوکت باندِ مغروره شول او دَ توحید نه انکار کوی دَ دے حقیقت دَ دے نه زیات نۀ دے چه دا دَ دُنیا لوبے توقے دی چه دے سره عحض څو ورځے زړۀ خوشالوُلے شی۔ دا اصلی زندګی نۀ ده، اصل زندګی دَ آخرت ده چه هیڅکله نۀ فنا کیږی۔ دَ دے وجے نه آخرت دپاره توبنه تیارول پکار دی: ای ماهی فی سرعة زوالها عن اهلها وموتهم الا کما یلعب الصبیان ساعة ثم یتفرقون۔ (بحر ج ، ص۱۵۵) کچرے هغوی دَ دے حقیقت پیژندلے وے نو دُنیا ته به ئے په آخرت باندِ ترجیح نۀ ورکولے۔

۵۴ دا زجر دے مشرکان چه کله په کشتو کښ سواره شی دَ غه وخت کچرے دَ هغوی کشتیٔ په ګرداب کښ راګیره شی یا دَ باد په طوفان کښ راګیره شی نو هغوی دَ هر طرفه نا امیده شی خالص الله تعالیٰ مدد دَ پاره رابلی او خیالی معبودان، مددګاران او کارسازان هیرکړی۔ مشرکانو به دَ نبی علیه السلام نه اوریدل چه کۀ دوی شرك پریښودلو سره په توحید باندِ ایمان نۀ راوړی نو دَ الله تعالیٰ عذاب به راشی۔ دَ دے وجے نه کله چه دوی کشتیٔ په خطره کښ وینی نو خیال کوی چه شاید هغه عذاب راغلے دے دکوم نه چه محمد (صلی الله علیه وسلم) مونږه ویروی۔ نو خالص الله تعالیٰ رابلی لیکن چه کله الله تعالیٰ دَ هغوی کشتیٔ صحیح سالمه غاړے ته اُورسوی او په وُچه باندِ کوزه شی نو هغوی بیا شرك شروع کړی او دَ مخکښ پشان حاجتو نو کښ غیر الله ته چغه وهی۔

۵۵ دواړو صیغو کښ لَام په معنیٰ دَ کَیْ دے یعنی هغوی شرك کوی دپاره دَ دے چه دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو ناشکری وکړی او په شرك باندِ دَ اِتحاد او اتفاق فائده واخلی: ای یشرکون لیکونوا کافرین بما اٰتٰهم من نعمة النجاة بسبب شرکهم و لیتمتعوا باجتماعهم علی عبادة الاوثان وتوادهم علیها۔ (روح ج ۲۱ ص ۱۳)۔ یا په دواړو کښ لام دَ اَمر دَپاره دے۔ قرینه دا ده چه په یو قرأت کښ دَ: وَلْیَتَمَتَّعُوْا لام ساکن دے او دَ لام سکون اَمر سره جائز دے لام کَیْ باندِ جائز نۀ دے۔ دے صورت کښ به دا تهدید او وعید وی: وقیل هما لام امر معناه التهدید والوعید ...... و من قرأ ولیتمتعوا باسکان اللام لم یجعلها لام کَیْ لان لام کی لایجوز اسکانها (قرطبی ج۱۳ ص۳۶۳)

فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ ○ اُوس کفران نعمت او شرك اوکړی۔ نزدے دے چه دَ دے انجام به ووینی۔

۵۶ اهلِ مکه ته نبی دَ یو بل لوئے انعام ذکر اوفرمایلو یعنی هغوی د په دلائلو کښې هم غور او فکر اوکړی او زمونږ احسانات د هم اُووینی۔ آیا هغوی نه گوری چه مونږ دَ هغوی ښار حرمِ محترم او دَ امن ځائے گرځولے دے۔ ټولو عربو دَ بیت الله په وجه سره دَ مکے والو عزت کولو او دَ هغوی مال او سر او عزت او ابرو ته به چا لاس نه اُوړلو حال دا دے چه دَ دوی گیر چاپیره دَ نورو خلقو مال او سر محفوظ نه و هغوی کښې هره ورځ دَ قتل او د اکے بازار گرم وو لیکن دا مکے والا دَ الله تعالیٰ دَ عظیم احساناتو قدر هم نکوی او خود ساخته معبودان کارساز گنړی او دَ الله پاك دَ نعمتونو بے قدری کوی۔ اَفَبِالْبَاطِلِ یُؤْمِنُوْنَ الخ: آیا دَ دے دلائلو او احساناتو باوجود به دوی باطل دَ ځانه جوړکړی معبودان کارساز گنړی او زمونږ دَ احساناتو ناشکری به کوی۔

۵۷ دا مشرکان دا سے ظالمان او بے انصافه دی چه دَ الله تعالیٰ دَ احساناتو باوجود الله تعالیٰ سره شرك کوی او دوی دَ ټولو نه زیات ظالمان دی ځکه چه کوم سړے په الله پاك باندے افتراء وکړی چه هغه سره څوك شریك شته یا دَ الله تعالیٰ دَ رسول او دَ هغه دَ کتاب نه انکار وکړی هغه دَ ټولو نه لوئے بے انصافه دے۔ اَفْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا بان زعم ان له شریکا ---- او کذب بالحق ای بالرسول او بالقرآن۔ (ابو السعود ص ۵۰۷ ج ۶)۔

۵۸ استفهام انکاری دے۔ همزه دَ انکار چرے په مثبت باندے راشی مُراد به نفی وی او کله چرے په منفی باندے راشی نو مُراد به اثبات وی۔ دلته په منفی باندے داخله ده دَ دے وجے نه مُراد به اثبات وی یعنی دَ کافرانو ځائے به یقیناً په دوزخ کښې وی۔ هذا تقریر لثوائهم فی جهنم لان همزة الانکار اذا دخلت علی النفی صار ایجابا۔ (مدارک ج ۳ ص ۲۰۲)۔

۵۹ دَ جهاد نه دلته دَ کافرانو سره جهاد مُراد نه دے بلکه مجاهده دَ نفس مراد ده او دَ مصیبتونو زغمل مُراد دی۔ دا دَ سورت ابتداء یعنی اولے دعوے سره متعلق دے۔ دَ حق دین او توحید په خاطر به مصیبتونه راځی تر دے چه خپل وطن پریښودل به پکښې هم راځی۔ کوم خلق چه دحق په لاره کښې مصیبتونو او تکلیفونو باندے صابر وو او شاکر وسیږی او دَ حق دین له خاطره دَ مشکلاتو مقابله وکړی، مونږ به هغوی لره په حق لاره باندے قائم اُوساتو او په توحید باندے به ورته کلکوالے او استقامت نصیب کړو او په صراطِ مستقیم باندے به ورته دَ تللو توفیق ورکړو۔ (وَالَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِیْنَا) فی شاننا ومن اجلنا ولوجهنا خالصا ... لَنَهْدِیَنَّهُمْ سُبُلَنَا والمراد نزیدنهم هدایة الی سبیل الخیر و توفیقا لسلوکها۔ (روح ص ۱۴ ج ۲۱)

۲ٍ۱ دا جمله دَ ما قبل دپاره په منزله دَ علت ده او دَ مُحۡسِنِیۡنَ نه هغه خلق مراد دی چه دَ الله تعالیٰ په لاره کښې تکلیفونه برداشت کوی (روح) یعنې مونږ به دغه خلق په حق دین او صراط مستقیم باندې قائم ساتو ځکه چه زمونږ مَدَد او نُصرت همیشه هغه خلقو سره وی څوک چه دَ حق دین په خاطر پوره اخلاص سره مصائب برداشت کوی ۞

دَ سُوۡرَةِ عَنۡکَبُوۡت خصوصیات

او دِ یکښې دَ توحید اٰیتونه

① اَحَسِبَ النَّاس - تا - وَلَیَعۡلَمَنَّ الۡکٰذِبِیۡنَ ۝ اے ایمان والو! څنګه چه مخکنو خلقو باندې دَ توحید په وجه اَزمائښتونه راغلل داشان به په تاسو هم راځی ـ (خصوصیت)

② اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ - تا - سَآءَ مَا یَحۡکُمُوۡنَ ۝ دَ مشرکانو دا خیال غلط دے چه دوی به چرته وُتښتی او زمونږ دَ عذاب نه به خلاص شی (خصوصیت)

③ وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ یَّقُوۡلُ - تا - اِنَّا مَعَکُمۡ ـ ځنے خلق داسے هم شته چه دَ توحید په وجه لږ شان تکلیف هم نشی برداشت کولے او معمولی تکلیف راتللو سره هم توحید پریږدی ـ (خصوصیت)

④ فَاَنۡجَیۡنٰهُ وَ اَصۡحٰبَ السَّفِیۡنَةِ وَجَعَلۡنٰهَاۤ اٰیَةً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ۝ مصیبتونو او مشکلاتو کښې کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل هیڅوک نشته ـ

⑤ اِنَّمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللهِ - تا - اِلَیۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ۝ نفی دَ شرك فی التصرف ـ

⑥ وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللهِ - تا - وَمَا لَکُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِیۡنَ ۝ نفی دَ شرك فی التصرف ـ

⑦ وَلَمَّاۤ اَنۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَا - تا - کَانَتۡ مِنَ الۡغٰبِرِیۡنَ ۝ (ع ۴) نفی دَ علم غیب او تصرف دَ لوط علیه السلام نه ـ

⑧ مَثَلُ الَّذِیۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللهِ - تا - لَوۡ کَانُوۡا یَعۡلَمُوۡنَ ۝ نفی دَ تصرف او اختیار دَ باطل معبودانو نه ـ

⑨ اِنَّ اللهَ یَعۡلَمُ - تا - وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ۝ نفی دَ شرك فی العلم ـ

⑩ خَلَقَ اللهُ السَّمٰوٰتِ - تا - لَاٰیَةً لِّلۡمُؤۡمِنِیۡنَ ۝ نفی دَ شرك فی التصرف ـ

⑪ اُتۡلُ مَاۤ اُوۡحِیَ اِلَیۡكَ مِنَ الۡکِتٰبِ (ع ۵) دَ قرآن په ذریعه دَ توحید مسئله بیانوه ـ

⑫ وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ - تا - بَلۡ اَکۡثَرُهُمۡ لَا یَعۡقِلُوۡنَ ۝ نفی دَ شرك فی التصرف ـ

⑬ فَاِذَا رَکِبُوۡا فِی الۡفُلۡكِ - تا - فَسَوۡفَ یَعۡلَمُوۡنَ ۝ کله چه کشتئ په خطرو کښې وینی نو دَ هر طرفه نا اُمیده شی خالص الله تعالیٰ ته چغه وهی (خصوصیت) ۞

نن په تاریخ ۱۷ ذی الحجه ۱۴۲۵ھ مطابق ۲۸ جنوری ۲۰۰۵ء په ورځ دَ جمعے دَ سورۂ عنکبوت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو فالحمد لله علیٰ ذلك والصلوٰة والسلام علیٰ رسوله الهادی الیٰ اوضح المسالك وعلیٰ آله واصحابه الذین هم نجوم الهدایة فی الظلام الحوالك ۞

سُوْرَةُ رُوْمْ

رَبط

دَ سورۃ رُوم سورۃ عنکبوت سره رسمی ربط دا دے . دَ عنکبوت مثال سره دا حقیقت واضح شو چه دَ الله تعالیٰ نه سوا څوک کارساز او برکات ورکوونکے نشته . لهٰذا دَ هغهٔ نه سوا هیڅوک دَ رابللو لائق نشته ، دَ الله تعالیٰ نه سوا چه ستاسو کوم معبودان دی دَ هغوی پناه دَ عنکبوت پشان کمزورے او بے فائدے ده ، اے ایمان والو ! یقیناً تاسو دَ توحید دے عقیدے باندې قائم پاتے شئ نو الله تعالیٰ به تاسو له په دُشمنانو باندې دا سے غالب کړی څنګه چه ئے رُومیان به ایرانیانو باندې غالب کړل .

دَ دواړو سُورتونو مینځ کښې معنوی ربط دا دے ؛ سورۃ عنکبوت کښې ئے اُوفرمایل : أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ۝ یعنی صرف په ژبه آمَنَّا ویلو سره کار نهٔ چلیږی بلکه دَ توحید په خاطر به لوئے لوئے تکلیفونه او اَزمائښتونه هم راځی . هغه په صبر او استقلال سره برداشت کول وی . سُورۃ روم کښې ئے وفرمایل : وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللهِ الخ یعنی کومه ورځ چه رومیانو ته په ایرانیانو باندې فتح حاصلیږی په هغه ورځ به هم مسلمانانو ته په مشرکانو دَ مکے باندې فتح او غلبه نصیب شی . او مسلمانان به نُصرتِ الٰهی سره خوشحاله وی . چونکه دَ دے سُورت مقصود هم دا دے چه دَ توحید په وجه سره به الله تعالیٰ مؤمنانو ته غلبه ورکړی . دَ دے وجے نه ئے دا وعده په سورت کښې درے ځله ذکر کړه اوله دویم ځل په مینځ کښې : وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ۝ (ع ۵) دریم ځل په آخر کښې : إِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ . (ع ۶)

خلاصه

مسلمانانو ته په مشرکانو باندې فتح او نُصرت به محض په توحید باندې دَ قائم پاتے کیدلو سره حاصل وی . په دے وجه ئے وفرمائیل : فَسُبْحَانَ اللهِ الخ یعنی تاسو الله پاک له دَ هر قسمه شریکانو نه پاک وګنړئ او هر وخت دَ هغهٔ په تسبیح او تقدیس کښې مشغول اُوسئ . دَ دے مضمون دویمے طریقے سره دوباره دَ دینه پس ذکر وکړے شو . اول فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ط (ع ۴) دویم فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ (ع ۵) دَ توحید مسئله یو دا سے اَهمه او حقه مسئله ده چه بے شماره عقلی دلائلو سره ثابته ده . دے دپاره تاسو سختئ او مضبوطیا سره په دین توحید باندې قائم وسیږئ . په مینځ کښې دَ عذاب نه بچکیدلو دپاره دَ امور ثلاثه ذکر کړے شوے دے . مسلمانانو ته به کافرانو باندې غلبه چونکه محض دَ توحید په وجه سره حاصله وی

نوځکه سورت کښې د توحید مسئله په مثال او دیارلس عقلي دلیلو نوسره مدلل او واضحه کړے شوه. د سورت په شروع کښې مسلمانانو ته په مشرکانو باندې د فتح او غلبے خوشخبري ورکړے شوه. وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ. کومه ورځ چه رومیانو ته فتح حاصلیږي په دغه ورځ به مسلمانانو ته په مشرکانو باندې غلبه حاصلیږي. دا غلبه به محض د الله تعالیٰ مدد او نصرت سره وي. د الله تعالیٰ وعده ده، دیکښې به هیڅکله وعده خلافي نه وي کړے نه پس يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا نه تر بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ پورې په مشرکانو زجرونه دي.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ الخ تخویف دنیوي دے. اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ الخ (ع ۲) د حشر او نشر په ثبوت باندې عقلي دلیل دے یعنې کوم ذات چه اول خل مخلوق پیدا کولو باندې قادر دے هغه دوباره هم مخلوق پیدا کولے شي. وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ الخ تفصیل د انجام د مؤمنانو او کافرانو. فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اخروي دے. وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ تخویف اخروي دے.

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ الخ دا د سورت په ابتداء مرتب دے یعنې د الله تعالیٰ دا وعده ده چه څرے تاسو په توحید باندې قائم یاست شئ نو تاسو ته به په کافرانو باندې غلبه درکړم لهٰذا هغه د شریک نه پاک وګنړئ او هیڅوک هغه سره مه شریکوئ دینه پس د توحید په مسئله باندې دیارلس عقلي دلیلونه ذکر شوي دي. اتّه دلیلونه رو ستو د معبود برحق او معبود باطل تمثیل دے. ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ الخ او د هغې نه پس پنځه دلیلونه او تمثیل باندې مرتب د توحید مسئله باندې د قائم پاتے کیدلو حکم دے. فَاَقِمْ وَجْهَكَ الخ دے نه پس باقي دوه عقلي دلیلونه ذکر کړل. د بعث بعد (چه بروخت تیریدلو) د وجه نه د دے حکم اعاده شوے ده. فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ الخ بیا باقي پاتے عقلي دلائل ذکر شویدي. د نهه عقلي دلائلونه پس عن اب الٰهي نه د بچکیدلو دپاره درے امور ذکر شویدي. شرک مکوئ، احسان کوئ او ظلم مکوئ. فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى الخ.

اولنے عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ الخ انسانان د خاورے نه پیدا کول او بنګلي صورتونه ورکول هم د هغه د قدرت او وحدانیت دلیل دے. دویم عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ الخ د انسانانو د جنس نه د هغوي د سکون او ارام په خاطر ښځے پیدا کول. دریم عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ الخ اسمانونه او زمکه پیدا کول د انسانانو ژبے او رنګونه مختلف کیدل. څلورم عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ الخ شپه هغه ستاسو د ارام او سکون دپاره او ورځے د رزق تلاش کولو دپاره ګرځولے ده. پنځم عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ الخ دا د برېښنا چمک، پرقیدل او اسمان نه د رحمت باران نازلول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دي. شپږم عقلي دلیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ الخ اسمان او زمکه د هغه

قدرت سره قائم دی او دوباره به ئے هم هغه ژوندی کوی. اووم عقلی دلیل: وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ الخ دَ ټول کائنات نظام دَ هغه په اختیار او تصرف کښې دے. اتم عقلی دلیل: وَ هُوَ الَّذِیْ یَبْدَؤُا الْخَلْقَ الخ ټول کائنات اول هغه پیدا کړل او دَ قیامت په ورځ به ټول دوباره هم هغه پیدا کوی. وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی الخ دا دَ هغه ټولو دلائلو ماحصل او خلاصه ده. یعنی دا ټول صفات چه دَ دلائلِ عقلیه وُ په طور بانذِ ذکر شول الله تعالٰی پورے خاص دی. په زمکه او اسمان کښې څوک هم دے صفتونو کښې هغه سره شریک نشته. لهٰذا دَ دے پورتنو دلائلو نه معلومه شوه چه کله دا ټول تصرفات او دا ټول صفتونه الله تعالٰی پورے خاص دی نو بیا دَ هغه نه سِوا کارساز او برکتونه ورکوُنکے هم هیڅوک نشته، نو دَ هغه نه سِوا څوك حاجت روا او په مشکلاتو کښې غائبانه دَ دُعا او رابللو لائق شته.

دَ دے نه پس ضَرَبَ لَکُمْ مِّنْ اَنْفُسِکُمْ الخ (ع ۴) سره دَ معبود برحق او معبودِ باطل مثال ذکر کړے شو. دَ مثال حاصل دا دے چه څنګه ستاسو غلام تاسو سره دولت او جائید او ستاسو اختیارات او تصرفاتو کښې تاسو سره شریك او برابر نشی کیدے، دغه شان دَ الله تعالٰی نیکان بندګان انبیاء او ملائك علیهم السلام او اولیاء کرام رحمهم الله چه دَ الله تعالٰی مخلوق بلکه غلامان او مریان دی، دَ الله تعالٰی په تصرفاتو او اختیاراتو کښې شریك او برابر نشی کیدے. بَلِ اتَّبَعَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْٓا الخ یعنی دَ توحید په مسئله کښې دَ شك او شبهے ګنجائش نشته، مسئله عقلی دلائلو سره ښه واضحه شوے ده. لیکن مشرکان فلق محض نفسانی خواهشاتو پسے روان دی او دَ توحید نه انکار کوی. فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّیْنِ الخ دا په ذکر شوُو دلائلو بانذِ مُتفرّع دے. یعنی هر کله چه دا دَ توحید مسئله دا سے عقلی دلیلونو او قوی براهینو سره ثابته ده نو تاسو دے دینِ فطرت بانذِ یعنی په توحید بانذِ قائم او سیده ئ چه په کوم کښې نو تنه پورے بدلون را نځی او نه به اُتنده کښې چرته راشی.

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الخ دا په مشرکانو بانذِ زجر دے. کله چه په دے ظالمانو بانذِ څه مصیبت راشی نو دَ خپلو خود ساخته معبودانو نه نا اُمیده شی خالصةً الله پاك ته آواز کوی لیکن چه کله الله تعالٰی محض خپله مهربانئ سره دَ دوی مُشکل آسان کړی نو بیا شرك شروع کړی او دَ الله تعالٰی نعمتونه دَ باطل معبودانو طرف ته منسوب کوی. اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الخ دا په توحید بانذِ نهم عقلی دلیل دے دَ رزق فراخی او تنګی دَ الله تعالٰی په اختیار کښې ده. دَ دے وجے نه کارساز او برکتونه ورکوُنکے هم صرف هغه دے. فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰی حَقَّهٗ الخ دَ عنِ اب دفع کوُلو دپاره دَ اُمورِ ثلاثه ذکر یعنی شرك مکوه. دَ دے ذکر دَ دلائلو په ضمن کښې تیر شو — احسان کوه او ظلم مکوه. دا دواړه اُمور دے آیتونو کښې ذکر شوی دی.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ الخ توحید بانذِ لسم عقلی دلیل هر کله چه خالق او رازق هم

صرف هغه دے او مرلے او ژوندی هم دَ هغهٔ په اختیار کښې دی او ستاسو خیالی معبودانو کښې هیڅوک هم دے صفاتو کښې دَ یو صفت مالک نشته نو بیا دَ دوی نه یو هم دَ کارسازئ صفاتو کښې دَ الله تعالیٰ شریک نشته۔

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ الخ (ع۵) تخویف دُنیوی دے۔ دا په اُوچه او لوند کښې چه کوم شر او فساد او بے انتظامی موجوده ده او خلق مختلف قسم مصیبتونو او آفتونو کښې گرفتار دی، دا ټول دَ شرك دَ وجے نه دی۔ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ الخ تخویف دُنیوی دے۔ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ الخ دا په توحید باندې دَ قائم پاتے کیدلو دَ حکم اعاده ده دَ بُعد عهد په وجه سره مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ الخ تخویف اُخروی دے۔ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا الخ بشارت اُخروی دے۔ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الخ دا یولسم عقلی دلیل دے۔ هر کله چه دا یخے او خشکے هواگانے الله تعالیٰ خپل رحمت سره رالیږی، دَ دے هواگانو په ذریعه زمونږ کشتئ هم په دریابونو او سمندرونو کښې سفر کوی نو معلومه شوه چه صرف هغه کارساز او حاجت روا دے بل هیڅوك نشته۔ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ الخ تخویف دُنیوی دے مشرکانو دپاره او بشارتِ اُخروی دے مؤمنانو دپاره۔ الله تعالیٰ همیشه دَ انبیاء علیهم الصلاة دُشمنانو لره په دُنیا کښې هلاك کړیدی او دَ ایمان والو امداد ئے کړیدے۔ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ دا دَ سورت په شروع کښې دَ ذکر شوے وعدهٔ نصرت یعنی لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝ اعاده ده۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ الخ دولسم عقلی دلیل دے۔ الله تعالیٰ دَ هواگانو په ذریعه باندې وریځے دیو ځائے نه بل ځائے ته بیائی او بیا ترے نه چه غواړی باران اُوروی او مړه زمکه سره دوباره ژوندئ کړی او آباده ئے وګرځوی۔ څوك چه دَ دے ټولو تصرفاتو مالك دے هم هغه کارساز او برکات ورکوونکے دے۔ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى الخ: دا جُمله معترضه ده دَ پاره دَ اثبات دَ حشر۔ هغه وُچه او مړه زمکه ژوندئ کولو باندې قدرت لری نو مړی به هم دوباره ژوندی کړی۔ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ تعلیل دے دَ ما قبل دپاره۔ وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا الخ زجر دے مشرکانو دپاره۔ دوی دومره عِنادیان دی چه عذاب ووینی نو بیا ئے هم نهٔ مني۔

فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى: دا نبی علیه السلام ته تسلی ده یعنی کچرے دَ دومره واضحه دلائلو باوجود هم دوی نهٔ منی نو تاسو دوی پریږدئ، دَ دوی په زړونو دَ جباریت مُهر لګیدلے دے او دَ دوی حال دَ مړو پشان دے چه هیڅ نشی اوریدلے۔ دَ جباریت دَ مُهر په وجه دَ دوی زړونه مړهٔ او بے حسه دی۔ دوی باندې ستاسو وعظ او تبلیغ هیڅ اثر نکوی۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ (ع۶) دا دیارلسم عقلی دلیل دے۔

الله تعالیٰ د ټولو خالق دے او انسانان د عُمر د مختلف مرحلو نه تیرول او بوتلل والی ته رسول د هغهٔ په اختیار کښې دی. لهٰذا کارساز او برکات ورکوونکے هم هغه دے.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ الخ: دا تخویف اُخروی دے.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ الخ: دا شکوی ده یعنی مونږ هر ضروری خبره خصوصاً د توحید مسئله په قرآن مجید کښې هر انداز او هرے طریقے سره بیان کړے ده او خلق مو په هغې پوهه کړی دی لیکن دومره باوجود معاندین هغې ته باطل وائی.

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ الخ: کاف په معنیٰ د لام تعلیلیه دے یعنی د تکذیب په وجه سره الله تعالیٰ د معاندینو په زړونو باندې د جباریت مُهر لګوی.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَكُمْ الخ (ع ۳) دا نبی علیه السلام ته تسلی ده او د وعدهٔ نصرت دویم ځل اعاده ده.

سُوْرَةُ الرُّوْمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتُّوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ روم سلہ مکہ کښې نازل شو او دده شپیته آیتونه او شپږ رکوعګانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم د الله چه بے حده مهربان نهایت رحم کوونکے دے۔

الٓمّٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿۲﴾ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ

مغلوب شو رومیان سلہ په ملاو شوے (نزدے) ملک کښې او دوي به د دے

بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿۳﴾ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۗ لِلّٰهِ الْاَمْرُ

مغلوب کیدلو نه پس نزدے دے چه غالب شي سلہ څو کلونو کښې د الله په لاس کښې دي تول کار

مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ۭ وَيَوْمَىِٕذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۴﴾

مخکښې او روستو هم او په دغه ورځ به خوشالیږي مسلمانان سلہ

بِنَصْرِ اللّٰهِ ۭ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾

د الله په امداد سره، امداد کوي چا له چه وغواړي، او هغه دے غالب رحم کوونکے دے

وَعْدَ اللّٰهِ ۭ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

د الله وعده شوې ده خلاف به نکوي الله د خپلې وعدې نه لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶﴾ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ښ

نه پوهیږي دي پوهیږي سلہ ظاهري ژوند د دنیا باندې

وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۷﴾ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ

او دغه خلق د اخرت هیڅ خبر نلري دي۔ ایا فکر نکوي سلہ په خپل

اَنْفُسِهِمْ ۣ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

نفس کښې چه الله کوم آسمان او زمکه پیدا کړي دي او کوم څه چه

بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا

کوم څه په مینځ کښې دي نو په حق سره ئے پیدا کړي دي او په مقرره نیټه او ډیر

مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ﴿٨﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

خلق د خپل رب ملاقات نه مني ف۵ - ایا دوی اونه گرځیدل ف۶

فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ

په ملك كښې چه وكوری څه شو انجام د دوی نه د

قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ وَ

مخكنو، هغوی زیات وو د دوی نه په زور كښې او څیرے كوله به ئے زمكه و

عَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

اباده كړے وه دا زمكه د دوی د اباد ولو نه زیاته او راغلی وو ورته رسولان د هغوی

بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا

واضح حكم راوړلو سره، نو الله نه وو چه دوی ظلم كوونكے لیكن دوی په خپله

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٩﴾ ؕ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا

خپل ځان سره بد كول ف۶ - بیا شو انجام د بد كار كوونكو

السُّوْٓاٰى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ ع ع

بد، ځكه چه دروغ ئے گڼړلے خبرے د الله او په هغې پورے به ئے ټوقے كولے ف

نكات :- ۱ بشارت ۲ زجر ۳ تخویف دنیوی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ د روم او فارس بادشاهان به د ملك په سرحد باندے جنگیدل د عربو سره لگیږ لے زمكه باندے یعني عراق باندے، د مكے كافرانو به غوښتل چه فارس فتح حاصله كړی او مسلمانانو به غوښتل چه رومیان، اهل كتاب و دپاره به ئے د دوغو اقوا هكانے كولے. الله تعالیٰ سورة روم نازل كړه اوس خو رومیان مغلوب شول بیا به هغوی په څو كلو كښې غالب شی د لسو كالو نه كم كښې، همدغه شان اوشول. **ف۲** څو كلونه روستو بیا د دواړو په مینځ كښې مقابله وشوه نو رومیان غالب شول او دا خبر عربو ته اورسیده په كومه ورځ چه جنگ بدر كښې مسلمانانو ته فتح حاصله شوه او د هغوی د خوشالۍ ورځ وه. **ف۳** یعني بغیر د ظاهری اسبابو نه اعتماد او بهروسه نه كوی. **ف۴** یعني ظاهر د دنیا كښې چه د چا غلبه ووینی نو وائی الله تعالیٰ د دے نه راضی دے. **ف۵** یعني د هر څیز

یو ابتدا او یو انتهاء ده - انسان، حیوان او ونه خو په نظر راځي په آسمان کښې د هر گردش یوه موده ده، په میاشت یا کال یا په ډېرو کلونو ختم دے چه په هر څیز کښې دا صفت دے نو په ټول جهان کښې شته په خپل وخت بانې هغهٔ د پاره فناء ده بیا دا ابتدا او انتهاء یوه لوبه او تماشا نهٔ ده ددے نه څهٔ مقصد شته هغه به په آخرت کښې ښکاره شي - **ف۷** یعنې د رسول لیږلو نه بغیر الله پاک نیولو نکوي - **ف۷** یعنې یو قوم ته چه یې کومو خبرو سزا ملاؤ شوه ټولو ته به په هغې ملاویږي - د ټولو فناء هم د یو فناء کیدلو نه معلومه کړئ او د ټولو سزا هم د یو د سزا نه معلومه کړئ -

فتح الرحمٰن **ف۱** مترجم وائي فارسیان په رومیانو بانې غالب شول او څنګے سرحدي ښارونه یې خپل تصرف کښې واخستل - چونکه دا خبره مکے ته راورسیده - اهلِ اسلام خفه شول ځکه چه دوي او رومیان کتابیان ؤو او کافران خوشاله شول ځکه چه دوي او اهلِ فارس کتابیان نهٔ ؤو (امیان ؤو) الله تعالیٰ آیتونه نازل کړل د رومیانو د غلبے په اهل فارس بانې، خوشخبري یې ورکړه او دا د هجرت نه څو کاله روستو واقع شوه او دا قصه د نبوت د دلائلو نه یو دلیل دے -

ف۲ یعنې په خپل سرحد کښې ۱۲

تفسیر: ۲ف د رومیانو او فارسیانو (آتش پرستو مجوسیانو) په مینځ کښې د اذرعات او بصرٰی یا اُردن او فلسطین مینځ کښې جنګ وشو - رومیان مغلوب شول، او د مسلمانانو خواهش وو چه رومیان غالب شي ځکه چه هغوي اهلِ کتاب (نصاریٰ) دي ځکه په اهل کتابو بانې د فارس د مشرکانو (مجوسیانو) د غلبے د وجے نه مسلمانانو ته سخت تکلیف وشو او غمژن شول او بل طرفته د مکے مشرکان ډیر خوشاله شول چه د هغوي رونړه (مجوسیان) به اهلِ کتابو بانې غالب شول - فِیْٓ اَدْنَی الْاَرْضِ الخ یعنې په دا سے زمکه چه د فارس په نسبت د مکے زمکے ته زیاته نزدے ده - وادنی الارض اقربها فان کانت الواقعة فی اذرعات فهی ادنی الارض بالنظر الی مکة (بحر ج ۷ ص ۱۶۲) وقد جاء من طرق عدیدة ان الحرب وقع بین اذرعات وبصریٰ و قال ابن عباس والسدی بالاردن وفلسطین - (روح ص ۱۷ ج ۲۱) -

۳ف دا بشارت دے چه یو ورځ به رومیان په مجوسیانو بانې غالب شي - دا یوه داسے پیشګوئي وه چه د نبي کریم ﷺ په صداقت بانې ډیر لوئے دلیل دے - دینه معلومیږي چه تاسو د الله تعالیٰ رلیږلے پیغمبر یئ او تاسو بانې د الله پاک له طرفه وحي نازلیږي - مِنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ: دا مصدر مبني للمفعول دے او د نائب فاعل طرفته مضاف دے او هُمْ ضمیر د رومیانو نه کنایه ده - ای من بعد مغلوبیتهم - یا مصدر مبني للفاعل دے او د مفعول طرفته مضاف دے او هُمْ ضمیر د فارسیانو نه کنایه ده - په اول صورت کښې به مطلب دا وي چه رومیان به د خپل مغلوبیت نه روستو عنقریب په فارسیانو بانې غلبه حاصله کړي - دویم

صورت کښې به مطلب داوی چه رومیان به د فارسیانو د غلبې نه روستو په دوی باندې په نزدے وخت کښې غالب شی۔ ای اغلب فارس ایاهم على انه مصدر مضاف الى مفعوله اوالى نائب فاعله ان كان مصدر المجهول ورجحه بعضهم بموافقته لنظم الجليل۔ (روح ص ۱۷ ج ۲۱)۔

۴ے بِضْعِ عدد مبهم دے او د دریو نه تر نهو پورے استعمالیږی۔ د دے آیت د نزول نه پس حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ أُبَیّ بن خلف مشرک ته اُووئیل چه د مجوسیانو په فتح دومره خوشالی مکوه، نزدے دہ چه رومیان به په مجوسیانو باندې غالب شی۔ نو دواړو لس لس اوښان شرط اُوتړلو او د رومیانو د غلبې وخت ئے درے کاله مقرر کړلو۔ لفظ د بِضْع غوره د دریو نه واخله تر نهو پورے وی کله چه نبی علیه السلام ته د دے علم اوشو نو ابوبکر رضی اللہ عنہ ته ئے وفرمایل چه لفظ د بِضْع د دریو نه نهو پورے وی۔ د دے دپاره دا شرط اوچوده ورسره زیاته کړه۔ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ دوباره اُبَیّ بن خلف سره ملاؤ شو او سل اُوښان شرط ئے ورسره کیخودلو او میعاد ئے تر نهو کالو پورے زیات کړو چه دا هغه منظور کړو۔ دا واقعه د جواری (شرط وغیره) د تحریم نه مخکښې ده۔ (روح وغیره) دا پیشګوئی حرف په حرف ثابته شوه او د دے پیشګوئۍ نه شپږ کاله پس الله تعالی رومیانو ته په مجوسیانو باندې فتح ورکړه۔ دا رنګے دا پیشګوئی د نبی علیه السلام د نبوت دلیل دے۔ د دغه وخت اُبَیّ بن خلف مړ شوے وو نو حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د شرط مال د هغه د وارثانو نه وصول کړو خو نبی علیه السلام د هغه مال د صدقه کولو حکم اوفرمائیلو

اخذ ابوبكر الخطر من ذرية ابى فقال عليه الصلوة والسلام تصدق به وهذه اية بينة على صحة نبوته وان القران من عند الله لانها انباء عن علم الغيب وكان ذلك قبل تحريم القمار عن قتادة۔ (مدارک ص ۲۰۴ ج ۳)

۵ے د اهل فارس د غلبې نه مخکښې هم معامله د الله تعالی په اختیار کښې وه او د هغے نه روستو هم یعنی اهل فارس ته په رومیانو باندې غلبه الله تعالی ورکړه او په راتلونکی کښې چه په رومیانو ته په اهل فارس باندې کومه غلبه حاصلیږی هغه به هم د الله پاک په امداد سره وی۔ دا رنګے اول هم د الله تعالی په اختیار کښې وه چه هغه د ازمائش په طور مؤمنان په مصیبتونو او تکلیفونو کښې مبتلا کړل او د دے نه روستو هم د هغه اختیار دے چه هغه د مصیبتونو نه پس مؤمنانو ته په دشمنانو باندې غلبه ورکړی او هغوی خوشاله کړی۔

۶ے په کومه ورځ چه رومیانو ته په فارسیانو مجوسیانو باندې فتح حاصله شی، په دغه ورځ به مسلمانان ډیر زیات خوشاله وی چه الله تعالی محض خپل مدد او نصرت سره فتح ورکړه۔ الله پاک چه چاته وغواړی د هغه امداد کوی او غلبه ورکوی۔ نو په کومه ورځ چه الله تعالی رومیانو ته د فارس مشرکانو باندې فتح ورکړه، په دغه ورځ الله تعالی مسلمانانو ته دوچنده خوشالی ورکړه۔ یوه د رومیانو په مجوسیانو باندې د فتح په وجه، دویمه د مکے په مشرکانو باندې پخپله د دوی د فتحے په وجه،

حکه چه دا دواړه واقعے په یوه ورځ بانديٍ یعنی دَ جنګ بدر په ورځ باندیٍ واقع شوے :
فرح النبی صلی الله علیه وسلم والمؤمنون بظهورهم علی المشرکین یوم بدر وظهور اهل الکتاب علی اهل الشرك (معالم وخازن ص ۱۴۸ ج ۵) وعن ابی سعید الخدری رض انه وافق ذلك یوم بدر وفیه من نصر الله تعالیٰ العزیز للمؤمنین و فرحهم بذلك مالا یخفیٰ۔ (روح ص ۲۱ ج ۲۱)۔

ےٰ دَ مفعول مطلق فعل ناصب حذف کړے شو او هغه دَ فاعل طرفته مضاف کړے شوے یعنی وَعَدَ هُوَ اللهُ وعدا (کبیر ج ۶ ص ۶۹۲) دَ الله تعالیٰ دا وعده ده چه هغه به رومیانوته دَ ایران په آتش پرستو باندے ضرور فتح ورکوی۔ دِے کښ به هرګز دَ وعدے خلاف نۀ وی۔ دغه شان ایمان والو سره هم دَ الله پاك وعده ده چه کچرے دوی په توحید باندےِ قائم وی او دَ توحید په خاطر دَ مشرکانو په تکلیفونو دَ رسولو باندےِ صبر کوی نو الله تعالیٰ به ورته په مشرکانو باندےِ غلبه ورکوی۔ الله تعالیٰ دا دواړه وعدے پوره کړے۔

ےٰ دا مشرکانو باندے زجر دے۔ دا خلق دَ آخرت دَ ژوند نه بیخی غافله دی، دَ هغے دپاره هیڅ تیارے نکوی۔ دوی صرف دَ دُنیا دَ ژوند ظاهری اسباب پیژنی او صرف دَ دُنیاوی عیش و آرام دپاره کوشش کوَلی دی۔ دَ دوی دَ ټول ژوند ټوله سعی او کوشش دُنیا کښ دَ ژوند سازوسامان پیدا کولو دپاره دے۔

ےٰ دا هم زجر او تنبیه ده۔ آیا دوی په دِے کښ غور و فکر نکوی چه الله تعالیٰ دَ دُنیا دا ټول نظام دَ حق ظاهرولو دپاره پیدا کړے دے چه دِے سره دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او صنعت او دَ عِلم په فراخئی او دَ هغهٔ په وحدانیت باندےِ دلیل قائم کړی او بیا دا دے دُنیا یوه انتها شته چه دَ هغے نه روستو به قیامت راځی او ټول به دَ الله تعالیٰ په وړاندی حاضریږی۔ لیکن اکثر خلق غور و فکر نکوی، هغوی دَ الله تعالیٰ سره شرك کوی او دَ آخرت نه هم انکار کوی۔

ےٰ دا تخویف دُنیوی دے۔ آیا دے معاندینو زمکه باندےِ تللو راتللو سره دُ تیرے شوے زمانے دَ معاندینو دَ حق انجام نۀ دے کتلے؟ چه په جسمانی طاقته او قوت کښ دَ دوی نه ډیر زیات وو او په زراعت، باغ باړئ او تعمیراتو وغیره فنونو کښ دَ دوی نه زیات ماهر وُو۔ دوی په دُنیا کښ ډیر شان و شوکت مالکان وُو، عالیشان محلونو او قلعه ګانو کښ وسیدل۔ کله چه هغوی ته زمونږ پیغمبر دَ توحید پیغام راوړلو نو هغوی دَ خپل دولت او شان و شوکت په غرور کښ دپیغمبر تکذیب وکړو نو مونږه هغوی لره په دردناك عذاب کښ مبتلا کړل او هلاك مو کړل۔ دا عذاب دَ هغوی دَ اعمالو نتیجه وه مونږ په هغوی باندےِ ظلم زیاتے نۀ دے کړے۔ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ الخ، دا دَ هغه معاندینو دَ بد انجام بیان دے۔ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ أَسَاءُوا: دَ كَانَ خبر مقدم دے او السُّوْآى دَ هغهٔ اسم مؤخر دے او أَنْ كَذَّبُوْا

دَما قبل سبب دے۔ دَ دینه مخکښ بآء سببیه یا لَام تعلیل مقدر دے: ای بان اولان. (روح) او السُّوْآی نه مراد عقوبت (عذاب) دے یعنی دُنیا کښ دَ سخت تریخے سزا په صورت کښ هغوی خپل انجام ته ورسیدل حُکه چه هغوی دَ الله پاک دَ ایتونو تکذیب وکړو او ورمونږ ایتونو او پیغمبرانو پورے به ئے تپوقے کولے۔

اَللّٰهُ یَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ ثُمَّ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾

الله پیدا کوی مخلوق اول حل سلله بیا به ئے دوباره پیدا کړی بیا به هغهٔ طرفته واپس کولے شئ۔

وَ یَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ یُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَ لَمْ یَكُنْ

او په کومه ورځ چه قائم شی قیامت نا اُمیده به شی گناهګاران، او نهٔ به وی

لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَ كَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِیْنَ ﴿۱۳﴾

دَ دوی به شریکانو کښ څوک سفارش کونکی دَ دوی، او دوی به شی دَ خپلو شریکانو نه منکر شلے

وَ یَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ یَوْمَئِذٍ یَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَمَّا

او په کومه ورځ چه قائم شی قیامت هغه ورځ به خلق قسم قسم وی شلی۔ نو چه کوم

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِیْ رَوْضَةٍ

خلقو یقین کړیدے او عمل ئے نیک کړے دے نو هغوی به په باغونو کښ وی

یُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَ اَمَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَ

دَ دوی به عزت وی۔ او څوک چه منکر شویدی او ورمونږ خبرے ئے دروغ کڼلے دی او

لِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

ملاقات دَ اخرت نو دوی به په عذاب کښ نیولے شوے راحَی۔

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِیْنَ تُمْسُوْنَ وَ حِیْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَ لَهُ

نو پاک د الله یادوی شلله کله چه بیګاه کړئ او کله چه صبا کړئ - او دَ هغهٔ

الْحَمْدُ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ عَشِیًّا وَّ حِیْنَ

ثناء دَه په اسمانونو او په زمکه کښ او په اخر دَ ورځے کښ او کوم وخت چه

تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ

تاسو ځئ په ماسپښين کښې ف۲ ـ راوباسي ژوندے د مړي نه ف۳ او راوباسي مړے

ع ۲ ۹ ۵ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

د ژوندي او ژوندۍ کوي زمکه پس د هغې د مرګ نه، او دا رنګې به تاسو راوېستلی شئ ف۴

نکات: ـ ۱ په حشر او نشر باندې عقلي دليل ۱ ۲ تخويف اُخروي ۲ ۳ فاء فصيحه ۳ ۴ په حشر باندې دويم عقلي دليل ۴

موضح قرآن

ف۱ يعني څوك چې دے د الله تعالیٰ سره شريكان جوړ وُل ـ **ف۲** يعني پاك الله ياد كړئ او د هغهٔ تعريف په آسمانونو او زمکه كښې كيږي ـ دے ځلور وختونو كښې ئے ياد كړئ؛ د سحر مونځ او د ماښام كښې ـ د يكښې ماښام او ماسخوتن راغلل او هر چې وخت ماسپښين او غرمه ماسپښين ـ **ف۳** يعني د مړے خاورے نه ژوندے ساه والا ـ

فتح الرحمٰن

ف۱ مراد دا دے چې په هر يو وخت كښې د دے وختونو نه دلائل تنزيه او د رذائل نه او د هغهٔ صفت كول په فضائلو سره بيا بيانولے شي نو په مونځ كولو باندې حكم وركړے شو ـ

تفسير: ۱۸ دا د حشر او نشر په اثبات باندې عقلي دليل دے يعني كوم الله چې انسانانو له ۲ اول ځل پيدا كولے شي هغه د دوي په دوباره ژوندي كولو باندې هم قادر دے نو د قيامت په ورځ به هغوي ټول را ژوندي كړي او ټول به د هغهٔ په وړاندې حساب كتاب د پاره حاضر شي ـ

۲۱ د اثباتِ قيامت نه پس د قيامت په ورځ د مؤمنانو او مجرمانو ذكر اوكړے شو ـ دا مجرمانو د پاره تخويفِ اُخروي دے ـ د قيامت په ورځ به مجرمان د هر طرفه نا اُميده شي، په چا بېړي كښې به ئے هيڅ عمل نه وي، د شرك په وجه به ئے ټول اعمال ضائع شوي وي او د كومو معبودانو په سفارش چې ئے اعتماد وو هغه به هم په كار را نشي او د الله تعالیٰ د عذاب نه به ئے بچ نكړي او د غه وخت به دوي ته يقين وشي چې په دُنيا كښې مونږ څوك كارساز او غالب سفارش كوونكي ګنړلي وُو او د هغوي عبادت موهم كوُو ـ هغوي خو د عبادت لائق نه وُو او نهٔ كارساز او مُشكل كشا وُو ـ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَائِهِمْ: نه مراد ټول غير الله معبودان دي كوم چې مشركانو كارساز او سفارشيان ګنړلي وُو او د هغوي عبادت به ئے كولو ـ من شركائهم من الذين عبدوهم من دون الله (مدارك ص ۲۰۵ ج ۳) شفعاء يجيرونهم من عذاب الله تعالیٰ كما كانوا يزعمونه (ابو السعود ص ۱۳ ج ۷) امام مقاتل رح فرمائي د شركاء نه مراد ملائك دي چې مشركانو به هغوي له د سفارش كوونكے ګنړلے ـ وقال مقاتل الملائكة عليهم السلام (روح)

۱۳ دَ قیامت په ورځ چه کله مشرکان دَ خپلو خودساخته سفارشیانو دَ امداد نه نا امیده شی او دَ حال دَ حقیقت نه خبر شی نو دَ باطل معبودانو دَ اُلوهیت نه به انکار اوکړی۔ بشرکائهم کافرین ای بالهتهم وشرکتهم حیث یئسوا منهم ووقفوا علی کنه امرهم (روح ص ۲۵ ج ۲۱)

۱۴ دا په قیامت کښ دَ مؤمنانو او کافرانو دَ انجام تفصیل دے۔ یَتَفَرَّقُوْنَ: یعنی جنتیان او دوزخیان به جدا جدا شی۔ ای تمیز اهل الجنة من اهل النار۔ (خازن ومعالم ص ۱۶۱)

فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ، بشارت اُخروی دے۔ ویکښ دَ ایمان والو دَ انجام ذکر دے چه هغوی ته به په جنت کښ انعامات ورکولے شی او عزت به ورکولے شی او هلته به خوشاله او تازه وی۔ وَاَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ، دا تخویف اُخروی دے۔ ویکښ دَ توحید او اٰخرت نه دَ انکار کوونکو انجام ذکر شوے دے چه هغوی به دَ دوزخ په عذاب کښ گرفتار ولے شی۔

۱۵ فاء فصیحه ده او دا دَ سورت دَ شروع سره متعلق دے یعنی الله پاک به تاسو ته دَ توحید دَ وجے نه په کافرانو باندے ضرور غلبه درکوی لهٰذا تاسو الله تعالیٰ دَ شریکانو نه پاک وګنړئ او په پنځه وخته مونځونو کښ دَ هغهٔ تسبیح او پاکی بیان کړئ۔ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ اګر چه لفظاً جمله انشائیه ده ځکه چه په اصل کښ فَسَبِّحُوْا سُبْحَانًا وُو لیکن معنیٰ خبریه ده په قرینه دَ وَلَهُ الْحَمْدُ الخ او مطلب به دا وی چه دَ مذکوره دلائلو په وجه دے وختونو کښ دَ شرک نه دَ الله تعالیٰ تنزیه او پاکی ظاهریږی۔ یا دا دواړه جملے انشائی دی۔ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ خو انشائیه کیدل ظاهر دی او جمله وَلَهُ الْحَمْدُ اګر چه لفظاً خبر دے لیکن معنیٰ انشائیه ده ځکه چه دے سره دَ زمکے او اسمان اوسیدونکو ته دَ الله تعالیٰ دَ حمد او ثناء ویلو حکم ورکول مقصود دی؛

له الحمد وان کانت خبریة الا ان الاخبار بثبوت الحمد له تعالیٰ ووجوبه علی الممیزین من اهل السمٰوٰت والارض فی معنی الامر به علی ابلغ وجه فکانه قیل فسبحوا الله تعالیٰ تسبیحه اللائق به سبحانه فی هٰذا الاوقات واحمدوه۔ (روح ص ۲۸ ج ۲۱)

دَ مفسرینو رحمهم الله دے خبرے باندے اتفاق دے چه په دے ایت کښ پنځه مونځونه ذکر شویدی او دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل شویدی چه په قرآن مجید کښ دَ پنځه مونځونو یو ځائے ذکر صرف دے ځائے کښ شوے دے۔

اتفق المفسرون علی ان الخمس داخلة فی هٰذه الاٰیة وعن ابن عباس ما ذکرت الخمس الا فیها (بحر ص ۱۶۶ ج ۷)۔

حِیْنَ تُمْسُوْنَ کښ ماښام او ماسخوتن، حِیْنَ تُصْبِحُوْنَ کښ صبا، عَشِیًّا کښ مازیګر او حِیْنَ تُظْهِرُوْنَ کښ دَ ماسپخین مونځ ذکر شوے دے۔ (بحر، مدارک، روح وغیره)

سورهٔ عنکبوت کښ ئے وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ (ع ۵) فرمائیلے وُو او دے ایتونو کښ ئے دَ هغے تفصیل وکړو۔ دلته دا شبه کیږی چه دے ایتونو کښ خو دَ مونځونو څهٔ ذکر نشته۔

نو دوی ته جواب داد ے چه دلته د تسبیح نه مونځ مراد دے ځکه چه مونځ د اول نه تر اخره پورے قولاً فعلاً د الله تعالیٰ په تسبیح او تقدیس باندې مشتمل دے. د دے وجې نه په قران کښې اکثر د مونځ نه تسبیح سره تعبیر کړے شوے دے مثلاً سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۝ (احزاب ع۶) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ غُرُوْبِهَا - (طٰهٰ ع۸) سورۂ عنکبوت کښې ئے اَقِمِ الصَّلٰوةَ تعبیر اختیار کړو، او دلته ئے فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ الخ سره هغه مضمون ادا کړو. وَلَهُ الْحَمْدُ الخ په زمکه او اسمان کښې صرف د الله تعالیٰ ذات دے چه په ټولو صفاتو د کارسازی متصف دے او په دے صفاتو کښې ورسره هیڅوک شریك نشته.

تله دا هم په بعث او بیا ژوندی کیدو باندې عقلی دلیل دے یعنی څنګه چه الله تعالیٰ د بے ساه او مړ نه ساه والا، او د ساه والا نه بے ساه پیدا کولے شی او وُچه زمکه ژوندۍ کوی، شنه او تازه فصلونه او ونے ترینه راوباسی. دا رنګے هغه د انسان هم دوباره ژوندی کولو باندې قادر دے. د دے سورت په شروع کښې الله تعالیٰ ایمان والو سره وعده وکړه چه دوی به توحید باندې قائم پاتے شی نو اخر به ورته الله تعالیٰ په مشرکانو باندې غلبه ورکړی. د مسلمانانو په مشرکانو باندې غلبه چرته چه به ایمان والو د پاره د خوشحالئ ذریعه وی نو د غسے د مشرکانو د پاره به د الله تعالیٰ عذاب وی. د دے وجې نه الله تعالیٰ د دواړو ډلو د فائدے او کامیابئ د پاره په راتلونکو ایتونو کښې په توحید باندې دیارلس عقلی دلیلونه ذکر کړل د پاره د دے چه هغوی د مسئله باندې پوهه شی او قائم پرے پاتے شی ځکه چه دوی ته به د دے په وجه غلبه حاصله وی، د مشرکانو د پاره تنبیه خبره دا ده چه د دیارلس عقلی دلیلونو سره دا مسئله بنه واضحه کړے شوے ده د پاره د دے چه د څه شك او شبهے ګنجائش پاتے نشی او هغوی به دے پوهه شی او دے منی او د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ شی ؎

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ

او د هغه (د قدرت) د نښو نه دا ده چه تاسو ئے پیدا کړی د خاورے نه، بیا اوس تاسو

بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ۝ ۲۰ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ

انسانان یئ په زمکه خوریږئ - او د هغه (د قدرت) د نښو نه دا ده چه پیدا ئے کړل تاسو د پاره د

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْۤا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً

نوع ستاسو نه جوړے چه په ارام سره وسیږئ هغوی سره او ګرځولے ئے ستاسو په مینځ کښې محبت

وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ

او مهرباني، بېشكه په دې كښې ډېرې نښې (د قدرت) دي هغه چا دپاره چه سوچ كوي ﴿٢١﴾ او د هغه

آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَ

(د قدرت د) نښو نه دا (د) اسمانونو او زمكې پيدا كول دي او قسما قسم ژبې ستاسو او

أَلْوَانِكُمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ

رنګونه، دې كښې ډېرې نښې (د قدرت) دي د پوهه لرونكو دپاره ﴿٢٢﴾ او د هغه د

آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاؤُكُمْ مِنْ

نښو (د قدرت) نه دا ستاسو اوده كېدل په شپه كښې او په ورځ كښې او تلاش كول د هغه

فَضْلِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ

د فضل نه، دې كښې ډېرې نښې (د قدرت) دي هغه چا دپاره چه اوري ﴿٢٣﴾ - او د هغه د

آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ

نښو نه دا ده چه ښائي تاسو ته برېښنا له وېرې او اُميد دپاره او نازلوي د اسمان نه

مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

اوبه بيا ژوندي كوي په هغې سره زمكه د هغې د مړه كېدو نه پس، دے كښې ډېرې

لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ تَقُومَ السَّمَاءُ

نښې دي هغه چا دپاره چه سوچ كوي. او د هغه (د قدرت) د نښو نه دا ده چه ولاړ دے اسمان سره

وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ

او زمكه د هغه په حكم باندې، بيا چه كله آواز وكړي تاسو ته يو ځل د

الْأَرْضِ إِذَا أَنْتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُ مَنْ فِي

زمكې نه، دغه وخت به تاسو راوځئ ﴿٢٥﴾ او هغه دپاره دي څه چه په

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِي

اسمانونو كښې دي او په زمكه كښې، ټول د هغه د حكم تابع دي. ﴿٢٦﴾ او هغه (الله) دے چه اول

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ وَلَهُ

اول خل پیدا کوی مخلوق بیا به ئے دوباره پیدا کړی، او هغه په ده اسان دی، او د هغهٔ

ع ۸ ۲ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾ ع

شان د ټولو نه اوچت دے په اسمانونو او زمکه کښې، او هغه دے غالب حکمتونو والا ف۵.

نکات: ۱ـ توحید بانډ رومبے عقلي دلیل. ۲ـ دویم عقلي دلیل. ۳ـ دریم عقلي دلیل ۴ـ څلورم عقلي دلیل. ۵ـ پنځم عقلي دلیل. ۶ـ شپږم عقلي دلیل. ۷ـ اووم عقلي دلیل. ۸ـ اتم عقلي دلیل.

موضح قرآن **ف۱** الله تعالیٰ د ونے نسل د یوے ونے نه اوچلولو، او حیوانات ئے د دوو نه، بیا د ځنو حیوانا نا تو جوړه مقرره نهٔ ده او د ځنو مقرره ده. انسان د پاره ئے جوړه مقرره کړے ده. د یکښې د نسل نه علاوه ارام او مینه محبت دے. ترڅو چه دُنیا اباده وی. او څوك چه نکاح سره جوړه مقرره نکړی یعنی زِنا وکړی هغه د انسانیت نه حیوانیت ته لاړو.

ف۲ ټول انسانان ئے د یو مور پلار نه پیدا کړل، یو ځائے اوسؤلو سره ئے اباد کړل، بیا ئے مختلفے ژبے ورکړے د یو ملك سړے په بل ملك کښې لکه حیوان.

ف۳ دوه حالتونه پیدا کیږی چه ویده شی نو لکه کاتړے او چه په تلاش او طلب کښې وی نو د ده پشان هوښیار بل څوك نشته. په اصل کښې خوشپه ده د خوب د پاره او ورځ د طلب د پاره بیا دواړو وختونو کښې دواړه کارونه کیږی. ښیے دی او ریكو د پاره چه د خپل حالتونه هغهٔ ته په نظر نهٔ راځی، د خلقونه ئے زبانی اوری.

ف۴ معلومیږی چه اسمان ولاړ دے په هغهٔ کښې ستوری روان دی لکه چه بل ځائے کښې ئے وفرمائیل لامبو وهی. **ف۵** یعنی د اسمان مخلوق (فرشتے) نهٔ څهٔ خوری او نهٔ څکی او نهٔ څهٔ حاجت انسانی لری، د بندګئ نه سوا نور هیڅ کار نکوی او د زمکے خلق په دِے ټولو څیزونو کړ دی نو د الله پاك صفت نهٔ د هغوی نه پوره شو او نهٔ د دوی نه هغه ډیر لوئے اوچت پاك ذات دے.

تفسیر: **ګله** دا په توحید بانډ رومبے عقلي دلیل دے. الله تعالیٰ ستاسو پورتنے نیکه حضرت ادم علیه السلام د خاورے پیدا کړو بیا ئے د هغهٔ د اولاد سلسله جاری کړه او هغوی ئے په زمکه اباد کړل. وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ الخ: دا دویم عقلي دلیل دے. من انفسکم ای من شکل انفسکم وجنسها. (مدارك ص ۳۰۶ ج ۳) یعنی ستاسو د جنس نه او په انسانی شکل او صورت کښې ئے ستاسو ښځے پیدا کړے د پاره د دے چه تاسو ورسره سکون او راحت حاصل کړئ او بیا ئے سره د نکاح د رشتے په ذریعه ئے ستاسو مینځ کښې د محبت او شفقت تعلقات قائم کړل. اِنَّ

فِیْ ذٰلِکَ الخ: انسان دَ خاورے نه پیدا اکول، دَ هغهٔ نسل خورول، دَ هغهٔ دَ جنس نه دَ هغهٔ جوړه پیدا اکول، او دَ ښځے خاوند په مینځ کښې مینه محبت اچولو کښې دَ فکر کوونکو دَ پاره به دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او عظمت دلائل په نظر راځی۔

۱۸ دا دریم عقلی دلیل دے۔ دَ آسمانونو او زمکے پیدائش او دَ دُنیا په مختلفو علاقو کښې دَ اوسیدونکو انسانانو دَ ژبو او رنګونو په اختلاف کښې هم دَ قدرت دَ دلائلو نه یو لوئے دلیل شته۔ دَ علم والو دَ پاره دیکښې دَ عبرت ډیر سامان دے۔ وَ مِنْ اٰیٰتِهٖ مَنَامُكُمْ الخ، دا څلورم عقلی دلیل دے۔ تاسو ورځ او شپه کښې دَ آرام او راحت دَ پاره خوب هم کوئ او ورځے وختونو کښې خپله روزی هم تلاش کوئ۔ غور سره اوریدونکو دَ پاره دیکښې دَ الله تعالیٰ دَ اُلوهیت او کارسازئ دلائل موجود دی۔ دا ټول انعامات دَ الله پاک له طرفه دی۔ لهٰذا دَ هغهٔ شکر ادا کول او هغه کارساز ګنړلو سره په حاجاتو کښې رابلل بندګانو باندې فرض دی۔

۱۹ دا په توحید باندې پنځم عقلی دلیل دے۔ خَوْفًا وَّطَمَعًا دواړه دَ یُرِیْكُمْ مفعول له دی، ای لالقاء الخوف والطمع۔ یعنی الله تعالیٰ تاسو ته دَ وریځو چمک (بریښنا) ښائی چه هغے سره ستاسو په زړونو کښې دَ ویرے او اُمید یو شان جذبات پیدا کیږی۔ یو طرفته دَ تند دَ غورځیدلو ویره وی او بل طرفته دَ باران رحمت نازلیدلو اُمید وی۔ خوفا من الصاعقة وطمعا فی الغیث۔ (مدارک ص ۲۰۷ ج ۳) بیا دَ آسمان نه دَ رحمت باران نازل کړی بنجر او غیر آباد زمکه ژوندئ کړی۔ دَ عقل او پوهے خاوندانو دَ پاره دیکښې دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او عظمت بے شماره دلائل موجود دے۔ دلته چه کوم دلائل ذکر شول هغه دَ اعلیٰ نه ادنیٰ درجے طرفته دَ تنزل په طور باندې ذکر شول ځکه چه دَ ټولو نه اعلیٰ درجه دَ غور او فکر ده۔ دے نه پس دَ علم بلا تفکر درجه ده، دَ دے نه پس دَ سماع درجه ده او دَ دینه پس دَ عقل یعنی دَ حواس دَ درستګئ درجه ده۔

الفکر اعلیٰ والمتفکرون قلیلون وادنیٰ منه العالمون وادنیٰ منه الفهم بمجرد السماع وادنیٰ منه العقل وعدم الجنون کما قال العارف الرومی رحمه الله

فکر آن باشد بکشاید رهے ❊ راه آن باشد که پیش آید شهے

"یعنی فکر هغه دے چه دَ توحید لاره ورسره پرانستلے شی او لاره هغه نیغه ده چه الله پاک ته رسول او کړی۔ قاله الشیخ قدس سره ❊

۲۰ دا په توحید باندې شپږم عقلی دلیل دے۔ دا الله پاک دَ قدرت او دَ هغهٔ دَ عظمت او وحدانیت یو دلیل دا هم دے چه دَ کائنا تو ټول نظام دَ هغهٔ په حکم سره قائم دے او دَ دُنیا وخت ختمیدلو نه پس به دَ قیامت په ورځ کله چه هغه تاسو را اوبلی یعنی دَ هغهٔ حکم سره چه کله اسرافیل علیه السلام شپیلئ پوکئ وَهی نو تاسو ټول به ژوندی شئ او دَ قبرونو نه به بهر ته را ووځئ۔ وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ الخ

دا اُوم عقلي دليل دے. د زمکے او آسمان ټول مخلوق صرف هغه خالق او مالك دے او ټول انسانان او پيريان، انبياء عليهم السلام او ملائك ټول د هغهٔ تابعدار او حکم منونکي دي او ټول خالصةً هغهٔ لره کارساز ګڼر لو سره را بلي. لهذا هغه د ټولو کارساز او حاجت روا دے. قَانِتُوْنَ مُخْلِصُوْنَ (روح) د کائناتو ذره ذره د هغهٔ د وحدانيت ګواهي ورکوي. قَانِتُوْنَ قائمون بالشهادة علٰى وحدانيته تعالٰى کما قال الشاعر ؎

وفي كل شيءٍ له آيةٌ ❊ تدلّ على انّه واحد

الله دا په توحيد باندے اتم دليل دے. ټول کائنات ابتداءً هغهٔ پيدا کړل او هم هغه به دوباره مخلوق لره ژوندے کوي، دا هغهٔ دپاره ډيره آسانه ده. کوم الله چه داسے قادر او متصرف دے هغه کارساز او برکات ورکوونکے هم دے. وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى الخ: د ټولو نه لوئے صفت يعني وحدانيت الله پاك لره مخصوص دے، هغه په ذات او صفاتو کښ ځانله او يواز دے او په زمکه او آسمان کښ هيڅوك د هغهٔ شريك نشته. عن مجاهد (المثل الاعلٰى) قوله لا اله الا الله وله الوصف بالوحدانية (بحر ص ۱۷۰ ج ۷) عن قتادة ومجاهد ان (المثل الاعلٰى) لا اله الا الله و لعلهما ارادا بذلك الوحدانية في ذاته تعالٰى وصفاته سبحانه. (روح ص ۳۷ ج ۲۱) وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ د هغهٔ قدرتِ کامله په ټول کائنات باندے حاوي دے او د هغهٔ محيط علم ټولو موجوداتو ته شامل دے ❊

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ

بيان ئے کړو تاسو ته الله يو مثال ستاسو د نفسونو نه، آيا شته تاسو لره کوم چه ستاسو د لاس مال (غلام)

اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْ مَا رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ

دے هغوي کښ څوك شته شريك ستاسو زمونږ ورکړے شوے روزۍ کښ چه تاسو ټول په هغے کښ

سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

برابر شئ، ويريږئ تاسو د هغوي نه هغسے چه ويريږئ د خپلو (اصيلانو) نه، داسے صفا واضح بيانوو مونږ

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا

نښے (د قدرت) هغے خلقو ته چه پوهيږي وي. بلکه پسے شول هغه کسان چه بے انصافه

اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ

خپلو خواهشاتو پسے بغير د پوهے نه، نو څوك به پوهه کړي هغه چا لره چه الله ګمراه کړي وي

وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ

او هیڅوک نشته د هغوی امداد کوونکي - نو برابر کړه مخ خپل دین ته ۴۳ کې یو طرفته کیدو سره،

فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ

لازم ونیسئ پیدا کول د الله چه پیدا کړي دي الله خلق په هغې باندې، بدلیدل نشته د الله د پیدا

اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

کړې شوي، همدا دے سم (برابر) دین لیکن اکثر خلق نه پوهیږي ۴۵

مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا

قول رجوع وکړئ هغه طرفته ۴۵ او د هغه نه ووېرېږئ، او قائم کړئ مونځ او مه کیږئ

مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا

د شرک کوونکو نه ۴۵ - چا چه اختلاف واچولو په خپل دین کښې او شو دوی

شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾ وَإِذَا مَسَّ

ډېرې ډلې، هره ډله څه چه وسره دي په هغې خوشاله ده - او کله چه ورسیږي ۴۶

النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُم

خلقو ته څه سختي نو اواز کوي خپل رب ته او هغه طرفته رجوع کوونکي وي. بیا چه کله وڅکوي هغوی ته

مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

د خپل طرفنه څه مهرباني، د هغوی نه یو جماعت ددوی نه خپل رب سره شریکان جوړوي ۴۶

لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

په منکر شي زمونږ د ورکړې شوو نعمتونو نه ګټه واخلئ، اوس به ژر پوهه شئ -

أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا بِهِ

آیا مونږ په دوی نازل کړي دي څه حجت او سند نو هغه خبرې کوي په هغې کوم چه دوی

يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا ۖ

شریک ښیانوي - او کله چه وڅکوو مونږ ۴۶ خلقو ته څه مهرباني نو په هغې خوشاله شي -

وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ
او که چیرے ورته ورسیږي په دوی څه بدي د خپلو لاسو تولیږلي شوي (عملونو په وجه) نو دوی

يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ
نا امیده شي۔ آیا نه گوري دوی چه الله تعالیٰ فراخ کوي رزق چا له چه

يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣٧﴾
وغواړي او تنگوي چا له چه وغواړي، دیکښې نښې (د قدرت) دي هغه خلقو د پاره چه خوړلے یقین لري وي

فَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ۚ
نو ته ورکړه رشته دار ته د هغه حق ټول او محتاج ته او مسافر ته،

ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ ۖ وَأُولَٰئِكَ
دا بهتره ده هغه چا د پاره چه غواړي د الله رضا، او همدا دي

هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي
کامیاب۔ او کوم څه چه تاسو ورکوئ په سود باندې چه زیات شي د

أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ ۖ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ
خلقو مالونو کښې نو هغه نه زیاتیږي د الله تعالیٰ سره، او کوم څه چه تاسو پاک زړه

زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾
سره وغواړئ د الله رضا کول نو دا هغه دي چه خپله زیاتوي (خپله نیکۍ او مال)

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ
الله هغه (ذات) دے چه تاسو ئې پیدا کړئ اول بیا ئې تاسو ته روزي درکړه بیا به تاسو وژني بیا به

يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَٰلِكُمْ
تاسو ژوندي کړي، آیا څوک شته ستاسو شریکانو کښې چه وکړي د دے کارونو نه

مِنْ شَيْءٍ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ ع
یو کار، هغه پاک دے او ډیر اوچت دے د هغې نه چه کوم دوی شریکان پیدا کوي۔

نکات: ۱ دَ معبود برحق او معبود باطل مثال. ۲ زجر. ۳ نهم عقلي دلیل. ۴ دَ عذاب دفع کولو دپاره دا مُورِ ثلاثو ذکر. ۵ لسم عقلي دلیل.

موضح قرآن

ف۱ یعني تاسو په دروغه (ظاهرًا) مالکان یئ حقیقت کښې نه یئ تول وینزے او غلامان ټول دَ الله تعالیٰ روزي خوري خو بیا هم برابر کیدے نشي ستاسو پشان خپل رونړه او ستاسو هیڅ پروا نشته چه دوی ستاسو دَ مرضئ نه بغیر څه کار او کړي نو هغه رښتونے مالك څه پروا لري دَ خپل غلام کوم چه تاسو دَ هغه سره شریکوئ. **ف۲** یعني الله تعالیٰ دَ ټولو حاکم مالك دَ ټولو نه ځانله دے هیڅوك دَ هغه سره نشي برابر کیدلے دَ هیچا زور په هغه نشته، پدے خبر و هر څوك پوهیږي عمل پرے کول پکار دي دارنګے دَ هر چا دَ ځان مال تکلیف کول، دَ چا په عزت عیب لګول هر څوك بد ګڼړي. دارنګے الله پاك یادول، غریبانو یا نو رحم کول، حق پوره ورکول، دهوکه نه کول هر څوك ښه پیژني، دے بانډې تلل هغه رښتونے دین دے. دَ دے خبرونو انتظام الله تعالیٰ دَ پیغمبرانو په ژبو بیانډ او کړلو.

ف۳ یعني اصل دین او نیستی دَ هغه طرفته رجوع او کړئ، کچیرے دَ دُنیا دَ اصلاح دپاره دا کار ونه کړئ نو دا صحیح دین نه شو. **ف۴** یعني څنګه چه ښه کار هر انسان فطرتًا پیژني دَ الله تعالیٰ طرفته رجوع کیدل هر څوك فطرتًا پیژني. دَ ویرے او خطرے په وخت دا خبره واضحه کیږي. **ف۵** یعني چاته چه وغواړي روزي ورله تنګه کړي او چاله وغواړي فراخه ئے کړي.

فتح الرحمٰن

ف۱ دَ مثال حاصل دا دے چه مملوك مالك سره نشي برابر کیدے نو مملوك دَ الله تعالیٰ هغه سره هم نشي برابر کیدے.

ف۲ مترجم وائي چه هغه مال چه دَ زیاتوالي په شرط سره ورکړے شي هغه ته سُود ویلے شي. والله اعلم.

تفسیر: ۲۸ دا دَ معبود برحق او باطل معبود مثال دے چه دَ شرك باطل کیدل ترینه واضحه کیږي. مِنْ اَنْفُسِكُمْ یعني دا مثال ستاسو دَ حالاتو نه منتزع او راویستلے شوے دے. (ضَرَبَ لَكُمْ مَثَلًا) یبین به بطلان الشرك (من انفسكم) ای منتزعا من احوالها التي هي اقرب الامور اليكم واعرفها (روح ج ۲۱ ص ۳۷) څخیفتكم انفسكم کښې دَ انفسكم نه دخپل جنس آزاد خلق مراد دے. مثل خیفتكم من هو من نوعكم من الاحرار المساهمين لكم. (روح) حاصل دَ مثال دا دے چه مونږ تاسو ته کوم مالونه او املاك درکړیدي په هغې کښې تاسو دَ خپلو غلامانو شریکولو ته هیڅکله تیار نه یئ چه دَ ځان سره ئے برابر کړئ تر دے چه هغوی په ملك او تصرّف کښې دَ نورو آزادو خلقو سطحے ته راشي او هغوی ته هم هغه شان او شوکت او هیبت حاصل شي کوم چه ستاسو پشان خلقوته حاصل دے. دارنګے دَ الله نیك بندګان، اولیاء کرام انبیاء او ملائکه علیهم السلام هم دَ الله تعالیٰ غلامان او دَ هغه بندګان دي. دَ دے

وبے نه دا ناممکن دہ چه الله تعالیٰ په خپل صفاتِ اُلوهیت کښې هغوی لره شریک یا خپل بعضې اختیارات هغوی ته اوسپاری۔

فاذا لم ترضوا بذلك لانفسكم فكيف ترضون لرب الارباب ومالك الاحرار والعبيد ان تجعلوا بعض عبيده له شركاء۔ (روح ص ۲۰۸ ج ۳) قال ابن عباس رض تخافونهم ان يرثوكم كما يرث بعضكم بعضا فاذا لم تخافوا هذا من مماليككم ولم ترضوا ذلك لانفسكم فكيف رضيتم ان تكون الهتكم التي تعبدونها شركائي وهم عبيدي۔ (معالم وخازن ج ۵)

۲۳ے دا دَ ما قبل نه اضراب دے یعنی دَ دومره ډیرو دلائلو نه پس دَ توحید په مسئله کښې دَ شك او شبهے گنجائش نشته لیکن دَ دے باوجود مشرکان دیکښې غور فکر نکوی بلکه دَ خپل خواهشاتِ نفسانیه تابعداری کوی او دَ دلیل او حجت نه بغیر دَ الله سره شرك کوی۔ اَلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا نه مشرکان مراد دی۔ والذين ظلموا هم المشركون۔ (بحر ص ۱۷۱ ج ۷) دَ دے معانیتو په زړونو باندې دَ جباریت مُهرلګیدلے دے او دَ دوی نه دَ هدایت توفیق اخستلے شوے دے نو اُوس هیڅوك هم دوی لره په سمه لاره باندې نشی راوستلے او نه ئے څوك دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کولے شی۔ فَمَنْ یَّهْدِیْ الخ استفهام انکاری دے: ای لا یقدر علی هدایته احد۔ (ابوالسعود ص ۲۲۷ ج ۶)

۲۴ے فاء فصیحه ده خطاب پولئے نبی علیه السلام ته دے لیکن معنیٰ ئے عامه ده نبی علیه السلام او ټولو مؤمنانو ته شامل دے۔ دیکښې په توحید باندې دَ قائم اوسیدلو حکم ورکړے شویدے او دا په پورتنو ذکرشوو دلائلو او تمثیل باندې مرتب دے۔ دا رنګے دَ سورت په ابتداء کښې دَ نصرت ذکر شوے وعدے سره متعلق دے یعنی دَ الله تعالیٰ فتح او نصرت په دے موقوف دے چه تاسو په توحید باندې قائم وسیږئ او دَ هغې په خاطر مصیبتونه برداشت کوئ۔ اُوس دَ توحید مسئله براهین او بیّنات سره نورهم واضح کړے شوے ده لیکن مشرکان بیا هم دَ حد نه تجاوز کوی او په شرك کښې نښتلی دی۔ حق واضح شو او توحید دلائلو سره ثابت شو لهٰذا اُوس دَ ټول باطل دینونو نه مخ واړوه په توحید باندې قائم وسیږه۔ اذا تبين الحق فظهرت الوحدانية فاقم الخ (نیشاپوری) دا دَ توحید مسئله فطری دین دے چه په دے باندې الله تعالیٰ ټول انسانان پیدا کړل۔ دَ دے وجے نه دَ الله فطرت مذبذب لوئی او شریك ورسره مخلوق وئی۔ دا توحید برابر دین او صراط مستقیم دے لیکن اکثر خلق دَ دے حقیقت نه جاهلان او ناخبره دی۔ فَاَقِمْ وَجْهَكَ الخ، دا په توحید باندې دَ قائم پاتے کیدلو او خپله توجه پیدے باندې دَ مرکوز کولو نه کنایه ده۔ والمراد الاقبال على دين الاسلام والاستقامة والثبات عليه (روح ص ۳۹ ج ۲۱) حنيفا ئے فاقم ضمیر فاعل نه حال دے فطرت الله فعل مقدر

مفعول دے ، ای الزموا فطرت الله (مدارک) د فطرت الله نه د الله تعالیٰ توحید مُراد دے چه د هغې قابلیت او استعداد الله تعالیٰ د هر بچی په فطرت کښې امانت کړے دے لکه چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی ، کل مولود یولد علی الفطرة - د دے تائید د دے نه هم کیږی چه دلته ئے فطرت الله ته الدین القیم او ویلو او په سورۀ یوسف کښې ئے وفرمائیل : إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا إِلَّآ إِيَّاهُ ۚ ذٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ - (یوسف ع ۵) د دے نه معلومه شوه چه دلته د فطرت الله نه د توحید دین ، د الله تعالیٰ خالص عبادت او د رابلل مُراد دی - المعنی انه خلقهم قابلین للتوحید والاسلام - (مدارک ص ۲۰۰ ج ۳) ای الزموا فطرة الله وهو التوحید (کبیر ص ۱۷۵ ج ۶) لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ : د الله تعالیٰ دا دین رښتونے او صحیح دے ، دیکښې نه ترننه پورے تبدیلی وشوه او نه به پکښې اشده څخه تبدیلی وشی - یا نفی په معنیٰ د نهی ده یعنی د الله تعالیٰ دین توحید مه بدلوئ وقیل هو نفی معناه النهی ای لاتبدلوا ذلک الدین (بحر ص ۱۷۲ ج ۷) الزموا فطرة الله ولا تبدلوا التوحید بالشرک - (خازن ومعالم ص ۱۷۳ ج ۵)

۲۵ــه دا د أَلْزِمُوا مقدر د فاعل نه حال دے (مدارک) یعنی د غیر الله نه کټ شی صرف الله تعالیٰ طرفته رجوع کونکی او په حاجاتو کښې غائبانه صرف هغه ته آواز کونکی شئ ، ای راجعین الیه تعالیٰ بالتوبة واخلاص العمل وقیل ای منقطعین الیه تعالیٰ (روح ص ۴۱ ج ۲۱) وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۝ دا د مُنِيبِينَ تفصیل دے یعنی په حاجتونو کښې صرف الله تعالیٰ طرفته رجوع وکړئ او د هغه عبادت او رابللو کښې هیڅوک شریک مه کرځوئ - څنو خلقو دا د أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ سره متعلق کړے دے - یعنی مونځ پریښودلو سره د مشرکانو مه جوړیږی - لیکن دا صحیح نه ده ځکه چه مونځ پریښودل اگرچه گناه کبیره ده لیکن شرک نه دے - علامه ابو السعودؒ فرمائی : ولا تکونوا من المشرکین المبدلین لفطرة الله تعالیٰ تبدیلا (ابو السعود ص ۴۲۲ ج ۶) - دا د جار (حرف جر) اعاده کولو سره د المشرکین نه بدل دے یعنی د هغه مشرکانو پښان مه کیږئ چا چه د خپلو خواهشاتو مطابق خپل خپل جُدا معبود جوړ کړو او بیا هره یوه ډله خپل خود ساخته دین باندې خوشاله او مطمئنه ده . هغوی مختلفې ډلې جوړے کړی دی لیکن اے د ایمان والو ! تاسو په توحید باندې قائم او متحد اوسیږئ او په دیکښې اختلاف مکوئ -

۲۶ــه دا په مشرکانو باندې زجر دے - د دینه مخکښې مؤمنانو ته نصیحت وُو ، اُوس دلته مشرکانو باندې زجر وته دی - د مشرکانو دا حال دے چه کله هغوی باندې څه مصیبت راشی نو د باطل معبودانو نه نا اُمیده شی او الله تعالیٰ ته راجع شی او صرف هغه ته آواز کوی ځکه چه هغوی په د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی چه څوک د توحید مخالفت کوی نو د الله تعالیٰ عذاب به راشی نو چه کله په هغوی

څه مصیبت راپرېوزي نو کنټرول به ئې کیږي شي، دا د الله تعالیٰ عذاب دے۔ نو دغه وخت خالصةً الله تعالیٰ ته آواز کوي۔ ثُمَّ اِذَآ الخ لیکن الله تعالیٰ خالص خپلې مهربانۍ او رحمت سره هغوی ته د دے مصیبت نه نجات او خلاصے ورکوي نو سمدستي شرک شروع کړي او خپل نجات او کامیابي غیر الله طرفته منسوب کوي : وذلك بنسبة خلاصهم الى غيره تعالىٰ من صنم او كوكب او نحو ذلك من المخلوقات (روح ج ۲۱ ص ۴۲) قال ابن عطية ويلحق من هذه الالفاظ شئ للمؤمنين اذا جاءهم فرج بعد شدة علقوا ذلك بمخلوقين الخ (بحر ص ۱۷۳ ج ۷)۔

۳۷ لِيَكْفُرُوْا په عطف دکځ دے یعني دوی خپله کامیابي غیر الله ته منسوب کوي او د انعام او احسان ناشکري کوي۔ بند د نو په دنیا کښې زمونږ د نعمتونو فائده واخلئ او د نعمت ناشکري وکړئ تر دے چه د دے انجام به ووینئ۔ اَمْ اَنْزَلْنَا الخ : ام منقطعه دے په معنیٰ د بَلْ او همزه سره او استفهام انکاري دے او په دیکښې د خطاب نه غیبت طرفته التفات دے آیا دے مشرکانو ته زمونږ له طرفه کوم حُجّت او دلیل ورکړے شوے دے چه هغے سره د شرك ثبوت کیږي؟ هرگز داسے نه ده دوی سره داسے هیڅ یو دلیل نشته محض د خپلو خواهشاتو او ګمانونو پسے زغلي۔ ام بمعنی بل والهمزة للاضراب عن الكلام السابق والاستفهام عن الحجة استفهام انكار و توبيخ۔ (بحر)

۳۸ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ الخ نه مشرکین مراد دي یعني هر کله چه مونږ خلقو باندې باران، صحت، فراخئ د رزق وغیره په صورت کښې خپل رحمت وکړو نو دوی خوشاله شي او په تېړونو شي لیکن کله چرے د دوی د بد عملونو د وجے نه پرے څه مصیبت راشي نو د خپلو معبودانو نه ناامیده شي ځکه چه د دوی خود ساخته معبودان او کارساز د دے مصیبت نه خلقولو کښې ناکامه دي۔

۳۹ دا په توحید باندې نهم عقلي دلیل دے یعني د رزق فراخي او تنګي د الله تعالیٰ په اختیار کښې ده لهذا کله چه هغه په خپل رحمت سره په رزق کښې فراخي ورکړي نو د هغه شکر ادا کول پکار دي او کله چرے هغه په رزق کښې تنګي راولي نو په هغے صبر پکار دے او استقلال سره هغه ته آواز پکار دے۔

۴۰ د عذاب د دفع کولو د پاره د درے امورو ذکر کول۔ شرك مکوئ۔ په پورته ذکر شوو تفصیلاتو کښې دا ذکر اوشو۔ ظلم مکوئ او احسان کوئ۔ دلته دا دواړه خبرے ذکر شوي دي۔ دویمه صراحةً او له ضمناً۔ د ټولو حقدارانو حقونه ادا کړئ۔ د دے په ضمن کښې د بے انصافئ او د حق تلفئ د ممانعت ذکر وشو ذٰلِكَ خَيْرٌ الخ دا اهلِ حقوق حقونه ادا کول د هغه خلقو د پاره بهتر دي څوك چه د الله تعالیٰ رضا غواړي او هم دا خلق به کامیاب وي۔ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا الخ د دولت صحیح مصرف دا دے چه په هغے کښې واجب حقونو باندې صرف کړے شي،

لیکن د خلقونه په سود قرض اخستل او سود ادا کول سره د هغوی په مالونو کښې اضافه کول د الله تعالیٰ د ورکړے شوی دولت جائز او صحیح مصرف نه دے، دے سره خو به د خلقو په مالونو کښې ضرور اضافه کیږی لیکن د الله تعالیٰ په نزد به هغے کښې هیڅ خیر او برکت نه وی او نه به پرے څه اجر او ثواب مرتب وی. وَمَا اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ الخ لیکن کوم چه تاسو څکښې د الله تعالیٰ د رضا دپاره د الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ کوئ په هغے کښې به برکت وی او د هغے اجر او ثواب به څوچنده زیات تولے شی. دے ایت ته څنو مفسرینو مکی او څنو مدنی ویلی دی. اول صورت کښې به د زکوٰة نه نفلی صدقه او په دویم صورت کښې به د دے نه فرض زکوٰة مراد وی.

۳۱ دا په توحید باندې لسم عقلی دلیل دے. ستاسو ټولو خالق او رازق الله تعالیٰ دے او مړل او ژوندی هم د هغه په قبضه کښې دی. اوس تاسو پخپله وواییئ چه کوم غوره کړے شوے هستئ او د الله تعالیٰ نیکان او صالحان بندګان تاسو د الله تعالیٰ نه سوا کارساز ګنړلی دی هغوی کښې چا په دے ټول جهان کښې کوم یو څیز پیدا کړے دے یا د پیدا کولو طاقت لری، یا د چا رزق د هغوی په اختیار کښې دے، یا د چا مړل او ژوندی کول د چا په قبضه کښې او تصرف کښې دے؟ ظاهره ده چه د دے ټولو جواب په نفی کښې دے. د مشرکانو هم عقیده وه چه د دوی خیالی کارساز د دے کارونو نه د هیڅ یو کار کولو طاقت نلری. سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى الخ: کله چه دا صفتونه الله تعالیٰ پورے خاص دی نو بیا هغه د هر قسمه شرك نه پاك دے. د کارسازی صفتونو او د اُلوهیت کمالاتو کښې ورسره هیڅوك شریك نشته.

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ

خورشو بے فساد ګله په اوچه او لوند کښې د خلقو د لاسونو کړے شوو (ګناهونو) سره

لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾ قُلْ

څکول بکاردی هغوی ته څه مزه د هغوی د کار دے د پاره چه هغوی راواپس شی واوایه

سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

اوګرځئ تاسو په ملك کښې نو وګورئ څرنګه شو انجام د

مِنْ قَبْلُ ۭ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾ فَاَقِمْ

مخکښو. وو به هغوی کښې ډیر شرك کونکی. نو ته برابر کړه

وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ

خپل مخ په سمه لاره د هغې نه مخکښې چه راشي هغه ورځ

لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾ مَنْ كَفَرَ

چه بیا به ئې واپس کیدل نشته د الله له طرفه دغه ورځ به خلق جدا جدا وي (ټ) څوک چه منکر شو

فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾

نو په هغه پرېوته (گناه) د منکر کېدلو او تچا چه وکړی نیک کارونه، هغه خپله لاره برابروي۔

لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ ط

د دې دپاره چه هغه بدله وکړي هغه چا ته چه یقین ئې وکړو او کارونه وکړو نیک د خپل فضل نه؛

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ

بیشکه هغه نه خوښوي انکار کوونکي۔ او د هغه (د قدرت) د نښو نه یو دا ده (ت۳۵) چه چلوي

الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ

هواگانې زیرې راوړونکې او د دې دپاره چه وڅکوي تاسو ته مزه د خپلې مهربانۍ او د دې دپاره چه وچلیږي

الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

جهاز د هغه په حکم سره او د دې دپاره چه تلاش کړئ د هغه د فضل نه او د دې دپاره چه تاسو

تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى

حق ومنئ (ټ) ۔ او مونږ لیږلي دي (ت۳۶) ستا نه مخکښې ډیر رسولان د هغوي

قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ

قوم ته نو ورسیدل هغوي ته ښکاره معجزو سره، بیا مونږ بدله واخستله د هغوي نه څوک

اَجْرَمُوْا ط وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ

چه گناهگار وو او حق دے په مونږ باندې امداد کول د ایمان والو (ټ)۔ الله دے

الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي

چه راليږي هواگانې بيا هغه وچتوي ورېځ بيا هغه خوره کړي په

السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ

اسمان کښې څنګه چه وغواړي او کړځوي دغه ورېځې لاندې بانندې ټوټې ټوټې نو ته به وینې باران چه راوځي

مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَإِذَآ أَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ

د هغې د مینځ نه ، بیا چه کله ورسوي دغه باران چاته چه غواړي د خپلو بندګانو نه

إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ أَنْ

نو دغه وخت هغوی خوشالیږي ۵ - او که څه هم وو دوي نه کیدل د دغه (باران)

يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَانْظُرْ إِلٰٓى

د نازلیدلو نه مخکښې نا اُمیده ۷ - نو وګوره ۳۵ طرف د

اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ

الله د مهربانۍ نښې څنګه ژوندۍ کوي زمکه د هغې د مرګ نه پس ،

إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾

بیشکه هغه دے مړي ژوندي کونکے او هغه هر څه کولے شي -

وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ

او که چرے مونږ اولیږو ګله یو هوا بیا وګوري هغوی فصل چه زیړ شو نو وګرځي د هغې نه روستو

يَكْفُرُوْنَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ

ناشکري کونکي ۶ - نو ته اَورولے نه شې کولے مړو ته او نه اَورول کولے شې کڼړو ته

الدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنْتَ بِهٰدِ

د آواز کله چه وګرځي شا کونکي - او نه ته لاره ښودلے شې

الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ۭ إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ

ړندو ته د هغوی د ګمراهۍ نه ، ته خو به اَورول وکړے هغه چا ته چه ایمان لرونکی راوړي

بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٥٣﴾ ع ۵ ع ١٣ ٨

زمونږ په خبرو، نو هغوی مسلمانان دي -

نکات: ۱ تخویف دُنیوی ۲ تخویف دُنیوی۔ ۳ یَولسم عقلی دلیل۔ ۴ تخویفات او بشارتونه۔ ۵ دولسم عقلی دلیل۔ ۶ زجر۔ ۷ تسلّی دپاره دَ نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی کفر او ظلم خور شویدے په زمکه کښی او په (سمندری) جهازونو کښی هر طرفته۔ دَ شو کمارو او لوټمارو دَ جنګونو او انبتو عذاب پریوتلے دے، پوره سزا خو به په آخرت کښی وی یکن څه لږه شان دلته هم پکار ده ممکن ده چه څنے خلق ویریږی او په سمه لار روان شی۔ **ف۲** یعنی دَ دین غلبه راشی او سزا مونږ ونکی جُدا شی او دَ الله تعالیٰ مقبول خلق جُدا شی۔ **ف۳** یعنی هوا چلولو سره دومره فائدے دی، دَ باران خبر راوړی او جهازونه روانوی۔ **ف۴** په مینځ کښی دَ هوا چلولو ذکر دے دپاره دے چه لکه څنګه هوا کانے دَ باران زیرے راوړی هم دغه رنګه دَ دین دَ غلبے نښے روښانه کیږی۔ **ف۵** خوروی څنګه وغواړی اول یو طرفته او بیا بل طرفته۔ دغه شان به دین هم خور کړی۔ **ف۶** دَ دوی شکر اداکول او ناشکری دَ دنیوی اغراضو سره تړلے ده۔ دلته ئے داسے وفرمائیل چه انسان کله مراد ته دَ الله تعالیٰ په فضل او احسان سره ورسیده نو مناسب ده چه بے خوفه نشی ځکه چه دَ الله قدرت قسم قسم دے چه معلومه نۀ ده چه دغه نعمت ستا نه کله اخلی؟

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی قحط او غرق او ټول مصیبتونه دَ بنیادم دَ عملونو جزا ده۔

تفسیر

۳۲ دا تخویف دُنیوی دے۔ په دُنیا کښی چه کوم شر او فساد پیدا کیږی او دَ مصیبتونو او آفتونو کوم طوفان چه راځی دَ هغے وجه دَ خلقو بد عملونه دی۔ دا شرك او ګناهونه او دا نافرمانئ او سرکشئ په دُنیا کښی دَ ټول فساد بیخ او جرړے دی۔ (بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ) بسبب معاصیهم و شرکهم (مدارك ج ۳ ص ۲۱۰) دَ شرك او ګناهونو په وجے سره دَ ګناهونو سزا په دُنیا کښی هم په دوی باندے راځی دپاره دَ دے چه دوی دَ شرك او نافرمانئ نه منعه شی۔

۳۳ دا تخویف دُنیوی دے۔ دَ شرك او ګناهونو سزا او انجام که ګوری نو په زمکه کښی وګرځئ۔ بیا دَ تیرے شوے زمانے دَ مجرمانو دَ هلاکت او تباهئ آثار وګورئ هغوی هم مشرکان وو او هغوی دَ توحید پیغام راوړونکی دروغژن وګڼړل او دَ توحید دعوت ئے قبول نکړو نو په دُنیا کښی دَ ذلت نه چلك او رسوا کوونکی عذاب سره هلاك کړے شول۔

۳۴ دا دَ اَول مضمون فَاَقِمْ وَجْهَكَ اعاده ده او دَ هغے تاکید دے۔ دَ قیامت ورځ چه ضرور به راځی او دَ چا منع کولو او بندولو سره به نشی منعه کیدے، دَ هغے

دراتلونه وړاندے په توحید باندې قائم شئ. دُنیا کښې توحید منل به په آخرت کښې فائده ورکوي لیکن د آخرت ایمان او یقین به بے فائدے وي. یَوْمَئِذٍ یَّصَّدَّعُوْنَ هلته به مؤمنان او مشرکان ځان ځانله کولے شي. فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ. مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ الخ: دا تخویف اُخروي دے چا چه په دُنیا کښې کفر او شرک اختیار کړو په آخرت کښې به پرے د هغے سزا هم پریوځي. وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا الخ: دا بشارت اُخروي دے. او کوم خلقو چه په دُنیا کښې توحید او منلو او نیک اعمال ئے په ځائے راوړل نو هغوي خپل آخرت بنا ښسته کوي او برابروي. لِيَجْزِيَ الَّذِينَ الخ: دا د ما قبل دپاره علت دے. هغوي نیک کارونه دے دپاره کوي چه الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره هغوي ته په آخرت کښې ښائسته بدله او ډیره بدله ورکړي. إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ۝ د هغهٔ رضا او محبت صرف د ایمان والو دپاره دے، کافر او مشرک د هغهٔ د غضب مُستحق دي او د هغهٔ د محبت نه محرومه دي.

۳۵ دا په توحید باندې پولسم عقلي دلیل دے. دا الله تعالیٰ د قدرت او عظمت او د هغهٔ د وحدانیت یو دلیل دا هم دے چه هغه د رحمت د باران زیرے راوړونکے هواګانے چلوي او د رحمت باران سره تر و تازه او شنهٔ سمسور فصلونه راتوکوي د الله تعالیٰ په حکم سره چلیدونکے هواګانے کشتئ دیوځوانه بل خوا ته بیائي چه په هغے کښې مونږ انسانان سره سفر کوو او په تجارتي سفرونو کښې نفع حاصلوو دا ټول هر څهٔ دے دپاره دي چه مونږ د الله تعالیٰ شکر ادا کړو او هغهٔ سره شرک ونکړو.

۳۶ دا مشرکانو دپاره تخویف دُنیوي دے مؤمنانو دپاره بشارت دُنیوي دے او نبي کریم ﷺ ته تسلي ده. د مکے مشرکانو چه تاسو سره کومه د عِنا د او تکذیب رویه اختیار کړے ده، دا څهٔ نوے خبره نهٔ ده، ستاسو نه وړاندې هم چه څومره انبیاء علیهم السلام دلائلو او واضحه معجزاتو سره خپلو قومونو ته راغلي دي د هغوي قومونو هم دغه شان سلوک کړے دے. آخر مونږ مجرمان هلاک کړل او ایمان والو ته مو نجات ورکړو. وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ۝ دا د وعدهٔ نصرت اعاده ده چه د سورت په شروع کښې وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ سره ذکر کړے شوے وه. یعنی زمونږ وعده ده چه څه کړے تاسو په توحید باندې قائم پاتے شئ او د هغے په خاطر د مصیبتونو مقابله کوئ نو څهٔ به تاسو ته فتح درکوُو، د ایمان والو نصرت او امداد خو ما خالص د خپل فضل نه په خپله ذمه اخستے دے. د دے وجے نه به آخر د مکے مشرکان مغلوب وي او تاسو ته به هغوي باندې غلبه حاصله وي.

۳۷ دا په توحید باندې دولسم عقلي دلیل دے او د ذکر شوي دلیل د یو جزء تفصیل دے. الله تعالیٰ هواګانے رالیږي چه وُریځے شړي او د الله تعالیٰ

په حکم سره ئے په اسمانی فضا کښې خورَوی او دَ وریځو ټکړے دَ دُنیا مختلفو حصو ته لیږی او بیا تول وینې چه دَ الله تعالیٰ په قدرت سره دَدے وریځو دَ مینځ نه باران اُورَوی، بیا چرته چه باران کیږی هلته خلق دَ خوشالئ نه په جامو کښې نهٔ ځائیږی۔ وَاِنْ كَانُوْا الخ: اِن مخففة من المثقلة دے او دده ضمیر شان مقدر دے۔ حال دا دے چه دَ باران وریدلو نه مخکښې هغوی نا اُمیده شوی وی چه اُوس باران نهٔ کیږی، فصلونه تباه شول او څاروی به مړه شي۔ مِنْ قَبْلِهٖ اعاده تاکید دپاره ده (روح) لیکن حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی دَ قَبْلِهٖ ضمیر دَ وخت ته کنایه ده، ای من قبل هذا الوقت۔ یعنی دَدے ورځو کښې دَ باران وریدلو نه مخکښې هغه خلق نا اُمیده شوی وو۔ دَدے صورت کښې به تکرار او اعاده نهٔ وی۔

٣٨ یعنی بارانِ رحمت بانډې چه دَ رحمتِ الٰهی کوم اثار مرتب کیږی هغه په غور سره وګورئ، څرنګه وچه او غیر ابادهٔ زمکه راژوندئ کړی او ټکه شنه شي. دا دَ هغهٔ دَ قدرت او کاریګرئ او دَ هغهٔ په عظمت او وحدانیت بانډې ډیر لوئے دلیل دے۔ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى، دا جمله معترضه ده یعنی دَدے دلیل سره چرته چه دَ الله تعالیٰ وحدانیت ښکاره کیږی هلته دَدے نه دا هم ثابتیږی چه کوم الله تعالیٰ مړه زمکه راژوندئ کولے او تازګی ورته ورکولے شي هغه به دَ قیامت په ورځ مړی هم راژوندی کړی۔ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ، دا دَ ما قبل دپاره علت دے هغه چونکه په هر څیز قادر دے او دَ هغهٔ قدرت په ټولو ممکناتو بانډې حاوی او احاطه کوُنکے دے، په دے وجه هغه په حشر او نشر بانډې هم قادر دے۔

٣٩ زجر دے په مشرکانو بانډې۔ دا دَ مشرکانو دَ انتهائی عناد او تکبر بیان دے۔ انعامات ورباندې لوسره هغوی کله منونکی دی، هغوی په ضد او عناد کښې دومره مخکښې تللی دی چه که مونږ دَ هغوی تلک شنهٔ او تروتازه سمسور فصلونو بانډې څهٔ اسمانی افت مثلاً ډیر ګرم باد وغیره راولیږو او ددوی کتلو سره ددوی سمسور فصلونه وُچ شي او زیړ شي نو بیا به هم دوی په کفر او انکار او تکذیب بانډې ټینګ ولاړ وی او ددوی په زړونو کښې به دَ منلو او الله تعالیٰ ته دَ رجوع کوُلو جذبه پیدا نشي ۞

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ

الله هغه ذات دے چه پیدا کړل ئے تاسو له دَ کمزورئ نه بیا ئے ورکړو دَ کمزورئ نه

ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ؕ

روستو قوت بیا به ورکړی دَ قوت نه روستو کمزوری او سپین وَږیره،

يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿۵۴﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ

پیدا کوی څنګه چه غواړی او هغه ډیر په ټولو هر څه بانې پوهه قدرت لرونکے - او په کومه ورځ چه قائم شی

السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ۬ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ

قیامت نګه قسمونه به خوری ګناهګاران چه موږ نه وُو پاتې شوی دیو ساعت نه زیات،

كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

دا رنګے وُو چه کرځولی به شو وا ها - او وائی به هغه چه ئلکه ورکړے شوی ؤ پوهه

وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ؗ

او یقین ستاسو پاتې کیدل وو دَ الله په کتاب کښې دَ ژوندی پاڅیدلو دَ ورځې پورې

فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

نو دا دَ ژوندی پاڅیدلو ورځ ده بیا تاسو نه وئ پیژندلے (دَ دغه ورځ دَ واقع کیدلو-)

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ

نو په دغه ورځ به په کار نهٔ راځی ګله ګنهګارانو ته دَ هغوی بخښنه غوښتل او نه به دَ الله

يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

راضی کولو طلب وشی دَ دوی نه - او موږ بیان کړیدی خلقو ته ګله دے قرآن کښې

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ

دَ هر قسم نه مثال، او که چه راوړے دوی ته یو آیت نو ضرور به وائی هغه

كَفَرُوْۤا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ

کافران چه تاسو ټول دروغ جوړوئ - همدا رنګے مهر لګوی الله تعالٰی

عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ

دَ هغه چا په زړونو بانې چه پوهه نلری - نو ته قائم وسیږه ګله بیشکه دَ الله

اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع

وعده صحیح ده او پورته دې نکړي تا لره هغه خلق څوک چه یقین نه لري (په آخرت) -

نکات :- ۱- دپاره لسم عقلي دلیل ۲- تخویف اخروی ۳- شکوی ۴- تسلي دپاره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم -

موضح قرآن ف۱ یعنی قبرکښې وسیدل به ورته لږ معلوم شي او هسې غلطو خبرو بانې پوهیدل به دُنیا کښې -

فتح الرحمٰن ف۱ یعني کله چه همیشه عذاب ووینې نو دُنیا به دَ یوې لمحې پشان ګڼړي په مقابله دَ دیکښې چه کله دُنیا کښې وُو نو دَدُنیا ژوند ئې همیشنے ګڼړلو - (نوټ): حاشیه ۳ تیشوی عبارت سره متعلق ده) -

تفسیر ۵۲ دَ مشرکانو دَ عناد او ځان لوئې ذکر کوّلو نه پس نبي علیه السلام ته تسلي ورکړے شوه چه دَ دا سې واضح دلائلو باوجود مشرکان دَ انکار او تکذیب نه نه منعه کیږي - ستاسو دَ تبلیغ په اثر اخیستلو هیڅ قصور نشته دَدوي په زړونو بانرا دَ ضد او عناد په وجه دَ جبارتيت مُهر لګیدلے دے - دوي هیڅکله ایمان ته نه راوړي نو تاسو دَدوي دَ نه منلو په وجه مه غمژن کیږي - دلته مشرکانو دپاره درے تمثیلات ذکرشوي دي - اوّل لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى : دا خو مړه دي، تاسو دوي ته په هیڅ طریقه هم آوروّل نشي کولے - دویم وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الخ دا خو کا نړه دي او کانړه هم داسې چه ستا طرفته متوجه کوري هم نه بلکه شا ئے ګرځولے ده - نو دَدوي غوږونو ته ستا دعوت حق څنګه ورسیږي - دریم وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْيِ الخ دا خو ړانده دي او ته ړندو ته هرګز لاره نشے خودلے - حاصل دا دے چه ستا کار تبلیغ او ورسول دي - دې معاندینو چه دَ قهر او جباریت مُهر لګیدلو په وجه دخپل زړه حیات او سمع، بصر ضائع کړے دے، دَدوي په سمه لاره روانول ستاسو دَ طاقت نه بهر دي - ستاسو دَ دعوت او تبلیغ اثر به دوي هرګز نه قبلوي - اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا الخ لیکن ستاسو خبرکا به صرف هغه خلق اوري او اثر به ترے قبلوي څوک چه زمونږ آیتونه واوري، په هغې بانې دَ یقین کولو او دَ هغې په وړاندې دَ تسلیم او تابعدارئ جذبه لري او دَ هغوي په زړونو کښې دَ حق تلاش کوّلو او دَ حق موندلو نه روستو دَ هغې دَ منلو رښتونے جذبه وي.

دَ سماعِ موتٰی دَ مسئلې تحقیق

دَ سماعِ موتٰی مسئله کښې دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ زمانې نه اختلاف را روان دے - دا مسئله دَ اعتقادات ضروریه نه نه ده چه دَ دے په نفي او اثبات بانې

دَ کفر او اسلام دار و مدار دے بلکه یو عِلمی او تحقیقی بحث دے چه په دیکښ دَ بحث او تحقیق گنجائش شته دے - دَ اُمَّتِ محمدیه علیٰ صاحبها الصلوٰة والسلام دَ علماؤ په مینځ کښ دے مسئله کښ همیشه دوه رائے دی - دَ ځنے علماءِ کرامو رائے داده چه مړی اَوری او ځنو دَ خپل تحقیق په بناء باندې دَ سماع موتیٰ نفی کړے ده. دَ عُلماءِ کرامو دِے دواړو ډلو سره دلائل موجود دی یو کوم چه هغوی دَ خپلے رائے او تحقیق بنیاد برابر کړے دے. کوم علماء چه دَ سماع موتیٰ نفی کوی دَ هغوی استدلال دَ قرآن کریم دَ ظاهری ایتونو او صحیح احادیثو نه دے او څوک چه سماع موتیٰ منی هغوی هم صحیح احادیثو سره استدلال کوی -

دَ سماعِ موتیٰ دَ نفی دلائل

دَ سماعِ موتیٰ په نفی باندې دَ قرآن مجید درے اٰیتونه دلیل او حُجت دی - دغه اٰیتونو سره وخت په وخت دَ صحابه کرامو نه واخله تر ننه پورے دَ سماعِ موتیٰ په نفی باندې دلیل او برهان پیش کړے شی - اَوَّل اٰیت: اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى الخ (نمل ع ۶) - دویم اٰیت هم دا دے کوم کښ چه دا وخت بحث روان دے - دریم اٰیت: اِنَّ اللّٰهَ یُسْمِعُ مَنْ یَّشَآءُ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِی الْقُبُوْرِ ۝ (فاطر - ع ۳) دَ ټولو نه اول حضرت عائشے رضی الله عنها په دے اٰیتونو سره دَ سماعِ موتیٰ په نفی باندې دلیل اونیولو - لکه چه په صحیح بخاری شریف کښ موجود دی - تفصیل ئے روستو راروان دے - دَ دینه علاوه ټولو فقهاؤ او مجتهدینو هم دا اٰیتونه دَ سماعِ موتیٰ په نفی باندې دَ دلیل په طور پیش کړیدی -

دَ مثال په طور علامه ابن همام مؤلف دَ فتح القدیر تصریح کوی. علامه موصوف دَ دے اٰیتونو ذکر کولو نه پس فرمائی چه دِے اٰیتونو نه دَ سماعِ موتیٰ دَ نفی تحقیق مستفاد کیږی ځکه چه دَ کافرانو تشبیه دَ مړو سره ورکړے شوے ده - په دے بناء باندے کفارو ته حق اَورول متعذر دی او دا دَ سماعِ موتیٰ په نفی متفرع ده کنی تشبیه به صحیح نه وی - اصل عبارت دا دے: فانهما یفید ان تحقیق عدم سماعهم فانه تعالیٰ شبه الکفار بالموتیٰ لافادة تعذر سماعهم وهو فرع عدم سماع موتیٰ (فتح القدیر ص ۴۴۷ ج ۱) او دومره نه لږ شان وړاندې ئے دَ حنفیه دَ مشائخو مسلک بیانولو سره لیکلی دی:

وعندی مبنی الارتکاب هذا المجاز هنا عند اکثر مشائخنا هو ان المیت لا یسمع عندهم ... لانها (الیمین) تنعقد علیٰ ما بحیث یفهم والمیت لیس کذلك لعدم السماع - (فتح القدیر)

او په کتاب الایمان کښ لیکی: فلو کلمه بعد موته لا یحنث لان المقصود منه

الافهام والموت بینا فیه لانه لایسمع فلا یفهم ۔ (فتح القدیر ص ۱۰۰ ج ۱) ۔
دَسماع موتیٰ منونکو لطرفه دَدے ایتونو جواب دا ورکولے شی چه دیکښ دَ اسماع (اورَوُلو) نفی ده، دَ سماع (اوریدلو) نفی نشته ۔ او اختلاف په سماع کښ دے، نهٔ په اسماع کښ حُکه چه دَ اسماع په نفی بانډې خودَ ټولو اتفاق دے ۔ دوئیم جواب دا دے چه دے ایتونو کښ دَ کافرانو تشبیه دَمړو سره په عدم استفاده کښ ورکړے شوه نهٔ چه په عدم سماع کښ او مطلب دا دے چه مړی دَ زیارت کوُنکی کلام اوریدلو سره دَ هغے نه فائده نهٔ شی اخستلے ۔ دارنګے کافران هم اوری لیکن دَ هغے نه فائده نهٔ اخلی ۔
دَدے دواړو جوابونو جواب دا دے چه حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها او ټولو فقهاؤ حنفیه دے سره په عدم سماع باندے استدلال کړیدے اودا ددے واضح دلیل دے چه دا ایتونه دَ اسماع سره سره دَ سماع نفی هم کوی او تشبیه په عدم استفاده کښ نهٔ ده بلکه په عدم سماع کښ ده ۔ دارنګے سماع دَ اسماع مطاوع ده ، په دے وجه دَ اسماع نفی یا اثبات دَ سماع نفی اثبات لره مُستلزم دے ۔ دے ایتونو کښ چه هر کله دَ اسماع نفی وکړے شوه نو دَ سماع نفی هم پکښ وکړے شوه ۞

دَسماع موتیٰ دلائل او دَ هغے جواب

دَسماع موتیٰ دَ منونکو دَ ټولو نه قوی دلیل دَ قلیب بدر والاحدیث دے چه په بخاری او مُسلم کښ ذکر شوے دے ۔ حضرت ابو طلحه رضی الله عنه بیان کوی چه دَ جنګ بدر په ورځ نبی علیه السلام دَ قریشو دَسردارانو دَ لاشونو په یو شار کوهی کښ دَغورځولو حکم ورکړو او دَ کوهی په غاړه ودریدو دَ قریشو سردارانو دَ پُوپو نوم اخستلو سره کښے وفرمایل : الیس قد وجدتم ما وعد ربکم حقا فانی قد وجدت ما وعدنی ربی حقا ۔ دے سره حضرت عمر رضی الله عنه ووئیل یا رسول الله! تاسو مړو او بے ساه بدنونو سره څه خبرے کوئ ؟ نبی علیه السلام په جواب کښ اوفرمایل : ما انتم باسمع لما اقول منهم ۔ دا روایت صحیح دے او ددینه دَ قلیب بدر دَ مړو سماع صراحت سره ثابتیږی ۔

جواب دے حدیث سره سماع موتیٰ باندے دلیل نیول دَ څو وجهو نه نهٔ صحیح کیږی ۔ اول حُکه چه حضرت عائشے رضی الله عنها دَ قرآن دوه ایتونه پیش کړل چه دے حدیث سره سماع موتیٰ باندے دلیل نیول ئے رَد کړیدی لکه چه په صحیح احادیثو کښ دی چه کله دا حدیث دَ هغے په وړاندے ذکر کړے شو نو هغے اُوفرمایل : کیف یقول رسول الله صلی الله علیه وسلم ذلك والله یقول

وما انت بمسمع من فی القبور ۔ انک لاتسمع الموتیٰ ۔ یعنی دا څنګه کیدے شی چه نبی علیه السلام د قرآن خلاف خبره وکړی حال دا دے چه الله تعالیٰ فرمائی : وما انت بمسمع من فی القبور الخ ۔ تا سو مړو ته د خپلو خبرو اورولو قدرت نه لرئ ځنے روایاتو کښ راغلی دی چه حضرت صدیقه رضی الله عنها دلته سماع په علم باندې محمول کړیده: انما قال انهم الأن لیعلمون ان ما کنت اقول لهم الحق (صحیح بخاری ص ۵۶۷) ۔ یعنی د نبی علیه السلام دا ارشاد مطلب دا وو چه اوس د هغوی یقین شوے دے چه په دُنیا کښ هغوی ته کوم څه ویلے کیدل هغه حق وو ۔ حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی چونکه دے حدیث کښ حضرت عائشے صدیقے رض د سماع تفسیر په علم سره کړیدے ، د دے وجے نه دے حدیث سره په سماع موتیٰ باندې دلیل نیول صحیح نه دی ۔ حواله روستو راروانه ده ۔

دویم :۔ دا د نبی علیه السلام خصوصیت وو ، د هغوی معجزه وه ۔ نو دا په عموم باندې حمل کول او دے سره د سماع موتیٰ عموماً ثابتول صحیح نه دی ۔ وما وقع فی حدیث ابی طلحة رضی الله عنه یجوز ان یکون معجزة له صلی الله علیه وسلم وهو مراد من قال انه من خصوصیاته علیه الصلوٰة والسلام وهی من خوارق العادة. (روح ص ۵۶ ج ۲۱) ۔

دریم :۔ حضرت ابو قتاده رضی الله عنه فرمائی : الله تعالیٰ د قلیب بدر په مړو کښ ژوند پیدا کړو او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کلام ئے ورته واورولو د پاره د دے چه د هغوی په حسرت او خپیمانتیا کښ اضافه وشی ۔ نو دے سره په سماع موتیٰ باندې استدلال کول صحیح نه دی : قال ابو قتادة احیاهم الله تعالیٰ یعنی اهل الطوی حتی اسمعهم قوله صلی الله علیه وسلم توبیخا وتصغیرا ونقمة وحسرة وندما. (بخاری ص ۵۶۶ ، روح ص ۵۶ ج ۲۱)

څلورم :۔ دے خطاب سره مړو ته اورول او د هغوی پوهول مقصود نه وو بلکه ژوندو ته نصیحت کول او عبرت ورکول مقصود وو لکه څنګه چه حضرت علی رضی الله عنه قبرستان ته لاړو نو مړو ته مخاطب شو او ژوندو ته ئے د عبرت او نصیحت خبرے اوکړے : انه انما قال علی وجه الموعظة للاحیاء لا لافهام الموتیٰ کما روی عن علی رضی الله تعالیٰ عنه انه قال السلام علیکم دار قوم المؤمنین اما نساءکم فنکحت و اما اموالکم فقسمت و اما دورکم فسکنت فهذا خبرکم عندنا فما خبرنا عندکم ۔ (فتح القدیر ص ۱۰۰ ج ۴) ۔

دویم دلیل

د سماع موتیٰ د منونکو دویم دلیل هغه حدیث دے چه هغه صحیح دے : ان العبد اذا وضع فی قبره وتولی عنه اصحابه انه یسمع قرع نعالهم اذا انصرفوا اذ اتاه ملکان الحدیث ۔ د دے نه معلومه شوه چه کله خلق مړے دفن کولو سره واپس کیږی نو مړے د هغوی د پښو آواز

اوری۔

جواب ۴:- دے حدیث سره هم په عموم احوال او په عامو وختونو کښې د سماع موتیٰ په ثبوت بانډې دلیل نیول صحیح نۀ دی۔ دا سماع ابتدائی دفن سره خاص ده دپاره د دے چه دے حدیث شریف او هغه آیتونو کښې مطابقت راشی کوم چه سماع بانډې دلالت کوی۔ اللّٰهم الا ان یخصو اذلك باول الوضع فی القبر مقدمة للسؤال جمعا بینه وبین الأیتین فانهما یفید ان تحقیق عدم سماعهم۔ (فتح القدیر ص ۲۲۷ ج ۱)

د دے حدیث دویم جواب د مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله نه نقل شوے دے هغوی فرمائی : یُسْمِعُ مضارع مجهول ده او قَرْعَ نِعَالِهِمْ د هغے نائب فاعل دے نو مطلب دا دے چه خلق مړے ښخ کړی کله چه واپس راځی نو اوس صرف دومره فاصله راغلے وی چه قبر سره د دوی د پیزارو او رو اوریدلے شی چه منکر او نکیر سوال دپاره راځی۔ دا رنګے د دے حدیث شریف سماع موتیٰ سره هیڅ تعلق پاتے نۀ شو۔

دریم دلیل

بیهقی او حاکم روایت کړے دے چه کله نبی علیه السلام واپس شو نو د بعضو شهیدانو قبرونو سره ودریدو وے فرمایل تاسو د الله تعالیٰ په نزد ژوندی یئی۔ بیا ئے ملګروته وفرمایل چه د دوی قبرونوته راشئ نو په دوی سلام اچوئ : فوالذی نفسی بیده لایسلم علیهم احد الا ردوا علیه یوم القیمة۔ حاکم د دے حدیث تصحیح کړے ده۔ د دے جواب دا دے چه حاکم متساهل دے، په دے وجه د دۀ تصحیح قابل اعتبار نۀ ده : انا لانسلم صحته وتصحیح الحاکم محکوم علیه بعدم الاعتبار۔ (روح ج ۲۱ ص ۵۵)

څلورم دلیل

ابن عبد البر رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : مامن احد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه فی الدنیا یسلم علیه الا عرفه ورد علیه۔ عبد الحق اشبیلی د دے حدیث تصحیح کړے ده۔ د دے جواب دا دے چه د اشبیلی په تصحیح بانډې حافظ ابن رجب اعتراض کړے دے او ویلی ئے دی چه دا حدیث ضعیف بلکه منکر دے : وقیل فی حدیث ابن عبد البر ان عبد الحق وان قال اسناده صحیح الا ان الحافظ ابن رجب تعقبه وقال انه ضعیف بل منکر۔ (روح)

د کوم صحیح روایتونو نه چه په بعض احوالو کښې سماع موتیٰ ثابتیږی د هغے تولو یو جامع جواب دا دے چه د سماع موتیٰ تعلق د احوال برزخ سره دے او د احوال برزخ علم د وحی نه سوا ممکن نۀ دے۔ په دے وجه ضابطه خو دا ده چه مړی نۀ اوری لیکن په بعضو حالاتو کښې د مړو د اوریدلو بعض احادیثو کښې صراحت شته۔ هغه خپل حالاتو او مواردو پورے مخصوص دی او هغے

سره په عامو حالاتو کښې سماع موتیٰ باندې استدلال کول نه صحیح کیږي. د حنفیه فقهاؤ د اقوالو نه هم دا معلومیږي ځکه چه کوم روایاتو کښې د سماع موتیٰ ذکر دے هغوی د دے توجیه کوی لکه څنګه چه د تیرو شوو عباراتو نه معلومه شوه او د عدم سماع ضابطه برقرار ساتي. د اکابرِ دیوبند نه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی، حضرت علامه انورشاه کشمیری او حضرت علامه شبیر احمد عثمانی رحمهم الله تعالیٰ هم عدم سماع ته ترجیح ورکوی او دا ضابطه ګرځوی. حضرت علامه ګنګوهی رحمه الله فرمائی: فسرته به عائشة فلا یکون دلیلا علی السماع فالظاهر عدم السماع وهو الاصح عندنا (الکوکب الدری). حضرت علامه انورشاه صاحب رحمه الله فرمائی: ان الضابطة انما هو عدم السماع لکن المستثنیات فی هذا الباب کثیرة. (فتح الملهم ج ۲ ص ۴۷۹) قدوة المفسرین علامه سید محمود آلوسی حنفی رحمه الله هم د دے تصریح کوی چه سماع موتیٰ خپلو مواردو پورے مخصوص دے. هغه فرمائی:

ولا یلزم من وجود ذلك التعلق والقول بوجود قوة السمع ونحوه فیها نفسها ان تسمع کل مسموع لما ان السماع مطلقاً وکذا سائر الاحساسات لیس الا تابعا للمشیئة فما شاء الله کان ومالم یشأ لم یکن فیقتصر علی القول بسماع ما ورد السمع بسماعه من السلام ونحوه وهذا الوجه هو الذی یترجح عندی. (روح ص ۲۸ ج ۲۱)

ځنے بزرګانو د علامه آلوسی رحمه الله دا عبارت نیمګرے نقل کړے دے او قائلین د سماع موتیٰ ته ئے دا تأثر ورکولو کوشش کړے دے چه علامه موصوف مطلقاً د سماع موتیٰ قائل دے حال دا دے چه د هغه پوره عبارت وړاندې کیښودلو سره صفا معلومیږي چه هغه سماع موتیٰ په هغه احوالو پورے منحصر منی کوم کښې چه سماع په حدیثونو کښې وارد شوے دے او نورو حالاتو کښې د نورو مسموعاتو سماع نه منی. او حضرت علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله په سورة روم کښې د دے زیرِ تفسیر آیت باره کښې لیکی: "یعنی تاسو دا نشئ کولے چه ځمکه اُووایئ او خپل آواز مړی ته واؤروئ ځکه چه دا خبرو نه د عادی او ظاهری اسبابو نه خلاف دی. لیکن د الله تعالیٰ په قدرت سره کله د ظاهری اسبابو نه خلاف ستاسو څه خبره یو مړے واؤری نو هغے نه انکار هیڅ یو مؤمن نشی کولے. اُوس که د نصوصو نه د کومو خبرو د دے غیر معمولی او عادتی طریقے سره اوریدل ثابت شی تر هغے حده پورے مونږ له د سماع موتیٰ قائل کیدل پکار دی. محض قیاس سره نورے خبرے د سماع د لاندے نشو راوړلے الخ"

بیو ځائے علامه آلوسی رحمه الله د سماع موتیٰ فی الجمله توجیه کوی او فرمائی

کله چه الله تعالیٰ وُغوارې دَ مړي په بعض اجزاؤ به دَ آوریدو طاقت پیدا کړي او کومه خبره چه او غواړي هغه ته به ئې واؤروي: ان یخلق اللّٰه عزوجل فی بعض اجزاء المیت قوة یسمع بها متی شاء اللّٰه تعالیٰ السلام ونحوه مما یشاء اللّٰه سبحانه اسماعه ایاه (روح ج ۲۱ ص ۵۷)

دَ دې اکابر مشائخ رحمهم الله دَ تصریحاتو نه دا حقیقت دَ روښانه ورځ پشان واضحه کیږي چه اصلي ضابطه عدم سماع موتیٰ ده لیکن چرې الله تعالیٰ وغواړي نو بغیر دَ اسبابِ ظاهري نه به ورته یوه خبره واؤروي نو دا ممکن ده۔

حاصل دَ کلام دا دے چه په کومو حالاتو کښ دَ صحیح او صریح حدیثونو نه سماع ثابتیږي دَ هغې نه علاوه په هر ځائے کښ دَ سماع موتیٰ نفي کولے شي او دَ سماع والا دَ کومو احادیثو چه توجیه کیدلے شي دَ هغې به مناسب توجیه کولے شي لکه چه دَ قلیب بدر والا حدیث دے۔

دَ اختلاف منشاء

حضرت شیخ قدس سرہٗ وفرمائیل چه دَ احنافو او شوافعو په مینځ کښ دَ اختلاف منشاء دا ده چه دَ ارواحو مستقر یعني عِلّیّین او سِجّین قبر سره دي یا دَ قبر نه لرے۔ کوم خلق چه دَ دے خبرے قائل دي چه رُوحونه دَ قبرونو په خواکښ دي او افنیة القبور کښ (دَ قبرونو خواؤشا) اوسیږي او عِلّیّین او سِجّین دَ قبرونو په خواکښ دي، هغوي دَ سماع موتیٰ قائل دي۔ لیکن امام صاحبؒ فرمائي چه عِلّیّین او سِجّین دوه داسے مقامات دي چه قبرونو سره نه دي بلکه دَ هغې نه ډیر لرے دي۔ دَ دے وجے نه هغوي اوریدل نشي کولے لکه شاه عبد القادر صاحب رحمہ اللہ دَ سورۂ فاطر ایت وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ ۝ په تفسیر کښ لیکي: "حدیث کښ راغلي دي چه مړو باندې سلام اچوئ هغوي اوري او ډیرو ځایونو کښ ئې دَ مړو سره خطاب کړے دے۔ دَ دے حقیقت دا دے چه دَ مړي رُوح اوري او په قبر کښ پروت دے او جسد هغه آوریدل نشي کولے۔"

یعني هرچرته چه وي الله پاک به ورته دَ زیارت کوؤنکو سلام اورسوي۔

دَ معراج په حدیث کښ راغلي دي چه کله نبي علیه السلام اسمان ته تشریف یوړو نو هغوي حضرت آدم علیه السلام اولیدو چه ښي طرفته ئې دَ صُلحاؤ روحونه او کس طرفته ئې دَ اَشقیاؤ روحونه دي۔ هغه به چه ښي طرفته وکتل نو خوشاله به شو او چه کس طرفته به ئې وکتل نو خفه او غمژن به شو۔ دا هم دَ دے خبرے دلیل دے چه دَ مړو رُوحونه قبرونو سره نزدے نه وي۔ دَ رُوحونو افنیة القبور کښ نه کیدلو یو دلیل دا هم دے چه دَ کومو بزرګانو او نیکانو په مزارونو باندې خلق جمع کیږي او مشرکانه رسمونه پکښ کوي او قبرونو ته چه ورشي هغوي ته آوازکوي او دَ هغوي په نوم باندې منختے کوي، دَ قیامت به

ورځ به هغوی صفا صفا اعلان کوی: كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ۰ (یونس ع ۳) یعنی الله گواه دے چه زمونږ په مزاراتو چه تاسو کوم مشرکانه کاروونه کول مونږ د هغے نه بیخی ناخبره وُو او مونږ ته پته هم نه وه چه تاسو څه کوئ. کچرے د دوی روحونه په قبرونو کښی وے نو د زیارت کوونکو ټول حالات به ورته معلوم وُو.

حضرت شیخ قدس سره فرمائی: فالقول ان اجزاء البدن من المیت لا سماع لها ولا شعور ولا فرح ولا سرور فی البرزخ الخ (تحریرات ص ۲۱۰) یعنی د مړی د بدن اجزاؤ کښی حس او شعور نشته او نه هغه اوری. پاتے شوه دا خبره چه په صحیح احادیثو کښی راځی چه منکر او نکیر قبر ته راځی او مړے کینوی او سوالونه ترے کوی. د ارنګے نیکانو خلقو ته په قبر کښی خوشالی او سرور او بدکار ته عذاب ورکولے شی. بیا د هغے څه مطلب دے؟

نو د دے جواب دا دے چه د قبر نه دا کنده مراد نه ده بلکه عالم برزخ ترے مراد دے او د مړی کینول او د هغه نه تپوس کول وغیره برزخی امور دی چه هغه په محسوساتو باندی نشی قیاس کولے. فعند الحنفیة الجسم میت لا یسمع فما ورد من وسعة القبر والاجلاس یقولون المراد بها القبر البرزخ ومن الاجلاس و من عود الروح وسعة القبر وضرب المزربة وسماع الاصوات هو امر یغایر المحسوسات لحواسنا الظاهریة الخ. (تحریرات ص ۲۰۸)

د روح واپس کیدلو باره کښی د حضرت شیخ تحقیق دا دے چه په برزخ کښی د لذت او الم (خوند مزه او درد) خوشالی او عذاب احساس روح ته هرګز نه کیږی. روح یو داسے څیز دے چه د احساس الم نه ماوراء دے هغے ته تکلیف خو په هیڅ حال کښی نه وی لیکن د لذت او سرور احساس ورته ضرور وی. د الم احساس نفس ته کیږی چه د روح نه علاوه څیز دے لیکن د روح سره ئے ژور تعلق دے لکه چه د لوګی اور سره وی. دا نفس د بدن اصلی جزء دے چه د اول نه تر اخره پورے باقی پاتے وی. هم دا هغه نسمه ده چه په جنت کښی به د یو مارغه په قالب کښی داخلولے شی. قلت هذا المعبر بالجزء الباقی من البدن هو النفس وهی شبیهة با لروح ممازجة ملازمة لها کالدخان للنار فهی المتألمة المتلذذة واما الروح فلا تتألم اصلًا ولا تتلذذ بغیر ذکر وعز من یفرق بینهما. (ایضًا ص ۲۰۹)

۱۳ دا په توحید باندی دیارلسم عقلی دلیل دے. اے بنی ادمه! د خپل پیدائش مختلف دورونو ته وګوره کله چه ته پیدا شوے نو هر لحاظ سره کمزورے وے د ما شوموالی نه پس عمر کښی زیاتوالی سره سره د په بدن کښی طاقت هم زیات شو تر دے چه عین د ځوانئ په وخت کښی د بدنی قوت هم

کمال ته ورسیږئ۔ دَ هغې نه پس عُمر کمیدل شروع شو نو په قوت کښې دِ هم کمے بنکاره شو نزدے چه دَ ضُعف اخری حد بوډا والی ته اورسیدے۔ دا قوت او ضعف، ځواني او بوډا والے ټول دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔ وَ هُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ۝ او هم هغه په ټول هرڅه پوهه او هرڅه کوونکے دے۔ لهٰذا هغه دَ ټولو کارساز او حاجت روا دے او دَ هغه نه سوا هیڅوک دَ رابللو او وازکولو لائق نشته۔

۳۲ دا تخویف اُخروی دے۔ دَ قیامت په ورځ به مجرمان قسمونه خوری او وائی به چه په قبرونو کښې هغوی دَیو ساعت نه زیات نهٔ دی اُوسیدلی۔ دَ قیامت دَ ویرے او وحشت په وجه به دوی ته دا هم یاد نهٔ وی چه دوی په قبرونو کښې ډیرے اُوږدے زمانے پورے پاتے شوی دی۔ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ۝ څنګه چه به هغوی په قیامت کښې صحیح خبره نشی بیانولے دا رنګے دُنیا کښې به هم دوی دَحق نه ګرځولی شول او د باطل تابعداری به ئے کوله:

یصرفون من الحق الی الباطل و من الصدق الی الکذب (کبیر ص ۲۸ ج ۶)۔

۳۳ لیکن کوم خلق چه به دُنیا کښې دِعلم او ایمان دولت سره قائل وو. هغوی به وائی تا سو دَ الله تعالیٰ دَعِلم مطابق دَ قیامت دَ ورځے پورے ډیره زمانه په قبرونو کښې پاتے شوی یئ۔ اُوس قیامت قائم شوے دے او نن دَ قیامت ورځ ده دکوم چه تاسو سره وعده شوے وه، لیکن تاسو دَدے په راتلو باندِ یقین نه لرلو او دا موحق نهٔ ګنړلو. وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ انه حق۔ (روح ص ۶۱ ج ۲۱)

۳۴ دَ قیامت په ورځ به نهٔ دَ مشرکانو څهٔ عُذر او بهانه قائده ورکوونکے ثابته شی، د هغوی نه به هیڅ عُذر معذرت قبلولے نشی او نهٔ به هغوی ته توبه ویستلو سره دَ ګناه تلافی کولے شی چه دَ الله تعالیٰ راضی کولو دا رنګه هغوی ته موقعه ورکړے شی۔ ای لایطلب منهم الاعتاب وهو ازالة العتب یعنی التوبة التی تزیل اثار الجریمة لا تطلب منهم لانها لاتقبل منهم۔ (کبیر)

۳۵ دا په معاندینو باندِ شکوه ده یعنی موږ خلقوته هر سے طریقے او اسلوب سره د توحید مسئله، رسالت، حشر او نشر واضحه کړے دے. د دے باوجود دے هم دوی نهٔ منی۔ کچرے ته دوی ته عظیم الشان معجزه هم بنکاره کړے نو دا عنادیان به بیا هم وائی چه تاسو په باطل باندِ یئ موږ ستاسو خبره نهٔ منو۔

۳۶ کاف په معنیٰ دَلام تعلیلیه دے او ذٰلِكَ سره تکذیب طرفته اشاره ده چه دَ ما قبل نه مفهوم دے یعنی دَضد او عناد په بناء باندِ دَ تکذیب کولو دَ وجے نه الله تعالیٰ دَ واسے معاندینو په زړونو باندِ دَ جباریت مُهر لګوی

ځوک چه دَ حق پیژندلو کوشش نکوی او دَ خواهشاتو او خرافاتو تابعداری کولو سره خپل عُمر ضائع کوی،

لا یعلمون لا یطلبون العلم و لا یتحرون الحق بل یصرون علی خرافات اعتقدوها وترهات ابتدعوها۔ (ابوالسعود ص ۲۲ ج ۷)

۷۲ دانبی علیہ السلام ته تسلی ده او دوعده نصرت دویم ځل اعاده ده۔ بعجرے دامعاندین دَ دومره واضحو بیاناتو او باوجود هم دَ انکار نه منعه نه شول نوتاسو مه خفه کیږئ، زړه مه تنګوئ دَ دوی په ضرر دَ رسُولو باندې صبر کوئ۔ دَ الله دَ نصرت وعده حقه او ریښتونے ده، الله تعالیٰ به ضرور ستاسو دُشمنان خوار، ذلیله اورسوا، مقهور او مغلوب کړی او تاسو او ستا سو تابعدارانو ته به په بدرکښ فتح ورکړی۔

وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ الخ: دا دَ توحید او رسالت، بعث او نشورنه دانکارکونکو معاندانو رویه دِ ستاسو په عجلت سره دَ دوی دپاره دُعا غوښتلو ذریعه اونکړی، ځکه چه دوی په دے طریقه باندې قائم پاتے شی نو زمونږ عذاب به دوی باندې راځی،

ای لا یحملنك هؤلآء الذین لا یوقنون بالاخرة علی الخفة والعجلة فی الدعاء علیهم بالعذاب او لا یحملنك علی الخفة والقلق جزعا مما یقولون و یفعلون۔ (مدارک ص ۲۱۳ ج ۳) ✣

سورۃ روم کښې د توحید ایتونه او د هغې خصوصیات

① لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ (ع۱) فتح او شکست د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔
② وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا (ع۲) نفی شفاعت قهری۔
③ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَكُمْ ۔ تا ۔ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (ع۳) نفی د شرك في التصرف۔
④ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ الخ (ع۴) نفی د تصرف او اختیار د باطل معبودانو نه۔
⑤ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۔ تا ۔ كُلُّ حِزْبٍۢ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ٥ توحید د ټولو پیغمبرانو دین دے۔
⑥ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ۔ تا ۔ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ٥ نفی د شرك في التصرف۔
⑦ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيٰحَ ۔ تا ۔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ٥ (ع۵) نفی د شرك في التصرف۔
⑧ اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ ۔ تا ۔ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ٥ نفی د شرك في التصرف۔
⑨ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ الخ کوم خلق چه د حق واضح کیدلو او د حجت حد او ندی قائمیدلو نه پس هم محض د ضد او عناد په وجه حق نه مني د هغوی په زړونو باندې الله تعالیٰ د جبا ریت مهر لګوی او د هغوی نه د حق قبلولو توفیق او استعداد اخلی۔

نن په تاریخ ۲۶ ۔ ذی الحجه ۱۴۲۵ھ مطابق ۶ ۔ فروری ۲۰۰۵ء د اتوار په ورځ د ما سپخین مانځه نه روستو درے بجې د سورۃ روم پښتو ترجمه او تفسیر ختمه شوه۔ فالحمد لله تعالیٰ اوّلًا و اٰخرًا والصلوٰۃ والسلام علیٰ رسوله دائمًا ابدًا وعلیٰ سائر عباده الصّالحین متوليًا سرمدًا ؕ

(په قلم د خطاط ابو طلحه ګلزار احمد)

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ

ربط: دَ سورة لقمان ما قبل سره اسمی ربط دا دے چه په سُورة رُوم کښ اوویلے شو اے رومیانو! کچرے تاسو په توحید باندې قائم پاتے شوئ نو دَ دے مغلوبیت نه پس به تاسو ته غلبه درکولے شی۔ په سورة لقمان کښ به وخودلے شی چه دَ توحید مسئله دکومے په برکت سره چه به رومیانو ته په مشرکانو باندې غلبه حاصلیږی دومره اهمه ده چه لقمان خپل ځوی ته دَ نصیحت کولو په وخت دَ توحید مسئله دَ ټولو نصیحتونو نه وړاندې بیان کړه۔

دَ سورةُ لقمان ما قبل سره معنوی ربط دا دے چه په سورةُ روم کښ بیان اُوشو چه الله تعالیٰ به تاسو ته ضرور فتح درکوی په دے شرط چه تاسو شرك اونکړئ او په توحید باندې قائم پاتے شئ او س به دے سُورت کښ دَ توحید بیان او دَ شرك نفی علیٰ وَجهِ الکمال اُوی گویا چه دا سورت دَ سُورةُ رُوم دپاره په منزله دَ تتمه دے۔

خلاصه: دَ تمهید مع ترغیب نه پس دَ شرك په نفی باندې یو نقلی دلیل او اته عقلی دلیلونه پیش کړے شویدی۔ دَ هغې نه یو علیٰ سَبیل الاعتراف من الخصم دے۔ دا رنګے په اتهٔ وکښ دوه دَ شرك فی العلم په نفی او باقی دَ شپږو عقلی دلیل نه روستو ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الخ کښ تِلْكَ اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِیْمِ۔ تا ۔ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ o تمهید مع ترغیب دَ دے په کښې دَ انسانانو دوه قسمونه بیان شوی دی، یو مُحسنین یعنی نیکان او ښه طریقه اختیارونکی۔ دوی دپاره قرآن مکمل او پوره هدایت او رحمت دے۔

دویم: غیر مُحسنین یعنی معاندین او په کړه لاره تلونکی چه دَ قرآن اوریدلو په ځائے مشرکانه قصو او د لهو لعب آلاتو کښ دلچسپی او د زړه مینه لری هغه په شوق او غور سره اوری۔ دَ قرآن نه دَ انکار په وجه سره به دغوی گمراهی او روند والے نور هم زیاتیږی، دوی به دَ قرآن دَ انوارو نه محرومه پاتے وی او دَ جهنم خشاك به جوړیږی۔

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ ۔ تا ۔ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ o دَ شرك فی التصرف په نفی باندې اولنے عقلی دلیل دے ۔ الله تعالیٰ اسمانونه پیدا کړل او خپل قدرت سره ئے ټینګ او مضبوط اُودرَولی دی۔ دا غرونه هم هغه پیدا کړی دی، دا ټول مخلوق هم هغهٔ پیدا کړیدے او دَ اسمان نه باران وَرَوُلو سره قِسم قِسم نباتات، ښیکلی هغهٔ

پېښ اکړېدی، هرکله چه دټولو کائناتو خالق او په دیکښ تصرّف کوونکے صرف هغه دے نو دَ ټولو کارساز هم صرف هغه دے. مشرکان چه دَ الله تعالیٰ نه سوا څوک کارساز ګڼړي هغوی خوهیڅ شے هم نهٔ دے پیدا کړے. نو هغه کارساز هم نشي کیدلے اونهٔ دَدُعا او پلنے لائق کیدلے شي.

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا لُقۡمٰنَ الۡحِكۡمَةَ (ع۲)، دا په توحید بانـدې دلیل نقلي دے لقمان سره. وَاِذۡ قَالَ الخ: دا دَحکمت بیان دے. حضرت لقمان هم چونکه دَمحسنین نه وُو، دَدے وجے نه هغهٔ خپل ځوی ته دَنصیحت کولو په وخت دَ ټولونه اول هغه دَشرك نه منعه کړو. وَوَصَّيۡنَا الۡاِنۡسَانَ الخ دا ادخالِ الٰهي دے. يٰبُنَيَّ اِنَّهَاۤ اِنۡ تَكُ الخ: دَحضرت لقمان کلام یعني الله تعالیٰ په هرڅهٔ باندې قادر دے او په هرڅهٔ عالِم دے. يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ: دَ امرمصلح ذکر. وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ ـ تا ـ لَصَوۡتُ الۡحَمِيۡرِ ه دَښو اخلاقو تعلیم. اَلَمۡ تَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ الخ (ع۳) توحید باندې دویم عقلي دلیل. زمکه او اسمان کښ چه څهٔ دي ټول دَ الله تعالیٰ په تصرّف او مِلك کښ دي او هر څیز هغهٔ دَ انسان په خدمت کښ لګولے دے او دا ټول ظاهري او باطني انعامات هم هغهٔ ورکړي دي لهٰذا هغه دَټولو کارساز دے بل څوك نشته.

وَمِنَ النَّاسِ الخ: دا زجر دے. توحید باندې ددا سے واضح دلیلونو باوجود معاندین بیا هم دیکښ جهګړے کوي حال دا دے چه دوی سره نهٔ څهٔ دلیل شته، نهٔ دلیلِ وحي، نهٔ دلیل نقلي او نهٔ عقلي. وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمُ الخ: دا شکوه ده او بحرے دوی ته وویلے شي چه راشئ دَ الله په ایتونو باندې ایمان راوړئ نو وائي مونږ به هم په دے عقیده باندې قائم یُو په کومه چه زمونږ پلاران اونیکونه وُو. وَمَنۡ يُّسۡلِمۡ وَجۡهَهٗۤ الخ: محسنین دپاره بشارت دے. وَمَنۡ كَفَرَ الخ: دا تخویف اُخروي دے سره دَتسلئ نه.

وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ الخ: دا په توحید باندې دریم عقلي دلیل دے لیکن علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم. هرکله چه مشرکان پخپله اعتراف کوي چه دَ زمکے او اسمان خالق الله تعالیٰ دے نو بیا په دیکښ څهٔ شُبه پاتے کیږي چه ټول جهان کښ متصرف او دَټولو کارساز هم صرف هغه دے. قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الخ دا دَ ذکرشوو دلائلو ثمره ده. دے دلائلو نه معلومه شوه چه ټول صفتونه دَ کارسازئ الله تعالیٰ پورے مختص دي او په دیکښ ورسره هیڅوك شریك نشته. لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ الخ، دا په توحید باندې څلورم عقلي دلیل دے. هرکله چه دَټول کائناتو مالك او په دیکښ متصرف صرف الله پاك دے نو دَ ټولو کارساز هم هغه دے.

وَلَوۡ اَنَّ مَا فِي الۡاَرۡضِ الخ: دا په توحید باندې پنځم عقلي دلیل دے او دے

سره نفی دَ شرك فی العلم مقصود ده. دَ الله تعالیٰ معلومات دومره زیات او بې شماره دي چه کچیرې دُنیا کښ دَ ټولو ونو نه قلمونه جوړ کړې شي او ټول سمندر سیاهي شي بلکه ورسره اُووَه نور سمندرونه هم شي نو دا ټول سمندرونه به ختم شي لیکن دَ الله تعالیٰ معلومات به بیا هم دیکلو په احاطه کښ رانشي.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الخ: دا په توحید باندې شپږم عقلي دلیل دے. دا ټول نظام دَ کائنات نو دَ الله تعالیٰ په اختیار او تصرف کښ دے. نو دَ ټولو کارساز هم هغه دے. ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الخ: دا دَ مخکښ ذکر شوي دلائلو تفصیلي ثمره ده. یعني دَ پورتنو دلائلو نه واضح شوه چه الله تعالیٰ کارساز دے او معبود برحق دے او هغه دَ دُعا او بللو لائق دے او دَ الله تعالیٰ نه ماسوا چه مشرکان څومره کارساز گڼي او سره رابلي هغه باطل دي.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِیْ الخ (ع ۴) دا په توحید باندې اووم عقلي دلیل دے. الله تعالیٰ چه محض په خپل مهربانئ سره په دریابونو او سمندرونو کښ کشتئ او جهازونه غاړو ته پورې باسي، هغه دَ ټولو کارساز دے. وَاِذَا غَشِیَهُمْ مَّوْجٌ الخ دا په مشرکانو باندې زجر دے. کله چه دَ هغوی کشتئ دَ اوبو په څپو کښ راگیره شي نو خالص الله ته چغه وهي لیکن کله چه الله پاك دوي لره صحیح سلامت غاړې ته پورې باسي نو دوي کښ ډیر کم خلق په حق باندې (خالص الله پاك لره په رابللو) قائم پاتې کیږي او اکثر بیا شرك شروع کړي. یٰاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا الخ: دا تخویف اُخروي دے. اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ الخ: دا په توحید باندې اَتم عقلي دلیل دے. دینه هم دَ شرك فی العلم نفی مقصود ده. قیامت به کله راځي؟ باران به کله کیږي؟ او څومره به کیږي؟ دَ مور په رحم کښ څه شے دے نر دے یا ښځه؟ تور دے یا سپین، نیك بخته دے یا بد بخته؟ صباله به څه کیږي؟ او انسان به کله مري او چرته به مري؟ دا پنځه اُمور مفاتح الغیب دي چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیچا ته دَ دے علم نشته. هر کله چه ټول هر څه کونکے او په ټول هر څه باندې خبردار الله تعالیٰ دے نو دَ ټولو کارساز او حاجت روا هم صرف هغه دے ❊

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة لقمٰن سلے مکہ کښ نازل شو او دا څلور دیرش ۳۴ ایتونه او څلور ۴ رکوعګانے دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربانه او ډیر رحم کوونکے دے۔

الٓمّٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ② هُدًى وَّرَحْمَةً

دا ئے ایتونه دی د محکم کتاب، هدایت دے ئے او مهربانی

لِّلْمُحْسِنِيْنَ ③ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

د نیکی کوونکو د پاره، هغوی چه قائموی مونځ او زکوٰة ورکوی

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ④ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى

او هغه دی چه په آخرت باندې هغوی یقین دے۔ هغوی په سمون دے د لاره ئے

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ⑤ وَمِنَ النَّاسِ

د خپل رب له طرف۔ او هم دوی مراد ته رسیدونکی دی۔ او هغه خلق دی ئے

مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

چه اخستونکی دی د عبث خبرو د پاره د دے چه ګمراه کړی (خلق) د الله د لارے نه

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۗ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

بغیر د پوهے نه، او نیسی هغه (ایتونه) په توقو، دغه خلق چه دی دوی د پاره د ذلت

مُّهِيْنٌ ⑥ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ

عذاب دے ئے او کله چه اوروُلی شی هغهٔ ته زموږ ایتونه شا ګرځی د تکبر د وجے نه، لکه چه د ده

لَّمْ يَسْمَعْهَا كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ

د سره نه اوریدلی نه دی لکه چه د ده دواړه غوږونه کاڼه دی، نو زیرے ورله ورکړه د دردناک

اَلِيْمٍ ⑦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ

عذاب۔ کوم خلق که چه یقین ئے وکړو او نیک کارونه ئے وکړل هغوی د پاره دی

جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ

د نعمتونو باغونه، همیشه به وسیږي په هغې کښې، وعده شوې ده د الله رښتونې، او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۹﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَ

غالب دے حکمتونو والا۔ پیدا ئے کړه آسمانونه بغیر د ستنو نه تاسو وینئ هغه او

اَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيْهَا

پیدا کړي ئے دي په زمکه کښې غرونه چه ونه خوزېږي دا زمکه تاسو یا نیا او خوارۀ ئے کړل په دې کښې

مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا

هر قسم ساه لرونکي حیوانات، او نازل کړے مونږ د آسمان نه اوبه بیا راوټوکول مونږ ه

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿۱۰﴾ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِىْ

په زمکه کښې د هر قسم نیاه خاص جوړے۔ دا ټول هر څه د الله مخلوق دے نو اوس او ښائی ما ته

مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِىْ

څه شے پیدا کړي دے نورو (بتانو) کوم چه د الله نه سوا دي، هیڅ (خبره نشته) بیا بے انصافه په

ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۱﴾ ع ۱۰

ښکاره ګمراهئ کښې دي۔

نکات: ربط: ۱ تمهید سره د ترغیب ۲ بشارت اُخروی دپاره د محسنین ۳ زجر په غیر محسنین باندې او هغوی دپاره تخویف اُخروی ۴ تخویف اُخروی ۵ بشارت اُخروی ۶ توحید باندې اولنئ عقلي دلیل۔

موضح قرآن ف۱ یو کافر وو کتل به ئے چه د کوم سړي زړۀ به نرم شو او د مسلمانئ طرفته به مائل شو نو خپل کورته به ئے بوتلو، شراب به ئے ورته وخکول او لوبے سندرے اوګډا به ئے ورته وښودله۔ نو د هغه سړي د زړۀ نه به د ایمان اثر ختم شو۔ دے سره دا آیتونه نازل شو۔

فتح الرحمٰن ف۱ لکه د رستم او اسفندیار قصے ۱۲

تفسیر ۷ دا تمهید دے سره د ترغیب نه۔ په دے کښې بیان شوي دے چه د دے کتاب حکیم نه محسنین څۀ اثر تیلوي او د هغوی جزاء به څۀ وي؟

دغه شان په معاندینو باندې به دوې اثر څه وی او د هغوی سزا به څه وی؟ الحکیم ای ذی الحکمة. (روح ص ۶۵ ج ۲۱) یعنی دا قرآن د حکمت او دانایۍ نه ډک مضامینو باندې مشتمل دے. د الکتاب صفت په الحکیم سره دے طرف ته اشاره ده چه دے سورت کښې په زیات دلائل عقلیه ذکر کولې شی لکه چه دے سورت کښې اته عقلی دلائل او صرف یو نقلی دلیل ذکر دے۔

۳ هُدًى الخ المحسنین نیکه لاره اختیاروُنکی او اخلاص سره نیک اعمال کوُنکی. المحسنین الذین یعملون الحسنات (بحر ص ۱۸۳ ج ۷) یعنی کوم بیان چه مخکښې تیر شوے دے هغه محسنین دپاره ټول هدایت او رحمت دے. دے سورت ته رحمت او هدایت ځکه وویلے شو چه په دې کښې د توحید علی وجه الکمال بیان شوے دے او د غیر الله نه بالتفصیل د علم غیب نفی شوې ده. اَلَّذِیۡنَ یُقِیۡمُوۡنَ الصَّلٰوۃَ الخ دا د المحسنین صفت کاشفه دے. د زکوٰة نه یا د مالونو زکوٰة مراد دے ځکه چه د زکوٰة نفس فرضیت په مکه کښې شوے وو لیکن د نصابونو تعین په مدینه کښې اوشو. ان الزکوٰة کانت بمکة کالصلوٰة وتقدیر الانصاب هو الذی کان بالمدینة. (روح ص ۶۳ ج ۱۲) یا د زکوٰة نه د عقائدو او اعمالو طهارت مراد دے یعنی هغوی خپل اعمال او عقائد د شرک د پلیتۍ نه پاک ساتی۔

۴ اُولٰٓئِكَ عَلٰی هُدًى الخ دا د محسنین دپاره بشارت اُخروی دے یعنی د مذکوره بالا صفتونو والا خلق واقعی د الله تعالیٰ د توفیق سره په سمه لاره دی او په آخرت کښې به د نجات او فلاح مستحق همدا خلق وی۔

۵ وَمِنَ النَّاسِ الخ دا د محسنین په مقابله کښې په معاندینو باندې زجر دے او هغوی دپاره تخویف اُخروی دے. د محسنین په مقابله کښې ځنې داسې بد عمله خلق هم موجود دی چه د هر باطل او عبث خبرے تابعداری کوی او د خلقو په زړونو کښې شرکیه شبهات اچوی او هغوی د سمے لارے نه خویوی. د لَهۡوَ الۡحَدِیۡثِ باره کښې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما فرمائی، د دینه مراد سندرے او د لهو آلات مراد دی هو الغناء واشباهه یعنی د دے نه ګانے بجانے او د دارنګے نور باطل او عبث کارونه مراد دی. حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه هر هغه بیهوده او خرافات چه د الله تعالیٰ د عبادت نه منع کوی: کل ما شغلك عن عبادة الله تعالیٰ و ذکره من السمر والاضاحیك والخرافات والغناء ونحوها. امام ضحاك رحمه الله وائی د دے نه مراد شرك دے. ان لهو الحدیث الشرك. (قرطبی ص ۵۱ ج ۱۴)

د دے نه معلومه شوه چه ګانے بجانے او هر قسم آلات د لهو لعب مثلاً سورنا طاؤس او رباب وغیره ټول حرام او ناجائز دی. ګانے بجانے او د لهو لعب د هر قسم آلاتو په حرمت باندې د ټولو اماماتو اجماع ده بلکه دا په هر دین کښې حرام ګرځولی شوی دی لکه په فتاویٰ تاتارخانیه کښې دی: اعلم ان التغنی حرام فی جمیع الادیان۔

(روح ص ۶۸ ج ۲۱) د امام ثوري، حماد بن ابي سليمان، ابراهيم نخعي، امام شعبي رحمهم الله او د کوفې او بصرې د ټولو علماؤ په نزد ګانې بجانې په اتفاق سره حرام دي.

ان الامام اباحنيفة يكره الغناء ويجعله من الذنوب وكذلك مذهب اهل الكوفة سفيان وابراهيم وحماد والشعبي وغيرهم لا اختلاف بينهم في ذلك ولانعلم خلافا بين اهل البصرة في كراهة ذلك والمنع منه انتهى وكان مراده بالكراهة الحرمة. (روح ص ۶۹ ج ۲۱)

د امام مالک نه دوې باره کښې تپوس وشو نو هغوی وفرمايل د دې ځائي فاسق او فاجر خلق دا کار کوي. انما يفعله عندنا الفساق. (قرطبي ص ۵۵ ج ۱۴ وروح) امام شافعيؒ وفرمايل ګانا بجانا يوه ناخوښه لهو ده چه د باطل سره مشابه ده، ان الغناء مكروه يشبه الباطل (روح وقرطبي) د امام احمد بن حنبلؒ نه ددې باره کښې تپوس وشو نو هغوی وفرمايل دې سره په زړه کښې نفاق پيدا کيږي: وعن عبد الله بن الامام احمد انه قال سألت ابي عن الغناء فقال ينبت النفاق في القلب. (روح) امام طبريؒ وائي چه د زمانې د ټولو عالمانو د غناء په حرمت باندې اجماع ده: قال الطبري فقد اجمع علماء الامصار على كراهة الغناء والمنع منه (قرطبي ج ۱۳ ص ۵۶) دا رنګې د صوفيانو دا سماع کوم ته چه قوالي وئيلې شي بدعت سيئه او حرام دې: فاما ما ابتدعته الصوفية اليوم من الادمان على سماع المغاني بالآلات المطربة من الشبابات والطار والمعازف والاوتار فحرام. (قرطبي ص ۵۸ ج ۱۴) ابن الصلاح هم په دې باندې اجماع نقل کړيده: قال ابن الصلاح في فتاواه بعد كلام طويل فاذن هذا السماع حرام بالاجماع اهل الحل والعقد من المسلمين انتهى (روح).

د آيت حاصل دا شو چه ځينې خلق داسې دي چه د قرآن آوريدلو په ځائې لهولعب کښې ښوتلې او مشغول وي او د خلقو په زړونو کښې شرکيه شبهات اچوي، هغوی لره د توحيد د لارې نه ګرځوي او قرآني آيتونو پورې توقې مسخرې کوي، داسې خلقو دپاره قرآن رونډ والې او کونړوالې دې. د دوی دپاره رسواکوونکې او سپکوونکې عذاب تيار کړې شويدې.

۶ وَاِذَا تُتْلٰى الخ: دې معاندينو باندې چه کله د الله تعالى آيتونه لوستلې شي نو دوی د کبر او غرور په وجه ډير په لاپرواهۍ سره مخ آړوي او شا کړي لکه چه دوی په غوږونو کانړه دي او داسې آډو آوريدلې نه دي. فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ معاندينو دپاره تخويف اُخروي دې يعنې څنګه چه په دُنيا کښې د الله تعالى آيتونو اوريدلو سره دوی ته تکليف رسيدلو دا رنګې به په آخرت کښې هم دوی د جهنم په عذاب کښې مبتلا وي. اى يوم القيمة يؤلمه كما تألم بسماع كتاب الله وآياته.

(ابن كثير ص ۴۴۳ ج ۳)

۷ اِنَّ الَّذِيْنَ الخ: دا محسنين دپاره بشارت اُخروي دې يعنې کوم خلق چه

دَ الله تعالیٰ په خالص توحید باندې ایمان راوړی او پوره اخلاص سره نیک اعمال کوی، دوی دپاره دَ بې شماره نعمتونو باغونه دی چه په هغې کښې به دوی همیشه وسیږی دا دَ الله تعالیٰ ډیره پخه وعده ده چه ضرور به پوره کړې شی۔

۸ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ الخ: دَ تمهید نه روستو په توحید باندې اولنۍ عقلی دلیل دے یعنی الله تعالیٰ اسمانونه پیدا کړل او دَستنو نه بغیرې هغه محکم ساتلی دی، په زمکه باندې ئې غرونه کیښودل دَپاره دَدے چه هغه حرکت اونکړی او په هغې باندې ئې هر قِسم مخلوق پیدا کړو او دَاسمان نه ئې باران اُوورولو، دَ زمکې نه ئې قِسم قِسم غوره او نفع رسوُنکی شیٔنکی پیدا کړل۔ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا: یعنی هلته دَسره نه ستن نشته نوځکه به په نظر راشی؟ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ بمعنی لئلا تمید بکم۔ (قرطبی ص ۵۸ ج ۱۴)

۹ هٰذَا خَلْقُ اللهِ الخ: دا ټول ذکرشوی څیزونه خود الله تعالیٰ مخلوق دے اے مشرکانو! دَ الله تعالیٰ نه سوا چه تاسو کوم متصرف او کارساز گڼړلی دی، لږ شان خوراته اُوښائیئ چه ایا هغوی څه پیدا کړیدی؟ هر کله چه ټول کائنات خالق او مالك الله تعالیٰ دے نولا محاله (ضرور) دَ ټولو کارساز هم هغه دے۔ او هغه دَ هر قِسم عبادت او بلنې مستحق دے او معبودانِ باطله چونکه دَیو ذرے هم پیدا کوُنکی نهٔ دی، په دے وجه هغوی دَمعبود کیدلو او کارساز کیدلو لایق هم نهٔ دی۔ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مما اتخذ تموهم شرکاء له سبحانه فی العبادة حتی استحقوا به المعبودیة۔ (روح ص ۸۲ ج ۲۱) بَلِ الظّٰلِمُوْنَ الخ: دا دَ ما قبل نه اضراب دے یعنی دا خبره نهٔ ده چه دا معبودان باطله کوم یو مخلوق لیدلو سره هغوی دَدوی دَعبادت مستحق کیدلو باندې دلیل نیولے دے بلکه دوی په ښکاره گمراهئ کښ دی او دَدوی نه دَفهم قوت اخستلے شوےدے او دَگمراهئ او جهالت هغه حد ته رسیدلی دی چه دَ مخلوق په عبادت او رابللو کښ مصروف دی۔

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ۭ وَمَنْ

او مونږ ورکړه لقمان ته ئه هوښیارتیا چه حق ومنه دَ الله تعالیٰ، او څوك چه

يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

حق ومنی نو منی به ئې دَخپلے فائدے دپاره، او څوك چه منکر شی نو الله بے پروا دے

حَمِيْدٌ ۝۱۲ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ

دَ ټولو صفتونو خاوند دے او کله چه ووئیل لقمان ئې خپل ځوی ته کله چه ئې هغه پوهولو، اے ځویه

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۳﴾ وَ وَصَّیْنَا

شریک مه جوړوه د الله سره، بیشکه شریک جوړول ډیر لوی بے انصافي ده - او موږ وصیت کړیدے

الْاِنْسَانَ بِوَالِدَیْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ

انسان ته د الله د خپل مور پلار سره د نیکئ کولو، ځکه چه په خیټه کښې وساتلو هغه لره مور د هغه سستئ سره د پاسه د بلے سستئ

وَّ فِصٰلُهٗ فِیْ عَامَیْنِ اَنِ اشْكُرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیْكَ ؕ اِلَیَّ

او پرېکول د هغه د ئ لیرېدونه په دوه کاله کښې چه حق ومنه ځما او د خپل مور پلار، اخر ماته

الْمَصِیْرُ ﴿۱۴﴾ وَ اِنْ جٰهَدٰكَ عَلٰۤى اَنْ تُشْرِكَ بِیْ مَا لَیْسَ

راتلل دي ﴿ف﴾ او که چرے هغوی د واړه تا سره ضد کوی په دے خبره چه شریک ومنه ځما سره هغه څیز کوم چه

لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَ صَاحِبْهُمَا فِی الدُّنْیَا

تا ته معلوم نه دے، نو د هغوی خبره مه منه او ملګرتیا کوه د دوی په دُنیا کښې

مَعْرُوْفًا ۖ وَّ اتَّبِعْ سَبِیْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ ۚ ثُمَّ اِلَیَّ

په غوره طریقه، او په لاره د هغه چا چه رجوع کوی ځما طرفته، بیا ځما طرفته

مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ یٰبُنَیَّ اِنَّهَاۤ

واپس کیدل دي ستاسو بیا به خبر درکړم تاسو ته کوم عمل چه تاسو کول ﴿ف﴾ اے ځویه! که چرے څه

اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ

څیز وی برابر د اوړی د دانے، بیا هغه وی په یو کا نړی کښې

اَوْ فِی السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ

یا په اسمانونو کښې یا په زمکه کښې حاضر به ئے کړی الله، بیشکه

اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾ یٰبُنَیَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَ اْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ

الله باریک بین ښه خبردار دے۔ اے ځویه اقائم کړه مونځ ﴿ف﴾ او ښایه خلقو ته نیکه خبره

وَ انْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ اصْبِرْ عَلٰى مَاۤ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ

او منعه کوه د بدو نه او صبر کوه په هغه تکلیف چه تا ته اورسي، بیشکه

ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ

دا د همت کار دے ؤ او خپل مخ مه تریوه کوه خلقو ته ـــــ

وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ كُلَّ

او مه ځه ـــــ په زمکه باندې ناز او تخر و سره بیشکه الله نه خوښوی هر

مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾ وَاقْصِدْ فِىْ مَشْیِكَ وَاغْضُضْ مِنْ

کبرکوونکے فخر کوونکے ؤ. او ځه ـــــ درمیانه تللو سره او ښکته کړه

ع ٣ ٨ ١١ صَوْتِكَ ؕ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِیْرِ ﴿۱۹﴾ ع

آواز خپل بیشکه ډیر خراب آوازونه، آواز د خر دے۔

نکات :- ۱ـ په توحید باندې نقلی دلیل۔ ۲ـ ادخالِ الٰهی۔ ۳ـ کلام د لقمان۔ ۴ـ ذکر د امرِ مصلح۔

موضح قرآن **ف ۱** حضرت لقمان حبشی غلام ؤو د حضرت داؤد علیه السلام په زمانه کښې۔ الله پاک ورته د اعلیٰ درجے پوهه ورکړے وه چه د عقل او پوهے په قوت سره به ئے خبرے کولے کومے چه په د پیغمبرانو د احکامو او هدایاتو سره موافق وے۔ **ف ۲** دا خبره په مینځ کښې الله تعالیٰ فرمائی لقمان خپل ځوی ته د مور پلار حق نه ؤو بیان کړے چه خودغرضی تربینه معلومیږی الله تعالیٰ د شرك نه پس د نورو نصیحتونو نه مخکښې د مور پلار حق بیان کړو چه د الله تعالیٰ د حق نه پس د مور پلار حق دے، پلار د الله پاك حق بیان کړو، الله پاك د پلار، او رسول او مرشد حق بیان کړو، دا حق د الله تعالیٰ له طرفه دے ځکه چه د هغه نائبان دی۔ **ف ۳** شریك مه منه چه تا ته معلوم نه دے یعنی په شبه کښې ئے هم مه منه او چه یقین سره پرے پوهیږے نو له سره ئے مه منه۔ **ف ۴** مونځ سره ئے زکوٰة ورنه وئیلو، دا سے خلقو سره مال د کوم ځائے نه پیا کیږی۔ **ف ۵** مخ مه تریوه وه یعنی غرور سره مه گوره۔

فتح الرحمٰن **ف ۱** یعنی هر وخت کښې سستی او ستوماني زیاتیږی۔ والله اعلم۔

تفسیر **۱۱** وَلَقَدْ اٰتَیْنَا الخ: دا په توحید باندې نقلی دلیل دے یعنی څنګه چه عقل سره د شرك بطلان واضح دے دا رنګے نقل هم په بطلانِ شرك باندې شاهد دے۔ لکه لقمان چه د محسنین نه دے هغه ته مونږ حکمت او پوهه ورکړه نو هغه خپل ځوی ته د حکیمانه پند او نصیحت کولو په وخت

دَ ټولو نه رومبے دَ شرك نه دَ بچ كيدلو نصيحت وكړو - دَ جمهورو مفسرينو قول دے چه لقمان ولی وُو نبی نهٔ وُو - دَ عكرمهؒ اوشعبیؒ قول دے چه هغه نبی وُو - وَعَلیٰ هٰذا جمهور اهل التاويل انه كان وليًا ولم يكن نبيًا قال بنبوته عكرمة و الشعبی (قرطبی ج ۱۴ ص ۵۹) د اَنِ اشْكُرْ لِیْ نه وړاندې قُلْنَا مقدر دے - مونږ لقمان ته حكمت وركړو او - وموويئيل دَدے لوئے نعمت شكر اداكړه خوك چه دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو شكر اداكوی دَ هغے فائده هم هغهٔ ته ده او خوك چه دَ نعمت ناشكری وكړی دَ هغے نقصان به هم هغهٔ ته وی الله تعالیٰ بے پروا دے او دَ كمالی صفتونو مالك دے - دِے سره دَ هغهٔ هيڅ نقصان نشی كولے - ثواب الشكر لا يحصل الا للشاكرين اذ هو تعالیٰ غنی عن الشكر فشكر الشاكر لا ينفعه و كفر من كفر لا يضره - (بحر ص ۱۸۶ ج ۷)

١١ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ الخ : دَدے ځائے نه تر اخره دَ ركوع پورے دَ لقمان دَ حكيمانه پند او نصيحتونو ذكر دے - پند او نصيحت كښې حضرت لقمان بيشكه چه حكيمانه انداز اختيار كړو - دَ ټولو نه اول ئے دَ خالق حقيقی حق بيان كړو - دَ هغے نه پس ئے دَ نورو وضيرو وصيت وكړو - لَا تُشْرِكْ بِاللهِ - دَ الله تعالیٰ عبادت دُعا او رابللو كښې هيڅوك مهٔ شريكوه بيشكه شرك ډير لوئے ظلم دے : اَمَّا الاشراك فوضع المعبودية فی غير الله تعالیٰ ولا يجوز ان يكون غيره معبودًا اصلًا - (كبير ص ۳۵ ج ۶)

١٢ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ الخ : دا اد خال الٰهی دے - حضرت لقمان خپل ځوی ته دَ الله تعالیٰ دَ حق اداكولو نصيحت وكړو نو دَ هغے نه روستو الله تعالیٰ دَ والدينو حقونو اداكولو او دَ هغوی سره دَ ښهٔ سلوك حكم وركړو او ورسره ئے اوفرمايل چه دَ والدينو حق اگرچه ډير زيات دے ، هغوی ستا پرورش وكړو او ستا په خاطر ئے ډير تكليفونه برداشت كړل ، نو په دے وجه دَ هغوی اطاعت او هغوی سره ښهٔ سلوك په تا باندې فرض دے ليكن كه چرے هغوی تا په شرك باندې مجبوره وی نو په دے معامله كښې هيڅكله دَ هغوی اطاعت مكوه - وَهْنًا عَلٰی وَهْنٍ : كمزوری باندې كمزوری يعنی مور چه په خيټه كښې ماشوم ګرځوی هغه مره مور كمزورے كيږی - بيا دوه كاله بچی ته پئ وركوی - مور چونكه دَ بچی په خاطر ډير تكليف برداشت كوی په دے وجه هغه دَ زيات شكر اداكولو مستحق ده - اَنِ اشْكُرْ لِیْ الخ : اَنْ تفسيريه دے او دا دَ وَصَّيْنَا بيان دے - تفسير لوصينا كما اختاره النحاس فان تفسيرية (روح ص ۸۷ ج ۲۱) -

١٣ وَاِنْ جَاهَدٰكَ الخ : كه چرے مور پلار په تا كوشش وكړی او تا په شرك مجبوره كړی نو دِے معامله كښې دَ هغوی هيڅكله مهٔ منه ليكن په دُنيا كښې دَ هغوی نور حقونه اداكوه او اطاعت صرف دَ هغه چا كوه چه په توحيد باندې قائم وی او دَ شرك نه بيزاره وی -

ای رجع الیّ بالتوحید والاخلاص بالطاعة (روح ج ۲۱ ص ۸۷) بیا دَ قیامت په وُرځ
به تاسو ټول ما ته حاضرولی شئ نو هلته به هر یو ته دَ هغهٔ دَ اعمالو مطابق جزاء
اوسزاء ورکولے شی۔

۴۱ یٰبُنَیَّ اِنَّهَا الخ: دا کلام دَ لقمان دے۔ دیکښ یو طرفته دَجزاء او سزا طرفته اشاره
ده او بل طرفته د الله تعالیٰ دَعلمِ غیب کلی او دَ هغهٔ دَقدرت کامله بیان دے۔ دَ اِنَّهَا
ضمیر نه حسنه او سیئه مراد ده یعنی نیکی (توحید وغیره) او گناه (شرك وغیره) پکیرے
دَ اُوری دَ دانے برابر هم وی او په زمکه او آسمان کښ هرچرته چه وی الله تعالیٰ به هغه
حاضر کړی او په هغے به جزاء او سزا ورکړی ځکه چه هغه دَ باریك نه باریك څیزونه
هم پیژنی: انها ای الحسنة والسیئة ان کانت فی الصغر مثل حبة خردل .....
لا تخفیٰ علی الله۔ (کبیر ص ۴۳۶ ج ۶)

۱۵ یٰبُنَیَّ اَقِمِ الخ: دَ توحید بیان نه پس لے ځوی ته دَ امرِ مُصلح یعنی مونځ قائمولو
حکم ورکړو چه توحید باندے دَقائم پاتے کیدلو او اعمالِ صالحه په ځائے راوړلو کښ امداد
کوونکے دے۔ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ الخ، دَ خپل تکمیل نه پس دَ نورو دَ تکمیل طرفته قدم اوچت
کړه، دَ توحید او حسنات و طرفته نورو ته دعوت ورکړه او دَ شرك او دَ نورو منکراتو نه
خلق منعه کړه۔ عن ابن جبیر انه قال وأمر بالمعروف یعنی التوحید وانه عن المنکر
یعنی الشرك۔ (روح ص ۸۹ ج ۲۱) د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په سلسله کښ چه
تا ته څو مره مشکلات او مصیبتونه اورسیږی هغه په صبر او همت سره برداشت کړه
دَ حق په لاره کښ او تبلیغ او ارشاد باندے مصائب او الم باندے صبر کول ډیر زیات اهم
امور او او چت مکارم اخلاق دی۔

۱۶ وَلَا تُصَعِّرْ الخ: دَعبادات نه روستو حضرت لقمان خپل عزتمند ځوی ته دَ مکارم
اخلاق او حُسنِ معاشرت نصیحت وفرمایلو یعنی نور خلق سپك مه گڼره او دَ کبر
او غرور په وجه دَ هغوی نه مخ مه اړوه بلکه دَ عاجزئ، تواضع او الفت محبت معامله
ورسره کوه۔ یقول لا تتکبر فتحتقر عباد الله وتعرض عنهم بوجهك اذا کلموك۔
(ابن کثیر ص ۴۴۶ ج ۳) فالمعنی اقبل علیهم متواضعاً مؤنساً مستأنساً۔ (قرطبی ص ۷۰ ج ۱۴)۔

۱۷ وَلَا تَمْشِ الخ، او په زمکه باندے ناز او فخر سره مه ځه ځکه چه الله تعالیٰ دَ
تکبر تلل نه خوښوی او لا فو نه خوښوی۔ اِنَّ اللهَ لَا یُحِبُّ الخ جمله ما قبل دپاره
تعلیل دے۔

۱۸ وَاقْصِدْ الخ، تللو کښ میانه روی اختیار کړه او خپل آواز هم لږ شان ښکته
اوساته ځکه چه دَ ټولو نه قبیح او خراب آواز دَ خر دے، گویا چه اوچت آواز
سره خبرے کول دَ کلام دَ ادا بو او دَ حُسنِ معاشرت نه خلاف دی۔ اِنَّ اَنْکَرَ الْاَصْوَاتِ الخ
جمله ما قبل دپاره تعلیل دے۔ حضرت لقمان خپل ځوی ته په اقوالو او افعالو کښ دَ
میانه روئ اختیار ولو نصیحت وکړو۔ وَاقْصِدْ فِیْ مَشْیِكَ اشارة الی الافعال

واغضض من صوتك اشارة الى الاقوال فنبه على التوسط فى الافعال وعلى الاقلال من فضول الكلام۔ (بحر، ص ۱۸۹ ج ۷) ؎

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا
ایا نه وینئ تاسے چه الله په کار کښې ولګول ستاسو دپاره څه چه دي په اسمانونو کښې او

فِى الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً
په زمکه کښې او پوره کړے دے په تاسو باندې خپل نعمتونه ښکاره او پټ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا
او په خلقو کښې بعضې داسے دي څوک چه جګړے کوي د الله په خبرو کښې، نه پوهه لري او نه

هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ
هدایت او نه روښانه کتاب۔ او کله چه وویلے شي هغوی ته تابع شئ په هغه حکم چه

اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ
نازل کړے دے الله، وائي نه، بلکه موږ به ځو په هغه پسې کوم چه بیا موندلے دے موږ د

اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ
خپل پلاران او نیکونه، اګرچه وي شیطان چه دوي رابلي د دوزخ عذاب

السَّعِيْرِ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ
طرفته (نو بیا هم په هغه لاړ شي) او څوک چه تابع کړي خپل مخ د الله طرفته او هغه وي نیک

فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ
نو هغه اونیوله مضبوطه کړۍ او د الله طرفته ده خاتمه او انجام

الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا
د هر کار۔ او څوک چه منکر شو نو ته خفه کیږه د هغه په انکار کولو، زموږ طرفته

مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ
بیا راتلل دي د هغوی بیا به موږ خبر ورکړو هغوی ته څه چه ئے کړي وي، بیشکه الله ته معلوم دي

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِیْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ اِلٰی

هغه خبره چه په سینو کښې دي - کار روانوو مونږ ددوی لږ تر لږه بیا به یې را ولو سخت

عَذَابٍ غَلِیْظٍ ﴿۲۴﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

عذاب ته - او که چرې تپوس وکړې له دوی نه چا پیدا کړل آسمانونه

وَالْاَرْضَ لَیَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

او زمکه نو وبه وائي الله ! ته ووایه ټول صفتونه الله لره دي بیا هم ډیر خلق

لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

نه پوهیږي - الله دپاره دي څه چه په آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې، بیشکه الله

هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ اَنَّ مَا فِی الْاَرْضِ مِنْ

هغه دی بې پروا د ټولو صفتونو والا. او که چرې، څومره چه په زمکه

شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ یَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ

کښې ونې، قلمونه شي او سمندر د دې سیاهي شي او د دې نه روستو اووه

اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ

دریابونه پوره به نشي خبرې د الله، بیشکه الله غالب (قدرت والا)

حَكِیْمٌ ﴿۲۷﴾ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ

حکمتونو والا دی. ستاسو ټولو پیدا کول او د مرګ نه پس ژوندي کول داسې دي لکه د یو ساه لرونکي،

اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌۢ بَصِیْرٌ ﴿۲۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الَّیْلَ

بیشکه الله ټول هر څه اوري وینې. آیا تا و نه لیدل چه الله داخلوي شپه

فِی النَّهَارِ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَ

په ورځ کښې، او ننه باسي ورځ په شپه کښې او په کار یې لګولې دي نمر او

الْقَمَرَ ؗ كُلٌّ یَّجْرِیْۤ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا

سپوږمۍ هر یو ځي تر یو مقرر وخت پورې، او دا چه الله خبر لري

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا

دَ هغې کوم چه تاسو کوئ خبردار دے، دا د دې دپاره چه الله، هغه دے حق ثابت او کوم چه

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ

تاسو را بلئ د هغه نه سوا هغه دروغ دي، او الله تعالیٰ د ټولو د پاسه او

الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ ع ۳

لوئے دے۔

نکات: ۱ توحید بانږ دویم عقلی دلیل۔ ۲ زجر دپاره د معاندینو۔ ۳ شکوی دپاره د هغوی۔ ۴ بشارت اخروی۔ ۵ د معاندینو دپاره تخویف اخروی او د نبی کریم ﷺ دپاره تسلی۔ ۶ دریم دلیل عقلی اعترافی۔ ۷ د مخکوره دلائلو ثمره۔ ۸ څلورم عقلی دلیل۔ ۹ پنځم عقلی دلیل دپاره د نفی د شرک فی العلم۔ ۱۰ تخویف اخروی۔ ۱۱ شپږم عقلی دلیل۔ ۱۲ تفصیلی ثمره دپاره د مخکوره دلائلو۔

موضح قرآن ف ۱ مقرر وخت (وعده) یا قیامت دے یا د هر یو د وره۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی د هغه معلومات۔

تفسیر ۱ اَلَمْ تَرَ الخ دا په توحید بانږ دویم عقلی دلیل دے چه د دینه مقصود نفی د شرک فی التصرف دے۔ تاسو پخپلو سترګو وینئ چه الله تعالیٰ خالص په خپل قدرت سره د زمکے او د اسمانونو هر څیز ستاسو په کار کښې لګولے دے او ټول ظاهری او باطنی نعمتونه ئے پوره پوره او کمال سره تاسو ته درکړی دی۔ د دے ټولو امورو کښې د الله تعالیٰ سره هیڅوک شریک نشته، لهٰذا هغه د ټولو کارساز او هغه د عبادت او بللے لائق دے بل څوک نشته۔

۲ وَمِنَ النَّاسِ الخ: دا معاندینو دپاره زجر دے یعنی مونږ د توحید مسئله واضحه عقلی او نقلی دلائلو سره بیان کړه لیکن خلق د منلو په ځائے الټه په توحید کښې جهګړه کوی حال دا دے چه دوی سره نه د عقل او نقل نه څه دلیل شته او نه د وحی۔ فِي اللّٰهِ یعنی د الله تعالیٰ په توحید او کمال قدرت کښې: ای فی توحیده عز وجل وصفاته جل شانه کالمشرکین المنکرین وحدته سبحانه وعموم قدرته جلت قدرته وشمولها للبعث (روح ج ۲۱ ص ۹۳)۔ د علم نه دلیل عقلی د هدی نه دلیل وحی او د کتاب منیر نه دلیل نقلی مراد دے۔

۲۱ وَإِذَا قِيلَ الخ: دا شکوه ده - او کله چه مشرکانو ته وویلے شی چه الله تعالیٰ کوم نور هدایت نازل کړو دَ هغے تابعداری وکړئ او هغه وُمنئ نو صفا دائی چه مونږ خو به دَ خپل پلارنیکه په دین باندې چلیږو - أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ الخ دده معطوف علیه مقدر دے: اى يتبعونهم ولو كان الشيطن يدعوهم فيما هم عليه من الشرك الى عذاب السعير - (ابو السعود، ج ۶ ص ۷۳۲) دا په مشرکانو باندې انکار او تعجب دے یعنی اگر چه شیطان دَ دوی پلارنیکه په شرك کښ مبتلا کړے وی او دَ جهنم طرف تے رابلی نو آیا بیا به هم دوی دَ هغوی په دین باندې چلیږی -

۲۲ وَمَن يُسْلِمْ الخ: محسنین دپاره بشارت اُخروی دے یعنی دَ پلارنیکه بے دلیله تابعدارئ سره به په آخرت کښ نجات نه وی بلکه فلاح او نجات به نیکو کارونو او دَ نیکے رویے سره ملاویږی - چا چه خپل ټول کارونه الله پاك ته اوسپارل او دَ خپلو ارادو نه ئے لاس واخستو وَهُوَ مُحْسِنٌ او هغه په ټولو اعمالو کښ مخلص او دَ الله تعالیٰ دَ رضا طلبګار شو نو هغه دَ ټولو نه مضبوطه کړئ ونیوله، پس فلاح او نجات به دداسے نیکانو دپاره وی - وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ٥ ټول اُمور او معاملات الله پاك ته سپارلی شویدی، په هر څیز کښ متصرف صرف هغه دے او دَ هر څیز انجام هم دَ هغه په اختیار کښ دے - نو دَ هغه نه سوا هیڅوك متصرف او مختار نشته - تقدیم دَ ظرف حصر دپاره دے - وتقدیم (إِلَى اللَّهِ) للحصر ردا على الكفرة فى زعمهم مرجعية آلهتهم لبعض الامور - (روح ج ۲۱ ص ۹۵) -

۲۳ وَمَن كَفَرَ الخ: دا معاندینو دپاره تخویف اُخروی دے او نبی علیه الصلوٰة والسلام ته تسلی ده یعنی که مشرکان دَ ضد او عناد دَ وجے نه انکار کوی نو په دے مه خفه کیږه دَ قیامت په ورځ به دا ټول زمونږ وړاندې جمع کیږی نو څه به ددوی ټول اعمال مخے ته کیدم - څه خو دَ دوی دَ زړونو په خبرو هم عالم یم - نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا الخ: په دُنیا کښ چه ما دوی ته کوم ژوند ورکړیدے نو دا خو صرف څو ورځے ژوند دے - ددینه روستو به دوی ضرور په سخت عذاب کښ گرفتاریږی هلته به دَ خپلو بدو اعمالو پوره پوره سزا بیا مومی -

۲۴ وَلَئِن سَأَلْتَهُم الخ: دا په توحید باندې دریم عقلی دلیل دے على سبيل الاعتراف من الخصم - یعنی مشرکان پخپله دَ دے خبرے اقرار کوی چه زمکے او آسمان خالق الله تعالیٰ دے. کله چه دَ هر څیز خالق الله تعالیٰ دے نو لامحاله په هر څیز کښ متصرف او کارساز به هم هغه وی - قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ: دا دَ دلائل مذکوره ثمره ده یعنی دَ دلائل مذکوره نه ثابته شوه چه دَ کارسازئ دَ ټولو صفاتو مالك الله تعالیٰ دے او دَ هغه نه سوا هیڅوك کارساز، متصرف او مختار نشته او نه دَ هغه نه سوا څوك دَ عبادت او بلنے لائق شته، لیکن دَ

مشرکانو دَ جهالت او ناپوهئ دا حال دے چه هغوی دَدے حقیقت نه بالکل جاهلان دی۔

۲۵ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ الخ: دا په توحید با ندې څلورم عقلي دلیل دے۔ دَ ټولو کائناتو خالق هم الله تعالیٰ دے او دَ دے مالك او په دیکښې متصرف هم هغه دے۔ او بیا دَ ټولو نه بے پروا هم او دَ کمال ټولو صفتونو سره متصف هم صرف هغه دے لهٰذا دَ عبادت او را بللو لائق هم هغه دے، بل څوك نۀ دے: لله ما في السمٰوٰت والارض خلقًا وملكًا وتصرفًا ليس لاحد سواه عزوجل استقلالا ولا شركة فلا يستحق العبادة فيهما غيره سبحانه وتعالیٰ بوجه من الوجوه (روح ج ۲۱)

۲۶ وَلَوْ اَنَّ الخ: په توحید باندې پنځم عقلي دلیل دے او دے سره دَ شرك في العلم نفي مقصود ده یعنې څنګه چه ټول هر څۀ کؤلو والا الله تعالیٰ دے دارنګ په ټول هر څۀ باندې خبردار هم هغه دے۔ لو شرطیه، ما في الارض اسم دَ اَنَّ مِن شجرة بیان دَ مَا، اقلام خبر دَ اِنَّ، والبحر مبتدا۔ یمده الخ جمله خبر۔ دا جمله موصوله سره یا دَ في الارض مقدر متعلق دَ فاعل نه حال دے مَا نَفِدَتْ الخ دَ لَوْ جواب دے او د مَا نَفِدَتْ نه کلام مقدر دے: ای و کتبت بتلك الاقلام وبذلك المداد كلمات الله ما نفدت الخ (الکلام من الروح) دلته دَ الله تعالیٰ دَ لا محدود او بے انتها معلوماتو بیان دے یعنې دَ دُنیا دَ ټولو ونو نه قلمونه جوړشي او بحر محیط سیاهي جوړه شي او بیا دَدۀ پشان نور اووۀ سمندرونه دَ سیاهئ وی. بیا دغه قلمونو سره دے سیاهئ باندې دَ الله تعالیٰ معلومات او لیکل شي نو ټول قلمونه به اُوړښ یږي او ټوله سیاهي به ختمه شي لیکن دَ الله تعالیٰ معلومات به دَ لیکلو په احاطه کښې را نشي۔

۲۷ مَا خَلْقُكُمْ الخ، دا تخویف اُخروي دے۔ ستاسو دَ ټولو اول ځل پیدا کؤل او بیا دوباره پیدا کؤل الله تعالیٰ د پاره څۀ مشکل کار نۀ دے۔ دَ ټول مخلوق پیدا ئش یا بعث (بیا راژوندی کؤل) او دَ یو ساه لرونکی پیدا ئش یا بعث الله تعالیٰ ته برابر دے، په دے وجه هغه په ضرور ټولو لره دوباره پیدا کوی او هر یو ته به دَ هغۀ دَ عملو جزاء او سزاء ورکړی۔ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝ دا دَ ماقبل د پاره علت دے یعنې څنګه چه هغه هر څۀ خبره اوری او هر څیز وینی دغه شان دَ هغۀ قدرت کامله په هر کار حاوی دے۔

۲۸ اَلَمْ تَرَ الخ، دا په توحید باندې شپږم دلیل دے یعنې دا حقیقت دومره واضح او روښانه دے چه هر څوك نے پیژنی چه دا ټول نظام عالم (نظام شمسی) دَ الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښې دے، دَ ورځ نه روستو شپه، دَ شپے نه روستو ورځ، په ورځ او شپه کښې کمے زیاتے، نمر او سپوږمئ را ختل او پریوتل او دَ هر یو، یو معیّن او مقرر پروګرام مطابق چلیدل دا ټول هر څۀ دالله تعالیٰ په اختیار

کښې دی او هغهٔ د هر څيز نه خبر هم دے او هيڅ يو څيز د هغهٔ د تصرف او اختيار او د هغهٔ د علم نه بهر نهٔ دے - هغه د ټول جهان کارساز دے او د هر قسم عبادت او دُعاء مستحق هم دے -

۲۹ ذٰلِكَ الخ: دا د مذکوره دلائلو تفصيلي ثمره ده - د بِاَنَّ متعلق محذوف دے: ای ذٰلک البيان بالادلة لتستيقنوا بان الله الخ - دا ټول دلائل واضح د دے دپاره ذکر شويدی چه ستاسو يقين وشی چه معبود برحق او په حاجتونو کښې د غائبانه رابللو لائق صرف الله تعالیٰ دے او د الله پاک نه سوا مشرکان چه چاته آوازونه کوی د هغوی عبادت او رابلل باطل دی او هغوی د دا بللو لائق نهٔ دی- الله تعالیٰ چه په خپلو صفتونو کښې برتر او په ذات کښې د ټولو نه لوئے دے، هغه د عبادت لائق دے - يعنی ذٰلک الذی هو قادر علی هذه الاشياء التی ذکرت هو الحق المستحق للعبادة وان ما يدعون من دونه الباطل) يعنی لا يستحق للعبادة (وان الله هو العلی) يعنی فی صفاته له الصفات العليا والاسماء الحسنىٰ (الکبير) فی ذاته لانه اکبر من کل کبير- (خازن ج ۵ ص ۱۸۲)

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِىْ فِى الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ

ايا تا و نهٔ ليدل چه جهاز • چليږی په سمندر کښې د الله په فضل

لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

د دپاره چه وښائی تاسو ته خپل قدرتونه بيشکه دېکښې نښے (د قدرت دی) هر يو عمل کونکی

شَكُوْرٍ ۝۳۱ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ

احسان منونکی دپاره - او کله چه لاندے کړی هغوی لره موجونه (چپے) لکه د وريځے، آواز کوی الله ته

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ

خالص کوی هغه لره بندګی، بيا چه کله نجات ورکړی دوی ته د وچے طرف ته نو ځنے د دوی نه

مُّقْتَصِدٌ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ۝۳۲

وی ميانه رو (په سم لار ه) او انکار نه کوی هغه دی زمونږ د قدرتونو نه چه په خبره کښې دروغژن وی او حق نهٔ منونکی وی

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا

اے خلقو تاسو ووېرېږئ د خپل رب نه او ووېرېږئ د هغه ورځے نه چه په

يَجْزِىْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ

او نه به يو څوک چه پيدا کړه شوی وي د کار به راشي د خپل پلار يو پلار د خپل څوی ، او نه به يو څوی چه پيدا کړه شوی وي کار به راشي د

وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ

خپل پلار په څه شي هم ، بیشکه د الله وعده لا بېشکه ده نو تاسو د دهوکه نکړي د دنيا

الدُّنْيَا ٝ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۳۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ

ژوند او دهوکه دِ نکړي تاسو لره د الله په نوم هغه دهوکه باز ۳۳ بیشکه د الله ۳۳ سره دے

عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى

د قیامت خبر ، او رالیږي باران ، او پيژني هغه څه چه دي په

الْاَرْحَامِ ؕ وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ

رحمونو د ميندو کښې ، او هيڅ يو نفس ته معلوم نه دي چه صباله به څه کوي ؟

وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌۢ بِاَىِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او هيڅ يو نفس ته خبر نشته چه په کومه زمکه کښې به مري ، بيشکه الله تعالی

عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۳۴﴾

تول هر څه پيژني خبردار دے ۔

نکات : ۱ اووم عقلي دليل ۔ ۲ زجر ۔ ۳ تخويف اخروي ۔ ۴ اتم عقلي دليل د پاره د شرک في العلم ۱۲

موضح قرآن ف ۱ څنګه دي په ميخځني حال بانديِ يعني هغه حال کوم چه د ويري په وخت وُو نو هيڅ يو کس پاتے نه دے ليکن بالکل تر ينه هير شوے هم نه دے دا سے کسان هم کم دي خو اکثر منکريږي د قدرت نه او د خپل خلاصي د پاره قسم قسم تد بيرونه لټوي يا د کوم روحونو نه استمداد غواړي ۔ ف ۲ يعني چه شيطان دهوکه ورکړي چه الله تعالیٰ غفور رحيم دے او د دنيا دهوکه ورکول دادي چه څوک ولته بنه دے (مزو چړچو کښې دے) هلته به هم بنه وي ۔

تفسير ۳۳ اَلَمْ تَرَ الخ دا په توحيد باندي اووم عقلي دليل ، د الله تعالیٰ د قدرت کامله او د هغه رحمت شامله سره زمونږ کشتۍ په درياب ونو

او سمندرونو کښې صحیح سالمه سفر کوي - دیکښې هر صابر او شاکر بنده دپاره عبرت دے
او په دیکښې د الله تعالیٰ د وحدانیت واضح لښانے موجود دي - الله تعالیٰ زمونږ
کشتۍ صحیح سلامته غاړے ته رسوي مونږ ته خپل وحدانیت او قدرت کامله ښودل
غواړي - لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ اي بعض دلائل الوهيته تعالىٰ ووحدته سبحانه
وقدرته جل شانه وعلمه عز وجل - (روح ج ۲۱ ص ۱۰۵ وابو السعود ج ۶ ص ۴۳۶) -
۳۲ وَاِذَا غَشِيَهُمْ الخ: دا زجر دے په دریابونو او سمندرونو کښې چیرے د کشتۍ
په غرونو کښې دا سے اوچتو او لوړو موجونو کښې راګیر کړو نو هغوی د خپل ټولو
خود ساخته کارسازانو او معبودانو نه نا امیده شي خالص الله تعالیٰ ته اواز کول
شروع کړي - موحدين لا يدعون لخلاصهم سواه - (قرطبي ص ۸۰ ج ۱۴) فَلَمَّا
نَجّٰهُمْ الخ: کله چه الله تعالیٰ دوی لره د طوفان نه بچ کړي او غاړے ته ئے ورسوي
نو د دوی نه ځنے خلق خو د اعتدال لارے اختیاروي او حق یعني په توحید باندې
قائم پاتے شي - فمنهم مقتصد على التوحيد (روح) لیکن وعده خلافي کول او
ناشکري چه د چا طبیعت ثانیه ګرځیدلے وي هغه دا سے واضح او روښانه دلائلو
سره هم نه پوهیږي بلکه د ضد او عناد په وجه انکار کوي او په هغے تهیلک
ولاړوي -
۳۳ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ الخ: دا تخویف اُخروي دے - د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ د
عذاب نه ویریږئ - دغه ورځ به پلار د خوی په کار نه راځي او ځوئے به د پلار په
کار نشي راتلے، هیڅ فائده به ورته نشي رسولے او نه به ځو دُنیا ساز و سامان او مال
او زر څه په کار راشي په کوم چه نن ورځ تاسو نیازیږئ او په کوم چه مغرور
کیدلو سره د توحید نه مخ اړوئ - الغرور: دهوکه ورکونکے یعني شیطان او د شیطان په
دهوکه کښې هم مه راځئ چه تاسو ته دروغ تمناګانے اُرزو ګانے درکړي او د هغه د
توحید، اسلام او اخرت نه مو غافله کړي.
۳۴ اِنَّ اللّٰهَ الخ: دا په توحید باندې اتم عقلي دلیل دے او دے سره هم د
شرك في العلم نفي مقصود ده - دے ایت کښې د پنځو اُمورو علم په الله تعالیٰ پورے
خاص کیدل ذکر کړے شویدي: ① قیامت به کله راځي؟ ② باران به کله کیږي؟
③ د ښځے په رَحِم کښې څه دي؟ ④ انسان به صبا له څه کار کوي؟ او ⑤ هغه ته
به مرګ چرته راځي؟ دے پنځه اُمورو ته مفاتح الغیب یعني د غیب خزانے ویلے
شي او د الله تعالیٰ نه سوا هیچا ته د دے علم نشته - حضرت ابو هریره رضی الله عنه
بیان کوي چه یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه قیامت به کله
راځي؟ نو نبي علیه السلام ورته وفرمائیل: في خمس لا يعلمهن الا الله ثم تلا
النبي صلى الله عليه وسلم ان الله عنده علم الساعة الاية - (صحیح بخاری ص ۱۲،
صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۹، نسائي ج ۲ ص ۲۶۳، ابن ماجه ص ۷) یعني د قیامت علم د دے

پنځو کارونو نه دے چه ډکوم علم د الله تعالیٰ نه سوا بل چاته نشته. بیا نبی علیه السلام د سورۀ لقمان هم دا آیت تلاوت کړو. یو حدیث کښې راغلی دی، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایه: مفاتح الغیب خمس لا یعلمها الا الله. (صحیح بخاری ج ۲ ص ۶۸۱) یعنی د غیب خزانے پنځه دی او هغه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک نه پیژنی. دے نه پس ئے پورتنی ذکرشوی امور اوشمارل. د صحابه کرام رضی الله عنهم نه هم د پورتنو ذکرشوو پنځو امورو تفسیر کښې نقل شویدی چه د دے علم د الله پاک نه سوا هیڅ یو نبی مرسل او یو مقرب فرښتے ته هم نۀ دے ورکړے شوے. د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی: هٰذه الخمسة لا یعلمها الا الله تعالیٰ ولا یعلمها ملک مقرب ولا نبی مرسل ادعیٰ انه یعلم شیئا من هذه فقد کفر بالقرآن لانه خالفه. (قرطبی ج ۱۴ ص ۸۲، خازن ج ۵ ص ۱۸۳). حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی: وهی مفاتح الغیب التی قال الله تعالیٰ وعنده مفاتح الغیب لا یعلمها الا هو. (ابن کثیر ج ۳ ص ۴۵۵).

امام قتاده رحمه الله فرمائی: اشیاء استأثر الله بهن فلم یطلع علیهن ملکا مقربا ولا نبیا مرسلا. (ابن کثیر ج ۳ ص ۴۵۵، روح ص ۱۱۱ ج ۲۱).

یو ځل خلیفه منصور په خوب کښې ملک الموت ولیدۀ نو تپوس ئے ترے وکړو چه ځما څومره عمر پاتے دے؟ نو ملک الموت پنځه ګوتو سره اشاره وکړه او غائب شو. منصور خپل خوب د تعبیر ویستونکو عالمانو مخکښې بیان کړو نو چا وویل چه ستا د عمر پنځه کلونه پاتے دی، چا وویل پنځه میاشتے مراد دی او څنو پنځه ورځے ووېلے. حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله نه چه تپوس وشو نو وے فرمائیل: هو اشارة الی هذه العلوم الخمسة لا یعلمها الا الله. (مدارک ج ۳ ص ۲۱۹) یعنی ملک الموت پنځو ګوتو سره دے طرفته اشاره کړیده چه دا د هغه پنځه امورو نه دے چه د هغې علم د الله نه سوا هیچا ته نشته.

د ذکرشوی احادیثو، اقوال صحابه رضی الله عنهم او تابعین رحمهم الله او د مفسرینو د عبارتونو نه ثابته او واضحه شوه چه د دے پنځه غیبونو الله تعالیٰ پورے خاص دے او د الله نه سوا بل هیچا ته د دے علم نشته لیکن د دے پنځو علومو نه د څلورو علومو د څنو جزئیاتو حصول بشر د پاره ممکن دے. د دے تفصیل روستو راروان دے. لیکن اولنے غیب یعنی د قیامت علم الله تعالیٰ هیچا ته نۀ دے ورکړے. د هغې صرف یو فرد چه هغه په الله تعالیٰ پورے مختص دے. د قرآن مجید ډیرو آیتونو کښې د دے صراحت شته: (۱) یسئلونک عن الساعة ایان مرسٰها قل انما علمها عند ربی الآیة (اعراف ع ۲۳) (۲) ان الساعة اٰتیة اکاد اخفیها (طٰهٰ ع ۱) (۳) یسئلک الناس عن الساعة قل انما علمها عند الله الآیة (احزاب ع ۸) (۴) وما یدریک لعل الساعة قریب. (شورٰی ع ۲) (۵) الیه یرد علم الساعة (حٰم السجدة ع ۶)

(۶) ویقولون متٰی هٰذا الوعد ان کنتم صٰدقین ہ قل انما العلم عند اللہ (ملک ع۲) (۷) یسئلونک عن الساعۃ ایان مرسٰها ہ فیم انت من ذکرٰها ہ الی ربک منتهٰها ہ (نازعات ع۲) -

دے ټولو آیتونو کښې صراحت دے چه دَ قیامت عِلم په اللہ تعالیٰ پورے خاص دے۔ دَ قیامت دَ قائمیدلو دَ معین وخت علم اللہ پاک نبی کریم ﷺ ته هم نهٔ دَو ورکړے۔ دَدے آیتونو تفسیر په خپل خپل ځائے ذکرشوے دے۔ دَ قیامت په باره کښې بخپله هم دَ نبی کریم ﷺ نه نقل شویدی چه دَدے علم صرف اللہ تعالیٰ ته دے او هغوی ته دَدے علم نهٔ دے ورکړے شوے لکه چه حضرت جابر رضی اللہ عنهما بیان کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: تاسو څما نه دَ قیامت باره کښې تپوس کوئ حال دا دے چه دَدے عِلم دَ اللہ تعالیٰ نه سوا هیچا ته نهٔ دے ورکړے شوے، قال سمعت النبی صلی اللہ علیه وسلم یقول قبل ان یموت بشهر تسئلونی عن الساعۃ انما علمها عند اللہ۔ (صحیح مسلم ص ۳۱۰ ج ۲) څو حدیثونه مخکښې ذکرشویدی۔

ټولو مفسرینو هم ددے وضاحت کړیدے چه دَ قیامت ذکر اللہ تعالیٰ هیڅ یو نبی مرسل او یو مقرب فرشتے ته هم نهٔ دے ورکړے۔ قدوۃ المفسرین، حبر الامۃ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنهما فرمائی: یعنی اجل یوم القیامۃ لا یدریه احد لا نبی مرسل ولا ملک مقرب (قرطبی ج ۱۱ ص ۳۵۰) - حضرت قتادہ رحمه اللہ فرمائی: لقد اخفاها اللہ من الملٰئکۃ المقربین ومن الانبیاء المرسلین (ابن جریر ج ۱۶ ص ۹۹) دَ امام سدی کبیرؒ نه نقل دی: لم یعلم قیامها متٰی تقوم ملک مقرب ولا نبی مرسل (ابن جریر، ج ۹ ص ۸۸) امام بغویؒ لیکلی دی: استأثر اللہ بعلمها ولا یعلمها الا هو۔ (معالم ج ۲ ص ۳۶۵) ابن کثیرؒ لیکی: ای لا یعلم وقت ذٰلک علی التعیین الا اللہ عزوجل (ابن کثیر، ج ۳ ص ۳۹۹) قاضی بیضاویؒ لیکی: قل انما علمها عند اللہ لم یطلع علیها ملکا ولا نبیا (تفسیر بیضاوی) امام نسفیؒ فرمائی: ای علم وقت ارسائها عنده قد استأثر به ولم یخبر به احدا من ملک مقرب ولا نبی مرسل۔ (مدارک ج ۲ ص ۶۷) مفسر ابن صفی حنفیؒ فرمائی: قل انما علمها عند اللہ لم یطلع علیه احدا (جامع البیان ص ۳۶۶) یو بل ځائے کښې لیکی: الخفاء مستمر الی یوم القیٰمۃ۔ امام ابو السعودؒ فرمائی، معنی کونه عنده تعالیٰ خاصۃ انه قد استأثر به بحیث لم یخبر به احدا من ملک مقرب ولا نبی مرسل (ارشاد العقل السلیم برحاشیه کبیر ج ۴ ص ۳۸۲) په بل ځائے کښې لیکی: ان اللہ قد استأثر به ولم یطلع علیه نبیا ولا ملکا (ایضا ج ۶ ص ۸۰۲، خازن ج ۵ ص ۲۲۸ واللفظ له) دارنګے مفسر خازن لیکی، ای لا یعلم وقت الذی تقوم فیه الا اللہ استأثر اللہ بعلمها ولم یطلع علیه احد۔ (خازن ج ۲ ص ۳۶۵) علامه سید محمود آلوسی حنفیؒ فرمائی، ای العلم بوقته عند اللہ عزوجل لا یطلع علیه غیره عزوجل (روح ج ۲۹ ص ۳۰) -

دَ پورته ذکر شوُو احادیث صحیحه او اقوال صحابه او تابعین او دَ مفسرینو دَ تصریحاتو نه دا خبره صفا معلومه شوه چه الله تعالیٰ دَ قیامت عِلم هیچ یو نبی مرسل یا یو مقرب فرښتې او هیچ یو کامل ولی ته هم نهٔ دے ورکړے او هغه ئے خپل ذات دپاره خاص کړے دے۔

اعتراض

دَ اهلِ بدعت له طرفه اعتراض کولے شی چه په غزوهٔ بدر کښ د جنګ شروع کیدلو نه مخکښ نبی علیه السلام خبر ورکړو چه فلانے فلانے سردار دَ مشرکانو به قتل کولے شی او دَ هغوی دَ وژلو ځایونه ئے هم متعین کړل: هذا مصرع فلان غدًا ان شاء الله (صحیح بخاری)۔ دغه شان دَ حضرت حسین رضی الله عنه دَ پیدائش نه مخکښ نبی علیه السلام اطلاع ورکړے وه چه دَ فاطمه رضی الله عنها حُوئے به پیدا کیږی لکه چه نبی علیه السلام اُمّ الفضل ته وفرمائیل: رأیت خیرًا تلد فاطمة ان شاء الله غلامًا. یوه موقع باندِ نبی علیه السلام وفرمائیل صبا له به ځهٔ جهنډه یو داسے سړی ته ورکوم چه دَ هغهٔ په لاس به الله تعالیٰ فتح ورکوی۔ راتلونکے ورځ هغوی حضرت علی رضی الله عنه ته جهنډا ورکړه: لاعطین الرایة غدًا رجلا یفتح الله علٰی یدیه یحب الله ورسوله۔ (مشکوة)۔ دارنګے نبی علیه السلام دَ قرب قیامت نښے بیان کړیدی مثلاً ارشاد ئے وفرمایهٔ چه دَ قیامت نه مخکښ او دَ یاجوج ماجوج دَ خروج نه روستو به یو عام باران کیږی چه دَ هغے نه به هیڅ یو ځائے او هیڅ یو کلے هم خالی پاتے نشی۔ نو دینه معلومه شوه چه دَدے غیبو علم دَ الله تعالیٰ نه سوا نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته هم حاصل وُو۔ دارنګے نن صبا دَ موسمیاتو ماهرین دمخکښ نه دا وائی چه په فلانی وخت به باران کیږی ؛

جواب

مفاتح الغیب یعنی دَ مذکوره پنځو امورو نه خوځلور کُلی دی او دَ هریو کلاندے بے شماره افراد دی لیکن قیامت یو جزئی امر دے او فرد معیّن دے۔ په دے وجه دَقیامت عِلم خو الله تعالیٰ هیچا ته دَ سره نه ورکړے نهٔ دے۔ دارنګے دَ باقی څلورو امورو کلیتو بالاستیعاب او کُلی عِلم هم الله تعالیٰ هیچا ته نهٔ دے ورکړے لیکن دَدے څلورو کلیتو دَ څنے جزئیاتو علم په طور دَ معجزے نبی علیه السلام ته ورکړے شوے وُو۔ اعتراض کښ چه کوم مثالونه ذکر شویدی هغه ددے قبیل نه دی۔ الله تعالیٰ دَ ډیرو جزئیاتو عِلم دَ وحی په ذریعه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورکړے وُو لیکن نبی علیه السلام ته ئے دا قدرت نهٔ وُو ورکړے چه تا سو کله او غواړئ کوم فرد چه وغواړئ هغه معلوم کړئ۔ دَدے وجے نه ثابته ده چه دَ بعضو جزئیاتو دَ غیب عِلم دَوحی په ذریعه نبی علیه السلام نه ورکړے شو نو هغه دَدے ایت سره منافی نهٔ دے ځکه چه دَ ایت مفاد دا دے چه دَدے غیبو اُمورو تمام تفصیلات په کُلی طور باندِ او بالاستیعاب علم الله تعالیٰ پورے خاص دے: المراد بالعلم الذی استاثر سبحانه به العلم الکامل باحوال کل علی التفصیل۔

(روح ج ۲۱ ص ۱۱۲)۔
باران راتللو باقی پاتے شوه داخبره چه دَ موسمیا تو ماهرین دَ وخت نه مخکښې دَ باران خبر ورکوی۔ نو دَدے جواب دا دے چه ماهرین دَ آلاتو او علاماتو په ذریعه دَ باران پیشگوئی ورکوی۔ په دِے وجه دیته علمِ غیب نشی ویلے کیدے ځکه چه علمِ غیب خو هغه دے کوم چه دَ اسبابو دَ واسطے نه بغیر حاصل شی او دَ ملکه په طور وی چه کله وغواړی او څه چه وغواړی دَ هغې علم حاصل شی۔

دلته یوه خبره دا هم دَ ذکر کولو قابله ده چه ټول مغیبات کوم چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیچا ته معلوم نهٔ دی هغه په دے پنځو اُمورو کښې منحصر نهٔ دی۔ دا آیت دَیو سوال په جواب کښې نازل شو۔ سوال کښې چونکه دَ دے پنځو امورو ذکر وُو، دَ دے وجے نه دَ دغه پنځو اُمورو په ذکر باندې اکتفاء اوکړے شوه۔

یو سړے چه نوم ئے حارث وُو دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئے وکړو: یَا رَسُولَ الله! قیامت به کله راځی؟ په ملک کښې قحط دے باران به کله کیږی؟ ښځه مے بی بی اُمید دے، دَ هغې به ځوے کیږی یا لور؟ دا خو ما ته معلومه ده چه څه چرته پیدا شوے یم خو دا راته ووایئ چه څه به چرته مرم؟ دے سره دا آیت نازل شو۔

علامه آلوسی رحمه الله فرمائی:
ینبغی ان کل غیب لایعلمه الا الله عزّ وجلّ ولیس المغیبات محصورة بهذه الخمس وانما خصت بالذکر لوقوع السؤال عنها
(روح ج ۲۱ ص ۱۱۲)

دارنګے قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمائی:
ولیست خزائن الغیب منحصرة فی الخمس المذکورة بل کل ما لم یوجد اولم یظهر بعد۔ (مظهری ج ۳ ص ۳۷۳)



سورة لقمان کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات


① هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَأَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ (ع۱) نفی د شرک فی التصرف.
② يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ (ع۲) د نفی د هر قسم شرک -
③ وَإِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰى أَنْ تُشْرِكَ (ع۲) د والدینو په اولاد باندې ډیر لوے حق دے لیکن که دوی اولاد له په شرک باندې مجبوره کړی نو په دے معامله کښې د هغوی اطاعت جائز نه دے.
④ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ - تا - هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ (ع۳) نفی د شرک فی التصرف -
⑤ وَلَوْ أَنَّ مَا فِي الْأَرْضِ - تا - إِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ نفی د شرک فی العلم -
⑥ ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ - تا - وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ (ع۳) نفی د معبودیت او الوهیت د معبودان باطله وُنه -
⑦ إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ - تا - إِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ (ع۴) نفی د شرک فی العلم ؞

نن په تاریخ ۳۰ ذی الحجه ۱۴۲۵ھ مطابق ۱۱ فروری ۲۰۰۵ء د پاؤ کم اووه (۶:۴۵) بجے مابنام د زیارت په ورځ د سورة لقمان پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.


فالحمد لله اوّلا و اٰخرا والصّلٰوة والسّلام علٰی رسوله دائما ابدا وعلٰی سائر عباد الله الصالحین لیلا ونهارا ؞

پښتو مترجم: بنده ناچیز عبدالمالک عفی الله عنه -

بقلم خطاط ابوطلحه گلزار احمد سلمه الصمد ؞



سُوْرَةُ السَّجْدَةِ



ربط دَ سورۀ سجده ما قبل سره ربط دَ نوم په اعتبار سره داد ے چه په سورۀ لقمان کښې دَ حضرت لقمان نصیحت ذکر کړے شویدے: يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۚ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ‎(ع ۲) لقمان خپل ځوی ته نصیحت وکړو، چه شرک مکوه، دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک برکات ورکوونکے مهٔ ګڼړه ځکه چه شرک ډیر لویه بے انصافي ده۔ او په سورۀ سجده کښې ئے وفرمائیل، إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا الخ (ع ۲) دَ الله تعالیٰ په توحید باندے ایمان لرونکو او الله پاک له برکات ورکوونکے منونکو باندے چه کله قرآن آوروئے شی نو هغوی عاجزئ سره په سجده باندے پریوځي۔

دَ سورۀ سجده ما قبل سره معنوی ربط داد ے۔ دَ سورۀ فرقان نه واخله تر سورۀ لقمان پورے دا مسئله بیان کړے شوے ده چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک برکات ورکوونکے نشته۔ لهذا دَ هغهٔ نه سوا هیڅوک په حاجتونو کښې ما فوق الاسباب مهٔ رابلئ۔ اوس دَ مشرکانو له طرفه دا عذر کیدے شو چه مونږ خپل خود ساخته معبودان په دے وجه نه رابلو چه هغوی برکات ورکوونکی دی بلکه مونږ هغوی له دَ الله تعالیٰ په نزد شفیع غالب ګڼړو ځکه ئے رابلو چه دَ هغوی په ذریعه مونږ ته برکات حاصل شی۔ نو ځکه ئے سورۀ سجده کښې ترقي وکړه، وے فرمائیل چه ځنګه دَ الله تعالیٰ نه سوا بل څوک برکات دهنده ګڼړل او رابلل ناجائزه دی دغه رنګے دَ الله تعالیٰ سره څوک شفیع غالب ګڼړل او هغه رابلل هم جائز نهٔ دی۔

خلاصه دَ دے سورت مرکزی مضمون دَ شفاعت قهری نفی ده په کوم چه دوه عقلی دلیلونه او یو نقلی دلیل ذکر کړے شویدے۔ په شروع کښې تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ الخ تمهید دے سره دَ ترغیب نه۔ دا قرآن بیشکه رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ نازل کړیدے۔ نو دَ هغهٔ دعوٰی حق ده، دا اُومنئ۔ أَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ۔ شکوه ده۔ بَلْ هُوَ الْحَقُّ الخ، دا جواب شکوٰی دے۔ دا قرآن پاک محمد ﷺ دَ ځان نه نهٔ دے جوړ کړے بلکه دَ الله پاک له طرفه نازل شوے دے۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ الخ: دا دَ شفاعت قهری په نفی باندے عقلی دلیل دے یعنی دَ زمکے او آسمان خالق هم الله تعالیٰ دے۔ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ الخ: دا مقصودی جمله ده او په ما قبل باندے مرتب ده یعنی چه کله دَ

ټولو اختیارا تو مالك الله تعالیٰ دے نو د هغهٔ نه سوا څوك هم په خپله څوك برکات ورکوونکے او کارساز نشته او نهٔ څوك د هغهٔ سره شفیع غالب شته. یُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ الخ: د ټول جهان تدبیر کوونکے هم هغه دے. ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ الخ صرف هغه عالم الغیب دے. اَلَّذِیْۤ اَحْسَنَ كُلَّ شَیْءٍ ــــ تا ــــ قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ o هر څیز هغهٔ پیدا کړے دے. هغهٔ انسان پیدا کړو او هغهٔ ته ئے د اوریدلو، لیدلو او سوچ کولو توفیق ورکړو.

وَقَالُوْۤا ءَاِذَا ضَلَلْنَا الخ: دا شکوه ده. مشرکانو نهٔ صرف د توحید نه انکار کولو بلکه هغوی حشر او نشر هم نهٔ منلو او وئیل به ئے چه هرکله موږ مړهٔ شو او خاورو سره یو ځائے ورك شو نو بیا به څنګه دوباره ژوندی کړے شو؟ قُلْ یَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الخ: دا جواب شکوی دے. څنګه چه مړل د الله تعالیٰ په اختیار کښې دے او هغهٔ د ملك الموت په ذریعه ستاسو روحونه قبض کوی، دارنګے هغه ستاسو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے.

وَلَوْ تَرٰۤی اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ الخ: دا د توحید او بعث او نشور نه انکارکوونکو دپاره تخویف اخروی دے. اِنَّمَا یُؤْمِنُ بِاٰیٰتِنَا الخ: دا د توحید منونکو او په هرحال کښې الله تعالیٰ ته آواز کوونکو دپاره بشارت اخروی دے. اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا الخ: اعاده د بشارت او تخویف په طور د لف او نشر غیر مرتب. اَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ د بشارت تفصیل. وَاَمَّا الَّذِیْنَ فَسَقُوْا الخ د تخویف تفصیل. وَمَنْ اَظْلَمُ: زجر سره د تخویف نه. وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَى الخ (ع۳): دا د سورت په دعوی (د شفاعت قهری په نفی) باندې دلیل نقلی دے د تورات سره او موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو علماؤ سره. موږ موسیٰ علیه السلام ته تورات ورکړو، په هغې کښې هم دا دعوی وه چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوك کارساز نشته. د بنی اسرائیلو علماؤ حق هم د دے مسئلے دعوت ورکولو.

اَوَلَمْ یَهْدِ لَهُمْ الخ: دا تخویف دنیوی دے د دوی نه مخکښې موږ ډیر ظالم قومونه د دے جرم په سزا کښې هلاك کړل ځکه چه هغوی د توحید دعوت رد کړو. د دے مشرکانو له هم د هغوی نه عبرت حاصلول پکار دی.

اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا الخ: دا د سورت په دعوی باندې دویم عقلی دلیل دے او د دے نه حشر او نشر هم ثابتیږی. الله تعالیٰ د آسمان نه باران اووروی، بنجر او بے کاره زمکه ورسره شنه او آباده کړی. صرف هغه برکات ورکوونکے او کارساز دے نو څنګه چه هغه مړه زمکه را ژوندۍ کړی، نو بے ژوند ورکړی، شنه او آباده ئے کړی خوی دغه شان د مړو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے.

وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى الخ: دا شکوی ده. مشرکان د عناد په وجه وائی: بښهٔ ده! نو د قیامت ورځ به کله راځی چه په هغې کښې به د هر څیز فیصله کیږی. قُلْ یَوْمَ الْفَتْحِ الخ:

دا جواب د شکوے دے. دا سوال بے فائدے دے چه قیامت به کله راځی؟ اصل خبره دا دے چه د قیامت د ورځ دپاره تیارے وکړئ یعنی د دُنیا په ژوند کښې توحید اومنئ نیک اعمال په ځائے راوړئ کنی نو د قیامت په ورځ به ایمان هیڅ بکار نه راځی۔

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة سجده په مکه کښې نازل شو او دا دے دیرش ایتونه او درے رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان نهایت رحم کونکے دے.

الٓمّٓ ⓵ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ⓶

نازلول د کتاب شته دے کښې هیڅ شک نشته د پروردګار عالم له طرفه.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ

آیا وائی دا کسان دا دے دروغ جوړ کړے دی، دا سے (هیڅ خبره) نشته هغه (پښتونے کتاب) دے ستا د رب له طرفه

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

چه د یاره چه ویروے هغه خلقو له چا ته چه نه د ے راغلے څوک ویرونکے ستا نه مخکښې دے دپاره چه دوی

يَهْتَدُوْنَ ⓷ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَ

په (سمه) لار راشی. الله (هغه) دے چه جوړ کړل اسمانونه او زمکه او

مَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ

څه چه د دوی په مینځ کښې دی په شپږو ورځو کښې دننه، بیا قائم شو په عرش باندې،

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ؕ اَفَلَا

هیڅوک نشته ستاسو دپاره د هغه نه سوا څوک حمایتی او نه سفارشی، بیا تاسو ولے

تَتَذَكَّرُوْنَ ⓸ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ

سوچ نکوئ؟ تدبیر سره نازلوی کار د اسمان نه تر زمکے پورے،

ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ

بیا خیژی هغه کار دغه طرف ته په یوه ورځ کښې چه ده ئې پیمانه (اندازه) زر کاله د هغه

مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٥ ذَٰلِكَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ

ستاسو په شمار کښې دی۔ دا (الله) دے عالم په پټ لره او ښکاره، غالب

الرَّحِيمُ ۝٦ الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ

رحم کونکے دے، چا چه ښائسته کړے دے هر شے چه کوم ئې پیدا کړے دے او شروع ئې کړه

خَلْقَ الْإِنسَانِ مِن طِينٍ ۝٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ

د انسان پیدائش د یو خټې نه۔ بیا ئې پیدا کړه اولاد د هغه

مِن سُلَالَةٍ مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ۝٨ ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ

د خلاصے د بے قدره اوبو نه۔ بیا ئې هغه برابر کړه او پو ئې کړه

فِيهِ مِن رُّوحِهِ ۖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ

په هغه کښې د خپل روح نه او پیدا ئې کړل تاسو لره غوږونه او سترګے

وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ۝٩ وَقَالُوا أَإِذَا ضَلَلْنَا

او زړونه، تاسو ډیر لږ شکر ادا کوئ۔ او وائی دوئ آیا کله چه موږ ورک شو

فِي الْأَرْضِ أَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۚ بَلْ هُم بِلِقَاءِ

په زمکه کښې نو آیا بیا زموږ ژوندی کیدل دی؟ دا نه دی بلکه دوی د خپل رب

رَبِّهِمْ كَافِرُونَ ۝١٠ قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي

د ملاقات نه منکر دی۔ ته ووایه قبض کوی تاسو لره هغه د مرګ فرښته چه

وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ۝١١ ع ۱

مقرره ده په تاسو بیا د خپل رب طرف ته واپس بوتللے شئ به

نکات:- ۱ تمهید سره د ترغیب نه۔ ۲ شکوی۔ ۳ جواب شکوی۔ ۴ دعوی د سورت یعنی نفی د شفاعت قهری باندے دویمے عقلی دلیل۔ ۵ و ۶

ک داشکوی ده ش جواب شکوی۔

موضح قرآن

ف ۱ د لوئے لوئے کارونو حکم د عرش نه مقرر کوے شی او نازلیږی د هغے نه تول اسباب په آسمانونو او زمکه کښ جمع کیږی او جوړیږی بیا څه زمانه جاری وی بیا پوره کړے شی د الله پاک له طرفه بل شان حکم نازلیږی لکه لوئے پیغمبر چه د هغه اثر پیړو پیړو پورے پاتے وی یا په یو لوئے قوم کښ سرداری او مشری تر نسلونو نسلونو پورے جاری وی، هغه ټول کاله د الله په نزد یوه ورځ ده۔ **ف ۲** د خپل روح نه، څو مره مخلوق چه دے نو د هغه مال دے لیکن چا ته چه ئے عزت ورکړو هغه ته ئے خپل وئیلے لکه چه وے فرمائیل، إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ الخ نو د انسان روح د عالم غیب نه راغلے دے یوائځے د اوبو او خټے نه نه دے جوړ شوے، په دے وجه د روح نسبت ئے خپل ځان ته وکړو، داسے نه ده چه د الله دپاره روح دے کنی بیا خو به هغه دپاره بدن هم وی او چه بدن وی نو ترکیب به هم وی او الله تعالیٰ د ترکیب نه پاک او منزه دے۔ **ف ۳** یعنی تاسو خپل ځان صرف بدن او جسد ګنړئ چه د خاورو سره ګډ وډ شو خاورے به شو، داسے نه ده تاسو روح یئ هغه فرشته ځان سره وړی او هغه بالکل نه فنا کیږی۔

فتح الرحمٰن

ف ۱ یعنی خلق د هغه د تدبیر او عروج نقش جوړوی نو د زرو کالو نه په کم وخت کښ په د هغے خیال او تس بیر ورکړے شی او دغه ټول د الله تعالیٰ په مخکښ یوه ورځ کښ سرته رسیږی۔ غرض دا چه د دوی او هام د هغه د قدرت احاطه نشی کولے۔

تفسیر

۲ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ الخ، دا تمهید دے سره د ترغیب نه۔ دا د رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ او شهنشاه حکمنامه ده، غور سره ئے واورئ او ډیر په شوق او خوشالئ سره پرے عمل وکړئ۔ دیکښ ډرے منجانب الله کیدلو کښ هیڅ شک نشته۔ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مبتدأ، لَارَيْبَ فِيْهِ جمله معترضه او مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ه خبر۔ محققینو دا ترکیب اختیار کړے دے۔ علامه زمخشری، ابوحیان او الوسیؒ دیته ترجیح ورکړیده۔ قال ابو حیان الذی اختاره ان یکون (تنزیل) مبتدأ ولا ریب فیه) اعتراض لا محل له من الاعراب و (من رب العٰلمین) الخبر وضمیر (فیه) راجع لمضمون الجملة اعنی کونه من رب العٰلمین لا للتنزیل ولا للکتاب کانه قیل: لاریب فی ذلک ای فی کونه منزلا من رب العٰلمین و هذا ما اعتمد علیه الزمخشری (روح ج ۲۱ ص ۱۱۷)

۳ أَمْ يَقُولُونَ الخ، دا شکوی ده۔ دا قرآن بیشکه بے شبهے د رب العٰلمین له طرفه نازل شوے دے لیکن مشرکان د منلو په ځائے دا د الله تعالیٰ کلام نه ګنړی بلکه دا د پیغمبر علیه السلام د ځان نه جوړ کړے شوے کتاب ګنړی چه هغوی د ځان نه جوړ کړیدے

(عیاذاً باللہ) او په غلطه طریقه سره ئې د الله پاك طرفته منسوب کړیدے . بَلْ هُوَ الْحَقُّ الخ: دا جواب د شکوے دے - دا قرآن د چا جوړ کړے شوے کتاب نۀ دے بلکه دا حق او ستا د پروردګار له طرفه نازل شویدے - یا مطلب دا دے بلکه حق خبره دا ده چه خبره ستا د پاك رب له طرف ده - په اول صورت کښې مِنْ رَّبِّكَ خبر دے روستو د خبر نه او په دویم صورت کښې د اَلْحَق سره متعلق دے - لِتُنْذِرَ الخ: د کتاب مقصد دا دے چه تاسو یو داسے قوم د الله تعالیٰ د عذاب نه ووېروې چه ستاسو نه مخکښې ورته څوك وېروونکے نۀ دے راغلے د پاره د دے چه هغوی شرك او ګمراهي پرېږدی ، د توحید او هدایت لاره غوره کړی -

په عربو کښې د قریشو طرفته د حضرت اسماعیل علیه السلام نه پس بل یو پیغمبر نۀ وو رالیږلے شوے د حضرت موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام نه روستو د فترت په زمانه کښې هیڅ یو پیغمبر او نۀ لیږلے شو. واما العرب غیر المعاصرین فلم یأتهم من عهد اسمٰعیل علیه السلام نبی منهم بل لم یرسل الیهم نبی مطلقا وموسی وعیسی و غیرهما من انبیاء بنی اسرآءیل علیهم الصلوٰة والسلام لم یبعثوا الیهم علی الاظهر (روح ج ۲۱ ص ۱۱۹) وقال ابن عباس ومقاتل وذلک فی الفترة التی کانت بین عیسی ومحمد صلی الله علیه وسلم - (خازن ومعالم ج ۵ ص ۱۸۳ ، قرطبی ج ۱۴ ص ۸۵) -

۴ اَللّٰهُ الَّذِیْ الخ: دا د سورت په دعوی باندې اولنے عقلی دلیل دے - زمکه او اسمانونه او څه چه په دیکښې دی د ټولو کائناتو خالق الله پاك دے ، د ټول عالم نظام چلول او د اقتدار واګے او تصرف هم د هغۀ په خپل لاس کښې دی او د کائناتو په نظام کښې ئې د تصرف اختیار هیچا ته نۀ دے ورکړے - د اِسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ پوره تحقیق په سورة اعراف کښې تیر شویدے (په حاشیه ۵۳ کښې) مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ الخ: دا د سورت مقصودی حصه ده - الله تعالیٰ پخپله په ټول عالم کښې متصرف او مختار دے او هغۀ خپل اختیارات هیچا ته نۀ دی سپارلی - نو څنګه چه د هغۀ نه بیوا کارساز نشته دارنګے هغۀ سره څوك شفیع غالب هم نشته چه څوك پرے څۀ کار وکړی - نو تاسو خپل باطل معبودان ولے شفعاء ګرځولی دی ؟ ای ما لکم اذا جاوزتم رضا تعالیٰ احد ینصرکم و یشفع لکم ویجیرکم من بأسه الخ (ابوالسعود ص ۶۳۹ ج ۶) -

۵ یُدَبِّرُ الْاَمْرَ الخ: د نظام عالم تدبیر او د کائناتو نظم ونسق د هغۀ په لاس کښې دے ، هغه خپل تکوینی احکام بندګانو باندې نازلوی او د بندګانو نیك اعمال د هغۀ طرفته خیژی - دا ټول هر څۀ هر ورځ کیږی حال دا دے چه د نزول او عروج مسافت په زمونږ په حساب د زرو کالو لار وی - معناه والله اعلم ان امره ینزل من السماء علی عباده وتعرج الیه اعمالهم الصالحة الصادرة علی موافقة ذلک الامر...... ان نزول الامر وعروج العمل فی المسافة الف سنة مما

تعدون وهو یوم فان بین السماء والارض مسیرة خمسمائة سنة فینزل فی مسیرة خمسمائة سنة ویعرج فی مسیرة خمسمائة فهو مقدار الف سنة - (کبیر ص ۵۵ ج ۶) -

۶ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ الخ: الله تعالیٰ چه څنګه خالق د کائناتو او مُدبر د عالَم دے دارنګے عالم الغیب هم صرف هغه دے . اَلَّذِیْ اَحْسَنَ الخ: هغه هر څیز حکمت او اتقان سره جوړکړیدے او هیڅ یو څیز ئے هم د حکمت او مصلحت نه خالی نه دے او د هغه په مخلوقاتو کښ هیڅ یو شے هم د ښه خوبئ (فائدے) نه خالی نه دے ؛

ومعنی احسن حسّن لانه مامن شیء خلقه الا و هو مرتب علی ماتقتضیه الحکمة فالمخلوقات کلها حسنة الخ (بحر، ج ۷ ص ۱۹۹) -

۷ وَبَدَاَ الخ: او انسانی پیدائش ئے د خاورے نه شروع کړو یعنی د ټولو نه رومبے انسان حضرت آدم علیه السلام ئے د خاورو نه پیدا کړو. ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ الخ: دینه روستو ئے د نطفے نه د هغه نسل شروع کړو. سُلٰلَة: خلاصه: د غذا خلاصه وینه ده او د وینے خلاصه منی ده. نو ځکه ئے سُلاله سره تعبیر اوکړو. ثُمَّ سَوّٰىهُ الخ: د موړ په رَحِم کښ ئے د بے قدره نطفے نه د انسان ټول اندامونه برابر کړل او بیائے په هغے کښ روح واچوو او هغۀ ته ئے د اوریدلو، لیدلو او پوهے او سوچ کولو قوتونه ورکړل، دے دپاره چه تاسو د الله پاك د نعماتو شکر په ځائے راوړئ - او د هغۀ د احکاماتو تعمیل وکړئ لیکن د دے باوجود تاسو د هغۀ ناشکری کوئ او تاسو د هغۀ نه سوا نور کارساز او سفارشیان جوړکړیدی.

۸ وَقَالُوْا الخ: دا شکوی ده - مشرکان دا سے ناشکره دی چه د الله تعالیٰ دداسے نعمت شامله باوجود د حشر او نشر نه انکار کوی او وائی چه کله مونږ مړه کیدو او خاورے شو او زمونږ د بدن نونو ذرے ذرے خاورو سره ملاؤ شی نو بیا به دوباره څنګه ژوندی شو ؟ بَلْ هُمْ بِلِقَآئِ الخ: دوی یوائے د بعث او نشور نه منکر نه دی بلکه د الله تعالیٰ په حضور کښ د حساب کتاب نه هم منکر دی.

ای لیس لهم جحود قدرة الله عن الاعادة لانهم یعترفون بقدرته ولکنهم اعتقدوا ان لاحساب علیهم وانهم لایلقون الله تعالیٰ - (قرطبی ج ۱۴ ص ۹۲) -

۹ قُلْ یَتَوَفّٰکُمْ الخ: دا جواب د شکوے دے - ستاسو دا خیال دے چه تاسو محض اجساد یئ چه د خاورو سره خاورے کیږئ - ستاسو دا خیال غلط دے ، تاسو په حقیقت کښ روح یئ چه ملك الموت ئے ستاسو د بدن نه اوباسی او روح نه فنا کیږی. د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ ستاسو د بدن نو اجزاء کوم چه خواره شویدی یو ځائے کړی - ستاسو روحونه به هغے ته واپس کړی نو تاسو به دوباره ژوندی شئ. شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائی تاسو خپل ځانونه محض تنه او بدن ګنړئ چه د خاورو سره یو ځائے شو، ذرے ذرے شو، او خاورو سره برابر

شو. دا سے نۀ دہ تاسو پہ حقیقت کښې رُوح یئ چہ فرشتہ هغه یوسی بالکل نۀ فنا کیږی (موضح قرآن) یا مطلب دادے چہ تاسو چا پیدا کړی هغه د مرلو نه پس دوباره پیدا کولو باندې هم قادر دے۔ بدعتیان دے ایت سره استدلال کوی چه هر کله ملك الموت یو دے او په یو وخت کښې د دُنیا په مختلفو حصو کښې په زرګونو رُوحونه قبض کولے شی نو نبی کریم ﷺ او اولیاء الله هم دغه شان په یو وخت کښې مختلفو ځایونو ته حاضریدلے شی۔

نو د دے جواب دادے چه د روح قبض کولو کے فرشتے په زرګونو دی چه د عزرائیل ؑ ماتحت دی او د هغه په حکم سره د دُنیا په مختلفو علاقو کښې د خلقو رُوحونه قبض کوی۔ لفظ د ملك الموت اسم جنس دے چه دے ټولو ته شامل دے۔ د قرآن مجید د نورو ایتونو نه د دے تائید کیږی: حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا (انعام ع ۱۹) او- وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمَلٰٓئِكَةُ (انفال ع ۷)۔ په دے وجه دلته لفظ د ملك الموت نه مخصوص فرشته عزرائیل ؑ مراد نۀ دہ بلکه جنس ملك الموت ترے مُراد دے۔ لهٰذا د اهل بدعت استدلال ساقط دے۔

وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ

او کله چه ته وویني کوم وخت چه دغه کافران سرونه ښکته کړی وی د خپل رب

رَبِّهِمْ ۭ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ

په مخکښې، اے ربه! مونږ ولیدل او واوریدل، او س مونږ بیرته بوځه چه مونږ وکړو

صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ⑫ وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ

نیك کار، زمونږ یقین وشو۔ او که مونږ غوښتلے نو ښودلے به مو هر نفس ته

هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ

د هغه لاره لیکن مقرر شوے دا دغه خبره زما چه خامخا ډك به کړم دوزخ

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ⑬ فَذُوْقُوْا بِمَا

د پیریانو او انسانانو ټولو نه۔ نو اوس وڅکئ مزه ئے ځکه چه

نَسِيْتُمْ لِقَاۗءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا

تاسو هیر کړے وو د دے ورځے ملاقات، مونږ هم تاسو هیر کړئ او وڅکئ

عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ (١٤) اِنَّمَا يُؤْمِنُ

عذاب همیشه په عوض د خپلو عملونو کښې - زموږ خبرې ١٣ له

بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ

هغه خلک منی چه کله هغوی پوهه کړے شي په هغې باندې نو په سجده کښې پرېوځي او

سَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ (١٥) تَتَجَافٰى

پاک ذات یاد کړي د خپل رب صفت بیانولو سره او هغوی لوئي نه کوي - جدا او سیږي ١٤ له

جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ

د هغوی اړخونه د خپلو خوابګاهونو نه، بللي رب خپل په ویرې او

طَمَعًا وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ (١٦) فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ

طمع لرلو سره، او زموږ د ورکړې شوي (مال) نه خرچ کوي ١٥ نو هیڅ یو نفس ته معلومه نه ده ١٥ له

مَّاۤ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا

چه کوم خوږیت کړے شوي دي دپاره د دوی د سترګو یخوالي، بدله د هغې چه دوی

يَعْمَلُوْنَ (١٧) اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ

کول - نو آیا کوم چه په ایمان باندې دے برابر دے د هغه چا سره کوم چه نافرمانه دے؟

لَا يَسْتَوٗنَ (١٨) اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

نشي برابریدے - نو کوم خلق چه یقین لري ١٦ له او کړے ئې دي نیک کارونه

فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ؗ نُزُلًاۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (١٩)

هغوی دپاره باغونه دي د اوسیدلو، میلمستیا ده د هغه کارونو په وجه چه کول به ئې -

وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَاۤ اَرَادُوْۤا

او کوم خلق چه نافرمانه شول ١٧ له نو د هغوی کور دے اور، کله چه اوغواړي

اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَاۤ اُعِيْدُوْا فِيْهَا وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا

چه اووځي د هغې نه واپس کړلے به شي بیا په هغې کښې او او به وئیلے شي هغوی ته وڅکئ

عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ

دَ اُور عذاب کوم چه تاسو دروغ گڼړلو۔ او قامخا او به څکوو مونږ هغوی ته

مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ

له لږ عذاب سوا دَ هغه لوئ عذاب نه، دپاره دَ دې چه هغوی

يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ

بیا راشی (اسلام ته) ۵۱ او څوک زیات بې انصافه دې دَ هغه چا نه ۵۲ چه نصیحت ورته ورکړے شو دَ هغه دَ رب په خبرو

ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ ع ۲ ۱۱ ۱۵

بانې بیا ئې دَ هغې نه مخ واړولو، بیشکه مونږ دَ دغه گنهگارانو نه بدله اخستونکی یُو۔

نکات :- ۱ تخویف اخروی۔ ۲ بشارت اُخروی۔ ۳ تخویف اُخروی۔

موضح قرآن ف ۱ دَ الله تعالیٰ نه اُمید او طمع لرل څه بد کار خبره نۀ ده اونۀ دَ هغۀ نه ویرېدل، او دَ دے ویرے او اُمید په ذریعه چه کوم عبادت انسان وکړی نو هغه به قبول وی ویره او اُمید دَ دُنیاوی امورو نه وی یا دَ آخرت په اُمور وکښې۔ بچرے دَ بل چا دَ ویرے یا اُمید سا تلو سره بندګی او عبادت اوکړی نو دا ریا ده، هیڅ قبوله نۀ ده۔ ف ۲ یعنی دُنیا کښې به بندګان لوټ مار اووینی۔

تفسیر ۵۰ وَلَوْ تَرَىٰ الخ دا تخویفِ اخروی دے۔ دَ قیامت په ورځ به دا مجرمان یعنی دَ بعث نه منکر دَ خپیما نتیا او شرم په وجه سر ښکته ولاړ وی او وائی به چه یا الله! مونږ نن قیامت پخپلو سترګو ولیدلو اُوس به مونږ ستا دَ پیغمبرانو خبرے په پوره طور منو، مونږ یو ځل بیا دُنیا ته واپس ولیږه مونږ به نیک عمل کوو۔ نن مونږ ته دَ حشر او نشر، حساب او کتاب پوره پوره یقین شوید ے: اَبْصَرْنَا البعث وما وعدتنا به وسمعنا قول الرسل ای سمعناه سمع طاعة (روح ج ۲۱ ص ۱۲۷)

۵۱ وَلَوْ شِئْنَا الخ دا دَ مشرکانو دَ قول فَارْجِعْنَا جواب دے۔ حاصل دا دے چه کچرے هغوی دُنیا ته واپس ولیږلی شی نو بیا به هم هغه څۀ کوی کوم چه ئے مخکښې کول ځکه چه هغوی ضد او عناد سره دَ گمراهئ لار اختیار کړے ده لیکن دا دَ حکمت ابتلاء نه خلاف ده۔ دغه شان مونږ فیصله کړے ده چه دَ شیطان تابعداری کونکو انسانانو او پیریانو نه به دوزخ ډکوو۔ نو دا ناممکنه ده چه دا کافران او مشرکان دوباره دنیا ته لاړ شی او دَ هدایت لاره اختیار کړی۔

فبموجب ذٰلك القول لم نشأ اعطاء الهدٰی علی العموم بل منعناه من اتباع ابلیس الذین انتم من جملتهم حیث صرفتم اختیارکم الی الغی باغوائه الخ (ابوالسعود، ج ۶ ص ۷۵۵)۔

۲ فَذُوْقُوْا الخ: چونکه تاسو د قیامت ورځ او د هغې حساب کتاب او جزاء سزا هیره کړې وه او د توحید او اعمالِ صالحه نه مو هیڅ تیاری نه وو کړې نو څکه نن مونږ هم تاسو په عذاب کښې پرېښودلي یئې۔ لهٰذا اوس د خپلو بدو عملونو د وجې نه همیشه عذاب وڅکئ۔

۳ اِنَّمَا یُؤْمِنُ الخ: د مشرکانو په مقابله کښې د مؤمنانو د صفاتو ذکر۔ ایمان صرف هغه خلقو نه نصیب کېږي چې په زړونو کښې چه انابت (د الله پاك طرفته رجوع) وي۔ هغوی د الله تعالیٰ په ایتونو باندې سمدستي ایمان راوړي کله چه ورته نصیحت وکړې شي او چه کله ورته د الله تعالیٰ ایتونه واورولي شي نو دوی د الله پاك د ویرې نه ټول په زاری او عاجزئ کولو سرشي۔ وَسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ: دوی الله پاك لره د هر قسمه شریکانو نه پاك او منزه ګنړي او هغه د کارسازئ په ټولو صفتونو باندې متصف مني۔ قرآن مجید کښې هر ځائې د لفظ تسبیح نه نفي عن الشرك او د حمد نه د کارسازئ صفات مُراد دي یعنی الله تعالیٰ د هر شریك نه پاك او ټولو صفتونو د کارسازئ سره متصف دے۔ لهٰذا په ټول عالَم کښې هغه متصرف او مختار کارساز دے۔ ای نزهوه وحمدوه (قرطبي ج ۱۳ ص ۹۹)۔ وَهُمْ لَا یَسْتَکْبِرُوْنَ ۝ او هغوی د الله تعالیٰ عبادت او د هغه د تسبیح او لوئئ نه تکبر نکوي۔

۴ تَتَجَافٰی الخ: دا هم د هغه کاملو مؤمنانو صفت دے چه هغوی خوږ او د سکون نه ډك خوب باندې د الله تعالیٰ عبادت ته ترجیح ورکوي۔ د جمهورو په نزد باندې د دے نه د تهجد د مونځ مُراد دے: التنفل باللیل قاله الجمهور من المفسرین وعلیه اکثر الناس (ایضاً ص ۱۰۰)۔ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ الخ: د دغه کاملو مؤمنانو یو صفت دا هم دے چه هغوی د الله تعالیٰ د عذاب نه وېرېږي او د هغه د رحمت اُمید ساتي، شپه ورځ په خپلو حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف الله تعالیٰ ته چغه وهي او د الله پاك د ورکړې شوی دولت نه د هغه په لار کښې خرچ کوي۔

۵ فَلَا تَعْلَمُ الخ: دا د هغه کامل مؤمنانو د پاره بشارت او زیرے دے۔ الله تعالیٰ د دوی د آرام او راحت د پاره چه کوم سامان د آخرت په کور کښې تیار کړے دے د هغې تفصیلات د الله پاك نه سوا بل هیچا ته نه دي معلوم۔ دا ټول هر څه د دوی د خالص ایمان او د نیك عمل جزاء ده۔ د جنت د نعمتونو اجمالي ذکر خو په قرآن او حدیث کښې موجود دے، په دے وجه دلته د علم نفي علیٰ سبیل التفصیل مراد ده۔

١٦ اَفَمَنْ کَانَ الخ: دا دَ لف اونشر غیر مرتب په طریقه باندې دَ تخویف او بشارت اجمالي اعاده ده- څنګه چه په پورتنو صفاتو کښې مؤمن او فاسق برابر نه دي دارنګې به په اٰخرت کښې هم هغوی برابر نه وي- مؤمنان به دَ الله پاك دَ مهربانئ مستحق او فاسقان به دَ الله تعالیٰ دَ غضب ځایونه ګرځولی شي- راتلونکو ایتونو کښې دَ جزاء تفصیل ذکر شوی دې-

١٧ اَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ: دا بشارت اُخروي دې- دا دَ دواړو ډلو دَ اُخروي مراتبو تفصیل دې- لمراتب الفریقین بعد نفی استوائهما- (روح ج ٢١ ص ١٣٣) مؤمنان ارام او راحت لره دا الله تعالیٰ په عبادت باندې قربانوي نو دَ هغې په بدل کښې به ورته الله تعالیٰ په اٰخرت جنّت الماویٰ ورکړي چه په هغې کښې به هر قسم ارام او راحت حاصل وي او دوی به پکښې دَ عزتمند ومیلمنو پشان وسیږي-

١٨ وَاَمَّا الَّذِیْنَ فَسَقُوْا الخ: دا تخویف اُخروي دې لیکن دَ فاسقانو او کافرانو دَ اوسیدلو ځائے به جهنم کښې وي چه دَ هغې نه به هیڅکله هم بهر نشي وتلې- هغوی به دَ وتلو ډیر زیات کوشش کوي لیکن هر ځل به ئے کوشش ناکام وي او بیرته به جهنم ته دِیکه کړلے شي او ورته به وویلے شي چه نن دَ جهنم دا عذاب وڅکئ دَ کوم نه چه تاسو انکار کولو-

١٩ وَلَنُذِیْقَنَّهُمْ الخ: دا تخویف دُنیوي دې- دَ اَدنیٰ عذاب نه مُراد دَ دُنیا مصیبتونه دي او دَ عذاب اکبر نه مُراد دَ جهنم عذاب دې یعني مونږ به په دُنیا کښې دا فاسقان او کافران په مصیبتونو کښې اخته کړو دپاره دَ دې چه هغوی ترینه عبرت حاصل کړي او توبه ویستلو سره دَ هدایت لاره اختیار کړي- قال الحسن و ابو العالیة و الضحاك و ابی ابن کعب و ابراهیم النخعی رحمهم الله العذاب الادنیٰ مصائب الدنیا و اسقامها مما یبتلی به العبید حتی یتوبوا وقاله ابن عباس رض ولاخلاف ان العذاب الاکبر عذاب جهنم الخ (قرطبي ج ١٤ ص ١٠٧)

٢٠ وَمَنْ اَظْلَمُ الخ: زجر سره دَ تخویف دُنیوي- یو هغه مؤمنان کاملان دي چه دَ الله تعالیٰ آیتونه واوري سر په سجده شي او دَ الله تعالیٰ تسبیح او لوئي بیان کړي او یو هغه مجرمان دي چه دَ الله تعالیٰ ایتونه واوري ډیر بے پرواهئ سره دَ هغې نه اعراض وکړي- دا خلق دَ ټولو نه زیات بے انصافه دي او مونږ به ضرور دَ دوی نه دَ اعراض او انکار بدله اخلو-

اي لا اظلم ممن ذکره الله بآیاته وبینها له و وضحها ثم بعد ذلك ترکها وجحدها و اعرض عنها وتناساها کانه لایعرفها (ابن کثیر، ج ٣ ص ٤٦٢) - دَ مجرمینو نه مشرکین مُراد دي، من المجرمین یعني المشرکین- (خازن ومعالم ج ٥ ص ٨٨)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِىْ مِرْيَةٍ مِّنْ

او مونږ ورکړے وُو لَله موسیٰ ته کتاب نو نۀ شه وسیږه په دهوکه کښې د هغه د

لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا

ملاویدلو نه، او مونږ وګرځولو هغه هدایت د بنی اسرائیلو دپاره ف۱ او وګرځولو مونږ لَله

مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ۣ وَكَانُوْا

د هغوی نه پیشوایان چه لاره به یې ښودله زمونږ په حکم سره کله چه یې صبر وکړو، او وُو چه

بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٢٤﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ

زمونږ په ښکارو به یې یقین کولو ف۲ ستا رب ﷻ به فیصله کوی کدوی په مینځ کښې د قیامت

الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ

په ورځ په کومه خبره کښې چه دوی اختلاف کولو۔ آیا د دوی په پوهه کښې رانغله

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِىْ

چه هلاک کړل مونږ لَله د دوی نه مخکښې ډیر خلق چه ګرځی دوی د هغوی

مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ۭ اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢٦﴾ اَوَلَمْ

په کورونو کښې، دیکښې ډیرے نښے (د عبرت) دی، آیا دوی اوری نۀ۔ آیا دوی ف۳

يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ

نۀ دی لیدلی چه مونږ بیوُو اوبۀ یوے وُچے زمکے ته، بیا مونږ راوُباسو

بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ۭ اَفَلَا

د هغې نه فصل چه خوری له هغې نه د دوی چارپایان او دوی پخپله هم، آیا بیا هم

يُبْصِرُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ

دوی نۀ وینی؟ او وائی خلقه کله به وی دا فیصله که چیرے تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

رښتونی یئ۔ ته ووایه د فیصلے په ورځ کله بربیکار نۀ راځی انکار کوونکو ته

إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانتَظِرْ

د هغوی ایمان راوړل او نه به هغوی ته انتظار ورکړے شي. نو ته د هغوی خیال پرېږده او انتظار کوه

إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾ ع ٢/٨ ١٦

هغوی هم انتظار کوونکي دي۔

نکات: سا پہ توحید باندې دویم عقلي دلیل. سا شکوی. سا جواب شکوی.

موضح قرآن **ف۱** د هوکه نشئ د هغهٔ د ملاویدلو نه یعني د کتاب یا د موسی علیه السلام نه چه د معراج په شپه هم د هغهٔ سره ملاو شوے وُو او نور هم شوځله. منه ۱۲ **ف۲** یعني تا سو هم صبر کوئ نو ستاسو حال به هم هغه شان وي. آخر همدغسے وشوه.

تفسیر **۲۲** وَلَقَدْ آتَيْنَا الخ: دا په توحید باندې نقلي دلیل دے یعني موږ موسی (علیه السلام) ته هم کتاب ورکړے وُو او په هغې کښې هم دا دعوی ذکر شوے وه چه د الله تعالی نه سوا بل څوك كارساز او عالم الغيب نشته. نو صرف هغه دا بلنې او د هغه نه سوا څوك شفيع غالب هم نشته چه به هغه باندې څهٔ كار وكړئ. نو څنګه چه مشركان د قرآن منجانب الله كيدلو كښې شك كوي دغه شان منكرينو د تورات په باره كښې هم شك وكړو حال دا دے چه دواړه يعني قرآن او تورات منجانب الله دي لهذا د تورات منجانب الله مُنَزَّل كيدلو كښې هيڅ قسم شك او شبه نه ده پكار. لِقَآئِهٖ: لقاء مصدر د خپل مفعول طرفته مضاف دے يا د فاعل طرفته. په اول صورت كښې به فاعل مقدر وي او په دويم صورت كښې به مفعول يعني د موسی عليه السلام كتاب (تورات) موندلو يا رسيدلو ته موسی عليه السلام ته، د ديكښې هيڅ شك مكوه، ولقاء مصدر مضاف الى مفعوله وفاعله موسى اى من لقاء موسى الكتٰب او مضاف الى فاعله ومفعوله موسى اى من لقاء الكتٰب موسى ووصوله اليه (روح ج ۲۱ ص ۱۲۷) او د فَلَا تَكُنْ خطاب هر مخاطب سره دے. د دے سره هر مخاطب د شك كولو نه منع شويدے. وَجَعَلْنٰهُ هُدًى الخ: څنګه چه سورة بني اسرائيل ركوع نمبر ا كښې ئے وفرمائيل. وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝ يعني تورات كښې موږ د بني اسرائيلو د پاره دا هدايت نازل كړيدے چه څما نه سوا هيڅوك كارساز مه ګڼرئ او په مصيبتونو او حاجتونو كښې څما نه سوا هيچا ته چغه مه وهئ يعني بعينه همدا مضمون په قرآن كښې نازل كړے شويدے.

۲۳ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً الخ: د موسی علیه السلام نه روستو موږ په بني اسرائيلو كښې داسے امامان او پيشوايان پيدا كړل چه په تورات كښې ئے زموږ د احكامو مطابق خلقو ته

دَ توحید او صراطِ مستقیم رهنمائی کوله او دَ توحید په تبلیغ او اشاعت باندې یې تکلیفونه او مصیبتونه زغمل او پخپله هم په ایمان او یقین کښې مضبوط او ثابت قدم وو۔

۲۳ ـه إِنَّ رَبَّكَ الخ: دَ مؤمنانو او منکرینو په مینځ کښې به الله تعالیٰ دَ قیامت په ورځ فیصله وکړي او هرې یوې ډلې ته به دَ هغې دَ اعمالو مطابق جزاء او سزا ورکړي۔ ای یقضی ویحکم بین المؤمنین والکفار فیجازی کلا بما یستحق۔ (قرطبی ج ۱۴ ص ۱۰۹)۔

۲۴ ـه أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ الخ، دا تخویف دنیوی دے۔ آیا دا خبره دوی دَ هدایت ذریعه نشوه چه دَ دوی نه مخکښې مونږ دَ توحید نه انکار کوونکی امتونه تباه او هلاک کړیدی حال دا دے چه دوی پخپلو تجارتی سفرونو کښې اکثر دَ هغه تباه شوو قومونو په ورانو ښارونو او کنډراتو باندې تیریږی او دَ هغوی دَ تباهئ او هلاکت آثار پخپلو سترګو وینی دَ دغه سرکش قومونو په تباهئ او بربادئ کښې دَ عبرت او نصیحت بے شمیره نښې موجودې دی په دے شرط چه په هغې کښې دَ سوچ، فکر او غور نه کار واخلی۔

۲۵ ـه أَوَلَمْ يَرَوْا الخ: دا په توحید باندې دویم عقلی دلیل دے او په حشر او نشر باندې هم دلیل دے۔ آیا دا خلق نه وینی چه مونږ بے اوبو او بے ګیاه (وُچه) زمکه باندې باران ورَوُو، په هغې کښې شنه سمسور فصلونه پیدا کړو او دا ئنان دَ هغوی او دَ هغوی دَ چارپایانو دَ پاره روزی پیدا کوو۔ باران ورول او فصلونه راغونډول چه دَ کوم قیّوم او قادر الله په اختیار او تصرف کښې دی، هم هغه دَ ټولو کائناتو کارساز دے او څرنګ چه دَ زمکې نه قسم قسم شینکی پیدا کولے شی، هغه مړی هم دوباره ژوندی کولے شی۔

۲۶ ـه وَيَقُولُونَ الخ: دا شکوی ده۔ دَ دے انکار کوونکو حال هم عجیبه دے چه دَ قیامت منلو په ځائے او دَ قیامت دَ حالاتو او دَ جهنم دَ عذاب نه ویریدلو په ځائے توقے مسخرے او استهزاء کوی چه هغه دَ فیصلے ورځ به کله راځی بچرے تاسو رښتونی یئ نو دَ هغې معین او مقرر تاریخ وښایئ۔

۲۷ ـه قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ الخ: دا جواب دَ شکوے او تخویف دے۔ دغه استهزاء کوونکو ته ووایئ چه دَ تلوار نه کار مه اخلئ بلکه صبر وکړئ کله چه دَ قیامت ورځ راشی نو په دغه ورځ به تاسو په دُنیا کښې دَ ایمان نه راوړلو او اعمال صالحه په ځائے نه راوړلو باندې دَ حسرت او پښیمانتیا اظهار وکړئ او اوس چه دکوم حقائقو نه انکار کوئ دَ قیامت په ورځ به درته دَ هغې دَ رښتیا والی یقین پخپله حاصل شی لیکن ایمان او یقین به هیڅ فائده نه ورکوی او دوی به جهنم ته داخل کړے شی او هیڅ مُهلت به هم ورنکړے شی، لا ینظرون لا یمهلون لیتوبوا ویعتذروا (معالم وخازن ص ۲۵۹ ج ۵)

۲۸ ـه فَأَعْرِضْ الخ: تاسو دَ دوی نه اعراض وکړئ او دَ دوی دَ استهزاء او انکار هیڅ پروا مه ساتئ او دَ الله پاک دَ مدد او نصرت او دَ الله پاک دَ دُشمنانو دَ هلاکت وخت

نزدے دے، تاسو خپلا د وعدے انتظار کوئ مشرکان هم دے انتظار او ارمان وکښی دی چه مسلمانان به د زمانے حادثو او مصیبتونو سره ختم شی۔ (وَانْتَظِرْ) ای موعدی لك (اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ) ای ينتظرون بكم حوادث الزمان۔ (قرطبی ج ۱۴ ص ۱۱۲)۔ آخر په جنګ بدر کښی د الله تعالیٰ وعده او نصرت پوره شو او د دوی په مقابله کښی کفر مغلوب او سرخکته شو، مشرکان ناکام او نامراده شول او ټولے آرزوګانے ئے په خاورو کښی ملاؤ شوے۔ فالحمد لله علی ذلك حمدًا كثيرًا ۞

سورۂ سجده کښی د توحید آیتونه او د هغے خصوصیات

① اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ — تا — اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ○ (ع ۱) نفی د شفاعت قهریه۔

② يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ — تا — الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ○ نفی د شرك في التصرف والعلم۔

③ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ — تا — اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ○ نفی د شرك في التصرف ۞



د سورۂ احزاب

ربط د سورۂ احزاب د سورۂ سجدے سره اسمی ربط دا دے چه په سورۂ سجده کښ ئے اوفرمائیل مالکم من دونه من ولی ولا شفیع یعنی د الله تعالی نه سیوا ستاسو هیڅوک کارساز نشته د هغۂ نه سیوا بل هیڅ ته آواز مۂ کوئ او نۂ د خدائے سره څوک شفیع غالب شته تاسو پکے عقیده باندے قائم اوسیږئ او د دے تبلیغ کوئ اګر چه د عربو ټول قبائیل (احزاب) یو ځائے شی او ستاسو مقابلے ته راشی معنوی ربط دا دے چه په سورۂ سجده کښ بیان کړے شوے دے چه د الله تعالی په مخکښ څوک شفیع غالب نشته. لهٰذا څوک شفیع غالب مۂ ګڼړئ او په حاجتونو کښ غائبانه هغۂ ته آواز مۂ کوئ. اوس به په سورۂ احزاب کښ ذکر کولے شی چه دِ دے معامله کښ د مشرکانو خبره مۂ منئ ځکه چه اوس به هغوئ په ځپله نرم شی او صلح کول غواړی خو چه د هغوئ باطل معبودان کم از کم د الله سره شفیع غالب اومنلے شی. د دے وجے نه په سورۂ احزاب کښ حکم ورکړے شو چه د مشرکانو دا پیش کش قبول نۂ کړئ او دِ دے معامله کښ نرمئ اختیار ولو سره څوک هم شفیع غالب اونۂ منئ او صفا اُوایئ چه کوم معبودان عند الله شفیع نۂ دی هغه ستاسو جوړولو سره شفیع نۂ شی جوړیدے.

خلاصه دِ دے سورت کښ د مشرکانو درے خرابئ لرے کول مقصود دی چه په هغے کښ یوه په اُصولو کښ وه او دوه په فروعو کښ اُصولی خرابی دا وه چه هغوئ ځپل معبودان عند الله شفیع غالب ګڼړل. فروعی خرابیانے دا دے. اوّل هغوئ ځپلے ښځے د ظهار کولو نه روستو بالکل داسے ګڼړلے لکه میندے او د کفارے نه روستو به ئے هم هغه ځپلے ښځے نۂ ګرځولے. دوّیم ځپل متبنّٰی یعنی د ځلے وئیلے شوی د ځوئے ښځے ته به ئے د حقیقی ځوئے د ښځے درجه ورکوله او د متبنّٰی د وفات یا د طلاق ورکولو نه روستو به ئے د هغۂ د ښځے سره نکاح حرام ګڼړله. اصلی مقصود خو د عقیدۂ شرکیه یعنی د شفاعت قهری ابطال دے. باقی دوه جاهلانه رسمونه ذکر کول د مثال په طور دی. حاصل دا دے چه ستاسو په خیال او ګمان خو ستاسو باطل معبودان شفیع غالب نۂ شی جوړیدے ځکه چه ظهار سره ښځه حقیقی مور نۂ شی جوړیدے او د چا ځوئے بیولو سره هغه په حقیقت کښ ځوئے

نهٔ شي جوړیدلے. شروع کښې ئے یاایها النبیُّ اتّقِ اللہ الخ کښې نبي علیه السلام
ته د مشرکانو د پیشکش رد کولو او نهٔ قبلولو او د وحي ربّاني د اتباع کولو
حکم ورکړو. وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَکُمُ الخ کښې اول نظیر ذکر شویدے او وَمَا جَعَلَ
اَدعیاءَکُم ابناءَکُم کښې دویم نظیر ذکر شویدے دیته روستو ټول سورت
کښې د دویم نظیر متعلق تفصیلات ذکر شویدي. الله تعالیٰ ته د نبي علیه
السلام خپل عمل سره د دے رسم ماتول منظور وو د دے وجے نه ئے
د دے اسباب برابر کړل اول ئے د نبي علیه السلام د تړ د دے رشته داره
حضرت زینب نکاح د نبي علیه السلام د متبنّٰی زید بن حارثه سره
اُوکړه په دے طریقه الله تعالیٰ د نبي علیه السلام په عمل سره د دے
جاهلانه رسم خاتمه اُوکړه. دا رسم چونکه د خلقو په زړونو کښې مضبوط
شوے وو د دے وجے نه د هغے خلاف د نبي علیه السلام عمل د مشرکانو
او منافقانو د پاره د نبي علیه السلام خلاف د پروپیګنډے باعث ګرځیدل
ممکن وو چه د دے مخالفانه پروپیګنډے سره د بشریت په تقاضا ځنې
مسلمانان او بخپله د نبي علیه السلام ازواج مطهّرات هم متاثر شوے
وے. د دے خبرے امکان هم وو چه د نبي علیه السلام په زړهٔ کښې هم
څهٔ خیال راشي د دے وجے نه الله تعالیٰ د دویم رسم ختمولو نه روستو
دے سورت کښې تولس احکام نازل کړل. اتهٔ رسول الله د پاره او نههٔ
مؤمنانو د پاره او دوه ازواج مطهّرات د پاره. مقصد دا دے چه اے مؤمنانو
د دے رسم د ماتولو په وجے سره به مشرکان او منافقان ځما د پیغمبر او
ستاسو په عزت باندے حملے کوي تاسو د هغوئ د مخالفت نه مهٔ ویریږئ
هر حالت کښې د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا اُوکړئ او د هغهٔ عزت او ناموس
د خپلو ځانو نه عزیز اُوګڼړئ. اے د پیغمبر بیبیانو دے معامله کښې تاسو
هم نرمي مهٔ کوئ او دا سے خبرے په خپلو ژبو باندے مهٔ راوړئ چه هغے سره د
پیغمبر علیه السلام په عزت باندے داغ او عیب اُولګي او اے پیغمبره
دے معامله کښې د مشرکانو سره د نرمئ معاهده مهٔ کوه او ځمونږ د
وعدے مطابق د شرک او د جاهلیت د رسمونو خلاف پوره قوت
سره آواز اُوچت کړه او دے سره سره د فتنے خورونکو مشرکانو او
منافقانو د پاره تخویفونه او زجرونه هم ذکر شویدي. اَلنَّبِیُّ اَولٰی
بِالْمُؤمِنِیْنَ الخ دا مؤمنانو د پاره اول حکم دے. اے د ایمان والؤ! ځما
پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جاهلیت رسم مات کړیدے مشرکان او
منافقان به ستاسو مخالفت کوي تاسو په هر حال کښې ځما د پیغمبر
سره ملګرتیا اُوکړئ او د نبي علیه السلام د عزت د پاره خپل ځانونه هم

قربان کړئ او د نبی علیه السلام بیبیانے خپلے میندے اوګنړئ اوګورئ چه د هغوئ په عزت او حرمت باندے عیب اوتهٔ لګی۔ و اذ اخذنا من النبین الخ دا نبی علیه السلام سره اولنے خطاب دے۔ مشرکان او منافقان به د دے خرابیانو د ختمولو په وجے سره ضرور ستا سو مخالفت کوی لیکن تاسو دے معامله کښ هرګز د نرمئ نه کار وانخلئ او د موافق ځما د وعدے او میثاق سره ځما د احکامو تبلیغ کوئ۔ یا ایها الذین اٰمنوا الخ (رکوع ۲) دا مؤمنانو د پاره دویم حکم دے چه اے مؤمنانو د دشمنانو د مخالفت نه مهٔ ویریږئ او بے همته نهٔ شئ او ځما د پیغمبر ملګرتیا هرګز پریے نږدئ زهٔ ستاسو ناصر او مدد ګار یم ځکه چه ستاسو د ظاهری اسبابو د کموالی او کمزورئ باوجود هم په ډیرو موقعو باندے ما ستاسو امداد اوکړو او د هغے نه روستو الله تعالیٰ د غزوۀ احزاب (غزوۀ خندق) واقعه په طور د مثال ذکر کړه۔ چه اوګورئ د اسبابو د ناسازګارئ او د منافقانو د مخالف پروپیګنډے باوجود ما ستاسو امداد اوکړو د دے واقعے تفصیلات اذ جاءتکم جنود (ع ۲) نه واخله وکان الله علیٰ کل شئ قدیر (ع ۳ پورے) کښ ذکر شوی دے۔ یا ایها النبی قل لازواجک الخ (ع ۴) دا نبی علیه السلام سره دویم خطاب دے چه تاسو خپلے بیبیانے په صفا الفاظو کښ خبر کړئ چه کهٔ چرے تاسو د دُنیا دولت یا خائست غواړئ نو زهٔ تاسوله د خپلے نکاح د رسئ نه ازادولو ته تیار یم لیکن کهٔ چرے تاسو الله او د هغهٔ رسول او آخرت غواړئ او د جاهلیت رسم ماتولو کښ د پیغمبر علیه السلام سره ملګرتیا او امداد کول غواړئ نو الله تعالیٰ به د دے ډیره غوره بدله درکړی۔
یا نساء النبی الخ دا ازواج مطهرات سره اولنے خطاب دے۔ اے د پیغمبر بیبیانو کهٔ چرے تاسو نه کومه یوه د منافقانو د پروپیګنډے نه متاثر شوه او د پیغمبر علیه السلام خلاف ئے څهٔ خبره اوکړه نو زهٔ به هغے ته دوچند عذاب ورکړم او څوک چه د الله او د رسول اطاعت اوکړی او د دے جاهلیت رسم ماتولو کښ ځما د پیغمبر حمایت اوکړی هغے ته به دوچند اجر ورکړم یٰنسآءَ النبی الخ دا ازواج مطهرات سره دویم خطاب دے اے د پیغمبر بیبیانو کهٔ چرے تاسو تقویٰ اختیار کړئ نو تاسو د نورو عامو بیبیانو په شان نهٔ یئ د دے وجے نه دے معامله کښ نرمی مهٔ کوئ چه پیغمبر د خپلے خوښے دے مخهٔ چه اوغواړی هغه اوکړی کهٔ چرے دا خبره منافقانو ته اورسیږی نو هغوئ به خوشحاله شی چه دے بارہ کښ د پیغمبر خپل کور کښ هم اختلاف موجود دے۔ بلکه صفا صفا اوایئ چه پیغمبر علیه السلام د خپل متبنٰی د څوئے طلاقے شوے ښځے سره نکاح د الله په حکم سره

کړی دہ۔ خپلو کورونو کښ اوسیږئ او د جاهلیت د رسمونو ته خپله لمن پاکه او بچ اوساتئ د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت اوکړئ الله تعالیٰ ستاسو عزت او ناموس د هر بد نما داغ نه پاکه او صفا ساتل غواړی۔
إِنَّ المسلمين والمسلمات الخ (ع ۵) دا مؤمنانو د پاره دریم حکم دے. هر مؤمن سړے او ښځه چه پوره اخلاص سره د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت اوکړی الله تعالیٰ د هغهٔ د پاره بخشش او اجر عظیم تیار کړیدے او څوک چه د الله او د رسول نافرمان وی هغه صریح گمراه دے او د هغهٔ د اوسیدلو ځائے به جهنم کښ وی۔
واذ تقول الخ دا نبی علیه السلام سره دریم خطاب دے. د نبی علیه السلام خواهش وو چه زید حضرت زینب په خپله نکاح کښ باقی اوساتی او هغه ته طلاق ورنهٔ کړی ځکه چه اوس صورت حال داووکهٔ چرے زید طلاق ورکوی نو اوس به د حضرت زینب د زړهٔ خوشحالولو صرف دے صورت کښ ممکن وی چه نبی علیه السلام هغے سره پخپله نکاح اوکړی لیکن هغوئ دا سے نهٔ غوښتل ځکه چه منافقان به اعتراض کوی چه د خپل متبنیٰ طلاقه شوے ښځه ئے په نکاح واخستله. لیکن الله تعالیٰ غوښتل چه پخپله د نبی علیه السلام عمل سره د دے رسم ماتول اوشی د دے وجے نه الله تعالیٰ دے خطاب کښ تنبیه اوفرمائیله او نبی علیه السلام ته ئے حکم ورکړو چه د زید د طلاق ورکولو نه روستو زینب ستا بی بی دہ۔
مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ الخ دا نبی علیه السلام سره څلورم خطاب دے۔ الله تعالیٰ چه کومه فیصله کړیدہ پیغمبر علیه السلام د دے باره کښ هیڅ قسم تنگی نهٔ محسوس کوی ځکه چه څما د پیغمبر شان دا دے چه هغوئ صرف د الله نه اویریږی او دین کښ د خلقو د ملامتیا خیال اونهٔ ساتی۔
مَا كَانَ مُحَمَّدٌ الخ دا مؤمنانو ته څلورم حکم دے۔ اے مؤمنانو! محمد (صلی الله علیه وسلم) ستاسو نه د هیڅ یو سړی پلار نهٔ دے. لهٰذا نبی علیه السلام هم د زید پلار نهٔ دے د دے وجے نه د زید مطلقه سره په هغوئ باندے نکاح کولو کښ هیڅ بدی او قباحت نشته دے باره کښ تاسو خپل زړونه پاك او صفا اوساتئ او د منافقانو او مشرکانو خبرو نه متاثر نهٔ شئ د پیغمبر علیه السلام باره کښ هیڅ قسم بد گمانی مهٔ کوئ۔ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا الخ دا د مؤمنانو د پاره پنځم حکم دے. اے د ایمان والو! الله ډیر یادوئ او سبا بیگاه د هغهٔ حمد وثناء تسبیح او تقدیس کښ مصروف اوسیږئ. که چرے د بشریت په تقاضا ستاسو

په زړونو کښې د پیغمبر علیه السلام باره کښې د څهٔ بد ګمانئ
پیدا کیدو خطره وی یا وسوسه ظاهره شوے وی نو د الله
په یاد سره هغه دفع کړئ۔
یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ الخ دا نبی علیه السلام ته ځخم خطاب
دے۔ څما پیغمبره ! ما تهٔ د حق بیا نولو د پاره رسول لیږلے
ئے د دے وجے نه تا سو صفا صفا اعلان اُوکړئ چه د متبنّٰی
مطلّقه سره نکاح حلال ده او د مخالفت پرواه مهٔ کوئ۔
وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِیْنَ الخ دا د سورت د ابتدائی مضمون اعاده ده۔
یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ شپږم حکم مؤمنا نو ته که چرے تا سو د
خلوت نه مخکښې خپلو بیبیا نو ته طلاق ورکړئ نو په هغوئ
عدت لشته او هغوئ فوراً بل ځائے نکاح کولے شی۔ د دے
وجے نه د زید د طلاق ورکولو نه روستو فوراً د زینب سره
پیغمبر (علیه السلام) نکاح اُوکړه ځکه چه هغه غیر مدخول بها
وه۔ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِنَّاۤ اَحْلَلْنَا الخ دا نبی علیه السلام سره شپږم
خطاب دے۔ د لاندے ذکر شوو ښځو سره ستا سو د پاره
نکاح حلال ده د دینه علاوه نورے ښځے ستا سو د پاره حلالے
نهٔ دی۔
یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا الخ (ع ۷) اُووم حکم مؤمنا نو د پاره
د ایمان والؤ ته د پیغمبر علیه السلام د کور باره کښې څهٔ آداب
اُوښودلے شو دے د پاره چه د غلطے پروپیګنډے ګنجائش پاتے نشی۔
اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ الخ اتم حکم مؤمنا نو د پاره۔ د ایمان والؤ څما
پیغمبر (علیه السلام) د منافقانو او مشرکانو د سخت مخالفت
باوجود د جاهلیت رسم مات کړو او د حق مسئله ئے واضحه
کړیده۔ د دے وجے نه تا سو په نبی علیه السلام باندے
صلوٰة او سلام اُولیږئ۔ او د الله تعالیٰ نه د هغوئ (صلی الله
علیه وسلم) د پاره د رحمت دُعا اُوغواړئ۔
اِنَّ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ اللّٰهَ الخ دا مشرکانو او منافقانو د پاره
تخویف اُخروی دے۔
یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ الخ (ع ۸) نبی علیه الصلوٰة والسلام
ته اُووم خطاب دے۔ د پیغمبر علیه السلام بیبیانو، لُونړو
او ټولو مؤمنانو ښځو ته حکم ورکړے شو چه کله هغوئ د څهٔ
کار د پاره د کور نه اُوځی نو پردے کولو سره دِ اُوځی۔ د پاره

چه د هغوئ عزت او ناموس محفوظ پاتے شی او بد کردار خلقو ته د تهمت لګولو موقع ملاؤ نهٔ شی.

لَئِنْ لَّمْ یَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ الخ دا منافقانو باندے زجر او تخویف دے که چرے منافقان او بدکردار خلق د دے باوجود هم د خپلو شرارتونو نه منع نهٔ شول نو د هغوئ د قتل احکام به صادرولے شی.

یَسْئَلُکَ النَّاسُ الخ دا تخویف أخروی دے د قیامت په ورځ به د دے کافرانو او مشرکانو حال ډیر بد وی او هغوئ به د الله د عذاب نه په هیڅ صورت کښ بچ نهٔ کړے شی.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَکُوْنُوْا الخ (ع ۹) دا مؤمنانو د پاره نهم حکم دے. ایمان والؤ ته حکم ورکړے شو چه هغوئ د پیغمبر علیه السلام پاره کښ هیڅ قسم بدګمانی أو نهٔ کړی او نهٔ د هغوئ د شان خلاف کومه یوه خبره هغوئ ته منسوب کړی او تکلیف ورته أو رسوی بلکه د الله نه أویریږی او ریښتیا خپل شعار جوړکړی.

اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ الخ، منافقانو او مشرکانو د پاره زجر او تخویف او مؤمنانو د پاره بشارت أخروی دے.

سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة احزاب په مدینه کښې نازل شوې ده او درې اویا آیتونه او نهه رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

اے نبی ته اُویره د الله نه ته او مه منه خبره د کافرانو

وَالْمُنٰفِقِيْنَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۱

او منافقانو بیشکه الله ټول هرڅه ته خبر او حکمتونو والا دے

وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۗ اِنَّ

او ځه په هغه څه (حکم) کوم چه راغلے دے تا ته د طرفه د رب ستا بیشکه

اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝۲ وَّتَوَكَّلْ

الله تعالی ستاسو د کارونو ته خبر دے - او بهروسه اوسا ته

عَلَى اللّٰهِ ۗ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝۳ مَا جَعَلَ

په الله باندے او کافی دے الله کارجوړولو والا - نه دی ایښی ده

اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ

الله د یو سړی دوه زړونه په خیټه کښې

وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ

او نه ئے دی گرځولی بیبیانے ستاسو که چا ته چه تاسو میندے وئیلی دی

مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ

په رښتیا میندے ستاسو او نه ئے دی گرځولی ستاسو په زامنو نابلل شوی

اَبْنَآءَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ

ستاسو (حقیقی) زامن دا ستاسو خبره ده چه په خپلو خلو باندے او الله

يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ ④

وائي رښتيا خبره او هغه ښائي لاره ف١ ف٢

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ ۚ

او ازکوئ دغه (ادعیاؤ) ته ئه د هغوئ پلار ا نو ته په نسبت کولو سره دا پوره انصاف دے په نزد د الله

فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ

بیا که چرے تاسو نۀ پیژنئ د هغوئ پلاران نو ستاسو رونړه دي

فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ

په دین کښ او دوستان ستاسو دي ف٢ او نشته په تاسو باندے

جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَٰكِن مَّا

گناه په کوم څیز کښ چه تاسو خطا شوي یئ لیکن په هغه کښ چه

تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

قصد او کړی زړونو ستاسو او دے الله

غَفُورًا رَّحِيمًا ⑤

بخونکے مهربان ف٣

نکات :- س١ اشاره ده د سورت دعوے ته ۱۲۔ س٢ اول امر ۱۲۔ س٣ دویم امر ۱۲۔ س٤ دریم امر ۱۲۔ س٥ اول نظیر ۱۲۔ س٦ دویم نظیر ۱۲۔

موضح قرآن ف١ کافرانو غوښتل چه نبی علیه السلام خپل ځان ته مائیل کړی او منافقانو غوښتل چه خپل چلونه ورزده کړی. او د پیغمبر په خپل الله تعالیٰ بهروسه او توکل دے چه د هغهٔ نه سیوا بل څوک زیات علیم او خبیر نشته.

ف٢ د کفر په وخت کښ چه کله به چا ښځے ته مور اوئیله نو تول عمر به هغه د دینه جدا شوه او چا ته چه به ئے ځوئے اوئیلے نو هغه به رښتینی (حقیقی) ځوئے گرځیدهٔ. الله تعالیٰ دا دواړه حکمونه بدل کړل خپلو ښځو ته میندے وئیل به په سورهٔ مجادله (قد سمع الله) کښ راشی او د رابللے شوی (متبنّٰی) ځوئے حکم مخکښ بیانولے شی. دے دوؤ خبرو سره ئے

دېرېمه خبره هم واؤروله چه دا سے ډیرے خبرے دی چه په خُله وئیلے شی او په هغے عمل نهٔ شی کیدے لکه چه یو قوی حافظے والا یا یو قوی زړهٔ والا یا دا سے کس ته چه په یو وخت کښ دوؤ مختلفو څیزونو ته متوجه کیږی وئیلے شی چه د دوؤ زړونو خاوند دے۔ لیکن د هغهٔ سینهٔ کښ څوک دوه زړونه نشته۔ خبرے کړے شی او اوکتلے شی نو د هیچا هم دوه زړونه نشته۔

وٓ یعنی د خطاء او نسیان گناه په هیڅ څیز کښ نشته او د ارادے (قصد) شته او دے کښ هم کهٔ الله اوغواړی نو بښنه به اوکړی خطاء دا ده چه د څلے نه وُوځی فلانکے د فلانکی ځوئے۔

فتح الرحمٰن وٓ دے ایت کښ رد دے په قول د یو کافر چه وئیل به ئے څما دوه زړونه دی او په هغه خبره کوم چه د جاهلیت د زمانے خلقو مقرر کړے وه چه د کومے ښځے سره ظهار اوشی نو هغه به د مور پشان حرام وی همیشه د پاره او تعریض دے د کافرانو او منافقانو د طعن د جواب طرف ته په باره د نبی علیه السلام کښ چه کله ئے زینب سره نکاح اوشوه چه د خپل ځوئے ښځه ئے په نکاح کړه ۱۲۔ وٓ نو په دے لقب سره ئے رابلئ۔

تفسیر: ٓ یَاَیُّهَا النَّبِیُّ الخ د صلح حدیبیه نه روستو د مشرکانو او منافقانو یو وفد چه ابو سفیان، عکرمه بن ابی جهل، عبد الله بن اُبیٔ او مصعب بن قشیر وغیره بانده مشتمل وو د نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شول او وے وئیل اے محمد موږ ستاسو نه دا غواړو چه تاسو څموږ معبودانو ته بد مهٔ وایئ او صرف دومره خبرے اومنئ چه هغوئ د الله په نزد شفیع (سفارشیان) دی او هغوئ نفع رسولے شی نو تا ته ازادی ده چه بیشکه تاسو د خپل یو خدائے عبادت کوئ او د نورو احکامو تبلیغ کوئ موږ به په تاسو هیڅ کار نهٔ لرو دا خبره په نبی علیه السلام ډیره سخته اوگرانه پریوتله دے سره دا ایتونه نازل شول۔ قالوا للرسول الله علیه وسلم ارفض ذکر الهتنا وقل انها تشفع وتنفع وندعك وربك فشق ذلك علی النبی علیه وسلم والمؤمنین وهموا بقتلهم فنزلت (روح جلد ۲۱ صفحه ۱۴۳ وکذا فی المعالم والخازن وغیرهما) مشرکانو غوښتل چه کهٔ چرے نبی علیه السلام نرم شی نو هغوئ به هم خپله رویه نرمه کړی۔ لیکن الله تعالیٰ هغوئ ته دے معامله کښ د نرمئ کولو نه منع کړو او حکم ئے ورکړو چه د توحید په تبلیغ کښ د ذرے برابر کوتاهی یا نرمی دے اونهٔ کړے شی لکه چه په بل ځائے کښ ئے اوفرمائیل ودّوا لو تدهن فیدهنون (القلم)

او په مائده کښ ئے او فرمائیل بلغ ما انزل الیك وان لم تفعل فما بلغت رسالته او په بنی اسرائیل کښ ارشاد دے لقد کدت ترکن الیهم شیئًا قلیلا اذا لاذقنك ضعف الحیوة وضعف الممات الخ دا ایتونه دړے اوامرو او یوه نهی باندے مشتمل دی۔

ے إِتَّقِ اللهَ الخ دا اولنے امر دے یعنی تقوی او د خدائے نه په ویره قائم اوسیږه او د الله د احکامو خلاف هرګز قدم مه پورته کوه والمقصود الدوام والثبات علیها (روح ج ۲۱ ص۱۴۳) وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ الخ دا نهی ده. کافرانو او منافقانو چه ستاسو نه د کوم نرمئ مطالبه کړیده تاسو د هغوئ خبره هرګز مه منئ او د توحید مسئله بیانولو کښ هرګز د هغوئ څه لحاظ مه ساتئ الله تعالی علیم او حکیم دے. که چرے ستاسو نرمئ اختیارولو سره د هغوئ د ایمان راوړلو امکان وے نو تاسو به د نرمئ کولو نه نه منع کولے شوئ۔ ودل بقوله "إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا" علی انه کان یمیل الیهم استدعاً لهم الی الاسلام ای لو علم الله عزوجل ان میلك الیهم فیه منفعة لما نهاك عنه لانه حکیم (قرطبی جلد ۱۴ ص۱۱۵)۔

ے وَاتَّبِعْ الخ دا دویم امر دے د الله لطرفه تاسو باندے چه کوم امور او د دین احکام وحی نازلیږی تاسو د هغے پیروی اوکړئ۔ د کافرانو او منافقانو د خبرو پیروی مه کوئ۔ الله تعالی ستاسو د ټولو عملونو نه خبر دے د ایمان خاوندانو نه د صلاح او د تقوی لارے ښائی او د کافرانو او منافقانو د مکر او فریب نه ئے خبر ساتی۔ ان الله خبیر بما یعمله کلا الفریقین فیرشدك الی ما فیه صلاح حالك وانتظام امرك ویطلعك علی ما یعملونه من المکائد والمفاسد (ابو سعود ج ۶ ص۳۴۳)

ے وَتَوَكَّلْ الخ دا دریم امر دے تاسو بغیر د څه ویرے او خطرے نه د توحید تبلیغ کوئ او که چرے څه ویره او خطره وی نو په الله بهروسه ساتئ او ټول معاملات الله ته اوسپارئ د هغه نه بهتر څوک کارساز او حافظ او ناصر نشته۔

ے مَا جَعَلَ اللهُ الخ دا د ماقبل دلیل دے د مثال بیانولو په طور ئے اوفرمائیل څنګه چه په یو خیټه کښ دوه زړونه نشی جمع کیدلے۔ داشان په یو زړه کښ دوه اعتقاد نشی جمع کیدلے د دے وجے نه دا ناممکن دے چه تاسو الله هم نافع او ضار اوګنړئ او د مشرکانو باطل معبودان هم۔ لا یجتمع الکفر والایمان بالله تعالی فی قلب کما لا یجتمع قلبان فی جوف فالمعنی لا یجتمع اعتقادان متغایران فی قلب الخ (قرطبی ج ۱۴ ص۱۱۶) یا د دوه زړونو نه دوه مخے کیدل مراد دی چه خدائے هم نافع اوګنړئ او غیر الله هم۔

دَ خدائے نه هم او بربیږي دَ غیر الله نه هم - دو دل بودن بجز بے حاصل نیست ــه

یکے بین ویکے دان ویکے گو

یکے خواه ویکے خوان ویکے جو

ــکــه وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الخ دا ماقبل دَپاره اوّلنے نظیر دے۔ دَ جاهلیت په زمانه کښې رواج وو چه کوم سړی به خپلے ښځے سره ظهار کولو یعني خپلے ښځے ته به ئے اُووئیل چه ته ځما دَپاره ځما دَ مور پشان ئے نو دیته به ئے دَ طلاق درجه ورکوله او په هیڅ صورت به ئے هغه دَ خپلے ښځے په طور ځان سره نهٔ ساتله او هغه به ئے همیشه دَ خپلے مور پشان گنړله۔ اسلام دا دَ جاهلیت رسم ختم کړو او دَ ظهار کفاره ادا کولو نه روستو ئے دَ زوجیت دَ تعلقاتو دَ بحال کولو حکم ورکړو۔ دِ دے ایت کښې ئے ارشاد اُوفرمائیلو چه تاسو خپلے ښځے دَ ظهار نه روستو خپلے میندے گنړئ ستاسو دِ دے خیال اُوگمان سره هغوئ ستاسو میندے نهٔ گرځي۔ ستاسو میندے هغه دي چا چه تاسو ځیگولي یئ۔ بعینه هم دا شان دَ چا وئیلو او خیال کولو سره باطل معبودان دَ الله سره شفیع غالب، نافع او ضار نهٔ گرځي نافع او ضار هغه پاک ذات دے دَ چا په قبضه او اختیار کښې چه دَ کائناتو ټول نظام دے۔

ــشــه وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ الخ دا دَ سورت دَ دعوے دویم تمثیل او نظیر دے او یو پخوانے رواج دا هم وو چه څوک به ئے خپل ځوئے اُوگرځولو نو دَ هغهٔ او دَ متبنی ځوئے مینځ کښې به میراث هم جاري کیدو او دَ متبنی ښځه به ئے حقیقي اینگور گنړله تر دے چه دَ متبنی دَ مطلقه ښځے سره نکاح کول به ئے حرام گنړل۔ نو دَ دے رواج مطابق نبي علیه السلام دَ بعثت نه مخکښې زید بن حارثه خپل متبنی جوړ کړے وو اسلام دا رسم ختم کړو۔ ابطال لما کان في جاهلية وصدر من الاسلام من انه اذا تبنی الرجل ولد غیره اجریت احکام البنوة علیه وقد تبنی رسول الله صلی الله علیه وسلم قبل البعثة زید بن حارثة (روح ج ۲۱ ص ۱۴۶) څنگه چه دَ چا ځوئے بیولو سره هغه ځوئے نهٔ جوړیږي دا شان تش دَ ژبے دعوے سره باطل معبودان هم شفیع، نافع او ضار نهٔ جوړیږي۔

ــڤــه ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ الخ دا ستاسو دَ خلو خبرے دي حقیقت او نفس الامر سره دَ دے هیڅ تعلق نشته۔ الله تعالیٰ دَ داسے بے سر او خپوړ بے حقیقت خبرو اجازت نهٔ ورکوي۔ هغه خو حق بیانوي او سمه لار ښائي دَ دے وجے نه دَ ظهار او متبنی دَپاره کښې الله تعالیٰ حق خبره ښکاره کړه او دِ دے باره کښې ئے چه کومه سمه لار او منصفانه طریقه ده هغه ئے واضحه کړه۔

ــله اُدْعُوْهُمْ الخ څوک چه به ئے متبنیٰ کړی ځولے وو هغه به ئے تش د
ځلے وئیلے شوی پلار طرف ته منسوب کوؤ او راز به ئے هغهٔ ته کوؤ. مثلاً
زید بن محمد، سالم بن حذیفه، عامر بن خطاب وغیره حال دا دے
چه د دے دریوارو نسبی پلار بل وو. وے فرمائیل دوی خپل اصلی
پلارانو ته منسوب کوئ او رابلئ ځکه چه د الله په نزد هم دا طریقه
د عدل او رښتیا سره مناسب ده او که چرے تاسو ته د هغوئ پلاران
معلوم نه وی نو هغوئ ستاسو دینی رونړه دی هغوئ ته خپل رونړه
وایئ او رابلئ. غلطئ سره چه څه کېښ کوم څه کیدل هغه معاف دی
اوس په راتلونکی وخت کښ د حکم واضح کیدلو نه روستو که چرے
هغوئ د خپلو پلارانو نه علاوه تش د ځلے وئیلے شوو پلارانو ته منسوب
کوئ نو دا به ډیر لوئے جرم او گناه وی.

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ
نبی سره تعلق دے ـله د ایمان والو د خپلو ځانو نه زیات

وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ
او بیبیانے د هغهٔ میندے د هغوئ دی ـلے او د رشتے والا ـلہ تعلق لری دیو

اَوْلٰی بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ
بل سره په حکم د الله کښ زیات د ټولو مؤمنانو

وَالْمُهٰجِرِیْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤی اَوْلِیٰٓئِكُمْ
او هجرت کوونکو نه لیکن دا چه کول او غواړئ ـلہ د خپلو دوستانو سره

مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝۶
احسان دا دی په کتاب کښ لیکلے شوی ـلے ـلہ

وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِیّٖنَ مِیْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ
او کله چه واخستو موږ ـلله د نبیانو نه اقرار د هغوئ او ستا نه

وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَعِیْسَی
او د نوح نه او د ابراهیم نه او د موسیٰ نه او د عیسیٰ

ابۡنِ مَرۡيَمَ ۖ وَاَخَذۡنَا مِنۡهُمۡ مِّيۡثَاقًا
عمویٰ د مریم نه او واخستلو مونږ د هغوئ نه اقرار
غَلِيۡظًا ۙ﴿۷﴾ لِّيَسۡـَٔلَ الصّٰدِقِيۡنَ عَنۡ صِدۡقِهِمۡ ۚ
ټینګ ۲۲ ـ دے د پاره چه تپوس اوکړی الله د رښتینو نه د رښتیاؤ د هغوئ
وَاَعَدَّ لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿۸﴾ يٰۤاَيُّهَا
او تیار کړے دے الله منکرینو د پاره عذاب دردناک ۲۳ ـ اے
الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ
مؤمنانو یاد کړئ هله احسان د الله
عَلَيۡكُمۡ اِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُوۡدٌ فَاَرۡسَلۡنَا
په خپلو ځانونو باندے کله چه راغلل په تاسو باندے فوجونه بیا مونږ اولیږله
عَلَيۡهِمۡ رِيۡحًا وَّجُنُوۡدًا لَّمۡ تَرَوۡهَا ؕ وَ
په هغوئ باندے هوا او هغه فوجونه چه تاسو نهٔ وو لیدلے او
كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرًا ۚ﴿۹﴾
دے الله کوم څه چه تاسو کوئ د هغے لیدونکے ۲۴ ـ

نکات ۱ـ اول حکم مؤمنانو د پاره ۱۲ ـ ۲ـ اول خطاب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ۱۲ ـ ۳ـ دویم حکم مؤمنانو ته ۱۲ ـ

موضح قرآن ف نبی د الله نائب (رسول) دے خپل ځان مال کښ ځموږ دومره تصرّف نهٔ چلیږی څومره چه د نبی تصرّف په مونږ کښ چلیږی خپل ځان اور ته اچول جائز نهٔ دی او که چرے نبی حکم اوکړی نو بیا فرض کیږی. او د هغهٔ بیبیانے د ټول اُمت میانه ے په حرمت او په پرده کښ دی نبی علیه السلام سره چه چا هجرت اوکړو وطن ئے پریښودو. د خپلو رونړو او رشته دارانو او دوستانو نه لرے وتل نبی علیه السلام د هغوئ خپل مینځ کښ ورورولی قائم کړه دوه دوه یو مهاجر او یو انصاری ئے رونړه اوګرځول بیا روستو د هغوئ د رشتے نه مسلمانان شول نو

وے فرمائیل چه ګ دے مؤاخات (رورولئ) ته او خپلولی مقدم دہ میراث په رشته او خپلولئ دے او دا شان تور حکمونه۔ لیکن احسان او نیکئ ګ هغوئ سره هم کوئ دا حکم په کتاب کښ یعنی په قرآن کښ همیشه جاری دے یا به په تورات کښ هم دا حکم وی۔
ف۲ څکښ ئے اُوفرمائیل چه پیغمبر په ټولو خلقو باندے تصرّف لری ګ هغوئ ګ خپلو ځانو نه زیات دلته ئے اُوفرمائیل چه دا درې چه نبیا نو ته ملاؤ شوه ځکه چه ګ دوئ محنت او ذمه واری هم ګ ټولو نه زیاته ده ګ ټولو خلقو سره مقابله کول او ګ هیچا نه ویره او اُمید نهٔ ساتل دا پنځه پیغمبران (چه نومونه ئے واخستلے شو) دا اُولوالعزم پیغمبران دی ګ دوئ ګ هدایت اثر ډیر وخت پورے پاتے شو ګ زرګونو کلونو پورے او ترڅو پورے چه دنیا آباده وی ګ دوئ نه اول نوم ئے ځموږ ګ پیغمبر صلی الله علیه وسلم واخستو۔ ف۳ یعنی ګ دوئ په ژبه ئے خپل حکم مخلوق ته اُورسولو او بیا به ګ هر یو نه تپوس کوی او منکرینو ته به سزا ورکړی۔ ف۴ ګ هجرت په څلورم (او پنځم) کال یهودیان بنی نظیر ګ مدینے منورے نه ویستلے شوی وو په سورۃ حشر کښ به راشی دوئ په هر قوم کښ اوګرځیدل قریش او فزاره او غطفان او بنی قریظه چه مدینے سره نژدے اُوسیدل ټول ئے جمع کړل او په نبی علیه السلام باندے ئے حملے کولو ګ پاره راوستل۔ دولس زره لښکرئے تیار کړے وو مسلمانان لږ وو چه تعداد ئے درے زره وو ګ مدینے نه بهر ئے پړاؤ واچولو او ګ مدینے نه ګیرچاپیره ئے خندق اُوکنستلو۔ کله چه فوجونه راغلل ګ لرے لرے نه جنګ کولو ګ پاره تقریبًا یوه میاشت په کښ تیره شوه۔ بیا یوه شپه الله پاک تیزه سیلئ را اُولیږله ګ کافرانو اُورونه ئے مړه کړل اُوږی پاتے شول او خیمے ئے راپریوتلے۔ اسونه (ځاروی) ئے خلاص شول پرې رسئ ئے اُوشلولے ټول لښکر برباد شو ناچاره اونامراد لاړل۔ دے جنګ ته جنګِ احزاب وائی او جنګ خندق هم ورته وائی۔ ګ یخنئ موسم وو ګ غلے کمے او تنګی وه جنګ کول او خندق کنستل او ګیرچاپیره ټول مخالف وو دے حالاتو کښ منافقانو پټے ګ زړهٔ خبرے ښکاره کولے او مؤمنان ثابت قدم پاتے شول۔ نبی علیه السلام اُوفرمائیل ګ دینه روستو به موږ په کافرانو حمله کوو کافران به په موږ حمله نهٔ کوی هم هغه شان اُوشوه۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ګ نکاح په حرمت کښ ۱۲۔ ف۲ یعنی صله رحمی واجب ده او دا هجرت او اسلام په

وجه میراث ورله منسوخ شول په قرابت او صله رحمئ سره.

ف۳ مترجم وائی کافرانو په غزوهٔ خندق کښې په مدینه باندے حمله اوکړه او نبی علیه السلام خپلو ملګرو سره په خندق کښې خپل تحفظ او بچاؤ اوکړو او د منافقانو نه د نفاق خبرے ښکاره شوے مسلمانانو د استقامت نه کار واخستو او آخر فتح اسلام حاصل کړه الله تعالیٰ په هغوئ (منافقانو کافرانو) بد وئیل او د دوئ مدحه او صفت او په دوئ باندے احسان کول نازل کړل والله اعلم.

تفسیر ۱ اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی الخ دا مؤمنانو سره اول خطاب دے. د پیغمبر علیه السلام ایمان والو باندے د خپل ځانونو نه هم زیات حق دے. د دے وجه نه اے د ایمان والو! پیغمبر علیه السلام د جاهلیت رسم مات کړے دے اوس به کافران او منافقان ستاسو مخالفت کوی تاسو د نبی علیه السلام ملګرتیا اوکړئ او د ضرورت په وخت خپل ځانونه هم په هغوئ قربان کړئ او د هغهٔ بیبیانے د خپلو میاندو پشان قابل حرمت او تعظیم اوګڼرئ که چرے دشمن د هغوئ په عزت حمله اوکړی نو د هغوئ عزت او آبرو د حفاظت د پاره خپل ځانونه او وژنئ ازواج مطهرات په عزت او احترام او د نکاح په حرمت کښې د میاندو په حکم کښې دی. باقی په میراث او پردهٔ کولو کښې د اجنبیات پشان حکم لری. ای منزلات منزلة الامهات فی التحریم واستحقاق التعظیم واما فیما عدا ذلک فهن کالاجنبیات (ابوالسعود ج ۷ ص۱۸۲).

۲ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ الخ د اسلام په ابتداء کښې د دینی رورولئ په وجه باندے وراثت جاری وو او مسلمانانو به د دینی رورولئ په وجه معاهده کوله او د یو بل وارثان به کرځیدل دا شان هجرت هم د وراثت په بناء وه د یو غیر مهاجر مسلمان او مهاجر مسلمان مینځ کښې وراثت نه جاری کیده د یو اقرب (زیات نزدے) غیر مهاجر په موجودګئ کښې به اَبْعَدُ (لری) مهاجر وارث جوړیده. د دے آیت سره دا دواړه احکام منسوخ شول او صرف د قرابت په بناء باندے وراثت مقرر کړے شو. کَانَ الْمُسْلِمُوْنَ یتوارثون بالهجرة وقیل اخی رسول الله صلی الله علیه وسلم بین الناس فکان یؤاخی بین الرجلین فاذا مات احدهما ورثه الاخر دون عصبة حتی نزلت واولوا الارحام الخ (خازن ج ۵ ص۱۹۲) فی کتاب الله ای فیما فرض الله او من المؤمنین الخ داَوْلٰی صله ده یعنی رشته دار په وراثت کښې د مؤمنانو او مهاجرینو نه زیات حقدار دی. دینه دا هم معلومه شوه چه ازواج مطهرات په حرمت نکاح کښې د میاندو په حکم کښې دی نه چه د میراث په احکامو کښې ځکه چه د وراثت بناء قرابت دے.

۳ اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْآ الخ اَنْ تَفْعَلُوْآ په تاویل د مصدر سره مبتداء ده او د

دے خبر جائز محذوف دے ای الا فعلکم معروفا ای احسانا جائز الخ دَ معروف نه مراد وصیت دے او د اولیاء نه مؤمنان او مهاجرین مراد دی دے کښ ئے دَ اجنبی مؤمنانو او مهاجرینو دَ پاره دَ وصیت کولو اجازت ورکړ اراد بالمعروف الوصیة وذلک ان الله لما نسخ التوارث بالحلف والهجرة اباح ان یوصی الرجل لمن یتولاه بما احب من ثلثه (معالم ص۱۹۲ ج۵)

ع۱۴ وَاِذْ اَخَذْنَا الخ دا نبی علیه السلام سره اول خطاب دے دَ ټولو نبیانو نه عموماً او ستا سو نه او دَ نوح او ابراهیم او موسٰی او عیسٰی علیهم السلام نه خصوصاً مونږ دَ تبلیغ رسالت او دعوت الی الحق ډیره کلکه او مضبوطه وعده اخستے وه۔ مونږ دَ ټولو نبیانو نه دا مؤکد عهد بالایمان اخستے وو چه دَ تبلیغ رسالت فریضه به کما حقهٗ ادا کوئ او دَ حق په بیانولو کښ به دَ نرمئ او سستئ نه کار نهٔ اخلئ۔ دَ دے وجے نه اوس تاسو دَ نورو احکامو سره دَ جاهلیت دَ رسمونو ختمولو کښ چه دَ هیڅ قسم رواداری (نرمئ) او سستیا نه کار وانهٔ خلئ او دَ منافقانو سخت مخالفت باوجود دَ رسالت په رسولو او دَ دعوت الی الحق فریضه سرته رسولو کښ لږه شان نرمی هم اختیار نهٔ کړئ۔ المیثاق الغلیظ الیمین بالله تعالٰی فیکون بعد ما اخذ الله سبحانه من النبیین المیثاق بتبلیغ الرسالة والدعوة الی الحق اکد بالیمین بالله تعالٰی علی الوفاء بما حملوا الخ (روح ج۲۱ ص۱۵۱) لِيَسْئَلَ الصّٰدِقِيْنَ الخ دا دَ اَخَذْنَا سره متعلق دے او دے کښ دَ اخذ میثاق علت بیان شوے دے۔ اَلصّٰدِقِيْنَ نه انبیاء علیهم السلام مراد دی دے دَ پاره چه دَ قیامت په ورځ الله تعالٰی دَ نبیانو نه تپوس اوکړی چه دَ هغوئ نه دَ تبلیغ حق کوم عهد اخستلے شوے وو هغوئ پوره کړے دے یا نهٔ دے۔ دے دَ پاره چه په محشر کښ دَ نبیانو صداقت واضحه شی۔ او کومو خلقو چه دَ انبیاء علیهم السلام دعوت اونهٔ منلو هغوئ دَ پاره دردناک عذاب تیار دے۔

ع۱۵ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا الخ دا مؤمنانو ته دویم حکم دے اے دَ ایمان والو، پیغمبر علیه السلام دَ جاهلیت رسم مات کړیدے۔ کافران او منافقان ستاسو مخالفت کوی تاسو ځمونږ دَ پیغمبر علیه السلام ملګرتیا اوکړئ او دَ کافرانو او منافقانو دَ مخالفت نه مهٔ ویریږئ۔ زهٔ ستاسو ناصر او حامی یم ځکه چه دَ اسبابو دَ نهٔ موافقت باوجود په غزوهٔ احزاب کښ ما ستاسو مدد اوکړو۔ غزوهٔ احزاب ته غزوهٔ خندق هم وئیلے شی۔ څلورم یا پنځم سن هجری کښ دَ عربو مشرکان او یهودیان یو شول فیصله ئے اوکړه چه دَ عربو دَ ټولو مشهورو قبیلو نه دِ یو

عظیم الشان لښکر تیار کړے شي او په مدینه دِ حمله اُوکړے شي او مسلمانان دِ هیشه دَ پاره ختم کړے شي. نو دَ مختلفو قبائیلو خواتان دَ خپلو خپلو سردارانو په کمان کښ دَ مدینے طرف ته روان شول دَ قریشو قائد سفیان بن حرب دَ بنو اسد طلیحه، دَ غطفان عُیینه، دَ بنو عامر عامر بن طفیل، دَ بنو سلیم ابوالاعور سلمی، دَ بنو نضیر حیی بن اخطب وغیره او دَ بنو قریظه کعب بن اسد وو. دَ دوئی مجموعی تعداد دَ لسو او نیمو لسو زرو وو کښ وو. کله چه نبی علیه السلام ته دَ هغوئی دَ روانیدو علم اُوشو نو نبی علیه السلام دَ سلمان فارسی په مشوره باندے دَ مدینے منوره ته گیرچاپیره دَ خندق کنستلو کار شروع کړو چه دَ مشرکانو دَ فوج رارسیدلو ته مخکښ مکمل شو. دَ مسلمانانو شمیر صرف درے زره وو، دواړه لښکرے سره مخامخ شوے مینځ کښ خندق حائل دے حالاتو کښ تقریباً یوه میاشت تیره شوه. دے دوران کښ دَ کاترو ویشتلو او غشو ویشتلو نه بغیر باقاعده جنگ اُونه شو سیوا دَ څو انفرادی انښتو نه مشرکانو دَ څلورو واړو طرفونو نه محاصره کړے وه او هر طرف ته خوف و هراس، ویره خوره شوه او منافقانو هم خپل قول او فعل سره په مسلمانانو کښ ناامیدئ او بے اعتمادئ فضاء پیدا کولو پوره پوره کوشش اُوکړو. دے حالاتو کښ الله تعالیٰ دَ مدد دَ پاره دَ فرشتو فوجونه رااُولیږل او ورسره ئے تیزه سیلئ او هوا هم رااُولیږله چه دَ هغوئی دَ خیمو میخونه اُوتل رسئ ئے اُوشلیدلے. اسونه اُوتړیدل اُوتښتیدل دَ هغوئی سترگے دَ شکونه ډکے شوے او دَ هغوئی په زړونو داسے رعب طاری شو چه دَ مشرکانو فوجونه تتر بتر (خوارهٔ واره) شول او شکست ئے اُوخوړو په تیښته لاړل. اُذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ، دلته دَ الله دَ انعام نه په غزوهٔ خندق کښ فتح او نصرت مراد دے چه الله تعالیٰ یهودیانو او مشرکانو په ډیرو لویو فوجونو باندے ورکړه.

إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ

کله چه راغلل په تاسو باندے لخوا دَ پاسه طرف نه او دَ لاندے نه

مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ

او کله چه پړے لے (کږے) شوے سترگے او اُورسیدل

الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ
زړونه مرئ ته اوګمانونه کول تاسو په الله تعالیٰ
الظُّنُونَا ۝۱۰ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ
قسم قسم ګمانونه ﺩ. دغه وخت وو ازمائیلي شول ګله مؤمنان
وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا ۝۱۱ وَإِذْ يَقُولُ
او وخوزولے شول په خوزولو سخت سره . او کله چه وئیل
الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ
منافقانو ګله او د چا په زړونو کښ
مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ
چه بیماري وه کومه وعده چه کړے وه څمونږ سره الله او رسول د هغهٔ
إِلَّا غُرُورًا ۝۱۲ وَإِذْ قَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْهُمْ
نحلیه دهوکه وه ﺩ. او کله چه وئیل یو جماعت د دوئ نه
يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا
اے د یثرب والؤ ﺩ نشته ځائے دا ستو ګنے ستاسو کیاره تو بیرته (واپس) لاړشئ
وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ
او اجازت اوغوښتلو یوے ډلے د دوئ د نبي نه ګله وے وئیل
إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۛ
څمونږ کورونه خالي دي او هغه خالي نهٔ دي
إِنْ يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ۝۱۳ وَلَوْ دُخِلَتْ
د دوئ هیڅ غرض نشته لیکن تیښته کول ﺩ. او که چرے څوک ننباسه ته دننه راشي

منع عن ضعف النافقین

عَلَيْهِمْ مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ

دوئ ته د اطراف د مدینې نه لله بیا د دوئ نه اُوغوښتلې شي دین پریښودل

لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾

نو اُوبه ئې مني او ایسار تیا به اُونه کړي لیکن لږه وخت

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ

او کړے ئې وو اقرار د الله سره مخکښ

لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا ﴿١٥﴾

چه نۀ به کړځوي شا ګانے لله او د اقرار د الله تپوس به کیږي ف۴

موضح قرآن

ف۱ د لا ندے نه او د پاسه نه یعنی د مدینې شرقي طرف نه چه اُوچت دے او د غربي طرف نه چه لاندے دے اوسترګے بدلے اوکږے شوے یعني شکلونه بدل شول د دوستئ او خپلوئ دعوی کوونکو سترګے پټولے او پټیدل به او زړونه ئې چنغړک (مرئ) ته د ډیرے ویرے نه لړزیدل او قسم قسم ګمانونه به ئې کول مسلمانانو به وئیل چه داګل نو هم زیات ازمائش او امتحان راغلے دے (کتلے به شي چه څوک راپیښیږي) او د کمزوری ایمان والؤ خو ګمان کوؤ چه د دے پیښې نه اُوس مونږ ژوندي وتل سخت او مشکل دي. ف۲ مونو منافقانو وئیل چه پیغمبر وائي چه زما دین به مشرق او مغرب ته رسیږي حال دا دے چه اُوس مسلمانان د اُودس نوی کولو د پاره د خپلو ځایونو او مورچو نه نشي وتلے. مسلمانانو ته پکار ده چه اُوس هم د نا اُمیدئ په حالت کښ د بے ایمانئ خبرے اُونۀ کړي. ف۳ یثرب د مدینے نوم وو. یعني ټول عرب مونږ دشمنان شول تو مونږ د پاره د اُوسیدلو ځائے چرته دے. د دے لښکر نه جُدا شئ او نبي علیه السلام د اسلامي لښکر مجاهدینو سره بهر ولاړ وو په ښار کښ ئے او د ښار په مضبوط او محکم او محفوظ انګړ تو ر ما مونږ کولو او محکم کولو او په هغے کښ د ښځو او ماشومانو په ځائے کولو کښ مشغول وو منافقانو دا بهانے شروع کړے چه مونږ کورونه خالي دي (څوک سړي په کښ نشته) او په داګه کښ پراته دي او دغه خبره

دروغ وه. ف۵ د جنګ احد نه روستو ئے دا اقرار کړے وو چه مونږ به بیا داسے کوم حرکت نه کوو.

فتح الرحمٰن ف۱ د کلام حاصل دا دے چه په جهاد کښ توقف کوی او که چرے جنګ په یو نفسانی مقصد مه کښ وی نو توقف نه کوی.

تفسیر ۱۲ اِذْ جَآءُوْكُمْ الخ دا د اذجاءتکم نه بدل دے. د فَوْق نه د مشرق جانب مراد دے او د اَسْفَل نه د مغرب او جنوب جانب مراد دے یا دا د څلورو واړو طرفونو نه کنایه ده یعنی د کافرانو فوجونه د څلورو واړو طرفونو نه راورسیدل او هغوئ د هر طرف نه د مدینے منورے محاصره اوکړه وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ د فوجونو د کثرت په وجه سره سترګے سترګے پړاسے او بے ځایه شوے او د سختئ ویرے په وجه ستاسو زړونه خلے ته راغلل. وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا. خطاب مخلص مؤمنانو ته دے. باللّٰه ای فی حق اللّٰه. د مسلمانانو شمیر د دشمن په مقابله کښ ډیر کم وو او د ظاهری دشمن فوجونو مسلمانان د څلورو واړو طرفونو نه محاصره کړے وو او په ظاهره د فتح کوم صورت په نظر نه راتللو د دے وجے نه د بشریت په تقاضا د مسلمانانو په زړونو کښ مختلف خیالات راپیدا کیدل شروع شول. د څنو خیال وو چه شاید نن مونږ ته فتح رانکړے شی. د څنو خیال وو چه فتح به څمونږ وی. او د څنو مسلمانانو په زړونو کښ دا خیال هم راغلے چه نن به کافران په مدینه غلبه حاصلوی لیکن بالآخر اللّٰه تعالیٰ به مسلمانانو ته په هغوئ باندے غلبه ورکوی. وغیر ذلك من الروح وغیره. یا دا خطاب هغه ټولو خلقو ته دے چا چه علی الاطلاق د ایمان اظهار کوو. خواه مخلص وو خواه نفاق سره وو. داشان به دا خطاب مخلصین او منافقین ټولو ته شامل وی او د ظُنُوْن نه به مختلف قسم ګمانونه مراد وی. مخلصینو دا ګمان کوؤ چه د اللّٰه تعالیٰ وعده رښتونے ده او یقیناً به څمونږ فتح وی. لکه چه د مخلصینو باره کښ د اللّٰه تعالیٰ ارشاد دے. قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وصدق اللّٰه ورسوله وما زادهم الا ایمانا وتسلیما او د منافقانو ګمان وؤ چه د نصرت وعده دروغ ده او نن به د مسلمانانو نوم او نشان د دُنیا نه ورکیږی. لکه چه د منافقانو باره کښ ئے اوفرمائیل واذ یقول المنافقون والذین فی قلوبهم مرض ما وعدنا اللّٰه ورسوله الا غرورا. قال الحسن ظن المنافقون ان المسلمین یستأصلون وظن المؤمنون انهم ینصرون (قرطبی ج ۱۴ ص۱۴۵) وکذا فی الروح وغیره.

۱۳ هُنَالِكَ الخ دے موقع باندے مسلمانان په ډیر سخت ازمائش کښ

واچولے شول او د ویرے ویرے نه د هغوئ زړونه اوخوزولے شو. مخلص مؤمنانو د سختے ویرے او پریشانئ باوجود هم د ثابت قدمئ مظاهره اوکړه د هغوئ په ایمان او یقین او وعده خداوندی باندے اطمینان کښ د زړے برابر فرق هم رانغلے حال دادے چه منافقانو د الله پاره کښ قسم قسم بد گمانونه اوکړل او د خپل نفاق راز ئے په ډاګه باندے سرګنده کړو.

۵۸ وَإِذْ يَقُولُ الخ دا په إِذْ زَاغَتْ باندے معطوف دے (روح) وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ نه منافقان مراد دی او عطف د تغایر صفت په وجه دے جوړان یکون المراد بهم المنافقين انفسهم والعطف لتغائر الوصف (روح ج ۲۱ ص ۱۵۸) په غزوهٔ خندق کښ نبی علیه السلام د یو کانړی ماتولو د پاره په هغهٔ گوذار اوکړو نو د هغے نه د بریښنا په شان رڼا او چمک ظاهر شو. دغه وخت نبی علیه السلام ټولو اصحابو ته د فارس او د روم، د یمن او حبشه د فتح خوشخبری ورکړه. دا خبره منافقانو هم واوریدله نو د استهزاء او ټوقو په طور ئے وئیل شروع کړل محمد (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته د قیصر او د کسری په خزانو باندے د قابض کیدلو خبر راکوی او ددن محمونږ حالت دادے چه مونږ د قضائے حاجت د پاره هم بهر ته نهٔ شو وتلے. د دے وجے نه دا هسے هوائی او د دروغو وعدے دی. دے ایت کښ د منافقانو د دے شرپوړ ته گوته نیکے ویناً ذکر دے دے خبرو ته د منافقانو غرض دا وو چه مسلمانان بزدله او بدله شی او حوصلے ئے ماتے شی. وذلك ان طعمة بن ابيرق ومعتب بن قشير وجماعة نحوا من سبعين رجلا قالوا يوم الخندق كيف يعدنا كنوز كسرى وقيصر ولا يستطيع احدنا ان يتبرز (قرطبی ج ۱۴ ص ۱۴۷) غُرُورًا ای باطلا من القول (قرطبی) یعنی دا وعده (عیاذاً بالله) ټوله دروغ ده. قال الشيخ رحمه الله غرورا ای وعد اصحاب غرور ای كذب.

۵۹ وَإِذْ قَالَتْ الخ دے کښ د منافقانو د یوبل د شرارت ذکر دے. اهل يثرب نه د مدینے ټول مسلمانان مراد دی. منافقانو خپلو ټولو پټو شرارتونو سره په مسلمانانو کښ د بزدلئ فضاء پیدا کولو کوشش کولو. هغوئ به مسلمانانو ته وئیلے اوس ستاسو د پاره د مشرکانو د دے فوجونو په مقابله کښ پاتے کیدل او خپل ځان بچ کول مشکل او ناممکن دی د دے وجے نه اوس ایمان پریږدئ خپل مخکنی دین ته واپس راشئ یا د هغوئ مطلب دا وو چه د مشرکانو مقابله کښ ستاسو په ځائے پاتے کیدل ناممکن دی د دے وجے نه خپلو کورونو ته واپس لاړشئ. دے سره د منافقانو مقصد دا وو چه مسلمانان میدان پریږدی او تیښته

اُوکړی. لامقام لکم فی حومة القتال والممانعة فارجعوا الی بیوتکم ومنازلکم امروهم بالهرب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم وقیل فارجعوا الی دینکم الاول واسلموه الی اعدائه (بحر ج ۷ ص۲۱۸).

۲۰ وَیَسْتَاْذِنُ الخ دَ منافقانو یوے ډلے دَ دروغو بهانو په ذریعه دَ نبی علیه السلام نه کورونو ته دَ واپس تللو اجازت اخستلو. منافقانو به نبی علیه السلام ته وئیل چه ځمونږ کورونو ته خطره ده او دَ هغے دَ حفاظت هیڅ سامان نشته دَ ماشومانو او بوډاګانو نه علاوه په هغے کښ هیڅوک نشته هسے نه چه دشمن موقع بیا مومی نقصان ورته اُورسوی. حال دا دے چه دَ هغوئ کورونو ته هیڅ خطره نشته ځکه چه نبی علیه السلام ټول حفاظتی تدبیرونه اختیار کړی وو. هغوئ صرف دَ جهاد او دَ مسلمانانو دَ امداد نه تیښته غوښتله.

۲۱ وَلَوْ دُخِلَتْ الخ، دا دَ منافقانو دَ نفاق او دَ باطنی فساد یو ډیر غوره مثال بیانول دی. دَ دُخِلَتْ نائب فاعل دَ بیوت ضمیر دے دَ اَقطارها ضمیر دَ مدینے نه کنایه دے. اَلْفِتْنَةَ نه مراد قتال دے. فرض کړئ که چرے دا منافقان په خپلو کورونو کښ موجود وی او دَ مدینے دَ ټولو واړو طرفونو نه فسادی خلق دَ دوئ کورونو ته داخل شی بیا دَ پیغمبر علیه السلام نه علاوه بل کوم یو سړے هغوئ ته دَ فساد او فتنے په خاطر دَ جنګ دعوت ورکړی نو خپل کورونه به دا شان په خطره کښ پریږدی فوراً به دَ فتنے په اُور کښ ورګډ شی او لږ شان فکر او سوچ به هم اُونکړی دَ دے وجے نه دوئ دَ کورونو خطره کښ کیښلو عذر خالص دَ جهاد او دَ اسلام دَ نصرت نه دَ ځان بچ کولو دپاره کوی. یا دَ فِتْنَةَ نه مراد شرک دَ او مطلب دا دے چه که چرته مشرکان دَ دوئ کورونو ته راننوځی او دوئ په شرک آماده کړی نو دا خلق به بلا توقف فوراً شرک شروع کړی او کفر به قبول کړی دا دَ دوئ دَ ایمان دَ کمزورئ حال دے (روح).

۲۲ وَلَقَدْ کَانُوْا الخ حال دا دے چه دا منافقان چه اُوس دَ تیښتے لاره تلاش کوی دَ الله سره ئے وعده کړیده چه په راتلونکی وخت کښ به هغوئ دَ جهاد دَ میدان نه هرګز نه تښتی او شا به نه ګرځوی او عهد معاهده ماتول خو ناقابل مؤاخذه جرم دے. دا هغه منافقان وو چه دَ بدر په جنګ کښ نه وو شریک شوی لیکن چه کله ئے په جنګ بدر کښ دَ مسلمانانو شاندار فتح او کامیابی اُولیده نو پښیمانه شول او دَ نبی علیه السلام سره ئے وعده اُوکړه چه اُوس که چرے الله مونږ ته کله هم دَ جهاد موقع راکړه نو مونږ به هیڅکله هم نه روستو کیږو

او د جهاد د میدان نه به تیښته نه کوو. لیکن اوس په غزوهٔ خندق کښ د تیښتې کوشش کوي او بهانې جوړوي قال قتادة وذلك انهم غابوا عن بدر ورأوا ما اعطى الله اهل بدر من الكرامة والنصر فقالوا لئن اشهدنا الله قتالا لنقاتلن (قرطبي ج ۱۴ ص ۱۵۱).

قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ
ته اووایه په کار به رانهٔ شي ستاسو دا تیښته ﷺ که چرې تبښتئ

مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ
د مرګ نه یا د قتل نه او بیا به هم فائده بیا نهٔ موسې

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۶﴾ قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ
لیکن لږه موده. ته اووایه څوک دے ﷺ چه خلاصے درکړي تاسو ته

مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ
د الله نه که چرې اوغواړي په تاسو بانې بدي یا اوغواړي په تاسو بانې

رَحْمَةً ؕ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ
مهرباني او بیا به نهٔ موسي خپل ځان د پاره سیوا د الله نه

وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ
څوک دوست او نهٔ مدد ګار ﷺ. معلوم دي الله ته

الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ
څوک چه منع کوي ستاسو نه ﷺ او وائي خپلو رورو ته

هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾
راشئ موږ ته او جنګ ته نهٔ راځي لیکن کله ناکله.

اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖۚ فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ
بخیلان دي په تاسو ﷺ بیا چه کله راشي د ویرې وخت

رَاَیْتَهُمْ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ تَدُوْرُ اَعْیُنُهُمْ

نو ته به وینې هغوئ چه ګوری به تا ته چه اوړی را اوړی سترګې د دوئ

كَالَّذِیْ یُغْشٰی عَلَیْهِ مِنَ الْمَوْتِ

څکه چه راشی په چا بے هوشی د مرګ ٢٦ له

فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ

بیا چه کله ختم شی د ویرے وخت ضرر رسوی تاسو ته په ژبو

حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَی الْخَیْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَمْ

تیزو سره پریوځی په مال (د غنیمت) ، دغه خلقو را ئوړ

یُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَكَانَ

ایمان بیا ضائع کړل الله عملونه د هغوئ ، او دی

ذٰلِكَ عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرًا ⑲

دا په الله آسان ف۳

نکات :- سلے د قبیل د علقها تبنا وماء باردًا ۱۲۔ سلے زجره په منافقانو ۱۲۔

موضح قرآن | ف۱ یعنی د چا په قسمت کښ چه مرګ دے هغهٔ ته به خلاصے نهٔ وی کهٔ تیښته هم اوکړی او کهٔ چرے مرګ اوس مقدر نهٔ وی نو چه اوتښتئ څو مره موده به ژوندی یئ آخر مرګ را تلونکے دے۔ ف۲ یعنی د عربو د مخالفت نه څو تاسو ویریږئ کهٔ چرے الله حکم وکړی نو مسلمانان به تاسو مړهٔ کړی. ف۳ یعنی بد وخت کښ ستاسو نه ړنده کوی او د ویرے د وجے نه ئے روحونه ووځی او د فتح نه روستو بهادری ظاطی د تهولو نه زیاته او په غنیمت ورپریوځی او چرته چه د حبط اعمال ذکر دے نو فرمائیلی ئے دی دا په الله آسان دے یعنی د الله تعالیٰ حکمت ته نظر کولو سره او د هغهٔ عدل او احسان ته نظر کولو سره خو سړے په تعجب کښ پریوځی لیکن چه کله په حبط باندے راشو په هغه عمل کښ دا سے نقصان اونیسی چه هغے سره هغه عمل هیڅ نهٔ صحیح کیږی لکه د بے ایمان عمل چه ایمان ورله شرط دے۔

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی ستاسو په امداد کولو کښ ۱۲۔

تفسیر

۲۳ قل لن ینفعکم الفرار الخ دغه دَ تیښتې لاره لټونکو ته او وایه چه په تیښتنه سره تاسو دَ تقدیر الٰهی نه نشی بچ کیدلے مرګ یا قتل څه چه ستاسو په تقدیر کښ وی تاسو دَ هغې نه هیچرته هم نشئ تښتیدلے او که چرے دَ جهاد نه تیښته اوکړئ تاسو خپل ځانونه بچ هم کړل تاسو ته به دے بچاؤ سره صرف څو ورځے فائده وی همیشه دَ پاره مرګ نه نشئ بچ کیدلے. آخر به تاسو ته مرګ ضرور راځی نو دَ تیښتې فائده څه؟

۲۴ قل من الخ دے آیت کښ حذف دے دَ قبیلې دَ علفتها تبنا و ماء باردا په اصل کښ وو او من ذا الذی یمنع رحمة الله منکم ان اراد بکم رحمة (روح ج ۲۱ ص ۱۶۳) دے آیت کښ دَ اولنی آیت مضمون په نوی انداز کښ او لږ شان تفصیل سره بیان شویدے دَ الله تعالیٰ دَ قضا او تقدیر په وړاندے ۵ هیچا زور نهٔ چلیږی دَ الله دَ طرف نه ستاسو دَ پاره چه کوم تکلیف او مصیبت مقرر دے دَ هغې نه تاسو څوک هم نشی بچ کولے. او نه دَ الله دَ رحمت نه څوک تاسو محروم کولے شی. دَ الله نه سوا هیڅوک دَ چا کارساز او مددګار نشته چه دَ تکلیف او مصیبت نه څوک بچ کړی.

۲۵ قد یعلم الله الخ دا په منافقانو باندے زجر دے چه خلق به ئے دَ جهاد نه منع کول او دَ هغوئ همتونه به ئے کمزوری کول. اے منافقانو! الله تعالیٰ هغه خلق ښهٔ پیژنی چه ستاسو نه جهاد ته تلونکی دَ جهاد نه منع کوی او دَ خپلو منافقانو رونړو ته وائی چه موتیر طرف ته راشی او په خپلو کورونو کښ، باغونو کښ او دَ اونو په سورو کښ آرام سره کیناستئ. دے سخته ګرمئ کښ جنګ کولو سره خپل آرام ولے تباه کوئ او هغوئ پخپله هم ډیر کم او ډیر دَ مجبورئ په صورت کښ جهاد کښ شریکیږی. اشحة علیکم. او کله چه دَ مجبورئ په امر جهاد کښ شریکیږی نو دَ خپل جسم او جان او مال انتهائی بخل کوی. څهٔ مجال دے چه دَ دشمن سره مقابل شی او جنګ اوکړی او په خپل جسم باندے څهٔ تکلیف برداشت کړی او یو دیلا په جهاد کښ صرف. اشحة علیکم ای بانفسهم و ابدانهم (کبیر ج ۶ ص ۷۷۵) ای بخلاء علیکم بالنفقة والنصرة (روح ج ۲۱ ص ۱۶۳)

۲۶ فاذا جاء الخوف الخ بیا چه کله دَ دشمن له طرفه څه خطره لاحق وی نو دا سے ویریږی او ستا طرف ته ګوری لکه چه په چا باندے دَ مرګ سخته جاری وی. او کله چه ویره زائل شی نو دَ مال غنیمت په لالچ کښ تندئ او تیزئ سره ستاسو خلقو سره ژبے وهی. چې اموښږ ته هم راکړئ

ټول مال پخپله اخلئ تا سو خو څمونږ نه زيات حقدار نه يئ فتح خو څمونږ په امداد سره تا سو ته نصيب شويده وغيره وغيره. دے آيت کښې دَ منافقانو دَ انتهائي بزدلئ او دَ دنيا دَ حرص او آرزو ذکر شويدے اَلْخَيْرِ نه مراد دَ غنيمت مال دے اَشِحَّةً دَ سَلَقُوْا دَ فاعل نه حال دے. اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا الخ داخلق دَ سره ايمان نهٔ راوړی محض دَ ژبے اقرار هيڅ فائده نهٔ ورکوی. دَ دے وجه نه دَ دوی ټول اعمال ضائع دی او دَ هغے هيڅ اجر و ثواب نشته. وَكَانَ ذٰلِكَ الخ حضرت شيخ فرمائي اشاره دَ عذاب طرف ته ده چه دَ ما قبل احبط الله اعمالهم نه مفهوم دے يعنی الله دَ هغوئ ټول اعمال باطل او گرځول چه دَ هغے نتيجه عذاب دے او عذاب ورکول په الله هيڅ گران نهٔ دی.

يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ

گمان کوی چه دَ کافرانو ټله فوجونه نهٔ دی تللی او که چرے

يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ

راشی هغه فوجونه نو آرزو به کوی چه په څهٔ طريقه مونږ د تلے وے بهر

فِی الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ

کلو ته (دَ ښار نه) تپوس به ئے کولے دَ حالاتو ستاسو ف۱

وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲۰﴾ ع ۲ ۱۸

او که چرے وی تاسو سره جنگ نهٔ کوی ليکن لږ. ف۱

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ

ستاسو دَ پاره هم ځله زده کول (پکار) دی دَ رسول الله

اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ

طريقه هغه چا دَ پاره څوک چه اُميد لری دَ الله

وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿۲۱﴾ؕ

او دَ ورځے روستنئ (آخرت) او ياد وی الله تعالیٰ ډير زيات ف۲.

وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا

او کله چه اولیدل مسلمانانو فوجونه ۲۹ وے وئیل

هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ

دا هغه دی چه وعده کړیے وه مونږ سره الله او رسول د هغهٔ او رښتیا اوئیل

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا

الله او رسول د هغهٔ او نو زیات نه شو د هغوئ یقین

وَّتَسْلِيْمًا ﴿۲۲﴾ ؕ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ

او اطاعت کول ۳۰. په ایمان والو کښې ډیر سړی دی

صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ

چه رښتینی ئے کړه د کومے خبرے وعده چه ئے الله تعالیٰ سره کړے وه

فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ

بیا په هغوئ کښې ځنو پوره کړه خپله نذر رانه ۳۱. او ځنے د په هغوئ کښې چه

يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ ۙ لِّيَجْزِيَ

انتظار ئے کوی او بدله ئے نه کړه (وعده) یو ذره هم ۳۲. دے د پاره چه بدله ورکړی

اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ

الله تعالیٰ رښتینو ته لکه د رښتیا د هغوئ او عذاب ورکړی

الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ

منافقانو ته که چرے او غواړی یا توبه واچوی د هغوئ په زړونو باندے

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾ ۚ

بیشکه الله تعالیٰ دے بښونکے مهربان.

نکات په ۳۰ ترغیب اتباع د رسول الله ته ۱۲. ۳۱ لام عاقبت د پاره دے ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ یعنی د بزدلئ د وجې نه ئې یقین نه کیږی چه فوجونه واپس تللی دی او په خبرو کښ ستاسو خیرخواهي بیانوی او په جنګ کښ کار نه کوی ۱۲. ف۲ یعنی ر سول ته اوګوره ئې ډیر سختو کښ څنګه استقلال لری د ټولو نه زیات محنت او ویره خو په هغهٔ پریوځی. ف۳ وعده د الله داوه چه د کافرانو د لاس نه به تکلیف بیا مومی اخری غلبه به ستاسو وی او دا چه رسول الله علیه وسلم فرمائیلی وو چه اتهٔ، لس ورځو کښ به تاسو باندې فوجونه راځی. ف۴ وعده ئې پوره کړه یعنی په جهاد کښ ئې مخا تونه شهیدان کړل لکه د بدر او احد شهیدان. او انتظار ئې کولو یعنی نور اصحاب چه جهاد ته تیار وو د مرګ انتظار ئې کولو او رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه طلحه هم په هغوئ کښ دے چه خپله وعده ئې سرته اورسوله شهید شو (طلحه رض لا ژوندی وو چه دا ئې اوفرمائیل).

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د هر راتلونکی او تلونکی نه ۱۲.
ف۲ یعنی شهیدان شول ۱۲.

تفسیر

۲۴ یَحْسَبُوْنَ الخ دا د منافقانو انتهائی بزدلی ده مشرکانو او کافرانو فوجونه ناکام شول او واپس لاړل. لیکن منافقان د ویرې د وجې نه اوس هم دا خیال کوی چه فوجونه اوس هم په مورچو کښ دی نه دی تللی. ای هم من الجزع والدهشة لمزید جبنهم وخوفهم بحیث هزم الله تعالیٰ الاحزاب فرحلوا وهم یظنون انهم لم یرحلوا (روح ج ۲۱ ص۱۶۱) حضرت شیخ فرمائی یَحْسَبُوْنَ کښ ضمیر د معوقین او قائلین دواړو فریقو نه کنایه دے. وان یأت الاحزاب الخ اوکه چرې بالفرض د کافرانو فوجونه دوباره راشی نو هغوئ به آرزو کوی چه کاش هغوئ د مدینې نه بهر په کلو کښ وے او جهاد کښ د شریکیدلو نه بغیر ئې ستاسو خبرے او حالات د بهر نه پښتلے چه د مسلمانانو حالت څهٔ دے جنګ کښې او که بیلی؟ ولو کانوا فیکم الخ او که چرے دا خل هم هغوئ تاسو سره اوسیږی نو بیا به هم په جهاد کښ حصه نهٔ اخلی.

۲۵ لَقَدْ کَانَ الخ دے کښ د نبی علیه السلام منونکو ته ترغیب دے. نبی علیه السلام د خندق کنستلو او د کافرانو مقابله کښ چه د صبر او استقلال د کوم ثابت قدمئ بهترین عملی نمونه پیش کړیده مسلمانانو ته د هغې پیروی پکار ده. دلته ئې مخلصینو ته اوفرمائیل چه د بشریت په تقاضا د کافرانو د فوجونو ته ویریدلی وو. اُسْوَۃٌ حَسَنَۃٌ خصلة حسنة حقها ان یؤتسی بها کالثبات فی الحرب ومقاساة الشدائد (ابوالسعود

ج ۶ ص ۲۷۷)۔ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللهَ داد لګګم ته بدل دے یعنی کوم خلق چه د الله او د قیامت د ورځے ته ویریږی او الله په کثرت سره یادوی هغوئ د پاره د پیغمبر علیه السلام په ژوند کښ د اِتباع او اطاعت بهترین نمونه ده۔ دا ایت اګرچه د جهاد په معامله کښ د نبی علیه السلام د اُسوهٔ حسنه پیروئ کولو کښ نازل شوی دے لیکن د دے مفهوم عام دے۔ او د ژوند تولو شعبو او اړخونو باندے حاوی دے۔ د دے اعتبار سره دا ایت د شریعت ډیرلوئے اُصول بیانوی۔ والاية وان سيقت للاقتداء به عليه الصلوٰة والسلام فى امر الحرب من الثبات ونحوه فهى عامة فى كل افعاله صلى الله عليه وسلم اذا لم يعلم انها من خصوصياته (روح ج ۲۱ ص ۱۶۷) هذه الاية الكريمة اصل كبير فى التأسى برسول الله صلى الله عليه وسلم فى اقواله وافعاله واحواله ولهذا امر تبارك وتعالى الناس بالتاسى بالنبى صلى الله عليه وسلم يوم الاحزاب فى صبره ومصابرته و مرابطته ومجاهدته (ابن كثير ج ۳ ص ۴۷۴) ۲۹ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الخ د منافقانو نفاق د هغوئ بزدلی او د هغوئ د شرارتونو ذکر کولو نه روستو اوس د مخلصینو د اخلاص او ایثار او د هغوئ د ثابت قدمئ او استقلال ذکر کیږی۔ مخلصو مؤمنانو چه کله اُولیدل چه د کافرانو او مشرکانو فوجونه په مدینے باندے د حملے کولو د پاره راغلی دی نو هغوئ فوراً اُوئیل چه دا هغه ازمائښت دے چه د هغے خبر الله او د هغهٔ رسول ورکړے وو او هغه خبر رښتینی وو چه د هغے صداقت مونږ په سترګو اُولیدو او چه هغه فوجونه ئے اُولیدل نو د هغوئ ایمان او یقین نور هم مضبوط شو. ځکه چه د هغوئ یقین وو چه الله تعالیٰ به د دغه فوجونو په مقابله کښ د دوئ امداد کوی او د تسلیم او اطاعت جذبه نوره هم زیاته شوه۔ د دعدے نه مراد د بقرے دا ایت دے امحسبتم ان تدخلوا الجنة ولما ياتكم مثل الذين خلوا من قبلكم (قرطبی وروح) د دے ایت نه مسلمانانو معلومه کړے وه چه د الله تعالیٰ د طرفه په دوئ باندے سخت آزمائښت راتلونکے دے۔

۳۰ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ الخ ایمان والؤ کښ ځنی داسے خلق هم دی چه د الله سره ئے کومه وعده کړے وه هغه ئے پوره کړه دینه هغه مخلص مؤمنان مراد دی چه د سوءِ اتفاق نه جنګ بدر کښ نهٔ وو شریک شوی بیا روستو پښیمانه وو او د الله سره ئے وعده اُوکړه چه کهٔ چرے په آئنده کښ د جهاد موقع په لاس راغله نو هغوئ به پوره استقلال سره د دینے تر آخری ځاځکی پورے جنګیږی. لکه چه په جنګ اُحد او غزوهٔ خندق کښ دغه مخلصینو د پوره جان نثارئ او ځان قربانولو نه

کار واخستو. فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى الخ دغه مخلصینو خواهش دا وو چه هغوئ ته د الله په لاره کښې شهادت نصیب شي تو په هغوئ کښې ځنې خو دا سې وو چه د هغوئ خواهش پوره شوا و هغوئ په غزوه خندق کښې شهیدان شول او ځنې دا سې دي چه اوس په انتظار کښې دي لیکن د هغوئ په اخلاص او د ایثار په جذبه کښې یوذره فرق هم را نغې.

۳۱ لِیَجْزِیَ الخ حضرت شیخ او فرمائیل لام عاقبت د پاره دے یعنی عاقبت به داوي چه الله تعالیٰ به مخلصینوته د ایفاء عهد او ثابت قدمۍ جزاء ورکړي او که چرے هغوئ ته عذاب نه ورکول او غواړي نو هغوئ ته به د توبے توفیق ورکړي او د هغوئ توبه به قبوله کړي ځکه چه الله تعالیٰ دا سے مهربان دے چه څوک په ریښتیا توبه او باسي نو د هغه توبه قبلوي ای ان شاء ان یعذ بهم ای لم یوفقهم للتوبة وان لم یشأ ان یعذ بهم تاب علیهم قبل الموت (قرطبی ج ۱۴ ص ۱۶۱).

وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ

او واپس کړل الله تعالیٰ ۳۲ کافران د خپلے غصے نه ډک په لاس

يَنَالُوْا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ

را نغله هغوئ ته هیڅ کامیابي او خپل ځان واخستو الله د مسلمانانو

الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝٢٥

جنګ او دے الله تعالیٰ طاقتور غالب.

وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ

او را کوز کړل (الله) هغه څوک چه امداد ئے کړے وو د

اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ

اهل کتابو نه ۳۳ د قلعه کانو د هغوئ نه او وا ئے چولو

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ

په زړونو د هغوئ کښې ویره ډیر تاسو قتل کړل

وَتَأْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿۲۶﴾ وَاَوْرَثَكُمْ

او تاسو قیدي کړل ډیر وه. او ورکړي ئې دي تاسو ته

اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا

زمکې ددوئي او کورونه ددوئي او مالونه ددوئي او یوه زمکه

لَّمْ تَطَئُوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

چه په هغې نه دي اېښودلي تاسو خپل قدمونه او دے الله تعالی په ټول

ع ۳ ۱۹ شَیْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۷﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِیُّ قُلْ

هر څه کوونکے وه۲ وه۳ اے نبي ۳۳ ووایه

لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ

خپلو بیبیانو ته که چرے تاسو غواړئ ژوندن

الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ

د دُنیا او د دے ښائست نو راشئ څه فائده به اُورسوم تاسو ته

وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَاِنْ

او رخصت به درکړم تاسو په ښه طریقه رخصتولو سره او که چرے

كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ

تاسو غواړئ الله او رسول د هغه او کور

الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ

روستنے (د آخرت) نو الله تعالی تیار کړي ئې هغوئي دپاره څوک چه نیکي کوونکي دي

مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِیِّ

ستاسو نه ثواب لوئے وه۳. اے بیبیانو د نبي

مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

څوک چه اُوکړي ستاسو نه کار د بے حیائي ښکاره وه

يُضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۭ وَكَانَ
دوچنده شو دَ هغې عذاب ۳۳ دوچنده کیدل لوسره او دے
ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾
داکار په الله آسان۔

نکات: ۱ اول انعام ۱۲۔ ۲ دویم انعام ۱۲۔ ۳ دریم انعام ۱۲۔ ۴ څلورم انعام ۱۲۔ ۵ پنځم انعام ۱۲۔ ۶ دویم خطاب نبی علیه السلام ته ۱۲۔ ۷ اول خطاب دَ نبی علیه السلام بیبیانو ته ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ دا یهودو د بنی قریضه چه مدینے منوره سره نزدے اوسیدل دَ اول نه ئے نبی علیه السلام سره صلح لرله په دے جنګ احزاب کښ ئے خپله وعده ماته کړه دَ خپلے وعدے نه ئے مخالفت اوکړو نبی علیه السلام چه دَجنګ نه فارغ شو جبرائیل علیه السلام حکم راؤړو نبی علیه السلام دَ هغوئ محاصره اوکړه څلیرشت ورځے ئے محاصره کړی وو تنګ شول په اخره کښ ئے داخبره اومنله راضی شول چه دَ قلعه کانو نه بهر ته دَ ځو او حضرت سعد بن معاذ چه څمونږ په حق کښ څۀ فیصله کوی هغه منو نبی علیه السلام هم دَ هغوئ دا خبره قبوله کړه سعد دا حکم ورکړو چه ځوانان دِ او وژلے شی او ښځے او هلکان دِ غلامان اوکرځولے شی۔ دَ الله او دَ رسول خوښه هم داوه او دَ دوئ دَ وعدو ماتولو سزاء هم داوه۔ ف۲ دا زمکه کومه چه مدینے ته نزدے وه په لاس ورغله او نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مهاجرینو تقسیم کړه او دَ هغوئ دَ معاش ذریعه اوګرځیده او په انصارو دَ دوئ خرچه او بوج سپک شو او دَ بلے دویمے زمکے نه مراد دَ خیبر زمکه ده دوه کاله روستو هغه دَ یهودیا لاس ته ورغله هغې سره دَ نبی علیه السلام ټول صحابه آسوده او خوشحال شول۔ ف۳ دَ نبی علیه السلام بیبیانو اولیدل چه خلق آسوده شول حالت ئے ښۀ شو دے غوښتل چه مونږ دِ هم آسوده شو ښائی چه دَ ژوندون مسائیل څمونږ هم ښۀ شی څنو بیبیانو نبی علیه السلام سره خبرے اترے اوکړے۔ نبی علیه السلام قسم اوکړو چه یوه میاشت به کورته نۀ ځی۔ بیا دَ یوے میاشتے نه روستو دا ایت نازل شو۔ نبی علیه السلام کورته راغے او اول ئے حضرت عائشۃ ته

اُوئیل هغے دَ الله اَو دَ رسول مرضي غوره کړه داشان ټولو دَ نبي علیه السلام
مرضي اختیار کړه۔ دَ نبي علیه السلام په کورونوکښ به همیشه اختیاري
فقر او فاقه وه ځکه چه به راتلل سمدستي به هغه خرچ کیدل بیا به ئے
په قرض باندے خپل ژوند تیرولو او داسے چه کوم اُوفرمائیل چه ځوک
نیکي کوونکي دي هغوئ دَ پاره لوئے ثواب دے نو دَ نبي علیه السلام
ازواج مطهرات ټولے نیکے وے۔ والطیبٰت للطیبین۔ لیکن الله تعالی
صفا خوشخبري چا ته نۀ ورکوي چه بندګان بے خوف نشي او همیشه
دَ حُسنِ خاتمه کوشش او سعي اُوکړي او دَ خاتمے نه په ویره کښ اُوسي۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني بني قریضه ئے راکوزکړل ۱۲۔
ف۲ یعني خیبر ۱۲۔ ف۳ دَ نبي علیه السلام هغه
بیبیانے کومے چه نبي علیه السلام ته نزدے نۀ وے دَ دُنیا خائستے
طلب کولو الله تعالی هغوئ ته نصیحت اُوکړو او زور نه ئے ورکړه او دَ
معاشرت احکام ئے هغوئ ته نازل کړل او زینب رض دَ زید په عقد نکاح
کښ وه دَ هغوئ دواړو موافقت راتغے او په مزه مزه طلاق ته خبره
اُورسیده روستو دَ عدت تیریدو نه الله تعالی هغه دَ نبي علیه السلام په
ازواج طاهرات کښ داخل کړه۔ منافقانو دَ ډیلو ژبے پرانستلے چه دَ
خپل ځوئے ښځه ئے په نکاح کړه الله پاک دَ هغے په بیان کښ آیتونه
نازل کړل چه راپللے شوے ځوئے (متبنّٰی) دَ حقیقي نسبي ځوئے حکم نۀ لري۔
ف۴ مراد دلته پیغمبر ته تکلیف رسول دي په ژبه درازئ سره ۱۲۔

تفسیر: ۳۲ وَرَدَّ اللّٰهُ الخ دے کښ په غزوهٔ احزاب کښ دَ الله دَ طرفه
دَ مسلمانانو دَ فتح، کامیابئ او انعاماتو ځنې اوتري تفصیلي
ذکر دے دَ کوم ذکر چه فارسلنا علیهم ریحًا الخ کښ اجمالاً شوي دے۔
تفصیل لتتمة النعمة المشار الیها اجمالاً بقوله تعالی (فارسلنا علیهم ریحًا
وجنودا الم) (روح ج ۲۱ ص۱۷۱) دلته دَ پنځو انعاماتو ذکر شوے دے۔ اول
وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِیْنَ الخ الله تعالی دَ کافرانو فوجونه بغیر دَ حاصلولو دَ مقصود
نه شکست خوړ ده او دَ قهر وغضب په اور سوي او وریت شوي واپس
کړل چه په هغے سره مسلمانانو ته ډیره زیاته خوشحالي حاصل شوه لیکن
کافران او مشرکان په حسد او بُغض کښ وریت شول او حسرتونو او پښیمانتیا
سره ئے سرونه ښکته شول۔ دویم وَکَفَی اللّٰهُ الخ الله تعالی مؤمنان دَ قتال
او جنګ نه بچ کړل او دَ جنګ نه بغیر ئے کافرانو ته شکست ورکړه او داسے
حالات ئے پیدا کړل چه هغوئ میدان پریښودو په تیښته مجبور شول
الله تعالی خپلو ټولو ارادو پوره کولو باندے قادر او په هر څیز غالب دے

هغه چه څه اوغواړی هغه کولے شی - دریم کوم یهودیانو چه په غزوهٔ احزاب کښ د مشرکانو مدد کړے وو الله تعالیٰ په هغوئ باندے هم مسلمانانو ته غلبه ورکړه اوکله چه مسلمانانو د هغوئ د مضبوطو قلعه کانو محاصره اوکړه نو هغوئ مجبور شول د قلعه کانو نه راکوز شول.
مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ، د اَلَّذِیْنَ بیان دے او مِنْ صَیَاصِیْهِمْ د اَنْزَلَ سره متعلق دے. صَیَاصِیْ د صیصة جمع ده یعنی قلعه.
څلورم وَقَذَفَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الخ د یهودیانو په زړونو کښ الله تعالیٰ داسے رُعب واچولو چه هغوئ په راکوزیدلو باندے مجبور شول او الله ایمان والا په هغوئ باندے داسے مسلط کړل چه هغوئ یهودیانو سړی قتل کړل او د هغوئ ښځے او بچی ئے غلامان جوړ کړل.
پنځم الله د هغوئ زمکے د هغوئ کورونه او د هغوئ مالونه مسلمانانو ته ورکړل مالکان ئے اوګرځول او یوه داسے علاقه ئے هم هغوئ ته ورکړه چه په هغے باندے لا تر اوسه پورے هغوئ خپے هم نهٔ دی کیښودلے. دیته څنو د خیبر زمکه، څنو د حُنین زمکه او څنو د مکے زمکه مراد کړیده والله اعلم. غزوهٔ احزاب نه روستو نبی علیه السلامٔ مسلمانانو ته حکم ورکړو او د بنی قریظه د یهودیانو د قلعه کانو نه ئے محاصره اوکړه چا چه د مشرکانو مدد کړے وو. شل، پنځویشت ورځے محاصره جاری وه دے دوران کښ یهود مجبور شول او د هغوئ په زړونو کښ الله د مسلمانانو هیبت واچولو او هغوئ بخپله د قلعه کانو نه د بهر راتللو پیش کش اوکړو او د حضرت سعد بن معاذ رضی فیصله ئے قبوله کړه. حضرت سعد د اوس د قبیلے نه وو چه د بنی قریظه حلیف وو. حضرت سعد بن معاذ رضی فیصله اوکړه چه د دوئ سړی دِ قتل کړے شی او ښځے او ماشومان دِ غلامان کړے شی او د دوئ مالونه او املاک دِ مسلمانانو باندے تقسیم کړے شی نبی علیه السلامٔ د سعد بن معاذ رضی په فیصله باندے عمل اوکړو (روح وغیره) تر دے ځائے پورے د غزوهٔ خندق تفصیلات ذکر شول. دیته معلومیږی چه دِے غزوه کښ په ظاهره اسباب مفقود وو او دا یوه ډیره سخته معرکه وه لیکن د دے باوجود الله تعالیٰ تاسو ته فتح درکړه. د دے وجے نه اے د ایمان والو د جاهلیت د رسمونو ختمولو سلسله کښ که څهٔ منافقان او مشرکان د پیغمبر علیه السلام مخالفت کوی نو تاسو د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا اوکړئ او د دُشمن د طاقت هیڅ خیال مهٔ ساتئ الله تعالیٰ به ستاسو امداد کوی.

۳۳ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ الخ دا نبی علیه السلام سره دویم خطاب دے. دے کښې نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شوے دے چه تاسو خپلو بیبیانو ته اووایئ چه که چرے د دُنیا عیش، شان او شوکت غواړئ نو دا خبره تاسو ته ځما په کور کښې نه شي میلا وېدے. راشئ چه زه تاسو ته طلاق درکړم او بوجوړه کپړے درکړم او رخصت درکړم. او که چرے تاسو الله او د هغه رسول او د آخرت ژوند او عیش خوښوئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته د هغے ډیر لوئے اجر او ثواب درکړی. حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی اول ئے مؤمنانو ته اُوفرمائیل چه هغوئ د جاهلیت رسم ماتولو کښې د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا اُوکړی او د کافرانو او منافقانو د مخالفت مقابله اُوکړی او هرګز اُونه ویریږی الله تعالیٰ د هغوئ ملګرے دے اوس ئے ازواج مطهراتؓ ته تعلیم ورکړو چه تاسو هم د کافرانو او منافقانو د پروپیګنډے نه متاثرکیږئ لو سره دے باره کښې د پیغمبر علیه السلام خلاف ژبے مه پرانیزئ او پیغمبر علیه السلام چه څه کړی دی یعنی د خپل متبنیٰ د مطلقه سره ئے نکاح کړیده په دے کښې د هغه تائید اُوکړئ او په سر سترګو هغه اُومنئ ځکه چه هغه د الله پیغمبر دے هغوئ چه څه کړیدی د الله په حکم سره ئے کړی دی. کله چه دا آیت نازل شو نو نبی علیه السلام حضرت عائشےؓ ته واوړولو او وے فرمائیل دے باره کښې ته ی مه کوه د خپل مور پلار سره مشوره اُوکړه. حضرت عائشےؓ عرض اُوکړو. یا رسول الله! ایا زه به ستاسو باره کښې د مور پلار سره مشوره کوم؟ زه الله او د هغه رسول ته د دُنیا په عیش او زینت باندے ترجیح ورکوم نو ورو بیبیانو هم دا جواب ورکړو.

۳۴ یٰنِسَآءَ النَّبِیِّ الخ د ازواج مطهرات سره اوّلنے خطاب دے. فَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ نه د خاوند نافرمانی او د هغه تنګول مراد دے. ینبغی ان تحمل الفاحشة علی حقوق الزوج وفساد عشرته (بحر، ج ۷ صـ۲۲۸) اے د پیغمبر بیبیانو که چرے ستاسو نه کومه بوره د پیغمبر نافرمانی کوی یا په خپله ژبه هغه ته تکلیف رسوی. مثلاً ستاسو نه څوک د نبی علیه السلام د خپل متبنیٰ د مطلقه سره نکاح کولو باندے تبصره کوی او داسے اُوائی چه پیغمبر زوړ او د خپلے خوښے دے هغه څوک منع کولے شی. نو داسے کلام به فاحشه مبیّنه وی او الله به تاسو ته د هغے دوچند سزاء درکوی.

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

او څوک چه ستاسو نه تابعداري اوکړي د الله او د هغهٔ د رسول

وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا

او عمل اوکړي نیک ورته کړو مونږ د هغې ثواب

مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

دوه ځله او تیاره کړیده مونږ هغې دپاره روزي د عزت وال

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ

اے بیبیانو د پیغمبر ﷺ تاسو نهٔ یئ د هر یوے ښځے پشان

اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ

که چرے تاسو یریږئ نو تاسو نرمئ سره خبرے مهٔ کوئ

فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّ

بیا به طمع اوکړي هغه څوک د چا په زړهٔ کښ چه بیماري ده او

قُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ

کوئ خبره نیکه (معقوله) ف۲۔ او اوسیږئ په خپلو کورونو کښ ف۳

وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى

او مهٔ ښکاره کوئ (خپل ځانښت) ځنګه چه ښکاره کول (د ځانښت) دستور وو د جاهلیت په وخت ف۴

وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَ

او قائم کړئ مونځ او ورکوئ زکوٰة او

اَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

اطاعت کښئ او سیږئ د الله او د رسول د هغه، هم دا غواړي الله

لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ

چه لرے کړي ستاسو نه پلیتي (د ګناه خبرے) اے د پیغمبر کورنئ

وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿۳۳﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى

او پاک او ساتئ تاسو په پاکوالی سره ئه . او یاد کړئ کوم څه چه لوستلے شی

فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ۭ اِنَّ

په کورونو ستاسو کښ د الله خبرے او د عقلمندئ نه (حدیث د رسول)، بیشکه

اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾

الله دے عالم په رازونو او خبردار .

نکات سـ دویم خطاب د نبی علیه السلام بیبیانو ته ۱۲

موضح قرآن ف د لوئے درجے سره دا لازم ده چه د نیکئ ثواب دوچند شی او د بدئ عذاب دوچند شی پخپله نبی علیه السلام ته ئے او فرمائیل لاذقناک ضعف الحیوٰة. ف۲ دائے یو ادب او ښودو چه د کوم یو سړی سره خبره کوئ لکه چه مور خامنو ته خبره کوی ۱۲. ف۳ یعنی د کفر په وخت کښ ښځے بے پردے وے ۱۲- ف۴ دا خطاب د پیغمبر بیبیانو ته او دیکښ تو له کورنئ د پیغمبر داخل ده ۱۲-

تفسیر وَمَنْ يَّقْنُتْ الخ لیکن ستاسو نه چه چا د الله او د هغه د رسول اطاعت او تسلیم او رضا خپل شعار کرځولے دے هغه ته به مونږ ثواب هم دوچند ورکوو او په آخرت کښ هغه د پاره د عزت روزی تیاره ده۔

ف۵ دا د پیغمبر بیبیانو ته دویم خطاب دے دیکښ هغوئ ته داسے هدایات ورکړے شویدی چه په هغے باندے عمل کولو سره د هغوئ لوړ مقام پاتے شی او د هغوئ عزت او آبرو د هر شک او شبه نه بچ پاتے شی۔ اے د پیغمبر بیبیانو! که چرے تاسو تقوٰی اختیار کړئ نو د دنیا هیڅ یوه ښځه ستاسو سره نشی برابر کیدلے ۔ فلا تخضعن بالقول. د دے وجه نه تاسو د پیغمبر په منکوره بالا معامله کښ هرګز نرمه رویه مه اختیاروئ او د فاحشه مبینه (بشکاره زنا کارئ) نه ځان او ساتئ دے باره کښ هرګز مه وایئ چه پیغمبر د خپلے خوښے دے هغوئ د خپل متبنی د مطلقه سره د نکاح کولو نه خوک منع کولے شی. که چرے ستاسو د داسے نرمے پالیسئ نه منافقانو ته پته اولګی نو هغوئ به خوشحاله شی چه بس اوس خو څمونږ مقصد پوره شویدے۔ د پیغمبر په کور کښ خو څه مخالفت پیدا شویدے۔ وَقَرْنَ الخ د دے نرمے وینا په ځائے بالکل صفا او نیغه خبره کوئ چه پیغمبر علیه السلام کوم څه کریدی د الله په حکم سره ئے کریدی او په دے کښ د اعتراض څه ګنجائش نشته.

۳۳ وَ قَرْنَ الخ په خپلو کورونو کښې اوسیږئ او د جاهلیت بناؤشت او تکلف سره ځان جوړولو نه پرهیز اوکړئ مونځ قائم کړئ او زکوٰة ورکوئ او په هره معامله کښې د الله او د رسول اطاعت اوکړئ ۔ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ الخ اَلرِّجْسَ عام دے او دینه هر قسم اخلاق پلیتی او د ګناهونو ګندګی مراد ده ۔ الرِّجْسَ یقع علی الاثم وعلی العذاب وعلی النجاسة وعلی النقائص والمراد به ههنا ما یعم کل ذلك (روح ج ۲۲ ص ۱۲) اے د پیغمبر بیبیانو! الله دا احکام تاسو ته دے د پاره درکړیدی چه د دے په ذریعه تاسو د هر قسم اخلاق کمزورونه بچ پاتے شئ او د الله او د رسول د نافرمانئ او جرم، ګناه نه پاک او صفا پاتے شئ ۔ وَاذْكُرْنَ الخ د قرآن آیتونه او د رسول الله ارشادات په خپلو کورونو کښې بیا بیا لولئ او دا ذکر بیا بیا کوئ دے د پاره چه د الله او د رسول احکام هر وخت ستاسو په ذهن کښې تازه وی او د هغے په اتباع کښې آسانی وی ۔ دلته لفظ د اَهْلِ الْبَيْتِ نه روافض (پنځه تنه) مراد کوی ۔ چه د قران د سیاق او سباق نه سراسر خلاف او د لغت او د عربیت په لحاظ سره قطعًا غلط دی ۔ او دینه مخکښې پنځه آیتونو کښې ازواج مطهرات (پاکے بیبیانو سره خطاب راروان دے او دینه روستو آیت کښې هم ازواج مطهرات سره خطاب دے. دے ټولو آیتونو کښې د جمع صیغه استعمال شویده او پخپله دے آیت کښې د دے لفظ نه مخکښې شپږ صیغے د جمع حاضر موجود دی چه په هغے سره ازواج مطهرات مخاطب دی. د دے وجے نه به لا محاله دلته (اهل بیت نه) د حضور علیه السلام پاکے بیبیانے مراد دی. که چرے د دینه پنځه تنه مراد کړے شی نو د قرآن نظم به ګډوډ او نقصانی شی. د دینه علاوه د حضرت ابن عباس رض، عکرمه رح او عروه رح نه روایت شوے دے چه دلته د اهل بیت نه د نبی علیه السلام بیبیانے مراد دی. عن ابن عباس رض نزلت (انما يريد الآية) فی نساء النبی صلی الله علیه وسلم خاصة ..... قال عکرمة من شاء باهلته انها نزلت فی شان نساء النبی صلی الله علیه وسلم ..... عن عروة یعنی ازواج النبی صلی الله علیه وسلم (روح ج ۲ ص ۱۳، ابن کثیر ج ۳ ص ۴۸۳) قال عطاء وعکرمة وابن عباس هم زوجة خاصة (قرطبی ج ۱۴ ص ۱۸۲) څنو خلقو ته د عَنْكُمْ او يطهركم ضمیر مذکر سره دهوکه شویده. حال دا دے چه دا د محاورات لغت نه د ناخبرئ او لا علمئ دلیل دے لفظ اهل چونکه مذکر دے د دے وجے نه په اعتبار د لفظ سره ضمیر د جمع مذکر استعمالولے شی اګرچه د دینه مراد صرف یوه بی بی وی. یحتمل ان یکون خرج علی لفظ الاهل کما یقول الرجل لصاحبه کیف اهلك ای امرأتك ونساءك فیقول هم بخیر (قرطبی ج ۱۴

صلہ۱۸۳ قرآن مجید کښ د حضرت ابراهیم علیه السلام بی بی ته ئے اهل بیت وئیلو سره د جمع مذکر حاضر صیغو سره مخاطب کړیدی ه التعجبین من امر الله، رحمة الله و برکاته علیکم اهل البیت (سورة هود ۷۳) دا شان حضرت موسٰی علیه السلام خپلے بی بی ته خطاب اوکړو. قال لاهله امکثوا انی انست نارا لعلی اتیکم منها بخبر او جذوة من النار لعلکم تصطلون (القصص ۲۹) د دے وجے نه په دے آیت کښ هم د اهل بیت نه مراد د نبی علیه السلام بیبیانے مراد دی او دا آیتونه د هغوئ باره کښ نازل شویدی.

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ

بیشکه مسلمانان سړی او مسلمانانے ښځے او ایمان لرونکی سړی

وَالْمُؤْمِنَٰتِ وَالْقَٰنِتِينَ وَالْقَٰنِتَٰتِ وَ

او ایمان لرونکے ښځے او عبادت کونکی سړی او عبادت کونکے ښځے او

الصَّٰدِقِينَ وَالصَّٰدِقَٰتِ وَالصَّٰبِرِينَ

رښتونی سړی او رښتونے ښځے او تکلیفونه برداشت کونکی سړی

وَالصَّٰبِرَٰتِ وَالْخَٰشِعِينَ وَالْخَٰشِعَٰتِ

او تکلیفونه برداشت کونکے ښځے او ویریدونکی سړی او ویریدونکے ښځے

وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَٰتِ وَالصَّٰٓئِمِينَ

او خیرات کونکی سړی او خیرات کونکے ښځے او روژه دار سړی

وَالصَّٰٓئِمَٰتِ وَالْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ

او روژه دارے ښځے او حفاظت کونکی سړی د خپل شهوت ځائے لره

وَالْحَٰفِظَٰتِ وَالذَّٰكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا

او حفاظت کونکے ښځے او یادوونکی سړی الله لره ډیر

وَالذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً

او یادوونکے ښځے تیار کړیدی الله هغوئ د پاره معافی

وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٣٥﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ

او ثواب لوئے ف۱ ۔ او کار نه دے د یو ایمان لرونکی سړی

وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

او نه د یوے ایمان لرونکے ښځے کله چه مقرر کړی الله ۳۶ او رسول د هغه

اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ

یو کار چه هغوئ ته اختیار ورکړے شي د

اَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

کار خپل ، او چا چه نافرمانی اوکړه د الله او د رسول د هغهٔ

فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿٣٦﴾

نو هغه ورکه کړه ښکاره لار ف۲ ۔

نکات سے دریم حکم مؤمنانو د پاره ۱۲ سے په اطاعت پریښودلو باندے تخویف او ویره ورکول ۱۲

موضح قرآن ف۱ د نبی علیه السلام یوے بی بی وئیلی ووچه په قرآن کښ د سړو ذکر شته او چرته هم د ښځو ذکر نشته دے سره دا آیت نازل شو د نیکو ښځو د زړه د تسلئ د پاره نوچه کوم حکم د سړو د پاره دے هغه ښځو د پاره هم دے د هرے خبرے جدا ذکر کولو ته هیڅ ضرورت نشته دے ۱۲ ف۲ حضرت زینبؓ د نبی علیه السلام د ترور لوروه او د شریف خاندان نه وه غوښتل ئے چه د هغے نکاح د زید بن حارثه سره اوکړی زید په اصل کښ عرب ووچا ظالم اونیوؤ مکے ته ئے بوتللو۔ نبی علیه السلام واخستله دغه وخت د هغهٔ عمر لس کاله وو د هغه پلار او ورور چه خبر شول نو راغلل نبی علیه السلام نه د بوتللو طلب ئے اوکړو۔ نبی علیه السلام راضی شو چه هغوئ ځان سره بوځی لیکن هغهٔ تلل نه غوښتل د نبی علیه السلام د محبت په وجه۔ بیا نبی علیه السلام هغهٔ په ځوئے اونیوو د هغه وخت د رواج موافق۔ حضرت زینب او د هغے رور په نکاح راضی نهٔ وو۔ دے خبره باندے دا آیت نازل شو۔ بیا راضی شول او نکاح ئے اوکړه۔

تفسیر ۳۷ إِنَّ الْمُسْلِمِينَ الخ دا مؤمنانو دَپاره دریم حکم دے دے کښې ایمان والو ته ترغیب ورکړے شوے دے چه هغوئ خپل ځان کښې دا صفتونه پیدا کړی نو دَ هغوئ دَپاره بخشش او لوئے ثواب دے. مؤمنانو سړو او ښځوله پکار دی چه غاړه کیښودل او راضی او سیدل، بندګی او اخلاص، رښتیا وئیل او صفائی خپل نشان اوګرځوی په ایمان اوطاعت باندے قائم اوسیږی. دَ الله په حضور کښې عاجزی کوی، زکوٰة، صدقات ورکوئ دَ مانځه اوروژے پابندی کوئ. دَ بد کارئ نه ځان بچ ساتئ او هر وخت الله یادوئ.

۳۸ دا په ترکِ اطاعت باندے ویره او زورنه ده مؤمن سړی او ښځے ته دا اختیار نشته دے چه کله الله او دَ هغه رسول څه فیصله اوکړی او هغه دَ هغے په منلو کښې پس وپیش اوکړی دَ متبنیٰ دَ مطلقے سره دَ نکاح دَجواز دَ الله او دَ رسول فیصله ده نو څُک کوم مؤمن سړے او ښځه په دل و جان سره دَ هغے په منلو کښې دے توقف نه کوی څوک چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول نافرمانی اوکړی هغه صریح ګمراه دے.

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَ

او کوم وخت چه تا اووئیل هغه سړی ته چه احسان اوکړو الله په هغه باندے او

أَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ

تا احسان اوکړو ورته پریګده ځان سره خپله ښځه

وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ

او اوویریږه دَ الله نه او تا پټول په خپل زړه کښې یو څیز کوم چه الله

مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللَّهُ أَحَقُّ

ښکاره کول غوښتل او ته ویریدے دَ خلقو نه او دَ الله نه زیات پکاردی

أَنْ تَخْشَاهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

ویریدل ستا دَپاره، بیا چه کله پوره کړه زید دَ هغه ښځے نه خپل غرض

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

مونږ هغه تاته په نکاح کښې درکړه دے د پاره ددے چه پاتې نشي مسلمانانو باندے ٥٥

حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا

ګناه نکاح کولو کښې د خپلو ادعیاؤ د ښځو سره کله چه تمام کړی

مِنْهُنَّ وَطَرًا ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

هغوی خپل غرض، او دے حکم د الله

مَفْعُوْلًا ۝۳۷ مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ

په ځائے راؤړل شوی ۲۔ نشته په نبی باندے هیڅ ٥٦

حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ۭ سُنَّةَ اللّٰهِ

تنګی هغه خبره کښې چه مقرر کړیده الله هغهٔ د پاره، څنګه چه طریقه ده د الله

فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۭ وَكَانَ

په هغه خلقو کښې کوم چه تیر شویدی مخکښې، او دے

اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرَۨا ۝۳۸ الَّذِيْنَ

حکم د الله مقرر کړے شوے.

يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا

هغه خلق چه رسوی پیغام د الله او ویریږی د هغهٔ نه او نه

يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

ویریږی د هیچا نه سوا د الله نه او کافی دے الله

حَسِيْبًا ۝۳۹ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ

حساب کوونکے ٥٧ نه دے محمد ﷺ پلار د هیچا ٥٨

مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ

د سړو ستاسو نه لیکن رسول دے د الله

وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۴۰

او مهر دے په نبیانو باندے ۳ او دے الله په ټولو څیزونو باندے عالم ۴

نکات ۱ دریم خطاب نبي علیه السلام ته ۱۲. ۲ څلورم خطاب نبي علیه السلام ته ۱۲. ۳ څلورم خطاب مؤمنانو ته ۱۲.

موضح قرآن ف ۱ حضرت زینب د زید په نکاح کښ راغله نو هغه به د دے په نظر کښ حقیر او سپک ښکاریده د دواړو طبیعتونه یو بل سره موافق نه شول کله چه به جنګ جهګړه اوشو نو زید به نبي علیه السلام ته راغلو شکایت به ئے اوکړو او وئیل به ئے چه طلاق ورکوم نبي علیه السلام به منع کولو چه ځما په خاطر هغې ستا سره نکاح قبوله کړیده اوس هغه پریخودل بل ذلت دے کله چه بیا بیا جنګ جهګړے اوشوے د حضرت په زړهٔ کښ داخبره راغله چه که چرے زید مجبور شي او طلاق ورکړي نو د زینب تسلي بغیر د دے نه نشي کیدے چه زهٔ د هغې سره نکاح اوکړم لیکن د منافقانو د بدګویئ الزام خطره وه چه د خپل ځوئے ښځه ئے په کور کښ ساتلے ده. حال دا دے چه تش په ژبه وئیلے شوے ځوئے (متبنی) د حقیقي ځوئے حکم نه لري په کومه خبره کښ الله تعالٰی د حضرت زینب خیال اوساتلو د طلاق نه روستو ئے نبي علیه السلام ته په نکاح ورکړه د الله تعالٰی په وینا سره نکاح اوتړلے شوه ظاهري نکاح ته حاجت پاتے نهٔ شو. لکه چه یو مالک د خپلے وینځے او غلام نکاح اوتړي. غرض ئے پوره کړو یعني طلاق ئے ورکړو پرے ئے ښودله ۱۲. ف ۲ یعني پیغمبر د پاره یو کار کول چه په شروع کښ روا شو نو په هغهٔ تنګي نه پاتے کیږي پیغمبرانو د هغهٔ نه سوا د هیچا نه ویره نه ده کړے. یا دا چه ځنے حکم همیشه د پیغمبرانو پورے خاص کړے شوے دے لکه د ښځو شمار د حضرت داؤد علیه السلام سل بیبیانے وے که بل څوک د خپل حد نه تجاوز اوکړي نو ګناه ده او چا د پاره چه روا شو هغه پورے خاص شو ۱۲ منه ف ۳ د نبي علیه السلام اولاد یا ځامن شوي دي یا لونړه یو ځوئے هم بالغ شوے نه دے یعني هیڅوک هم د هغهٔ ځوئے مهٔ ګڼړي لیکن هغه د الله رسول دے په دے اعتبار ټول د هغهٔ روحاني ځامن دي او په انبیاء باندے مهر دے د هغهٔ نه روستو هیڅوک پیغمبر نشته دا لوئے (درجه)

هغه ته په ښو لو باندے ده ۱۲ منه۔

فتح الرحمٰن

ف۱ دے آیت کښ تعریض دے هغه قصے طرف ته چه نبی علیه السلام اول زینب زید د پاره په نکاح اوغوښتله زینب او د هغې رور دا نه خوښوله او دا معنیٰ د هغوی د حال سره مناسب نه وه ۱۲ ف۲ دے آیت کښ تعریض دے هغه قصے ته چه د نبی علیه السلام په زړه کښ تیره شوه چه که چرے د زید او زینب مینځ کښ جدائی راشی نو هغه به ئے خپلو پاکو بیبیانو په شمار کښ داخل کړی لیکن د نیکخواهئ د مراسم په خاطر ئے د ښځه ژوند تیرولو لار خودنه هغوی ته اوکړه ۱۲
ف۳ یعنی د هغوی نه روستو هیڅ یو پیغمبر نه جوړیږی ۱۲۔

تفسیر

۳۹ واذ تقول الخ دا نبی علیه السلام ته دریم خطاب دے دے کښ نبی علیه السلام ته تنبیه ورکړے شوے ده۔ نبی علیه السلام د خپلے حقیقی ترور لور حضرت زینب بنت جحش نکاح د خپل متبنیٰ حضرت زید بن حارثهؓ سره اوکړه لیکن ښځے او خاوند مینځ کښ موافقت رانغلے د دے وجے نه زیدؓ د طلاق ورکولو فیصله اوکړه او د نبی علیه السلام خدمت کښ حاضر شو د دے اظهار ئے اوکړو نبی علیه السلام زیدؓ ته زورنه ورکړه او سختئ سره ئے حکم اوکړو چه د خدائے نه او ویریږه او خپله ښځه مه طلاقه وه۔ په اصل کښ حضور صلی الله علیه وسلم زید د طلاق ورکولو نه ځکه منع کولو چه که چرے زید طلاق ورکړه نو د زینب د تکلیف شوی زړهٔ علاج صرف دے صورت کښ دے چه حضرت پخپله د هغې سره نکاح اوکړی لیکن دائے هم نه غوښتل ځکه چه په دے کښ د منافقانو د اعتراض او پروپیګنډے ویره وه الله تعالیٰ دا منظوره وه چه د جاهلیت دا رسم پخپله د نبی علیه السلام عمل سره ختم کړی۔ د دے وجے نه الله تعالیٰ هغه ته تنبیه ورکړه چه ته د خلقو د اعتراض نه ویریږے حال دا دے چه تاسو له د الله نه سوا د بل هیچا نه ویره نهٔ ده پکار۔ اَلَّذِیْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ الخ نه زید بن حارثه مراد دے د الله تعالیٰ په هغه باندے انعام وو۔ د ایمان توفیق د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا او غلامئ نه آزادی۔ او د نبی علیه السلام انعام په هغهٔ باندے دا وو چه هغویٔ آزاد کړه د بچو پشان تربیت ئے ورکړو او د خپلے یو نزدے رشته لرونکے ښځے سره ئے د هغه نکاح اوکړه۔ وتخفی فی نفسك الخ د دے د لاندے ځنے متساهل او غیر محقق مفسرینو لیکلی دی چه د دینه مراد دا دے چه د نبی علیه السلام په زړه کښ حضرت زینبؓ سره محبت وۂ لیکن په ظاهره هغویٔ زیدؓ ته وئیل چه هغې ته طلاق مه ورکوه لیکن دا سراسر غلطه ده

او باطل. او دَ نبی علیه السلام دَ شان منافی ده دَ دے وجے نه دلته نبی علیه السلام چه څه په زړه کښ پټول هغے نه مراد دا دے کوم چه الله تعالیٰ ظاهر کړل یعنی نبی علیه السلام په زړه کښ دَ منافقانو دَ پروپیګنډے نه ویریدهٔ الظاهر ان الله تعالیٰ لما اراد نسخ تحریم زوجة المتبنی اوحی الیه علیه الصلوٰة والسلام ان یتزوج زینب اذا طلقها زید فلم یبادرله صلی الله علیه وسلم مخافة طعن الاعداء فعوتب علیه وهو توجیه وجیه قاله الخفاجی (روح ج ۲۲ ص۲۵).

۴۰ فلما قضی زید الخ وطر نه مراد طلاق دے. ای طلقها کما روی عن قتادة وهو کنایة عن ذلک (روح) دَ حضرت زینب مدخوله کیدل (هغے سره دَ حضرت زید جماع کیدل) ثابت نه دی قالت (زینب) ما کنت امتنع منه غیر ان الله منعنی منه وقیل انه منذ تزوجها لم یتمکن من الاستمتاع بها (بحر ج ۷ ص۲۳۵) کله چه زید زینب ته طلاق ورکړو نو موږ دَ هغے نکاح ستا سو سره اوکړه او دَ جاهلیت دغه رسم موږ مات کړو دے دَ پاره چه دَ متبنا ګانو طلاقے شوے ښځو سره په نکاح کولو کښ څه حرج او تنګی باقی پاتے نشی. وکان امر الله مفعولا. دَ الله حکم او فیصله په هر حال کښ نافذ کیږی او باقی پاتے کیږی هغه هیڅوک نشی بندولے دَ الله اراده وه چه دَ جاهلیت رسم پخپله دَ نبی علیه السلام په عمل سره ختم کړی اګرچه دَ نبی علیه السلام اراده دَ هغے نه دَ بچ کیدلو وه لیکن دَ الله اراده سرته اورسیده او باقی پاتے شوه.

۴۱ مَا كَانَ عَلَى الخ دا نبی علیه السلام ته څلورم خطاب دے الله تعالیٰ چه پیغمبر علیه السلام ته کوم حکم صادر کړے او مقدر کړے هغے باندے عمل کولو کښ هغهٔ دَ پاره په زړهٔ کښ هیڅ قسم تنګی پکار نهٔ ده او نهٔ دَ هغے په وجه پیغمبر علیه السلام باندے څهٔ الزام راتللے شی. تیر شوؤ انبیاؤ کښ هم دَ الله سنت جاریه هم دا وو چهٔ دَ جائز کارونو په کولو کښ پهٔ هغوی باندے دَ هیڅ الزام او اعتراض ګنجائش نه وو ای من قبلک من الانبیاء علیهم الصلوٰة والسلام حیث لم یحرج جل شانه علیهم الاقدام علی ما احل لهم ووسع علیهم فی باب النکاح وغیره (روح ج ۲۲ ص۲۷) او س الله تعالیٰ چونکه دَ متبنیٰ دَ مطلقه سره نکاح جائز کړیده دَ دے وجے نه دَ زید دَ مطلقه سرهٔ په نکاح کولو کښ په تاسو هیڅ الزام نشته. الذین یبلغون الخ دا دَ الذین خلوا الخ صفت دے هغه انبیاء سابقین علیهم السلام چه دَ الله تعالیٰ پیغام به ئے خلقو ته رسولو او دَ الله نه سوا به دَ هیچا نه نهٔ ویریدل او نه به ئے دَ چا دَ ملامتیا پرواه کوله. وَكَفَى

بِاللّٰهِ حَسِيْبًا. الله تعالیٰ ویرو او خطرات کښې کافی دے د دے وجے نه د هغه نه سوا د بل چا نه د ویریدلو ضرورت نشته ای کافیا للمخاوف (روح)

۴۳ مَا كَانَ الخ دا مؤمنانو ته خلورم خطاب دے. اے د ایمان والو محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو د کوم یو سړی پلار نه دے نهٔ د زید او نه د بل کوم یو ستن نو د زید بی بی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ایکورنه وه د دے وجے نه نبی علیه السلام که چرے د زید د مطلقه سره نکاح کړیده نو په دے کښې کوم قسم بدی ده او د اعتراض څهٔ موقع ده؟ دے کښې د جسمانی او حقیقی ابوت نفی کړے شوے ده. رجال د رجل جمع ده او رجل بالغ سړی ته وئیلے شی چه د هغے حاصل دا دے چه نبی علیه السلام د داسے منکر انسان پلار نه دے چه د بلوغ سن ته رسیدلے وی ځکه چه د هغهٔ څلور ځامن وو. حضرت ابراهیم، قاسم، طیب او طاهر چه په ماشوموالی کښې وفات شوی وو او صرف د هغه لونړه بلوغ ته رسیدلے وے. وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ، دا د ماقبل نه استدراک دے او دے کښې د مجازی او روحانی ابوت اثبات مقصود دے. ځکه چه هر پیغمبر د امت روحانی پلار وی.

استدراك من نفی الابوة الحقيقية الشرعية التی يترتب عليها حرمة المصاهرة ونحوها الی اثبات الابوة المجازية اللغوية التی من شان الرسول عليه الصلوٰة والسلام وتقتضی التوقير من جانبهم والشفقة من جانبه صلی الله تعالیٰ عليه وسلم (روح ج ۲۲ ص ۳۲).

وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ الخ دے کښې د نبی علیه السلام کمال شفقت او خیرخواهئ طرف ته اشاره ده په امت باندے لان النبی الذی يكون بعده نبی ان ترك شيئا من النصيحة والبيان يستدركه من ياتی بعده واما من لا نبی بعده يكون اشفق علی امته واهدی لهم واجدی اذ هو كوالد لولده الذی ليس له غيره من احد (كبير ج ۶ ص ۷۸۶).

تحقیق د لفظ خاتم النبین

لفظ خاتم کښې دوه قرأتونه دی اوّل په فتح د تاء او هغه اسم آله ده یعنی په کوم سره چه مهر لګولے شی او یو څیز بندولے شی چه اوس پدیکښې د بهر نه کوم یو څیز داخل نکړے شی او نهٔ د دینه کوم څیز بهر ته ویستلے شی والخاتم اسم آلة لما يختم به كالطابع لما يطبع به فمعنی خاتم النبيّٖن الذی ختم النبيّون به ومآله آخر النبيّٖن (روح ج ۲۲ ص ۳۳) الخاتم په فتح (زور) د تاء یو معنیٰ دا ده چه په هغے سره یو څیز ختم کړے شی او هغه د

تولو نه په آخر کښ وي. نو دَ خاتم النبیّن معنیٰ دَ ټولو انبیاؤ نه په آخر کښ راتلونکے. لکه چه وئیلے شی خاتم القوم، یعنی دَ قوم آخری سړے. والخاتم اٰخر القوم کالخاتم ومنه قوله تعالیٰ وخاتم النبیّن ای اٰخرهم (تاج العروس شرح قاموس ج ۸ ص ۲۶۷) وختام القوم وخاتمهم اٰخرهم (لسان العرب ج ۱۲ ص ۱۶۲) دویم قراءت په کسره (زیر) دَ خاء سره دے یعنی په صیغه دَ اسم فاعل چه دَ دهٔ معنیٰ ده ختموونکے او په آخر کښ راتلونکے.

وقرء الجمهور (وخاتم) بکسر التاء علی انه اسم فاعل ای الذی ختم النبیّن والمراد به اٰخرهم ایضًا (روح ج ۲۲ ص ۳۲).

دَ خاتم النبیّن معنیٰ دَ نبیانو ختموونکے او دَ ټولو نه په آخر کښ راتلونکے دے چه دَ هغه نه روستو هیڅ یو نبی نهٔ وی لیږلے شوے. دا لفظ پدے مفهوم کښ صریح نص دے چه حضرت محمّد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم آخری نبی دے او دَ هغوئ نه روستو به تر قیامته پورے هیڅ یو پیغمبر نشی لیږلے. دَ دے آیت دَ حضور صلی الله علیه وسلم آخری نبی کیدلو کښ صریح نص کیدلو او دَ دے آیت نا قابل تاویل کیدلو بانـدے دَ امت اجماع ده او پدے هم دَ امت محمدیه اجماع ده چه دَ حضرت محمّد صلی الله علیه وسلم نه روستو دَ نبوت دعوٰی کوونکے دجّال او کذّاب او دَ اسلام دَ دائرے نه بهر دے. دَ نبی علیه السلام دَ احادیثو نه هم چه دَ تواتر درجے ته رسیدلے دی دَ خاتم النبیّن دا مفهوم واضح کیږی. څو احادیث ملاحظه کړئ.

احادیث نبویه

۱- عن ثوبانؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انه سیکون فی امتی کذّابون ثلاثون کلهم یزعم انه نبی وانا خاتم النبیّن لا نبی بعدی (صحیح مسلم ج ص)

حضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی علیه السلام اوفرمائیل ځما امت کښ به دیرش دروغژن پیدا کیږی چه په هغوئ کښ به هر یو دعوٰی کوی چه هغه نبی دے. حال دا دے چه زهٔ خاتم النبیّن یم ځما نه روستو هیڅوک نبی نشته.

۲- عن حذیفةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فی امتی کذابون دجالون سبعة وعشرون

حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ځما امت کښ به اووِیشت

منهم اربع نسوة وانی خاتم النبیین لا نبی بعدی (مشکل الآثار امام طحاوی ج ۴ ص۱۰۴)
(مسند احمد ج ص)

دجّالان او کذابان وی چه په هغې کښې به څلور ښځې هم وی حال دا دے چه زهٔ خاتم النبیین یم ځما نه روستو نبی نشته۔

۳۔ عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال مثلی و مثل الانبیاء من قبلی کمثل رجل بنی بنیانا فاحسنه واجمله الا موضع لبنة من زاویة فجعل الناس یطوفون به ویعجبون له ویقولون هلا وضعت هذه اللبنة قال فانا اللبنة وانا خاتم النبیین (صحیح بخاری ج ص ، صحیح مسلم ج ۲ ص۲۴۸، مسند احمد ج ۲ ص۳۹۸ واللفظ له۔)

حضرت ابو هریره رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ځما او ځما نه مخکښې د تیرشوو پیغمبرانو مثال داسې دے لکه چه یو سړی خاشته او ښکلے کور جوړ کړو لیکن په یو گوټ کښې ئے د یوے خښتې ځائے خالی پریخود۔ خلق د هغې څلور واړه طرفونه گوری تعجب کوی او هغهٔ ته ئے اووئیل تا سو تا سو دلته خښته ولے نهٔ ده لگولے (دا مثال د نبوت د محل دے) او په هغې کښې د خالی ځائے پوره کولو خښته زهٔ یم او زهٔ آخری نبی یم۔

دے احادیثو کښې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاتم النبیین داسے واضح تفسیر اوکړو چه اوس پدے کښې د تاویل گنجائش پاتے نهٔ شو۔ د دے درے واړو احادیثو نه دا حقیقت ظاهر شو چه د خاتم النبیین مطلب دا دے چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه روستو په هیڅ قسم نبی، ظلی یا بروزی، حقیقی یا مجازی، تشریعی یا غیر تشریعی نشی راتلے او په هغه سره هر قسم نبوت بند شوے دے۔ دا آیت چونکه دے مفهوم کښې صریحی نص دے د دے وجې نه علماء اسلام دے کښې تاویل کولو سره د نوی نبوت د پاره گنجائش پیدا کولو ته کفر وئیلے دے۔ لکه چه امام غزالیؒ فرمائی۔ ان الامة قد فهمت من هذا اللفظ انه افهم عدم نبی بعده ابدا وعدم رسول بعده ابدا وانه لیس فیه تاویل ولا تخصیص فمنکر هذا لا یکون الا منکر الاجماع (کتاب الاعتقاد ص۱۱۳)۔ (ترجمه) امت د لفظ خاتم النبیین نه دا معلومه کړیده چه دا آیت دا خبره مونږ ته ښائی چه د نبی علیه السلام نه روستو ترقیامت پورے به نهٔ څوک نبی وی او نه رسول، امت دا معلومه کړیده چه پدے آیت کښې د تاویل او تخصیص هیڅ گنجائش نشته او کوم سړے چه د دینه

انکار کوی هغه د اجماع نه منکر دے۔
ثالثه چه د دے آیت غیر مؤول کیدلو بانده د امت اجماع ده۔ دا شان د نبی علیه السلام خاتم النبیین او آخری نبی کیدلو بانده هم د امت اجماع ده۔ علامه الوسیؒ فرمائی۔ وکونه صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین مما نطق به الکتاب وصدعت به السنة واجمعت علیه الامة فیکفر مدعی خلافه ویقتل ان اصر (روح ج ۲۲ ص۴۱)
(ترجمه):۔ او د نبی علیه السلام خاتم النبیین کیدل یو داسے حقیقت دے چه قرآن او حدیث هغه پوره واضح کړیدے او د امت په دے اجماع ده د دے وجے نه د دے خلاف دعویٰ کوونکے کافر دے که چرے توبه اونه باسی نو واجب القتل دے۔
علامه قرطبیؒ فرمائی۔ قال ابن عطیه هذه الالفاظ عند جماعة علماء الامة خلفا سلفا متلقاة علی العموم التام مقتضیة نصا انه لانبی بعده صلی الله علیه وسلم (قرطبی ج ۱۴ ص۱۹۶)
(ترجمه) ابن عطیه وئیلی دی د دے الفاظو حملول د جمهورو علماء امت نه سلف دی او که خلف په عموم تام بانده نقل راروان دے او دا الفاظ په دے بانده نص دے چه د نبی علیه السلام نه روستو به هیڅوک نبیؐ وی۔
امام طبریؒ فرمائی۔ ولکنه رسول الله وخاتم النبیین الذی ختم النبوة فطبع علیها فلا تفتح لاحد بعده الی قیام الساعة وبنحو الذی قلنا قال اهل التاویل (ابن جریر ج ۲۲ ص۱۱)۔
(ترجمه) لیکن هغه د الله رسول او خاتم النبیین دے چه هغهٔ نبوت ختم کړو او په هغه ئے مهر اولګولو۔ د دے وجے نه اوس تر قیامته پورے به نبوت هیچا ته نشی پرانستلے نو ټولو مفسرینو د دے آیت هم دا مفهوم بیان کړیدے۔
علامه ابوسعود فرمائی۔ خاتم النبیین ای کان آخرهم الذی ختموا به (ابو السعود ج ۷ ص۱۰۹) مفسر ابوحیان لیکی۔ وقرأ الجمهور وخاتم بکسر التاء بمعنی انه ختمهم ای جاء آخرهم (بحر ج ۷ ص۲۳۶)۔ امام ابن کثیر فرمائی۔ وقد اخبر الله تبارک وتعالیٰ فی کتابه ورسوله صلی الله علیه وسلم فی السنة عنه انه لانبی بعده لیعلموا ان کل من ادعی هذا المقام بعده فهو کذاب افاک دجال ضال مضل ولو تخرق وشعبد واتی بانواع السحر والطلاسم والنیرنجیات (ابن کثیر ج ۳ ص۴۹۴)۔ علامه خازنؒ لیکی۔ ختم الله به النبوة فلا نبوة بعده (خازن ج ۵ ص۲۱۸)۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ
اے د ایمان والو ۴۳ یاد کړئ الله

ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً
یادولو ډیرو سره . او پاکي بیان کړئ د هغه صبا

وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ
او بیګا . هغه (الله) دے چه رحمت لیږي په تاسو باندے ۴۴

وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ
او فرښتے د هغه دے د پاره چه اوباسي تاسو د تیارے نه

إِلَى النُّورِ ۚ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾
رڼا ته او په مؤمنانو باندے مهربان دے.

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ
دُعا د هغوی ۴۵ په کوم ورځ ملاویږي (الله سره) سلام دے او تیار کړے دے هغوی له

أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ
بدله د عزت ۴۶ . اے نبی ۴۷ مونږ او لیږلے ته

شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾ وَدَاعِيًا
ګواه او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے . او رابلونکے

إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا ﴿٤٦﴾
د الله طرف ته د هغه په حکم سره او ډیوه روښانه کوونکے .

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ
او زیرے ورکړه ایمان والو ته ۴۸ چه هغوی د پاره دے د الله له طرفه

فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ
فضل لوئے ۴۹ . او مه منه خبره د کافرانو

وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ وَتَوَكَّلْ

او د منافقانو او پریږده د هغوئ تکلیف رسول او بهروسه اوکړه

عَلَى اللّٰهِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۴۸﴾

په الله باندے، او کافي دے الله کارجوړولو والا۔

نکات: سـ۱ پنځم خطاب مؤمنانو ته ۱۲۔ سـ۲ پنځم خطاب نبي علیه السلام ته ۱۲۔

موضح قرآن فـ۱ یعنی الله به هغوئ ته سلام لیږي او په خپل مینځ کښ هم دا دعا ده او وی به۔ فـ۲ د ټولو اُمتونو نه بهتر او اعلی دا امت دے ۱۲۔

فتح الرحمٰن فـ۱ یعنی د خدائے او د فرشتو له طرفه ۱۲

تفسیر ۴۳ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا الخ دا پنځم خطاب دے مؤمنانو ته۔ اے د ایمان والو! د پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم رسم جاهلیت ماتولو او د خپل متبنّیٰ د مطلقه سره نکاح کولو باره کښ که چرے ستاسو په زړونو کښ څه شک یا بدګمانی پیدا شوے وی۔ نو الله ډیر یادوئ صبا او بیګاه د هغهٔ تسبیح او پاکی بیانوئ دے د پاره چه ستاسو قصور معاف شی۔ ذکرِ کثیر کښ د ژبے د ذکر نه علاوه هره نیکی او طاعت هم داخل دے او دا چه په هیڅ حال کښ د هغهٔ نه غافل نشئ. کل طاعة وکل خیر من جملة الذکر (کشاف) قال ابن عباس الذکر الکثیر ان لاینسی جل شانه وروی ذلک عن مجاهد ایضا (روح ج ۲۲ ص ۴۳)۔

۴۴ هُوَ الَّذِیْ الخ الله تعالیٰ په مؤمنانو ډیر مهربان دے او پرله پسے په هغوئ رحمت نازلوی او هغوئ د ګمراهئ د تیارو نه او باسی د هدایت په رڼرا کانوئے آباد او روښانه کرځوی او د الله فرښتے هم مؤمنانو د پاره الله تعالیٰ ته د رحمت درخواست کوی چه الله تعالیٰ په تاسو دا سے مهربان دے نو تاسو هم هغه یاد کړئ د هغهٔ اطاعت اوکړئ او د هغهٔ په پاکئ او لوبئ بیانولو کښ مشغول او سیږئ نو هغهٔ به ستاسو ټول ګناهونه معاف کړی۔

۴۵ تَحِیَّتُهُمْ الخ څنګه چه الله تعالیٰ دنیا کښ مؤمنانو باندے مهربان دے دا شان به په آخرت کښ هم په مؤمنانو باندے مهربان وی او د قیامت په ورځ به د الله په حکم سره فرښتے د هغوئ استقبال کوی او د

جهنم د عذاب نه به هغوئ ته د امن او سلامتیا زیرے ورکوی او هغوی به د الله له طرفه نه ډیره غوره بدله بیا موقی.

۷۶ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ الخ دا نبی علیه السلام سره پنځم خطاب دے. خما پیغمبره ما ته د دے د پاره پیغمبر لیږلے ئے چه حق صفا واضح بیان کړې او ریښتونکو ته زیرے ورکړے او منکرینو د عذاب نه او ویره ورکړے او ما ته د توحید د دعوت د پاره او د کفر او شرک په تیارو کښې روښانه ډیوه ګرځولے ئے او لیږلے مې ئے د دے وجې نه تا سو حق خبره واضح کړئ او بیان ئے کړئ اګرچه کافران، مشرکان او منافقان مخالفت کوی. مثلاً د متبنّی مطلقه سره د نکاح کولو په باره کښې صفا اعلان او کړئ چه دا جائز ده او د مخالفینو د مخالفت یوه ذره پرواه او نکړې. شَاهِدًا: د کلمه توحید اقرار کولو والا او اعلان کولو والا او د وحدانیت شهادت ورکولو والا. قیل المراد شاهدًا بان لا اله الا الله (روح ج ۲۲ ص۴۵) ثانیها انه شاهد ان لا اله الا الله (کبیر ج ۶ ص۵۸۸) داعیا الی الله د توحید طرف ته غوښتلو والا قال ابن عباس شهادة ان لا اله الا الله (بحر جلد ۷ ص۲۳۵) الدعا الی الله هو تبلیغ التوحید والاخذ به ومکافحة الکفرة (قرطبی ج ۱۴ ص۲۰۰) سِرَاجًا مُّنِیرًا ای هادیا من ظلم الضلالة (ایضًا ص۲۰۱).

۷۷ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ الخ کوم مؤمنان چه ستا راوړے شوی احکام د شریعت بغیر د څه اعتراض نه منی او د جاهلیت دے رسم ماتولو کښې ستا ملګری دی هغوی ته د الله له طرفه د لوئے اجر زیرے ورکړه. وَلَا تُطِعِ الْکٰفِرِیْنَ الخ دا د سورت هغه مضمون اعاده کړے شوے دے کوم چه د سورت په شروع کښې ذکر دے. او د کافرانو او منافقانو خبره هرګز مه منه هغوئ غواړی چه د توحید په مسئله کښې تاسو نرمی اختیار کړئ چه هغوئ هم نرمه رویه اختیار کړی. فهی عن مداراتهم فی امر الدعوة ولین الجانب فی التبلیغ والمسامحة فی الانذار (روح ج ۲۲ ص۴۶) وابو السعود ج ۶ ص۶۸۹) وَدَعْ اَذٰهُمْ الخ د حق تبلیغ کولو باندے چه تاسو ته د هغوئ له طرفه کوم تکلیف او رسیده تاسو د هغے پرواه مه کوئ او د خدائے په توکل خپله فریضه ادا کوئ الله تعالیٰ ستاسو امدادی او مددګار دے.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَکَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ

اے مؤمنانو ۱ ۷۸ کله چه تاسو په نکاح واخلئ مسلمانانے ښځے

ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ

بیا هغه پریږدی مخکښې د هغې نه چه هغوئ ته لاس وروړئ

فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا

نو په هغوئ باندې ستاسو حق نشته په عدت کښې د کینو لو چه تاسو په هغوئ شمار پوره کړئ

فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا

نو ورکړئ هغوئ ته څه فائده او رخصت ئې کړئ په طریقه

جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ

ښه سره ۔ اے نبی ﷺ موږ حلال کړي دي ستا دپاره

اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا

ستا ښځې د کوم چه تا ورکړي دے مهر او کوم چه

مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ

ستا د لاس مال دے کوم چه الله په لاس کښې درکړو مله

وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ

او ستا د تره لونړه او د ترور (کومه چه د پلار خورده) لونړه او لونړه

خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِيْ هَاجَرْنَ

د ماما او لونړه د خالاتو ستا چه وطن ئې پرېښودلے دے

مَعَكَ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ

ستاسو سره او کومه ښځه چه وي مسلمانه که چرے او ښئي

نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا

خپل ځان نبی ته ﷺ که چرے نبي غواړي چه هغې سره نکاح اوکړي

خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ قَدْ

دا خاص دي ستا دپاره سوا د ټولو مسلمانانو نه ۔ یقینًا

عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ

موږ ته معلوم دے ښه کوم چه موږ مقرر کړیدی ے په دوئ باندے په حق دَ دوی دَ ښځو کښ

وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ

او دَ دوی دَ لاس په مال کښ (په وینځو کښ) چه پاتے نهٔ شی

عَلَيْكَ حَرَجٌ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۱﴾

په تا باندے څهٔ تنګی . او دے الله بخونکے مهربان ف۳ ف۴ .

نکات: ے شپږم خطاب مؤمنانو ته ۱۲ ے۲ شپږم خطاب نبی علیه السلام ته ۱۲ .

موضح قرآن

ف بغیر دَ جماع (خلوت صحیحه) نه چه کوم سړے ښځه طلاقه کړی نو که چرے دَ هغے مهر ئے مقرر کړے وی نو نیم مهر به ورکوی که چرے نه ئے وی مقرر کړے نو څهٔ فائده دِ ورکړی یعنی یوه جوړه جامے او دغه وخت که اوغواړی (ښځه) نو بل سړه دِ نکاح اوکړی عدت پرے نشته . او که چرته خلوت صحیحه شوے وی اګرچه جماع نهٔ وی شوی نو مهر به هم پوره ورکوی او عدت به هم تیروی . دا مسئله ئے دلته ضمناً اوفرمائیله دَ نبی علیه السلام دَ ازواج مطهرات په ذکر کښ دَ دے وجے چه نبی علیه السلام دَ یوے ښځے سره نکاح اوکړه کله چه هغې ته نزدے ورغلے هغې اووئیل چه زهٔ ستا نه په الله سره پناه نیسم . نبی علیه السلام په جواب کښ اووئیل چه تا خو لوئے دَ پناه ځائے ځان دَ پاره غوره کړے دے نو دا آیت نازل شو او خطاب ئے مؤمنانو سره اوکړو چه معلومه شی چه حکم پیغمبر پورے خاص نه دے تولو مسلمانانو دَ پاره دا حکم دے ۱۲

ف۲ کومے ښځے چه ستا دی دَ کوم چه تا مهر ورکړے دے یعنی اوس په نکاح کښ دی خواه دَ قریش نه دی او که مهاجرانے وی یا نهٔ وی دا حلال دی او دَ ماما او ترهٔ لونړه یعنی په قریشو کښ په شرط دَ هجرت که چرے هجرت ئے نه وی کړے نو حلال نهٔ دی . او کومه ښځه چه نبی ته خپل ځان او بښی یعنی بغیر دَ مهر نه تا سو ته ځان درکړی دا حکم خاص دے پیغمبر پورے نورو مسلمانانو ته نه بیا هم هغه حکم (مهر اداکول) دی . ان تبتغوا باموالکم . دَ مهر نه بغیر نکاح نشته خواه ذکر شوی وی خواه روستو مقرر کړے شوے وی او که نه وی مقرر شوے نو بیا چه دَ هغې دَ قوم کوم مهر وی (مهر مثل) نو هغه لازم دے دَ نبی علیه السلام لس بیبیانے مشهورے دی

حضرت خدیجه اوّل وه هغې نه روستو نورې ټولې په نکاح کښې راغلې د نبي عليه السلام د وفات نه روستو نهه بيبياني پاتې وې. حضرت عائشه، حضرت حفصه، حضرت سوده بنت زمعه، حضرت ام سلمه، حضرت زينب، حضرت ام حبيبه، حضرت جويريه، حضرت ميمونه، حضرت صفيه رضي الله عنهن روستونۍ قريشيه نه وې ۱۲-

فتح الرحمن ف ۱ يعني د کافرانو نه چه تا ته رسيدلې دي ۱۲ ف ۲ يعني د مهر نه بغير نکاح کښې راځي ۱۲ ف ۳ يعني د نکاح په باب کښې يو څيز دے چه په امت فرض دے او په نبي عليه السلام نه دے فرض.

تفسير ۴۸ يايها الذين امنوا الخ دا مؤمنانو سره شپږم خطاب دے اے د ايمان والو! تاسو چه کله د مؤمنانو ښځو سره نکاح اوکړئ او بيا د صحبت (جماع) نه مخکښې هغوئ ته طلاق ورکړئ نو په هغوئ باندې هيڅ عدت نشته هغوئ ته د متعه کپړې (قميص او لوپټه) ورکړئ او پريږدئ هغوئ چه چرته نکاح کول غواړي چه نکاح اوکړي. حضرت شيخ قدس سره اوفرمائيل د حضرت زينب رضي الله عنها عدت تيرول اګر چه ثابت دي ليکن دلته غير مدخول بها د پاره د عدت د نه کيدلو د ذکر په مناسبت سره او د ماقبل سره ربط په دے صورت کښې زيات ظاهريږي چه د حضرت زينب عدت نه وي بلغة الحيران کښې حضرت شيخ قدس سرهٔ نه د عدت د نفي نسبت د تعبير د قصور نه پيدا شوے دے.

۴۹ يايها النبي الخ دا نبي عليه السلام سره شپږم خطاب دے دے کښې حضور صلی الله عليه وسلم ته اوفرمائيل چه ستاسو د پاره حسب ذيل څلور قسمه ښځې حلالې دي او د دينه علاوه نورې ستا د پاره حلالې نه دي. اوّل التي اتيت اجورهن يعني هغه بيبياني کومې چه ستا په نکاح کښې او تاسو د هغوی مهر ادا کړے دے هغه د قريش نه وي يا غير د قريش نه مهاجره وي يا غير مهاجره. دويم وما ملکت يمينك الخ کومې وينځې چه د مال غنيمت نه الله تاسو ته درکړي دي. دريم وبنت عمك الخ د قريش هغه ښځې چه ستا سره ئې هجرت کړيدے. څلورم هغه مؤمنانې ښځې چه بغير د مهر نه خپل ځانونه پيغمبر عليه السلام ته نکاح د پاره پيش کړي. خالصة لك الخ د مهر نه بغير نکاح کول دا حکم صرف ستاسو د پاره خاص دے نورو مؤمنانو د پاره جائز نه دي.

۵۰ قد علمنا الخ د ښځو او وينځو پاره کښې د ايمان والو د حال مناسب چه کوم احکام دي هغه الله ته معلوم دي او هغوی د دغه احکامو پابند دي ليکن تاسو د دغه احکامو پابند نه يئ دے د پاره چه ستاسو پيغمبرانه

مقاصد او مصالح کښې حرج واقع نشي مؤمنانو پاندے د څلورو ښځو نه زیات حرام دي او په هغوئ مهر هم واجب دے لیکن تاسو پاندے دا پابندي نشته۔

تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِيْٓ اِلَيْكَ
روستو کوه ته کومه یوه چه ته غواړے او ځانته ورکره ځاے ورکوه

مَنْ تَشَآءُ ۭ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ
هغې ته کومه چه ته غواړے، او کومه یوه چه ستا زړه غواړي د دوي نه چه تا لرے کړیده

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ تَقَرَّ
هیڅ گناه نشته په تا باندے په یکښې، دا نزدے ده چه یخے شي

اَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ
سترگے د هغوئ او غمژن نه شي او خوشحاله به شي په هغې کوم چه

اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ
تا ورکړل دوي ټولو ته، او الله ته معلوم دي کوم څه چه په

قُلُوْبِكُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ﴿۵۱﴾
زړونو ستاسو کښې دي، او دے الله تعالیٰ په ټولو ښه عالم او ډیر صبر والا

لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ
حلالے نه دي ستا د پاره ښځے د دینه روستو هم او نه

اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ
دا چه بدل کړې دوي په نورو ښځو اگر چه تعجب کښې واچوي تا لره

حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ۭ وَكَانَ
ښائست د هغوي لیکن چه کوم ستا د لاس مال (وینځے) وي، او دے

اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ رَّقِیْبًا ﴿۵۲﴾

الله په هر څیز نګهبان دے ۲ ف.

موضح قرآن

ف۱ د یو سړی چه یوے نه زیاتے ښځے وی هغه باندے واجب دی چه د هر یوے سره اوسیدلو کښے وار (نمبر) مقرر کړی برابر. نبی علیه السلام باندے دا واجب نه وو د دے وجے نه چه ښځے دا خپل حق او نه ګڼړی نو چه هر څه هغوئ ته ورکړے شی راضی به شی او قبول به ئے کړی. لیکن بیا هم نبی علیه السلام فرق نه ساتلو د ټولو وارے یو شان برابر ساتلے وو حضرت سوده رضی الله عنها خپل وار حضرت عائشه رضی الله عنها ته بښلے وو ۱۲ منه.

ف۲ یعنی څومره قسمونه چه ئے بیان کړل د هغے نه زیاتے حلالے نه دی او چه کوم موجود دی د هغوئ پریښودل حلال نه دی دا ضروری دی. او د لاس مال (وینځے) د نبی علیه السلام دوه حرمُ مشهورے دی یا درے. یوه حضرت ماریه رضی الله عنها چه د هغے نه څوئے ابراهیم شوے وو یوه حضرت ریحانه رض یا شمعونه رض یا دواړه. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائیلی دی چه دا منع په آخر کښ موقوف شوه ټولے ښځے حلالے شوے ۱۲ منه.

فتح الرحمن

ف۱ یعنی روستو د دے دوه صفتو نو قرشیه مهاجره چه مهرئے ورکړے شوے وی یا واهبه د خپل نفس بغیر د مهر نه ۱۲. ف۲ یعنی دا آیت ناسخ دے د مخکنی آیت د پاره ۱۲

تفسیر

۵۱ تُرْجِیْ الخ تا سو چه خپلو بیبیانو نه کومه یوه غواړے خپل ځان سره ئے اوساته او کومه چه غواړے خپل ځان نه ئے لرے کړه او کومه چه تا سو د خپل ځان نه لرے ساتلے وه هغه که بیا طلب کړئ نو بیا هم په تاسو ګناه نشته. څنګه چه په عام مسلمانانو باندے د خپلو ګڼړو ښځو مینځ کښ د وخت تقسیمول لازم دی په حضور صلی الله علیه وسلم دا پابندی نه وه. هذه الآية تدل على ان القسم بينهن لم يكن واجبا على النبي صلى الله عليه وسلم وانه كان مخيرا في القسم لمن شاء منهن وترك من شاء منهن (جصاص).

۵۲ ذٰلِكَ الخ د حقوق زوجیت باره کښ چه کومے پابندیانے په عامو مسلمانانو باندے لازم دی هغه په نبی علیه السلام باندے لازم نه دی او د هغه بیبیانو ته پدے امور کښ په هغه باندے هیڅ دعوی نشته دا د هغه په مصلحت او مرضئ باندے انحصار لری. نبی علیه السلام به بیا هم د خپلے خوښے مطابق د هغوئ د زړونو خیال ساتلو سره د دے چه په

هغوئ بانديے د يے تقسيم کښې هيڅ حق باقي پاتے نه شو او هغوئ ته دا معلومه شوه
چه دا دستور او قانون د الله تعالیٰ له طرفه دے نو هغوئ په د د ے فرق سا تلو
په وجه زړه کښې څه خفګان هم نه کوی بلکه د د ے په تعميل کښې به هغوئ
خوشحالی محسوسوی لانهن اذا علمن ان هذا التفويض من عند الله اطمانت
نفوسهن وذهب التغاير وحصل الرضاء (مدارک) والله يعلم الخ الله ستاسو
د زړونو په خبرو ښه عالم دے ليکن د کمال علم په وجه سره ستاسو په
ګناهونو بانديے زر نيول نه کوی ۱۲۔

۵۳ لَا يَحِلُّ لَكَ الخ د مذکوره څلور قسمونو ښځو نه علاوه ستاسو د پاره
د بل کوم يوے ښځے سره نکاح کول حلال نه دی او نه په موجوده بيبيانو
کښې کومے يوے ته طلاق ورکول او د هغے په ځائے د بلے يوے سره نکاح
جائز ده۔ ای من بعد الاصناف التی سميت قال ابی بن کعب وعکرمه
وابو رزين وهو اختيار محمد بن جرير (قرطبی ج ۴ صـ ۲۲۰)۔
شاه عبد القادر دهلوئ فرمائی، څو مره قسمونه چه ئے بيان کړل د هغے
نه زيا تے حلالے نه دی او کومے چه موجود دی د هغے بدلول حلال نه دی.
دا شان دا آيت منسوخ نه دے بلکه محکم دے. شاه ولی الله او نورو څنو
عالمانو دا آيت منسوخ ګرځولے دے. د هغوی په نزد د د ے آيت مطلب
دا دے چه کومے نهه بيبيانے د اوخت ستاسو په نکاح کښې دی او چا چه
دنيا بانديے تاسو ته ترجيح ورکړيده د دوی نه روستو اوس ستاسو
د پاره د بلے کومے يوے ښځے سره نکاح کول جائز نه دی۔ لا يحل لك النساء
من بعد هؤلاء التسع اللاتی اخترنك ای لقد حرم عليك تزوج غيرهن
(روح ج ۲۲ صـ ۶۳۵) الا ما ملکت الخ دا د ما قبل نه استثناء ده۔ يعنی وينځو
بدلول ستا د پاره جائز دی۔ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيْبًا الله تعالیٰ
په هر څيز بانديے خبردار دے د د ے وجے نه د هغه د احکامو او حدود
نه تجاوز مه کوئ۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ

اے ۵۳ ايمان والو مه ننوځئ کورونو

النَّبِيِّ اِلَّاۤ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ

د پيغمبر ته ليکن چه کوم حکم تاسو ته اوشی خوراک د پاره

غَیْرَ نٰظِرِیْنَ اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ

چه نهٔ کوئ انتظار پخلی د هغے ته لیکن چه کله را اوبلی تاسو

فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا

بیا لاړ شئ بیا چه کله خوراک اوکړئ نو خوارهٔ شئ

وَلَا مُسْتَاْنِسِیْنَ لِحَدِیْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ

او مهٔ کینئ خپل مینځ کښ خبرو د پاره ، ستاسو

كَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ فَیَسْتَحْیٖ مِنْكُمْ ۫

دے خبرو سره تکلیف رسیږی پیغمبر ته بیا هغه شرم کوی ستاسو نه

وَاللّٰهُ لَا یَسْتَحْیٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا

او الله نهٔ کوی شرم د حق خبرے د وئیلو نه ، او کله چه

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ

غوښتلو د پاره لاړ شی هغوی بیبیانو نه د څه څیز د کار نو وے غواړئ د

وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ

پردے نه بهر ، دے کښ ډیره صفائی ده د زړونو ستاسو

وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ

او د زړونو د هغوی ، او نهٔ ده تاسو ته روا چه

تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَاۤ اَنْ تَنْكِحُوْۤا

تکلیف اورسوئ ﷺ رسول د الله ته او نه دا چه نکاح اوکړئ

اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ اَبَدًا ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ

د بیبیانو د هغه سره روستو د هغهٔ نه هیڅ کله هم ، بیشکه ستاسو

كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِیْمًا ﴿۵۳﴾ اِنْ تُبْدُوْا

دا خبره د الله په نیز ډیره لویه ګناه ده . که چرے ښکاره کړئ تاسو

شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

یو څیز څه یا هغه پټ کړئ نو الله دے

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۵۴﴾

په هر څه ښه عالم دے۔

نکات: ۔ سا اُوم خطاب مؤمنانو ته ۱۲

موضح قرآن ف الله پاک دا ادب اوښودهٔ مؤمنانو ته کله چه به هغوئ دَ نبي علیه السلام په کور کښې خوراک دَ پاره جمع وو نو خوراک نه روستو به ئے خبرے کول شروع کړل۔ دَ نبي علیه السلام دَ آرام کولو ځائے هم هغه وؤ له شرمه به ئے څه نهٔ وئیل چه لاړ شئ الله دَ هغه پاره کښې اوفرمائیل او دے آیت کښې ئے دَ پردے حکم ورکړو چه سړی دِ دَ نبي علیه السلام بیبیانو ته مخامخ (پردے نه بغیر) نه ورځی دَ ټولو مسلمانانو په ښځو باندے دا حکم واجب نهٔ دے که چرے ښځه مخامخ وی دَ کوم سړی سره او ټول بدن ئے په کپړو کښې پټ وی نو گناه نهٔ ده او که چرے مخامخ نهٔ وی نو بهتره ده ۱۲۔

تفسیر ۵۳ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ دا مؤمنانو ته اُوم خطاب دے ایمان والو ته دَ نبي علیه السلام او دَ هغوئ دَ ازواج مطهرات دَ څه حقوق او آداب تعلیم ورکړے شو دے دَ پاره چه یو طرف ته پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم او ازواج مطهرات دَ هغه تکلیف او ضرر نه محفوظ پاتے شی کوم چه دَ آداب خیال نه ساتلو په صورت کښې رسیدهٔ او بل طرف ته به کافرانو او منافقانو ته دَ افواه خورولو موقع په لاس نه راځی۔ اوّل او دویم ادب لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ النَّبِیِّ الخ دَ پیغمبر علیه السلام کور ته بلا اجازت مهٔ داخلیږئ او کله چه هغوئ تاسو ته خوراک دَ پاره دعوت درکړی نو دَ خوراک تیاریدلو نه مخکښې دَ هغهٔ کور ته مهٔ ورځئ۔ چه دَ خوراک تیاریدلو انتظار کوئ۔ دریم ادب وَلٰكِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ فَادْخُلُوْا الخ چه کله دَ طعام تیاریدلو نه روستو تاسو ته دعوت درکړی هغه وخت دَ هغوئ کور ته لاړ شئ۔ څلورم ادب فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا الخ او کله چه دَ خوراک نه فارغ شئ نو فوراً خپلو کورونو ته لاړ شئ۔ او هلته کیناستلو سره په خبرو کښې مه مشغولیږئ۔ اِنَّ ذٰلِكُمْ یُؤْذِی النَّبِیَّ الخ ځکه چه دَ دے آداب خلاف کول په پیغمبر علیه السلام گران پریوځی او نه ئے خوښوی لیکن دَ مروّت په تقاضا په ژبه هیڅ نه وائی دا دَ مجلس آداب اگرچه

دَ حضور صلی الله علیه وسلم پاره کښې نازل شوی دی لیکن اوس دا دَ عام مسلمانانو دَپاره دی. وهذا الحکم وان نزل خاصا فی النبی صلی الله علیه وسلم وازواجه فالمعنی عام فیه وغیره (جصاص)

۵۵ واذا سالتموهن الخ دا ئے دَ ازواج مطهرات پاره کښې ادب وراوښودو کله چه دَ ازواج مطهرات نه څه شئ غوښتل وی نو دَ پردے شاته آواز اوکړئ. دے دَپاره چه ستاسو او دَ هغوی زړونه دَ هر قسم وسوسو او خطرات نه بچ پاتے شی.

۵۶ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا الخ اے دَ ایمان والو ستاسو دَپاره دا جائز نه ده چه تاسو داسے طریقه اختیار کړئ چه هغے سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تکلیف اورسیږی

او نهٔ ستاسو دَپاره دا جائز ده چه تاسو دَ پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم دَ بیبیانو سره دَ هغه نه روستو نکاح اوکړئ دَ الله په نزد بانده دا ډیره لویه خبره ده. دَ دے سورت په اوّله رکوع کښې تیر شوی دی. وَ اَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ دَ پیغمبر علیه السلام بیبیانے تعظیم او په حرمت نکاح کښې دَ مسلمانانو میاندے دی کوم خیز چه دَ ازواجه امهاتهم نه مفهوم وو دے آیت کښې ئے دَ هغے وضاحت اوکړو. دَ پیغمبر علیه السلام بیبیانے چونکه دَ مسلمانانو میاندے دی دَ دے وجے نه هغوی دَپاره جائز نهٔ دی چه هغوی دَ حضور صلی الله علیه وسلم نه پس سره نکاح اوکړی. ولهذا اجمع العلماء قاطبة علی ان من توفی عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم من ازواجه انه یحرم علی غیره تزوجها من بعده لانهن ازواجه فی الدنیا والاخرة وامهات المؤمنین کما تقدم (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۰۶).

۵۷ ان تبدوا الخ ځنے منافقانو دَ مذکوره بالا حکم نازلیدو نه مخکښې دا اراده کړے وه چه دَ نبی علیه السلام دَ وفات نه روستو به هغه دَ نبی علیه السلام دَ زوجه مطهره سره نکاح کوی او ځنو منافقانو دَ دے اظهار په ښکاره کړیوو نو الله تعالیٰ اوفرمائیل زهٔ ستاسو دَ ښکاره او باطن حرکت نه خبریم که چرے تاسو دَ شرارت نه منع نهٔ شوئ نو سخته سزا به درکړم. فیجازیکم بما صدر منکم من المعاصی البادیه والخافیه لا محالة (روح جلد ۲۲ ص ۷۲).

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْۤ اٰبَآئِهِنَّ وَلَا

نشته گناه ۵۸ په هغه ښځو بانده چه مخامخ کیدی خپلو پلرونو سره او نهٔ

آبَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ

د ځامنو سره او نه د خپلو رونړو سره او نه د ځامنو

اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَلَا

د رونړو خپلو سره او نه د خپلو خويندو د ځامنو سره او نه

نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ

د خپلو ښځو سره او نه د خپلو وينځو سره

وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ

او ويريږئ د الله نه ، بيشکه الله دے په هر

شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ

څيز گواه ٥٥ . بيشکه الله ٥٦ او فرښتے د هغهٔ

يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ۭ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

رحمت ليږي په رسول باندے ، اے د ايمان والو

صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ اِنَّ

رحمت اوليږئ په هغه باندے او سلام اوليږئ ٥٧ . بيشکه

الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ

کوم خلق چه شته تکليف ورکوي الله ته او رسول د هغه ته په هغوی لعنت اوکړو

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ

الله په دنيا او په آخرت کښ او تيار کړيدے د هغوی د پاره

عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ

عذاب د ذلت . او کوم خلق چه تهمت لگوی شته

الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا

په مسلمانانو سړو او مسلمانانو ښځو باندے بغير د څه گناه کولو نه

فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَّإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾
نو پورته کړه هغوی بار د دروغ او د ګناه صریح ف۳ .

يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ
اے نبی ﷺ او وایه ښځو خپلو ته او لونړو خپلو ته

وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ
او ښځو مسلمانانو ته چه راځوړند کړی خپل ځانونو باندے

مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ
لږشان خپل پړونی ، دیکښ ډیره نږدے ده چه او پیژندلے شی

فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾
نو څوک به هغوی ته تکلیف او نه رسولے شی، او دے الله بخونکے مهربان ف۴ .

نکات: ۱ـ اثم خطاب مؤمنانو ته ۱۲ ۲ـ تخویف دنیوی او اُخروی ۱۲ ۳ـ اُوم خطاب نبی علیه السلام ته ۱۲ـ

موضح قرآن ف۱ دَ خپلو ښځو او دَ خپل لاس مال (وینځو) ذکر په سورۀ نور کښ اوشو ۱۲ . ف۲ دا حکم ادا کیږی په مانځه کښ السلام علیك ایها النبی ، اللّٰهم صلّ علی محمّد ـ خپل پیغمبر باندے او دَ هغهٔ په کورنئ باندے دَ رحمت لیږلو سوال ډیره لویه درجه لری په هغوی باندے دَ هغوئ لائق رحمت نازلیږی او په رحمت غوښتونکی باندے هم لس رحمتونه نازلیږی اوس چه څوک څومره خواری هغومره دِ حاصل کړی ۱۲ منه ـ ف۳ دا منافقان وو چه پټی شا به ئے دَ رسول الله بد وئیل یا به ئے دَ هغهٔ په بی بی باندے تهمت لګولو سورۀ نور کښ دَ هغوی خبر ذکر شوے دے ۱۲ منه ـ ف۴ او به پیژندلے شی چه وینځه نه ده دَ رسول الله بی بی ده دَ عزت مالکه یا بد ذات نه ده نیک بخته ده نو بد نیته خلق به هغې سره څهٔ کار نهٔ لری چه هغې ته لاس ور او غزوی او نقاب ئے دَ هغې نښان اوګرځولو دا حکم دَ بهترئ دے وړاندے ئے او فرمائیل چه الله بخونکے مهربان دے ۱۲ منه ـ

فتح الرحمن ف۱ یعنی دَ هغوئ عفت او پاکدامنی به ظاهره شی فاسقان به هغوئ ته تعرض او لاس غځونه نهٔ کوی ۱۲

تفسیر ۵۵ لَا جُنَاحَ الخ دلته دَ هغه رشته دارانو ذکر شوے دے دَ کوم نه چه په ازواج مطهرات باندے حجاب لازم نه وو. هغه دا دی. پلار، ځوئے، رور، ورارهٔ، خوریئے، مؤمنانې ښځې او وینځې. والتقین الله دا خطاب ازواج مطهرات سره دے وے فرمائیل تاسو هم دَ الله نه ویریږئ او دَ الله په اوامرو نواهي کښ دَ هغهٔ تابعداری اوکړئ الله تعالیٰ په هر څه خبردار دے او هر یو ته به دَ هغهٔ دَ عمل مطابق جزاء او سزا ورکوی ۱۲.

۵۶ اِنَّ اللهَ الخ دا ایمان والو ته اتم خطاب دے حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چونکه دَ الله تعالیٰ دَ احکامو په تعمیل او دَ توحید په دعوت او په تبلیغ او اشاعت کښ او دَ جاهلیت دَ رسمونو ماتولو کښ پوره همت او جراءت او کامل ثبات او استقلال نه کار واخستو او دَ تبلیغ حق ئے ادا کړو نو الله تعالیٰ هغهٔ ته خراج تحسین پیش کړو او دَ فرښتو په مخ کښ ئے دَ هغوی د مدح او ثناء او عظمت اظهار اوکړو او دَ هغوئ دَ قدر او مرتبے نه ئے بندګان خبر کړل دے دَ پاره چه هغوئ هم دَ نبی علیه السلام قدر او مرتبه اوپیژنی او هغهٔ ته خراج تحسین پیش کړی. والمقصود من هٰذِهِ الاٰیة ان الله سبحانهٗ وتعالیٰ اخبر عباده بمنزلة عبدهٖ ونبیه فی الملاء الاعلیٰ بانه یثنی علیه عند الملائکة المقربین وان الملائکة تصلی علیه ثم امر تعالیٰ اهل العالم السفلی بالصلوٰة والتسلیم علیه لیجتمع الثناء علیه من اهل العالمین العلوی والسفلی (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۰۶) هی (الصلوٰة) عند عزوجل ثناء علیه عند ملئکة وتعظیمهٗ (رواه البخاری عن ابی العالیة وغیره عن الربیع بن انس وجری علیه الحلیمی فی شعب الایمان (روح ج ۲۲ ص ۷۲) فصلوٰة الله ثناءه علیه عند ملئکته (خازن ج ۵ ص ۲۲۵) قال البخاری قال ابو العالیة صلوٰة الله تعالیٰ ثناءه علیه عند الملائکه وصلوٰة الملائکة الدعاء وروی مثلهٗ عن الربیع ایضًا (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۰۶) مخکے قاصرینو دَ چاچه دَ اعتراض کولو شوق دے دَ حضرت شیخ دَ کلام مفهوم باندے دَ نهٔ پوهیدلو دَ وجے نه اعتراض کړے دے چه دَ صلوٰة دا معنیٰ صحیح نه ده حال دا دے چه دَ دیرو بزرګانو نه دا نقل شویده لکه چهٔ دَ پورتنئ حواله نه ظاهره ده چه امام ابو العالیه، ربیع بن انس او حلیمی هم دا معنیٰ مراد کړیده. لیکن اکثر مفسرین دے طرف ته تلے دی چه صلوٰة دَ الله له طرفه رحمت دے او رضا مندی ده دَ فرښتو لطرفه دُعا او استغفار دے او دَ بندګانو له طرفه دُعاء او تعظیم دے. والصلوٰة من الله رحمتهٗ ورضوانهٗ ومن الملائکة الدعاء والاستغفار ومن الامة الدعاء والتعظیم لامره (قرطبی ج ۱۴ ص ۲۳۲)

یعنی الله تعالیٰ په حضرت پیغمبر علیه السلام باندے رحمت او برکت نازلوی او فرشتے هم نبی علیه السلام دپاره د الله نه د رحمت او درجات اوچتولو دپاره دعاء کوی د دے وجے نه اے د ایمان والو! تاسو هم نبی علیه السلام دپاره د الله نه د رحمت او برکت دعاء غواړئ او د هغهٔ مدح او ثناء بیانوئ.

۱۱۰ إِنَّ الَّذِيْنَ الخ دا کافرانو او منافقانو دپاره دنیوی او اخروی تخویف دے د الله او د هغهٔ د رسول د ایذاء نه مراد دا دے چه د هغوئ د احکامو نه مخالفت اوکړے شی او د هغوئ د ناراضګئ افعال او اعمال اوکړے شی عبر بایذاء الله ورسوله عن فعل ما لا یرضی به الله ورسوله کالکفر (مدارك) ارید بالایذاء ارتکاب مالا یرضیانه من الکفر وکبائر المعاصی مجاز الانه سبب او لازم له (روح جلد ۲۲ صک۸) لعنهم الله الخ الله تعالیٰ به هغوئ دنیا او آخرت کښ د خپل رحمت او برکت نه محروم کړی او هغوئ به په آخرت کښ رسوا کوونکی عذاب کښ مبتلا کړی. یا د الله د ایذاء نه مراد شرک دے او د حضور علیه السلام د ایذاء نه مراد هغوئ ته ساحر او مجنون وغیره وئیل دی. قال الجمهور معناه (ایذاء الله) بالکفر ونسبة الصاحبة والولد والشریك الیه ووصفه بما لا یلیق به...الخ (قرطبی ج ۱۴ صک۲۳۷).

۱۱۱ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الخ دلته د ایمان والو ته د ضرر رسولو مذمت او فرمائیلو کوم خلق چه مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بلاوجه او بلا قصور تکلیف رسوی هغوی ډیره لویه ګناه او صریح جرم په خپله ذمه اخلی. حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی مطلب دا دے چه کوم خلق پیغمبر علیه السلام او مؤمنانو او مؤمنات باندے د ناحق او ناکړی ګناه تهمت لګوی هغوئ صریح ګناه کوی. ای ینسبون الیهم ما هم برءاء منه لم یفعلوه ولم یعملوه (ابن کثیر ج ۳ صک۵۱۷)

۱۱۲ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ الخ دا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته اووم خطاب دے د حجاب د نزول نه مخکښ به مسلمانانے ښځے د شپے قضاء حاجت دپاره بهرته تللے نو منافقانو به تنګولے او آوازونه به ئے ورباندے کول ۱۲. کله چه به هغوئ ته اووئیلے شو تاسو دا سے ولے کوئ نو وئیل به ئے موږ ونه پیژندل چه دا فلانکئ ښځه ده کله چه نبی علیه السلام ته دا شکایت اورسیده نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه مسلمانانے ښځے کله بهرته اوځی نو پړونی دِ په سر باندے راځوړند کړی دے دپاره چه معلومه شی چه دا آزاده او شریفه ښځه ده. کانت المرأة من نساء المؤمنین قبل نزول هذه الایة تتبرز للحاجة فیتعرض لها بعض الفجار یظن انها امة فتصیح به فیذهب فشکوا ذلك الی

النبي صلى الله عليه وسلم ونزلت الاية بسبب ذلك (قرطبی ج ۴ ص۲۴۳). ۱۰. اے پیغمبر خپلو بیبیانو ته، خپلو لونړو ته او ټولو مسلمانانو ښځو ته دا حکم ورکړه چه هغوئ غټې څادرے (پړونی) په ټول بدن زوړند کړی بهرته د اوځی دا شان به د دوئ او د وینځو مینځ کښ فرق او امتیاز راشی او منافقان فاجران به هغوئ ته ضرر رسولو کښ کوشش نه کوی ځکه چه عام طور باندے په هغوئ وینځو ته تعرض کولو. دے آیت کښ الله تعالی بَنٰتِكَ فرمائیلے دے لفظ بَنَات چه د بِنْتٌ جمع ده هغه د مخاطب ضمیر ته مضاف کړے دے چه په هغے سره خطاب نبی علیه السلام ته شوے دے. دا شان د قرآن صریح نص نه د حضور علیه السلام د لونړو تعداد ثابت شو او معلومه شوه چه د حضور علیه السلام صرف یوه لور نۀ وه بلکه د یوے نه زیاتے وے او د جمع صیغه کم نه کم د دریو د پاره وی. د دے وجے نه د قرآن نه د نبی علیه السلام د لونړو تعداد کم نه کم درے ثابتیږی د دے نه کم نه دے او د تاریخ او مستند روایتونو نه ثابتیږی چه د نبی علیه السلام څلور لونړه وے د شیعه او سنی مؤرخین او محدثین پدے اتفاق دے بخپله شیعه مصنفین منلے ده چه د حضور صلی الله علیه وسلم د لونړو شمار څلور دے او څلور واړه د حضرت خدیجه رضی الله عنها د بطن نه پیدا شوے دی لکه چه علامه یعقوب کلینی شیعه محدث لیکلی دی. وَتَزَوَّجَ خَدِيْجَةَ وهو ابن بضع وعشرين سنة فولد له منها قبل مبعثه عليه السلام القاسم ورقية وزينب وام كلثوم وولد له بعد المبعث الطيب والطاهر وفاطمة عليها السلام. كافی کلینی اصول ج ۱ ص۴۳۹ طبع طهران).

ترجمه: حضور علیه السلام څه د پاسه شل کاله عمر کښ د حضرت خدیجه سره نکاح اوکړه نو د هغے د بطن (رحم) نه د نبوت نه مخکښ قاسم، رقیه، زینب او ام کلثوم پیدا شول او د نبوت نه روستو طیب، طاهر او فاطمه پیدا شول. او ملا باقر مجلسی شیعه لیکی. در قرب الاسناد بسند معتبر از حضرت صادق روایت کرده است که از برائے رسول خدا از خدیجه متولد شدند طاهر و قاسم و فاطمه و ام کلثوم و رقیه و زینب (حیات القلوب ج ۲ ص۵۸۸ مطبوعه طهران). ځینے روافض وائی د بنات نه دلته د امت ښځے مراد دی. ځکه چه هغوئ د نبی علیه السلام روحانی لونړه دی. د دے اول جواب دا دے چه د امت د ښځو صراحت سره ذکر موجود دے. وَنِسَاۤءِ الْمُؤْمِنِيْنَ د دے وجے نه لفظ بنات پدے محمول غلط دے. دویم جواب دا دے چه د بنات نه د امت ښځے مراد کول مجاز دے او حقیقی معنی صُلبی لونړه دی او دا مسلمه قاعده ده چه مجازی معنی هغه وخت مراد کولے شی چه کله حقیقی معنی مراد کول متعذر وی. لیکن دلته

حقیقي معنیٰ متعذر (مشکل) نهٔ ده ځکه چه کله دا آیت نازل شو نو هغه وخت
دَ نبي علیه السلام لونړهٔ ژوندئ وے ۱: حضرت زینب رضی الله عنها چه
په ۸هـ کښ وفات شوه. ۲: حضرت أم کلثوم رضی الله عنها چه دَ هغې
انتقال په ۹هـ کښ اوشو. ۳: حضرت فاطمه رضی الله عنها چه دَ
هغې وفات دَ حضور صلی الله علیه وسلم نه روستو اوشو دا آیت ۸هـ نه
مخکښ نازل شو. دَ دے وجې نه دَ بنات نه دلته دَ نبي علیه السلام
صلبي لونړه مراد دي نه چه روحاني.

لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

بیشکه که چرے منع نهٔ شول ﷺ منافقان او دَ چا

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

په زړونو کښ چه بیماري ده او دروغو خبرو نه خورونکي

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ

په مدینه کښ نو مونږ به تا لره مسلط کړو په دوی باندے بیا به

لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٠﴾

پاتے نشي دوی ستا سره دے ښار کښ مګر لږ وخت ﷺ.

مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا

رټلي شوي چرته چه دوی اومونده شي نیولے به شي

وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي

او وژلے به شي لاره ایښے ده الله ﷻ په

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

هغه خلقو کښ کوم چه مخکښ تیر شوي دي او ته به بیا نهٔ مومے

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْــَٔلُكَ النَّاسُ

دَ لارے دَ الله بدلول ﷺ. تپوس کوي ستا نه خلق ﷺ

عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ

دَ قیامت ، ته اووایه دَ هغې خبر دَ الله سره

اللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

دے ، او تا ته څه علم دے شاید چه هغه وخت

تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ

نزدے دے ف۔۲۔ بیشکه ته الله رټلی دی انکار کوونکی

وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَالِدِينَ فِيهَا

او تیار کړے ئے دے هغوئ د پاره لمبے وهونکے اور۔ او سیږی به په هغے کښ

أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾

همیشه نه به بیا مومی څوک حمایتی او نه امداد کوونکے.

يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ

کومه ورځ چه به پرېځے غورځولے شی په مخونو باندے په اور کښ وائی به

يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴿٦٦﴾

څه ښه به وه چه مونږ خبره منلے وے د الله او خبره مو منلے وے د رسول.

وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا

او وائی به اے رب مونږ خبره او منله د خپلو سردارانو

وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ﴿٦٧﴾

او د خپلو مشرانو بیا هغوئ مونږ ورک کړو د سمے لارے نه.

رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ

اے ربه ! هغوئ ته ورکړه دوچنده عذاب

وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾ ع ٨ ٥

او لرے کړه هغوئ (د خپل رحمت نه) په رټلو لویو سره.

نکات سلے زجر او تخویف دنیوی ۱۲ سلے تخویف اخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ کوم خلق چه بد نیت وو په مدینه کښې به ئے بنځې چیړلے لاس به ئے ورته اچولو او په بدو سترګو به ئے هغوئ ته کتل او دروغو خبرونه به ئے خورول د مخالفینو د زور او د طاقت او د مسلمانانو د کمزورئ او شکست هغوی ته ئے دا اوفرمائیل او په تورات کښې هم دا تاکید دے چه مفسدان د خپل مینځ نه بهر اوباسئ ۱۲ منه۔
ف۲ شاید چه دا په هم د منافقانو په یو خراب عادت باندے نیوکه شوے وی چه د کوم خیز جواب د ټولے دنیا سره نشته هغه سوال بیا بیا کوئ۔ د هغے باره کښې ئے دلته اوفرمائیل ۱۲ منه۔

فتح الرحمن ف۱ د وطن نه به اوشړلے شی ۱۲

تفسیر ۵۵ لَئِنْ لَّمْ یَنْتَهِ الخ۔ دا په منافقانو زجر او تخویف دنیوی دے وَالَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نه بدکار او فجار مراد دی د چا په زړونو کښې چه د بدکارئ د خیالات بیماری وه۔ والمرجفون فی المدینة۔ د مدینے یهود چه د عام مسلمانانو او خصوصًا د مسلمانانو ښځو باره کښې به ئے غلط افواهګانے خورولے د دے د پاره چه د هغوی خلاف بدګمانی خوره شي او هغوئ ته ذهنی تکلیف اورسیږی۔
والمرجفون فی المدینة من الیهود المجاورین لها عما هم علیه من نشر اخبار السوء عن سرایا المسلمین وغیر ذٰلك من الاراجیف الملفقة المستتبعة للاذیة ...... سألت عكرمة عن الذین فی قلوبهم مرض فقال هم اصحاب الفواحش وعن عطاء انه فسرهم بذلك ایضًا (روح ج ۲۲ ص۹۰)۔ دے آیت کښې ئے هغه افراد متنبه کړل او د شرارتونو نه ئے منع کیدلو په صورت کښې ئے د سخت سزا ویره واوروله۔ د حجاب د حکم نازلیدلو سره د دے منافقانو او فاجرانو دا عذر خو باطل شو چه هغوئ ته غلطی شویده هغوئ پیژندلے نه دی ځکه چه اوس مسلمانانو ښځو لوئے څادرونه په سر راچولو سره د کورنه وتلونه ظاهریږی چه هغه مسلمانانے او شریفے او آزادے ښځے دی د دے وجے نه که چرے اوس دا اشرار د خپلو شرارتونو نه او خباثتونو نه منع نه شول نو مونږ به هغوی په دنیا کښې خوار او ذلیل کړو۔ لنغرینك بهم۔ مونږ به تا سو ته په هغوی باندے غلبه درکړو او د هغوئ د جلاوطن کولو حکم به د مدینے منورے او د هغے د قرب او جوار نه صادر کړو او هغوئ به همیشه د پاره د دے ځائے

نه لرے کړے شي او ستا په ګاونډ کښ به تزدے هم نۀ اوسیږي. اِلَّا قَلِیْلًا صرف دومره وخت به دے علاقه کښ اوسیدلے شي څومره وخت کښ چه سامان او اهل عیال بل ځائے ته منتقل کولو کښ لګیږي یا دَ دے قلیل وخت نه دَ ویستلو حکم راتللو پورے وخت مراد دے۔ مَلْعُوْنِیْنَ دا دَ لَا یُجَاوِرُوْنَكَ دَ فاعل نه حال دے یعني کوم لږ شان وخت چه هغوئ مدینے ته نزدے اوسیږي دَ خدائے دَ رحمت او ستاسو دَ حُسن سلوک نه به شړلے شوے وي او کله چه جلاوطن کولے شي دَ هغے نه روستو به هم هغوی دَ پاره هیڅ دَ پناه ځائے نۀ وي چرته چه ملاویږي دَ هغوئ دَ قید کولو او قتل کولو اجازت به وي. ای فی ذٰلك الوقت الذی یجاورونك فیه یکونون ملعونین مطرودین من باب الله وبابك واذا اخرجوا لا ینفکون عن المذلة ولا یجدون ملجأ بل انما یکونون یطلبون ویؤخذون ویقتلون (کبیر ج ۶ ص ۷۹۹)

۵۷ سُنَّةَ اللّٰهِ الخ دَ شر خوښونکو او فساد کونکو عناصر او باغیانو باره کښ په تیرشوو شریعتونو کښ هم دَ الله دا قانون وو او اوس هم هغه دستور او قانون دے اوس به کوم یو نوے طریقه کار نه شي نافذ کولے۔

۵۸ یَسْئَلُكَ النَّاسُ الخ دا تخویف اخروی دے مشرکانو به دَ توقو مسخرو په طور تپوس کوؤ چه قیامت به کله راځي. وے فرمائیل په جواب کښ او وایه راځي به خامخا لیکن دَ هغے دَ راتللو معین وخت صرف الله ته معلوم دے دَ هغه نه سِواهیڅوک ته دَ هغے علم نشته څۀ معلومه ده، شاید چه قیامت نزدے وي.

۵۹ اِنَّ اللّٰهَ الخ قیامت چه کله هم راشي او راځي به ضرور. دغه ورځ به دَ کافرانو او مشرکانو حشر دا وي چه هغوئ به دَ خدائے دَ رحمت نه محروم وي او په لمبے وهوونکي اور کښ به غورځولے شي او په هغے کښ به همیشه پراته وي او هلته به دَ هغوئ څوک امداد کوؤنکے نۀ وي چه هغوئ دَ الله دَ عذاب نه خلاص کړي۔ یَوْمَ تُقَلَّبُ الخ دَ قیامت په ورځ چه کله دَ هغوئ مخونه په اور باندے اړولے راړولے شي نو هغوئ به حسرت او ندامت سره وائي کاش چه مونږ په دنیا کښ دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول اطاعت کړے وے۔ دینه روستو به هغوئ الله تعالیٰ سره مخاطب شي دَ معذرت په طور به اوائي رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا الخ اے خاوندہ زمونږ پروردګاره مونږ دے معامله کښ بے قصوره یو مونږ په دنیا کښ دَ علماء دین او دَ مذهب دَ پیشوایانو اطاعت او پیروي کوله لیکن هغه ظالمانو مونږ ته دَ هدایت او توحید لاره ښودلو په ځائے دَ توحید نه ګمراه کړلو او کفر شرک باندے روان کړو۔ سادة او کُبراء نه علماء سوء او دَ دین پیشوایان مراد دي چا چه دَ کفر شرک تبلیغ کولو. والمراد بهم

العلماء الذين لقنوهم الكفر و زينوه لهم وعن قتادة رؤساؤهم في الشر والشرك (روح ج ٢٢ ص ٩٣) والاظهر العموم في القادة والرؤساء في الشرك والضلالة اى اطعنا هم في معصيتك وما دعونا اليه فاضلونا السبيلا اى عن السبيل وهو التوحيد (قرطبی ج ١٤ ص ٢٤٩).

رَبَّنَآ اٰتِهِمْ الخ داهم د ماقبل سره متعلق دے اے ځمونږه پروردګاره دا ظالمان پخپله هم ګمراه وو او مونږه ئے هم ګمراه کړو دے وجے نه هغوئ ته دوچند عذاب ورکړه او د خپل رحمت نه هغوئ ډیر لرے اوساته۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا

اے مؤمنانو مه کیږئ تاسو

كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا

د هغوئ پشان چا چه تکلیف اورسولو موسی ته بیائے بے عیبه او ښودهٔ هغه الله د هغوئ

قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ؕ ﴿٦٩﴾

وینا نه ، او وو په نزد د الله عزتمند هغه۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ

اے د ایمان والو ! ویریږئ د الله نه

وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۙ ﴿٧٠﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ

او وایئ خبره ښهٔ محکمه ریښتیا ۔ چه صالح کړی ستاسو د پاره

اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ

ستاسو کارونه او بخښه اوکړی تاسو ته ستاسو ګناهونو او څوک چه روان شو

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾

د الله په وینا او د هغهٔ د رسول هغه بیا مونده لے دے مراد لوئے۔

اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ

مونږه ښکاره کړهٔ ولله امانت هغه ٢ آسمانونو ته

وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا

او زمکې ته او غرونو ته بیا هیچا قبول نکړو ئه چه هغه بار کړي

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ

او د هغې نه اووېریدل او بار کړه هغه انسان ۰ دا

كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ۝٧٢ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ

دے ډېر بے ویرے او ناپوهه ولا دے د پاره چه عذاب ورکړي الله ئه

الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

منافقانو سړو او ښځو ته او شرک کوونکو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

او ښځو ته او معاف کړي الله مؤمنان سړي

وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝٧٣ ع

او ښځے ۰ او دے الله بخونکے مهربان ۰

نکات سلے نهم خطاب مؤمنانو ته ۱۲ سلے زجر او تخویف اخروی ۱۲ سلے لام د پاره د عاقبت ۱۲

موضح قرآن فلا ځینې مفسدانو په حضرت موسیٰ علیه السلام باندے تهمت او لګولو چه حضرت هارون علیه السلام ئے بیاباناته بوتللو او وژلے ئے دے چه په ریاست حکومت کښ هغه سره شریک نشي نو الله تعالیٰ په یو خارقِ عادت طریقه سره د هغې تردید اوکړو د هغهٔ جنازه د آسمان نه په نظر راغله او د هغې نه آواز راغلے چه زهٔ په مرګ مړ شوے یم. او ډیرو اوویل چه موسیٰ علیه السلام ځکه د خلقو نه لرے پټ لامبي چه د دهٔ په بدن کښ څهٔ عیب دے، د برص مرض دے یا ئے خصی پرسید لی دی. یوه ورځ حضرت موسیٰ علیه السلام ځانله لامبل کپړے ئے په یو کاڼړی باندے کیښودلے هغهٔ کاڼړی کپړے او تښتولے حضرت موسیٰ علیه السلام همسا واخسته منډه ئے کړه کاڼړی پسے دروستونه روان شو چرته چه ټولو خلقو کتل کاڼړے اودریدهٔ ټولو پر بنړ اولیدهٔ چه هیڅ یکښ نه وو کاڼړے ئے څو ګذاره اووهلو چه په هغه کښ نقش جوړ شو.

ف۲ یعنی پخپل ځان ئې ترس رانغلو امانت ته پردی ځیز یخودل خپل خواهش ایسارول په زمکه او آسمان کښ خپل خواهش هیڅ نشته یا خوشته هم هغه دے چه په هغې باندے قائم دے دَ آسمان خواهش کرځیدل دَ زمکے خواهش ایساریدل انسان کښ خواهش بل څۀ دے او حکم د دے په خلاف دا پردے ځیز دَ خپل نفس خلاف نیټکول ډیر زور غواړی دَ دے انجام دا چه منکرین په قصور باندے نیول او دَ منونکو قصور معاف کول اوس هم دا حکم دے که دَ چا امانت څوک قصدًا ضائع کړی نو بدله ده او که بے اختیار ، ضائع شی نو بدله نشته ۱۲ منه۔

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی یعنی موسٰی علیه السلام دَ غسل په وخت پرده کوله نا پوهه بنی اسرائیلو وئیل چه خصی ئے پرسیدلے دی یوه ورځ ئے اتفاقًا دَ اوبو په غاړه غسل کوو او خپلے جامے ئے په کاڼړی ایښے وے دَ خدائے په حکم هغه کاڼړے روان شو او موسٰی کاڼړی پسے دَ روستو منډے وهلے تردے چه دَ بنی اسرائیل یو ډلے ته ورېښ او لیده او وے وئیل اوره ته لری۔ او دَ خصیو پرسوب ته اوره وائی ۱۲ والله اعلم۔
ف۲ یعنی استعداد دَ تکلیف په اوامرو او نواهی

تفسیر

۵۲ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ دا مؤمنانو ته تهم خطاب دے۔ مؤمنانو ته ئے تعلیم او ادب اوښولو چه خبردار اوسیږئ دَ منافقانو او فاجرانو غلطو پروپیګنډو او دروغونه متاثر ته ئ شی هغه شان کار اوته کړئ کوم چه دَ موسٰی علیه السلام په وخت کښ خلقو کړے وو او هغوئ ته ئے سخت تکلیف رسولے وو هغه خلقو په موسٰی علیه السلام باندے دَ دروغو تهمت اولګوؤ دَ هغۀ دَ بدنامولو کوشش ئے اوکړو لیکن الله تعالٰی دَ هغۀ دَ براءت او پاکدامنئ اظهار اوکړو ځکه چه موسٰی علیه السلام دَ خدائے سره دَ اوچتے مرتبے مالک وو۔ حضرت شیخ قدس سره فرمائی قارون او دَ هغۀ همخیالو په حضرت موسٰی علیه السلام باندے په دروغه دَ زنا تهمت اولګولو هغۀ ته ئے تکلیف رسولے وو۔ حضرت موسٰی علیه السلام قوم ته وعظ کولو چه دَ زنا نه ځان اوساتئ کوم سړے چه زنا کوی هغه به قتلولے شی۔ قارون اوئیل اګرچه ته ئے ؟ هغوئ اوئیل دا حکم ټولو دَ پاره یو شان دے۔ قارون یو بدکاره زنا کاره

ښځې ته د ډیر مال لالچ ورکړو او تیاره ئے کړه چه هغه د عام مجلس
په مخکښې اقرار اوکړی چه (عیاذاً بالله) موسیٰ علیه السلام هغې سره
زنا کړیده ټو قارون د عام مجلس په مخکښې اُوئیل فلانکئ ښځه
وائی چه تاسو هغې سره زنا کړیده. موسیٰ علیه السلام هغه ښځې
ته په خدائے قسم ورکړو تپوس ئے ترینه اوکړو رښتیا رښتیا وایه
نو هغه ښځې اُوئیل چه قارون ماته د دولت لالچ راکړو او زه ئے په
دے آماده کړم چه زه په تاسو باندے د دروغو بهتان اُوتړم. داشان
د ټولو خلقو په مخکښې د حضرت موسیٰ علیه السلام براءت ظاهر شو
او د قارون سازش خاورو سره ملاؤ شو. وقال بعضهم قارون قرر
مع امرأة فاحشة حتی تقول عند بنی اسراء یل ان موسیٰ زنٰی بی فلمّا
جمع قارون القوم والمرأة حاضرة القی الله فی قلبها انها صدقت ولم تقل
ماالقنت (کبیر ج ۶ ص ۸۰۰) قال ابوالعالیة هو ان قارون استاجر مومسة
ای زانیة لتقذف موسیٰ بنفسها علی رأس الملأ فعصمها الله تعالیٰ
وبرأ موسیٰ من ذلك وکان ذلك سبب الخسف بقارون ومن معه
(السراج المنیر ج ۳ ص ۲۵۵) وهم قارون وقومه اذ رموه بالزنا بامرأة
مسومسة استاجروها لتقذفه بنفسها (فبرأه الله مما قالوا) باقرارها
انهم استاجروها لهذا القذف فخسف الله بهم الارض (مدارك ج ۳ ص ۲۶۵)
۶۸ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ اے مؤمنانو! د الله نه او ویریږئ د غلط
بیانئ او تهمت لګولو نه لرے اوسیږئ او همیشه رښتیا او صحیح وینا
خپل لباس جوړ کړئ الله تعالیٰ به ستاسو اعمال قبول کړی او د هغې
اجر به درکړی. یصلح لکم اعمالکم بالقبول والاثابة علیها علی ماروی
عن ابن عباس ومقاتل (روح ج ۲۲ ص ۹۵) او ستاسو ګناهونه به معاف
کړی په دُنیا او آخرت کښې به د ټولو نه لویه کامیابی هغه چاته نصیب
وی څوک چه د الله او د هغهٔ د رسول مطیع او فرمانبردار وی.
۶۹ اِنَّا عَرَضْنَا الخ دا په منافقانو او مشرکانو باندے زجر دے او هغوئ
د پاره تخویف اُخروی دے موږ په زمکه او آسمان باندے د هغوی د
حال مناسب کوم احکام مقرر کړل هغوئ هغه په خوشحالئ سره قبول
کړل او په هغې باندے ئے عمل اوکړو لکه چه ارشاد دے فقال لها
وللارض ائتیا طوعا اوکرها. قالتا اتینا طائعین (حم السجدة ۱۶)
لیکن کافر او مشرک او منافق انسان "په امانت کښې خیانت اوکړو
او د الله احکام ئے شاته اوغورځول. د امانت نه د مراد باره کښې مختلف
اقوال دی. د ټولو نه بهتر او جامع قول دا دے چه د دے نه ټول احکام

الهى او تكاليف شرعيه مراد دى. قال ابن عباس يعنى بالامانة الطاعة (ابن كثير ج ۳ ص۵۲۲) قال مجاهد الامانة الفرائض وحدود الدين وقال ابوالعالية ما امروا به ونهوعنه (معالم ج ص۲۲۹) والامانة تعم جميع وظائف الدين على الصحيح من الاقوال وهو قول الجمهور (قرطبى ج ۱۴ ص۲۵۳) ليكن غير ذوى العقول دپاره د امانت نه تكوينى فرائض مراد كيدل پكار دى.

ته فَأَبَيْنَ الخ كښ ضمير د جمع مؤنث سموت، ارض اوجبال طرف ته ته راجع دے حضرت شيخ قدس سره فرمائى اى اَنْ يَحْمِلْنَ د حمل نه دے چه د هغے معنى خيانت ده قوله تعالى فابين ان يحملنها واشفقن منها وحملها (تاج العروس ج ۷ ص۲۸۸) وحمل الامانة ومحتمل لها يريد انه لا يؤديها الى صاحبها الخ (بحر ج ۷ ص۲۵۳)

يريد بالامانة الطاعة لله وبحمل الامانة الخيانة يقال فلان حامل للامانة ومحتمل لها اى لا يؤديها الى صاحبها حتى تزول عن ذمته الخ (مدارك)

او د اَلْاِنْسَانُ نه كافر او منافق مراد دے. حاصل دا دے چه موږ په ټول مخلوق باندے د امانت پار پيش كړه زمكے، آسمانونو اوغرونو دا امانت پوره كړو عهد ئے اوكړو چه هغوئ به د دے حق ادا كوى او دے كښ به هرګز خيانت نه كوى اوسپارلے شوى فرائض به په ښكلے طريقه سره سرته رسوى.

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا يعنى امانت كښ د خيانت كولو نه او ويريدل (داشان مؤمنانو هم امانت پار كړه او د دے د پوره كولو وعده ئے اوكړه) ليكن كافر او منافق انسان په دے امانت كښ خيانت اوكړه او د الله تعالى د اطاعت حق ئے ادا نكړو او د دے خيانت په وجے سره هغه په خپل ځان باندے ډير لوئے ظلم اوكړه او د جهالت او ناپوهئ په وجه ئے په هغے كښ خيانت اوكړه (وحملها الانسان) اى خان فيها وابى ان يؤديها (انه كان ظلوما) لكونه تاركا لاداء الامانة (جهولا) لاخطائه مايسعده مع تمكنه منه وهو اداءها قال الزجاج الكافر والمنافق حملا الامانة اى خانا ولم يطيعا ها ومن اطاع من الانبياء والمؤمنين فلا يقال كان ظلوما جهولا (مدارك).

د حضرت شيخ په نزد يا ندے حمل په معنى د خيانت راجح دے اګرچه اكثر مفسرينو حمل په معنى د پوره كولو محمول كړيدے.

لکه لیعذب الخ لام د عاقبت د پاره دے د منافق او مشرک انسان په امانت کښې د خیانت کولو او د مؤمنانو حق امانت ادا کولو انجام به داوی چه الله به منافقانو او مشرکانو سړو او ښځو ته عذاب ورکوی او د ایمان والا سړو او ښځو توبه به قبلوی او هغوئ ته به د هغوئ د اعمالو اجر او ثواب ورکوی ځکه چه هغهٔ غفور او رحیم دے او د هغهٔ د بخشش او رحمت تقاضا هم دا ده۔ وآخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین۔

سورهٔ احزاب کښې د توحید آیتونه او د دهٔ خصوصیات

① يَآيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ط (۱۶) تا سو د کافرانو او منافقانو خبره هرګز مهٔ منئ او د هغوئ د باطل معبودانو د شفاعت قهری نفی کوی۔

② وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ ـــــ نه تر ـــــ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ط (۱۶) د کومو بیبیانو سره چه تا سو ظهار کړے دے هغه ستا سو میانده نشی جوړیدلے او نه ستا سو نش پهٔ خوله وئیلے شوے ځوئے ستاسو حقیقی ځوئے جوړیدلے شی۔ دا شان نش د ژبے دعوی سره ستا سو باطل معبودان شفیع غالب نشی جوړیدلے۔

③ دے سورت کښې د متبنّٰی د ګنړلے یا طلاق کړے شوے سره نکاح حرام ګنړل د جاهلیت رسم موقوف کړے شوے دے ۱۲

سورهٔ سَبَا[۱]

ربط سورهٔ احزاب کښ بیان شوے وو چه تا سو په توحید باندے قائم اوسیږئ اگرچه احزاب (د مشرکانو ډلے) ستا سو مقابلے ته راشی فتح او کامیابی به ستا سوی لکه چه په غزوهٔ احزاب کښ د مشرکانو په مقابله کښ ئے تا سو ته فتح درکړه اوس په سورهٔ سبا کښ ئے اوفرمائیل مشرکان کهٔ چرے د توحید مسئله اومنی نو د دوئ د پاره بهتره ده کنی نو هغوئ ته به انکار او عناد باندے هغه سزا ورکولے شی کومه چه د سَبَا قوم ته ورکړے شوه.

د سورهٔ سَبَا سورهٔ احزاب سره معنوی ربط دا دے چه په سورهٔ احزاب کښ ذکر کړے شوید ے چه خپلے ښځے ته مور وئیلو سره هغه مور نهٔ گرځی او نهٔ تش په خُله وئیلے شوے ځوئے هغه حقیقی ځوئے گرځی. او چا ته شفیع غالب وئیلو سره هغه په حقیقت کښ شفیع غالب نهٔ گرځی اوس به په سورهٔ سَبَا کښ د انبیاؤ، ملائیکو او پیریانو باره کښ د مشرکانو د شبهاتو جواب ورکولے شی چه هغوئ شفیع غالب نهٔ وی

خلاصه د سورهٔ سَبَا نه د قرآن شریف څلورمه حصه شروع کیږی د دے حصے مرکزی مضمون دا دے چه د الله تعالیٰ په نزد هیڅوک شفیع غالب نشته چه د خپلے مرضئ مطابق د الله تعالیٰ نه کار واخلی د دے وجے نه په حاجاتو، مشکلاتو، مصیبتونو او تکلیفونو کښ صرف الله تعالیٰ ته اواز کوئ او صرف د هغهٔ عبادت کوئ او هغه رابلئ او په عبادت کښ هیڅوک مهٔ شریکوئ. دینه معلومه شوه چه د دے حصے مرکزی مضمونونه دوه دی. ۱، نفی د شفاعت قهری. ۲، نفی د غیر الله د عبادت لکه چه په سورهٔ سَبَا کښ د شفاعت قهری د نفی بیان دے او په سورهٔ فاطر کښ په طور د نتیجے او ثمرے بیان اوکړے شو چه کله د الله سره څوک شفیع غالب نشته نو بیا د غیر الله (انبیاء کرام او ملائیک) عبادت ولے کوئ او هغوئ په حاجتونو کښ ما فوق الاسباب ولے رابلئ؟.

دینه روستو سورهٔ یٰسٓ، صافات او صٓ کښ اول مضمون (نفی د شفاعت قهری) په طریقه د ترقئ بیان کړے شو لکه چه په سورهٔ یٰسٓ کښ ذکر اوکړے شو چه مونږ معاندینو او منکرینو د توحید ته او نیول لیکن د هغوئ باطلو مزعومه سفارشیانو کښ یو هم هغوئ

محموتبړ د گرفت نه خلاص نه کړو. او په سورۀ صافات کښې ئې اوفرمائیل خلاصول خو پریږده د کوموخاصان مخدا یعنی د انبیاء کرامو باره کښې چه د مشرکانو گمان دے چه هغوئ د الله سره شفیع غالب دی. نو هغوئ خو د الله تعالیٰ په مخکښې مصائبو او بلیات کښې د ډیرے زیاتے عاجزئ او زارئ اظهار کوی. او دینه روستو په سورۀ ص کښې ئے اوفرمائیل هغوئ نه صرف د الله په حضور کښې د خپل عجز اقرار کوی بلکه په طور د ابتلاء په مختوجسمانی مصیبتونو او تکلیفونو کښې پخپله گرفتار دی. دا شان دا دریواړه سورتونه په سورۀ سبأ باندے مبنی او مرتب دی. ورسره په سورۀ زمر کښې هم دا مضمون مذکور دے چه د الله تعالیٰ په مخکښې څوک شفیع غالب نشته دے دا شان سورۀ زمر هم په سبا باندے مبنی دے دا شان په سورۀ فاطر کښې د عبادت او دعا ابللو مسئله بیان کړے شوه او بیا په سورۀ زمر کښې او حوامیم کښې هر قسم دلائیلو سره د دے وضاحت اوکړے شو او د شبهاتو جواب ورکړے شو. دا شان په سورۀ زمر او حوامیم سبعه په سورۀ فاطر باندے مرتب او تفصیل دے چونکه سورۀ سبأ د سورۀ یٰسٓ، صافات او صٓ دیباچه او مبدأ ده او دا شان سورۀ فاطر د سورۀ زمر او حوامیم مبدأ او دیباچه ده د دے وجے نه دواړه سورتونه د الحمد لله نه شروع کړے شوی دی. د حوامیم نه روستو د قرآن تر آخره پورے مستقل پنځمه حصه اوکړئ ولے شی.

په سورۀ سبأ کښې مرکزی مضمون نفی (د شفاعت قهری) ده چه هغه په شپږو دلائیلو سره ثابت کړے شوے ده چه په هغې کښې یو دلیل نقلی او یو دلیل وحی دے او څلور عقلی دلیلونه دی چه د هغې نه یو علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم دے او د اصل مضمون باره کښې د څلورو شبهاتو ازاله کړے شوے ده. اوله شبه د حضرت داود علیه السلام باره کښې. دویمه شبه د حضرت سلیمان علیه السلام باره کښې. دریمه شبه د جناتو باره کښې. او څلورمه د ملائیکو باره کښې. اثنائی طریقے د تبلیغ، دره په مینځ کښې او پنځه په آخر کښې ذکر شوی دی موقع په موقع تخویفات او زجرونه وغیره هم دی.

تفصیلی خلاصه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ دا اولنے عقلی دلیل دے ټول د کارسازئ صفتونه د هغه پاک ذات پورے مختص دی ځکه چه د ټول جهان خالق ومالک او ټول کائنات کښې متصرف او مختار دے. د دنیا کښې هم هغه کارساز دے او په آخرت کښې هم

یعلم ما یلج فی الارض الخ دا د اول دلیل دویمه حصه ده. هغه عالم الغیب دے او د کائنات ذرے ذرے نه خبر دے د دے وجے نه د داسے حکیم او خبیر او د داسے قدرت او سلطنت مالک په درګاه کښ ټول عاجز دی او هیڅوک د هغهٔ سره شفیع غالب نشته.

وقال الذین کفروا الخ دا شکوه ده کافران نهٔ صرف غیرالله د الله په نزد غالب شفیع ګنړی بلکه د قیامت نه هم انکار کوی. قل بلٰی وربی الخ دا جواب شکوٰی او په توحید باندے دویم دلیل عقلی دے. قیامت به ضرور راځی او هر انسان ته به د هغهٔ د اعمالو مطابق جزاء او سزاء ملاویږی ځکه چه الله تعالیٰ ته هیڅ څیز پټ نهٔ دے. جواب په قسم سره مؤکد کړی شوے دے د مقسم به (ربی) داسے صفتونه ذکر کړے شوی دی چه د توحید عقلی دلیلونه دی یعنی هغه عالم الغیب د هیڅ یوه ذرّے هم د هغهٔ نه پټه نهٔ ده. لیجزی الذین امنوا الخ دا مؤمنانو د پاره بشارتِ اُخروی دے. والذین سعوا الخ دا معاندینو د پاره تخویف اُخروی دے.

ویری الذین الخ دا نقلی دلیل دے د اهلِ کتابو مؤمنانو سره یعنی په اهلِ کتابو کښ چه کوم مؤمنان دی هغوئ د دے خبرے اعلان کوی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام کوم دعوت پیش کړے دے هغه ټول حق دے.

وقال الذین الخ دا شکوٰی ده بل الذین لا یؤمنون الخ جواب شکوٰی. افلم یسیروا الخ دا د توحید منکرینو او د بعث نه انکار کوونکو د پاره تخویف دنیوی دے. ولقد اتینا داود الخ دا د اولے شبهے جواب دے. اوله شبه دا وه چه حضرت داود علیه السلام سره غرونو او مارغانو هم تسبیح وئیله او اوسپنه د هغهٔ په لاسونو کښ د موم په شان نرمه شوے وه کله چه هغهٔ ته دومره ډیر تصرّف حاصل وو نو آیا هغه به د الله سره شفیع غالب نهٔ وی؟ نو د هغے جواب ئے ورکړو چه دا ټول فضیلت او عزت مونږ هغهٔ ته ورکړے وو دا د هغهٔ په اختیار کښ نهٔ وو د دے وجے نه هغه شفیع غالب نهٔ شی جوړیدلے. ولسلیمٰن الریح الخ دا د دویمے شبهے جواب دے. شبه دا وه چه هوا او پیریان د حضرت سلیمان علیه السلام د فرمان تابع وو او دا څیزونه د هغهٔ په اختیار کښ وو او هغه شفیع غالب وو. وے فرمائیل سلیمان علیه السلام بیشکه د لوئے مرتبے پیغمبر او پادشاه وو لیکن دا څیزونه د هغهٔ په خپل اختیار کښ نهٔ وو بلکه مونږ خپل حکم سره د هغهٔ ما تحت کړی وو او هغهٔ به

د انسان د فائدې د پاره ځمونږ حکم سره کار کولو. فَلَمَّا قَضَيْنَا الخ دا د دریم شبهے جواب دے د پیریانو باره کښې د مشرکانو گمان وو چه هغوئ په غیب باندې عالمان دي حضرت سلیمان علیه السلام پیریان په کار لګیا کړل ځپله ئے عبادت خانه کښې همساء باندې تکیه اولګوله عبادت کښې مشغول شو او هم په دغه حال کښې د هغه روح پرواز اوکړو رفیق اعلی (الله) سره ملاؤ شو لیکن د همسا تکیه وهلو سره د هغوی بدن مبارک هم هغه شان ولاړ پاتے شو او پیریانو هم هغه ژوندے گڼړلو په کار کښې مشغول وو ډیره زمانه پس کله چه همساء وینو اوخوړله او هغه ماته شوله نو د حضرت سلیمان علیه السلام بدن مبارک په زمکه پریوتلو نو پیریانو ته معلومه شوه چه هغوئ وفات شوی دی. اوس د پیریانو حقیقت واضح شو چه هغوئ په غیب عالمان نه دی که چرے هغوئ ته په غیب علم وے نو دومره زمانه به په دے سخت محنت مشقت کښې هغوئ نه وے گرفتار شوے.

لَقَدْ كَانَ الخ دا تخویف دنیوی دے. د سَبَا قوم ته په دنیا کښې ځومره ډیر د آرام او راحت او عیش عشرت ژوندون ورکړے شو لیکن کله چه هغوئ نا شکری اوکړه نو د هغوئ سمسور قصلونه او شنه آباد باغونه تباه او برباد کړے شول.

قل ادعوا الخ (۲۲) د څلورمے شبهے جواب دے مشرکین فرښتے هم عندالله شفیع غالب مني وے فرمائیل چه د دوی خو هیڅ اختیار نشته دے نو ځکه هغوی شفیع غالب نشي جوړیدے ولا تنفع الشفاعة الخ دا د شفاعت قهری نفی ده یعنی د خدائے خواته هیڅوک هم شفیع غالب نشته دے د قیامت په ورځ چه کله د فرښتو نه تپوس اوکړے شي نو هغوی به صحیح صحیح بیان ورکړی.

قل من یرزقکم الخ دا دویم عقلی دلیل دے لیکن علی سبیل الاعتراف من الخصم کله چه تاسو منئ چه د ټول جهان رازق الله تعالی دے نو د دینه ظاهره ده چه په ټول کائنات کښې متصرّف او مختار هم صرف هغه دے. وانا او ایاکم الخ دا اوّله طریقه ده د تبلیغ. دے سره دا مقصود دے چه د مشرکانو سره دِ په خطاب کښې نرمه لهجه اختیار کړے شي قل لا اسئلکم الخ دا دویمه طریقه د تبلیغ ده هر سړے د خپلو خپلو عملونو جواب ورکوونکے دے. قل یجمع بیننا وبینکم الخ دا دریمه طریقه ده د تبلیغ. د قیامت په ورځ به الله تعالی مونږ ټول جمع کړی او فیصله به

اوکړی او هر یو به د خپلو خپلو اعمالو جزاء او سزاء بیا مومی۔ ویقولون متی الخ دا شکوی ده دا وعده به کله پوره کیږی د هغې متعین وخت د اوښودلے شی۔ قل لکم میعاد الخ دا جواب شکوی دے د هغې وخت مقرر دے هغه به په خپل مقرر وخت ضرور راځی او په هغې کښ به هرګز کمے زیاتے نه کیږی۔

وقال الذین کفروا الخ (ع ۴) دا شکوه ده۔ ولو تری الخ دا تخویف اُخروی دے کوم خلقو چه دنیا کښ ګمراهی اختیار کړه او نور ئے ګمراه کړل د قیامت په ورځ چه کله عذاب اوینی نو ډیر زیات به پښیمانه شی لیکن بے فائدے۔ وما ارسلنا الخ دا تخویف دنیوی دے۔

قُلْ اِنَّ رَبِّیْ الخ دا دریم عقلی دلیل دے۔ د رزق فراخی او تنګی د الله په اختیار کښ ده او هغه ټول جهان کښ متصرف او مختار دے۔

وَما اموالکم الخ دا زجر دے۔ مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ الخ بشارت اُخروی۔ والذین یسعون الخ زجر سره د تخویف اُخروی۔ قُلْ اِنَّ رَبِّیْ الخ د دریم دلیل دوباره ذکر دے۔ ویوم یحشرهم الخ تخویف اُخروی۔ واذا تُتلٰی علیهم الخ شکوی۔ وکذب الَّذِیْنَ الخ تخویف دنیوی۔

قل انما اعظکم الخ (ع ۵) دا ترغیب الی التوحید او د تبلیغ څلورمه طریقه ده۔ قل ما سألتکم الخ پنځمه طریقه د تبلیغ۔ د حق تبلیغ یا تبلیغ یادے زه ستا سو نه څۀ معاوضه نۀ غواړم۔ قل اِنَّ رَبِّیْ الخ شپږمه طریقه د تبلیغ څما رب حق واضحه او صفا بیانوی او هم هغه علام الغیوب دے۔

قل جآءَ الحق الخ دا اُوومه طریقه ده د تبلیغ دین حق ته غلبه حاصله شویده د دلائل حق په وړاندے به همیشه باطل مغلوب وی۔

قل ان ضللت الخ دا اتمه طریقه ده د تبلیغ تاسو له د خپلو عملونو صحیح کول پکار دی۔ څما د اعمالو ذمه وار تاسو نۀ یئ۔ ولو تری اذ فزعوا ـــــ تا ـــــ فی شكٍ مریب۔ تخویف اُخروی دے۔

سُوْرَةُ سَبَا مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ
سورة سبأ په مکه کښې نازل شوې ده په دې کښې څلور پنځوس ایتونه او شپږ رکوعګانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝
شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
ټول صفتونه د الله دي ١ هغه د چا دي څه چه په اسمانونو کښې دي

وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ
او څه چه په زمکه کښې او د هغه صفت دے ٢ په اخرت کښې

وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝۱ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ
او هغه دے د حکمتونو والا په هر څه خبردار ٣ پیژنی څه چه دننه ننوځی

فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ
په زمکه کښې او څه چه بهر ته راوځی د هغې نه او څه چه نازلیږی

مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَهُوَ
د اسمان نه او څه چه خیژی اسمان ته او هغه دے

الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝۲ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
رحم کوونکے ښښونکے. ٤ او وائی کافران شو

لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ
نه به راځی په مونږ قیامت. ته اُوایه ولے به نه راځی قسم دے ما په رب

لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ
چه خامخا به راځی په تاسو یا تے عالم الغیب دے. په غیب نه پټیږی د هغه نه

مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ
په اندازه د یوے ذرے په اسمانونو کښې او نه په زمکه کښې

وَلَآ اَصۡغَرُ مِنۡ ذٰلِكَ وَلَآ اَكۡبَرُ اِلَّا

او نهٔ ورو کے د دغه ذرے نه او نهٔ لوئے لیکن دا ټول دي

فِیۡ كِتٰبٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۳﴾ لِّیَجۡزِیَ الَّذِیۡنَ

په کتاب ښکاره کښې دے د پاره د چه بدله ورکړی هغه چا ته چه

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ

چه یقین لري او کوی نیک کارونه دغه خلق دی چه شته هغوئ د پاره

مَّغۡفِرَةٌ وَّرِزۡقٌ كَرِیۡمٌ ﴿۴﴾ وَالَّذِیۡنَ سَعَوۡ

معافی او روزي د عزت وے۔ او کوم خلق چه کوشش کوی

فِیۡۤ اٰیٰتِنَا مُعٰجِزِیۡنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ

ختموېد د ایتونو په باطلولو کښې دغه خلقو د پاره شته دے

عَذَابٌ مِّنۡ رِّجۡزٍ اَلِیۡمٌ ﴿۵﴾

عذاب درد ناک

نکات: سلہ اوّلنے عقلی دلیل د سورت په دعوی باندے ۱۲۔ سلہ شکوی ۱۲۔ سلہ جواب شکوی او دویم عقلی دلیل ۱۲ سکہ بشارت اُخروی ۱۲۔ سکہ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ دُنیا کښې خو په ظاهره د بل چا تعریف هم کیږی چه هغه د الله د فعل اشعه او پلوشه ده په آخرت کښې به پردے نهٔ وی هر شے به لیدے شي نو هغه ټول د هغهٔ د طرفه دی۔ ف۲ په زمکه کښې خوخزانه چینې او د باران اوبهٔ او تخمونه، بهرته راووځی لکه فصلونه، شینکی د آسمان نه نازلیږی باران، قرآن، تقدیر، او پورته خیژی۔ عمل او دُعا او روح د مړی او ټول د ژوند خائست د هغهٔ د رحمت په وجه دے۔

ف۳ یعنی قیامت د دے د پاره ضرور راتلونکے دے ۱۲ منه۔

تفسیر: سکہ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الخ دا په اصل مدعٰی باندے اوّلنے عقلی دلیل دے۔ د دے دلیل دوه حصے دی اوّل د ټول کائنات متصرّف او مختار او د ټول جهان مالک صرف الله دے۔ دویم هغه

عالم الغیب دے۔ دَ کائناتو هیڅ څیز دَ هغهٔ نه پټ نهٔ دے په اول ایت کښ
دَ دلیل اوله حصه ذکر شوې ده یعنی دَ کارسازئ دَ ټولو صفتونو مالک
الله تعالیٰ دے. ټول کائنات دَ هغهٔ په ملک او تصرّف کښ دے. دے
عالم کون او فساد کښ چه کوم څهٔ کیږی هغه دَ دهٔ په اختیار او تصرّف
کښ کیږی. دے کښ دَ الله نه سیوا دَ بل چا دَ سر دَ ویښته په مقدار
اختیار هم نشته ای لهٔ عزّوجلّ خلقا وملکا وتصرفا بالایجاد والاعدام
والاحیاء والاماتة جمیع ما وجد فیهما داخلا فی حقیقتهما او خارجا عنهما
متمکنا فیهما فکانه قیل له هذا العالم بالاسر (روح ج ۲۲ ص۱۰۳).
۳ وَلَهُ الْحَمْدُ الخ ځکه چه په دنیا کښ هر څهٔ ورکووںکے او هر څهٔ کوونکے
الله تعالیٰ دے دا شان په آخرت کښ به هم هغه متصرّف او مختار وی او
دَ آخرت ټول نعمتونه به هم هغه ورکوی. دَ دے وجے نه دَ دُنیا او آخرت
په دواړو جهانونو کښ صرف هغه دَ صفتونو دَ کار سازئ مالک دے
لکه چه په الحمدلله. تا. فی الارض کښ دَ دُنیا په نعمتونو باندے دَ الله
تعالیٰ لائق حمد (دَ کارسازئ) دَ صفتونو لائق کیدلو ذکر شوے دے.
او وَلَهُ الْحَمْدُ فِی الْاٰخِرَةِ کښ په اُخروی نعمتونو باندے دَ الله تعالیٰ مستحق
حمد (دَ کار سازئ صفات) کیدل ذکر کړے شوی دی. ځکه چه په دنیا
کښ هغه متصرّف، مختار او دَ حمد لائق دے. دا شان به په آخرت
کښ هم هغه مالک، مختار او لائق دَ حمد (دَ کارسازئ دَ صفتونو) دے
فهو المحمود فی الاخرة کما انه المحمود فی الدنیا وهو المالك للاخرة
کما انه المالك للاولی (قرطبی جلد ۱۴ ص۲۵۹). وَهُوَ الْحَكِیْمُ الْخَبِیْرُ. دا
ما قبل دَ پاره دویم علت دے هغه دَ حکمت او تدبیر مالک او په هر څیز
خبردار دے دَ هغهٔ هیڅ یو کار دَ حکمت او دانائئ نه خالی نهٔ دے او هغه
دَ هر یو محتاج او مصیبت ځپلے شوی نه خبر دے او دَ ټولو کارونه سازوی.
۴ یَعْلَمُ مَا یَلِجُ الخ دا دَ اولنی عقلی دلیل دویمه حصه ده یعنی هغه
عالم الغیب دے او دَ کائناتو دَ ذرّې ذرّې پیژنی کوم څهٔ چه په زمکه کښ
داخلیږی، تخمونه وغیره چه دَ هغے نه پیداوار (غلے وغیره) کیږی
او کوم څهٔ چه دَ زمکے نه راوځی یعنی شینکے او کوم څهٔ چه آسمان نه
نازلیږی. باران، ګلئ، برکات او دَ الله فرښتے وغیره او کوم څهٔ چه دَ
آسمان طرف ته ځی اعمال، ارواح، فرښتے. مقصد تعمیم او احاطه ده
یعنی هغه هر څهٔ پیژنی او هیڅ څیز دَ هغهٔ نه پټ نهٔ دے.
وَهُوَ الرَّحِیْمُ الْغَفُوْرُ، دا هم په منزله دَ علت دے، دَ دے دلیل دواړو
حصو نه ثابته شوه چه ټول هر څهٔ کوونکے او هر څهٔ نه خبر صرف

الله تعالیٰ دے او صرف هغه مهربان او بخشش کوونکے دے او هیڅوک
په هغهٔ باندے زبردستئ سره کار کولو والا نشته او د هغهٔ په حضور
کښ هیڅوک غالب مهٔ گنړئ. الرَّحِیْمُ، مهربان چه په نیولو کښ
تلوار نهٔ کوی. الْغَفُوْرُ، توبه ویستونکی معاف کوی.

۵ وَقَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ دا شکوه ده کافران نهٔ صرف د توحید نه
انکار کوی بلکه د قیامت نه هم منکر دی او وائی چه قیامت به نهٔ راځی.
قُلْ بَلٰی الخ دا جواب شکوی دے او د توحید دویم عقلی دلیل دے.
وے فرمائیل وے به نهٔ راځی؟ ضرور به راځی تحما دِ په خپل مالک
او مربّی قسم وی چه هغه عالم الغیب دے او په زمکه آسمانونو کښ
یوه ذره بلکه د دینه هم یو وړوکے څیز د هغهٔ نه پټ نهٔ دے هر وړوکے
او لوئے څیز د هغهٔ په علم کښ دے. کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ نه یا خو مراد لوح
محفوظ دے یعنی علم الهی مراد دے یا صحائف د ملائیکو. (د حضرت
شیخ قدّس سره په نزد هم دا راجح دے یعنی ټول اعمال صغیره او
کبیره فرشتو په خپلو صحیفو کښ لیکلی دی دے د پاره چه د هغے موافق
جزاء او سزاء ورکړے شی.

۶ لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ الخ بشارت اخروی دے او لام متعلق دے
لَتَاْتِیَنَّکُمْ سره او دا د هغے علت دے یعنی قیامت به ضرور راځی دے د پاره
چه مؤمنانو ته د هغوئ د اعمالو جزاء ورکړے شی ایمان والو ته به
جزاء داوی چه د هغوئ گناهونه او خطاگانے به معاف کړے شی او په
جنت کښ به هغوئ ته د عزت روزئ نصیب وی. وَالَّذِیْنَ سَعَوْا الخ دا
تخویف اخروی دے کوم خلق چه ډیرے بے ادبئ سره تحمونږ په ایتونو
کښ د الحاد وبے دینئ نه کار اخلی او خیال کوی چه هغوئ به د الله تعالیٰ
په قبضه کښ را نهٔ شی هغوئ به ډیر سخت عذاب کښ مبتلا کړے شی.

وَیَرَی الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِیْٓ

او چه اوینی ځان ته چه چه ورکړے شوی دے علم (د قرآن) چه کوم

اُنْزِلَ اِلَیْکَ مِنْ رَّبِّکَ هُوَ الْحَقَّ ۙ

نازل شو په تا د رب د طرفه ستا هغه رښتیا دے

وَیَهْدِیْٓ اِلٰی صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ۝۶

او ښائی لار د هغه غالب او صفت کړے شوی (الله) طرفته ف

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ

او اوئیل هغه کافرانو موږ، اوښایو تاسو ته

عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ

یو سړے چه خبر درکوی تاسو ته چه کله تاسو ذړے ذړے شئ

كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ

ټکړے ټکړے بیا به تاسو پیدا کولے شئ

جَدِيدٍ ﴿٧﴾ أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

دوباره - آیا جوړ کړی ئے دی په الله تعالیٰ باندے دروغ

أَمْ بِهِ جِنَّةٌ ۗ بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

یا هغه لیونے دے داسے هیڅ خبره نشته بلکه څوک چه یقین نه ئے لری

بِالْآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ ﴿٨﴾

په آخرت په عذاب کښ او ډیر لرے گمراهئ کښ غورځیدلی دی

أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ

آیا نه گوری ته دوئ کوم چه د دوئ په مخکښ دی

وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ

او روستو دی په آسمان او په زمکه کښ

إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ

که چرے موږ اوغواړو نو دوئ په ته پاسو په زمکه کښ یا به را اوغورځوو

عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

په هغوئ باندے ټکړه د آسمان نه بیشکه په دے کښ

لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾ ع ۱

نښے (د قدرت) دی هر بنده رجوع کوونکی د پاره

نکات: ب سے نقلی دلیل د اهلِ کتابو علماؤ سره ۱۲۔ سے شکوی ۱۲۔
سے جواب د شکوے ۱۲۔ سے تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن: ف یعنی قیامت د دے د پاره راتلونکے چه د چا یقین وو چه هغوئ ئے په سترګو اوینی ۱۲ منه۔

تفسیر: که وَيَرَى الَّذِينَ الخ دا د اهلِ کتاب علماؤ سره دلیل نقلی دے۔ هغه علماء د اهلِ کتاب مراد دی چا چه ایمان راوړے دے۔ یعنی مؤمنی اهل الکتاب عبدالله بن سلام واصحابه (خازن ج ۵ ص۲۳۲) او یَرٰی دلته په معنیٰ د یعلم دے ای ویعلم (روح، مدارک) هُوَ الْحَقَّ، هُوَ ضمیر فصل دے یعنی اهلِ کتاب نه چه کوم خلق د تورات او انجیل صحیح عالمان وو هغوئ ته علم دے او په دے ګواه دی چه په تاسو کوم قرآن نازل کړے شوے دے هغه ټول حق او د توحید او د تقوٰی لار ښائی۔ يَهْدِي إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ، دا د عقلی دلیل طرف ته اشاره ده یعنی د دے قرآن نه خو صرف علماء اهلِ کتاب تصدیق کوی بلکه پخپله د قرآن دننه شهادتونه هم د دهٔ رښتینوالے واضحه کوی ځکه چه د قرآن تعلیمات په توحید او تقوٰی باندے مشتمل دی چه د دے واحد او یو خدائے نیغه او برابره لار ده چه په ټولو غالب دے او ټول د کمال صفتونو سره متصف دے۔

ث وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا الخ دا هم شکوٰی ده کافران تعجب کوی او حیرانتیا سره یو بل ته وائی راشئ چه مونږ تاسو ته یو داسے سړے اوښایو چه وائی تاسو چه کله د مرګ نه روستو ټوټے ټوټے او ذرے ذرے شئ د خاورے سره ملاؤ شئ۔ نو هغے نه روستو به دویم ځل د سره بیا پیدا کولے شئ أَفْتَرَى عَلَى اللَّهِ الخ ایا دے سړی په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړ کړی دی چه هغه به انسان دوباره ژوندی کوی (العیاذ بالله) دا لیونے دے چه د لیونو پشان خبرے کوی۔ بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ الخ دا جواب شکوٰی دے وئے فرمائیل د کافرانو خیال او ګمان باطل دے۔ پیغمبر علیه السلام نهٔ په خدائے باندے دروغ جوړ کړی دی او نهٔ هغه لیونے دے بلکه دا کافران پخپله ډیر زیات کم عقل او په ګمراهئ کښ مبتلاء دی چه د دے نتیجه به هغوئ ته د سخت عذاب په صورت کښ حاصله شی د هغهٔ نه به څوک زیات کم عقل او ګمراه وی چا چه د الله قدرت او حکمت او د هغهٔ وعد وعید (د نیکئ او بدئ د جزاء او سزا و رکولو وعد) هیره کړه لیس الامر کما زعموا بل هم فی کمال اختلال العقل وغایة الضلال عن الفهم والادراك الذی هو الجنون حقیقة وفیما یؤدی

الیه ذلك من العذاب حیث انکروا حکمة الله تعالیٰ فی خلق العالم وکذبوه عزوجل فی وعده ووعیده وتعرضوا لسخطه (روح ج ۲۲ ص۱۱۳).
فِي الْعَذَابِ، هغوئ په عذاب کښ دی یعنی په داسے گمراهئ کښ راگیر دی چه د عذاب موجب ده. داشان به د وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ، عطف په ما قبل تفسیری وی ۱۲.
۹ اَفَلَمْ يَرَوْا الخ داتخویف دنیوی دے. داخلق څومره ډیرے ادبه دی او د الله نه نهٔ ویرېږی او څومره زړهٔ ور تیا سره د الله تعالیٰ کتاب توحید او د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم او د قیامت د ورځے تکذیب کوی. آیا دوئ سترگے نهٔ غړوی او خپل ځان د پاسه او ولاندے زمکے او آسمان ته ئے چرته کتلی نهٔ دی چه هغهٔ دوئ د هر طرف نه راگیر کړی دی؟ د هغوئ انکار او عناد ډے حد ته رسیدلے دے چه هغوئ په دنیا کښ ویره وونکی عذاب سره هلاک کړے شی. که چرے مونږ اوغواړو نو د تیر شوو قومونو پشان به د انکار او تکذیب جرم کښ دوئ په زمکه دننه کړو. یا به د آسمان نه کاڼی را اُوروو او تباه او برباد به ئے کړو استئناف مسوق تهویل ما اجترءوا علیه من تکذیب آیات الله تعالیٰ واستعظام ما قالوا فی حقه علیه الصلوٰة والسلام وانه من العظائم الموجبة لنزول اشد العقاب وحلول افظع العذاب من غیر ریث وتاخیر (ابوالسعود ج ۷ ص۱۰) اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ الخ دے کښ د الله طرف ته رجوع کوونکو او فرمان منونکو بندګانو د پاره د الله په قدرت کامله باندے واضح دلیل دے او دیته ظاهره ده چه الله تعالیٰ دوباره پیدا کولو باندے قادر دے او دا کار هغهٔ ته څهٔ گران نهٔ دے ای لدلالة واضحة علیٰ کمال قدرة الله عزوجل وانه لا یعجزه البعث بعد الموت وتفرق الاجزاء المحاطة بها (روح ج ۲۲ ص۱۱۳)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ۘ يٰجِبَالُ
او مونږ ورکړه شله داؤد ته د خپل طرف نه لوئی اے غرونو
اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ۙ ﴿۱۰﴾
خوش آوازئ سره وایئ هغهٔ سره (تسبیح) او الوتونکو مارغانو ته هم او نرمه کړو مونږ هغهٔ ته او سپنه
اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ
چه جوړه وه زغرے ارتے او په اندازه (تنگے) جوړه وه کړئ

وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ

او کوئ تاسو تول نیک کارونه زۀ کوم څۀ چه تاسو کوئ

بَصِيرٌ ﴿١١﴾ وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا

هغه ویونکے یم ف۱ . او د سلیمان په قبضه کښې هوا لږه کړله د صبا منزل د هغې

شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُ

د یوې میاشتې او د مابښام منزل د یوې میاشتې او اوبهیوله موږ هغهٔ د پاره ف۳ کړله

عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ

چینه د ویلې شوې تانبې . او په پیریانو کښې ډیر خلق وو چه محنت به ئې کولو

بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۖ وَمَنْ يَزِغْ

د هغهٔ په مخکښې د هغهٔ د رب په حکم او څوک چه سرکشي اوکړي

مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

د دوئ نه څموږ د حکم نه او به څکوو موږ هغوئ ته عذاب

السَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ

د اور ف۲ . جوړه وَل به ئې هغهٔ د پاره کله څهٔ چه به ئې غوښتل

مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ

لوړې قلعه گانې او تصویرونه او لګنونونه په شان د تالابونو

وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ ۚ اعْمَلُوا آلَ دَاوُودَ

او دیګونه پراتهٔ په تغرو باندې . کار کوئ اے د داؤد د کور خلقو

شُكْرًا ۚ وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴿١٣﴾

احسان اومنئ او لږ دي څما په بندګانو کښې احسان منونکي

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ

بیا چه کله مقرر کړو موږ په هغهٔ باندې مرګ هیڅ خبر ورنکړو هغوی پیریانو ته

عَلٰى مَوْتِهٖۤ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ

د هغهٔ د مرګ ځله لیکن چینجو (ویېنو) د ځمکې چه خوړله ئې

مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَیَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ

همساء د هغهٔ بیا چه کله هغه راپرېوتو معلومه شوه پېریانو ته چه

لَّوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ الْغَیْبَ مَا لَبِثُوْا

که چرې خبرې لرلې د غیب نو ته به ئې تېر وې (پوره کال)

فِی الْعَذَابِ الْمُهِیْنِ ؕ ۱۴

په عذاب د ذلت کښې ف۳.

نکات:- سل جواب د اولې شبهې ۱۲. سل۲ د دویمې شبهې جواب ۱۲.
سل۳ جواب د دریمې شبهې ۱۲.

موضح قرآن ف۱ حضرت داؤد علیه السلام به د ور ځې چه کله بیدیا (صحرا) ته اُوتو د الله تعالی ذکر به ئې کولو او د الله تعالی د ویرې ته به ئې ژړل او زبور به ئې خوش اوازئ سره لوستلو د هغې د اثر په وجه به غرونو هم تسبیح تهلیل لوستل او ژړل به ئې مارغان به هم هغهٔ ته راټولیدل او د هغهٔ په شان به دوئ هم تسبیح او تهلیل وئیل د غه مجلس کښې ډیرې جنازې هم وتلی دی او د کړو والا ظغرې اول ځل د هغهٔ نه ایجاد شوې چه ارتې او فراخه وې ۱۲ منه. ف۲ د حضرت سلیمان علیه السلام یو تخت وو چه په هغې باندې به د هغهٔ ټول لښکر او هغه په خپله تیمه وو کښې د شام نه یمن ته او د یمن نه شام ته په هوا کښې تللو او د ویلې شوې تانبې چینه الله راوېستله چه د یمن په اطرافو کښې وه هغه به پېریانو په سانچو او قالبونو کښې اچوله او لوئې لوئې لوښي به ئې د هغې نه جوړول د پیر لوئې لښکر موافق به خوراک پخولے شو او تقسیمیدو به ۱۲ منه.
ف۳ حضرت سلیمان علیه السلام د پېریانو په لاس د بیت المقدس جومات جوړولو هغهٔ ته معلومه شوه چه ځما د مرګ وخت راورسیدو پېریانو ته ئې د ابادئ نقشه اُوښودله هغهٔ د شیشې په مکان کښې ځان پسې ور بند کړو او عبادت کښې مشغول شو د مرګ نه روستو پېریانو تر یو کاله پورې ابادی جوړوله ټوله نقشه تیار ه شوه په کومه

همساء چه هغهٔ تکیه وهلے وه ولاړ وو د وینو خوړلو په وجه را پریوتو دغه وخت ټولو ته وفات معلوم شو او پیریانو به چه کومے دعوے انسانانو ته کولے د علم الغیب نو هغوئ هم اُومنله چه علم الغیب پیریانو ته نشته (عالم الغیب صرف یو الله دے).

تفسیر: ۱۰ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ الخ دا د اولے شبهے جواب دے. داؤد علیه السلام ته مونږ ډیره لوئی ورکړے وه غرونو او مارغانو به د هغهٔ سره یوځائے د الله تسبیح او پاکی بیانوله او اُوسپنه مو د هغهٔ په لاس کښې موم اُوګرځوله. لیکن د دومره صفتونو باوجود هم هغه شفیع غالب جوړ نهٔ شو ځکه چه دا ټولے خوبیانے او طاقتونه د هغهٔ په اختیار کښې نهٔ وو بلکه دا ټول ځمونږ په قبضه او تصرّف کښې وو او دا خوبیانے مونږ هغهٔ ته ورکړے وے. يٰجِبَالُ، د دیته مخکښې قُلْنَا مقدر دے یعنی مونږ اُوفرمائیل اے غرونو د هغهٔ سره تسبیح وایئ نو چه کله به حضرت داؤد علیه السلام د الله تسبیح وئیله نو د الله په حکم سره به غرونو هم زبان قال (په ژبے) سره تسبیح اُوچت آواز سره وئیله (روح، مدارک وغیره) وَالطَّيْرَ، د حضرت شیخ قدّس سرهٔ په نزد هم دا راجح ده لیکن د سیبویه په نزد دا مفعول معه دے (قرطبی ص) په اول صورت کښې به مطلب داوی چه مونږ مارغانو ته هم حکم ورکړو چه هغوئ هم تسبیح او تقدیس کښې د داؤد علیه السلام سره شریک شی. ۱۱ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ الخ او مونږ اُوسپنه داؤد علیه السلام د پاره نرمه کړه. حضرت ابن عباس، مقاتل او حسن رضی الله عنهم فرمائی اُوسپنه د حضرت داؤد علیه السلام په لاس کښې د موم او اخلے شوو اُوړو پشان نرمه وه هغهٔ به چه کوم څهٔ غوښتل د اُور او څټکی نه بغیر به ئے په اسانئ سره جوړول. ځنو وئیلی دی چه الله تعالیٰ هغهٔ ته دومره ډیر قوت او طاقت ورکړے وو چه هغهٔ د اُوسپنے د سختئ باوجود هم چه څنګه غوښتل هغه شان به ئے تاوولو او د لاس په قوت سره به ئے د هغے تارونه راښکل (خازن، ابن کثیر، قرطبی). سٰبِغٰتٍ، پوره او مکمل زغرے دی چه دا انسان ټول بدن پټ کړی. سابغات ای دروعًا سابغات ای کوامل تامات واسعات (قرطبی ج۱۴ ص۲۶۷) او دَ اَنِ اعْمَلْ نه مخکښې قُلْنَا مقدر دے. وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ. السرد خرز ما یخشن ویغلظ (امام راغب) یعنی سخت او کلک خیز پیوند کول مراد زغرے ئُنړل دی او د هغے کړئ یو بل سره تړل او یوځائے کول دی قدر فی السرد یعنی د زغرو په کړو جوړولو کښې یوه اندازه

قائم کړه او ګړوه په مقدار کښې تناسب د نظر لاندې اوساته چه کړۍ غټې وړې نه وی. والمعنی اقتصد فی نسجها الدروع بحیث تتناسب حلقها (روح ج ۲۲ ص۱۱۱). وَاعْمَلُوْا صَالِحًا، خطاب د حضرت داؤد علیه السلام او د هغهٔ د ال سره دے د کسب معاش د پاره بیشکه چه پا بستے د کر شوے کار کوئ لیکن نیک اعمال په ځائے راوړل اصلی ژوند دے دینه غافل نشئ زهٔ ستاسو د ټولو عملونو نه خبر یم او د هر عمل جزاء به درکوم. ای لستم مخلوقین الا للعمل الصالح فاعملوا ذلك واکثروا منه والکسب قدروا فیه (کبیر ج ۷ ص۸۴). ۱۲ وَلِسُلَیْمٰنَ الخ دا د دویمے شبهے جواب دے حضرت سلیمان علیه السلام یو د لوئے مرتبے پیغمبر او یو د لوئے شان بادشاه وو هوا د هغهٔ ماتحت وه او پیریان د هغهٔ حکم منونکی وو د دومره لوئے شان او عظمت با وجود هغه عند الله شفیع غالب نهٔ شو جوړیدے ځکه چه دا ټول څیزونه د هغهٔ پخپله قبضه او اختیار کښې نهٔ وو بلکه مونږ خپل حکم سره هوا د هغهٔ تابعدار کړی ولے وه هغهٔ به چه چرته غوښتل هوا به د هغهٔ تخت پورته کولو او اوړو به ئے.

غُدُوُّهَا شَهْرٌ الخ دومره زیات تیز رفتار ئې سره به تللو چه د یوے میاشتے پیدل مسافت به ئے د ورځے په اوله حصه کښې او د یوے میاشتے مسافت به ئے د ورځے روستنۍ حصه کښې قطع کولو قال قتاده کانت تقطع فی الغدو الی قرب الزوال مسیرة شهر و فی الرواح من بعد الزوال الی الغروب مسیرة شهر (بحر جلد ۷ ص۲۶۴).

۱۳ وَاَسَلْنَالَهٗ الخ مونږ د سلیمان علیه السلام د پاره د تانبے چینه جاری کړه بغیر د اور د ګرمئ نه به تانبه د اوبو په شان بهیدله او د هغے نه به ئے دیګونه، پیالئ او څهٔ چه به ئے غوښتل هغه به ئے اسانئ سره جوړول اذاب الله لسلیمان النحاس کما الان لداؤد الحدید (خازن ج ۵ ص۲۳۳)

وَمِنَ الْجِنِّ الخ ای وسخرنا من الجن من یعمل (مدارك) مونږ پیریان سلیمان علیه السلام د پاره تابع کړی وو چه زمونږ حکم سره به ئے د هغهٔ په وړاندے د هغهٔ د مرضئ موافق مختلف خدمتونه. سرته رسول وَمَنْ یَّزِغْ الخ د پیریانو نه چه به چا زمونږ د حکم مطابق د سلیمان علیه السلام اطاعت نهٔ کوو بلکه د اطاعت نه به ئے سرغړونه کوله نو مونږ به هغهٔ ته د اور عذاب څکولو د غه پیریانو باندے د الله تعالی د طرفه یوه فرشته مقرر وه چه د هغے په لاس کښې به د اور کوړه وه دا فرشته به پیریانو ته په نظر نهٔ راتلله کوم پیری چه به نافرمانی کوله فرشتے به د اور په کوړه باندے وهلو (خازن، روح). - به قال

الشيخ رحمه الله تعالى، ليکن اکثر مفسرين فرمائي چه د دينه د آخرت عذاب مراد دے اى عذاب النار فى الاخرة كما قال اكثر المفسرين وروى ذلك عن ابن عباس (روح ج ۲۲ ص۱۱۸)

۳ له يَعْمَلُوْنَ لَهٗ الخ، مَحَارِيْبَ د محراب جمع ده. مراد عبادت خانے دى امام قتاده فرمائي محاريب نه اوچت لوړ لوړ محلات او جوماتونه مراد دى (بحر، روح) تماثيل جمع ده د تمثال د اکثرو مفسرينو په نزد باندے د دينه ساه لرونکي تصاوير مراد دى او د سليمان عليه السلام په شريعت کښ تصوير سازى جائزوه ليکن ځمونږ په شريعت کښ حرام ده وهذا يدل على ان التصوير كان مباحا فى ذلك الزمان ونسخ ذلك بشرع محمد صلى الله عليه وسلم (قرطبى ج ۱۴ ص ۲۷۲) د ځنو مفسرينو په نزد د دينه د غير ذى روح څيزونو تصويرونه يا د کاڼى، تانبے او شيشے نه جوړ شوى مختلف څيزونه مراد دى قيل كانت من زجاج ونحاس ورخام تماثيل اشيا ليست بحيوان (ايضًا) امام رازى فرمائي د محاريب نه عالى شان محلونه او تماثيل نه د هغے په ديوالونو باندے جوړ شوے نقش او نګار مراد دے. المحاريب اشارة الى الابنية الرفيعة ...... والتماثيل ما يكون فيها من النقوش (كبير ج ۷ ص ۔) ليکن حضرت شيخ قدس سره فرمائي ممکن ده د تماثيل نه کټونه مراد دى ځکه چه کټونه د انسان د قد وقامت برابر وى. د دے وجے نه هغے ته تمثال او مثال وئيلے شى لکه چه حضرت عائشه رض فرمائي نزلت عن المثال يعنى زه د کټ نه راکوزه شولم. دينه روستو حضرت شيخ ليکلى دى. د مثال معنى کټ لغت والو ليکلے ده. ليکن د تمثال معنى کټ موږ ته نه ده ليدلے والله اعلم بالصواب ۱۲. جِفَانٍ د جَفْنَةٌ جمع ده او الجواب د جابية جمع ده يعنى حوض نو د جفان داسے لوئے لوئے لګنونه مراد دى چه د هغے نه په يو وخت پوره دله خوراک اوکړى. قُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ، داسے لوئے او درانه ديګونه چه په يو ځائے پراته وى او پورته کولے نه شى. حضرت سليمان عليه السلام په دا ټول څيزونه په پيريانو جوړول چه د الله په حکم د هغه ماتحت او تابع وو. اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا، دينه مخکښ قُلْنَا محذوف دے يعنى موږ اووئيل آل د داؤد عليه السلام نه حضرت سليمان عليه السلام او د هغه متعلقين (تابعداران) مراد دى. اے د داؤد عليه السلام آل د دے بے شماره انعامات خداوندى شکر په ځائے راوړئ يعنى نيک عمل کوئ. ځما په بندګانو کښ شکر ادا کوونکى او نيک عمل کوونکى ډير کم دى.

۵۱ فَلَمَّا قَضَيْنَا الخ ای اوقعنا علی سلیمان الموت حاکمین به علیه (روح ج ۲۲ ص۱۲۱) یعنی چه کله موږ دَ خپلې فیصلې مطابق سلیمان علیه السلام باندے مرګ واقع کړو۔ مَا دَلَّهُمْ، ضمیر مفعول جنّاتو (پیریانو) طرف ته راجع دے لکه چه مشهوره دے۔ فالضمیر فی دلهم عائد علی الجن الذین یعملون له (بحر ج ۷ ص۲۶۶) یا دَ دینه جنّات او آلِ داؤد او نور خلق هم مراد دی (مَا دَلَّهُمْ) ای الجن وال داؤد (مدارک) او دَآبَّةُ الْاَرْضِ نه وینه چه یو قسم چینجی دے او لرګے خوری۔ حضرت داؤد علیه السلام دَ مسجد بیت المقدس دَ تعمیر کار شروع کړو۔ لیکن دَ هغې دَ تکمیل نه مخکښ هغوئ وفات شول او دَ وفات نه مخکښ حضرت سلیمان علیه السلام دَ هغه دَ تکمیل وصیت اُوکړو هغوئ دَ خپل عزت من پلار دَ وصیت مطابق دَ بیت المقدس دَ تکمیل کار باندے جنّات مامور کړل او پخپله به ئے دَ کار نګرانی کوله۔ اُوس هم لا دَ تعمیر کار انجام ته نهٔ وو رسیدلے چه دَ هغهٔ دَ مرګ نیټه را اُورسیدله۔ یوه ورځ هغهٔ (حضرت سلیمان علیه السلام) دَ دستور موافق پیریان په کار کښ مشغول اُولیدل پخپله عبادت خانه کښ ئے په همساء باندے تکیه اُولګوله په عبادت کښ مشغول شول او دِے حالت کښ ئے روح مبارک دَ قفس عنصری (دَ دُنیا دَ جیل خانے) نه پرواز اُوکړو وفات شول ډیرے مُودے پورے هغوئ په دے حالت کښ پاتے شو پیریانو او نورو خلقو خیال کولو چه هغوئ ژوندی دی او په عبادت کښ مصروف دی او پیریان هم باقاعده په خپل کار کښ مصروف پاتے شول۔ دلته پیریانو خپل دَ تعمیر کار سرته اُورسولو۔ هلته دَ الله په حکم سره دَ حضرت سلیمان علیه السلام همساء وینو دومره اُوخوړله چه هغه ماته شوه او حضرت سلیمان علیه السلام را پریوتو اوس پیریانو او نورو خلقو ته معلومه شوه چه هغه خو ډیر مخکښ وفات شوے دے او دومره ډیر وخت دَ هغهٔ جسم دَ همساء په مدد په خپل حالت ولاړ پاتے شوے دے اُوس پیریانو ته هم دا حقیقت ښکاره شو چه هغوئ په غیب عالمان نهٔ دی دَ هغوئ دَ غیب دانئ دعوه غلطه ده کهٔ چرے هغوئ په غیب پوهیدلے نو دومره اُوګده زمانه به دِے سپکوونکی عذاب او مشقت کښ نهٔ مبتلاء کیدلے۔ دَ حضرت سلیمان علیه السلام وفات الله تعالیٰ دَ دوو حکمتونو دَ پاره پټ اُوساتلو۔ اول دَ دے دَ پاره چه دَ بیت المقدس دَ کار تعمیر مکمل شی کهٔ چرے پیریانو ته دَ هغهٔ دَ مرګ علم حاصل شوے وے نو هغوئ به کار په هغه ځائے هم دا شان نیمګړے پریښے وے۔ دویم دَ پیریانو

دعوى وه چه هغوئ په غيب عالمان دى نو الله تعالى د سليمان عليه السلام مرګ د هغوئ نه پټ اُوساتلو چه د هغوئ د دے دروغو دعوے حقيقت ظاهر شى قال قتادة وغيره كانت الجن تدعى علم الغيب، فلما مات سليمان عليه السلام وخفى موته عليهم (تبينت الجن ان لو كانوا يعلمون الغيب مالبثوا فى العذاب المهين) (قرطبى) دا د دريم شبهے جواب دے مشركان پيريان عالم الغيب اوشفيع غالب منى حال دا دے چه دا واقعه د هغوئ دعوه ردكوى. پيريانو ته هم دا پته اُونه لګيده چه حضرت سليمان وفات شوے دے او هغوئ دے ژوند دے ګنړلو د ډير وېرے په وجه پوره يوكال په سپكوونكى محنت او مشقت كښ مبتلاء وو هغوئ په هيڅ طريقه هم غيب دان او شفيع غالب نه شى كيدلے. حضرت شيخ فرمائى تَبَيَّنَتْ فعل لازم دے او لَوْ كَانُوْا الخ جمله د اَلْجِنُّ نه بدل الاشتمال دے. مطلب دا دے چه حضرت سليمان عليه السلام را پريوتو نو جناتو ته معلومه شوه يعنى د هغوئ باره كښ دا خبره ظاهره شوه چه كه چرے هغوئ غيب دان وے نو دومره اُوګده زمانه به سپكوونكى عذاب كښ نه ګيريدلے.

لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِىْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ

بيشكه لپاره قوم د سبا د پاره وه په كلى د هغوئ كښ يوه نښه

جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۬ؕ كُلُوْا

دوه باغونه ښى طرف او كس طرف ته خورئ

مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ

روزى د خپل رب او شكر اداكړئ د هغهٔ ښار

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا

ډير پاك دے او رب بښونكے دے پس نو هغوئ ديته توجه ورنكړه (اعراض ئے اوكړو) بيا را پريښودلو موږه

عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ

په هغوئ باندے يو زوره ور نحوړ سيلاب او په بدله كښ وركړل موږه هغوئ ته

بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ

د باغونو د هغوئ كښې دوه باغونه چه په هغے كښې ځه ميوه كيله وه

وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴿١٦﴾

او ځه ازغي او ځينے بيرے هم ډيرے لږے وې

ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا ۖ وَهَلْ

دا ئله بدله وركړه مونږ هغوئ ته په هغے چه ناشكري ئے اوكړه او مونږ

نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ

دا بدله وركوو هغه چاته چه ناشكره وي۔ اوګرځولے وو مونږ د دوئ ئله

وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا

او په مينځ د هغه كلو كښې چې ته چه مونږ بركت اچولے وو

قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ ۖ

چه په لاره كښې به په نظر راتلل او مقرر كړي وو مونږ منزلونه په هغوئ كښې تللو راتللو

سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ ﴿١٨﴾

ګرځئ په هغے كښې د شپے او د ورځے په امن سره وه

فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا

بيائے اوئيل اے ربه ئله اوګډه كړه ځمونږ سفرونه

وَظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ

او بد اوكړل هغوئ ځان سره بيا اوګرځول مونږ هغوئ قصے

وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

او تار په تار كړل مونږ هغوئ ټكړے ټكړے په دے كښې

لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾

د عبرت خبرے دي صبر كوونكو شكر ويستونكو د پاره ۔ ف

نکات: سلـ تخویف دنیوی ۱۲ سلـ۲ اعاده د لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ د بُعد عهد په وجه ۱۲- سلـ۳ اعاده د فَاَعْرَضُوْا الخ د بعد عهد په وجه ۱۲-

موضح قرآن ف۱ بلقیس چه د سَبا ښار مَلِکه وه د یمن په ملک کښ ئے خپل ملک ښهٔ آباد کړے وو د اوبو جهیلونه یو ځائے راغونډ کړل او ایسارئے کړل او لاندے ئے د ډیرے کرکئی جوړے کړے وے د اوچتو لوړو زمکو او د ښکته لاندے زمکو د پاره ټول کال به د باران اوبهٔ موجود وے څومره چه به ئے غوښتلے هغومره به ئے خرچ کولے ملک ښهٔ آباد او ترو تازه شین وو ۱۲ منه- ف۲ کله چه الله اوغوښتل چه عذاب را اولیږی نو لاندے مږے پیدا شوے دغه د اوبو بند کښ ئے سوری اوکړل یو ځل ډیرے زیاتے اوبهٔ راغلے اوبو زور اوکړو بند ئے مات کړو دا اوبه د عذاب دے چه رنګ ئے سور وو په کومه زمکه چه به اوبهیدلے هغه به ئے د کار نه اویستله او خرابه به ئے کړله دغه قوم ډیرخو د دغه ملک نه بهرته تلے وو (د یو کاهن په خبر ورکولو) او کوم چه پاتے شوی وو هغوئ نه د باغونو په بدله کښ دا څیزونه پاتے شول ۱۲-

ف۳ د برکت والا کلی یعنی د شام ملک د دوئ د ملک نه د ملک شام پورے په لار کښ د امن کلی نزدے آباد وو دا سے سفر وو لکه د سیر او تفریح د پاره چه وی- ف۴ په آرام او راحت کښ اوس مست او مغرور شول او تکلیف ځان د پاره غواړی لکه چه د نورو ملکونو خبرونه په اوریدے شول چه په سفرونو کښ اوبهٔ نهٔ ملاویږی آبادی نهٔ وی دا شان څوښتنه د پاره هم پکار ده چه په خپلو سفرونو کښ اوګورو دا ډیره لویه ناشکری وه نو موږ هغوئ ټوټے ټوټے کړل یعنی جُدا شول یو ملک او بل ملک ته لاړل: فتح الرحمٰن ملـ یعنی هغه سیلاب چه بند اوګے هغهٔ ته اچولو او بند کړے وو

تفسیر: سلـ۶ لَقَدْ كَانَ الخ دا تخویف دنیوی دے مُلکِ سَبا هغه علاقه ده کومے ته چه نن یمن وئیلے شی- د یمن د ټولو نه مخکښ بادشاه سَبا بن یشجب بن یعرب بن قحطان وو ملک د دهٔ په نوم مشهور شو دا نوم وړله کیښودلے شو- د سَبا لس ځامن وو چه هغوئ ته د دهٔ نسل خور شو د سَبا نه دلته د سبا اولاد او د هغهٔ قبیله مراد ده (مدارک، روح) د شکر ویستونکو بندګانو د ذکر نه روستوئے د ناشکره خلقو ذکر اوکړو دے د پاره چه د قریشو مشرکانو د دینه عبرت واخلی څنګه چه د سَبا قوم د ناشکرئ او سرکشئ په وجے سره د ټولو نعمتونو نه محروم کړے شول دا شان د قریشو په مشرکانو باندے هم د الله عتاب او عذاب راتللے شی- ایهٔ د الله تعالیٰ د کمالِ قدرت تنبه

اوډهغهٔ د وحدانیت دلیل. ایة دلالة علی وحدانیتنا وقدرتنا (معالم برخازن ج ۵ ص۲۳۵) جَنَّتٰنِ د جنتان خبر مقدام محذوف دے ای لهم جنتان. یا دا د ایة نه بدل دے امام قتاده فرمائی جنتان نه دوه باغونه مراد دی، یو د ښار نه ښی طرف ته او بل گس طرف ته خور شوے وو. المراد بالجنتین علی ماروی عن قتادة جماعتان من بساتین جماعة عن یمین بلدهم وجماعة عن شماله (روح ج ۲۲ ص۱۲۵) د باغونو دا دواړه سلسلے په سوونو میله خورے شوے وے او دا باغونه د خوندناکو او مزیدارو میوو او خوشبولرونکو وونو باندے مشتمل وو. په ملک کښ اوبهٔ او هوا هم ډیره اعلیٰ او ترمه وه. كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ الخ ای قلنا لهم چه د تیرے شوے زمانے د صیغهٔ امر حکایت وی نو هلته قلنا محذوف وی. دومره قسم، قسم مختلف نعمتونه مهربان رب ورکړی وو هغوئ ته او مطالبه صرف دا وه چه د دے نعمتونو شکر ادا کړئ او د الله فرمان منونکی بندګان جوړ شئ. دا مختلف قسم نعمتونه الله تعالیٰ ورکړل او دا سے مهربان آقا او مالک چه غلطئ او نافرمانئ ته په رښتیا معافی اوغواړی نو فوراً به ئے معاف کړی. د دا سے مهربان رب او محسن مالک نافرمانی او ناشکری هغه څوک کوی چه د ډیرے لاندے درجے والا بدبخت او سرکش وی.

۱۲ فَاَعْرَضُوْا الخ د سبا قوم د الله د شکر نه اعراض اوکړو او د مال دولت او عیش عشرت په نشه کښ نشه شوی وو د الله احسان ئے هیر کړو نو الله تعالیٰ هغوئ ته د ناشکرئ او کفران سزاء داورکړه چه په هغوئ باندے ئے یو ډیر زوړور سیلاب رااوليږلو چه د هغوئ باغونه، فصلونه او مکانونه ئے تباه کړل سیلاب یوړل او د مزیدار، خوندناکو میوو اوګډهٔ اوګډهٔ او پلن پلن باغونه ختم شول او ځنګلی بوټی جاړے وَنے بے خونده او ترخے میوے د بنوړ گزه ونے او د بیرو څنے ونے باقی پاتے شوے. دے صورت کښ به دا موصوف صفت وی. د امام ابوعبیدهٔ په نزد خَمْطٍ هر یو بے مزے او ازغی لرونکو جهاړو بوټوته وئیلے شی دے صورت کښ خمطٍ د "اُكُلٍ" نه بدل وی. کذا فی الروح واختاره الشیخ قدس سرهٔ. اَلْعَرِمِ، مضبوط بند چه د اوبو بندولو د پاره جوړ شوے وی. دینه مراد هغه بند دے چه د سبا په ملک کښ د اوبو ذخیره کولو د پاره جوړ شوے وو. دے به دوه دوه غرونه خپل مینځ کښ سره یوځائے کول او دا ملکه سبا جوړ کړے وو. ان بلقیس کانت عمدت الی جبال بینها شعب فسدت الشعب حتی کانت میاه الامطار والعیون یجتمع

فیها و تصیر کالبحر (کبیر ج ۷ ص۱۲) کله چه الله تعالیٰ د قوم سبا نه د ناشکرئ انتقام اخستل او غوښتل هغه بند ئې اوشلولو او ذخیره شوې اوبه ئې د قیامت خیز سیلاب په صورت کښې په هغوئ مسلط کړې أُكُلٍ خَمْطٍ بې مزې میوې أَثْلٍ د خوره گز او نه سِدْرٍ د بیرې اونه.

۱۸ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ الخ دا مونږ هغوئ ته د ناشکرئ او کفران نعمت سزا ورکړه او مونږ دا شان سزا ناشکر او احسان فراموش خلقوته ورکوو.

۱۹ وجعلنا الخ لقد کان لسبأ فی مسکنهم الخ اعاده ده د بعد عهد په وجه یعنی د نورو انعاماتو ذکر دے. دا هم په اهل سبا باندې د الله تعالیٰ انعام وو. القری التی بٰرکنا فیها نه د شام ملک مراد دے. دا زمکه تکه شنه او د هر قسم میوو نه او نورو نعمتونو نه ډکه وه. والمراد بالقری التی بورك فیها قری الشام وذلك بکثرة اشجارها واثمارها والتوسعة علی اهلها (روح ج ۲۲ ص۲۸۹) او قرًی ظاهرةً هغه کلی چه د سړک په غاړه واقع وو. قال قتاده ومعنی ظاهرةً متصلة علی الطریق (قرطبی ج ۱۴ ص۲۸۹) قدرنا فیها السیر په لاره کښې پراته دغه کلی خپل مینځ کښې دومره مناسب فاصله باندې وو چه د یو کلی نه به روان شول نو ډیر زر به د بل کلی آبادئ ته اورسیدل او ضروریات حاصلولو کښې به هیڅ قسم تکلیف هم نه وو. د سبا خلق به اکثر تجارت پیشه وو او د هغوئ زیات تجارت د شام خلقو سره وو. د هغوئ تجارتی قافلې به شپه او ورځ سفر کولو او سفر دومره آسان وو چه هیڅ قسم تکلیف به نه وو لاره کښې کلی چونکه نزدې نزدې آباد وو ددې وجې نه نه خو به هغوئ چرته ځنګل په لاره کښې کټ کولو او نه به نور د ضرورت څیزونو حاصلولو کښې څه مشکلات مخې ته راتلل د آبادئ د نزدې کیدلو د وجې نه به د هغوئ قافلې د غلو او ډاکه اچوونکو نه هم محفوظ وې او بغیر د څه خطرې نه به ئې شپه او ورځ خپل سفر جاری ساتلې شو.

۲۰ فَقَالُوْا الخ دا د فاعرضوا فارسلنا علیهم الخ اعاده ده د بُعد عهد په وجه یعنی د دویم انعام د ناشکرئ د سزاء ذکر دے. هغوئ له پکار وه چه د الله تعالیٰ د انعاماتو او احساناتو شکرئې اداکولې. لیکن هغوئ د دې په ځائې ناشکری اوکړه او د الله د دې نعمتونو قدر ئې اونه پیژندو او وې وئیل الله! ځمونږ سفرونه اوګس ډکړه یعنی ځمونږ په سفرونو کښې مینځ کښې فاصله زیاته کړې چه د یو کلی نه بل کلی ته تاخیر او مشقت برداشت کولو سره رسیږو. د آرام او راحت په سفر کښې د سیر او تفریح هیڅ مزه نه حاصلیږی. دا شان چه ځمونږ دومره ډیر مشقت اوچت کړې شی او د

تجارت سامان راوړے شی د هغے قدر او قیمت به هم زیات وی۔ هغوئی دا مطالبه اُوکړه په خپلو ځانونو باندے ئے ظلم اُوکړو او خپل ډیر لوئے نقصان ئے اُوکړو۔ ممکن ده چه هغوئی زبان قال سره دا دُعا غوښتلے وی او دا هم ممکن ده چه زبان حال سره وی یعنی هغوئی چه کله د خُدائے نعمتونو ناشکری اوکړه نو گویا چه دا مطالبه ئے اُوکړه چه کلی دِ برباد کړے شی او د دوئی سفرونه دِ اُوکډه ډکړے شی۔ به قال الشیخ رحمه الله تعالیٰ. ویمکن ان یقال قالوا ربنا بعد بلسان الحال ای لما کفروا فقد طلبوا ان یبعد بین اسفارهم ویخرب المعمور من دیارهم (کبیر ج ۷ ص۱۳۲) د سبا خلقو ناشکری اُوکړه نو مونږ هغوئی قصه اُوکرځوله یعنی په هغوئی باندے مونږ طوفان اُولیږلو د هغوئی باغونه او د هغوئی آبادئی ئے هم تباه کړلے او د هغوئی هغه جمعیت او ټولنه مونږ متفرق او منتشر کړه۔ دا شان د هغوئی حال خلقو د پاره افسانه او قصه اُوگرځیدله هر صابر او شاکر بنده د پاره د هغوئی په حال کښ د عبرت او نصیحت نښانے دی۔

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ

او رښتونے کړو په دوی باندے لله ابلیس خپل گمان

فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ⑳

بیا د هغه په لاره لاړل لیکن لږ ایمان لرونکی وو۔

وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ

او د هغه لله په دوی باندے هیڅ تسلط (زور) نه وو

إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ

لیکن دومره چه معلوم کړو مونږ (علم شهود سره) هغه خوک چه یقین لری په آخرت باندے

هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ

او جدا کړو دے سره هغه خوک چه د آخرت له طرفه په دهوکه کښ دے او ستا رب په هر

شَيْءٍ حَفِيظٌ ㉑ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ

شئ نگهبان دے۔ ته اُوایه آواز کړئ هغه معبودانو ته لله

زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ
چه تاسو په هغوی ګمان کوؤ سوا د الله نه نه دی هغوی مالکان
مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ
د یوے ذرے هم په آسمانونو کښ او نه په زمکه کښ
وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ
او نه په دے دواړو کښ د هغوی څه شرکت شته او نه په دوی کښ
مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ﴿۲۲﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ
د هغهٔ څوک مددګار او نه په کار راځی سفارش ۲۳
عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰٓى اِذَا
د هغهٔ سره لیکن هغه چا ته چه د هغه د پاره حکم اوشی، تر دے چه کله ۲۵
فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ
ویره ختمه شی د زړونو د هغوی نه وائی څهٔ اوفرمائیل
رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ
رب ستاسو ، وائی هغوی اووے فرمائیل کوم چه حق دے ۱ او هغه اوچت د ذات او لوئی
الْكَبِيْرُ ﴿۲۳﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ
او لوئے دے . ته اووایه څوک رزق درکوی تاسو ته لله د آسمانونو نه
وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ
او د زمکے نه ، اووایه چه الله او مونږ یا تاسو کله
لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾
بیشکه په هدایت باندے یو یا په ګمراهئ کښ ښکاره یئ ۲۳ .

نکات سلـ امر د توبیخ د پاره د څلورے شبهے جواب ۱۲ سلـ۲ دوېم عقلی دلیل ۱۲ سلـ۳ اوله طریقه د تبلیغ ۱۲ .

موضح قرآن

ف۱ اول ورځ نه شیطان وئیلي وو لاحتنکن ذریته الا قلیلاً. هم هغه شان اوشوه. ف۲ یعنی د الله تعالیٰ په نزد عوام سفارش د اولیاء نه غواړي، او انبیاء او فرشتو نه غواړي. د فرشتو دا حال دے چه اوفرمائیلو کله چه د پورته نه د الله حکم نازلیږي آواز راځي لکه چه په کاڼړي زنځیر وهلے شي. فرښتے د ویرے نه لړزیږي کله چه تسکین او آرام راشي او کلام نازل شي یو د بل نه تپوس کوي څه حکم اوشو پورتنۍ فرشتو ښکتنو فرشتو ته درجه په درجه حکم نقل کوي کوم چه د الله د حکمت موافق وي. او د مخکښ نه هغوي ته قاعده او ضابطه معلومه وي او هغه شان حکم شوے وي ۱۲ ف۳ یعنی دواړه ډلے خوریښنیا نه واڼ یوه ضرور ریښتونے ده او یوه دروغژنه ده نو لازم ده چه سوچ اوکړئ او ریښتونے خبره اونیسئ دے کښ د هغے خبرے جواب دے کوم چه بعضے خلق وائي دواړه ډلے همیشه دا سے راچلیدلے د جهګړے کولو څه ضرورت دے.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د شفاعت اجازت ئے ورکړو ۱۲.

تفسیر

۲۱ وَلَقَدْ صَدَّقَ الخ د ابلیس ګمان د هغوي باره کښ صحیح اووتو. ابلیس وئیلي وو. ولا تجد اکثرهم شاکرین (اعراف ۲۶) اے الله! ته به د اولاد آدم نه ډیر شکرګذار بیا نه موے. زهٔ به هغوي ته شته باغونه اوښایم او د ځان تابع به ئے کړم نو هم هغه شان اوشوه اهل سبا د ابلیس په غلولو کښ راغلل او د هغهٔ تابع شول. لیکن د مؤمنانو یوے ډلے د هغهٔ پیروي اونکړه او په حق باندے ثابت قدم پاتے شول. من المؤمنین کښ من بیانیه دے اي الا فریقا منهم المؤمنون لم یتبعوه علی ان "من" بیانیة (روح جلد ۲۲ ص۱۳۲)

۲۲ وما کان الخ د بني آدم ګمراه کولو باندے د شیطان مسلط کولو کښ تکویني مصلحت امتحان او ابتلاء ده دے د پاره چه دا حقیقت واضح شي ښکاره شي چه مخلص مؤمن څوک دے او منافق او مذبذب څوک دے یعنی مؤمن او منافق معلوم شي او د هغوي مینځ کښ امتیاز راشي هسے خو الله تعالیٰ ته ټول معلوم دي او ټول پیژني چه مؤمن څوک. لنری ونمیز المومن من الکافر واراد علم الوقوع والظهور اذ کان معلوما عنده لانه عالم الغیب (خازن ومعالم ج ۵ ص۲۳۸).

۲۳ قل ادعوا الخ امر د پاره د توبیخ دے دا د څلورمے شبهے جواب دے.

مشرکانو فرښتې هم عند الله شفیع غالب ګنړلې او دا دې وجې نه به ئې د هغوئ عبادت کولو او تعظیم به ئې په ځائې راوړلو دې دپاره چه هغوئ خوشحاله شي او د الله په نزد د هغوئ سفارش اوکړي۔ ورابعها قول من قال انا نعبد الاصنام التي هي صور الملائکة لیشفعوا لنا الخ (کبیر ج ۷ صلا) وې فرمائیل څوک چه تاسو کارساز او سفارشیان ګنړئ هغوئ په خپلو حاجتونو کښې را اوبلئ هغوی کښې به یو هم ستاسو په کار رانه شي او هغوئ به ستاسو په کار څنګه راشي ځکه چه هغوئ عاجز او بې طاقته دي او په زمکه او آسمان کښې د یوې ذرې اختیار هم نهٔ لري نهٔ د زمکې او آسمان په پیدا کولو کښې د هغوئ څهٔ حصّه شته او نهٔ ددې کائنات په پیدا کولو کښې او د ټول جهان نظم نسق په چلولو کښې د الله تعالیٰ دوئ ته څهٔ د تعاون ضرورت شته۔

۲۴ه ولا تنفع الشفاعة الخ دیکښې د شفاعت قهری نفي ده او د فرشتو د شفیع مستقل کیدلو رد دې باقي پاتې د سفارش معامله نو دا خیالي سفارشیان به ستاسو سفارش هم نشي کولې ځکه چه سفارش د الله لطرفه اجازت پا ندې موقوف دې او د مشرک په حق کښې به یو نبي، ولي، یا فرښتې ته د سفارش کولو اجازت نهٔ وي۔ قال تعالیٰ في ابطال قولهم ولا تنفع الشفاعة عنده الا لمن اذن له فلا فائدة لعبادتکم غیر الله فان الله لا یاذن في الشفاعة لمن یعبد غیره (کبیر) الا لمن اذن له دې نه مراد مشفوع له دې یعنې صرف د هغهٔ چا په حق کښې به سفارش نافع وي چه چاته د سفارش کولو اجازت ورکړې شي مراد مؤمن دې لکه چه بل ځائې ارشاد دې إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ (زخرف ۷۶) یعنې د حق (توحید) شهادت ورکړې ددې پوره تحقیق د سورهٔ بقره په تفسیر کښې تیر شوې دې ملاحظه کړئ تفسیر (۵۰۱ ص۱۲۵)

۲۵ه حتی اذا الخ دا د ماقبل نه ترقي ده یعنې د فرشتو شفیع غالب کیدل خو یو طرف ته پاتې شول هغوئ خو چه د الله حکم واوري د هیبت نه لړزیږي دې ځائې کښې د الله تعالیٰ د هیبت او جبروت او د فرشتو د عاجزئ بیان دې کله چه د الله له طرفه فرشتو ته څهٔ حکم ملاویږي نو د ګبراهټ او ویرې د وجې نه په فرشتو کښې هلچل پیدا کیږي او کله چه ویره او هیبت ختم شي نو لاندینئ فرښتې د پاستو فرشتو نه تپوس کوي ذات باري تعالیٰ څهٔ حکم فرمائیلې دې نو هغوي جواب ورکوي چه حق ارشاد شوې دې د خطرې کومه خبره نشته دغه وخت هغوی ته سکون او قرار حاصلیږي۔ د کومو فرشتو چه دا حال وي چه د الله د

بارګاه ته کوم حکم واوري او لړزیږي نو هغوئ دا جرأت کوم ځائے کولے شي چه هغوئ د الله په بارګاه ابتداءً سفارش کولو د پاره خبره اوکړي وَ هُوَ الْعَلِیُّ الْکَبِیْرُ. دا علیحده جمله ده یعنی هغه د ډیر اوچت شان او عظمت او کبریائۍ مالک دے او څوک هم د هغهٔ په وړاندے ساه نه شي ویستلے نه د هغه ملک او اختیار کښې او په تصرف کښې څهٔ لاس وهلے کولے شي.

۴۲ قُلْ مَنْ یَّرْزُقُکُمْ الخ دا په توحید باندے دویم عقلي دلیل دے (علی سبیل الاعتراف من الخصم) د مشرکانو نه تپوس اوکړئ چه د آسمان نه باران وروِلو سره او د زمکے نه شینکی راټوکولو سره ستاسو د رزق سامان څوک برابروی. د دے سوال جواب چونکه یو دے چه مشرکان هم د هغے نه انکار نهٔ کوی د دے وجے نه حضور صلی الله علیه وسلم ته حکم ورکړے شوچهٔ تاسو جواب ورکړئ چه الله د ټولو رازق دے د دے وجے نه په ټولو کائناتو کښې صرف هغه متصرف او مختار دے او هم هغه د ټولو حاجت پوره کوونکے او کارساز دے او د مشرکانو خیالی الهه او کارسازو په کائنات کښې هیڅ اختیار نشته. امر صلی الله علیه وسلم ان یقول تبکیتا للمشرکین بحملهم علی الاقرار بان الهتهم لا یملکون مثقال ذرة فی السموٰت ولا فی الارض وان الرزاق هو الله عزوجل فانهم لا ینکرونه (روح ج ۲۲ ص ۱۴۰).

۴۳ وَاِنَّآ اَوْ اِیَّاکُمْ الخ دا اولنئ طریقه د تبلیغ ده یقیناً موږ یا تاسو د توحید په مسئله کښې او په شرک کښې په سمه لار یو یا په صریح ګمراهئ کښې یو تعریض او کنایه سره د اهلِ توحید په سمه لار کیدل او د مشرکانو په ښکاره ګمراهئ کښې کیدل بیان کړے شوی دی ځکه چه دا خوکیدے نشي چه د ټول جهان مالک، خالق، قادر مطلق او متصرف علی الاطلاق کارساز ګڼړونکی او بے طاقته او عاجز مخلوق ته کارساز ویونکی او ګڼړونکی دواړه په حق وی. د دے وجے نه لامحاله اهلِ توحید په حق دی او مشرکان په باطل دی. د تبلیغ د دے طریقے سره دا تعلیم ملاویږی چه په تبلیغ کښې نرمه لهجه او ډیر زیاته مؤثره طریقه اختیار کړے شی.

قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ

ته اووایه ستاسو نه به تپوس نهٔ کیږی ۴۴ د هغے ګومُلَّنَاه چه موږ اوکړو او څمونږ نه به تپوس اوشی

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا

د هغې کوم چه تاسو کوئ . ته اووایه جمع به کړي مونږ ټول رب خمونږ

ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ

بیا به فیصله کوي زمونږ مینځ کښې د انصاف . او هغه ښه فیصله کوونکے

الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾ قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ

او په ټول هر څه عالم دے . ته اووایه ما ته اوښایئ نو صحیح شته کوم چه تاسو هغه

بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ هُوَ اللّٰهُ

سره ملاوه وي او شریکان ئے ګرځوي داسے نه ده ، صرف هغه الله دے

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً

زبردست حکمتونو والا . او ته چه مونږ لیږلے ئے لله نو ټولو

لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ

خلقو د پاره زیرے او ویره اوروونکے لیکن ډیر

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى

خلق نه پوهیږي . وائي شته کله ده

هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾ قُلْ

دا وعده که چرے تاسو ریښتوني یئ . ته اووایه

لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ عَنْهُ

ستاسو د پاره وعده ده د یوے ورځې نه به روستو والے کوئ د هغې نه

سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

یو ساعت او نه به تلوار (رومبے والے) کوئ . او وئیل

كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا

کافرانو شته مونږ به هرګز نه منو دا قرآن او نه

بِالَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰۤی

دَ ده نه مخکښ، او که اووینې ته

اِذِ الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚۖ

چه کله ګنهګاران اودرولے شی خپل رب سره

یَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰی بَعْضِ ۣ الْقَوْلَ ۚ یَقُوْلُ

یو په بل اچوی خبره وائی به

الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا

هغه خلق کوم چه په کمزوری ګڼلے شول تکبر کوونکو ته

لَوْلَاۤ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾

که چرے تاسو نه وے نو مونږ به مؤمنان وے۔

نکات: ۱ دویمه طریقه دَ تبلیغ ۱۲۔ ۲ دریمه طریقه دَ تبلیغ ۱۲۔ ۳ دَ تیر شوو دلائیلو ثمره ۱۲۔ ۴ دَ مقدر سوال جواب ۱۲۔ ۵ شکوه ۱۲۔ ۶ جواب شکوه ۱۲۔ ۷ شکوه سره دَ تخویف اخروی ۱۲۔

تفسیر: ۲۸ لَا تُسْئَلُوْنَ الخ دا دویمه طریقه ده دَ تبلیغ. هر سړے به دَ خپلو اعمالو جواب ورکوونکے وی. ستاسو دَ کفر او شرک ما ته هیڅ نقصان نشته زۀ تاسو ته دَ توحید دعوت درکوم نو دِ دے سره صرف ستاسو فائده او بهتری مقصود ده۔ ای انما اقصد بما ادعوکم الیه الخیر لکم، لا انه ینالنی ضرر کفرکم (قرطبی ج ۱۴ ص ۲۹۹)

۲۹ قُلْ یَجْمَعُ الخ دا دریمه طریقه ده دَ تبلیغ په دنیا کښ خو دَ بشکاره او واضح دلائیلو با وجود تاسو دَ حق نه انکار کوئ او دَ دلائیلو فیصله نه منئ اخر دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ اهلِ حق جنت ته او اهلِ شرک جهنم ته داخل کړی خپله فیصله به ظاهر کړی دَ دغه فیصلے متل به ستاسو دَ پاره هیڅ ګنجائش نه وی. دَ الله تعالیٰ دا فیصله به په عدل مبنی وی او سراسر به حق وی.

۳۰ قُلْ اَرُوْنِیَ الخ دا دَ دلائیل سابقه ثمره ده کله چه تیر شوو دلائیلو نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ دَ ټول جهان خالق او هغه په ټول کائنات کښ متصرف او مختار دے او دَ مشرکانو خیالی معبودان عاجز او کمزوری

دی نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو مشرکانو ته اُووایئ ما ته یو دلیل اُوښایئ چه دا باطل معبودان تاسو خدایان گرځولی دی چه نه تاسو ته رزق درکولے شی نه په ټول عالم کښ هغوئ ته څهٔ اختیار شته هغوئ دَ خدائے ذوالجلال سره څنګه شریک جوړیں لے شی.

کَلَّا هرګز داسے نهٔ ده! دا باطل خدایان هرګز دَ خدائے سره شریک نشی جوړیں لے. بَلْ هُوَ اللّٰهُ الخ بلکه هغه الله څوک چه دَ کار سازئ دَ ټولو صفتونو مالک او په هر یو غالب او حکیم مطلق دے صرف هغه یوائے دَ ټولو کار ساز او معبود برحق دے او هغه سره هیڅوک شریک نشته ای اردف بالحجة والدلیل کیف وجه الشرکة وهل یملکون مثقال ذرة اوپر زقونکم (بحر ج ۷ ص۲۸۸). ۳۱ وَ مَآ اَرْسَلْنٰكَ الخ دا دَ مقدر سوال جواب دے. مشرکان وائی څمونږ غوښتلے شوے او خوښه معجزه مونږ ته اُوښایه نو مونږ به تا سو رسول صادق اُومنو. بقرینه ویقولون متی هذا الوعد ان کنتم صدقین. په جواب کښ ئے ارشاد اُوفرمائیلو مونږ خو تا لره په کائنات کښ متصرف او مختار نهٔ ئے گرځولے او دِے دَ پاره مونږ نهٔ ئے لیږلے چه دَ هر سړی مطالبه پوره کړئ بلکه مونږ خو ته دَ ټولو انسانانو دَ پاره بشیر او نذیر جوړ کړے اُوم لیږلے چه تا سو دَ الله تعالیٰ پیغام دَ الله تعالیٰ بندګانو ته اُورسوئ منونکو ته دَ جنت زیرے ورکړئ او نهٔ منونکی دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه اُویروئ. لیکن اکثر خلق دا حقیقت نهٔ پیژنی او هغوئ دَ خپل حماقت او جهالت دَ وجے نه بے ځایه او غیر ضروری سوالات کوی. ۳۲ وَ یَقُوْلُوْنَ الخ دا شکوی ده مشرکان دَ استهزاء او توقو په طریقه وائی هغه قیامت به کله راځی چه دَ مُحق او مُبطل مینځ کښ به آخری فیصله کیږی؟ که چرے تاسو رښتیا وایئ نو دَ هغے دَ راتللو معین وخت اُوښایئ. قُلْ لَّكُمْ الخ دا جواب شکوی دے. وے فرمائیل دَ دے وعدے یعنی دَ قیامت دَ راتللو یو وخت مقرر دے او هغه به په خپل وخت ضرور راځی او الله تعالیٰ دَ دے تا پوهو دَ عجلت او تندئ په وجے سره خپله فیصله هیڅکله نهٔ بدلوی. دَ دے وجے نه قیامت به دَ خپلے مقررے نیټے نه نهٔ مخکښ راځی او نهٔ به دَ هغے نه یو لمحه روستو کیږی.
۳۳ وَ قَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا الخ شکوی سره دَ تخویف اُخروی ته. دا کافران په دنیا کښ خو ډیر طمطراق سره وائی چه مونږ نهٔ قرآن منو نهٔ هغه کتابونه منو کوم چه دَ دهٔ نه مخکښ نازل شوی دی یعنی تورات او انجیل وغیره په کوم کښ چه دَ توحید مسئله بیان شویده ځکه چه اصل وجه دَ نزاع او جهګړے هم دا ده. ای ما نزل قبل القرآن من کتب الله (مدارک) لیکن

هغوئ کله هم دا سوچ نهٔ دے کړے چه د دوئ د دے عناد او انکار انجام به څومره ډیر هیبتناک او دهشتناک وی. وَلَوْ تَرٰی ـــــ تا ـــــ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ. تخویف اُخروی دے او دِ دے کښ د کافرانو او مشرکانو د بد انجام او په میدان محشر کښ د خپلو راهنمایانو سره د وینا ذکر کړے. د قیامت په ورځ چه کله دا ظالمان مشرکان د خپل حقیقی مولا په حضور کښ ولاړ وی نو د دوئ او د دوئ د مشرک پیشوایانو مینځ کښ به دالاندینئ خبرے اترے وی او دواړه به یو بل ملامته کوی. يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا الخ اتباع او مریدان به خپلو مشرانو او پیشوایانو ته وائی چه دوئ لره گمراه کړی او د ځان تابع کړی وو. که چرے تاسو موږ په سمه لاره د تللو نه او د حق او صداقت قبلولو نهٔ منع کولے نو یقیناً موږ به توحید او رسالت باندے ایمان راوړے وے او د هدایت په لاره باندے به روان شوے وے لیکن تاسو د هدایت قبلولو نه منع کړو او گمراه مو کړلو.

قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا

وائی به تکبر کوونکی (متبوعان) ۳۲ هغوی ته کوم چه کمزوری کړے شوی وو

اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ

آیا موږ منع کړے وئ تاسو د حق خبرے نه روستو

اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ

د راتللو د هغے نه تاسو ته داسے هیڅ (خبره) نهٔ ده تاسو وئ گنهگاران. او وائی به

الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ

هغه خلق څوک چه کمزوری کړے شوے وو ۳۳ تکبر کوونکو ته، داسے نهٔ ده بلکه

مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ

فریب د شپے او ورځے وو، وخت چه تاسو به موږ ته حکم کولو چه موږ او نه منو

بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ

الله او جوړ کړو موږ هغه له شریکان برابر، او روستو به پټ کړے پښیمانتیا ۳۴

لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِیْۤ اَعْنَاقِ
کله چه اوویني عذاب او مونږ اچولي دي زنځيرونه په غاړه
الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ یُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا
د کافرانو کښ . هم دغه بدله مومي څوک چه
یَعْمَلُوْنَ ۝۳۳ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا فِیْ قَرْیَةٍ مِّنْ
عمل کوي (داشان) . او نه دے لیږلے ۳ مونږ په یو کلي کښ څوک
نَّذِیْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَاۤ ۙ اِنَّا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ
ویره وونکے لیکن اوویئیل د هغے (کلي) خوشحاله آسوده خلقو کوم چه ستاسو په لاس لیږلے شوي
بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝۳۴ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا
په هغه نه منو . او ویئیل په دوي مونږ زیات یو په مال
وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ۝۳۵ قُلْ اِنَّ
او په اولاد کښ او په مونږ عذاب نۀ دے راتلونکے . ته اووایه
رَبِّیْ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیَقْدِرُ
خما رب دے ۳ چه فراخ کوي رزق چاته چه اوغواړي او په اندازکوي ئے
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ۝۳۶ ع
لیکن ډیر نه پوهیږي .

نکات: ۱ تخویف دنیوی ۱۲ . ۲ په توحید باندے دریم عقلی دلیل او د کافرانو د پوره تنی باطل قول جواب ۱۲ .

فتح الرحمٰن | ۳ یعنی ستاسو مکر او فریب وو چه مسلسل د هغے په کوشش کښ وئ ۱۲ .

تفسیر: ۳۴ قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا الخ د شرک پیشوایانو او مشرانو د کفر به خپلو تابعانو ته جواب ورکړی آیا چه تاسو ته هدایت راغلے وو او تاسو د هغے د قبلولو کلک عزم کړے وو نو آیا مونږ تاسو په هغے باندے د ایمان راوړلو نه او د هغے د قبلولو نه منع کړی وئ ؟ دا

استفهام دے یعنی تاسو غلط وایئ موږ تاسو د ایمان راوړلو ته هرګز نه وئ منع کړی بلکه تاسو پخپله مجرمان وئ تاسو په خپله خوښه ایمان باندے کفر ته ترجیح ورکړه او هدایت نه منکر شوئ ګمراهی مو قبوله کړه. ای لسنا نحن الذین حلنا بینکم وبین الایمان بعد اذ صممتم علی الدخول فیه بل انتم منعتم انفسکم حظها باجرامکم وایثارکم الکفر علی الایمان (روح ج ۲۲ ص ۱۴۵).

۳۵ وَ قَالَ الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا الخ اتباع او مریدان به خپلو متبوعینو پیشوایانو ته د جواب په جواب کښ اوائی نه، نه موږ پخپله نهٔ وو ګمراه شوی بلکه موږ ستاسو دهوکے او فریب ګمراه کړو چه تاسو به شپه ورځ سوچ کولو. مَکْرُ الَّیْلِ، د مکر مضاف الیه حذف کړے شوا و ظرف د هغهٔ په ځائے قائم کړے شو ای بل صدنا مکرکم بنا باللیل والنهار فحذف المضاف الیه واقیم مقامه الظرف اتساعًا (ابوالسعود ج ۷ ص ۲۳). ۳۶ وَ اَسَرُّوا الخ مشرکان متبوعان او تابعان چونکه ټول ګمراهان اوګناهګار دی او دواړو (تابعانو، متبوعانو) ته به د خپل مجرم کیدلو احساس هم وی لیکن د ذلت او رسوایئ نه د بچ کیدلو د پاره به هغوئ ډیرے بهانے او خبرے جوړوی. آخر چه هیڅ یوه بهانه هم پکار رانهٔ شي او هغوئ د عذاب مشاهده اوکړی کوم چه هغوئ د پاره تیار دے نو هغوئ به پخپله رسوایئ باندے نوره د زیات پرده اچولو د پاره خپله پښیمانتیا او ندامت پټوی او د پښیمانتیا د قول او فعل د اظهار په ځائے به په زړهٔ کښ پښیمانه وی. اوس به د دے مجرمانو په مرو کښ زنځیرونه واچولے شي او هغوئ به جهنم کښ غوره ځولے شي. ځکه چه د هغوئ عملونه خراب وو هم هغه شان به د هغوئ سزاء هم سخته وی. حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی د (اِسْرَارًا) درے معنے دی. اظهار، اخفاء، او په زړهٔ کښ پښیمانتیا. دلته درےواړه معنے کیدے شي لیکن دریمه معنیٰ زیاته مناسب ده.

۳۷ وَمَا اَرْسَلْنَا الخ دا تخویف دنیوی دے موږ چه کله په یو کلی کښ پیغمبر اولیږلو نو د هغه کلی غروره خوشحالو طبقو په متکبرانه انداز کښ هغوئ ته اوئیل چه تاسو کوم پیغام راوړے دے موږ د هغے منلو ته تیار نهٔ یو. وَقَالُوْا نَحْنُ اَکْثَرُ اَمْوَالًا وَّ اَوْلَادًا الخ موږ ستاسو ته په مال اولاد کښ زیات یو د دے وجے نه په موږ به هیڅ قسم عذاب نهٔ وی کهٔ چرے موږ د الله په نزد ناخوښ وے او د سزاء لائق وے نو هغه به موږ ته د ډیر مال او ډیر اولاد عزت ولے راکولے اراد وا انهم اکرم

علی الله من ان یعذبهم نظرا الی احوالهم فی الدنیا وظنوا انهم لولم یکرموا
علی الله لما رزقهم الله (مدارک).

۳۸ه قُلْ اِنَّ رَبِّیْ الخ دا په توحید باندے دریم عقلی دلیل دے او دَ کافرانو
دَ پوړتنی ذکر شوی باطل گمان جواب دے رزق کوم چه دَ هرساه لرونکی
بنیادی ضرورت دے هغه دَ الله په قبضه کښ دے او بیا دَ رزق تنگی
او فراخی هم دَ هغهٔ په اختیار کښ ده. دَ دے وجے نه هغه دَ ټول کائنات
اِلٰه (معبود) او کارساز دے. دا شان دَ رزق فراخی او تنگی دَ الله تعالیٰ په
تکوینی مصلحتونو باندے مبنی ده دَ دے وجے نه دَ مال ډیروالے عندالله
دَ عزت مند او محترم کیدلو دلیل نهٔ دے. مال دَ الله په نزد دَ مبغوض
کیدلو دلیل دے. لهذا دَ مشرکانو کثرتِ مال او اولاد باندے فخر
کول او ناز یدل بے کاره دی.

وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِیْ

او مال ستاسو ۳۹ نه او اولاد ستاسو هغه نهٔ دے

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰۤى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ

چه نزدے کړی موږ ته ستاسو درجه لیکن څوک چه یقین اوکړی

وَعَمِلَ صَالِحًا ۡ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ

او کارئے اوکړو نیک نو هغوئ دَ پاره ده بدله

الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِی الْغُرُفٰتِ

دوچنده دَ هغوئ دَ کړے شوو کارونو او هغوئ به په ماڼو کښ ناست وی

اٰمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِیْنَ یَسْعَوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِنَا

اطمینان سره او کوم خلق چه کوشش کوی ۴۰ نه څموږ دَ ایتونو

مُعٰجِزِیْنَ اُولٰٓئِكَ فِی الْعَذَابِ

په باطلولو کښ هغوئ به په عذاب کښ

مُحۡضَرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ قُلۡ اِنَّ رَبِّیۡ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ

ته اُوايه څما رب دے چه فراخه کوی رزق لپاره ... نيولے شوی راحی.

لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَ یَقۡدِرُ لَهٗ ؕ وَ

چاته چه اوغواړی د خپلو بندګانو ته او تنګوی او چه

مَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَهُوَ یُخۡلِفُهٗ ۚ

خرچ کوئ د کوم څيز نه هغه (الله) عوض درکوی د هغے

وَ هُوَ خَیۡرُ الرّٰزِقِیۡنَ ﴿۳۹﴾ وَ یَوۡمَ یَحۡشُرُهُمۡ

او هغه غوره رزق ورکوونکے دے. او کومه ورځ چه جمع کړی (الله)

جَمِیۡعًا ثُمَّ یَقُوۡلُ لِلۡمَلٰٓئِکَةِ اَهٰۤؤُلَآءِ

ټول بيا به اُوائی فرشتو ته آيا دے خلقو

اِیَّاکُمۡ کَانُوۡا یَعۡبُدُوۡنَ ﴿۴۰﴾ قَالُوۡا سُبۡحٰنَکَ

ستاسو عبادت کوؤ. هغوئ به اُوائی پاک ذات دے

اَنۡتَ وَلِیُّنَا مِنۡ دُوۡنِهِمۡ ۚ بَلۡ کَانُوۡا

ستا موږ ستا طرف ته يُو نهٔ د هغوئ طرف ته دا سے نهٔ ده (څنګه چه کافران وائی)

یَعۡبُدُوۡنَ الۡجِنَّ ۚ اَکۡثَرُهُمۡ بِهِمۡ مُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۴۱﴾

بلکه عبادت ئے کوؤ د پيريانو ئے دوئ اکثر په هغوئ عقيده ساتله.

نکات: ۱ زجر ۱۲. ۲ بشارت اخروی ۱۲. ۳ تخويف اخروی ۱۲
۴ د دريم عقلی دليل اعاده ۱۲. ۵ تخويف اخروی ۱۲.

فتح الرحمن ف ۱ يعنی د ملائيکو عبادت د شيطانانو په وسوسه او وو نو لکه چه د شيطانانو عبادت ئے کوؤ. ۱۲.

تفسير: ۳۹ وَمَاۤ اَمۡوَالُکُمۡ الخ دا زجر دے. زُلۡفٰی د تُقَرِّبُ د پاره مفعول مطلق دے من غير لفظه. دا خطاب کافرانو سره دے يعنی د مال اولاد زياتوالے د الله په نزد د نزديکت او عزت دليل نهٔ دے. اِلَّا مَنۡ اٰمَنَ الخ استثناء منقطع ده او دا مؤمنانو د پاره بشارت

اُخروی دے. فَاُولٰٓئِكَ دَ پاره خبر محذوف دے ای مُقَرَّبُوْنَ او لهم جزاء الضعف الخ جمله دَ ماقبل معلول دے قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. یعنی کوم خلقو چه ایمان راوړو او نیک کارونه ئے اوکړل هغوئ دَ الله نزدیکان دی او دَ دے وجے نه به هغوئ ته دَ هغوئ دَ اعمالو سزاء دوچنده ملاویږي او هغوئ به دَ جنت په ماڼو کښ امن او سکون سره اُوسیږی.
جَزَآءُ الضِّعْفِ کښ اضافت بیانیه دے.

۴۰ه وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ الخ دا کافرانو دَ پاره تخویف اُخروی دے څوک چه دَ قرآنی دلائلو باطلولو کښ په باطل گمان کښ په ایتونو باندے محض عناداً بد وائی او عیب لگوی او په خپل خیال کښ گمان کوی چه هغوئ به حمونږ نه مخکښ لاړشی مونږ به عاجز کړی دا سے معاندین به دَ جهنم په عذاب کښ مبتلاء کولے شی. مُعٰجِزِيْنَ دَ باطلولو په غرض مقابله کوونکی. ۴۱ه قُلْ اِنَّ رَبِّيْ الخ دا دَ دریم عقلی دلیل اعاده ده. وَمَآ اَنْفَقْتُمْ الخ دَ رزق فراخی او تنگی چونکه دَ الله په اختیار کښ ده دَ دے وجے نه کوم خلق چه دَ الله په لار کښ خرچ کوی الله تعالیٰ به هغوئ ته بدله ورکړی دنیا کښ یا آخرت کښ یا په دواړو جهانونو کښ. ای یعطیکم خلفه وبدله وذلك البدل اما فی الدنیا واما فی الاخرة (قرطبی ج ۱۴ ص ۳۰۶).

۴۲ه وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ الخ دا مشرکانو دَ پاره تخویف اُخروی دے چه هغوئ فرښتے سفارشی او کارساز گنړلی دی. دَ قیامت په ورځ چه کله عابدین او معبودین جمع کولے شی نو الله تعالیٰ به فرښتو ته اُوائی "ایا دوئ (دَ فرښتو عبادت کوونکو طرف ته اشاره ده) دنیا کښ ستاسو عبادت کولو او په حاجتونو کښ به ئے تاسو رابللئ؟". قَالُوْا سُبْحٰنَكَ الخ فرښتے به جواب کښ عرض اُوکړی. اے حمونږ معبوده! ته دَ هر قسم شریک نه پاک ئے حمونږ او دَ دوئ مینځ کښ دَ ولایت او موالات هیڅ تعلق نشته ته حمونږ ولی او ناصر ئے ای انت الذی توالیه من دونهم لا موالاة بیننا وبینهم (روح ج ۲۲ ص ۱۵۱) سبحٰنك تنزهك عن ان یکون غیرك معبودا وانت معبودنا ومعبود کل شیء (کبیر ج ۷ ص ۲۲) بَلْ كَانُوْا الخ په حقیقت کښ دے خلقو دَ پیریانو عبادت کوو او هغوئ ئے کارساز گنړل او رابلل به ئے او دوئ کښ ډیرو دَ پیریانو دَ کارساز گنړلو عقیده لرله. دَ خزاعه قبیلے ښاخ بنو ملیح به دَ پیریانو عبادت کوو جنات به کله دَ هغوئ په مخکښ ظاهریدل هم نو هغوئ به دا گنړل چه دا فرښتے دی او دا دَ الله تعالیٰ لونړه دی اِنَّ حیا یقال لهم بنو ملیح من خزاعة کانوا یعبدون الجن و یزعمون ان الجن تراءی لهم وانهم ملائکة وانهم بنات الله الخ (قرطبی ج ۱۴ ص ۳۰۹)

فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا

نن ۳۳ کله تاسو مالک نه یئ د یو بل سره د نیکئ کولو

وَلَا ضَرًّا ۗ وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا

نه د بدئ کولو او دا یو به موږ ګناهګارانو ته

ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنتُم بِهَا

اوڅکئ تکلیف د دے اور کوم چه تاسو

تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا

دروغ وئیل او کله چه اولوستلے شي ۳۴ کله هغوئ ته څموږ ایتونه

بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ

واضحه واضحه وائی نور هیڅ نه دی لیکن یو سړے دے غواړی

أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُكُمْ

چه منع کړی تاسو د هغه څیزونو نه چه د هغې عبادت کولو ستاسو پلار نیکه

وَقَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ

او وائی نور هیڅ نه دی لیکن دروغ دی د ځان نه جوړ شوی او وائی

الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ إِنْ

کافران حق خبرے ته کله چه راغے هغوئ ته نور هیڅ

هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَا آتَيْنَاهُم مِّن

نه دی مګر دا یو جادو دے ښکاره او موږ نه دی ورکړی هغوئ ته ۳۵

كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَا أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ

کتابونه چه هغه لولی او نه دے لیږلے موږ هغوئ ته

قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن

ستا نه مخکښې څوک ویره ورکوونکے وا۔ او تکذیب کړیدے خلقو چه وو د دوئ نه

قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ

مخکښ او دوئ ته دی رسیدلی لسمے حصے ته د هغے کومه چه مونږ هغوئ ته ورکړے وه

فَكَذَّبُوْا رُسُلِیْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۵﴾

بیائے دروغ اوګنړل ځما پیغمبران لے شوی نو څنګه شو انکار ځما۔

۵ ع ۹ ۱۱

نکات:۔ ۱ داشکوی ده ۱۲۔ ۲ تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی پکار ده چه داغنیمت اوګنړئ۔

تفسیر:۔ ۴۳ فَالْيَوْمَ الخ نن به ستاسو دامزعومه معبودان او سفارشیان تاسو ته د هیڅ قسم نفع اُونهٔ رسوی او نهٔ به تاسو د عذاب نه خلاص کړی۔ د دے وجے نه نن د جهنم هیبتناک او سخت عذاب مزه اوڅکئ کوم چه به تاسو دروغ ګنړو۔ ای لا ینفع لکم نفع ممن کنتم ترجون نفعه الیوم من الانداد والاوثان التی ادخرتم عبادتها لشدائدکم وکربکم الیوم لایملکون لکم نفعا ولا ضرا (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۴۳)۔ ۴۴ وَاِذَا تُتْلٰى الخ داشکوی ده مشرکان په ضد او عناد کښ دے حد ته رسیدلی دی چه کله د هغوئ په مخکښ څمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم واضح او روښانه آیتونه لولی نو په هغے کښ د غور فکر کولو او د هغے د منلو په ځائے هغوئ وائی چه په اصل کښ دا سړے غواړی چه مونږ د خپل پلار نیکهٔ د معبودانو نه او د هغوئ د دین نه لرے کړی او د ځان تابع کړی مونږ او پخپله لوئے سړے جوړشی مونږ۔ ما تحت جوړ کړی۔ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ الخ او دا قرآن چه لولی او کوم دین چه څمونږ مخکښ پیش کوی او دا ټول هرڅهٔ چه خدائے ته منسوب کوی دا خو ټولے د هغهٔ خپلے جوړے کړے شوے خبرے دی د الله د طرفه نه نهٔ دی۔
وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ د الحق نه مراد نبوت او معجزات دی للحق ای لامر النبوة التی معها من خوارق العادة ما معها (روح ۲۲ ج ص ۱۵۲)۔
مشرکان په ضد او عناد کښ راغلل معجزات او نبوت ته صریح جادو وائی ۴۵ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ الخ د دے د مکے مشرکانو ته مونږ څهٔ اسمانی کتابونه هم نهٔ دی نازل کړی چه دوئ هغه لوستلی وی او په هغے کښ د شرک تعلیم وی او نهٔ ستانه مخکښ مونږ په دوئ کښ کوم پیغمبر رالیږلے دے چه هغه دوئ ته د شرک دعوت ورکړے وی او د شرک په پریښودلوئے دوئ ته د عذاب نه ویره ورکړی وی۔ د دے وجے نه هغوئ په شرک

د قائم پاتے کیدلو او د توحید نه انکار کولو کښ معذور نه دی او د دوئ هیڅ عذر او شبهه د تکذیب گنجائش نه ورکوی ای لم یقرءوا فی کتاب اوتوه بطلان ما جئت به ولا سمعوه من رسول بعث الیهم ..... فلیس لتکذیبهم وجه یتشبت به (قرطبی ج ۱۴ ص ۳۱۳) د خپل مشرانو گمراه پلار نیکهٔ عمل ئے دلیل گرځولے دے چه د دلائیل عقلیه او براهین نقلیه په مقابله کښ د هغې پیش کول جهالت او حماقت دے فالایات البینات لا تعارض الا بالبراهین العقلیة ولم یأتوا بها او بالنقلیات وما عندهم کتاب ولا رسول غیرك الخ (کبیر ج ۷ ص ۲۳۳). ۴۶ وَكَذَّبَ الخ دا تخویف دنیوی دے د بَلَغُوا ضمیر فاعل نه د عربو مشرکان مراد دی او د اٰتَیْنٰهُمْ ضمیر مفعول د الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ نه کنایه دے. قال الشیخ قدس سرهٗ. یعنی د مکے د مشرکانو نه مخکښ چه کوم قومونه تیر شوی دی هغوئ ته موږ ډیر دولت، قوت شان شوکت او دنیوی سامان اسباب ورکړے وو چه د مکے د مشرکانو ټول وسائیل او سامانونه د هغوئ د وسائیلو عُشرِ عشیر (د لسمے حصے لسمه حصه) هم نهٔ ده کله چه هغه قومونو خموږ پیغمبر دروغ اوگڼلو نو موږ هغوئ ډیر بد اوټول او ذلیل او رسوا موکړل هلاک او تباه م او د هغوئ ټول دولت او رعب داب او تکبر. دا د مکے مشرکان خو د هغوئ په مقابله کښ په هیڅ شمار کښ نهٔ دی.

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا

ته اووایه زهٔ تاسو ته یو نصیحت کوم چه اودریږئ

لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا

د الله په نوم دوه دوه او یو یو بیا سوچ اوکړئ چه

بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِیْرٌ

ستاسو دے ملگری پاندے هیڅ لیونتوب نشته دے نو ویرووکے دے ۴۸

لَّكُمْ بَیْنَ یَدَیْ عَذَابٍ شَدِیْدٍ ﴿۴۶﴾

تاسو له د یو لوئے عذاب د راتللو نه.

قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ط
تهٔ اُوایه چه ستاسو نه زهٔ غواړم ښهٔ کومه بدله نو هغه دِ ستاسو دی
اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ
څما بدله دهٔ په الله باندې او دٔ هغهٔ په مخکښ
شَیْءٍ شَهِیْدٌ ﴿۴۷﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّیْ یَقْذِفُ
دے هر څیز - تهٔ اُوایه څما رب ښهٔ الیږی
بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ﴿۴۸﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ
حق دین او هغه ښهٔ عالم دے په پټو څیزونو تهٔ اُوایه راغے ریښتونے دین ښهٔ
وَمَا یُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا یُعِیْدُ ﴿۴۹﴾ قُلْ
او دروغ (معبودان) څو نهٔ څهٔ څیز پیدا کوی او نهٔ څهٔ بیا راژوندی کولے شی۔ تهٔ اُوایه
اِنْ ضَلَلْتُ فَاِنَّمَاۤ اَضِلُّ عَلٰی نَفْسِیْ ۚ
کهٔ چرے زهٔ څوئیدلے یم ښهٔ نو اُوبه څوئیږم په خپل نقصان باندې
وَاِنِ اهْتَدَیْتُ فَبِمَا یُوْحِیْۤ اِلَیَّ رَبِّیْ ط اِنَّهٗ
او کهٔ چرے یم په سمه لار باندې نو په دے سبب چه وحی رالیږی ما ته څما رب بیشکه
سَمِیْعٌ قَرِیْبٌ ﴿۵۰﴾ وَلَوْ تَرٰۤی اِذْ فَزِعُوْا
هغه ټول هر څهٔ آوری ډیر نزدے دے. او چرته کهٔ تهٔ اُوینے ښهٔ کله چه دوئ اُووېریږی
فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِیْبٍ ﴿۵۱﴾
بیا به نهٔ خلاصیږی په تیښته او نیولے شوی به راشی دٔ ځائے نزدے نه ملے
وَّقَالُوْۤا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰی لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ
او وائی به دوئ مونږ په هغهٔ (الله) ایمان راؤړو ښهٔ او اوس چرته دٔ هغوئ لاس رسیږی دٔ
مَّكَانٍ بَعِیْدٍ ﴿۵۲﴾ ج وَقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ط
ځائے لرے نه ښهٔ او دوئ دینه منکر وو ښهٔ مخکښ دٔ دے نه

وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿۵۳﴾

او ویشتل به ئې کول په نښه باندې د ځائې لرې نه.

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ

او ځنډ پریوتو په دوی کښې ترمینځ او د دوی په ارزو کښې

كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ

څنګه چه کړې شویدي د دوی پشان خلقو سره د دوی نه مخکښې هغه خلق

كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿۵۴﴾

وو داسې شک کښې چه ارام به ئې نه ورکولو (خلقو ته)

نکات: سلـ ترغیب الی التوحید او څلورمه طریقه د تبلیغ. سلـ۲ پنځمه طریقه د تبلیغ ۱۲. سلـ۳ شپږمه طریقه د تبلیغ ۱۲. سلـ۴ اوومه طریقه د تبلیغ ۱۲. سلـ۵ اتمه طریقه د تبلیغ ۱۲. سلـ۶ توحید باندې دلیل وحی ۱۲. سلـ۷ تخویف اخروی ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی د بره نه نازلیږی ۱۲
ف۲ یعنی د ایمان راوړلو وخت پاتې نهٔ شو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په آسانئ سره به رانیولې شی ۱۲.
ف۲ یعنی په ګمان او اټکل سره داسې وائی.

تفسیر: سلـ قُلْ إِنَّمَا الخ دا ترغیب فی التوحید او څلورمه طریقه ده د تبلیغ مشرکانو ته د عناد او سرکشئ په وجه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې د جنون خبرې به ئې ورپسې کولې الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته حکم ورکړو چه دیانت او امانت سره د دې معاملې د فیصله کولو دعوت مشرکانو ته ورکړه او د خپل صداقت ازمائیلو طریقه هغوئ ته دا اوښایه چه راشئ تاسو دیانت او خالص نیت سره خدائے حاضر ناظر اوګڼړئ دوه دوه شئ یا یو یو شئ غور او فکر اوکړئ چه زهٔ د ډیرې اوږدې زمانې نه تاسو کښې اوسیږم. زما امانت، صداقت، اجابت رائے او زما د فکری او ذهنی صلاحیتونو تاسو ذاتی تجربه لرئ ایا زما دماغو چکر خوړلے دے او ما ته لیونتوب لګیدلے دے چه ما د رسالت دعوٰی کړیده. توحید ته حق او شرک ته باطل وایم او دوباره ژوندی پاسیدل او حساب کتاب حق ګڼړم ثم تتفكروا فی انتفاء الجنة عن محمد صلی الله

علیه وسلم فان اثبات ذٰلك لا یصح ان یتصف به من کان ارجح قریش عقلا و اثبتهم ذهنا و اصدقهم قولا و انزههم نفسا و من ظهر علی یدیه هٰذا القرآن المعجز فیعلمون بالفکرة ان نسبته للجنون لا یمکن (بحر ج ۷ ص ۲۹۱).

۴۸ اِنْ هُوَ اِلَّا الخ هغه لیونے نهٔ دے د الله پیغمبر دے رښتونے او ستاسو خیرخواه دے مخلص چه تاسو ته د هیبتناک عذاب (راتللونه مخکښ د هغے نه خبروی.

۴۹ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ الخ دا پنځمه طریقه ده د تبلیغ. تاسو اوایئ زهٔ د حق په تبلیغ باندے ستاسو نه څهٔ اُجرت یا چنده وغیره نهٔ غواړم. کهٔ چرے زهٔ څهٔ چنده یا اُجرت اوغواړم تو هغه تاسو واخلئ. دا کنایه ده د دینه چه زهٔ بالکل اُجرت نهٔ اخلم. والمراد نفی السؤال رأسا (روح ج ۲۲ ص ۱۵۵) اِنْ اَجْرِیَ الخ زما اُجرت خو د الله په ذمه دے چه د هر څیز نه خبر دے او زما صداقت او خلوص نیت هغهٔ ته معلوم دے.

۵۰ قُلْ اِنَّ رَبِّیْ الخ دا شپږمه طریقه ده د تبلیغ. زما پروردګار چه په هر څهٔ خبر دے حق بیهٔ واضح او صفا بیانوی او د وحی په ذریعه ئے انبیاء علیهم السلام باندے نازلوی دے د پاره چه هغوئ د دے تبلیغ او اشاعت اوکړی. یقذف بالحق یلقیه وینزله الی انبیائه (مدارک) ای یبین الحجة ویظهرها (قرطبی).

۵۱ قُلْ جَآءَ الخ دا اوومه طریقه ده د تبلیغ. تاسو اوایئ اوس د حق مقابله کول مړګ ته دعوت ورکول دی ځکه چه اوس حق غالب شوے دے باطل کښ اوس د حق د مقابلے کولو طاقت پاتے نهٔ شوای ذهب واضمحل بحیث لم یبق له اثر (روح ج ۲۲ ص ۱۵۶) یا د باطل نه معبودانِ باطله مراد دی یعنی باطل معبودان نهٔ خو بتدا څوک پیدا کولے شی او نهٔ کوم یو مړے ژوندے کولے شی.

۵۲ قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ الخ دا اتمه طریقه ده د تبلیغ. زهٔ تاسو ته رښتیا وایم د غلطے خبرے او ګمراهئ دعوت نهٔ درکوم کهٔ چرے زهٔ دروغ وایم او تاسو ته د ګمراهئ دعوت درکړم نو د هغے وبال او عذاب به په ما پریوځی او کهٔ چرے زهٔ په سمه لاره باندے روان یم نو د وحی الٰهی په وجه. فَبِمَا یُوْحِیْ اِلَیَّ رَبِّیْ، باء سببیه ده او دا په توحید باندے دلیل وحی دے د کوم صراط مستقیم او توحید لارے ته چه زهٔ رابلل کوم د هغے لاره ښودنه ما ته وحی الٰهی سره شوے ده.

۵۳ وَلَوْ تَرٰٓی الخ دا تخویف اُخروی دے. فَلَا فَوْتَ، یعنی تښتیدلے به نهٔ شی وَاُخِذُوْا الخ دا هم د دینه کنایه ده چه د قیامت په ورځ چه

کله هغوئ د حشر په میدان کښ د ډیرے سختئ او عذاب نه ګبراؤشی نو هغه وخت به دوئ چرته تښتیدل او سره ځائے لټوو خو نه بچ تکړے شی او د هغوئ نیول به ډیر آسان وی. وحیثما کانوا فهم من الله قریب لا یفوتونه ولا یعجزونه (معالم وخازن ج ۵ صـ۲۲۳).

۵۲ وَ قَالُوْٓا اٰمَنَّا الخ اَلتَّنَاوُشُ، نیول او مکان بعید نه مراد دنیا ده د آخرت عذاب چه اوینی نو کافران او مشرکان به وائی مونږ د الله په توحید او د هغهٔ د پیغمبر انو په رسالت باندے ایمان راؤړو. لیکن کوم ایمان چه قابل اعتبار دے هغه خو د دنیا ایمان دے او د دنیا اوس ډیره لرے وتلے ده او د دومره لرے نه اوس هغوئ په هیڅ طریقه ایمان نشی حاصلولے انی لهم تناول الایمان فی الاخرة وقد کفروا به فی الدنیا (قرطبی ج ۱۴ صـ۳۱۶)

۵۳ وَ قَدْ كَفَرُوْا بِهٖ الخ ای یقال یعنی وئیلے به شی د آخرت نه مخکښ هغوئ په دنیا کښ کفر کړے دے کوم چه د ایمان راؤړلو ځائے وو. د دے وجے نه اوس ایمان راؤړل بے فائده دی. وَ یَقْذِفُوْنَ الخ کله چه په دنیا کښ وو نو د حق نه ډیر لرے وو او اټکل غشی به ئے ویشتل یعنی آخرت چه تالیدلے نه وو د هغے باره کښ به ئے په دنیا کښ چه د آخرت نه ډیر لرے وه اټکل خبرے به ئے کولے او د حشر نشر او آخرت نه به ئے انکار کولو. ۵۴ وَ حِیْلَ الخ او فِعِلَ دواړه فعلونه په معنیٰ د فعلِ مضارع دی مشرکان به د آخرت په ورځ ډیرے آرزوګانے کوی توبه دِ قبوله شی، ایمان دِ قبول شی، دنیا ته دِ واپس اولیږلے شی، د عذاب نه دِ خلاصے ورکړے شی وغیره وغیره لیکن د هغوئ یوه آرزو به هم نهٔ شی پوره کولے د دوئ او د دوئ د آرزوګانو مینځ کښ به پرده حائل او مانع شی. لکه چه د دوئ نور هم مشرب او هم خیال سره به هم داسلوک کولے شی کوم چه د دوئ نه مخکښ تیر شوی دی. دا خلق دنیا کښ هم ډیر شک او تردد کښ وو او هغوئ ته اطمینان قلب نصیب نهٔ شو د دے وجے نه په آخرت کښ به هم هغوئ حیران او سرګردان وی او هغوئ ته به سکون حاصل نهٔ وی. فی شك ای من امر الرسل والبعث والجنة والنار وقیل فی الدین والتوحید والمعنی واحد (قرطبی ج ۱۴ صـ۳۱۷). شَكٍّ مُّرِیْبٍ، داسے شک چه ډیر مضبوط او قوی وی او انسان په پریشانئ او بے آرامئ کښ اوغورځوی قال ابن عطیة الشك المریب اقوی ما یکون من الشك (روح ج ۲۲ صـ۱۶۰)

سورۀ سبا کښې دَ توحید آیتونه او دهغې خصوصیات

---

① الحمد لله الذی له ما فی السموٰت وما فی الارض ـــــ نه تر ـــــ وهو الرحیم الغفور (۱۶) نفی دَ شرک فی التصرف او نفی دَ شرک فی العلم

② علم الغیب لا یعزب عنه مثقال ذرة ـــــ نه تر ـــــ الا فی کتاب مبین. (۳۶) نفی دَ شرک فی العلم.

③ قل ادعوا الذین زعمتم ـــــ نه تر ـــــ وماله منهم من ظهیر (۳۶) نفی دَ شرک فی التصرف (شرک اعتقادی).

④ ولا تنفع الشفاعة ـــــ نه تر ـــــ وهو العلی الکبیر (۳۶) نفی دَ شفاعت قهری.

⑤ قل من یرزقکم من السموٰت والارض قل الله (۳۶) نفی دَ شرک فی التصرف.

⑥ قل ارونی الذین الحقتم به شرکاء کلا بل هو العزیز الحکیم (۳۶) نفی دَ هر قسم شرک.

⑦ قل ان ربی یبسط الرزق لمن یشاء ویقدر ولکن اکثر الناس لا یعلمون (۳۶) نفی دَ شرک فی التصرف.

⑧ ویوم یحشرهم جمیعا ـــــ نه تر ـــــ التی کنتم بها تکذبون (۵۶) نفی دَ شرک فی التصرف او نفی دَ شفاعت قهری.

سورۃ فاطر

ربط دَ سورۃ فاطر دَ سورۃ سبا ء سره اسمی ربط دا دے چه په سورۃ سبا ء کښ دَ شفاعت قهری دَ نفی مسئله ذکر کړے شوه او دَ شبهاتو جواب ورکړے شو او اُو بښودلے شوه چه قوم سبا ء ته دَ کفران نعمت او انکار سزاء په دُنیا کښ ورکړے شوه. اُوس به په سورۃ فاطر کښ دلائیل ذکر کولے شی. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ الخ ټول دَ کار سازئ صفتونه الله تعالٰی پورے خاص دی چه دَ زمکے او آسمان فاطر (خالق) دے چه دَ هغهٔ دَ تهٔ منلو په وجه عذاب ورکړے شو

معنوی ربط دا دے: په سورۃ سبا ء کښ دَ شفاعت قهری دَ نفی مضمون ذکر شو او دَ انبیاء علیهم السلام او ملائکه کرامو او جناتو بارے کښ دَ شبهاتو جواب ورکړے شو چه هغه هرګز شفیع غالب نهٔ شی کیدلے. اُوس به په سورۃ فاطر کښ دا ذکر کیږی چه (هر کله دَ الله تعالٰی سره څوک شفیع غالب نشته نو) ټول عبادات الله دپاره په ځائے راوړئ او په حاجتونو کښ ما فوق الاسباب صرف هغه رابلئ.

خلاصه دے سورت کښ دَ شرک اعتقادی نفی (دَ شرک فی التصرف) مضمون ذکر کړے شوے دے چه دَ ټول کائنات مالک او خالق او په ټول عالم کښ متصرف او مختار او عالم الغیب صرف الله تعالٰی دے. دَ دے وجے نه په حاجتونو او مشکلاتو کښ صرف هغهٔ ته اواز کوئ. دِ دے دعوی باندے دولس دلائیل ذکر کړے شوی دی. یوولس عقلی او یو دلیل وحی. دلائیلو سره سره دَ رے ځایه دَ دلائیلو ثمره هم ذکر کړے شوے ده. یو ځائے اجمالاً او دوه ځایه تفصیلاً او موقع په موقع دِ دے سره تخویفات، بشارتونه او زجرونه هم ذکر شوی دی.

تفصیلی خلاصه

اول دلیل عقلی. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ ـــــ تا ـــــ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ټول دَ کار سازئ صفتونه الله تعالٰی پورے مختص دی دَ زمکے او آسمان خالق هم صرف هغه دے. فرښتے هم هغهٔ پیدا کړی دی او مختلف خدمتونه ئے دَ هغوئ په ذمه لګولی دی. نو فرښتے خادمانے دی، نهٔ چه کار سازے. الله هغه دے چه دَ کار سازئ دَ ټولو صفتونو مالک او دَ ټول کائنات او دَ فرښتو خالق هم دے کومے چه خادمانے دی.

دویم عقلی دلیل۔ ما یفتح الله للناس ــــ تا ــــ وهو العزیز الحکیم۔ د رحمت او برکت دروازه پرانستل او بندول د الله په اختیار کښې ده د دے وجې نه هغه کارساز دے او په حاجتونو کښې هغه ته آواز کوئ۔ یایها الناس اذکروا الخ دا ترغیب الی التوحید دے۔ ټول نعمتونه د الله د طرفه دی د هغه نعمتونه یاد کړئ او د الله شکر اوباسئ او الله لره وحده لا شریک او منئ۔ دریم عقلی دلیل ما یفتح الله ــــ نه تر ــــ وهو العزیز الحکیم دا پرومبئ او مختصر ثمره ده چه په پرومبئ دوام دلیلونو باندے مرتب ده د الله نه سیوا ستاسو څوک رازق نشته لهذا د هغه نه سیوا کارساز او حاجت روا هم بل څوک نشته۔ د اول او دویم دلیل نه ثابته شوه چه الله تعالیٰ د ټول کائنات خالق دے۔ رحمت او برکت هم د هغه په اختیار کښې دے نو د هغې نتیجه او ثمره دا شوه چه د الله نه سیوا څوک خالق او رازق نشته۔ وان یکذبوك الخ تسلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره۔ یایها الناس ان وعد الله حق ــــ تا لهم عذاب شدید ه تخویف اخروی دے۔ والذین امنوا الخ دا مؤمنانو د پاره بشارت اخروی دے۔ افمن زین له ــــ تا ــــ یصنعون (ع ۲) زجر دے کوم خلق چه هغوئ ته خپل بد عملونه هم ښه ښکاری د هغوئ سے لارے ته د راتللو هیڅ صورت نشته کړ دے وجې نه تاسو د هغوئ د وجې نه خپل ځان په تکلیف کښې مه اچوئ۔

څلورم عقلی دلیل۔ والله الذی ارسل ــــ تا ــــ کذلك النشور الله تعالیٰ د آسمان نه باران وروی او غیر آباد بنجر زمکه آبادوی او د هغې نه شینکی راټوکوی لهذا هغه کارساز دے۔ من کان یرید العزة الخ دا د یوې شبهې ازاله ده مشرکان په دے خیال معبودان باطله ته آواز کوی چه هغوئ ته عزت او شوکت حاصل شی۔ وے فرمائیل کوم خلق چه عزت او عظمت غواړی هغوئ د پاره لازم ده چه هغوئ خالصةً الله تعالیٰ ته آواز کوی ځکه چه عزت او ذلت د الله په اختیار کښې دے۔ والذین یمکرون السیات الخ دا منکرینو د پاره تخویف اخروی دے۔

پنځم عقلی دلیل۔ والله خلقکم ــــ تا ــــ علی الله یسیر۔ الله تعالیٰ کمال قدرت سره ستاسو جد اعلیٰ (ږور نیکه) آدم علیه السلام د خاورو نه پیدا کړو او بیائے د اوبو د څاڅکی نه د هغه د نسل اولاد سلسله جاری کړه۔ د مور په خیټه کښې په بچی چه کوم څه تیریږی د هغه هر څه نه دے خبر دے او د هر یو د عمر اندازه هم هغه ته معلومه ده د ټولو خالق هم صرف هغه دے او عالم الغیب هم صرف هغه دے

کړے وجے ته کار ساز هم هغه دے. لهذا په حاجتونوکښ مافوق الاسباب هغه رابلئ.

شپږم عقلی دلیل. وَمَا یَسْتَوِی الْبَحْرَانِ ــــ تا ــــ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ د خوږو او ترو او بو سمندرونه هم هغهٔ پیدا کړی دی. بیائی په هغې کښ ستاسو د خوراک د پاره مهیان د خائست او ښکلا د پاره قیمتی جواهرات پیدا کړی دی او هم هغه په سمندرونوکښ چلیدونکو کشتوته نجات ورکوی ته ئې دوبوی د دے د پاره چه تاسو د هغې په ذریعه د تجارت نفع حاصل کړئ. چاچه دا ټول نعمتونه درکړی دی هغه د ټولو حاجت روا او کارساز دے.

اووم عقلی دلیل. یُولِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ ــــ تا ــــ یَجْرِیْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى، د شپے او ورځے تلل راتلل د هغې کمیدل او زیاتیدل، نمر او سپوږمئ. او په نوروالفاظوکښ ټول نظام شمسی چه عبارت دے د ټول کائنات نه د الله په اختیار او تصرف کښ دی. ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ــــ تا ــــ وَلَا یُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِیْرٍ، دا د تیر شوو دلائیلو دویمه تفصیلی ثمره ده. په مذکوره دلائیلوکښ چه کوم صفتونه ذکر شوی دی هغې سره چه کوم ذات متصف دے په حقیقت کښ هغه ستاسو د ټولو مالک او کارساز دے. په ټول کائنات کښ د هغهٔ تصرف او حکومت دے او هغه د هرڅیز مالک دے.

اے مشرکانو د الله نه سیوا چه کوم د څان نه جوړشوی معبودان رابلئ هغوئ خو د یو خستړی مالک هم نهٔ دی او بیا ستاسو رابلل او چغه هم نهٔ آوری او بغرض محال که ئې واوری، هم تو ستاسو مقصد نهٔ شی پوره کولے ځکه چه د هغوئ په اختیار کښ هیڅ هم نشته ستاسو د رابللو او آواز کولو نه د هغوئ د ناخبرئ حالت دا دے چه د قیامت په ورځ به هغوئ صفا اوائی چه مونږ نه خو د دوئ د مشرکانه فعل خبر هم نهٔ وو د چا د عجز او ناخبرئ چه دا حالت وی هغوئ څنګه کارساز جوړیدے شی.

اتم دلیل عقلی. یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ــــ تا ــــ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ (ع ۳) پیریان، انسان او فرښتے ټول الله ته محتاج دی لیکن الله د ټولو نه بے پرواه دے که هغه اوغواړی نو ټول انسانان به سمدستی ختم کړی د هغوئ په ځائے به نور انسانان پیدا کړی دا هغهٔ ته هیڅ څه ګرانه نهٔ ده د دے وجے نه هغه متصرف او مختار او د ټولو کارساز دے. وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ الخ دا تخویف اخروی دے. اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ الخ دا بشارت اخروی دے. وَمَا یَسْتَوِی الْاَعْمٰى وَالْبَصِیْرُ

ـــــ تا ـــــ من فی القبور ه دا د مؤمن او کافر او توحید او شرک د پاره تمثیلات دی. ان انت الا نذیر ـــــ تا ـــــ خلا فیها نذیر، تسلّی ورکول دی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته. و ان یکذبوك ـــــ تا ـــــ فکیف کان نکیر ه تسلّی ورکول سره د تخویف دنیوی ته.

تهم دلیل عقلی. الم تر ان الله ـــــ تا ـــــ مختلف الوانه کذالك (ع ۴) د آسمان نه باران ورول او د زمکے نه مختلف قسم میوے پیدا کول، په غرونوکښ سپین، سره او تور وغیره د مختلفو رنګونو کاڼړی او په چارپایانوکښ د رنګونو اختلاف دا ټول د هغهٔ د کمال قدرت او صنعت نشانے دی د دغه قادر او طاقتور نه سیوا څوک کارساز نشته.

انما یخشی الله الخ دا زجر دے. ان الذین یتلون ـــــ تا ـــــ انّهٔ غفور شکور. بشارت أخروی دے.

دلیل وحی. والذین اوحینا ـــــ تا ـــــ لخبیر بصیر، د قرآن په صورت کښ موږ تاسو ته چه کومه وحی لیږلے ده په هغے کښ چه د توحید کومه مسئله بیان شوے ده هغه ټوله حق ده ثم اورثنا الکتٰب ـــــ تا ـــــ ولا یمسنا فیها لغوب ه د کتاب الله خدمت کوونکو د پاره بشارت اخروی دے. والذین کفروا ـــــ تا ـــــ من نصیره منکرینو د پاره تخویف اخروی دے

لسم عقلی دلیل. ان الله علم غیب السمٰوٰت الخ (ع ۵) د زمکے او آسمان هر پټ څیز او په زړونوکښ پټ شوی رازونه صرف الله تعالی ته معلوم دی. د دے وجے نه هغه کارساز او حاجت روا دے. هو الذی جعلکم ـــــ تا ـــــ ولا یزید الکافرین کفرهم الا خسارا ه ترغیب الی الشکر سره د تخویف اخروی ته. قل ارءیتم شرکاءکم ـــــ تا ـــــ الا غرورا، دا د تیر شوو دلائیلو دویمه تفصیلی ثمره ده. د تیر شوو دلائیلو نه واضحه شوے ده چه د ټول کائنات خالق او مالک بغیر د شرکت د بل چا نه الله تعالی دے. لهٰذا د هغهٔ نه سیوا بل څوک د رابللو او آواز کولو لائق نشته. اوس چه څوک تاسو د الله نه سیوا رابلئ آیا د هغوئ په زمکه او آسمانونوکښ د پیدا کولو څهٔ حصه شته؟ او کهٔ چرے د خالق کیدلو نه بغیر د هغوئ کارساز او د او آواز کولو

مستحق شوېدی نو دَ دے څۀ دلیل دے؟ دَ مشرکانو نه دَ
دلیل عقلی او نقلی مطالبه اُوکړے شوه او دَ دې چونکه څۀ
امکان نشته دَ دے وجے نه دَ هغې مطالبه اُونۀ کړے شوه۔
یوولسم دلیل عقلی۔ اِنَّ اللّٰہ یمسك السّٰمٰوٰت ــــ تا ــــ
انه کان حلیمًا غفورًا. زمکه او آسمانونه ئے په خپل خپل
ځائے پټ ساتلی دی دَ الله نه سیوائے هیڅوک نۀ شی ساتلے
دَ دے وجے نه الله تعالیٰ دَ ټولو نګهبان او کارساز هم صرف
الله دے. اول دلیل کښ ئے اُوفرمائیل دَ زمکے او آسمانونو
پیدا کوونکے الله دے او په آخرینی دلیل کښ ئے اُوفرمائیل
دَ زمکے او آسمانونو نګهبان او دَ هغې دَ قائم ساتلو والا هم صرف
هغه دے. واقسموا باللّٰه ــــ تا ــــ ولن تجد لسنت اللّٰه تحویلا
زجر سره دَ تخویف دنیوی۔ اولم یسیروا فی الارض الخ دا
تخویف دُنیوی دے۔

سُورَةُ فَاطِرٍ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة فاطر په مکه کښ نازل شوی یکښ پنځه څلویښت آیتونه دی او پنځه رکوع گانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ټول صفت الله لره دے څه چا چه بے نمونے پیدا کړو اسمان او زمکه څه

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ

چا چه او گرځولے فرشتے پیغام راوړونکے چه د هغوئ وزرے دی

مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ

دوه دوه او درے درے او څلور څلور زیاتوی پیدائش کښ

مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

څه چه او غواړی بیشکه الله تعالیٰ هر څه څه کولے شی ف

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا

کوم څه چه پرانیزی الله څه په خلقو باندے د رحمت نه نو نشته

مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ

هیڅوک د هغے د بندولو والا او کوم څه چه بند کړی نو نشته هیڅوک د هغے د لیږلو والا

لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ②

د هغه نه سیوا ما او هغه دے زبردست حکمتونو والا۔

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

اے خلقو څه یاد کړئ احسان د الله

عَلَيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ

خپل ځان باندے ایا څوک شته جوړولو والا څه چه سیوا د الله نه

يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ لَآ اِلٰهَ

رزق درکوي تاسوته د آسمان نه او د زمکے نه نشته څوک حاکم

اِلَّا هُوَ ڮ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ

لیکن هغه بیا کوم طرف ته گرځولے شئ اوکهٔ چرے دروغژن اوگنړی تاسه

فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۭ وَاِلَى

نو دروغژن گنړلے شویدی ډیر پیغمبران مخکښ ستا نه او رسیږی

اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ④

الله تعالیٰ ته ټول کارونه۔

تکات: ۰ سلے اولنے عقلي دلیل ۱۲۔ سلے دویم عقلي دلیل ۱۲۔ سلے دریم عقلي دلیل ۱۲۔ سلے د دلائیل مذکوره ثمره ۱۲۔

موضح قرآن ف زیاتوی یعنی د مخلوروته زیاتے وزرے دی د بعضو اود جبرائیل علیه السلام شپږ سوه دی.

فتح الرحمٰن ف یعني د هغهٔ نه غیر ۱۲۔

تفسیر: سلے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ د دے سورت مرکزی مضمون دا دے چه په حاجتونو او مشکلاتوکښ، مصیبتونو او حادثاتوکښ صرف الله تعالیٰ ته اواز کوئ د هغهٔ نه سیوا یو پیغمبر، فرښتے، پیری، او انسان ته آواز مهٔ کوئ دا مضمون دولسو دلائیلو سره ثابت کړے شوے دے چه په هغے کښ یوولس دلائیل عقلیه دی او یو دلیل وحی. څنو دلائیلوکښ بیان کړے شوی دی چه ټول هرڅهٔ کولو والا او په هرڅهٔ قادر الله تعالیٰ دے او په څنوکښ ذکر شوی دی چه په ټول هرڅهٔ خبردار صرف الله تعالیٰ دے. نو د دینه ثابته شوه چه کارساز او حاجت روا هم صرف هغه دے. لهٰذا ما فوق الاسباب صرف هغه رابلئ. دا اولنے عقلي دلیل دے چه د دهٔ اول جزء یعنی (الحمد لله) د ټول صفات کمال جامع دے یعنی ټول صفتونه د کارسازئ الله پورے خاص کړے شوی دی هغه په هرڅهٔ قادر هم دے او په هرڅهٔ خبردار هم دے. لهٰذا د کارسازئ او رابللو لائق هم هغه دے.

سلے فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ الخ ټول جهان الله پیدا کړو د فرښتو پیدا کول دکے

هم هغه دے. ځنو فرشتو ته ئے دوه دوه وزرے ورکړي ځنو ته ئې
درے درے او ځنو ته ئې څلور څلور. فرشتے هغهٔ په مختلفو خدمتونو
کښ اولګولے. داشان فرشتے دَ هغهٔ خدمتګارے او دَ هغهٔ دَحکم بندګانے
دي. لهٰذا هغوئ کارساز او معبود نهٔ شي کیدے. یَزِیۡدُ فِی الۡخَلۡقِ الخ هغه
چه څنګه غواړي په پیدائش کښ زیاتے کوي. که هغه اوغواړي زیاتے
وزرے هم ورکولے شي لکه چه جبرائیل علیه السلام ته ئے شپږ سوه
وزرے ورکړیدي. قال ابن مسعود فی قوله عزوجل (ولقد رأی من
ایات ربه الکبری) قال رأی جبریل فی صورته له ستمائة جناح (خازن
ج ۵ ص۲۹۱). ۴ إِنَّ اللّٰهَ الخ دا یَزِیۡدُ فِی الۡخَلۡقِ سره مخصوص نهٔ دے
بلکه عام دے او دے کښ دَ الله تعالیٰ دَ قدرت عامه ذکر دے چه هغه
په هرڅیز باندے قدرت لري او ټول هرڅهٔ کولے شي. لهٰذا په حاجتو
کښ غائبانه صرف هغهٔ ته اواز کوئ. فرشتے دَ هغهٔ محکوم بندګانے دي
هغوئ دَ را بللو لائق نهٔ دي.
۵ مَا یَفۡتَحِ اللّٰهُ الخ دا دریم عقلي دلیل دے. رحمت او برکت دَ الله په
قبضه کښ دے چه په چا اوغواړي دَ رحمت دروازے پرانزي او په چا چه
اوغواړي تو بندے کړي هغه چه په چا دَ رحمت دروازے پرانزي هغه
څوک هم نهٔ شي بندولے او چه په چائے بندے کړي نو څوک ئے پرانستلے
نهٔ شي هغه په ټولو غالب دے څوک هم دَ هغهٔ په اراده نهٔ شي غالب
کیدے. او دَ هغهٔ هیڅ فعل دَ حکمت نه خالي نهٔ دے کله چه دَ رحمت او
برکت دروازے پرانستل او بندول دَ هغهٔ په اختیار کښ دي نو کارساز
هم صرف هغه دے لهٰذا ما فوق الاسباب آواز صرف هغهٔ ته کوئ.
۶ یَاۤ اَیُّهَا النَّاسُ الخ دا ترغیب الی التوحید دے. ټولو انسانانو ته ئے
خپل نعمتونه یادکړل او ترغیب ئے ورکړو چه خپل خالق، مالک او منعم
حقیقي او پیژنئ دَ هغهٔ په توحید ایمان راوړئ هغه په ذات او صفاتو کښ
او په عبادت او را بللو کښ وحدهٔ لا شریک اومنئ.
۷ هَلۡ مِنۡ خَالِقٍ الخ دا دریم عقلي دلیل دے او دَ مخکنو دواړو دلیلونو
ثمره هم ده. دا اوله او مختصره ثمره ده یعني دَ دواړو دلیلونو نه ثابته شوه
چه دَ ټول کائنات خالق او دَ رحمت دَ دروازے پرانستونکے صرف الله تعالیٰ
دے نو دَ دینه دا نتیجه را اوتله چه دَ هغهٔ نه سیوا بل څوک نهٔ خالق
دے او نهٔ رازق. لهٰذا لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، دَ هغهٔ نه سیوا څوک کارساز نشته
چه دَ هغهٔ په حاجتونو کښ دَ نزدے او لرے نه را او بللے شي.
فَاَنّٰی تُؤۡفَکُوۡنَ، کله چه خالق هم هغه دے او رازق هم تو بیا کوم طرف ته

دیکه کولے شئ او تاسو کوم طرف ته بے لارے بو تللے شئ چه ځکه خالق او رازق نه علاوه د هغه عاجز مخلوق کار ساز گنړئ او رابلئ. فمن ای وجه تصرفون من التوحید الی الاشراك مع اعترافكم بانه الخالق والرازق لاغیر (مظهری ج ۸ ص۴۳).

۵ وَاِنْ یُّكَذِّبُوْكَ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده. که چرے دا مشرکان تاسو دروغژن گنړی او د ضد او عناد په وجه ستاسو د رسالت نه انکار کوی په دے مه غمژن کیږه دے سره ستاسو په صداقت کښ هیڅ فرق هم نه شی راتللے. انبیاء علیهم السلام سره د هغه وخت مشرکانو هم دا شان معامله کړے وه د دے وجے نه تاسو د دوئ د تکذیب پرواه مه کوئ او خپله د تبلیغ فریضه ادا کوئ او د هر کار انجام د الله په اختیار کښ دے هغه به هریو ته د هغه د اعمالو مطابق جزاء او سزاء ورکوی.

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا
اے خلقو بیشکه وعده د الله حقه ده نو
تَغُرَّنَّكُمُ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا ۚ وَلَا یَغُرَّنَّكُمْ
دوکه دِ نه کړی تاسو ژوند د دنیا او دوکه دِ نه کړی تاسو
بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝۵ اِنَّ الشَّیْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ
د الله په نوم دغه دوکه کوونکے بیشکه شیطان ستاسو دشمن دے
فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ اِنَّمَا یَدْعُوْا حِزْبَهٗ
نو تاسو هغه دشمن اوگڼئ هغه خو بلی خپل توله
لِیَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِیْرِ ؕ ۝۶ اَلَّذِیْنَ
دِ دے د پاره چه شی د دوزخ والو نه هغوک چه
كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ؕ۬ وَالَّذِیْنَ
منکر شوله هغوئ د پاره عذاب سخت دے او هغوک چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ
یقین اوکړو او کړے ئے دی نیک کارونه هغوی ته به وی معافي

وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۞ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ
او ثواب لوئے دے . ایا هغه څوک چه ښائسته کړے شوے دے هغه ته بدې

عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ؕ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ
د کار د هغه بیائے اولیدل هغه ښائسته نو څکه چه الله ګمراه کوی چاله

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ
چه اوغواړی او سمه لاره ښائی چاله چه اوغواړی نو نه دې ځی

نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ
ستا نفس د دوی له جهته د افسوس الله ته معلوم دی

بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۞ وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ
کوم څه چه هغوی کوی او الله (هغه) دے چه لیږلی ئے دی هواګانے

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ
بیا هغه راپورته کوی وریځے بیا موږ او شړلے هغه یوے زمکے مړے ته

فَاَحْيَيْنَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ
بیا ژوندئ کړه موږ په هغے زمکه روستو د هغے د مرګ نه

كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۞
داشان به وی حال د دوباره ژوندی کیدلو.

نکات: سل تخویف اخروی ۱۲. سلا بشارت اخروی ۱۲. سلا زجر ۱۲.
سک شکوی مع دلیل عقلی ۱۲.

تفسیر: سه یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ الخ دا تخویف اخروی دے. اَلْغَرُوْرُ په فتحے د غین دهوکه ورکوونکے مراد شیطان دے او په ضمه د غین مصدر دے یعنی دهوکه ورکول. وَعْدَ اللّٰهِ نه قیامت او جزاء

او سزاء مراد ده وعد الله بالبعث والجزاء (مدارک ج ۳ ص ۲۵۵). د الله تعالیٰ توحید اُومنئ کنې نو په دوزخ کښې به درد ناکه سزاء ملاویږی. د قیامت راتلل جزاء او سزاء برحق ده په هغې کښې به کمے نهٔ وی د دُنیا لذات، عیش او خوشحالئ سره دوکه نهٔ شئ چه دا به همیشه وی کنې نو د شیطان بے لارے کولو سره به دوکه شئ. اِنَّ الشَّیۡطٰنَ الخ د شیطان د انسانی دُشمنئ او د هغهٔ د فریب بیان دے چه شیطان ستاسو پخوانے دُشمن دے هغه دُشمن اوګڼئ چرته د هغهٔ په فریب کښې راتللو سره د هغهٔ خبره اُونهٔ منئ ځکه چه هغه خپل اتباع او منونکی د جهنم طرف ته رابلی مکر او فریب سره هغوئ د توحید د لارے نه بے لارے کوی.

۱۰ اَلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا الخ دا کافرانو او مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے.

۱۱ اَفَمَنۡ زُیِّنَ الخ دا زجر دے کله چه انسان په ضد او عناد کښې راشی د حق نه انکار کوی نو د هغهٔ زړهٔ د قبولِ حق د صلاحیت نه محروم کړئ د هغهٔ فطرت داسے مسخ کیږی چه د هغهٔ ټول بد عملونه هغهٔ ته ښائسته ښکاری او د مشرکانه عملونو د بدګڼلو په ځائے هغه ښهٔ ګڼړی دا د الله تعالیٰ د صفتِ قهار اثر دے او دینه په مهر جباریت سره تعبیر کولے شی. اَفَمَنۡ زُیِّنَ، د پارهٔ جزاء محذوف ده ای فمن یهدیه یعنی کوم سړی ته چه د الله قهر او غضب سره خپلے بدئ نیکئ په نظر راځی هغه څوک په سمه لاره راوستلے شی؟ قاله الشیخ رحمه الله. یا مقدر دہ کمن لم یزین له (مدارک) یا کمن هداه الله (مدارک، خازن، معالم). فَاِنَّ اللّٰهَ یُضِلُّ الخ کوم خلق چه ضد او عناد سره د حق نه انکار اُوکړی هغوئ ته د هدایت توفیق نهٔ نصیب کیږی لکه چه بل ځائے کښې ئے اُوفرمائیل:. وَمَا یُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الۡفٰسِقِیۡنَ (بقره) او کوم خلق چه انابت کوی او د ربښتینی زړه نه د حق طلب کوی هغوئ ته الله تعالیٰ د هدایت توفیق ورکوی.

۱۲ فَلَا تَذۡهَبۡ الخ د دے وجے نه کوم ضدی او عنادیان خلق چه په ګمراهئ باندے قائم دی او په سمه لاره نهٔ راځی تاسو د هغوئ په وجه خپل ځان په غم او تکلیف کښې مهٔ اچوئ. د ذهاب د دے معنے کیدیشی رفتن (تلل) گذشتن (تیریدل) بردن (بوتلل) د دے د دے معنے کیدیشی اول متعدی. یعنی یو دی نهٔ ځی ستا نفس د هغوئ نه روستو افسوسونه دِ دے صورت کښې به حسرات مفعول له وی. حسرات مفعول له یعنی فلا تهلك نفسك للحسرات (مدارك). دریم لَا تَذۡهَبۡ په معنیٰ لا تغتم په اعتبار د تضمین یعنی غمژن دِ نهٔ شی ستا نفس د دوئ د کفر په وجه په داسے حال کښې چه ته افسوس کوونکے ئے. والمعنی لا تغتم بکفرهم وهلاکهم ان لم یومنوا (خازن ج ۵ ص ۲۴۴) د دے آیت مفهوم په بل

ځانځ کښ داسې ذکر شوی دے۔ لعلك باخع نفسك علی آثارهم ان لم یومنوا بهذا الحدیث اسفا (کهف ع۱) ان الله علیم بما یصنعون، دا ماقبل د پاره په منزله د علت دے او معاندینو د پاره تخویف اخروی طرف ته اشاره ده۔ ۳ له د الله الذی تی الخ دا څلورم عقلی دلیل دے د هوا ګانو په اړکو باندے ورېځے والوزوی یو ځوا ته ئے بل خوا ته بوزی او بیا د هغے نه باران اووروی او چه تا کاره بنجر زمکه آباد او زرخیزه اوګرځوی دا د الله تعالی کار دے د دے وجے نه کار ساز هم صرف هغه دے۔
کذالك النشور، داجمله معترضه ده د حشر او نشر د اثبات د پاره ځکه چه الله تعالی مړه زمکه باران رحمت سره ژوندۍ کوی دا شان به هغه د قیامت په ورځ مړه انسانان هم دوباره ژوندی کوی۔

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ الۡعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الۡعِزَّةُ جَمِيۡعًا ؕ
څوک چه عله اوغواړی عزت نو الله د پاره دے عزت ټول
اِلَيۡهِ يَصۡعَدُ الۡـكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالۡعَمَلُ الصَّالِحُ
د هغهٔ طرف ته خیژی هله خبرے پاکے او کار نیک
يَرۡفَعُهٗ ؕ وَالَّذِيۡنَ يَمۡكُرُوۡنَ السَّيِّاٰتِ لَهُمۡ
پورته کوی هغهٔ لره او کوم خلق چه جوړوی بدے تدبیرونه لهٔ هغوئ د پاره
عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ؕ وَمَكۡرُ اُولٰٓـئِكَ هُوَ
عذاب سخت دے او مکر فریب د دغه (قریشو) دے
يَبُوۡرُ‏ ﴿۱۰﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ
هلاک ماتیدونکے ف. او الله تاسو کله پیدا اکړئ د خاورے نه بیا
مِنۡ نُّطۡفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ اَزۡوَاجًا ؕ وَمَا تَحۡمِلُ
د اوبو د څاڅکی نه بیائے اوګرځولئ تاسو جوړے جوړے او نهٔ حامله کیږی
مِنۡ اُنۡثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلۡمِهٖ ؕ وَمَا يُعَمَّرُ
هیڅ ښځه او نهٔ ځیګوی هغه بچے د هغهٔ د علم نه بغیر او نهٔ عمر بیا موندی

مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ

یو ډیر عمر والا او نهٔ کمیږي عمر د چا لیکن د الله په

كِتٰبٍ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِي

کتاب کښ لیکل شوي دي. بیشکه دا په الله باندے آسان دے فل. او برابر نهٔ دي فلـه

الْبَحْرٰنِ ڰ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ

دوه دریابونه دا یو خوږ دے تنده وژنی او خوند ناک دے په څکلو کښ

وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۭ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ

او دا یو تریو او ترخ دے او د دواړو نه خورئ

لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ

غوښه تازه او را اوباسئ ګاڼړه چه هغه اغوندئ

وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ

او ته وینے جهازونه چه په دیکښ چلیږي او به څیري کوونکي دي د پاره چه تلاش کړئ

فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾

د هغهٔ د فضل نه او دے د پاره چه تاسو حق اومنئ فلـ۳.

نکات: سلـ د یوے شبهے ازاله. سلـ۲ تخویف اُخروی ۱۲. سلـ۳ پنځم عقلی دلیل ۱۲. سلـ۴ شپږم عقلی دلیل ۱۲.

موضح قرآن فلـ یعنی عزت د الله د قدرت په لاس کښ دے ستاسو ذکر او نیک کار پاس خیژي کله چه خپل خدائے ته اُورسیږي هغه وخت به په بدئ باندے غلبه بیا مومي او کفر به دفع کیږي او اسلام به عزت مند شي. فلـ۲ یعنی هر کار آسان آسان دی لکه د انسان پیدائش ۱۲. فلـ۳ یعنی کفر او اسلام برابر نهٔ دی. الله به کفر مغلوب کړي اګرچه تاسو ته به د دواړو نه فائده ملاویږي مسلمانانو ته د دین د قوی کیدلو نه او د کافرانو نه جزیه او خراج په لاس رائحي غوښه د خوږو او ترو و ترخو دواړو نه راوځي یعنی مهیان او ګاڼړه (کالے) یعنی ملغلرے او مرجان او جواهر اکثر د ترخو نه او کله د خوږو نه دائے چه

کوم اُو فرمائیل کانړه چه ئے اغوستی ئی معلومه شوه یو ارے جواهر د نرو د پاره اغوستل حرام نهٔ دی ۱۲۔

تفسیر: ۱۳ مَنْ کَانَ یُرِیْدُ الخ دا د یوے شبهے جواب دے یعنی کهٔ چرے تاسو په دے غلط فهمئ کښې مبتلاء یئ چه د دے باطلو معبودانو عبادت او راپللو سره به تاسو ته عزت حاصلیږی نو دا خیال د زړهٔ نه اُو باسئ عزت د الله په اختیار کښې دے او د هغهٔ عبادت او خدمت سره ملاویږی۔ د دے وجے نه تاسو په حاجتونو او مصیبتونو کښې صرف هغهٔ ته اواز کوئ لکه چه په بل ځائے کښې ارشاد دے واتخذوا من دون الله الهة لیکونوا لهم عزا ○ کلا سیکفرون بعبادتهم ویکونون علیهم ضدا (مریم)۔ ۱۴ اِلَیْهِ یَصْعَدُ الخ یعنی الله تعالیٰ پاک کلمات او خبرے قبلوی۔ اَلْکَلِمُ الطَّیِّبُ نه د توحید کلمه او د الله پاک صفات مراد دی۔ التوحید والتحمید وذکر الله ونحو ذلك وقال ابن عباس شهادة ان لا اله الا الله (بحر ج ۷ ص ۳۰۳) یَرْفَعُهٗ، ضمیر مرفوع الله ته راجع دے او ضمیر منصوب العمل الصالح طرف ته راجع دے او دا کنایه ده چه الله تعالیٰ نیک عمل قبلوی۔ ۱۵ وَالَّذِیْنَ یَمْکُرُوْنَ الخ دا تخویف اُخروی دے۔ کوم خلق چه د دین اسلام ختمولو د پاره او د پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو خلاف خرابے منصوبے، سازشونه او پروګرامونه تیاروی هغوئ د پاره ډیره سخته سزاء مقرر ده او د هغوئ هر مکر او فریب او سازش ناکام او بیکاره دے هغوئ په خپل مکر او فریب کښې نهٔ شی کامیابیدلے لکه چه په بل ځائے کښې ئے اُو فرمائیل ویمکرون ویمکر الله والله خیر المکرین ○ ( ) یبور ای یفسد (روح) یعنی بے بیکاره او ناکام دے ۱۶ وَاللّٰهُ خَلَقَکُمْ الخ دا پنځم عقلی دلیل دے۔ الله تعالیٰ کمالِ قدرت سره ستاسو پلار نیکهٔ حضرت آدم علیه السلام د خاورے نه پیدا کړو بیائے د اُوبو د څاڅکی نه د نسل سلسله جاری کړه او تاسو کښې ئے نر او ښځه پیدا کړه دا د هغهٔ قدرتِ کامله دے او د هغهٔ کمالِ علم دا دے چه هغه د هرے ښځے په خیټه کښې د حمل د قراری نیولو نه واخله د حمل د وضع کیدلو پورے په خیټه کښې د بچی د ټولو حالاتو او کوائفو نه ښهٔ خبر دے او بیا د هر ساوالا د عمر د مقدار نه هم خبر دے غرض دا چه ټول هر څهٔ د الله په علم کښې موجود دی۔ ټول هر څهٔ کوونکے او په ټول هر څهٔ خبردار صرف الله تعالیٰ دے۔ لهٰذا کارساز او حاجت روا هم صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے۔ د دے وجے نه ما فوق الاسباب صرف هغهٔ ته اواز کوئ۔ په عمر کښې زیاتے کیدے د الله تقدیر معلق په اعتبار سره د

لکه چه د ځنې نیک عملونو د وجې نه په عمر کښې اضافه کیږي لکه چه
ارشاد دے اعبدوا الله و تقوه...... ویؤخرکم الی اجل مسمی (روح)
او په حدیث کښې دي من احب ان یبسط له فی رزقه وینسأله فی اثره
فلیصل رحمه (قرطبي ج ۱۴ ص ۳۳۳) یا دا د عمرونو اختلاف طرف ته اشاره
ده یعني چا ته زیات عمر ورکوي او چا ته کم اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ.
یعني الله ته آسانه ده او د هغه په قبضه او اختیار کښې دي.
۱۸ وَمَا یَسْتَوِي الخ دا شپږم عقلي دلیل دے. دا هم د هغه د کمال قدرت
دلیل دے چه د یو دریاب اوبه ډیرے خوږے دي او خوند ناکے دي او
د دویم ډیرے ترخے او تروے دي او په دواړو کښې مهیان پرورش
مومي لیکن د هغوئ غوښه یو شان خوندناکه او مزیداره ده او د دواړو نه
جواهرات راوځي چه د ځائست کار ورکوي او دواړو کښې کشتئ چلیږي
اوبه څیرے کوي او سفر کوي چه تاسو په هغې کښې د یو ځائے نه بل
ځائے ته سفر کوئ د تجارت مال نقل کوئ او نفع حاصلوئ دا ټول هغه
د الله مهرباني ده او د هغه فضل او احسان دے. دے د پاره چه تاسو د
هغه د انعاماتو شکر ادا کړئ د هغه عبادت اوکړئ او د هغه په توحید
ایمان راوړئ. تعرفون حقوقه تعالی فتقومون بطاعته عزوجل وتوحيد
سبحانه (روح ج ۲۲ ص ۱۸۱).

يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ

ننه باسي شپه ۱۹ له په ورځ کښې او ننه باسي ورځ

فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ

په شپه کښې او په کار ئے اولګول نمر او سپوږمئ هر یو

يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

روان دے تر یو مقرر وعدے دا الله دے رب ستاسو

لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ

هغه د پاره ده بادشاهي او څوک چه تاسو رابلئ ئے سیوا د هغه نه

مَا يَمْلِكُونَ مِنْ قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِنْ تَدْعُوهُمْ

هغه مالکان نه دي د کهجورے د هډوکي د یو پوستکي هم. که چرے تاسو هغوئ ته اواز کوئ

لَا يَسْمَعُوا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا

اَوازَ ستاسو اوکه چرے واورې نو نه شي رارسيدلے ستاسو دادرسي ته

لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ؕ

کار ته او په ورځ د قیامت به منکر وی ستاسو د شریک گرځولو نه

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿۱۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

او هیڅوک به هم تا ته خبر در نکړی څنګه چه خبر درکړی خبر لرونکی (الله) . اے خلقو

اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ

تاسو محتاج یئ الله تعالیٰ ته او الله تعالیٰ هغه دے بے پرواه

الْحَمِيْدُ ﴿۱۵﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ

د ټولو صفتونو والا . که چرے اوغواړی تاسو به بوزی او راپه ولی یو مخلوق

جَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ ۚ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿۱۷﴾

نوے . او دا خبره په الله ګرانه نه ده .

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۭ وَاِنْ تَدْعُ

او نه به پورته کوی یو پورته کوونکے بل بوج د بل چا او که چرے رااوبلی

مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ

یو درون بارے د خپل بوج اوچتولو د پاره پورته به نکړے شی د هغے نه لږ هم

وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۭ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ

اګر چه وی رشته دار ته خو ویره وے هغه څوک

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۭ

چه ویریږی د رب خپل نه بغیر د لیدلو نه او قائموی مونځ

وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ۭ

او څوک چه ځان پاک کړی نو بیشکه (دا خبره ده) چه پاک به کړی ځان خپلے فائدے د پاره

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى

او د الله طرف ته دي بیا د ټولو ورتلل. او برابر نه دے سلله ړوند

وَالْبَصِيْرُ ﴿۱۹﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ﴿۲۰﴾ وَلَا

او بینا او نه تیاره او رڼا او نه

الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿۲۱﴾

سورے او نه گرمه.

نکات: سلہ اوم عقلی دلیل ۱۲. سلہ د مخکنو دلائیلو تفصیلی ثمره ۱۲. سلہ اتم عقلی دلیل ۱۲. سلہ تخویف اُخروی ۱۲. سلہ بشارت اُخروی ۱۲. سلہ تمثیل د پاره د کافر او مؤمن او توحید او شرک ۱۲.

موضح قرآن ف یعنی د شپے ورځے پشان کله کفر غالب دے کله اسلام او د نمر سپوږمۍ پشان ئے د هر څیز مقرره موده کړخولے ده روستو والے مخکښ والے په هغے کښ نه کیږی بیا د دینه د الله وحدانیت ظاهریږی او د حق واضحه او ښکاره غلبه کیږی په مقرر وخت باندے ۱۲. قطمیر هغه پوستکی ته وئیلے شی کوم چه د کهجورے د هډوکی د پاسه وی. ف یعنی د الله نه زیات احوال پیژندونکے څوک دے هغه فرمائی چه دا شریکان غلط او بیکاره دی.

فتح الرحمٰن ف مترجم وائی وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ په منزله د مثال دے، کله چه خبیره بلیغ کوی او تحقیق آخرته رسوی دا کلمه وائی والله اعلم ۱۲.

تفسیر: سلہ يُوْلِجُ الَّيْلَ الخ دا اوم عقلی دلیل دے. د شپے او ورځ تلل راتلل، نمر او سپوږمۍ. په نورو الفاظو کښ د کائنات ټول نظام د الله په قبضه او تصرف کښ دے او په دے کښ ځانله هغه متصرف او مختار دے لهٰذا هغه د ټولو کار ساز دے. ذٰلِكُمُ اللّٰهُ، دا په تیر شوو ټولو دلائیلو باندے متفرع دے. یعنی کوم ذاتِ پاک چه مذکوره بالا صفتونو سره متصف دے هغه الله ستاسو د ټولو مالک دے او په ټول کائنات کښ د هغه حکومت دے او د هغه تصرف او اختیار دے کډے وجے نه کارساز او حاجت روا هم هغه دے او هغه د هر قسم عبادت مستحق دے او هغه د دعا او را یللو لائق دے.
سلہ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ الخ دا د تیر شوو دلائیلو تفصیلی ثمره ده. د مخکنو

دلائیلونه معلومه شوه چه الله تعالیٰ دَ ټول کائنات خالق او مالک دے رحمت او برکت دَ هغهٔ په لاس کښ دے دَ ټولو رازق هم هغه دے ټول جهان کښ دَ هغهٔ تصرف او اختیار چلیږی هغه ټول هر څه پیژنی دَ ټول جهان هیڅ یو څیز دَ هغهٔ نه پټ نهٔ دے. او دَ هغهٔ نه سیوا دا صفتونه په بل چا کښ نهٔ شی موندلے. لهٰذا دَ هر قسم عبادت حقدار هغه دے او هغه دَ ټولو کار ساز دے او په حاجتونو کښ دَ آواز کولو لائق هم صرف هغه دے. باقی پاتے شو ستاسو دَ ځان نه جوړ شوے کار ساز دَ کوم چه تاسو عبادت کوئ او په حاجتونو مصیبتونو کښ ئے غائبانه رابلئ هغه دَ یو پوستکی اختیار هم نهٔ لری. اختیار لرل خو یو طرف ته کهٔ چرے تاسو هغوئ ته آواز کوئ هغوئ ستاسو آواز اوریدلے هم نهٔ شی او بالفرض کهٔ چرے واؤری هم تو ستاسو حاجت نهٔ شی پوره کولے او دَ قیامت په ورځ به ستاسو خود ساخته معبودان کوم چه تاسو په دُنیا کښ رابلئ ستاسو دَ دے شرک (غائبانه رابللو نه) انکار کوی یعنی صفا به اَوائی چه موږ خو ستاسو دَ چغو او فریاد نه خبر هم نهٔ وو لکه چه بل ځائے ارشاد دے فکفی بالله شهیدا بیننا وبینکم ان کنا عن عبادتکم لغٰفلین ۰ (یونس) وَلَا یُنَبِّئُكَ الخ الله تعالیٰ چه دَ ټولو حالاتو نه خبر دے او ظاهر او باطن پیژنی دَ هغهٔ نه بهتر څوک هم دَ حقیقت نه پرده نهٔ شی پوره ته کولے. هغه فرمائی چه ستاسو خود ساخته کار ساز نهٔ خو ستاسو آواز اَوری او نهٔ ستاسو دَ حاجت پوره کولو طاقت لری. دے آیت کښ "مِنْ دُوْنِهٖ" نه ټول باطل معبودان مراد دی من دونه ای غیره وهم الاصنام وغیرها وکل شئ دونه (شربینی ص۳۰۱ ج۳) یحتمل ان یکون (الکلام) مع عبدتها (الاصنام) وعبدة الملائکة وعیسی وغیرهم من المقربین (روح ۲۲ ص۱۸۲) ثم یجوز ان یرجع هذا الی المعبودین مما یعقل کالملائکة والجن والانبیاء والشیاطین (قرطبی ج ۱۴ ص۳۳۶). ۲۱ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ الخ دا اتم عقلی دلیل دے. یعنی تاسو ټول خدائے ته محتاج یئ او هغه هیچا ته محتاج نهٔ دے او ټولو صفتونو دَ کمال سره متصف دے. لهٰذا دَ هغهٔ نه سیوا ستاسو هیڅوک معبود نشته هغه کهٔ چرے اُوغواړی نو تاسو ټول به مړهٔ کړی او نوره مخلوق به پیدا کړی. لیکن ستاسو خیالی معبودان په دے قدرت نهٔ لری. کله چه دَ هغوئ دومره اختیار هم نشته نو بیا دا عاجزان ولے رابلئ لکه چه بل ځائے ارشاد دے ان اراد ان یهلك المسیح بن مریم وامه ومن فی الارض جمیعًا (المائدة) هغه دا ټول هلاک کولے شی نو هغوئ څنګه

معبودان جوړیدلے شی. داشان ئے اُوفرمائیل ان یشأ یذھبکم ویستخلف من بعدکم مایشاء (انعام) انسان څوک چه اشرف المخلوقات دے کله چه هغه الله ته محتاج دے فرښتې او پیریان خو به په طریق اولیٰ خدائے ته محتاج وي. وَمَا ذَالِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ عزیز نه مشکل او گران. یعنی دا کار الله ته مشکل نهٔ دے.

۲۲ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى الخ دا تخویف اُخروي دے د قیامت په ورځ به هر سړے د خپل خپل عمل جواب ورکوونکے وي او څوک به هم د چا د بار اُوچتولو سره د هغهٔ په کار راتهٔ شي اگرچه ډیر نزدے رشته دار هم وي. اِنَّمَا تُنْذِرُ الخ دا بشارت اُخروي دے تبلیغ او ویره ولو سره صرف هغه خلقو ته فائده رسیږي څوک چه د الله نه ویریږي او مونځ قائموي کوم سړے چه تقوٰی اختیار کړي او خپل نفس پاك کړي د هغې فائده به هم هغهٔ ته رسیږي.

۲۳ وَمَا يَسْتَوِي الخ دا د مؤمن، کافر، توحید او شرک د پاره تمثیلات دي څنگه چه ړوند د ظاهري رڼا نه محروم دے داشان کافر او مشرك د ایمان او د توحید د نور نه محروم دے علیٰ هذا څنگه چه نظر والا ظاهري لیدل لري داشان د مؤمن زړهٔ د توحید نور سره روښانه دے. الاعمیٰ والبصیر مثلان للکافر والمومن کما قال قتادہ والسدی وغیرهما (روح ج ۲۲ ص۱۸۶) اَلظُّلُمٰتُ، د کفر او شرک تیاره دے. اَلنُّوْرُ، د ایمان او توحید رڼا. اَلظِّلُّ، سوړے دیته ثواب یا جنت مراد دے. اَلْحَرُوْرُ، سخته گرمي. لیکن د تقابل په قرینه دلته د نمر معنی سره دے او دیته جهنم یا عذاب مراد دے (قرطبي، خازن، روح)

وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او نه برابریږي ژوندي ﷺ او نه مړي . الله

يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي

آوروي چا ته چه اوغواړي او نه يې ته آوروُنکے څوک چه په

الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾ اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ﴿۲۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ

قبرونو کښ پراته دي. نهٔ یې خو صرف ﷺ ډیرے خبر رسوُونکے یې ﷺ مونږ لیږلے یې ته

بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَّنَذِيرًا ۚ وَإِنْ مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا

رښتونی دین سره زیرے ورکوونکے او ویره وونکے ، او هیڅ یوه ډله نشته چه په هغے کښې

فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِنْ يُّكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ

څوک ویره وونکے او نه وی تیر شوے ۲ او که چرے هغوی تا ته نسبت د دروغو او کړی نو تحقیق دروغ ګڼلی وو

الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

ټولو هغه خلقو چه د دوی نه مخکښې وو ، راغله هغوی ته رسولان د هغوی

بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ

ښکاره او واضح خبرو سره او صحیفو سره او کتاب روښانه سره . بیا

أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

ع ۳ / ۱۵

او نیول ما الله کافران نو څنګه شو زما انکار .

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

آیا تا او نه لیدل چه الله نازل کړی د آسمان نه اوبه

فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۗ

بیا را او وستلے مونږ په هغے سره میوے قسم قسم د هغے رنګونه دی ،

وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ

او په غرونو کښې کرښې وی سپینې او سرې قسم قسم دی

أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

د هغے رنګونه او ځینې تک تور دی ۳ او انسانانو کښې

وَالدَّوَآبِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذٰلِكَ ۗ

او په ځناورو او چارپایانو کښې څو مره رنګونه دی دا شان ،

إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ۗ

هغه څوک ویریږی د الله نه الله د هغه د بنده ګانو نه چا سره چه پوهه ده

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿۲۸﴾

بیشکه الله غالب دے بخونکے دے۔

نکات: سلے تسلّی سره د تخویف دنیوی نه ۱۲۔ سلے تهم دلیل عقلی ۲۶۔ سلے زجر ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی ټول خلق برابر نهٔ دی چا ته چه ایمان ورکول منظور دی هغوئ ته به ملا ویږی نو که هرڅو مره ډیر خلق د ایمان آرزو اوکړی نو څهٔ کیږی یعنی کله هغوئ ته نصیب کیږی او دائے چه اوفرمائیل "نهٔ رڼړا او نهٔ تیاره" یعنی نهٔ تیاره د رڼړا برابر ده او نهٔ رڼړا برابر ده د تیاره سره۔ او دا چه ئے اوفرمائیل ته نهٔ شے آوروله د قبرونو والا ته۔ حدیث شریف کښ راغلی دی چه په مړو سلام اچوئ هغوئ آوری۔ او ډیرو ځایونو کښ د مړو سره خطاب شوے دے۔ د دے حقیقت دا دے چه د مړو روحونه آوری او په قبرونو کښ پراته اجساد آوریدل نهٔ شی کولے۔
ف۲ ویره وونکے خواه نبی دی خواه د نبی په لاره تلونکے دی۔
ف۳ سپین هم په څو څو قسم او سره هم په څو څو درجو۔ دا ټول د الله د رنګ رنګ قدرت بیان دے۔ دا شان انسان کښ د هر یو قسم جدا دے۔ دا شان مؤمن او کافر چه یو شان شی چرته کیدے شی دا تسلّی ده نبی علیه السلام ته۔ ف۴ یعنی ټول انسانان ویریدونکی نهٔ دی د الله نه ویریدل د علم والؤصفت دے او د الله معاملا هم دوه قسمه دی۔ زبردست هم دے چه په هره خطاء باندے نیول هم کولے شی او غفور (بښونکے) هم دے چه ګناهګاران اوبښی۔

تفسیر: ۲۲ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ الخ احیاء (ژوندی) نه مراد مؤمنان او اموات (مړو) نه مراد کافران دی۔ د زړهٔ مرګ او ژوند ایمان او کفر دے د دے وجے نه د مؤمنانو تشبیه د ژوندو سره او د کافرانو د مړو سره ورکړے شویده۔ د ضد او عناد د وجے نه د دے کافرانو په زړونو باندے د جباریت مُهر لګیدلے دے او د دوئ د زړونو نه د قبول حق صلاحیت سلب کړے شوے دے۔ د دے وجے نه تبلیغ او ویره ولو سره به هغوئ ته هیڅ فائده نهٔ وی ای کمالا تسمع من مات كذالك لا تسمع من مات قلبه (قرطبی ج ۱۴ ص ۳۴۰)
۲۵ إِنْ أَنْتَ الخ موتی تاسو ته د حق دین او توحید پیغام در کړو او بشیر اوندیر موتی اوکرځولے او م لیږلے ستاسو کار د حق پیغام رسول

منونکو ته زیرے ورکول او منکرین ډعذاب نه ویره ول دی په خلقو مثل
ستا کار ته دے داشان په هر اُمت کښ ویره وونکی تیر شوی دی۔
وَاِن یُّکَذِّبُوْكَ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده که چرے د عربو
مشرکان د ضد او عناد په وجه ستا سو تکذیب کوی او د توحید دعوت
نه منی نو تا سو هیڅ غم مه کوئ تیر شوو قوموتو هم د خپلو پیغمبرانو
سره دا شان سلوک کړیدے هغوئ ته پیغمبران علیهم السلام
معجزاتو، صحیفو او کتابونو سره راغلل. لیکن هغوئ بیا هم اُونه منل
من الامم العاتیة فلا تحزن من تکذیب هؤلاء ایاك (روح ج ۲۲ ص۱۸۸)
۲۶ ثُمَّ اَخَذْتُ الخ دا تخویف دُنیوی دے کله چه تیر شوو قومونو د انبیاءِ
علیهم السلام تکذیب اوکړو نو مونږ هغوئ په دُنیا کښ دردناک عذاب
کښ مبتلاء کړل۔ د مکے مشرکان که چرے هم داشان تکذیب او انکار باندے
قائم پاتے شول نو د دوئ انجام به داوی۔
۲۷ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ الخ دا په توحید باندے تهم عقلی دلیل دے دا د
الله تعالیٰ د کمالِ قدرت نښے دی چه هغه د آسمان نه باران اُوروی
د زمکے نه مختلف قسم میوے پیدا کړی۔ په یو غر کښ د مختلفو رنګونو
کانړی هغهٔ محض خپل قدرت سره پیدا کړل څَنے سپین۔ څنے سره
او څنے ډیر ژیات تور۔ جُدَدٌ، د جُدَّةٌ جمع ده یعنی ټکړه او خطه، غَرَابِیْبُ
د غربیب جمع ده. سخت تور. دا اکثر د اسود تابع واقع کیږی د دے وجے
نه په کلام کښ تقدیم او تاخیر دے په اصل کښ سود غرابیب (تک تور)
فی الکلام۔۔۔ تقدیم و تاخیر والمعنی ومن الجبال سود غرابیب (قرطبی
ج ۱۴ ص۳۴۳) وَمِنَ النَّاسِ الخ داشان ئے انسانان، چارپایان او حیوانات هم
په مختلفو رنګونو کښ پیدا کړل دا د هغهٔ د کمالِ قدرت، صنعت او د هغهٔ
د وحدانیت دلیل دے د دے وجے نه صرف د هغهٔ عبادت کوئ او صرف
هغهٔ ته غائبانه آواز کوئ. تقریر لوحدانیته تعالیٰ بادلة سماویة وارضیة
الخ (روح ج ۲۲ ص۱۸۸ وبحر جلد ۷ ص۳۱۲)
۲۸ اِنَّمَا یَخْشَی الخ دا د تیر شوی دلیل حصه نهٔ ده بلکه علیحده زجر
دے د داسے واضح دلائلو په موجودگئ کښ پکار خو وه چه مشرکان
په سمه لار راغلے وے او صرف د الله نه ویریدلے. لیکن هغوئ د الله
نه د ویریدلو په ځائے د خپلو خود ساخته معبودانو نه ویریږی. صرف
علماء چه د الله د دین او د هغهٔ د توحید نه خبر دی او علم لری او هغهٔ
سره شرک نهٔ کوی او د هغهٔ د احکامو تابعداری کوی هغوئ د الله نه
ویریږی عن ابن عباس العالم بالرحمٰن من عباده من لم یشرك

به شيئًا واحل حلاله وحرم حرامه وحفظ وصيته وايقن انه ملاقيه ومحاسب بعمله (ابن کثير ج ۳ ص۵۵۳) إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ، دا د غفران وعده ده هغه د ګناهونو سزاء هم ورکولے شي ليکن که چرے د هغه بندګان د هغه نه معافي اوغواړي نو معافي هم کوي.

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ

کوم خلق چه ګټله لولي کتاب د الله او سيدا کوي مونځ

وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً

او خرچ کوي ځنے هغه څه چه موږ ورکړي شوي (مال) په پټه او ښکاره

يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ ۝٢٩ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ

اُمید واري د داسے تجارت چه په هغې کښ هلاکت نه وي. د دے د پاره چه پوره ورکړي هغوئ ته ثوابونه د هغوئ

وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ

او زیات ورکړي د خپل فضل نه. بیشکه هغه دے بښونکے

شَكُورٌ ۝٣٠ وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ

قدر دان. او کوم چه موږ نازل کړو ستا په طرف دے کتاب

هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ

هغه رښتیا دے تصدیق کوونکے دے د خپل ځان نه د مخکښنو کتابونو. بیشکه

اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ۝٣١ ثُمَّ أَوْرَثْنَا

الله د خپلو بندګانو نه خبردار دے لیدونکے. بیا موږ وارثان کړل

الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ

د کتاب هغه خلق کوم چه موږ غوره کړل د خپلو بندګانو نه ملا بیا ځنے د هغوئ نه

ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ

ظلم کوي د خپل ځان سره او ځنے د هغوئ نه میانه رو دي او ځنے د هغوئ نه مخکښ تللي دي

بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ

نیکو اخستلو سره په حکم د الله سره دا فضیلت دے

الْكَبِيْرُ ۝۳۲ۭ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ

ډیر لوئے ف۱ . باغونه دی د اوسیدلو چه په هغے کښ به ننوځی داخلیږی هلته به هغوئی له ګانړه

فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ

اغوستولے شی بهاؤ ګان د سرو زرو او ملغلرے او د هغوئی اغوستل به

فِيْهَا حَرِيْرٌ ۝۳۳ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ

هلته د ریښمو وی ف۲ او وائی به شکر د الله تعالیٰ چا چه لرے کړو

عَنَّا الْحَزَنَ ۭ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُۨ ۝۳۴ۙ

ځمونږ نه غم بیشکه رب ځمونږ بښونکے او قدردان دے ف۳ .

نکات: سـ۱ـ بشارت اُخروی ۱۲ . سـ۲ـ دلیل وحی ۱۲ . سـ۳ـ بشارت اُخروی ۱۲ د کتاب الله خدمت کوونکو د پاره ۱۲ .

موضح قرآن ف۱ یعنی د پیغمبر نه روستو مونږ د کتاب وارثان جوړ کړل ځنے نور غوره کړے شوی بندګان یعنی دے اُمت کښ ئے درجے بیان کړلے . یوه درمیانه ، یوه ګناهګار ، یوه اعلیٰ ، ټولے ئے اُوشمارل په غوره بندګانو کښ اُمید دے چه په آخر کښ به ټول جنتیان وی نبی علیه السلام اُوفرمائیل ځمونږ ګناهګاران معاف کړے شوی دی او درمیانه سلامتی موندونکی دی . او مخکښ تلونکی خو د ټولو نه مخکښ لاړل الله تعالیٰ کریم دے د هغهٔ سره کمے نشته .

ف۲ سره زر او ریښم مسلمانانو د پاره هلته حلال دی نبی علیه السلام اُوفرمائیل څوک چه ریښم په دنیا کښ واغوندی آخرت کښ به ئے نهٔ اغوندی . ف۳ د دنیا غم ئے دفع کړیدے ګناه ئے بښلے دهٔ او طاعت ئے قبول کړو .

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د نبی علیه السلام نه اُمت اُو رسیدو ۱۲ .

تفسیر: ۲۹ اِنَّ الَّذِیْنَ الخ دا د قرآن لوستونکو او په هغے باندے د عمل کولو د پاره بشارت اُخروی دے . اسم موصول نه

قول صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین او قول مؤمنان مراد دی.
قال السدی هم اصحاب الرسول صلی الله علیه وسلم ورضی عنهم
وقال عطاء هم المؤمنون (بحر ج ۷ ص۳۱۲) او کِتٰبَ اللّٰهِ نه قرآن مراد دے
والمراد بکتاب الله القرآن (روح ج ۲۲ ص۱۹۲) او د تلاوت نه مراد دے کما
حقه تلاوت. یعنی د هغهٔ د احکامو پیروی کول لکه چه په بل ځائے
کښ ارشاد دے یتلونه حق تلاوته (بقره) او د تجارت نه مراد ثواب
دے. والمراد من التجارة وعد الله من الثواب (خازن ج ۵ ص۲۳۸).
حضرت شیخ فرمائی یَرْجُوْنَ، صورةً خبر او معنیً انشاء ده ای لیرجوا
یعنی کوم خلق چه د قرآن تلاوت کوی او د هغهٔ د احکامو اتباع کوی
مونځ قائموی او د الله د ورکړے شوی مال دولت نه په جائز مصرف
کښ خرچ کوی هغوئ د الله نه د داسے ثواب اُمید لری چه ته به ضائع
کیږی ځکه چه هغوئ قول اعمال اخلاص سره کړیدی دے د پاره چه
الله هغوئ ته د هغوی د اعمالو پوره پوره بدله ورکړی او د خپل فضل نه
د استحقاق نه زیات هم ورکړی اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَکُوْرٌ هغه لوئے لوئے گناهونه
معاف کوی او وړے وړے نیکئ قبلوی.

۳۰ وَالَّذِیْٓ اَوْحَیْنَآ الخ دا په توحید باندے دلیل وحی دے مونږ چه
کوم کتاب په تا نازل کړیدے هغه ټول حق دے په هغے کښ مونږ د
توحید د مسئلے بیانولو حکم ورکړیدے او دا کتاب په تیر شوو کتابونو
کښ د بیان کړے شوو عقائدو او د اُصولی احکامو تائید او تصدیق کوی
دینه معلومه شوه چه د توحید مسئله په تیر شوو کتابونو کښ مذکوره
هم وه. اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِیْرٌۢ بَصِیْرٌ الله تعالی د خپلو بندګانو ظاهری
او باطنی احوالو نه خبر دے هغه تاسو مستحق او لائق اوګنړلئ په تاسو ئے
دا د اول نه تر آخره حق کتاب نازل کړیدے چه د تیر شوو کتابونو د پاره
معیار او کسوټی ده. فعلمک وابصر احوالک ورآک اهلا لان یوحی
الیک مثل هذا الکتاب المعجز الذی هو معیار علی سائر الکتب (مدارک)
۳۱ ثم اورثنا تا ولا یمسنا فیها لغوب. دا د کتاب الله (قرآن)
د وارثانو د پاره بشارت اُخروی دے. الَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا نه مراد د اُمت
محمدیه عالمان مراد دی چه کتاب الله باندے ځان پوهه کړی او
د دے په احکامو باندے عمل اوکړی المراد بالمصطفین علماء الامة
من الصحابة ومن بعدهم ممن یسیر بسیرتهم (روح ج ۲۲ ص۱۹۵)
بیا په هغوئ کښ درے ډلے جوړے شوے اول ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ چا چه
کتاب الله باندے عمل کولو کښ او د دهٔ په خدمت کولو کښ ډیره زیاته

کوتاهي او سستي اوکړه. دریم مُقْتَصِدٌ چه د چا د عمل بالکتاب او مخالفت چابرې برابر شول. دریم سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ چه د چا عمل بالکتاب او د اعمال صالحه تله او چابرې دروند شو. قال الحسن الظالم من خفت حسناته والمقتصد من استوت والسابق من رجحت (روح) لیکن دا دریواړه ډلے به جنت ته ځي لکه چه د نبي علیه السلام ارشاد دے په روایت د سعید خدري. هٰؤلاء کلهم بمنزلة واحدة وکلهم في الجنة اخرجه احمد والطیالسي وعبد بن حمید وابن جریر وابن المنذر وابن ابي حاتم وابن مردویه والبیهقي والترمذي وحسنه (روح ج ۲۲ ص۱۹۶) دا شان د نبي علیه السلام ارشاد دے سابقنا سابق ومقتصدنا ناج وظالمنا مغفور له (قرطبي ج ۱۴ ص۳۴۶) بِإِذْنِ اللهِ، د الله په توفیق او آسانتیا سره. ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ. د وراثت قرآن د پاره په اُمت کښ خاص بندګان غوره کول د الله تعالیٰ ډیر لوئے احسان او فضل دے.

۳۲ جَنّٰتُ عَدْنٍ الخ دا مبتداء ده او يَدْخُلُوْنَهَا اول خبر دے يُحَلَّوْنَ الخ دویم خبر د لُؤْلُؤًا د مِنْ أَسَاوِرَ په محل باندے معطوف دے. يا لُؤْلُؤًا د فعل مقدر مفعول دے. مثلاً يؤتون (روح وغیره) حضرت شیخ يلبسون محذوف منلے دے د يَدْخُلُوْنَ او يُحَلَّوْنَ د ضمیرونو نه دریواړه جماعتونه (ډلے) مراد دي یعني هغوئي ټول به جَنّٰتُ عَدْنٍ ته داخلیږي او هغوئ ته به د سرو زرو ونهاؤ کان (بنګړي) او د ملغلرو کالي اغوستولے شي او د هغوئي کپړے به د ریښمو وي. وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ کله چه هغوئي جنت ته داخل کړے شي نو د الله تعالیٰ حمد او ثناء به وائي او د هغه د نعمتونو اعتراف به کوي څنګه چه ته په دنیا کښ منعم او کارساز وے داشان ته هم په آخرت کښ ته کارساز او مهربان ئے د هر قسم حمد وثناء لائق هغه پاک ذات دے چا چه مونږ د هر غم نه آزاد کړو بیشکه محمونږ پروردګار په ګناه ګارانو باندے مهربان او وړے وړے نیکئي هم قبلوي عن ابن عباس انه قال في ذلك غفرلنا العظیم من ذنوبنا وشکرلنا القلیل من اعمالنا (روح ج ۲۲ ص۱۹۹)

الَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا

چه هغه مونږ راوستلو ۳۳ کور د اقامت (جنت) ته محض فضل سره ته به

يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا

رسیږي مونږ ته په دیکښ مشقت او نه به رسیږي مونږ ته په دے کښ

لُغُوبٌ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ
ستومانی ول. او کوم خلق چه منکر دی ۳۳ هغوئ دَ پاره دے اور دَ جهنم
لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ
نهٔ به حکم کولے شی په هغوئ دَ مرګ چه مړهٔ شی او نهٔ به په هغوئ آسانی دی
عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي كُلَّ
هلته دَ عذاب. دا سزاء ورکوو موږ هر
كَفُورٍ ﴿۳۶﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا
ناشکر ته او هغوئ به چغے وهی په هغے کښ اے ربه موږ او باسه
نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ
چه موږ څه نیک کار اوکړو هغه نهٔ کوم چه موږ کولو
أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ
آیا موږ عمر نهٔ وو درکړے تاسو ته هغومره چه پند اخلی په هغے کښ چا چه پند اخستلو
وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ
او را اورسیدهٔ تاسو ته ویروونکی اوس اوڅکئ چه هیڅوک نشته دَ ګناهګارانو
مِنْ نَّصِيرٍ ﴿۳۷﴾ إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ
امدادی ول. بیشکه الله عالم دے په پټو څیزونو دَ آسمانونو ۳۵
وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۳۸﴾
او دَ زمکے هغهٔ ته ښهٔ معلومه ده کومه خبره چه په زړونو کښ ده.
هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ ۚ
(الله) هغه دے چه وے ګرځولئ تاسو قائمقام (دَ تیرشوو خلقو) په زمکه کښ
فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ
بیا چه څوک ناشکری کوی نو په هغهٔ به پریوځی دَ هغهٔ ناشکری او نهٔ زیاتوی

الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ

کافرانو ته کفر د هغوئ په نزد د رب د هغوئ مګر غضب

وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾

او زیات به نه کړي کافرانو ته کفر د هغوئ لیکن نقصان ف۳.

نکات: سلـ تخویف اُخروی منکرینو د پاره ۱۲. سلـ ۲ لسم عقلی دلیل ۱۲

موضح قرآن ف۱ د اوسیدلو کور د دیته ځکښ نه وو هر ځائے تلل راتلل وو د رزق فکر او غم وو او د دشمنانو ویره تکلیف او مشقت هلته رسیدلو سره ټول ختم شول. ف۲ هغه به نه کوو کوم چه به مونږ کول یعني هغه وحت څو به ئے هغه ښه ګڼړل اوس وائی چه هغه شان عملونه به بیا نه کوو. ف۳ قائمقام ئے اوکړ خولئ په زمکه کښ یعني د رسولانو نه روستو ئے ریاست درکړو. یائے د تیر شوو امتونو نه روستو اوس د هغې حق ادا کړئ (په شکر ادا کولو سره).

تفسیر: ۳۳ه الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا الخ دار المقامة دا مصدر میمي دے یعني دار الاقامة چه په هغې کښ به همیشه اوسیږي مراد جنت دے نصب تکلیف، غم، لغوب. ستومانی. چاچه مونږ محض خپل فضل سره دا سے دار الاقامه ته راوستلو د اوسیدلو ځائے او جنت ته راوستلو چه په هغې کښ مونږ قیام همیشه د پاره دے او په کوم کښ چه هیڅ قسم تکلیف او مشقت نشته.

۳۴ه وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا کافرانو د پاره تخویف اُخروی دے. کافران به په جهنم کښ داخلولے شی او په جهنم کښ به هغوئ ته مرګ نه راځی چه هغوئ د عذاب نه راحت بیا مومی او نه به په عذاب کښ څه آسانی اوکړے راځی. په کفر او عنا دکښ انتهاء ته رسیدونکو خلقو ته هم دا شان سخته سزا ورکوو. وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا، هغوئ به په دوزخ کښ فریادونه کوی چه اے څمونږ پروردګاره مونږ یوځل بیا دنیا ته اولیږه او د دے عذاب نه مونږ اوباسه مونږ به د خپل سابقه ګڼغني اعمالو په ځائے ښه کارونه کوو. اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ الخ دا د الله د طرفه په طور د زجرا و توبیخ جواب ورکولے شی. آیا مونږ تاسو ته ځکښ دومره اوګدے ژوند نه وو درکړے چه په هغے کښ هر هغه سړی چه عبرت حاصلول او په سمه لاره راتلل ئے غوښتل، نو عبرت ئے حاصلولے شو او تاسو ته د الله پاک د طرفه پیغام راوړونکی هم راغلل لیکن د هغے با وجود تاسو د هدایت

نه هیڅ اثر قبول نه کړو او په کفر قائم پاتې شوئ. ځکه چې اوس د خپلو عملو د سزا مزه اوڅکئ ستاسو پښتان د بې انصافۍ پاره هیڅوک مدد ګار نشته چه تاسو د عذاب الهي نه بچ کړي.

۳۵ اِنَّ اللّٰهَ الخ دا اسم عقلي دليل دے چه په دے کښ د الله تعالیٰ عِلمِ غیب کیدلو اثبات دے. د زمکے او آسمانونو هر پټ څیز او د هر ساه لرونکی د زړه پټ رازاوخبره پیژندونکے صرف الله تعالیٰ دے لهذا هغه د هرچا فریاد ته رسیدونکے او کارساز دے ځکه چې نه په مصیبتونو او حاجتونو کښ ما فوق الاسباب صرف هغه ته آواز کوئ.

۳۶ هُوَ الَّذِیْ الخ دا ترغیب الی الایمان دے، سره د تخویف اُخروی نه. ستاسو د پلار نیکۀ په ځائے بانده الله تعالیٰ تاسو د زمکے وارثان جوړ کړئ او د هغوئ قائم مقام ئے کړځولي یئ ځکه چې نه که چرے تاسو هم ناشکري اُوکړه او شرک مو اُوکړو نو د هغے سزا به بیا مومئ. یا د ستاسو څو مره چه ډیر کفر کوئ هغومره به زیات ته خسارۀ او نقصان کښ پریوځئ او د الله د قهر او غضب مستحق به کرځئ. ځکه چې نه که چرے د الله د قهر او غضب او د زیات نقصان او خسارے نه بچ کیدل غواړئ نو د هغهٔ په توحید او په قول ضروریاتِ دین بانده ایمان راوړئ او د هغهٔ حکم منونکی بندګان جوړ شئ.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

ته اُوایه ایا وینئ تاسو ۳۷ خپل شریکان کوم چه تاسو رابلئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ

سیوا د الله نه ما ته اُوښایئ څۀ شے پیدا کړی دی هغوئ په زمکه کښ

اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِی السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَیْنٰهُمْ

یا د هغوئ څۀ حصه ده په آسمانونو کښ یا مونږ ورکړی دے هغوئ ته ۳۸

كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰی بَیِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ اِنْ یَّعِدُ

یو کتاب نو هغوئ سند لری د هغے - دا سے هیڅ خبره نشته بیا چه کوم وعده کوی

الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ۝۴۰ اِنَّ

۳۹ ظالمان د یو بل سره ټوله دهوکه ده. بیشکه

اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا

الله ساتي اسمانونه او زمکه چه زائیل نشي

وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ

او که چرې زائیل شي نو څوک به ئې هم اونه ساتي دغه دواړه د

بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۱﴾ وَاَقْسَمُوْا

هغه نه سیوا ما هغه دے تحمل کوونکے بښونکے او قسمونه خوري

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ

په الله لله سخت قسمونه خپل چه که چرې راشي دوئ ته څوک ویروونکے

لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا

نو ضرور به په ښه لاره روان شي د هریو اُمت نه بیا چه

جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرَا ﴿۴۲﴾

راغے هغوئ ته لله ویروونکے نو زهم زیاته شوه د هغوئ تیښته.

نکات: ۱ دا د تیر شو دلائیلو دویمه تفصیلي ثمره ده ۱۲۔ ۲ یو ولسم عقلي دلیل ۱۲۔ ۳ زجر سره د تخویف دُنیوی ۱۲۔

موضح قرآن ف د عربو خلقو چه به د یهودو دا خبرې اوریدې چه یهودیانو به د انبیاء الله خبرې نه منلے نو وئیل به ئې چه که چرې مونږ ته هم نبي اولیږلے شو نو مونږ به د هغه ډیر ښه اطاعت او منلو کړو او نو کافرانو نو هم دُشمني زیاته کړه.

فتح الرحمٰن ف یعني د خدائے نه غیر ۱۲۔

تفسیر: ۳۷ قُلْ اَرَءَيْتُمُ الخ دا د مذکوره دلائیلو تفصیلي ثمره ده کله چه ثابته شوه چه ټول هر څه کوونکے او په ټول هر څه خبردار الله تعالی دے نو بیا د غیر الله عبادت ولے کوئ او په حاجتونو کښ غیر الله ولے رابلئ دا خو راته صفا اووایئ چه کوم خود ساخته معبودان تاسو رابلئ که هغوئ د عبادت او رابللو لائق کیدلو دلیل څه دے؟ اَرُوْنِيْ مَاذَا الخ دا د عقلي دلیل مطالبه ده یعني د عبادت مستحق

خو صرف هغه څوک کیدے شي څوک چه خالق وي نو آیا ستاسو دے معبودانو د زمکے کومه یوه خطه، حصّه پیدا کړیده یا د آسمانونو په پیدائش کښ د دوئ کومه حصه شته دے لږ خو را ته اُوښایئ.

اعبدتموهم لان لهم شرکة فی خلق السمٰوٰت ام خلقوا من الارض شیئاً (قرطبي ج ۱۴ ص ۳۰۶). ۳۸ اَمۡ اٰتَیۡنٰهُمۡ الخ دا د دلیل نقلی مطالبه ده چه آیا موږ په دوئ کوم یو کتاب نازل کړیدے چه په هغے کښ د دے باطلو معبودانو د عبادت اجازت ورکړے شویدے. دوا پرو ځایونو کښ استفهام انکاری دے یعني نه د زمکے او آسمان په پیدائش کښ د هغوئ څۀ حصه شته دے او نه په یو آسماني کتاب کښ د غیر الله د عبادت اجازت ورکړے شویدے. چونکه د وحي امکان نۀ وو د دے وجے نه د دلیل وحي مطالبه اُونۀ کړے شوه والمعنی ان عبادة هؤلاء اما بالعقل ولا عقل یحکم بصحة عبادة من لا یخلق جزء ما من الارض ولا له شرك فی السماء واما بالنقل ولم نؤت المشرکین کتابا فیه الامر بعبادة هؤلاء (روح ج ۲۲ ص ۲۰۳).

۳۹ بَلۡ اِنۡ یَّعِدُ الخ دا د ما قبل نه اضراب دے یعني د مشرکانو سره د شرك په حق کښ کوم عقلي یا نقلي دلیل خو موجود نۀ دے او هغوئ د کوم دلیل په بناء باندے شرک نه کولو بلکه د شرک اصلي وجه دا وه چه د هغوئ اسلاف او پیشوایانو هغوئ ته د دروغو آرزوگانے ورکړے او گمراه کړي ئے دي. چه دا شریکان د الله په نزد د دوئ سفارشیان دي او د دوئ د عبادت او تعظیم د قرب خداوندي باعث دے. لما نفی انواع الحجج فی ذلك اضرب عنه بذکر ما حملهم علیه وهو تقریر الاسلاف للاخلاف واضلال الرؤساء للاتباع بانهم شفعاء عند الله یشفعون لهم بالتقرب الیه (ابو السعود ج ۷ ص ۵۳). ۴۰ اِنَّ اللّٰهَ الخ دا په توحید باندے یوولسم عقلي دلیل دے زمکه او آسمان الله تمام بند ساتلي دي او هغه د خپل ځائے نه یو څوا یل څوا ته نۀ خوزیږي. کۀ چرے بفرض محال هغه د خپل ځائے نه اُوخوځیږي لرے شي نو د الله نه سیوا هیڅوک د هغے د ټینګولو والا او ساتلو والا نشته. دیته د الله تعالیٰ د قدرت کامله او د معبودانو باطلو د عجزیته لګي. د دے وجے نه دا عاجز معبودان او کارساز نشي جوړیدے لما بین ان الهتهم لا تقدر علی خلق شیٔ من السمٰوٰت والارض بین ان خالقهما وممسکهما هو الله فلا یوجد حادث الا بایجاده ولا یبقی الا ببقائه (قرطبي ج ۱۴ ص ۳۰۶) اِنَّهٗ کَانَ حَلِیۡمًا غَفُوۡرًا ه هغه داسے صبر ناك دے چه مشرکان فوراً نۀ نیسي او داسے مهربان دے چه د توبه ویستونکو توبه قبلوي. دا دلیل د اول دلیل سره متعلق دے. په هغے کښ ئے فرمائیلي وو

چه د ځمکے او آسمانونو ساتونکے هم صرف هغه دے.

۴۲ ه واقسموا الخ دا زجر دے سره د تخویف دنیوی ته د نبي علیه السلام د بعثت نه مخکښ قریشو ته معلومه شوه چه په یهودو او نصارا وُکښ پیغمبران راغلل نو هغوئ ئے تکذیب اُوکړو او د هغوئ تابعداری ئے اُونه کړه دے باندے قریشو نصارا ی او یهود ملامته کول چه الله دِے په هغوئ لعنت اوکړی هغوئ خپل پیغمبران دروغ اُوګڼړل په خدائے قسم که چرے په مونږ کښ د الله رسول اُولیږلے شو نو مونږ به د هغه دروغ ګڼړونکو ټولو اُمتونو ته زیات هدایت قبلولو والا او د خپل پیغمبر اطاعت کولو والا یو. د قریشو آرزو وه چه په هغوئ کښ د الله رسول اولیږلے شي او هغوئ به ډیر زیات سخت قسمونه خوړل چه هغوئ به د رسول اطاعت کوی. اِحْدَی الْاُمَمِ کښ اضافت استغراقی دے یعنی د هر اُمت نه به اهدی وی. قال الشیخ رحمه الله یا الف لام عهد د پاره دی او مراد ترینه تکذیب کوونکی اُمتونه دی (روح).

۴۲ ه فَلَمَّا جَآءَهُمْ الخ کله چه د هغوئ د آرزو تمنا مطابق هغوئ ته یو عظیم الشان او اشرف الرسل حضرت محمد صلی الله علیه وسلم رسول اُولیږلے شو او د حق دعوت ئے ورکړو نو هغوئ د دهٔ نه اُوتښتیدل د ایمان راوړلو نه غرور او استکبار منع کړل او د پیغمبر علیه السلام د حمایت کولو په ځائے هغوئ د نبي علیه السلام خلاف ډیرے زیاتے خرابے او خطرناکے منصوبے جوړول شروع کړے لیکن د داسے مکر او فریب وبال په هغه خلقو پریوځی څوک چه د دے لائق او اهل وی. لهذا د دے وبال به هم پخپله په هغوئ باندے پریوځی ځکه چه هغوئ د دے اهل دی نهٔ چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو باندے ځکه چه دوئ د دے اهل نهٔ دی. لکه چه په جنګ بدر کښ دا خلق پخپله د خپل مکر او فریب ښکار شول. وقد حاق مکر هؤلاء بهم یوم بدر (روح ج ۲۲ ص۲۰۶).

اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ
غرور کول په ملک کښ او تدبیر کول د بدکار او د بدئ تدبیر کول

الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا
را اُوګرځي هم په دے تدبیر جوړوونکو باندے. بیا اُوس دوئ انتظار کوی ۴۳

سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ
د طریقې د مخکنو نو بیا به نه مومې ته د طریقې د الله

تَبْدِيْلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ﴿۴۳﴾
بدلیدل او ته به بیا نه مومې د الله دستور اخوا کیدونکې

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ
آیا دوی نه گرځي ګله په ملک کښې چه اُوګوري څنګه شو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ
انجام د هغه خلقو کوم چه د دوی نه مخکښې وو او وو ډیر سخت د دوی نه

قُوَّةً ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِى
په طاقت کښې او نه دے الله چه هغه ستړے کړي یو څیز په

السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا
آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې هغه دے ټول هر څه پیژندونکے

قَدِيْرًا ﴿۴۴﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا
او قوي نکے او که چرے نیول اوکړي الله د خلقو د هغوی په عملونو یا نو

مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَاۗبَّةٍ وَّلٰكِنْ
پرے به نږدی د زمکې په شا باندے یو هم خوزیدونکے تللو والا بیا هغوی ته

يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ
مهلت ورکوی د یوې مقررې وعدې پورې بیا چه کله راشي د هغوی وعده

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ﴿۴۵﴾
نو د الله په نظر کښې دي د هغه ټول بندګان.

نکات: سلـ تخویف دنیوی او په ما قبل پاتې مے رتړا اچول ۱۲۔

تفسیر: ۴۳ فَهَلْ یَنْظُرُوْنَ الخ ایا دوئ څمونږ د عذاب انتظار کوي چه د تیر شوے زمانے په کافرانو باندے نازل شو که چرے دوئ په تکذیب او انکار باندے قائم پاتے شول نو څمونږ عذاب به په دوئ ضرور راځي. ځکه چه څمونږ سُنت جار یه ته بدلیږي. یبین ان سنته التي هي الانتقام من مکذبي الرسل سنة لا یبدلها في ذاتها ولا یحولها عن اوقاتها وان ذالك مفعول لا محالة (مدارك).

۴۴ اَوَلَمْ یَسِیْرُوْا الخ دا تخویف دنیوی دے. دا د ما قبل تنویر او تفصیل دے یعنی که چرے هغوئ څمونږ د سُنت جار یه مشاهده کول غواړي نو په زمکه کښ دِ اوګرځي د تیر شوو سرکشو قومونو تباه شوي کلي دِ اوګوري هغه خلق په قوت او رُعب داب کښ د دوئ نه زیات وو لیکن چه کله هغوئ څمونږ د پیغمبرانو تکذیب اوکړو نو مونږ هغوئ هلاک او تباه کړل ځکه چه په زمکه او آسمانونو کښ هیڅوک هم په هغهٔ غالب نشته او د هغهٔ نه زیات طاقتور هم نشته. هغه ټول هر څهٔ پیژني او په هر څهٔ قدرت لرونکے دے هغه معاندینو او سرکش پیژني هم او د هغهٔ د نیولو طاقت هم لري.

۴۵ وَلَوْ یُؤَاخِذُ الخ د الله تعالیٰ د حلم بیان دے چه ته څو په هره ګناه هغه نیول کوي او ته ګناهګاران سمدستي نیسي بلکه د ډیرو ګناهونو نه درګذر او عفوه کوي او د قابل مؤاخذه ګناهونو نه روستو مهلت ورکوي که چرے الله تعالیٰ بني آدم په هره ګناه نیولے نو په زمکه باندے به هیڅ یو انسان تر اوسه پورے ژوندے نه وے پاتے شوے بلکه ټول به د څهٔ نا څهٔ ګناه په بدله کښ هلاک شوے وے. د آیَةٍ، نه مراد خاص انسان دے. قیل المراد بالدابة الانس وحده وایده بقوله تعالیٰ ولکن یؤخرهم الخ (روح ج ۲۲ ص ۲۰۰) یا د آیَةٍ نه هر ذی روح مراد دے نو مطلب به دا وي چه د بني آدم د ګناه د نحوست په وجه سره به هر ذی روح هلاک شوے وے. ای من حیوان یدب علی الارض لشؤم المعاصي (روح) حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائي دا د دے خبرے نه کنایه ده چه د الله نه څوک تښتیدلے نه شي. ۴۶ فَاِذَا جَآءَ الخ د اِذَا جزاء محذوف ده اي اخذهُم یعني کله چه د هغوئ د نیولو وخت راشي نو هغوئ اونیسي. فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِیْرًا دا ما قبل د پاره په منزله د تعلیل دے هغه د خپلو بندګانو د احوال نه ښهٔ خبر دے هغهٔ ته معلومه ده چه څوک د عذاب مستحق دے او څوک نهٔ دے.

سورهٔ فاطر کښې د توحید ایتونه

۱- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ــــ نه تر ــــ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ (۳)
نفی د شرک فی التصرف۔
۲- وَاللّٰهُ الَّذِیْۤ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ ــــ نه تر ــــ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِیْعًا (۱۰)
نفی د شرک فی التصرف۔
۳- وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ــــ نه تر ــــ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ یَسِیْرٌ (۱۱)
نفی د شرک فی التصرف او نفی د شرک فی العلم۔
۴- وَمَا یَسْتَوِی الْبَحْرٰنِ ــــ نه تر ــــ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ (۱۳)
نفی د شرک فی التصرف
۵- وَالَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ــــ نه تر ــــ وَلَا یُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِیْرٍ (۱۴)
نفی د شرک فی الدعاء۔
۶- یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ــــ نه تر ــــ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ (۱۷)
نفی د شرک فی التصرف۔
۷- وَمَا یَسْتَوِی الْاَعْمٰى وَالْبَصِیْرُ ــــ نه تر ــــ وَمَاۤ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِی الْقُبُوْرِ
(۲۲) تمثیل د مؤمن او کافر او مشرک او مؤحد۔
۸- اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ ــــ نه تر ــــ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ (۲۸)
نفی د شرک فی التصرف۔
۹- اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَیْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۳۸)
نفی د شرک فی العلم۔
۱۰- قُلْ اَرَءَیْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ــــ نه تر ــــ اِنَّهٗ كَانَ حَلِیْمًا غَفُوْرًا (۴۱)
نفی د شرک فی العبادة او نفی د شرک فی التصرف۔

بحمد الله تعالیٰ واحسانه وانعامه وحسن توفیقه نن په تاریخ ۲۸ د صفر المظفر ۱۴۲۶ھ مطابق ۱۹ مارچ ۲۰۰۵ء ورځ د کل ماز یګر مخکښې نیږدې یجې د سورهٔ فاطر تفسیر او ترجمه ختمه شوه۔
وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واله وصحبه وسائر عباده الصالحین اجمعین

سورۂ یٰسٓ [1]

ربط سورۂ سباء کښې د شفاعت قهري د نفي مضمون ذکر شو سورۂ یٰسٓ، الصافات، صٓ او د سورۂ زمر ټولۀ حصه په سورۂ سباء باندې مرتب ده یعنې مضمون (نفي د شفاعت قهري) په دې سورتونو کښې په طریقه د ترقئ ذکر شوي دے۔ سورۂ سباء کښې د دے دعوے باره کښې د شبهاتو ازاله اُوشوه اوس په سورۂ یٰسٓ کښې ئے اُوفرمائيل چه داعیانِ باطل سفارشیان چه کله مشرکان د خدائے د گرفت نه نشي بچ کولے نو دوئ څنګه شفیع غالب جوړیدے شي۔

خلاصه تمهید سره د ترغیب په مینځ کښې دعوی د سورت ذکر کول او په دعوی باندې پنځه دلائیل عقلیه څلور مینځ کښې یو په اخر کښې، شکوی، زجرونه، تخویفونه، بشارتونه او د ټولو نه روستو په اخر کښې د سورت خلاصه۔

تفصیل یٰسٓ ـــ تا ـــ فبشره بمغفرة واجر کریم۔ تمهید سره د ترغیب۔ قرآن حکیم داسے عظیم الشان کتاب ستا سو په صداقت باندے شاهد دے لیکن اکثر خلق د جباریت د مهر په وجه ایمان نۀ راوړي۔ انا نحن نحي الموتٰی الخ تخویف اخروي واضرب لهم ـــ تا ـــ فاذا هم خامدون (ع ۲) د اصحٰب القریه قصه څومره د عبرت نه ډکه ده هغوئ څومره پیغمبران دروغژن اُوګڼړل او یو مؤمن ناصح ئے شهید کړو موږ هغوئ په عذاب سره اُونیول۔ لیکن د هغوئ سفارشیانو څوموږ د نیولو نه خلاص نکړے شول۔ د دے قصے په ضمن کښې د سورت دعوی هم راغله۔ ءاتخذ من دونه الهة ان یردن الرحمٰن بضر لا تغن عني شفاعتهم شیئا ولا ینقذون یعنی د الله په مخکښې څوک شفیع غالب نشته چه څوک د هغۀ د گرفت نه خلاص کړي۔ یٰحسرة علی العباد الخ دا شکوه ده۔ الم یروا ـــ تا ـــ محضرون ٥ دا اولنے عقلي دلیل دے موږ څومره ډیر سرکش او مشرک قومونه هلاک کړل او د هغوئ سفارشیانو هغوئ د هلاکت نه بچ نۀ کړل۔ واٰیة لهم الارض ـــ تا ـــ ومما لا یعلمون (ع ۳) دادویم عقلي دلیل دے۔ مړه زمکه ژوندئ کول او د هغے نه غله پیدا کول او د کجهورو او انګورو او د میوو باغونه پیدا کول۔ د زمکے نه چینے جاري کول دا ټول موږ کار دے د دوئ سفارشیان په دے کښې شریک نۀ دي۔ ستاسو خیالي سفارشیان او معبودان (فرښتے، پیریان) انبیاء علیهم السلام

دِے کار و ته په یو کار کښې هم نهٔ شی کولے بیا هغوئ څنګه شفیع او معبود جوړیدلے شی۔ وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الَّیْلُ ــــ تا ــــ وَکُلٌّ فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ ۝ دا دریم عقلی دلیل دے۔ دا ټول شمسی نظام د الله تعالیٰ تصرّف سره چلیږی۔ د دے کائنات نظم ونسق کښې تر نن ورځے پورے د ویښته د سر په اندازه فرق نهٔ دے راغلے۔ کهٔ چرے څوک شفیع غالب وی نو په دِے نظام کښې دِ د ادنیٰ نه ادنیٰ تبدیلی راولی او اُودِ ښائی۔ وَاٰیَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ــ تا ــ وَمَتَاعًا اِلٰی حِیْنٍ ۝ دا څلورم عقلی دلیل دے۔ مونږ هغوئ په کشتو او بحری جهازونو کښې صحیح سلامت په دریاب پورے باسو او کله چه اُوغواړو نو غرق به ئے کړو لیکن د دوئ خیالی سفارشیان او کارساز هغوئ د غرقیدلو نه نهٔ شی خلاصولے۔ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ اتَّقُوا الخ تا فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝ شکوه ده۔ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ ــــ تا ــــ مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ (ع ۳) دا تخویف اُخروی دے۔ اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ــــ تا ــــ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ الرَّحِیْمِ۔ دا بشارت اُخروی دے۔ وَامْتَازُوا الْیَوْمَ ــــ تا ــــ بِمَا کَانُوْا یَکْسِبُوْنَ دا هم تخویف اُخروی دے۔ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا ــــ تا ــــ اَفَلَا یَعْقِلُوْنَ ۝ دا تخویف دنیوی دے۔ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ ــــ تا ــــ وَیَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَی الْکٰفِرِیْنَ (ع ۵) دا د نبی علیه السلام

د صداقت دلیل دے مشرکان وائی دا (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) شاعر دے او دا قرآن شعر دے۔ وِے فرمائیل قرآن شعر نهٔ دے او نهٔ مونږ پیغمبر علیه السلام ته د شاعرئ استعداد ورکړے دے۔ ځکه چه شاعری د هغهٔ د شان لائق نهٔ ده۔ اَوَلَمْ یَرَوْا ــــ تا ــــ اَفَلَا یَشْکُرُوْنَ ۝ دا پنځم عقلی دلیل دے دا مختلف قِسم څارپائے چه د هغے نه څتی ستاسو د سورلئ او بار وړلو د پاره په کار راځی او څئے داسے دی چه د هغے غوښه خورئ او پئ څکئ دا ټول مونږ پیدا کړیدی د دوئ د باطلو معبودانو د دے په پیدا کولو کښې هیڅ حصه نشته. د دے وجے نه هغوئ معبودان او شفیع نشی کیدلے۔ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الخ کوم چه دِے مشرکانو خپل کارساز ګرځولی دی دِے کپاره چه د حاجت په وخت د دوئ په کار راشی۔ هغوئ چه ټول یو ځائے جمع شی نو بیا هم د دوئ مدد نشی کولے۔ فَلَا یَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده او مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے۔ اَوَلَمْ یَرَ الْاِنْسَانُ ــــ تا ــــ وَهِیَ رَمِیْمٌ دا شکوی ده انسان څومره ډیر احسان هیروونکے دے مونږ هغه د

یو بیکاره څاڅکی اُو یو نه پیدا کړو لیکن چه لوئے شو نو هغهٔ
څمونږ په قدرت او توحید کښې جګړے شروع کړے او
وے وئیل آیا دا ذرے ذرے شوی زاړهٔ هډوکی به بیا هم
څوک راژوندی کړی، دے موقع باندے هغهٔ خپل پیدائش
هیر کړو. قل یحییها الذی انشأها اول مرة تا کن
فیکون دا جواب شکوی دے او دَ قیامت ثبوت دے کوم
ذات پاک چه اول ځل هر څیز دَ نیست نه هست (دَ لیشت
نه شته) کړل مرهٔ انسانان به دوباره پیدا کړی چه دَ هغهٔ دَ
قدرت یوه ادنیٰ کارنامه دا ده چه هغه دَ شنے ونے نه اُور پیدا
کولے شی بیا چه چا اسمانونه او زمکه پیدا کړل هغه دَ انسانانو
دوباره ژوندی کولو باندے قادر نهٔ دے؟ حال دا دے چه
هغهٔ دَ پاره هیڅ کار ګران او مشکل نهٔ دے دَ یو کار سرته
رسولو دَ پاره صرف دَ هغهٔ اراده کافی ده. فسبحٰن الذی بیده الخ
دا دَ سورت لُبِ لباب (او خلاصه) ده دَ ټول کائنات مکمل نظم
ونسق صرف دَ هغهٔ په قبضه کښې دے دَ دے وجے نه دَ الله
تعالیٰ سره څوک شفیع غالب نشته او قیامت به ضرور راځی
چه په هغے کښې به ټول دَ الله تعالیٰ حضور کښې حاضریږی.

سُوْرَةُ يٰسٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة یٰس مکه کښې نازل شوې ده په دې کښې دری اتیا ایتونه دی او پنځه رکوع ګانې دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نامه چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

يٰسٓ ۚ ① وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۙ ② اِنَّكَ لَمِنَ

قسم دے په دغه قرآن محکم باندے ۲. ته بیشکه د

الْمُرْسَلِيْنَ ۙ ③ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۭ ④ تَنْزِيْلَ

لیږلو شوو نه ئے او په لار سمه ئے نازل شو

الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۙ ⑤ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ

د غالب رحم کوونکی نه . دے د پاره چه ته ته ویرولے یو قوم داسے چه نه وو ویرولے پلارونه ددوی لازمانه

فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ⑥ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ

نو هغوئ ناخبره دی ملا ثابت شوے ده خبره اعلـه ددوئ کښی ډیرو باندے

فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ⑦ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

نو هغوئ به ئے نه منی . موږ اچولی دی د دوئ په څټونو کښی ـ

اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ⑧

طوقونه نو هغه رسیدلی دی تر زنو پورے نو د دوئ سرونه اوچت کړکولے شوی دی

وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ

او جوړ کړو موږ د دوئ مخے ته دیوال او د

خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ⑨

روستو د دوئ دیوال بیا موږ د پاسه پټ کړل نو هغوئ هیڅ نه وینی ملا

وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ

او برابر دہ هغوئ ته که ته ویره ورکړے یا ته ویره ورنه کړے

لَا یُؤْمِنُوْنَ ۝۱۰ اِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ

یقین نهٔ کوی تهٔ خو به او ویرے ځغه کهٔ څوک چه روان شی په نصیحت (قرآن)

وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ

او او ویریږی د رحمٰن نه بغیر د لیدلو نه تو ځغهٔ ته زیرے ورکړه د معافئ

وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ۝۱۱

او د عزت په بدله

نکات: ۱ تمهید سره د ترغیب ۱۲. ۲ زجر ۱۲. ۳ د جباریت د خبر بیان اول تمثیل ۱۲. ۴ دویم تمثیل ۱۲. ۵ تنویر ۱۲. ۶ بشارت اخروی ۱۲.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی په بنی اسمٰعیل کښ هیڅ پیغمبر نهٔ دے لیږلے شوے. ف۲ دا دواړه ایتونه تمثیل او تصویر دے د دوئ د حق پیژندلو نه د ناامیدئ ۱۲.

تفسیر: ۲ وَالْقُرْاٰنِ تا وَاَجْرٍ كَرِيْمٍ، دا تمهید د سره د ترغیب نه دے کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صداقت د قرآن د عظمت او د مشرکانو د عناد او انکار ذکر کړے شوے دے. اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ، جواب قسم دے او عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ خبر بعد خبر دے. تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ. دا د تنزّل مقدر مفعول مطلق دے (مظهری، قرطبی) او دا جمله د اَلْقُرْاٰن نه حال واقع ده دا د حکمت او پوهے نه ډک قرآن په دے گواه دے چه تاسو د الله رښتونے پیغمبر یئ او په سمه لار روان یئ دا قرآن د عزیز او رحیم خدائے د طرفه په تاسو نازل شوے دے چه متکرینو ته سزاء ورکوونکے او منونکو باندے رحمت کوونکے دے د دے وجے نه په دا سے عظیم الشان کتاب باندے ایمان راوړل پکار دی.

۳ لِتُنْذِرَ الخ دا د اَلْمُرْسَلِيْنَ سره متعلق دے. تاسوئے د دے د پاره لیږلی یئ چه تاسو یو دا سے قوم او ویره دئ چه د هغوئ پلار نیکهٔ ته هیڅوک ویره وونکے نهٔ دے راغلے او هغوئ د تعلیماتِ الٰهی نه ناخبر دی مراد د عربو مشرکان دی د حضرت اسمٰعیل علیه السلام نه روستو په هغوئ کښ څوک پیغمبر نهٔ دے لیږلے شوے لکه چه په بل ځائے کښ ارشاد دے لِتُنْذِرَ قومًا ما اٰتٰهم من نذیر من قبلك ..... حیث لم یبعث بمکة نبی بعد اسماعیل علیه السلام فهم اشد احتیاجا الی الرسالة

من غیرهم (مظهری ج ۸ ص ۵۶). ۲ ۹ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ الخ دا زجر دے ستاسو خواهش خو دا دے چه ټول کافران ایمان راوړی لیکن دوئ دا سے ضدیان او بد بختان دی چه دا سے عظیم الشان کتاب هم نه منی د دوئ نه د الله په حق کښې دا فیصله شوی ده چه هغوئ به ایمان نه راوړی ځکه چه د ضد او سرکشئ، عناد او مکابرے د وجے نه د دوئ په زړونو باندے د جباریت مُهر لګیدلے دے فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ جمله د اَلْقَوْلُ بیان دے.

۵ ۹ اِنَّا جَعَلْنَا الخ دا د هغوئ د ایمان نه راوړلو علت دے یعنی د مهر جباریت بیان دے. ثم بین سبب ترکهم الایمان فقال (انا جعلنا فی اعناقهم اغلالا) (قرطبی ج ۱۵ ص ۷) دا د مهر جباریت اولنے تمثیل دے. مشرکان چه د ضد او عناد په وجے سره د حق نه انکار کوی د هغوئ مثال د هغه خلقو پشان دے د چا په غاړو او ځنو کښې چه تر زنو پورے طوقونه اچولے شوی وی او د هغوئ سرونه پورته اوچت کړے شی او هغوئ ښکته نه شی کتلے چه لاره اُوینی او نه ځنو ته یو خوا یل خوا اړولے شی. هم دا حال د دے معاندینو او متکبرینو دے چه د عناد او تکبر په وجے سره هغوئ د حق طرف ته التفات نه کوی او د حق په وړاندے سرونه ښکته کوی.

وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ سَدًّا الخ دا دویم تمثیل دے د دے معاندینو مثال د هغه خلقو پشان دے چه یو طرف ته خو په چار دیوارئ کښې راګیر شوی وی او د دیته علاوه پړاندهٔ هم وی ځکه چه هغوئ ته هیڅ په نظر نه راځی. دا شان معاندین هم د ضد او عناد په وجے سره په چار دیوارئ کښې راګیر شویدی. طغیان او سرکشئ هغوئ د نور بصیرت نه محروم کړیدی د دے وجے نه هغوئ د حق لاره نه وینی. هذا علی طریق التمثیل ولم یکن هناك غل ولا سد اراد الله سبحانه انا منعنا هم الایمان بموانع فجعل الاغلال والسد مثلا لذلك فهو تقریر لتصمیمهم علی الکفر والطبع علی قلوبهم بحیث لا یغنی عنهم الایات والنذر الخ (مظهری ج ۸ ص ۵۳).

۱ ۱ وَسَوَآءٌ الخ دا د ماقبل توضیح او تنویر دے کله چه د دوئ په زړونو باندے د جباریت مهر لګیدلے دے نو د دوئ د پاره د ستاسو وعظ او ویره ول بے فائدے او بے سود دی ستاسو دوئ له ویره ول او نه ویرول برابر او یو شان دی هغوئ ایمان نه راوړی.

۷ ۱ اِنَّمَا تُنْذِرُ الخ دا بشارت اُخروی دے او د معاندینو په مقابله کښې د مخلصینو د صفاتو ذکر دے. ستاسو د وعظ نصیحت نه صرف هغه خلق فائده اخلی ځوک چه په نصیحت باندے عمل اُوکړی او په خلوت او جلوت والی کښې د الله نه اُویریږی. دا سے خلقو ته د ګناه د بخشش او د اجر

عظیم زیرے وأوره ده ای خافه فی السر والعلن (خازن ج ۶ ص ۳)

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا

مونږ یو چه ژوندی کوو مړی څه او لیکو کوم چه ئے مخکښ اولیږل

وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ

اوکومے نښے چه د هغوئی روستو پاتے شوی او هر څیز شمارلے دے مونږ په یو اصل

مُّبِينٍ ﴿١٢﴾ وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَابَ الْقَرْيَةِ

ښکاره (لوح محفوظ) کښ. او بیان کړه دوئی ته څه یو مثل د هغه کلی د خلقو

إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ

چه کله راغلل هغوئی ته لیږلے شوی . کله چه مونږ اولیږل هغوئی په طرف ئے

اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوا

دوه تو هغه ئے دروغ اوګڼل بیا مونږ قوت ورکړو دریم سړی بیا هغوئی اوئیل

إِنَّا إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُوا مَا أَنتُمْ إِلَّا

مونږ ستاسو طرف ته لیږلے شوی یو ئے . هغوئی اوئیل تاسو نه یئ

بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَا أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِن شَيْءٍ

خو زمونږ په شان انسانان یئ او نه دی نازل کړی رحمان : هیڅ

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ

تاسو ټول دروغ وایئ وے وئیل زمونږ رب ته معلومه ده الله

إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا

مونږ بیشکه تاسو ته رالیږلے شوی یو. او زمونږ په ذمه بس دا

الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ

پیغام رسول دی ښکاره وے وئیل مونږ نا مبارک ګڼړو تاسو ئے

لَئِن لَّمْ تَنتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُم

که چیرې تاسو منع نه شوئ نو موږ به تاسو په کاڼو ووژنو او تاسو ته به اورسیږي

مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوا طَائِرُكُم مَّعَكُمْ

موږ په لاس سره عذاب دردناک. وې وئیل ستاسو نامبارکي ستاسو سره ده

أَئِن ذُكِّرْتُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾

آیا په دومره خبره چه تاسو ته نصیحت اوکړے شو بیا تاسو خلق یئ چه د حد نه تیریږئ

وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ قَالَ

او راغے له د ښار د آخري سر نه یو سړے په منډه منډه وے وئیل

يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوا مَن لَّا

اے قومه لاړ شئ په لاره د لیږلے شوو. لاړ شئ په لاره د داسې سړي

يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾

چه نه غواړي ستاسو نه بدله او هغوئ په لاره سمه دي.

نکات: ۱۷ تخویف اُخروی ۱۲- ۱۸ تخویف دنیوی ۱۲-

موضح قرآن: ف۱ کوم چه ئے مخکښې اولیږل خپل اعمال او روستو پاتے شوه نښه اولاد او عمارت او د نیکئ یا د بدئ لاره ئے جوړه کړه. ف۲ دا ښار انطاکیه وه د حضرت عیسیٰ دوه خلیفګان هلته اوسیدل د ښار خلقو د هغوئ او نه منل بیا دریم دوست هم را اورسیدا دریم لوئے خلیفه وو. ف۳ شائید چه د کفر د نحوست په وجه سره قحط راغلے وی دا ئے نامبارکی او بد فالی اوګڼله یا په خپل مینځ کښې ئے اختلاف پیدا شو او چا اومنو هغے ته ئے شامت اووئیل. هر قسم نحوست د دوئ دے.

تفسیر: ۵ اِنَّا نَحْنُ الخ دا تخویف اُخروی دے موږ به مړی ضرور ژوندی کوو او هر یو ته به د هغوئ د اعمالو مطابق جزاء او سزا ملاویږی ځکه چه موږ د ټولو اعمالو خیر او شر لیکلو حکم ورکوؤ د نیک او بد چه کومے نمونے او طریقے قائم کړے شویدی موږ سره د هغے ریکارډ هم موجود دے ای ونکتب ما سنوا من سنة حسنة او سیئة (خازن ومعالم ج ۲ ص ۳) امام مبین نه نامهٔ اعمال یا لوح محفوظ مراد دے ای کتاب اعمالهم

الشاهد علیهم بما عملوه من خیر او شر (ابن کثیر ج ۳ ص۵۶۶) یعنی اللوح المحفوظ (مدارك ج ۴ ص۳)۔ حاصل دا چه موږ د هغوئ ټول اعمال او افعال په نظر کښې ساتلی دی او د هغې د لیکلو حکم د هغوئ په عمل نامو کښې ورکوو۔ ۹ وَاضْرِبْ لَهُمْ الخ دا تخویف دنیوی دے۔ د اصحاب القریه (د کلی والا) قصه بیا تولو سره اهلِ مکه خبرول مقصود دے چه هغوئ څو موږ د رسول تکذیب اوکړو نو موږ هلاک کړل لیکن د هغوئ باطل خیالی سفارشیانو هیڅ هم هغوئ د الله د گرفت نه خلاص نه کړل۔ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ، په حصن حصین کښې دی چه دا د اجابت دعا مقام دے۔ اَلْقَرْیَةُ نه د اکثرو مفسرینو په نزد د انطاکیه ښار مراد دے او د اَلْمُرْسَلُوْنَ نه د حضرت عیسٰی علیه السلام لیږل شوی مبلغین مراد دی یعنی یحیٰی، یونس او شمعون (کما فی التفاسیر) لیکن د تفسیر محتوا ما ما نو په دے اشکال کړیدے چه د قریه نه انطاکیه او مرسلین نه د عیسٰی علیه السلام رسل (لیږل شوی) مراد وی لکه چه مفسر ابن کثیر په دے ډیر محققانه کلام کړیدے وقد استشکل بعض الائمة کونها انطاکیة بما سنذکره بعد تمام القصة ان شاء الله تعالٰی (ابن کثیر ج ۲ ص۵۶۷) ابن کثیر څلور شلو سره په دے محلور اشکالات کړیدی۔ اوّل د قرآنی نظم الفاظ ظاهراً په دے دلالت کوی چه دا دریواړه رسولان د الله رسولان وو د حضرت عیسٰی علیه السلام لیږل شوی نه وو که چرے هغه د حضرت عیسٰی علیه السلام حواریین وے نو د قرآن په نظم کښې به هغوئ ته د عیسٰی علیه السلام رسولان کیدلو طرف ته څه اشاره وے۔ ان ظاهر القصة یدل علی ان هؤلاء کانوا رسل الله عزوجل لا من جهة المسیح علیه السلام کما قال تعالٰی (اذ ارسلنا الیهم اثنین فکذبوهما فعززنا بثالث فقالوا انا الیکم مرسلون) الی ان قالوا (ربنا یعلم انا الیکم لمرسلون ۝ وما علینا الا البلٰغ المبین) ولو کانوا هؤلاء من الحواریین لقالوا عبارة تناسب انهم من عند المسیح علیه السلام (ابن کثیر ج ۳ ص۵۶۹) دویم که چرے هغوئ د حضرت مسیح علیه السلام د طرفه وے نو مشرکانو به په هغوئ دا اعتراض نه کولے چه تاسو څو څو موږ پشان بشریئ ځکه چه بشریت خو هغوئ د رسالت او نبوت منافی گڼرلو. ثم لو کانوا رسل المسیح لما قالوا لهم (ان انتم الا بشر مثلنا (ایضاً)۔ دریم، د انطاکیه اهل چا ته چه حضرت مسیح علیه السلام خپل حواریین لیږلی وو هغوئ ټول په ټوله ایمان راوړو او د الله د عذاب نه محفوظ شول لیکن د کومو اهلِ قریه ذکر چه دلته دے هغوئ د رسولانو تکذیب اوکړو او د خدائے په عذاب هلاک کړے شول۔ دینه معلومه شوه چه دا قصه د اهلِ انطاکیه او رُسُل مسیح

علیه السلام متعلق نهٔ ده فاذا تقرر ان انطاکیة اول مدینة آمنت فاهل هذه القریة ذکر الله تعالیٰ انهم کذبوا رسله وانه اهلکهم بصیحة واحدة اخمدتهم والله اعلم (ایضًا). ځلورم . د انطاکیه والو او د عیسیٰ علیه السلام واقعه لامحاله د تورات د نزول نه روستو پیښه شوه او د نزول تورات نه روستو الله تعالیٰ یو پوره او ټول قوم نهٔ دے هلاک کړے بلکه مؤمنانو ته ئے د کافرانو سره د جهاد کولو حکم ورکړے دے. دینه هم معلومه شوه چه دا قصه د اهلِ انطاکیه او حواریین متعلق نهٔ ده. ان قصة انطاکیة من الحواریین اصحاب المسیح بعد نزول التوراة وقد ذکر ابوسعید الخدری رضی الله عنه وغیر واحد من السلف ان الله تبارک وتعالیٰ بعد انزاله التوراة لم یهلک امة من الامم الیٰ اخرهم بعذاب یبعثه علیهم بل امر المؤمنین بعد ذلک بقتال المشرکین (ایضًا). د دے وجوهاتو نه ثابته شوه چه د کوم قریه ذکر دے ایتونو کښ شوے دے هغه د انطاکیه نه علاوه بل کوم کلے دے. او مرسلین نه مراد رُسُل الله دي نهٔ چه رُسل د عیسیٰ علیه السلام فعلیٰ هذا یتعین ان هذه القریة المذکورة فی القرآن قریة اخریٰ غیر انطاکیة کما حقق ذلک غیر واحد من السلف ایضًا (ابن کثیر ج ۳ ص۵۷۰) د حضرت شیخ قدس سرهٗ تحقیق بعینه هم دا سے دے او د دغه رسولانو اسماءِ گرامي دا دي. صادق، صدوق، او شلوم، علیهم السلام. لکه چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه، کعبُ الاحبار او وهب بن منبّه نه نقل شویدي امام طبري هم دا نومونه لیکلی دي (قرطبي) ابن کثیر وغیره) قیل رسل من الله علی الابتداء (قرطبي ج ۱۵ ص۱۴) که چرے د سلفو مفسرینو په عبارتونو کښ د دے قریه نوم انطاکیه راغلے دے نو په شرط د صحت روایت کیدیشي چه د دغه قریه نوم هم انطاکیه وي. لیکن لا محاله دغه هم انطاکیه نهٔ ده په کوم کښ چه مسیح علیه السلام خپل حواریین لیږلي وو ځکه چه په دغه انطاکیه باندے چرته هم د الله عذاب نهٔ دے راغلے نهٔ د حضرت مسیح علیه السلام په زمانه کښ او نهٔ د هغهٔ نه مخکښ. او تکون انطاکیة ان کان لفظها محفوظا فی هذه القصة مدینة اخریٰ غیر هذه المشهورة المعروفة فان هذه لم یعرف انها اهلکت لا فی الملة النصرانیة ولا قبل ذلک والله سبحانه وتعالیٰ اعلم (ابن کثیر ج ۳ ص۵۷۰).

لے إِذْ أَرْسَلْنَا الخ اول موتی هغوئي ته دوه پیغمبران اُولیږل. د کلي والو د هغوئي تکذیب اوکړو نو موتږ د هغوئي د تائید او تقویت د پاره زیاتے بل یو پیغمبر اُولیږلو نو دریوارو هغوئي ته اُوئیل چه موتږ د الله رسولان یو الله تعالیٰ موتږ تاسو ته رالیږلي یو. قَالُوا مَا أَنْتُمْ الخ د کلي والو جواب

دړکړو چه تاسو خو څموږ پشان بشر یئ او بشر پیغمبر نهٔ شي کیدی لے
دے وجے نه تاسو پیغمبران نهٔ یئ نهٔ الله په تاسو وحي نازله کړیده او تاسو
د رسالت په دعوٰی کښ دروغژن یئ۔ مشرکان همیشه په دے دهوکه کښ
پاتے دي چه پیغمبر فرښته پکار ده نهٔ چه انسان وانما الرسول ملک وهذا
شبهة اکثر الکفرة ان الرسول لابد ان یکون ملکا (جامع ص۳۷۷)
لله قَالُوْا رَبُّنَا الخ د مشرکانو په انکار باندے پیغمبرانو ډیر زور دارا و موکد
په قسم سره اسلوب اختیار کړو او خپله دعوٰی ئے دوباره ذکر کړه چه ځان ئے
ګواه دے چه موږ د الله رسولان یو او الله موږ تاسو ته رالیږلی یو کچرے
تاسو څموږ خبره نهٔ منئ نو د هغے وبال او عذاب به په تاسو راپریوځي
د رَبُّنَا یَعْلَمُ الخ تعبیر د قسم قائمقام دے۔ وربنا یعلم جار مجری القسم فی
التوحید وکذلک قولهم شهد الله وعلم الله (مدارک ج ۴ ص۱۲)۔
۲لله قَالُوْا اِنَّا الخ کله چه د مشرکانو سره کوم معقول جواب نهٔ وو نو په فضول
او پریو تو خبرو شروع شول او الله تعالیٰ په طور د ابتلاء او امتحان څخه وخت
د باره بارانو نه بند کړل نو کافرانو اوئیل دا ستاسو د نحوست اثر دے (عیاذاً
بالله) چه بارانو نه کیږی د دے وجے نه تاسو خپل تبلیغ بند کړئ که چرے
تاسو د دینه منع نهٔ شوئ نو موږ به تاسو سنګسار کړو او دردناکه سزاء به
درکړو۔ ۳لله قَالُوْا طَآئِرُكُمْ الخ پیغمبر جواب ورکړو شومي او بدفالي
پخپله تاسو کښ موجود ده د باران د بند، یدلو وجه ستاسو کفر او شرک،
سرکشي او نافرماني ده۔ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ، جزاء محذوف ده ای تطیرتم وجواب
الشرط مضمر تقدیره تطیرتم (مدارک) آیا موږ تاسو ته نصیحت کړیدے
د الله توحید طرف ته موږ رابللي یئ او د شرک نه مو منع کړي یئ د دے
وجے نه دا قسم فضول او بے فائدے خبرو سره تاسو څموږ مقابله شروع
کړیده او په موږ دباؤ اچوئ او د خپلو بدو عملو نحوست او شومي
موږ ته منسوب کوئ ډیر زیات بے انصاف او د حد نه تجاوز کوونکي خلق
یئ۔ ای من اجل انا ذکرناکم وامرناکم بتوحید الله واخلاص العبادة له
قابلتمونا بهذا الکلام وتوعدتمونا وتهددتمونا (ابن کثیر ج ۳ ص۵۶۹)۔
۴لله وَجَآءَ رَجُلٌ الخ، رجل نه حبیب بن مرّی نجار مراد دے چه د دغه کلي
یو طرف ته اوسیدو۔ دے ډیر زیات سخي او سلیم الفطرت انسان وو او د
انبیاء علیهم السلام دعوت ئے قبول کړے وو (قرطبي) کله چه د قوم عناد
او انکار انتهاء ته اورسید او هغوئ د پیغمبرانو د شهید کولو اراده اوکړه
نو دا سړے د خپل کور نه په منډه راغے او خپل قوم ته ئے ډیر په نصیحانه
انداز کښ تبلیغ کول شروع کړل یٰقوم د دے رسولانو خبره اومنئ کوچه

د الله د طرفه راغلی دی او محض ستاسو د فائدے د پاره تاسو ته سمه (تبلیغ) لاره ښئ او د حق په تبلیغ باندے ستاسو نه څه مزدوری هم نه غواړی هغوئ په سمه لاره دی د الله د توحید او د شرک په باره کښ د هغوئ مؤقف بالکل صحیح دے وهم مهتدون فیما یدعونکم الیه من عبادة الله وحده لا شریك له (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۶۵).

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾

او څه عذر دے ما ته چه زه بندګی او نکړم د هغه (الله) چاچه زه پیدا کړم او د هغه طرف ته به تاسو واپس ورځئ.

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ

آیا زه او نیسم د هغه نه سوا نور معبودان که چرے او غواړی ما ته رحمٰن

بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾

تکلیف نو هیڅ په کار به رانشی ما ته د هغوئ سفارش او نه به هغوئ ما خلاص کړی.

إِنِّيٓ إِذًا لَّفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ

نو زه خو به ځله په صریح ګمراهئ کښ شم. ما یقین اوکړو ستاسو په رب باندے

فَاسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۖ قَالَ يَٰلَيْتَ

نو تاسو زما خبره واورئ. حکم اوشو لاړ شه جنت ته ځله. وے وئیل ښه کیده که

قَوْمِي يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي

زما قوم معلومه کړی. چه بخښنه اوکړه ما ته زما رب او زه ئے کړم

مِنَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنۢ

د عزتمندو نه ځله. او نازل کړے نه دے مونږ ځله د هغوئ په قوم باندے

بَعْدِهِۦ مِن جُندٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا

روستو د هغوئ نه هیڅ فوج د آسمان نه او نازل کړے ئے دے

مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَإِذَا

مونږ فوج ځله. بس هم دا یو آواز وو بیا هم دغه

هُمْ خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾ یٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَأْتِيْهِمْ

وخت ټول مړه پراته وو. ځه افسوس دے په بندګانو باندے لله راتللے هغوی ته

مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ

هیڅ یو رسول چه په هغهٔ پورے دې ټوقې مسخرے نه کولے. آیا نه

يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ

ګوري لله څومره مونږ هلاک کړل دوی نه مخکښ اهل د زمانے چه هغوی به

اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيْعٌ

دو باره دوی ته نهٔ راځي. او په دوی ټولو کښ څوک هم داسے نشته چه ټول

لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۳۲﴾

لله یو ځائے شي او راتشي مونږ ته تیول شوی.

نکات: سلہ د سورت د دعوے ذکر ۱۲. سلہ د سورت په دعوی باندے اولنے دلیل ۱۲. سلہ اشاره تخویف اخروی ته ۱۲.

موضح قرآن | فلہ وړاندے بیانوی چه قوم هغه شهید کړو. او ځنے وائي چه الله تعالیٰ ژوندے اوچت کړو ۱۲.

فلہ قوم د هغهٔ سره دشمني اوکړه چه مړ ئے کړو هغهٔ په جنت کښ هم د قوم خیر خواهي کوله چه کهٔ چرے هغوئ ته ځما حال معلوم شي نو ټولو به ایمان راوړے وے ۱۲ منه.

فتح الرحمٰن | فلہ د کلي خلقو هغه شهید کړو ۱۲.

تفسیر: هله وَمَالِيَ، حبیب نجار کله چه د قوم په مخکښ تقریر اوکړو نو هغوئ اوئیل بس! ته هم د هغوئ ملګرے او د هغوئ په عقیده ئے او ځمونږ د دین نه مخالف ئے فلما قال ذلک قالوا له وانت مخالف لدیننا ومتابع دین هؤلاء الرسل (مظهری ج ۸ ص ۸۰) دے سره هغهٔ اوئیل وَمَالِيَ لَا اَعْبُدُ الخ آخر ځهٔ وجه ده چه زهٔ د هغه پاک ذات بغیر د ځا د شرکت نه خالص عبادت اونه کړم چا چه ما ته ژوند راکړے دے او آخر کار د جزاء او سزاء د پاره به د قیامت په ورځ تاسو ټول د هغهٔ په حضور کښ حاضریږئ د دے وجے نه بهتر دا ده چه تاسو هم د هغهٔ په رسولانو ایمان راوړئ او د

هغهٔ توحید اُومنۍ او هغهٔ سره هیڅوک شریک جوړ نکړې وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ الخ

لـ۶ـه ءَاَتَّخِذُ الخ، دے ایت کښ دَ سوره ت دعوی ذکر شویده یعنی نفی دَ شفاعتِ قهری ځکه چه ئے دَ دغه کلی خلق اُوتیول لیکن دَ هغوئ مزعومه شفعاء هغوئ بچ نهٔ کړل. حبیب نجار خپل بیان جاری اُوساتلو وے وئیل آیا دا هم څهٔ هوښیاری توب دے چه زهٔ خپل خالق او منعم حقیقی نه علاوه داسے عاجز او کمزوری مخلوق معبود او کارساز جوړ کړم چه کهٔ چرے خدائے رحمٰن ما په کوم مصیبت کښ گرفتار ول اُوغواړی نو دَ هغهٔ په دربار کښ به نهٔ دَ دوئ سفارش څما په کار راشی او نهٔ به هغوئ ما لره دَ هغهٔ دَ گرفت نه خلاص کړے شی. اُوس تاسو پخپله اُوایئ آیا داسے عاجز معبود دَ خدائے په نزد شفیع غالب او کارساز کیدے شی؟

لـ۷ـه اِنِّیٓ اِذًا الخ کهٔ چرے زهٔ دَ الله نه سیوانور معبودان او کارساز جوړ کړم او هغوئ دَ خدائے په بارگاه کښ شفیع غالب اُوگنړم نو زهٔ به په صریح گمراهئ کښ یم. دینه روستو مشرکانو په هغهٔ باندے کاڼړی ورول شروع کړل هغهٔ په دغه حال کښ هم قوم سره خطاب اُوکړو خپل آخری اعلان ئے اُوکړو. څما قومه! واورئ ما ستاسو دَ خالق او مالک په توحید باندے ایمان راوړے دے تاسو له هم په هغهٔ ایمان راوړل پکار دی. یا دا خطاب رسولانو سره دے. کله چه مشرکانو دَ هغهٔ وژل اُوغوښتل نو هغه رسولانو سره مخاطب شو وے وئیل کوم رب چه تاسو لیږلی یئ ما په هغهٔ باندے ایمان راوړے دے. دَ دے وجے نه څما اقرار او اعلان واورئ او په دے گواه اُوسیږئ (قرطبی، ابن کثیر، ابن جریر).

لـ۸ـه قِیْلَ ادْخُلِ الخ دَ دینه مخکښ اند ماج دے ولما قتل قیل له ادخل الجنة (مدارک ج ۴ صفـ) یعنی کله چه هغه قتل کړے شو نو هغهٔ ته اُووئیلے شو جنت ته داخل شه. حبیب نجار چونکه شهید وو دَ دے وجے نه دَ نورو شهیدانو په شان دَ هغهٔ روح دَ مارغهٔ په قالب کښ جنت ته داخل کړے شو فادخله الله الجنة وهو حی فیها یرزق یعنی حیوة الشهداء (مظهری ج ۸ ص ۹۶)

لـ۹ـه قَالَ یٰلَیْتَ الخ کله چه هغهٔ په جنت کښ خپل بے انتهاء اعزاز او اکرام او بے حده او بے حساب نعمتونه اُولیدل نو آرزو ئے اُوکړه چه کاش افسوس څما قوم ته کهٔ معلومه شی چه الله تعالیٰ زهٔ دَ کوم څیز په وجه اُوبښلم او جنت ته ئے داخل کړے یم او خپل بے حساب نعمتونه ئے راکړیدی. یعنی دَ الله په توحید باندے ایمان او دَ هغهٔ دَ پیغمبرانو تصدیق. دَ دے تمنا نه دَ هغهٔ مقصود دا وو چه الله په هغهٔ کوم انعام او احسان کړیدے کهٔ چرے هغوئ ته دَ دے علم حاصل شی نو هغوئ به هم ایمان راوړی.

بایمانی بربی وتصدیق المرسلین ومقصوده انهم لواطلعوا علی ما حصل لی
من الثواب والجزاء والنعیم المقیم لقادهم ذلك الی اتباع الرسل فرحمه
الله ورضی عنه فلقد کان حریصا علی هدایة قومه (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۶۵)
۲۸ وَمَآ اَنۡزَلۡنَا الخ دا دَ حبیب نجار دَ قوم دَ بد انجام بیان دے چه مونږ دَ هغهٔ
دَ شهادت نه روستو دَ هغهٔ دَ قوم دَ هلاکولو دَ پاره دَ آسمان نه دَ فرښتو کوم
لښکر نهٔ وو رالیږلے او نهٔ هغے ته څه ضرورت وو ځکه چه دَ هغوئ
هلاکول مونږ ته څهٔ ګران او مشکل کار نهٔ وو. اِنۡ کَانَتۡ اِلَّا صَیۡحَةً وَّاحِدَةً الخ
په هغوئ چه مونږ کوم عذاب نازل کړو هغه خو صرف یو خوف ناک آواز وو
چه دَ هغے په وجه ټول قوم په یو ځل هلاک شو. روی ان الله تعالی بعث
علیهم جبریل علیه السلام حتی اخذ بعضا واتی باب المدینة فصاح بهم
صیحة واحدة فماتوا جمیعا (روح ج ۲۳ ص ۲).
۲۹ یٰحَسۡرَةً الخ دَ قصے په آخر کښ دَ عادت مستمره مطابق ئے ارشاد اوفرمائیلو
دَ انبیاء علیهم السلام تکذیب کوونکو او انکار کوونکو باندے افسوس
هغوئ ته چه کوم پیغمبرهم دَ توحید پیغام راؤړو دَ منلو په ځائے هغوئ
په دے پورے ټوقے او استهزاء شروع کړه دا اظهار حسرت دَ دے وارو
پیغمبرانو دَ طرفه وو یا دَ فرښتو دَ طرفه. قال الضحاك انها حسرة الملائکة
علی الکفار حین کذبوا الرسل ...... وقیل ان الرسل الثلاثة هم الذین
قالوا لما قتل القوم ذلك الرجل الذی جاء من اقصی المدینة یسعی وحل
بالقوم العذاب یا حسرة علی هؤلاء کانهم تمنوا ان یکونوا قد امنوا (قرطبی
ج ۱۵ ص ۲۳). مَا یَاۡتِیۡهِمۡ دَ ماضی استمراری په معنا کښ دے یعنی هغوئ ته
چه هر یو پیغمبرهم راغلے دے نو هغوئ په هغهٔ پورے استهزاء کړے ده
دینه حال یا استقبال مراد نهٔ دے، دے دَ پاره چه په دے سره په اجراء نبوت
باندے استدلال اُوکړے شو لکه چه دَ مرزائیانو خیال دے.
۳۰ اَلَمۡ یَرَوۡا الخ دا دَ سورت په دعوی باندے اولنے عقلی دلیل دے دا
مشرکانو ته ګوری چه دَ دوئ نه مخکښ دَ مشرکانو قرن په قرن. پیړئ
په پیړئ خلق هلاک کړے شول چه خپل خیالی او ګمان کړے شوی
معبودان به ئے کارساز او شفیع غالب ګنړل او دَ هغوئ باره کښ به ئے
عقیده وه چه په مصیبتونو او مشکلاتو کښ به هغوئ دَ دوئ په کار راشی
لیکن چه کله مونږ هغوئ په عذاب اُونیول نو دَ هغوئ هیڅ یو کارساز او
سفارشی هغوئ ځمونږ دَ عذاب نه خلاص نهٔ کړل او دَ دنیا ته ئے واپس
رانهٔ وستل. اَنَّهُمۡ اِلَیۡهِمۡ لَا یَرۡجِعُوۡنَ. جمله دَ ما قبل مضمون نه بدل دے
بدلٌ من کم اهلکنا علی المعنی (مدارك ج ۴ ص ۶) کذا افاده الشیخ قدس سره

یا دے سره د هغه خلقو رد مقصود دے چه وائیل به ئے اِنْ هِیَ الاحیاتنا الدنیا نموت ونحیا (مؤمنون ع ۳) یعنی قیامت او جزاء سزاء نشته زندګی صرف دادہ چه په دے دنیا کښ څوک مړشی هغه دوباره په بل کوم یو قالب کښ ژوندی شی دُنیا ته راځی. او دا د مرګ او ژوند سلسله به هم داشان جاری وی داعقیده د "تناسخ" نوم سره معروف ده. هم القائلون بالدور من الدهریة وهم الذین یعتقدون جهلا منهم انهم یعودون الی الدنیا کما کانوا فیها فرد الله تبارك وتعالیٰ علیهم باطلهم (ابن کثیر ج ۳ ص ۵۷۰) دے سره د روافضو د عقیدے رجعت بطلان هم واضح شو چه د حضرت علی رضی الله عنه او څمو نورو امامانو د قیامت نه مخکښ دنیا ته د راتللو قائیل دی. ورد بالایة علی القائلین بالرجعة کما ذهب الیه الشیعة (روح ص ۵ ج ۲۳) وفی الایة ردّ علی من زعم ان من الخلق من یرجع قبل القیامة بعد الموت (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۳).

۲۳ له وَاِنْ کُلٌّ الخ د مرګ نه روستو په دنیا ته هیڅوک واپس نۀ راځی. لیکن دا ټول به د قیامت په ورځ مونږ دوباره ژوندی کوؤ او دوئ به ټول د حساب او کتاب د پاره حاضروو. په حضور کښ پیش کولے شی دا د تخویف اُخروی طرف ته اشاره ده.

وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَیْتَةُ ۚۖ اَحْیَیْنٰهَا

او یوه نښه (د قدرت) د دوئ د پاره زمکه ۲۴ له مړه ده هغه مونږه ژوندۍ کړه

وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ یَاْکُلُوْنَ ﴿۳۳﴾

او راوویستلے مونږ د هغې نه دانے نو ناسو د هغے نه خوری.

وَجَعَلْنَا فِیْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِیْلٍ وَّاَعْنَابٍ

او او ګرځول مونږ په هغے کښ باغونه د کجورو او د انګورو

وَّفَجَّرْنَا فِیْهَا مِنَ الْعُیُوْنِ ﴿۳۴﴾ لِیَاْکُلُوْا مِنْ

او روانے کړے مونږ په هغے کښ څینے چینے. چه خوری د هغے د

ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَیْدِیْهِمْ ؕ اَفَلَا یَشْکُرُوْنَ ﴿۳۵﴾

د میوؤ نه او هغه نۀ دی جوړے کړے د دوئ لاسونو، بیا شکر ولے نۀ ادا کوی.

سُبْحٰنَ الَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا

پاک ذات دے چا چه پیدا کړلے دے جوړے د هر څیز د هغه قسم نه

تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا

کوم چه را تو کیږی په زمکه کښ او په خپله د دوئ نه او په هغه څیزونو کښ

لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الَّیْلُ ۖۚ نَسْلَخُ

چه د هغې خبر دوئ ته نشته. یوه نښه ده هغوی د پاره شپه ده مونږ را کاږو

مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالشَّمْسُ

د هغې نه ورځ بیا دوی یانې په تیاره کښ. او نمر

تَجْرِیْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۭ ذٰلِكَ تَقْدِیْرُ

روان دے په خپل مقرر لاره باندے. دا اندازه ده

الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ ﴿۳۸﴾ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ

د هغه زبردست او ښه عالم. او سپوږمۍ مونږ تقسیم کړے ده په منزلونو باندے

حَتّٰی عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِیْمِ ﴿۳۹﴾ لَا الشَّمْسُ

تردے چه اوګرځی لکه او چه څانګه د کجورے زړے ف۱. نه دے نمر

یَنْۢبَغِیْ لَهَاۤ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّیْلُ

چه لاندے کړی سپوږمۍ او نه شپه

سَابِقُ النَّهَارِ ۭ وَكُلٌّ فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾

وړاندے کیدونکے ده د ورځے نه ف۱ او هر یو په آسمان کښ لامبو وهی ف۲.

نکات: ۱ دویم عقلی دلیل ۱۲-۲ تتمه د دلیل عقلی ۱۲-۳ دریم عقلی دلیل ۱۲-

موضح قرآن ف۱ سپوږمۍ او نمر د میاشتے په آخر کښ نژدے کیږی نو سپوږمۍ پټه شوه کله چه مخکښ لاړه نو په نظر را غله. بیا منزل په منزل مخ په وړاندے لاړه تر هغے چه بیا هغه

شان را اُورسیدله تو دَ کهجورے دَ ځانګے پشان په نظر راغله بیا دَ ځانګے پشان اُوګرځیده په پټه شوه میاشت کښ زیاته شوه او پوره شوه. اومنزلونه اته ویشت دی ۱۲ منه رح. ف۲ نمر سپوږمئ تر دے شی نوسپوږمئ نمر نیسي نمر سپوږمئ نه شي نیولے او شپه دَ ورځ نه مخکښ شي هغه داچه بله کومه ورځ راشي او په میانځ کښ دَ شپے واقع کیدلو نه بغیر راشي. او هر ستورے یوه یوه دائره لري هم په هغه دائره او لاره باندے روان وی معلومه شوه چه ستورے پخپله ګرځي داسے نه ده چه په آسمانونو کښ ښخ کړے شوي دی او ولاړ دی او آسمان ګرځي. که چرے داسے وے نو دا به نه وو فرمائیلي چه ګرځي ۱۲ منه رح.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني دَ ورځ پوره کیدلو نه مخکښ نه راځي ۱۲.

تفسیر: ۳۳ وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الخ دا دویم عقلي دلیل دے موړه مړه زمکه دَ رحمت باران سره ژوندۍ کړه او په هغے کښ مونږ دَ انسانانو دَ خوراک دَ پاره قسم قسم غلے دَ انګورو او دَ کهجورو باغونه پیدا کړل دَ زمکے نه چینے روانول داټول هرڅه مونږ کړیدی دا دَ هغوئ دَ لاسونو پیدا وار نه دے او نه هغوئ دَ دے کارونو په کولو قدرت لري لیکن هغوئ بیا هم دَ الله شکر نه اداکوی او دَ هغه په عبادت کښ غیرالله شریکوی. انکار واستقباح لعدم شکرهم للمنعم بالنعم المعدودة بالتوحید والعبادة (روح ج ۲۳ صف) حضرت شیخ فرمائي اَیْدِیْهِمْ کښ ضمیر مجرور نه جنس مخلوق مراد دے او په دے کښ جن، انس، فرښتے ټول داخل دی څنګه چه قل لوانتم تملکون خزائن رحمة ربي الاٰية (بني اسرائیل ع ۱۱) کښ اَنْتُمْ نه عام خطاب مراد دے یعني ټول انعامات او برکات الله درکړي دی څوک چه تاسو معبودان ګرځوئ هغوئ کښ هیڅوک هم په دے کارونو کښ هیڅ اختیار نه لري کله چه په پیدا کولو کښ هغوئ دَ الله سره شریک نه دی نو په عبادت او رابللو کښ هم هغوئ دَ الله سره نه شي شریکیدلے او نه دَ هغه په حضور کښ غالب شفیع جوړیدلے شي.

۳۵ سُبْحٰنَ الخ کوم خیالي معبودان چه مشرکانو شرکاء او سفارشیان جوړ کړي دی الله تعالیٰ دَ هغے نه پاک دے دَ زمکے نه مختلف قسم څیزونه میوے، ګلان او غلے وغیره صرف هغه پیدا کړیدی. وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ او دَ انسانانو په اولاد کښ نر او ښځه دَ ټولو مالک او خالق هم صرف هغه دے هغه دَ داسے بے شماره مخلوق خالق هم دے دَ کوم علم چه هغوی سره نشته دا دَ دویم دلیل تتمه ده.

۲۶ وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الخ دا دریم عقلی دلیل دے د الله تعالیٰ د وحدانیت یو دلیل دا هم دے چه دا نظام شمسی د هغهٔ په قبضه او تصرف کښې دے. د شپے او ورځے تلل راتلل د هغهٔ په اختیار کښې دے کله چه د ورځے رڼرا غائبه شی نو هر طرف ته تیاره خوریږی. وَالشَّمْسُ تَجْرِیْ الخ او نمر خپل آخری حد او منزل پورے باقاعدګئ سره سفر کوی د آخری منزل نه یا خو د قیامت ورځ مراد ده یا د هغهٔ د سالانه او کلیزے دورے آخری منزل مراد دے کله چه هغے ته اُورسیږی دو باره د هغه ځائے نه خپل سفر شروع کوی کوم ځائے نه چه ئے یو کال مخکښې شروع کړے وو. قال قتادة ومقاتل تجری الی وقت لها لا تتعداه. قال الواحدی وعلی هذا مستقرها انتهاء سیرها عند انقضاء الدنیا (روح ج ۲۳ ص۱۲) لحد لها موقت مقدر تنتهی الیه من فلکها فی اٰخر السنة ---- او لا نتهاء امرها عند انقضاء الدنیا (مدارک ج ۴ ص۷) د شپے او ورځے مقدار او د نمر د رفتار اندازه الله پاک پخپله مقرر کړیده چه دا سے غالب دے چه په هغه اندازه کښې بدلون نهٔ شی کیدے او دا سے علیم او خبیر دے چه هغهٔ کومے اندازے مقرر کړی دی هغه ډیرے زیاتے مناسب او صحیح دی.

۲۷ وَالْقَمَرَ الخ او د سپوږمئ منزلونه موږ مقرر کړیدی. چه په یوه میاشت کښې د هغے نه تیریدلو سره هغه خپله دوره پوره کوی او کله چه هغه خپل آخری منزل ته رسیږی نو د اُوچے او زړے څانګے په شان تړئ او کږه په نظر راځی. د سپوږمئ اته ویشت منزلونه دی او هغه کم او زیات په یوه شپه او ورځ کښې یو منزل سفر کوی. لَا الشَّمْسُ یَنْۢبَغِیْ الخ د نمر او سپوږمئ د حکومت اوقات مختلف دی. د نمر حکومت د ورځے او د سپوږمئ حکومت د شپے وی. دا دواړه د خپلو حدودو پابند دی چه یو د بل په دائره حکومت کښې دخل نهٔ شی کولے او دواړه پخپله خپله لاره روان دی. دا ټول نظام د الله په تقدیر او تدبیر روان دے چلیږی. کچرے د مشرکانو خپل خیالی معبودان واقعی حقیقةً کارساز او شفیع غالب دی نو هغوئ دِ په دے نظام کښې معمولی شان ترمیم زیاتے کمے او کړی او بنکاره دِ کړی.

وَاٰیَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّیَّتَهُمْ فِی الْفُلْكِ

او یوه نښه (د قدرت) ده هغوئ د پاره ۲۸ چه موږ سواره کړل د هغوی اولاد په کشتئ

الْمَشْحُوْنِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا

ډکه کړے شوے کښې ول. او اوګرځول مونږ د هغوئ دپاره د کشتۍ پشان څیزونه

يَرْكَبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ

چه په هغې سوریږي. او که چرے مونږ اوغواړو نو دوئ به ډوب کړو بیا به څوک او نه رسیږي

لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا

د دوئ فریاد ته او نه به هغوئ خلاص کړے شي. لیکن (نه یې غرقوو مونږ) په خپله مهربانئ سره او د

وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٤٤﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا

هغوئ د کار چلولو د پاره تر یو نیټے مقرره پورے. او کله چه او ویلے شي دوی ته چه ځان بچ کړئ

مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ

د هغه (عذاب نه) کوم چه ستاسو مخے ته راتلونکے (دنیا کښې) دے او کوم چه ستاسو روستو (راتلونکے) دے شاید چه په

تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ

تاسو رحم اوشي. او هیڅ یو حکم نه راځي هغوئ ته نه

رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِذَا

د خپل رب د حکمونو نه چه دوئ د هغې نه مخ نه اړوي وی ول. او کله چه بلله

قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ قَالَ

او ویلے شو هغوی ته خرچ کړئ بعضے د الله د ورکړے شوی نه وائی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنُطْعِمُ مَنْ

کافران ایمان والو ته چه مونږ ولے اخروو په هغه خلقو

لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗ ۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ

که چرے الله غوښتلے وے نو هغه ته به خوراک ورکړے وو تاسو خلق خو بالکل بے لارے کیږئ

مُّبِيْنٍ ﴿٤٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ

ښکاره وف ۳ او وائی ۳۲ کله به وی دا وعده

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً

که چرې تاسو رښتونی یئ . دوی خو انتظار کوی دَ چغې

وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَا

یوې چه دوی به اونیسی کله چه به دوی په جګړه وی ﴿۲﴾ . بیا به

يَسْتَطِيْعُوْنَ تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾

طاقت نهٔ لری چه څهٔ اووائی او مړه شی او نه به خپلو کورونو ته واپس تللے شی .

نکات: سـ۱ ـ څلورم عقلی دلیل ۱۲ - سـ۲ ـ شکوی ۱۲ - سـ۳ ـ دا هم شکوی ده ۱۲ سـ۴ ـ تخویف اُخروی ۱۲ -

موضح قرآن ف۱ یعنی دَ حضرت نوح علیه السلام په وخت کښې کښې دَ انسان تخم په هم نهٔ وے پاتے شوے ۱۲ منه رح

ف۲ مخے ته راتلی دَ جزاء ورځ او روستوئے پریښودلی دی اعمال ۱۲ منه رح

ف۳ دغه ګمراهی ده چه په نیک کار کښې په تقدیر حواله ورکول او په مزو حاصلولو کښې طمع او اُمید پسے متړے وهل ۱۲ - ف۴ یعنی قیامت به ناڅاپه راځی او هغوئ به په خپلو معاملاتو کښې غرق وی ۱۲ منه رح -

تفسیر: ۴۱ دَ آیة وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا الخ دا څلورم عقلی دلیل دے دا هم دَ الله دَ وحدانیت او قدرت کامله دلیل دے چه موږ هغوئ دَ انسانانو ته په کشتئ کښې سوار ګړو دَ دریابو تو او سمندرونو نه ئے صحیح سلامت پورې پاسو او دَ کشتو پشان نور هم ډیر څیزونه موږ دَ هغوئ دَ سورلئ دَ پاره پیدا کړی دی . که چرے موږ اُوغواړو نو هغوئ به غرق کړو دغه وخت به دَ هغوئ خیالی او ګمان کړے شوی کارسازان دَ هغوئ نهٔ فریاد رسی اُوکړی او نهٔ به هغوئ دَ غرقیدلو نه بچ کړی لیکن دا خو موږ په خپله خپلے مهربانئ سره بچ کړل او تر یو مقرر وخت پورې (چه دَ مرګ وخت دے) هغوئ ته دَ دُنیا دَ نعمتونو نه دَ فائدے اخستلو مهلت ورکړو مِنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ نه مراد اُوښان دی چه په اُوچه کښې ئے دَ سورلئ دَ پاره پیدا کړل . روی عن ابن عباسؓ ان معنی من مثله للابل خلقها لهم للرکوب فی البر مثل السفن المرکوبة فی البحر (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۵) . حضرت شیخ فرمائی دَ آیت دَ سیاق په رڼا کښې ممکن ده چه دَ مِّثْلِهٖ نه هغه پُلونه مراد دی چه په سیندونو ټکر کولو باندې په یو مناسب فاصله چه هغه په پیرو سره مضبوط تړلے شی او دَ هغې په ذریعه په لامبو وهلو سره دریا پار کوی

۲۹ه وَاِذَا قِیۡلَ الخ دَ تخلوړ و دلیلونو نه روستو مشرکانو باندې شکوی ده لو دَ اِذَا جواب محذوف دې ای اعرضوا (روح) مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡکُمۡ، په تیر شوو قومونو باندې نازلیدونکے عذاب وَمَا خَلۡفَکُمۡ دَ آخرت عذاب (خازن، معالم) کله چه دَ خیر خواهئ په غرض هغوئ ته اُوئیلے شي چه دَ تیر شوو قومونو دَ انجام نه اُوویریږئ چرته تاسو هم دَ عذاب الٰهی سره هلاک نکړے شئ او دَ آخرت دَ عذاب نه اُوویریږئ چه دَ معاندینو دَ پاره تیار کړے شوے دے یعنی ایمان راوړئ دے دَ پاره چه تاسو دَ الله دَ رحمت مستحق شئ نو هغوئ دَ داسې پند او نصیحت نه مخ اړوی۔

۳۰ه وَمَا تَاۡتِیۡهِمۡ الخ دَ دوئ عادت بس دا دے چه کله هم دوئ ته دَ الله آیتونه چه دَ هغهٔ په توحید او کمالِ قدرت باندې دلالت کوی آوروَلے شی نو هغوئ دَ دینه مخ اړوی او په هغې کښ دَ غور او فکر کولو او پوهیدلو کوشش نهٔ کوی۔ ای ما ظهرت لهم آیة من الآیات التی من جملتها ما ذکر من شئونه تعالٰی الشاهدة بوحدانیته سبحانه وتفرده تعالٰی بالالوهیة إلا کانوا عنها معرضین تارکین النظر الصحیح فیها المؤدی الی الایمان به عز وجل (روح ج ۲۳ ص ۲۹)۔

۳۱ه وَاِذَا قِیۡلَ الخ دا شکوی ده دِ سره دَ معاندینو عناد او سرکشئ ته اشاره ده۔ کله چه هغوئ ته وئیلے شی الله چه تاسو ته کوم رزق درکړیدے هغے نه دَ الله په لاره کښ غریب او مسکین ته هم څهٔ ورکړئ۔ قَالَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا الخ نو هغوئ دَ عناد او مسخرو په طور جواب ورکوی چه موږ دَ الله تعالٰی په مشیت او دَ هغهٔ په معاملا تو کښ کار کولو ته تیار نهٔ یو غریبانان او مسکینان خدائے پخپله محتاج پیدا کړی دی که چرے هغهٔ غوښتلے نو هغوئ به ئے مالدار کړے وے۔ کله چه هغهٔ پخپله هغوئ مالدار نکړل نو دَ هغهٔ په کار کښ مداخلت کولو سره موږ هغوئ ولے مالدار جوړ کړو۔ عن ابن عباس رضی الله عنهما کان بمکة زنادقة فاذا امروا بالصدقة علی المساکین قالوا لا والله أیفقره الله ونطعمه نحن (مدارک ج ۴ ص ۸)

۳۲ه وَیَقُوۡلُوۡنَ الخ دا تخویف اُخروی دے او دَ دے په ضمن کښ شکوی ده مشرکین وائی دا دَ قیامت والا وعده به کله پوره شی؟ که چرے تاسو رښتونے یئ نو دَ هغې صحیح صحیح وخت اُوښایئ۔ مَا یَنۡظُرُوۡنَ الخ دا دَ هغوئ دَ سوال جواب دے۔ چه دَ قیامت دَ قائم کیدلو معین وخت دَ الله نه سیوا بل هیچا ته معلوم نهٔ دے او دَ الله دَ حکمت بالغه تقاضا هم دا ده چه دَ هغې معین وخت پټ اُوساتلے شی او دَ هغې واقع کیدل به ناڅاپه وی۔ نو چه دَ کوم څیز انتظار کوئ هغه به ناڅاپه دَ یو ویره وونکی هیبت ناک آواز په

مو ر ت کښ ظاهریږی چه تا څاپه به ټول اُونیسی حال دا دے چه هغوئ به د دُنیا جګړو کښ مشغول وی. فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ الخ د دغه هولناک دهشتناک آواز نه روستو به ټول خلق فورًا مړهٔ شی او هغوئ ته به دومره مهلت هم نهٔ ورکول کیږی چه هغوئ څهٔ وصیت اُوکړی یا خپلو کورونو ته واپس لاړ شی. صَیْحَةً وَّاحِدَةً ته اوله شپیلئ مراد ده چه هغے سره به هر ساه لرونکے د مرګ په خوب اُوده شی. وهی النفخة الاولٰی فی الصور التی یموت بها اهل الارض (روح ج ۲۳ ص۳۱).

وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ

او پوکے به اُووهلے شی په شپیلئ کښ ۳۲ بیا به دغه وخت هغوئ د قبرونو نه

اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ۝٥١ قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا

د خپل رب طرف ته خواره شی. وائی به اے خرابئ ځمونږ چا راپاخولو مونږ

مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ

ځمونږ د خوابګاه نه دا هغه (وبیم ژوند) دے چه وعده کړے وه رحمٰن

وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ۝٥٢ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً

او رښتیا وئیلے وو پیغمبرانو بس وی به ۳۳ آواز

وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝٥٣

یو بیا به دغه وخت هغوئ ټول مونږ ته تیولے راوستلے شی.

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ

بیا به نن ورځ ظلم نه وی په هیڅ یو نفس باندے لږ هم او هغه بدله به بیا مومئ

اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٥٤ اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ

کوم چه تاسو کول. بیشکه د جنت خلق ۳۴ ۳۵

الْيَوْمَ فِیْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ۝٥٥ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ

نن په مشغولتیا کښ دی خبرے کوونکی. هغوئ او د هغوئ ښځے

فِیْ ظِلٰلٍ عَلَی الْاَرَآئِکِ مُتَّکِـُٔوْنَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ

په سورو کښ په تختونو تکیه لګوونکی دی. هغوئ دپاره دی

فِیْهَا فَاکِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا یَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾ سَلٰمٌ

هلته میوے او هغوئ دپاره دی څه چه غواړی. سلام

قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ ﴿۵۸﴾ وَامْتَازُوا الْیَوْمَ اَیُّهَا

وئیل دی د رب مهربان لطرف. او تاسو جدا شئ ۳۴ نن اے

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَیْکُمْ یٰبَنِیْٓ اٰدَمَ

ګنهګارانو. ما نه وؤ وئیلی تاسو ته اے د آدم اولاد

اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّیْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَکُمْ

چه عبادت مه کوئ د شیطان هغه ستاسو

عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۶۰﴾ وَّاَنِ اعْبُدُوْنِیْ ؕ هٰذَا

دښمن ښکاره دے. او دا چه عبادت کوئ زما دا

صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۶۱﴾

سمه لار ده.

نکات: ۔ ۳۳ تخویف أخروی ۱۲۔ ۳۴ بشارت أخروی ۱۲۔ ۳۵ تخویف أخروی ۱۲۔

تفسیر: ۳۳ وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ الخ دا تخویف أخروی دے. اَجْدَاث جمع د جدث ده یعنی قبرونه. یَنْسِلُوْنَ، یسرعون، منډے به وهی دینه دویمه شپیلئ مراد ده یعنی چه هغے سره به ټول مړی راژوندی شی قبرونو نه او د محشر میدان ته به منډے وهی. قَالُوْا مَنْ بَعَثَنَا الخ د قیامت منظر به دومره ویره وونکے او هیبت ناک وی چه د کافرانو نه به د قبرونو عذاب هیر شی او خیال به کوی چه مونږ تر اوسه پورے اوده وو د دے وجے نه چه کله د قبرونو نه راپاځی نو دیویل نه به تپوس کوی۔ مونږ د خوب نه چا راپاځولو والقوم لاختلاط عقولهم ظنوا انهم کانوا نیاما ولم یکن لهم ادراک لعذاب القبر لذلک فاستفهموا عن موقظهم (روح ۲۳ ۳۳)

ص۳۳) هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ الخ لیکن چه کله هغوئ اوینی چه هر طرف ته د ملخانو پشان د انسانانو یو سیلاب دے ټول پریشان او حواس ئے کار نه کوی او ټولو باندے د ویرے کیفیت جاری دے نو پوهه به شي چه دا خو هغه د قیامت نقشه ده چه د کوم نه به په دُنیا کښ مونږ د الله پیغمبر ویرولو. د دے وجے نه به د خپل سوال جواب پخپله ورکړی چه دا خو هغه قیامت دے د کوم د راتلو وعده چه الله کړے وه. بیشکه د الله رسول رښتونی وو، د هغهٔ د وینا مطابق قیامت راغلے دے.

۳۴ه اِنْ كَانَتْ الخ دا د دویمے شپیلئ طرف ته اشاره ده یعنی دا شپیلئ به یو ویره وونکے اواز وی چه هغے سره به ټول مړی راژوندی شي او فوراً به مخمونږ په مخکښ حاضر کړے شي یعنی احیائهم ویعثهم کان بصیحة واحدة (قرطبی ج ۱۵ ص۴۳) فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ الخ دا خطاب به صرف کافرانو سره وی یا به مؤمنانو او کافرانو دواړو سره وی یعنی نن به هیڅ یو انسان سره تیک وی یا بد د ذرے برابر هم بے انصافی نهٔ کیږی او هر یو ته به د خپلو عملونو جزاء او سزاء ملاویږی او هیچا ته به د ناکړی ګناه سزاء نهٔ شی ورکولے.

۳۵ه اِنَّ اَصْحٰبَ الخ دا بشارت اُخروی دے. اهلِ جنت به د جنت سکون نه ډکے فضاء کښ د عیش او خوشحالئ په مصروفیت کښ خوشحاله او تازه وی هغوئ به د خپلو ښځو سره په یخ سوری کښ په عالی شان تختونو باندے تکیه لګولے وی آرام به کوی. او په جنت کښ به هغوئ ته نهٔ صرف هره میوه ملاویږی بلکه هر هغه څیز چه هغوئ ئے تمنا کوی او کوم څیز چه هغوئ طلب کوی هغوئ ته به ملاویږی.

سَلٰمٌ قَوْلًا مِنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ، سَلٰمٌ د خبر مقدم محذوف د پاره مبتداء ده ای لهم او قَوْلًا د فعل مقدر مفعول مطلق دے او دا جمله د سلام صفت دے. د اهلِ جنت به دا د ټولو نه لوئے اعزاز وی چه الله تعالیٰ به په هغوئ پخپله سلام اچوی. ای سلام یقال لهم قولًا من جهة رب رحیم ای یسلام علیهم من جهته تعالیٰ بلا واسطة تعظیما لهم (روح ج ۲۳ ص۳۵). ۳۶ه وَامْتَازُوْا الخ دا د اهلِ جنت په مقابله کښ د دوزخیانو ذکر دے او تخویف اُخروی دے. د حشر په میدان کښ به کافرانو او مشرکانو ته د ټول مخلوق په مخکښ حکم اوشي اے ګناهګارانو د نیکانو نه جدا شئ او یو طرف ته خپل صفونه جوړ کړئ اَلَمْ اَعْهَدْ الخ د کافرانو په حسرت او پښیمانتیا کښ د اضافے کولو د پاره به هغوئ ته اُووئیلے شی اے د آدم اولاده! آیا ما تاسو ته د خپلو پیغمبرانو په واسطے سره نهٔ وو وئیلی

چه د شیطان پیروی مه کوئ او د هغهٔ په فریب کښې راتللو سره څما سره شرک مه کوئ ځکه چه هغه ستاسو ښکاره دشمن دے او صرف څما عبادت کوئ او څما په عبادت او رابللو کښې هیڅوک مه شریکوئ او هیڅوک څما په حضور کښې شفیع غالب مه گڼړئ. اعبدونی وحدونی واطیعونی (مدارک ج ۴ ص ۶). هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ۝ یعنی د شیطان دهوکه کښې راتللو سره د غیر الله عبادت مه کوئ او صرف د الله عبادت کوئ. بس دا صراط مستقیم (تیغه او سمه لار) ده چه په هغې ټول انبیاء علیهم السلام ته د تللو حکم ورکړے شو ای عبادته تعالیٰ اذا لم تنفرو عن عبادة ..... غیره سبحانه لا تسمی صراطا مستقیما (روح ج ۲۳ ص ۴۶)

وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ

او هغهٔ بے لارے کړل ستاسو نه ګڼه ډیر مخلوق بیا

تَكُونُوا تَعْقِلُونَ ۝٦٢ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي

تاسو کښې عقل نهٔ وو . دا دوزخ دے هغه چه د کوم

كُنتُمْ تُوعَدُونَ ۝٦٣ اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا

ستاسو سره وعده وه . ننوځئ دیته نن ورځ په بدله کښې

كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ۝٦٤ الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ

د خپل کفر نن به موږ وهلو مهر لګوو په

أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ

خُلو د هغوئ باندے او خبرے به کوی موږ سره لاسونه د هغوئ او بیانوی به

أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝٦٥

خپے د هغوئ کوم څهٔ چه هغوئ کول .

وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا

او که چرته موږ اوغواړو نو ختم به کړو د دوئ نظرونه بیا به منډے کړی

الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿۶۶﴾ وَلَوْ نَشَآءُ
(لار) موندلو د پاره بیا به چرته وی دوئ چه اُوینی (لاع) او که چرے مونږ اُوغواړو
لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا
نو شکلونه به ئے بدل کړو په خپلو ځایونو کښې بیا به و نه توانیدے نه شی تللے
مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ
او نه به واپس بیا په شا راُوګرځی او څوک چه مونږ اُوږد اُکړو عمر ئے
نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾
نو نسکور کړو هغه په خپل پیدائش کښې بیا دوئ کښې عقل نشته -

نکات: سلے زجر ۱۲۔

تفسیر: ۳۷ه وَلَقَدْ اَضَلَّ الخ دے شیطان بے شماره اولاد آدم ګمراهان کړل دا د هغهٔ د انسان دشمنئ یو واضح دلیل دے۔ لیکن بیا هم تاسو د عقل نه کار وانخستو او نهٔ تاسو سوچ اُوکړو چه شیطان څومره دشمن دے او مونږ په جهنم کښې غور څول غواړی د دے وجے نه د هغهٔ د فریب نه بچ کیدل پکار دی او د هغهٔ د خبرے منلو په ځائے د خپل خالق حقیقی خالص عبادت کول پکار دی او د هغهٔ د احکامو تابعداری کول پکار ده۔ ۳۸ه هٰذِهٖ الخ د توبیخ او چپ کولو نه روستو به ارشاد وی۔ اُوګورئ! دا هغه جهنم دے چه د کوم وعده ستاسو سره د پیغمبر په ژبه شوې وه اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ الخ نن هغے ته داخل شئ او دا ستاسو د کفر او شرک او تکذیب انبیاء سزاء ده۔

۳۹ه اَلْيَوْمَ الخ د قیامت په ورځ به د کافرانو او مشرکانو دا حال وی چه د قیامت په ورځ به هغوئ د خپلو ګناهونو او جرمونو نه انکار کوی لکه چه بل ځائے کښې د هغوئ قول نقل شوے دے وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ (انعام ع۳) نو دغه وخت به د هغوئ ژبے بندولے شی او هغے ته به د ویناه او خبرو طاقت سلب کولے شی او د الله په حکم سره به د هغوئ لاسونه او خپے خبرے شروع کړی او کوم کار ونه چه هغوئ کړے وی هغه به ټول بیان کړی۔
وفی الحدیث انهم یجحدون ویختصمون فیختم علی افواههم وتتکلم ایدیهم وارجلهم (بیضاوی)
۴۰ه وَلَوْ نَشَآءُ الخ او که چرے مونږ اُوغواړو نو د دوئ سترګے به ختمے کړو

او د دوئ د سترګو ځائے به هموار کړو بیا به هغوئ د لارے په طرف ځغلېږي کیږي نو څنګه به لیدل اوکړي یعنی څنګه چه د دوئ د عناد او د بیا بیا نافرمانئ کولو په وجے سره موږ د دوئ د زړهٔ سترګے د بصیرت نه محروم کړې دي او د دوئ نه موږ د ایمان توفیق سلب کړے دے که چرے موږ اوغواړو نو د دوئ ظاهري سترګے به هم د بصارت نه محروم کړو. وَلَوْ نَشَاۗءُ لَمَسَخْنٰهُمْ الخ او که چرے موږ اوغواړو نو دوئ چه چرته دي هم هلته به ئے ګټې کانړي اوګرځوو او هغوئ به نهٔ مخکښ تللے شي او نهٔ به واپس کیدلے شي څنګه چه موږ د دوئ نه قوت عقلیه سلب کړیدے داشان که چرے موږ اوغواړو نو د دوئ قوت جسماني به هم تر دیته واخلو او ختم به ئے کړو او هغوئ به جماد محض (بے حس او حرکت) اوګرځي (کذا في الکبیر) داخلق طغیان، عصیان، ضد او عناد کښ دومره ډیر مخکښ تللي دي چه د دے مستحق ګرځیدلي دي چه د هغوئ د ظاهري سترګو لیدل او جسماني قوت ختم کړے شي لیکن الله تعالیٰ د خپل رحمت شامله او حکمت بالغه ته نظر کولو سره داسے اونهٔ کړل ومعنی هذه الاٰیة والاٰیة السابقة علی تأویل الحسن انهم لکفرهم ونقضهم العهد احقاء ان یفعل بهم ذلك لکنا لم نفعل لشمول الرحمة لهم في الدنیا واقتضاء الحکمة امهالهم (مظهري ج ۸ ص ۹۶).

۶۸ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ الخ دا زجر دے موږ تاسو ته دومره ډیر عمر در کړو چه کوم سړے صدق دل سره د حق پیژندلو اراده اوکړي نو هغه دومره وخت کښ پیژندلے او معلومولے شي. کله چه تاسو په ځوانئ کښ حق اونهٔ پیژنده کله چه جسماني قوتونه صحیح او ځوان وي نو په بوډا والي کښ به ئے څهٔ اوپیژنئ کله چه ټول قوتونه کمزوري شي. ځکه چه موږ چا ته زیات عمر ورکوؤ نو هغه ورځ په ورځ د کمزورئ طرف ته بیایو. امام رازي فرمائي دلته د کافرانو عذر ختم شوے دے. د قیامت په ورځ به کافران اووائي موږ ته په دُنیا کښ ډیر کم مهلت راکړے شوے وو که چرے موږ ته ډیر اوګده عمر راکړے شوے وے نو ضرور به موږ ایمان راوړے وے. نو دے فرمائیل د پوهیدلو او سوچ کولو د پاره تاسو ته کافي عمر درکړے شوے وو او تر زیات عمر کښ خو قوتونه بیکاره ګرځي هغه وخت د پوهے او سوچ صلاحیت باقي نهٔ پاتے کیږي شرع في عذر آخر وهو ان الکافر یقول لم یکن لبثنا في الدنیا الا یسیرا ولو عمرتنا لما وجدت منا تقصیر اخقال تعالیٰ افلا تعقلون انکم کلما دخلتم في السن ضعفتم وقد عمرناکم مقدارا تتمکنون من البحث والادراك الخ (کبیر).

وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ۭ اِنْ هُوَ

او مونږ هغهٔ ته نهٔ دے ښودلے شعر ویل ﷺ او دا مناسب نهٔ دے هغهٔ سره دا نهٔ

اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ

خالص نصیحت دے او قرآن دے صفا. دے کپاره چه اُووېروي هغه څوک

كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٠﴾

ﷺ چه په هغهٔ کښ روح وی مله او ثابت شي الزام په کافرانو باندے ول.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ

آیا او دوئ نهٔ گوري ﷺ هغه څهٔ چه مونږ پیدا کړل د دوئ د پاره جوړ کړے شوي څیزونو نه

اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾

د خپلو لاسونو چارپایان بیا هغوئ د دے مالکان دی.

وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا

او عاجز کړی دی مونږ د دوئ په مخکښ بیا په هغے کښ ځنے د دوئ سورلئ دی او ځنے

يَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۭ

او د دوئ د پاره په څارووکښ فائدے دی او د څکلو چینے خوری.

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

بیا شکر ولے نهٔ ادا کوئ. او نیسي ﷺ سیوا د

اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

الله نه نور حاکمان (معبودان) چه شائي د دوئ امداد اُوکړی طاقت نهٔ لري

نَصْرَهُمْ ۙ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَا

د دوئ د امداد او هغوئ به د دوئ لښکر شي چه تبولے به راوستلے شي (دوزخ ته) اُوس

يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ

ته ما خفه کیږه په خبره د دوئ مونږ پېژنو ﷺ کوم څهٔ چه هغوئ پټوی

وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

او کوم څه چه ښکاره کوی

نکات: ۱ د مشرکانو د شبهې جواب او د نبی علیه السلام د صداقت دلیل ۲ پنځم عقلی دلیل ۱۲. ۳ زجر ۱۲. ۴ تسلی ۱۲.

موضح قرآن ف چاکښې چه روح وی یعنی نیک اثر قبلوی د هغه دپاره فائده ده او په منکر یتو باندې الزام (حجت) قائم شی ۱۲ منه.

فتح الرحمٰن ف یعنی د پوهې خاوندان وی ۱۲.

تفسیر: ۴۲ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ الخ دا د مشرکانو د یوې شبهې جواب دے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صداقت یو واضح دلیل دے. مشرکانو به وئیل محمد (صلی الله علیه وسلم) شاعر دے او دا قرآن شاعرانه کلام دے. وې وئیل د شاعرۍ علم او د شاعرۍ استعداد موږ خپل پیغمبر ته نه دے ورکړے او نه شاعری د هغهٔ د شان سره مناسب ده. دا کلام د الله د طرف نه پند او نصیحت دے او واضحه طور باندې د الله د طرف نه نازل شوے قرآن دے او دا سے معجزه ده چه د بشر د طاقت نه بهر ده. د شاعر نه کیدلو باوجود دا سے بے مثل او معجز کلام پیش کول چه د بشر د قوت او استطاعت د دائرې نه بهر وی د نبی علیه السلام د نبوت یو ډیر لوئے نشان دے وجعل الله جل وعز ذلک علما من اعلام نبیه علیه السلام لئلا تدخل الشبهة علی من ارسل الیه فیظن انه قوی علی القرآن بما فی طبعه من القوة علی الشعر (قرطبی ج ۱۵ ص۵۵) نبی علیه السلام شعر نه خوښولو نه هغوئ چرته د شعر موزون کولو کوشش کړے وو. او نه شعر هغوئ سره موزون کیدے شو. وما یصح له الشعر ولا یتأتی له ان اراد قرضه علی ما اختبرتم طبعه نحوا من اربعین سنة (بیضاوی) ای جعلناه بحیث لو اراد قرض الشعر لم یتأت له ولم یتسهل کما جعلناه امیا لا یهتدی الی الخط لتکون الحجة اثبت والشبهة ادحض (مدارک ج ۴ ص۱۷) دے آیت نه د اهل بدعت د هغه دعوې بطلان ښکاره په ډاګه شو چه نبی علیه السلام ته د ماکان او ما یکون (د موجود او موجویدونکی) علم غیب کلی حاصل وو. دے آیت بالکل په صفا او واضح لفظونو کښ اعلان اوکړو چه شعر علم الله پاک هغوئ ته نه وو ورکړے. د دے وجې نه د علم غیب کلی دعوی باطل شوه د نبی علیه السلام د ژبې مبارکې نه ځنې موزون او مقفی عبارتونه صادر

شویدی مثلاً انا النبی لاکذب - انا ابن عبد المطلب وغیره داد شعر په زمره کښ داخل نهٔ دی ځکه چه داعیاړ تو ته غیر ارادی او بلا قصد محض اتفاقی طور باندے موزون کړے شوي وو او شعر قصداً او ارادے سره موزون او مقفیٰ کړځولے شي. وهذا مما اتفق له علیه الصلوٰة والسلام من غیر قصد لوزنه ومثله یقع کثیراً فی الکلام المنثور ولا یسمّٰی شعراً ولا قائله شاعراً (روح ج ۲۳ ص۴۸).

۴۳ لِّيُنْذِرَ الخ دا قرآن شعر نهٔ دے بلکه د الله کلام دے چه هغهٔ په پیغمبر نازل کړیدے د پاره چه هغه د پوهے والؤ ته د هغهٔ پیغام واؤروی او هغوئ په دے عمل اوکړی او په کافرانو باندے د الله تعالیٰ حجت قائم شی حَیًّا نه مؤمن مراد دے د ایمان تشبیه د حیات سره ورکړے شویده ځکه چه ایمان سره د زړهٔ حیات دے. (مَنْ كَانَ حَيًّا) یعنی مؤمنا حی القلب لان الکافر کالمیت الذی لا یتدبر ولا یتفکر (معالم وخازن ج ۶ ص۱۶).

۴۴ أَوَلَمْ يَرَوْا الخ دا پنځم عقلی دلیل دے موږ هغوئ د پاره مختلف قسم چارپایان پیدا کړیدی چه د دوئ په قبضه کښ دی او د دوئ تابعدار او حکم منونکی دی ځنے د سورلئ او بار وړلو د پاره دی ځنے داسے دی چه د هغے پئ څکی د دینه علاوه تورے مختلف قسم فائدے هم دی. لیکن بیا هم هغوئ د الله شکر نهٔ اداکوی او د هغهٔ په عبادت او رایللوکښ تورمخلق شریک کرځوی او د الله په نزد هغه شفیع غالب کڼړی حال دا دے چه د دے چارپایانو په تخلیق کښ او دے انعاماتو ورکولوکښ د هغوئ هیڅ حصه نشته د دے وجے نه هغه شفیع غالب هم نهٔ شی کیدلے.

۴۵ وَاتَّخَذُوا الخ دا زجر دے د الله د داسے انعاماتو باوجود مشرکانو د الله نه سیوا تور معبودان او سفارشیان جوړ کړی وو دے د پاره چه د ضرورت په وخت هغوئ د دوئ مدد اوکړی لیکن د ضرورت په وخت هغوئ هرګز د دوئ مدد نهٔ شی کولے حال دا دے چه کافران په خپل ګمان کښ دا معبودان خپل مددګار او سفارشیان کڼړی. قال الشیخ قدس سرّه وهم لهم جند محضرون ای معبودا تهم لهم ای للکفار جند فی زعمهم حاضرون تشفع لهم (بلغة ص۲۸۳) یا مطلب دا دے چه د دوئ ګمان کړے شوی معبودان به د دوئ څهٔ امداد اوکړی کله چه هغوئ خپل مدد او حفاظت نهٔ شی کولے. بلکه د هغوئ نګرانی او حفاظت د هغوئ عبادت کوونکی کوی. اعوان وشیعة یخدمونهم ویذبون عنهم (مدارک ج ۴ ص۱۱).

۴۶ فَلَا يَحْزُنْكَ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده او مشرکانو د پاره تخویف اخروی دے. د مشرکانو تکذیب او بد وئیلو او الزام لګولو سره د

ستاسو زړۀ ځفه نۀ شي. موږ ته د دوئ ټول شرارتونه او خباثتونه معلوم دي او هغوئ ته به د هغوئ د شرارت او د انکار ئې پوره پوره سزاء ورکوو.

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ

آیا نۀ ګوري انسان ځکه چه موږ هغۀ پیدا کړو د یو څاڅکي نه

فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا

بیا دغه وخت هغه ښو جګړه کوونکے بحث کوونکے ښکاره. او ترې موږ باندې یو مثل

وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ

او هیر ئې کړل خپل پیدائش، وائي څوک به ژوندي کړي هډوکي

وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا

کله چه هغه وراسته شول. ته او وایه هغه به ژوندي کړي ﴿۷۸﴾ چا چه پیدا کړل

أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

اول ځل، او هغه په هر قسم پیدائش ښۀ عالم دے.

الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا

چا چه پیدا کړے دے ستاسو د پاره د ګله اونې شنې نه اور

فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي

بیا اوس تاسو د هغې (اور) بلوئ ول آیا چا چه نۀ

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ

پیدا کړل آسمانونه او زمکه نشي پیدا کولے د دے پشان ولے نۀ

يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ وقف غفران

رشي پیدا کولے) او هغه دے اصلي پیدا کوونکے

الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ

په ټول هر څۀ خبردار. د هغه حکم بس دا دے چه کله کول او غواړي د یو څیز نو

يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٨٢﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ

او وائي هغه ته شه (موجود) نو هغه هغه وخت (موجود) شي. نو پاک دے هغه ذات چه

بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ ع ۵

د هغهٔ الله په لاس کښ حکومت د هر څيز دے او د هغهٔ طرف ته به واپس بيا ورځئ.

نکات: سـ۱ـ زجر او شکوی ۱۲. سـ۲ـ د شکوے جواب ۱۲. سـ۳ـ د سورت خلاصه ۱۲

موضح قرآن ف۱ يعني د کانړی نه اور را اوباسي. يا د څځنو او تو شنے ځانګے خپل مينځ کښ يو د بل سره او مښلے شي نو د هغے نه اور را اوځي. لکه بانس، يا مرخ، يا عقار ۱۲ منه رح.

تفسير: ۴۷ه اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ الخ دا زجر او شکوی ده انسان دا سوچ نهٔ کوی چه مونږ هغه د حقير او کمزورے نطفے نه پيدا کړے دے ليکن د سوچ کولو په ځائے چه کله لوئے شو نو څمونږ مقابله ئے شروع کړه او جهګړه ئے شروع کړه او دوباره ژوندی کولو بانده ئے څمونږ د قدرت د پاره عجيبه او نا اشنا مثالونه بيانول شروع کړل. مثلاً وائي آيا دا زاړهٔ او خاورے شوی هډوکی به هغه بيا دوباره ژوندی کړی؟ لکه چه څمونږ قدرت ئے په خپل قدرت بانده قياس کول شروع کړهٔ ليکن خپل پيدائش ئے هير کړو چه هغه بالکل معدوم او نهٔ وو او مونږ هغوئ پيدا کړل. (ضَرَبَ لَنَا مَثَلًا) امرا عجيبا وهو نفی القدرة علی احياء الموتی وتشبيهه بخلقه بوصفه بالعجز عنه (بيضاوی)

۴۸ه قُلْ يُحْيِيْهَا الخ دا جواب شکوی دے او ور سره ور سره په بعث او نشور (قيامت) بانده عقلی دليل هم دے او وائي په زړو هډوکيش به روح اوژوند سر دوباره هغه څوک واچوی چا چه هغه اول د عدم نه وجود ته او د نيشت نه شته کړيدی او هغه مخلوق ته خبر دے د هر مړی جدا جدا او خواره شوی اجزاء هغهٔ ته معلوم دی او په بدن کښ د هر جزء او حصے مقام هم هغهٔ ته معلوم دے يعلم جل وعلا بجميع الاجزاء المتفتتة المتبددة لکل شخص من الاشخاص اصولها وفروعها واوضاع بعضها من بعض من الاتصال والانفصال والاجتماع والافتراق فيعيد کلا من ذلک علی النمط السابق مع القوی التی کانت قبل (روح ج ۲۳ ص ۵۵)

۴۹ه اَلَّذِيْ جَعَلَ الخ د هغهٔ د قدرت کامله يوه ادنی کارنامه ده چه هغهٔ د يوے شنے اونے نه اور را اوباسي چه تاسو هغه بلوئ شنه اونه مراد غفار، کيوے شنے اونے نه اور را اوباسي چه تاسو هغه بلوئ شنه اونه مراد غفار، بانس او مرخ دی. د دے دريو اونو تازه ځانګے به ئے يو بل سره اومږلے او

اور به ئے ترینه حاصل کړو. وهی الزنا والتی توری بها الاعراب واکثرها من
المرخ والعفار (مدارک ج ۴ ص ۱۲)

۵۵ اَوَلَیْسَ الخ کوم قادر او طاقتور قیوم او دانا چه اسمانونه او زمکه
پیدا کړل آیا هغه انسانان دوباره په خپلو شکلونو باندې ته ئ شي پیدا کولے؟
ولے نه! ضرور ئے پیدا کولے شي حال دا دے چه هغه د ټول کائنات مالک
او خالق او د ټول هر څه نه خبر دے. اِنَّمَآ اَمۡرُهٗ الخ هغه ته د کوم څیز
پیدا کول څه مشکل نه دي بلکه ډیر زیات اسان دي هغه چه کله د یو
څیز د پیدا کولو اراده کوي نو د هغه ارادے کولو سره هغه څیز د وجود
جامه اغوندي. دا شان د انسانانو د دوباره ژوندي کولو د پاره صرف
د هغه اراده کافي ده.

۵۶ فَسُبۡحٰنَ الخ دا په اخر کښ د ټول سورت خلاصه ده الله تعالیٰ د هغه
ټولو شریکانو نه پوره ته او پاک دے کوم چه مشرکان د الله نه سوا معبودان
او سفارشیان کرځوي. د ټول کائنات مکمل قبضه د هغه په اختیار کښ
ده چه ټول کائنات کښ هغه مختار کل دے او متصرف مطلق دے او په اخر
کښ به هم ټول د هغه په حضور کښ حاضروی کړے شي نو د هغه نه سیوا
څوک معبود او کارساز نشته او نه د هغه په دربار کښ شفیع غالب شته د
دے وجے نه په حاجاتو او مشکلاتو کښ ما فوق الاسباب هغه ته آواز کوئ.
واٰخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

سورۂ یٰسٓ کښ د توحید آیتونه

---

① وَمَا لِيَ لَآ اَعۡبُدُ الَّذِيۡ فَطَرَنِيۡ ـــ نه تر ـــ لَا تُغۡنِ عَنِّيۡ شَفَاعَتُهُمۡ شَيۡــًٔا وَّلَا يُنۡقِذُوۡنِ ؕ (۲۳) نفي د شرک اعتقادي او نفي د شفاعت قهري.

② وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الۡاَرۡضُ الۡمَيۡتَةُ ـــ نه تر ـــ فَلَا صَرِيۡخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنۡقَذُوۡنَ ؕ (۴۳) نفی د شرک فی التصرف.

③ وَمَا عَلَّمۡنٰهُ الشِّعۡرَ ـــ نه تر ـــ وَّقُرۡاٰنٌ مُّبِيۡنٌ ؕ (۶۹) نفی د علم شعر د نبی نه او د نبي علیه السلام د صداقت دلیل.

④ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا خَلَقۡنَا ـــ نه تر ـــ اَفَلَا يَشۡكُرُوۡنَ ؕ (۷۳) نفي شرک في التصرف.

⑤ فَسُبۡحٰنَ الَّذِيۡ بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ كُلِّ شَيۡءٍ وَّاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ؕ (۸۳) نفی د هر قسم شرک او نفی د شفاعت قهري.

کاتب ـــ ۰:۰ ـــ ارقم جان خدره خیل

له سُورَةُ الصَّافات

ربط ۱ دَ سورهٔ یٰسٓ نه روستو الصّافات هم په سورهٔ سباء باندې مرتب دے او دِے سورت کښې دَ سورهٔ یٰسٓ په نسبت په طور دَ ترقئ دَ شفاعت قهری نفی کړے شویده. سورهٔ یٰسٓ کښې ئے اُوفرمائیل موټږ دا مشرکان اُونیول لیکن دَ هغوئ خیالی سفارشیانو دوئ څموږ دَ گرفت نه آزاد نهٔ کړل او په الصافات کښې به ذکر شی خلاصول څو پریږده هغوئ (انبیاءؑ، ملائیک او پیریان کوم چه مشرکانو عند الله شفیع غالب گنړل) څو دَ خدائے په نزد ډیر عاجز دی او دَ خپلې عاجزئ او بے وسئ په بشکاره اقرار کوی دَ دے وجې نه هغه شفیع غالب نهٔ شی کیدلے.

اسی ربط دا دے چه په سورهٔ سباء کښې وو چه کوم مخلوق دا معبودان شفیع غالب گنړی هغوئ دِ دَ قوم سباء دَ عبرتناک انجام نه سبق زده کړی عبرت دِ واخلی. او په الصافات کښې ئے اُوفرمائیل چه خپله فرښتې دَ الله په حضور کښې صف تړلے ولاړے دی وائی چه ستاسو دَ ټولو معبود یو دے

خلاصه سورهٔ صافات کښې په شروع کښې دَ فرښتو او دَ هغې نه روستو دَ پیریانو دَ عجز ذکر دے، هغې نه روستو شکایتونه، زجرونه تخویفات او بشارتونه ذکر شوی دی. بیا دَ اُوو انبیاء علیهم السلام دا سے انذارکښې ذکر دے چه هغوئ خو خپله په مصیبتونو او آفتونو کښې دَ الله تعالیٰ په وړاندے دَ خپلې عاجزئ او محتاجئ اعتراف او اقرار کوی هغې نه روستو دوه ځل دَ فرښتو دَ ذکر او یو ځل دَ پیریانو دَ ذکر اعاده ده او بیا دَ انبیاء علیهم السلام دَ ذکر یو ځل اجمالی اعاده ده او په آخر کښې دَ ټول سورت خلاصه ذکر شوے ده.

تفصیلی خلاصه

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ــــ تا ــــ وَرَبُّ الْمَشَارِقِ، دَ فرښتو حال څو دا دے چه هغوئ دَ خدائے په حضور کښې لاس تړلے ولاړے دی او دَ خدائے په دربار کښې خادمانے دی او اعلان کوی چه دَ زمکے والوٗ! ستاسو دَ ټولو معبود یو دے او هغوئ څنګه معبودان او شفیع غالب کیدلے شی الله تعالیٰ چه دَ ټول کائنات خالق او مالک دے هغه دَ ټولو کارساز دے. انا زینا السماء ــــ تا فاتبعه شهاب ثاقب ه دَ جنانو حال دا دے چه هغوئ په پټه او په غلا اعلیٰ (پاسنی مخلوق) خبرو آوریدلو دَ پاره ځی نو دَ اُور لمبے هغوئ پسے شی او هغوئ واپس کوی او هغوئ دَ پاره عذاب لازم دے، بیا تو هغوئ څنګه شفیع جوړیدے

شی. فاستفتهم اهم اشد ــــ تا ــــ او اباؤنا الاولون ٥ دا شکوی ده په ضمن د تخویف اخروی کښ. قل نعم ــــ تا ــــ انا کذلک نفعل بالمجرمین ٥ (ع ۲) دا محض تخویف اخروی دے. انهم کانوا اذا قیل لهم ــــ وصدق المرسلین ٥ دا شکوی ده سره د جواب نه. انکم لذائقوا العذاب ــــ تا ــــ الا عباد الله المخلصین ٥ تخویف اخروی. اولئک لهم رزق معلوم ــــ تا ــــ لمثل هذا فلیعمل العملون ٥ بشارت اخروی دے. اذلک خیر ــــ تا الا عباد الله المخلصین ٥ تخویف اخروی دے.

ولقد نادنا نوح ــــ تا ــــ ثم اغرقنا الاخرین ٥ (ع ۳) دا د شفاعت قهری د نفی د پاره اولنئ قصه ده. نوح علیه السلام خو په سل عجز او نیاز سره موږ ته اواز اوکړو او موږ هغوئ او د هغوئ متوتکی د غرق نه بچ کړل او د هغوئ دشمنان موږ غرق کړل نو بیا هغوئ څنګه معبود او شفیع غالب جوړیدے شی. وان من شیعته لابراهیم ــــ تا ــــ وظالم لنفسه مبین (ع ۳) دا دویمه قصه ده ابراهیم علیه السلام هم موږ د اور نه بچ کړو هغه د الله داسے فرمانبردار وو چه د الله په حکم ئے خپل خوږ ځوئے د الله په لار کښ ذبح کولو ته تیار شوے دے وجے نه هغه هم کارساز او شفیع نه شی جوړیدے. ولقد مننا علی موسی وهرون ــــ تا ــــ انهما من عبادنا المؤمنین ٥ (ع ۴) دا دریمه او څلورمه قصه ده موسیٰ او هارون علیهما السلام موږ محض په خپل فضل او احسان سره د تکلیفونو نه خلاص کړل هغوئ پخپله عاجز او محتاج وو د دے وجے نه کارساز او شفیع غالب نهٔ وو.

وان الیاس لمن المرسلین ٥ ــــ تا ــــ انه من عبادنا المؤمنین ٥ دا پنځمه واقعه ده الیاس علیه السلام د قوم په لاس د قتل او رسوائی نه موږ بچ اوساتلو. وان لوطا لمن المرسلین ــــ تا ــــ وبالیل افلا تعقلون ٥ دا شپږمه قصه ده لوط علیه السلام او د هغهٔ متوتکی موږ بچ کړل او د هغوئ دشمنان موږ هلاک کړل. الیاس او لوط علیه السلام خو موږ د مدد محتاج وو. د دے وجے نه شفیع غالب نهٔ وو. وان یونس لمن المرسلین ــــ تا ــــ فمتعنهم الی حین ٥ (ع ۵) دا اومه قصه ده یونس علیه السلام د مهی په خیټه کښ موږ ته اواز اوکړو. او بیا موږ هغه د مهی د خیټے نه صحیح سلامت را اوویستلو لهٰذا هغه هم کارساز او شفیع غالب نهٔ وو.

فاستفتهم الربک البنات الخ د اول فاستفتهم اعاده ده د پاره د تنویر او توضیح ام خلقنا الملائکة اناثا ــــ نه تر ــــ الا من هو صال الجحیم د فرشتو او جنانو ذکر د لف نشر مرتب په طور بیان دے په رومبی ځل اعاده ده.

او وما منا الا له مقام معلوم ــ تا ــ و انا لنحن المسبحون ۰ کښې د فرښتو ذکر دویم ځل اعاده شوید ے۔ وان کانوا لیقولون ــ تا ــ فسوف یعلمون ۰ دا شکوی ده او ضمناً تخویف اخروی دے۔ ولقد سبقت کلمتنا ــ تا ــ وان جندنا لهم الغلبون ۰ دا د انبیاء علیهم السلام د ذکر اعاده ده او هغوئ د پاره بشارت دنیوی دے۔ فتول عنهم حتی حین ۰ ــ تا ــ وابصر فسوف یبصرون ۰ دا تخویف دنیوی دے۔ سبحٰن ربك رب العزة عما یصفون الخ دا د سورت خلاصه ده الله د دینه پاک دے چه د هغهٔ سره څوک شریک یا د هغهٔ په دربار کښې څوک شفیع غالب وی۔ انبیاء علیهم السلام ته سلامتیا صرف هغه ورکوی۔ او هغه پروردګار عالم دے د کارسازئ د ټولو صفتونو مالک دے۔

سُوْرَةُ الصّٰٓفّٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَانِ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ صافات په مکه کښې نازل شوې ده او دوه اتيا ايتونه او پنځه رکوع گانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم د الله په نوم چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کوونکے دے.

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۝١ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۝٢

قسم دے صف تړونکو (فرشتو) بانديځ صف تړلو سره بيا رټونکو (فرشتو) باندې رټلو سره (شيطانانو لره) ف۱

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝٣ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝٤

بيا لوستونکو (فرشتو) باندې ياد (الله لره) - بيشکه ستاسو د ټولو حاکم (معبود) يو دے ف۲ ف۱

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

رب د آسمانونو او د زمکے او کوم څه چه د دوی مينځ کښې دي

وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝٥ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا

او رب د مشرقونو ف۲ ف۳ مونږ ښائسته کړے دے نزدے آسمان

بِزِيْنَةِ ٍۨ الْكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ

په يو ښائست چه ستورى دى ف۰ او مونږ ساتلے دے (آسمان) د هر شيطان

مَّارِدٍ ۝٧ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ

سرکش نه ف۔ نشي آوريدلے (خبرے) د ډله اعلى (پورتنې) ته ولي او ويشتلے شي

مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ۝٨ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ

د هر طرف نه. شړلو د پاره او هغوى د پاره عذاب دے

وَّاصِبٌ ۝٩ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ

هميشه. ليکن څوک چه غوټه اوکړي يو غوټه بيا هغه پسے شي

شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝١٠ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا

لمبه رڼا کوونکے. اوس تپوس اوکړه د هغوى نه آيا د هغوى ته پيدا کول گران دي څه

أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۭ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ⑪

یا څو مره خلق چه مونږ پیدا کړی دی (ملائکه) مونږ پیدا کړی دی دوی د یو سلیښنا کے نه .

نکات ۱ د فرښتو د عجز بیان ۱۲ ۲ د جناتو د عجز بیان ۱۲ ۳ زجر مشرکانو د پاره ۱۲ .

موضح قرآن ف۱ فرښتے ولاړے وی په قطار کښ د الله د حکم اوریدلو د پاره یا شیطانان شړی کوم چه د خبرو اوریدلو د پاره تللے وی او یا چه کله راکوزیږی نو هغه یوبل ته بیانوی ۱۲ منه ف۲ د شمال نه تر جنوب پورے یو طرف ته مشرقین دی نمر ، سپوږمئ او ستوری هره ورځ د جدا جدا ځایونو نه راښکاره کیږی او راخیژی . او بل طرف ته ئے په دو مره اندازه مغربین دی ۱۲ منه رح . ف۳ معلومیږی چه ستوری ټول لاندے آسمان کښ دی اگر چه هر یو بره وی یا ښکته ۱۲ منه رح ف۴ د دغه ستارو د رڼا نه او ر او ځی چه په هغے سره شیطانان ویشتلے شی لکه د نمر او آتشی شیشے نه ۱۲ منه .

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د خپل خدائے په نزد ۱۲ ف۲ یعنی شیطانانو له ۱۲ ف۳ یعنی او د مغربین هم ۱۲ ف۴ یعنی ملائکه ، پیریان او آسمانونه وغیره ۱۲

تفسیر ۲ه وَالصّٰٓفّٰتِ الخ قسم دے هغه فرښتو باندے چه صفونه تړی او د الله په عبادت کښ مصروف دی . فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا بیا قسم دے په هغه فرښتو چه شیطانان منع کوی ملاء اعلیٰ ته د نزدے ورتللو نه . فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا بیا قسم دے په هغه فرښتو چه د الله په ذکر او د هغهٔ په حمد او ثناء تسبیح کښ مصروف دی اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ الخ دا جواب قسم دے درے واړه قسم فرښتے چه په کوم باندے قسم خوړلے شوے دے د هغوی دا احوال په دے شاهد او گواه دی او د دے واضح دلیل دے چه د ټولو معبود او کارساز یو دے چه د زمکے او آسمانونو او د ټول مخلوق او د مشرق او مغرب مالک دے . د فرښتو ذکر شوی احوال نه معلومه شوه چه د دوی حیثیت د الله په حضور کښ د خادمانو دے او هغوی د الله په حکم په مختلف فرائض سرته رسولو کښ مصروف دی د دے وجے نه هغوی کارساز او شفیع غالب نهٔ دی .

۳ه اِنَّا زَيَّنَّا الخ دا د جنات حال دے چه کله هغوی د ملاء اعلیٰ په طرف د یو دے پټے خبرے اوریدلو د پاره ځی نو هر طرف ته د اور بڅری هغوی پسے کیږی او هغوی واپس دیکه کوی او د شیطانانو پیریانو د پاره به په دنیا کښ د دے عذاب نه علاوه په آخرت کښ هم عذاب لازم وی نو دا شان د الله د دربار نه شړلے شوی څنګه شفیع غالب کیدے شی . اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا الخ مونږ د ټولو نه لاندے

آسمان دَ ستورو په زینت سره ښائسته او مزین ګرځولے دے. دَ اهلِ هیئت تحقیق دا دے چه د اووۀ سیارو نه علاوه باقی ټول ستوری (ثوابت) دَ اووۀ آسمانونو نه دپاسه په اتم آسمان (کرسیٔ) کښې نصب کړے شوی دی اګرچه دعوی باندے څۀ قطعی دلیل نشته لیکن که چرے دا صحیح هم اومنلے شی نو د ستورو اوّل آسمان دَ پاره زینت او ښائست کیدل په خپل ځائے صحیح دی خواه هر چرته چه وی لیکن په لیدلو کښې اول آسمان په هغے سره ښائسته په نظر راځی ځکه چه ټول آسمانونه دَ شیشے پشان شفاف او صفا دی وعلی فرض صحته لا یقدح فی الاٰیة لانه یکفی لصحته کون السماء الدنیا مزیّنة بالکواکب کونها کذلك فی رأی العین (روح ج ۲۳ ص۶۸).

ے وحفظا الخ دا د مقدر فعل مفعول مطلق دے ای حفظناها حفظا (مظهری ج ۸ ص۱۸۱) ستوری ئے دَ آسمانونو زینت هم اوګرځول او دَ دغه ستورو په ذریعه سره ئے دَ هر سرکش شیطان نه دَ هغوی حفاظت هم اوکړو. لا یسمعون الی الملأ الاعلی الخ دے دَ پاره چه شیطانان ملأ اعلی ته رسیدلو سره دَ فرشتو خپل مینځ کښې خبرے وانۀ وری. ویقذفون الخ کله چه شیطانان دَ پورته ختلو کوشش کوی نو دَ هغوی دَ شړلو دَ پاره هر طرف نه په هغوی روښانه لمبه ګذارولے شی دُحُورًا دَ یقذفون مفعول له دے اِلَّا من استرق السمع الخ دَ لا یَسَّمَّعُوْنَ نه استثناء ده دَ دے انتظام دَ وجے نه شیطانان دَ فرشتو خبرے نشی اوریدلے لیکن که چرے یو شیطان حالاکئ سره کومه نیمګړے خبره اوکښتوی نو فورًا په هغۀ پسے شهاب ثاقب (سوزه وونکے روښانه لمبه) لګیدلے وی او هغه اوسوځوی. ټول ستوری چه په ظاهر د دنیاوی آسمان زینت دے په قول دَ فلاسفوُ په اتم آسمان کښې مرکوز دی نو دَ هغوئ نه دَ شیطانانو دَ شړلو کار څنګه اخستے شی ؟

اوّل خو دا خبره مسلّم او منلے شوے نۀ ده چه ستوری په اتم آسمان کښې دی او په صورتِ دَ تسلیم او منلو کښې ممکن ده چه دَ دے ستورو شعاع او پلوشے کله په هوا کښې موجود دَ خاص کیفیت حامل ذرّات باندے پریوځی نو دَ هغے نه لمبے پیدا شی او دَ شیطانانو دَ ناری او اور نه پیدا شوؤ اجسامو دَ مخصوص خاصیت په بناء هغوی پسے اولګی او هغوئ ته رسیدلو سره هغوئ اوسیزی ولعل اقرب الاحتمالات فی امر الشهب ان الکوکب یقذف بشعاع من نوره فیصل اثره الی هواء متکیف بکیفیة مخصوصة یقبل بها الاشتعال بما یقع علیه من شعاع الکواکب بالخاصیة فیشتعل فیحصل ما یشاهد من الشهب (روح ج ۲۳ ص۷۲).

ے فاستفتهم الخ دا مشرکانو دَ پاره زجر دے چه دَ توحید سره به ئے دَ حشر نشر (قیامت) نه هم انکار کولو. وے فرمائیل هغوی نه تپوس اوکړه چه دَ

هغوی پیدائش مشکل دے یا دَ هغوئ نه علاوه دَ نورِ مخلوق. مثلاً فرښتے،
آسمانونه، زمکه او ستوری وغیره. انا خلقنا هم من طین لازب، دوی خو
مونږ دَ سلیخنا کے ختے نه پیدا کړیدی او ددوی پیدائش دَ فرښتو او زمکے
آسمانونو دَ پیدائش په مقابله کښ ډیر معمولی خبره ده نو کوم پاک ذات چه
دَ داسے اهم او غیر معمولی مخلوقات پیدا کولو باندے قادر دے هغه دَ انسانانو
دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے. ومن قدر علی خلق هٰذه الاشیاء قدر
علی خلق مالا یعتد به الاضافة الیها (بیضاوی).

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَاِذَا ذُكِّرُوْا
بلکه ته خو کوے تعجب او هغوی کوی مسخرے　او کله چه هغوی پوهولے شی
لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿١٤﴾
نو خان نه پوهه کوی څه　او کله چه او وینی یوه نښه (دَ قدرت) نو پرے هغے پورے مسخرے کوی
وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ ءَاِذَا مِتْنَا
او وائی نور هیڅ نه دے　مگر　جادو　ښکاره څه. آیا کله چه مونږ مړه شو
وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿١٦﴾
او خاورے شو　او شو وکی　نو آیا مونږ به بیا پاڅولے شو.
اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ
آیا او څمونږ مخکنی پلاران او نیکونه هم.　ته او وایه　آو　!　او　تاسو به
دَاخِرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا
ذلیل یئ　نو　هغه　پاخیدل　خو یوه چغه ده　نو دغه وخت به
هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ
هغوی　گوری.　او وائی به　اے څمونږ خرابئ　دا خو راغله ورځ
الدِّيْنِ ﴿٢٠﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ
دَ جزا څه.　دا　دَ　فیصلے　ورځ　ده　کوم　چه　تاسو

بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
دروغ ګڼړله. راټول ئې کړئ ته ګنهګاران او

اَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿۲۲﴾ مِنْ دُوْنِ
جوړے د هغوئ او چه د چا عبادت ئې کوو سوا د

اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿۲۳﴾ وَقِفُوْهُمْ
الله ته بیا ئې روان کړئ د دوزخ په لار باندے ف۱ او ودروئ هغوئ لره

اِنَّهُمْ مَّسْـُٔوْلُوْنَ ﴿۲۴﴾
د هغوئ نه تپوس کولے شی ف۲

نکات ۱ شکوی ۱۲ ۲ جواب شکوے سره د تخویف اُخروی نه ۱۲ ۳ دا د مشرک رهنمایانو او د هغوئ د اتباع یاره کښ دے ۱۲ ۴ اصنام او اوثان (یعنی بتان)

موضح قرآن ف۱ یعنی ته په دوئ تعجب کوے چه ایمان ولے نه راوړی او هغوئ په تاسو پورے ټوقے مسخرے کوی ۱۲ منه رح. ف۲ دا حکم به فرشتو ته کوی د هغوی جوړے ئې یا خود هغوئ بنځو ته او وئیلے یا یو شان ګنهګاران کوم چه دوئ سره جمع کړے شوی دی هغوئ ته ئې جوړے او وئیل.
ف۳ د حکم نه روستو به ئې اودروی او خپل مینځ کښ به ئې په جګړه کړی ۱۲

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی سره د شیطانانو ۱۲.

تفسیر ۱ بَلْ عَجِبْتَ الخ فَاسْتَفْتِهِمْ نه اِضراب دے یعنی پریږدئ هغوئ نه د دے تپوس کولو څه فائده ده؟
هغوی ډیر انتهائی درجه عناد کړی دی د دا سے واضح او مضبوط دلائل هم هغوئ کافی نه ګڼړی بلکه د دغه دلائلو په حسن او قطعیت تاسو متعجب او خوشحال یئ لیکن هغه ظالمان ضدیان او عناد کړی دی بل عجبت مما نزل علیك من القرآن وهم یسخرون به (قرطبی ج ۱۵ ص ۶۹).
۲ وَاِذَا ذُكِّرُوْا الخ او د هغوی عادت بس ګلا دے چه کله هغوئ ته څه نصیحت کولے شی نو هغوی د دے هیڅ خیال هم نه ساتی او هیڅ فائده ترینه نه اخلی واذا راوا اٰیة یستسخرون او کله چه یوه معجزه وینی نو د منلو په ځائے د ټوقو او مسخرو په طور هغې ته جادو وغیره وائی.
۳ وَقَالُوْا الخ دا شکوی ده او د هغه معاندینو د استهزاء تفسیر دے هغوی معجزاتو

ته جادو وائي او د قیامت د دوباره ژوندون نه خالص اټکل او ګمان سره انکار کوي قُلْ نَعَمْ الخ دا جواب شکوی دے سره د تخویف اخروي نه هو، هوا تاسو به ضرور پاخولے شئ او دوباره به ژوندي کولے شي او د خدائے سره به ذلت او رسوایئ سره پیش کولے او حاضرولے شئ۔ فانما هی زجرة واحدة الخ د انسانانو دوباره ژوندي کول به کوم مشکل کار وي صرف یو هولناک هیبتناک آواز به وي او ټول خلق به ژوندي شي ولاړ به وي۔ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ نه دویمه شپیلۍ مراد ده والمراد بها النفخة الثانية فی الصور (روح ج ۲۳ ص ۷۹)۔

ف وقالوا یٰویلنا الخ منکرین چه د قیامت هیبتناک منظر اووینی نو وائي به۔ هلاکت دے حُمونږ! دا خو هغه د جزاء ورځ ده د کوم وعده چه حُمونږ سره دنیا کښې کیدله او مونږ به د هغې نه ویرولے شو لیکن مونږ به د هغې نه انکار کولو. هٰذَا یوم الفصل الخ دا هم د منکرین قیامت کلام دے۔ هغوئ به خپل مینځ کښې یو بل نه تپوس کوي۔ دا هغه د فیصلے ورځ ده کوم چه تاسو دروغ ګنړله. یا دا د فرشتو کلام دے هغوئ به کافرانو ته مخاطب شي د توبیخ او دهمکئ ورکولو په طور به هغوئ ته دا خبرے کوي (مدارک، روح).

لہ احشروا الذین ظلموا الخ یقال للملٰئکة، حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائي دا آیت د مشرک پیشوایانو او د هغوئ اتباع او منونکو باره کښې دے۔ الذین ظلموا نه مشرکان مراد دي ځکه چه شرک د ټولو نه لوے ظلم دے. الذین ظلموا یعني اشرکوا فان الشرك لظلم عظیم (مظهري ج ۸ ص ۱۱۲)،

احشروا الذین ظلموا۔ احشروا المشرکین (قرطبي ج ۱۵ ص ۷۳) وفی هذا العطف دلالة علی ان الذین ظلموا المشرکون وهم الاحقاء بهذا الوصف فان الشرك لظلم عظیم (روح ج ۲۳ ص ۸۰) او وَاَزْوَاجَهُمْ نه د مشرکانو د عقیدے ملګري او هم مذهب او پیربهایان خلق مراد دي چه په مشرکانه عقائدو کښې او اعمالو کښې یو شان خیال لرونکي وو۔ عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه، (احشروا الذین ظلموا وازواجهم) قال اخوانهم (ابن کثیر ج ۴ ص ۴) وازواجهم ای اشیاعهم واتباعهم وامثالهم (معالم ج ۶ ص ۲۰) وازواجهم ای اشیاعهم فی الشرك (قرطبي ج ۱۵ ص ۷۳) وَمَا کَانُوْا یَعْبُدُوْنَ الخ نه هغه اصنام او اوثان مراد دي کوم چه د ملائکه عظام، انبیاء علیهم السلام، اولیاء کرام په نومونو باندے ئے جوړ کړي وو۔ دا شان هغه شیطانان د انسانانو او پیریانو هم په دیکښې شامل دي چا چه په خلقو ته د شرک تعلیم ورکولو۔ دا شان هغه دین خرڅوونکي علماء او فریب کار پیران او درویشان هم دے کښې داخل دي چا چه د فوت شوو بزرګانو قبرونه او خانقاهونه د شرک او بدعت اډے جوړے کړے او د هغوئ خپل خواهش هم دا وو چه د مرګ نه روستو د هغوئ د قبرونو سره

هم دا شان سلوک اوکړے شي و (ما) قیل عام فی کل معبود حتی الملائکة والمسیح
وعزیر علیهم السّلام لکن خص منه البعض بقوله (ان الذین سبقت لهم منا
الحسنی) الآیة (روح ج ۲۳ ص ۸۰) یعنی الاوثان والطواغیت وقال مقاتل یعنی
ابلیس (مظهری ج ۸ ص ۱۱۲) . دَ الله تعالیٰ له طرفه به فرښتو ته حکم اوشي چه
ټول مشران او پیشوایان دَ شرک او دَ هغوئ ټول تابعداران یو ځائے جمع کړئ
او هغوئ ته دَ جهنم لاره اوښایئ او هغوئ جهنم ته داخل کړئ. دنیا کښې هغوئ
ته دَ صراط مستقیم دعوت ورکړے شو لیکن هغوئ په هغې باندے تلل نه غوښتل
نن هغوئ ته دَ جهنم لاره اوښایئ دا حکم به دَ حساب کتاب نه روستو وی.

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ

څۀ اوشو په تاسو چه دَ یو بل مدد نشئ کولے. هیڅ نشي کولے هغوئ نن ورځ پخپله

مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

خپل ځانونه نیولو له ورکوی. او مخ به اوکړځوی بعضے بعضے ۳۲ نورو ته

يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا

تپوس نه به کوی. وائی به تاسو وئ چه راتللئ به مونږ ته

عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾ قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا

دَ ښی طرف نه مخ. هغوئ به اووائی (راسے) هیڅ خبره نۀ وه ۳۳ بلکه تاسو نۀ وئ

مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ

ایمان راوړونکی او څۀ مونږ په تاسو هیڅ

سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿۳۰﴾ فَحَقَّ

زور نه وو بلکه تاسو وی خلق دَ حد نه وتونکی سرکشه. نو ثابته شوه ۳۴

عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَغْوَيْنٰكُمْ

په مونږ خمونږ دَ رب خبره بیشکه مونږ مزه څکونکی یو (دَ عذاب) مونږ تاسو گمراه کړی ۳۵

اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿۳۲﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ

ځکه چه مونږ وو پخپله گمراه. نو هغوئ ټول په دغه ورځ تکلیف کښې

مُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ إِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۳۴﴾

شریک دي. موږ هم دا شان کوو ﷲ د ګنهګارانو په حق کښ.

إِنَّهُمْ كَانُوْٓا إِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ

هغوئ وو چه ﷲ کله به هغوئ ته چا وئیل د هیڅ بندګۍ لښته د الله نه سوا

يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَيَقُوْلُوْنَ أَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا

نو غرور به ئې کولو. او وئیل به ئې آیا موږ پرېږدو خپل معبودان

لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾

په وینا د یو شاعر لیوني.

نکات: سلہ زجر سره د شکوے ته ۱۲.

موضح قرآن | ف یعني تاسو به غالب کېدلئ په موږ. په زور

ګمراه کولو سره او په رُعب اچولو سره.

ډیمین ذکر په دے وجه دے چه په ده کښ زور زیات وی ۱۲ منه رح

ف۲ د رب خبره هغه دا ده لاملئن جهنم متك ۱۲ منه رح.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعني او د کېتر طرف ته هم د ګمراه کولو په خاطر ۱۲.

تفسیر: | ۱ وَقِفُوْهُمْ الخ کله چه فرښتے هغوئ د جهنم طرف ته بیائي دغه وخت به حکم صادر کړے شي دوئ اودروئ دوئ ته تپوس کوو. د مشرکانو (تابعین او متبوعین) د زیات ذلیل کولو او سپکاوي د پاره به هغوئ واپس کړے شي هغوئ ته به تپوس کولے شي. مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ۞ نحه خبره ده؟ نن تاسو د یو بل امداد نه کوئ؟ نن خو د مداد کولو او مدد اخستلو موقع ده نن ستاسو خیالی سفارشیان تاسو د الله د عذاب نه ولے نه خلاصوی. بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ۞ نن به هغوئ د چا نحه امداد اوکړي نن خو هغوئ د ډیرے ملامتیا او پښیمانتیا د وجے نه ذلت او رسوایئ سره سر و ته ښکته کړے دی او د سزاء خوړلو د پاره تابعدار دی ای لا یقدر بعضهم علی نصر بعض بل هم منقادون للعذاب او مخذ لون (روح ج ۲۳ ص۸۱) ۲ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ الخ اوس به مشرکان یو بل ته مخ شي او د یو بل سره به خپل مینځ کښ د سوال او جواب سلسله شروع کړي

قَالُوْٓا اِنَّكُمْ الخ اتباع به متبوعین او مریدان به خپلو پیرانو او پیشوایانو ته وائی، په دنیا کښې خو به تاسو موږ ته د دین د لارې نه راتللئ او د حق دین نه به تاسو موږ متنفر کولو او ګمراه کولو به مو او شرک او بدعت به مو ډیر په ښائسته شکل او صورت کښې ښودو. په دراندې پیش کولو. او اطمینان به مو را کولو او دعوی به موهم کوله چه تاسو کوم څه وائئ هغه حق دې او د هغې نه سیوا چه څهٔ دی هغه باطل او ګمراهي ده. تاتوننا من قبل الدین فتهونون علینا امر الشریعة وتنفروننا عنها ...... والیمین بمعنی الدین ای کنتم تزینون لنا الضلالة (قرطبی ج ۱۵ ص۷۵) یعنی من قبل الدین فتضلوننا وتروننا ان الدین ما تضلوننا به قال الضحاک (معالم وخازن ج ۶ ص۱۲) قال السدی تاتوننا من قبل الحق وتزینون لنا الباطل وتصدوننا عن الحق (ابن کثیر ج ۴ ص۸) تابعداران او مریدان به خپلو پیشوایانو او مقتدایانو ته وائی چه په دنیا کښې خو تاسو څانونه دیندار جوړ کړی وو او موږ مو د حقې لارې نه بې لارې کړو او موږ ته مو د شرک تعلیم راکړو نن که څهٔ موږ د خلاصی کوم صورت کیدې شی نو اوکړئ.

۳۱ قَالُوْا بَلْ الخ بد او خراب متبوعین او پیشوایان به خپلو مریدانو ته جواب ورکړی چه دا خبره قطعًا غلطه ده چه موږ تاسو ګمراه کړئ بلکه تاسو پخپله ګمراه او د ایمان نه خلاص وئ که چرې تاسو مؤمنان وې او په هدایت باندې روان وې نو څموږ ګمراه کولو سره به تاسو څنګه ګمراه شوی وئ؟ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ، موږ ته خو په تاسو باندې هیڅ قسم تسلط او غلبه حاصله نهٔ وه نه خو موږ تاسو پخپله خبره منلو باندې مجبور کړی وئ. بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ۝ بلکه تاسو پخپله په عصیان او عناد کښې د حد نه تجاوز کړې وو. حق ښودلو والو ستاسو هرې طریقې سره د پوهولو کوشش کړې وو. لیکن تاسو په نافرمانئ او سرکشئ باندې همیشه ټینګ ولاړ وئ او د هغه نصیحت کوونکو یوه خبره هم تاسو اونهٔ منله او د حق په مقابله کښې مو باطل قبول کړو او د هغهٔ تابعداري مو اوکړه۔ ای بل کان فیکم طغیان ومجاوزة للحق فلهذا استجبتم لنا وترکتم الحق الذی جاءکم به الانبیاء واقاموا لکم الحجج علی صحة ما جاءوکم به فخالفتموه (ابن کثیر ج ۴ ص۸). ۳۲ فَحَقَّ عَلَيْنَا الخ تاسو او موږ چونکه ټول مؤمنان نهٔ وو د دې وجې نه موږ ټولو د پاره د الله فیصله بس دا ده چه نن به موږ لامحاله د عذاب مزه څکو. څموږ او ستاسو د پاره نن د الله د عذاب فیصله قطعی او یقیني ده د دې وجې نه نن موږ په هیڅ طریقه هم تاسو د الله د عذاب نه نهٔ شو بچ کولې څکه چه موږ پخپله د عذاب مستحق یو. دا شان تاسو

موتږ مه ملامتئ کوئ ځکه چه تاسو هم څوموتږ سره برابر مجرمان يئ.
اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ، دا قَوْلُ رَبِّنَا بيان دے.

ڡلـ فَاَغْوَيْنٰكُمْ الخ موتږ تاسو په زور نه يئ ګمراه کړي. اصلي خبره دا ده چه موتږ خو ګمراه وو کړے وجے نه موتږ تاسو ته هم د ګمراهئ دعوت ورکړو تو تاسو خپلے مرضئ سره بغير د څه ظلم او زياتي نه ګمراهي قبوله کړه ده وجے نه موتږ مه ملامته کوئ. اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ، جمله ما قبل د پاره تعليل دے. فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ الخ چونکه دواړه ډلے مجرمان يو کړے وجے نه به دواړه په عذاب کښ شريک يو. چونکه په ګمراهئ کښ ټول شريک وو د شرک مشران، سرداران علماء سوء بد او خراب پيران تو به عوامو ته د شرک او بدعت تعليم ورکولوا و هغوئ به ئے ګمراه کول او عوامو د هغوئ په اغوا او ګمراه کولو د ګمراهئ لاره اختيار کړه د دے وجے نه دواړه فريق (متبوعين او اتباع) مجرمان دي لهذا دواړه به د جهنم خشاک وي.

ڡلـ اِنَّا كَذٰلِكَ الخ مشرکانو خواه د شرک امامان او پيشوايان وي يا د هغوئ تابعداران وي) سره دا معامله کوو هغوئ د پاره د جهنم د عذاب فيصله يقيني ده او د هغوئ د معافئ هيڅ صورت نشته. د مُجْرِمِيْنَ نه مشرکان مراد دي قال ابن عباس الذين جعلوا الله شركاء (خازن ومعالم ج ۶ ص ۲۱).

ڡلـ اِنَّهُمْ كَانُوْآ الخ دا زجر دے سره د شکوے نه د دے مجرمانو جرم څه دے چه د هغې په وجه هغوئ په جهنم کښ غوږ څولے شي؟
د هغوئ جُرم دا دے چه دنيا کښ به کله هغوئ ته د توحيد دعوت ورکولے شو او هغوئ ته به وئيلے شو چه د الله نه سيوا څوک معبود نشته د الله نه سيوا څوک کارساز، حاجت روا، مشکل کشا، متصرّف او مختار نشته د هر قسم عبادت او رابللو لائق هم د هغه نه سيوا بل څوک نشته نو دوئ به دا دعوت نه منلو او د دے د قبلولو نه به ئے تکبر کولو ځان به ئے لوئے ګڼړلو.

وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْآ اٰلِهَتِنَا الخ دا شان دے مجرمانو به وئيل ايا موتږ د دے ليوني شاعر په وينا خپل معبودان پريږدو؟ د مشرکانو شاعر او مجنون وئيل د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په حق کښ بيهوده خبرے وے د دے نه د هغوئ مقصد د رسالت نه انکار وو په راتلونکي ايت کښ د مشرکينو د دے بيهوده خبرے جواب دے.

بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّكُمْ

داسے نه ده هغهٔ راوړے دے رښتونے دين الله او رښتونے مني ټول رسولان . بیشکه تاسو

لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا

څکونکي يئ د عذاب دردناک لره او هغه بدله به بيا مومئ

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٤٠﴾

کوم چه تاسو کول . لیکن کوم بندګان د الله چه دي غوره کړي شوي دي

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ

دغه خلق چه کوم دي هغوئ د پاره روزي ده مقرره لره ميوے او د هغوئ د پاره

مُّكْرَمُوْنَ ﴿٤٢﴾ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٤٣﴾ عَلٰى سُرُرٍ

عزت دے . په باغونو د نعمت کښ په تختونو باندے

مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ

يو بل ته مخامخ . خلق به ګرځي د دوئ چاپيره چه تيولي به ګړي لره پيالئ د

مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيْهَا

شراب و صفا . تک سپين خوند ورکوونکے څکونکو ته . نه به په هغے کښ

غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ

سرګرداني دي لره او نه به د هغے څکلو سره نشه او بے عقلي راځي . او دوي سره دي لره

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

ښځے ښکلے کوونکے د خپلو نظرونو د غټو سترګو والا لره لکه چه هغه هګۍ دي لره

مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾

پټے ساتلے شوے دي

نکات: سـ۱ـ د مشرکانو د بیهوده خبر جواب ۱۲. سـ۲ـ تخويف اخروي ۱۲. سـ۳ـ بشارت اخروي ۱۲.

موضح قرآن	ف۱ یعنی د هغوئ د ګناهونو بدله معاف نهٔ شوه ۱۲ ف۲ ځنی وائی چه د شترمرغ هګئ مراد ده چه ډیره خائسته وی ۱۲
فتح الرحمٰن	ف۱ یعنی هغه څوک چه پاک کړے شوی دی د شرک او ګناه نه ۱۲

تفسیر

۱۸ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ الخ دا د مشرکانو د عبث بیهوده خبرو جواب ورکړے شو چه څومونږ. پیغمبر (صلی الله علیه وسلم نهٔ شاعر دے نهٔ لیونے دے بلکه هغهٔ خو د توحید پیغام راوړے دے چه د هغے په رښتینوالی او حقانیت د ټولو انبیاء علیهم السلام اجماع ده او په هغے باندے عقلی او نقلی او انفسی او د آفاق دلائیل قائم دی دا شان نبی علیه السلام د ټولو انبیاؤ او رسل علیهم السلام د توحید په دعوت کښ تصدیق کړے دے. د دے وجے نه نبی علیه السلام نهٔ خو شاعر دے او نهٔ مجنون. ځکه چه د شاعرانو کلام حق او باطل او په اوچو او لوړو باندے مشتمل وی او د لیونو خبرے نامناسب او بے مقصده وی لیکن د پیغمبر علیه السلام دعوت او د هغهٔ راوړے شوے پیغام (قرآن) د شعر او جنون د کمزورو او نقصانانو نه بالکل پاک او مبراء دے ردّ علیهم وتکذیب لهم ببیان ان ماجاء به علیه الصلوٰة والسلام من التوحید هو الحق الثابت الذی قام علیه البرهان واجمع علیه کافة المرسلین فاین الجنون والشعر من ساحته صلی الله علیه وسلم الرفیعة الشان (روح ج ۲۳ ص۸۳). ۱۹ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الخ دا د مشرکانو د پاره تخویف اخروی دے. اے مشرکانو! (اتباع او متبوعین) تاسو به دردناک عذاب ضرور څکئ په تاسو باندے ظلم نهٔ کیږی بلکه دا به ستاسو د خپلو عملونو سزاء وی. اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الخ دا بشارت اخروی دے او استثناء منقطع ده لیکن کوم چه د الله تعالیٰ خاص بندګان دی څوک چه د شرک او نافرمانئ نه لرے پاتے شوی دی هغوئ حال به د مشرکانو په شان نهٔ وی جدا به وی په مخکښ راتلونکو ایتونو کښ د هغوئ د احوال او مراتب تفصیل دے.

۲۰ اُولٰٓئِكَ الخ د الله دغه مقبول بندګانو د پاره به داسے روزی وی چه د هغے صفتونه مشهور دی یعنی هغه به نهٔ ختمیږی. څوند ناک او خوشبودار به وی د داسے صفتونو والا روزی به نهٔ خو د چا سترګو لیدلی وی نهٔ به چرته غوګونو اوریدلی وی. فَوَاكِهُ، دا بدل دے د رزق نه د جنت خوراک به د میوو په صورت کښ وی. وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ الخ هغوئ به د الله تعالیٰ په نزد معزز او مکرم وی. د قسم قسم نعمتونو باغونو به د هغوئ د اوسیدلو ځائے

وی جنت کوم چه په دَ مؤمنانو کوړ وی هغه په دَ نعمتونو کوړ وی په هغې کښې په هر نعمت یو دَ بل نه زیات وی هغوئ په دَ لعل او جواهر چراؤ شوو تختونو باندې ناست وی او مخامخ به یو بل ته خوشحاله او تروتازه ناست وی
۴۵ه يُطَافُ عَلَيْهِمْ الخ دَ جنت غلمان به تازه په تازه سپینو، ډیر دَ زیاتو صفا ځوند ناکو او دَ سرور نه ډک دَ شرابو پیالو او جاموتو سره دَ جنتیانو میلمستیا او عزت کوی. مَعِيْنٍ، جاری او روان. دا شراب به دَ شرابو دَ هغه نهرونو نه وی چه په جنت کښې به روان وی. بَيْضَآءَ، سپین، صفا دَ جنت شراب به بالکل سپین وی کوم کلاسونو کښې چه شراب پیش کولے شی هغه به هم سپین صفا وی دا شان دَ جنتی شرابو نه ډکې پیالئ جامونه به هم بالکل سپین او شفاف په نظر راځی.
۴۷ه لَا فِيهَا غَوْلٌ الخ دا دَ جنت دَ شرابو امتیازی صفات دی دَ دُنیا په شرابو کښې خو په ظاهره لذت او سرور دے لیکن دِ ے کښې یو خطرناک ضرر هم پټ دے. شراب دماغی او دَ نورو بدنی اعصابو دَ پاره سخت مضر دی او دا ضرر اکثر دَ هلاکت سبب ګرځی. لیکن دَ جنت شراب به دَ هر قسم ضرر او مفاسد نه پاک وی. قال الراغب الغول اهلاك الشئ من حيث لايحس به (روح ج ۲۳ ص۸۸) دا شان دَ دے دُنیا شراب نشه راولی عقل ته نقصان او ذهن پریشانه کوی. لیکن دَ جنت شراب به دَ هر قسم نشے نه پاک وی. ای لاتذهب عقولهم بشربها (قرطبی ج ۱۵ ص۷۸) عن ابن عباس فی الخمر اربع خصال السكر والصداع والقئ والبول فذكر الله خمر الجنة فنزهها عن هذه الخصال (ابن کثیر ج ۴ ص۷)
۴۸ه وَعِنْدَهُمْ الخ دَ خوراک او دَ څښاک دَ سامان نه علاوه په جنت کښې دَ جنسی جذباتو دَ تسکین دَ پاره هم سامان موجود وی. قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ، موصوف مقدر دَ پاره صفت دے ای ازواج (مظهری) جنتیانو ته چه په جنت کښې کومې ښځې (حورے) ملاویږی هغوئ به ښکلے سترګے ښکلو خاوندانو پورے مرکوز او بندے ساتلے وی دَ هغوئ خاوندانو ته به دا دَ حسن او جمال ورکړے شوے وی چه حورے به په هغې کښې محو وی او دَ هغوئ نه سیوا په بل هیچا ته سترګے نهٔ پورته کوی او نهٔ به ګوری دا دَ هغوئ دَ عفت او پاکدامنئ علامه ده. نساء عفيفات قصرن ابصارهن على ازواجهن لاينظرن الى غيرهم (جامع البيان ص۳۸۴) حابسات الاعين على ازواجهن لاينظرن الى غيرهم لحسنهم عندهن (جلالین).
۴۹ه عِيْنٌ دا دَ عیناء جمع ده او دَ مبتداء مقدر خبر دے ای هُنَّ عِيْنٌ (مظهری) یعنی دَ غټو سترګو والا. غټے سترګے دَ حُسن او جمال علامه ده دَ دے دَ جے

نه څخو مفسرینو د دے معنی د خائسته سترګو والا کړیده. عظام العیون
الواحدة عیناء وقاله السدی. ومجاهد (عین) حسان العیون (قرطبی ج ١٥ ص ٨٠)
٤٩ کانهن الخ دے کښ د جنت د حورو د رنګ او شکل صورت ذکر دے.
بیض د بَیْضَة جمع ده او دیته د شترمرغ هګئ مراد دی چه د هغے رنګ
سپین او زیړوالی ته مائیل وی. بنځه شترمرغه خپلے هګئ په وزرو سره
پټے ساتی دے د پاره چه په هغے ګرد او غبار پرے نه ووځی. د جنت د حورو
رنګ به د شترمرغ د هګو پشان سپین زیړوالی ته مائیل وی او د هغوئ د
مخونو رنګ به خائسته شفاف صفا وی. د ښځو دا رنګ مرغوب او محمود
شمار لے شی. شبههن ببیض النعام المصئون عن الغبار ونحوه فی الصفاء
والبیاض المخلوط بادنی صفرة فانه احسن الوان الابدان (بیضاوی) والبیاض
المشوب بقلیل صفرة فی النساء مرغوب فیه جدا (روح ج ٢٣ ص ٨٩).

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٥٠﴾

بیا مخ او کړو خو لو یو د بل طرف ته تپوسونه ئے شروع کړل.

قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾

او وئیل یو ویونکی د هغوئ نه وو څما یو ملګرے

يَقُولُ أَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا

چه وئیل به ئے آیا ته یقین کونکے ئے آیا چه کله مونږ مړه شو

وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ

او شو خاورے او هډوکی آیا مونږ ته به جزاء ملاویږی. وے وئیل

هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَاءِ

آیا تاسو هغه ګورئ ملګرے فا بیا ئے او کتل کله نو هغه ئے او لیده په مینځ

الْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾

د دوزخ کښ. وے وئیل په الله قسم چه تا خو زه غورځولے وم په کنده کښ

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾

او که چرے نه وے څما رب فضل والا نو زه به هم وے په هغو کښ چه کوم نیولے شوے راغلل

أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ

آیا اوس به مونږ نه مرو ۲ ؟ لیکن هغه چه اول ځل مړه شوي وو

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ

او مونږ ته به تکلیف نه رارسیږي ف ۱ بیشکه هم دا دے

الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ

لوئے بري مونده ل. د داسے خیزونو دپاره پکار ده چه محنت اوکړي

الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُزُلًا أَمْ شَجَرَةُ

محنت کوونکي. آیا دا بهتر ده میلمستیا ۳ یا اونه

الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾

د زقوم. مونږ هغه ګرځولے ده عذاب د ظالمانو دپاره ف ۲.

إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾

هغه یوه اونه ده چه راوځي به د دوزخ په بیخ کښ.

طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾

د هغې خوشه لکه د شیطان د سر ده ف ۴.

نکات: ف ۱ تخویف اخروی ۱۲.

موضح قرآن

ف ۱ هغه ملګرے په دوزخ کښ پروت دے هغه اوګوري چه په څه حال کښ دے. ف ۲ دائے د ډیرے خوشالئ نه اوئیل ۱۲ منه. ف ۳ یعنی په آخرت کښ به هغه خوري او په مرئ کښ به ئے اینخلي یو عذاب به دا هم وي یا په دنیا کښ د هغوئ د خرابولو دپاره چه په دنیا کښ د دے آوریدلو سره ګمراه کیږي چه شته اونه څنګه په دوزخ کښ راټوکیدله. هغه یوه اونه ده چه راووځي د دوزخ په بیخ کښ ۱۲
ف ۴ یعنی بد شکل یائے شیطان ماراتوته وئیلے ۱۲.

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی حشرلره ۱۲. ف ۲ یعنی دوزخیانولره ۱۲.

تفسیر

۲۶ فَاَقْبَلَ الخ اهلِ جنت چه کله په خوراک څښاک مصروف وي نو د
هغوئ مينځ کښ به په مختلفو موضوعاتو باندے به خبرے اترے کيږي. د
دنيا په حالاتو به هم تبصره کيږي نو په هغوئ کښ به يو تن د مجلس نورو
شريک ملګرو ته تپوس اوکړي او به وائي دنيا کښ يو د قيامت نه منکر څما
يو ملګرے وو چه زه به ئے د ايمان بالاخرت په عقيده باندے رټلم او وئيل
به ئے ايا ته هم چه قيامت په راځي؟ او چه کله مونږ مړه شو او څمونږ هډوکي
زاړه شي اور ژيړي د دے باوجود به هم مونږ دوباره ژوندي کولے شو او د
جزاء او سزاء معامله به وي؟ آيا ته په دے خبرو يقين لرے؟ قَالَ هَلْ
اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ۝ راځئ چه لږ شان دوزخ ته خو سر ښکاره کړو او اوګورو
چه د هغه څه حال دے؟ والمراد من الاستفهام العرض الخ (روح).

۲۷ فَاطَّلَعَ الخ نو چه کله هغه دوزخ کښ اوګوري نو هغه ملګرے به ورته
د جهنم په مينځ کښ په نظر راشي او هغه سره به په خبرو شي وائي به. په
خدائے قسم! چه ته خو ما لره ګمراه کووکے وے او د دے هلاکت په کنده
کښ ما لره غورځووکے وے. ليکن د الله توفيق څما لاس اونيوو که چرے
د الله فضل او احسان نه وے او د هغه توفيق څما شامل حال نه وے نو
نن به زه هم ستاسره په دے دردناک عذاب کښ شريک وے.

۲۸ اَفَمَا نَحْنُ الخ دا هم د هغه جنتي قول دے خطاب هم هغه شان د
ملګري سره دے يا د محفل نورو يارانو سره دے هغه به د ډيرے زياتے
خوشحالئ اظهار او د الله تعالیٰ د فضل عظيم او عام احسان ذکر کولو سره
اودائي. آيا دا حقيقت نه دے چه اوس به په مونږ مرګ نه راځي. کوم مرګ
چه څمونږ د پاره مقدر وو هغه په دنيا کښ راغلے دے او مونږ به اوس کافرانو
او د مشرکانو پشان په عذاب کښ مبتلاء نه يو د ټولو نه لويه کاميابي هم
دا ده چه انسان د عذاب نه بچ شي او جنت ته داخل شي لکه چه په بل ځائے
کښ ارشاد دے مَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وادخل الجنة فقد فاز (ال عمران ۱۹۶)
د داسے لوئے سعادت او کامل فلاح د تحصيل د پاره عمل کوونکوله عمل
پکار دے نه چه د دُنيا د مال دولت او د لذت د حاصلولو د پاره.

۲۹ اَذٰلِكَ خَيْرٌ الخ دا بشارت او تخويف اخروي دے. اذلك خير نزلا
بشارت او ام شجرة الزقوم تا ثم ان مرجعهم لالى الجحيم تخويف
اخروي دے. ذٰلِكَ سره د جنت نعمتونو ته اشاره ده چه د دينه مخکښ
اولئك لهم رزق معلوم (الايات) کښ ذکر شويدي. وهو متعلق بقوله تعالیٰ
(اولئك لهم رزق معلوم) روح ج ۲۳ ص۹۳) المعنى نعيم الجنة خير نزلا

(قرطبی ج ۱۵ ص ۸۶) شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ، دا به یوه ډیره خرابه او زهر قاتله
ونه په جهنم کښې د دوزخیانو خوراک وی دا ونه به د دنیا د زقوم سره
مشابه وی. فِتْنَةً، عذاب د دوزخ د اور نه علاوه د دے ونې خوراک سره
به هم دوزخي ډیر سخت تکلیف او عذاب محسوسوی دا ونه به د جهنم په
وېخ کښې پیدا وی د دے ونې خوشے او غنچے به د شیطان د سرونو پشان ډیر
زیات قبیح او کریه المنظر او بد شکل وی. د شیطانانو قبیح او بد شکلې په
زړونو کښې مرکوزه او ځائے نیولے دے. د دے وجے نه د هغې سره تشبیه
ورکړے شوه. وانما شبهها برؤس الشیاطین وان لم تکن معروفة عند
المخاطبین لانه قد استقر فی النفوس ان الشیاطین قبیحة المنظر (ابن کثیر
ج ۴ ص ۱۰).

فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا
نو هغوی به خوراک کوی ۳۸ د هغې نه بیا به ډکه وی د هغې نه
الْبُطُونَ ۞ ۶۶ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ
ګېډې. بیا د هغوی د پاره د هغې د پاسه ګډول دی د
حَمِيمٍ ۞ ۶۷ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ۞ ۶۸
ګرمو اوبو. بیا د هغوی بوتلل دی د اور په ډیری کښې والا
إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ۞ ۶۹ فَهُمْ
هغوی بیا موندل خپل پلاران نیکونه ګمراه شوی ۳۹. نو دوی
عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ۞ ۷۰ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ
د هغوی په قدمونو باندے منډے وهي او ګمراه شوی دی ۴۰ د دوی نه مخکښې
أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ۞ ۷۱ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِمْ
ډیر خلق مخکښې او موږ لیږلی دی دوی کښې
مُّنذِرِينَ ۞ ۷۲ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ
ویره ورکونکی. اوس او ګوره څنګه شو انجام

الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٧٤﴾ ع

د ويرولو شوو. ليکن کوم بندګان چه د الله غوره کړے شوی دی ف۲.

وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾

او موږ ته آواز کړے وو نوح ۳۳ نو څه ښه رسیدونکی یو موږ په آواز باندے.

وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾

او خلاصے ورکړو موږ هغه ته او د هغه کور والو ته د هغه لوئے غم نه.

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا

او وساته موږ د هغه اولاد هم هغه پاتے کیدونکی وو ف۳. او پریښودل ۳۴

عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٧٨﴾ سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِي

په هغه باندے په روستنو خلقو کښ. چه سلام دے په نوح په ټول

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٩﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٠﴾

جهان والو کښ ف۴. موږ هم داشان بدله ورکوو نیکی کوونکو ته ۳۵

اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

هغه دے زموږ د ایماندار بندګانو نه. بیا موږ غرق کړل

الْاٰخَرِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿٨٣﴾

نور. او د هغه (نوح) په لاره تلونکو کښ ابراهیم دے ۳۶

نکات: ۳۳۔ اولنۍ قصه ۱۲۔ ۳۴۔ دویمه قصه ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ ډیر زیات به اُوږدی شی تو د اوږه به ئے یو طرف ته بوټی داخوراک او څښاک به پړ او کړی بیا به ئے په اوږ کښ واچوی ۱۲۔ ف۲ ویره هرچاته اوروی هغوئ کښ لیکن بچ پاتے کیږی او بدان تر تور خوری او بد ترے دړی ۱۲۔ ف۳ په کشتئ کښ اتیا درے اتیا انسانان بچ پاتے شوی وو د هغوئ نه اولاد پاتے نه شو د هغه د درے ځامنو نه اولاد پاتے شو. سام د عربو د زمکے په مینځ کښ اباد شو او ایران توران ترینه پیدا شول. یافث په شمال کښ آباد شو د هغه نه ترک او خلیج یاجوج ماجوج

پیدا شول . حام په جنوب کښ اوسیدلو هغه او حبش تر ده پیدا شول.
ف یعنی همیشه خلق په هغهٔ سلام لیږی په ټول جهان کښ ۱۲.

فتح الرحمٰن ف یعنی روستو د خوراک څښاک نه به هغوئ بیا دوزخ ته بوځی ۱۲.

تفسیر: ۳۰ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ الخ دوزخیان به د لوږے ختمولو د پاره د دغه خبیثه اونې نه په مره خیټه خوراک اوکړی. لیکن دے سره به د هغوئ تسلی نه کیږی بلکه هغوئ ته به سخته تنده اولږی د هغے د پاسه به هغوئ ته جوشولے شوے اوبهٔ د څکلو د پاره ور کولے شی چه د هغوئ کولمے به هم پریکړی. دغه اوبوکښ به سخته بدبوئیه هواگډه شوی وی. لشرابا من غساق او صدید یماء حمیم یقطع امعاء هم (بیضاوی).
دیته روستو به هغوئ په جهنم کښ خپلو خپلو ځایونو ته رسولے شی. د گرمو اوبو څکولو د پاره به په جهنم کښ یوه جُدا طبقه وی. فالقوم یخرجون من محل قرار هم حیث تاجج النار ویساقون الی موضع اخر مما دارت علیه جهنم فیه ذلك الشراب لیردوه ویسقوا منه ثم یردون الی محلهم الخ (روح ج ۲۳ ص ۹۶) ۳۱ اِنَّهُمْ اَلْفَوْا الخ دا ما قبل د پاره تعلیل دے، دے کښ د هغوئ د عذاب د استحقاق سبب بیان شوے دے. هغوئ خپل پلاران او نیکونه گمراه بیا موندل او د هغوئ گمراهی په دوئ واضحه شوه ځکه چه وخت په وخت څو مونږ پیغمبرانو او د هغوئ جانشینو په دوئ ته د هدایت لاره ښودله او حق او باطل یے هغوئ ته واضح کولو. لیکن دے خلقو د انبیاء علیهم السلام د تعلیماتو متلو په ځائے سترگے پټے کړے او د خپل گمراه پلار نیکهٔ په نقش قدم یا نده تیزئ سره روان وو.
۳۲ وَلَقَدْ ضَلَّ الخ د دوئ نه مخکښ قوموتو اکثر خلق هم د خپل گمراه پلار نیکهٔ په طریقه باندے روان وو او گمراه شول حال دا دے چه د هغوئ د رهنمائۍ د پاره هم مونږ پیغمبران اولیږل اخر هغوئ د پیغمبرانو علیهم السلام د تعلیم نه سر واړولو نو هغوئ په عبرتناک سزاگانو سره هلاک کړے شول. د عذاب الٰهی نه صرف هغه خلق بچ شول څوک چه عناد کر او ضدی نهٔ وو. بلکه مُنیب او متصف وو او الله خپل توفیق سره هغوئ د ایمان او عمل صالح د پاره غوره کړی وو.
۳۳ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ الخ د زجر، شکوے، زیری ورکولو او ویره ولو نه روستو د اوو انبیاؤ علیهم السلام قصے ذکر کړے شوے چه په دے دلالت کوی چه انبیاء علیهم السلام هم د الله په نزد شفیع غالب نهٔ شی کیدے ځکه چه هغوئ خو پخپله د الله په دربار کښ د خپلے عاجزئ او محتاجئ

اظهار کوی او اعتراف کوی او په مصیبتونو او حوادثو کښې الله ته آواز کوی.
اوّله قصه دَ حضرت نوح علیه السلام ده اُوکورئ! نوح (علیه السلام) دَ خپل قوم دَ هلاکت او دَ خپل نجات دَ پاره مونږ ته آواز اُوکړو. مونږ خومره ښه قبلولو والا یُو. نو مونږ هغهٔ ته او دَ هغهٔ متبعینو ته دَ ډیر لوئے مصیبت (غرقیدلو) نه خلاصے ورکړو او ټول مشرکان مو غرق کړل او صرف دَ نوح (علی نبینا وعلیه السلام) دَ اولاد ته دَ آئنده دَ پاره دَ نسل سلسله مو باقی اُوساتله. په کشتئ کښې چه کوم نور مؤمنان سواره وو دَ هغوئ دَ اولاد سلسله مخکښې لاړه دَ حضرت نوح علیه السلام سره چه کوم درے ځامن (حَام، سَام، یافث) وو دَ هغوئ دَ نسل نه دُنیا بیا دَ سره آباده شوه والاکثرون علی ان الناس کلهم فی مشارق الارض ومغاربها من ذریة نوح علیه السّلام. ولذا قیل له اٰدم الثانی (روح ج ۲۳ ص۹۸).
۳۴ وَتَرَكْنَا الخ مونږ په آئنده نسلونو کښې تر قیامت پورے دَ نوح (علیه السلام) یادګار قائم کړو. سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِى الْعٰلَمِيْنَ، دا دَ ما قبل تفصیل دے یعنی مونږ په آئنده نسلونو کښې دَ نوح (علیه السلام) دَ پاره دا کلام جاری کړو چه نوح علیه السلام ته الله خپل رحمت سره دَ طوفان نه سلامتیا ورکړه آئنده کښې چه څوک هم آیت راځی هغه ته به هم دَ دے دا مفهوم وی. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. دا جمله دُعائیه ده او مطلب دا دے چه مونږ دَ نوح (علیه السلام) دَ پاره پیریان، انسانان او فرښتو کښې دا دُعا تر قیامته پورے جاری کړه ای ثبت هذه التحیة فیهم جمیعاً ولا یخلوا احد منهم منها کانه قیل ثبت الله التسلیم علی نوح وادامه فی الملائکة والثقلین یسلمون علیه عن اٰخرهم (مدارك ج ۴ ص۱۸).
۳۵ اِنَّا كَذٰلِكَ الخ مونږ نیکی کوونکو خلقو ته هم دا شان جزاء ورکوؤ. بیشکه هغوئ زمونږ دَ کامل ایمان بندګانو نه وو. هغوئ او دَ هغوئ تابعداران مونږ دَ غرقیدلو نه بچ کړل او نور یعنی کافران مو غرق کړل.
۳۶ وَاِنَّ مِنْ الخ دا دویمه قصه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام ده. ابراهیم علیه السلام دَ الله ډیر زیات تابعدار او حکم منونکے بنده وو هغهٔ باندے په ژوند کښې ډیر سخت مشکل وخت راغے کله چه دَ وخت بادشاه هغه په اور کښې واچولو. دغه نازک وخت کښې هغوئ صرف دَ الله په مخکښې عاجزی اُوکړه او الله ته ئے دَ دغه مصیبت نه دَ نجات دُعا اُوغوښتله نو الله تعالیٰ هغهٔ له نجات ورکړو او اور ئے په هغهٔ باندے یخ (معتدل) اُوګرځولو. دَ دے وجے هغهٔ هم دَ خدائے په نزد شفیع غالب نهٔ شی کیدلے
مِنْ شِیْعَتِهٖ، یعنی هغه دَ دین په اُصولو کښې دَ حضرت نوح علیه السلا

هم آواز او تابع وو. قال ابن عباس ای من اهل دینه (قرطبی ج ۱۵ ص ۹۱) ای
ممن شائع نوحا وتابعه فی أصول الدین (روح ج ۲۳ ص ۹۹). په مینځ کښې
د هغهٔ د فرمانبردارئ قصه بیان کړه چه هغه د الله د ومره ډیر منونکے
وو چه د هغهٔ لاره کښی د ځوئے ذبح کولو ته تیار شو.

إِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ
کله چه راغے خپل رب ته زړه روغ سره ف کله چه ئے اووئیل
لِأَبِيهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا
خپل پلار ته ف۲ او قوم د هغهٔ ته تاسو د څهٔ عبادت کوئ. آیا دروغ هم جوړ کړیږی
آلِهَةً دُونَ اللّٰهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُمْ
حاکمان د الله نه سوا غواړئ. بیا څه خیال کړیږے تاسو
بِرَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾
په پروردګار عالم. بیائے نظر واچولو یو ځل په ستورو باندے ف۳۸ ف
فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾
بیائے اووئیل زهٔ بیمار یم. بیا اوګرځیدل هغوئ د دهٔ نه شا کووُنکی ف۳.
فَرَاغَ إِلٰٓى آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ
بیا رانوتو د هغوئ بتانو ته بیائے اووئیل تاسو ولے خوراک نه کوئ ف۳ په تاسو څه شوی
لَا تَنْطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾
چه خبرے نهٔ کوئ. بیا پټ ننوتو په هغوئ باندے ټکه چه وهل ئے په ښی لاس سره ف۳
فَأَقْبَلُوٓا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ
بیا خلق راغلل هغهٔ ته په منډه وېرول شوی ف۳ ف وے وئیل ولے عبادت کوئ ف۳ د هغه
مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾
چه تاسو تراشلے دی. او الله پیدا کړیے یئ تاسو او کوم چه تاسو کوئ

قَالُوا ابْنُوا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾

او وئیل (مشرکانو) جوړ کړئ دغه ابراهیم د پاره یو عمارت مـ۱ ـلـه بیا او غورځوئ هغه د اور لوی لمبو کښ.

فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَ

پس اوغوښتل هغوی د ده سره د بدئ کولو ته پیرې بیا مونږ اوګرځول هغوی لاندې لے او

قَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴿۹۹﴾ رَبِّ

وے وئیل ـلـه زه ځم د خپل رب مـ۲ طرف ته هغه به ما ته لار را کړی ولا اے رب!

هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾

او بښه ما ته ـقلـه یو نیک ځوئے. بیا زیرے ورکړو مونږ هغه ته د یو هلک چه وی به تحمیر والا ئ

نکات:- سلـ د دینه مخکښ اتن ماج دے ۱۲.

موضح قرآن

ولـ یعنی د ګمراهئ او عیب نه پاک دے. ولـ۲ هغه خلق نجومیان وو هغوئ ته بسودلو د پاره د ستورو طرف ته اوکتل او وے وئیل یائے د نجوم کتاب ته اوکتل او وے وئیل زه بیمار یم یعنی هوا ته تلل غواړم هغوئ به یهر ته تلل د یو اختر منا وولو د پاره او د بتانو عبادت د پاره ابراهیم علیه السلام ئے پریښودو او لاړل. دا یو هغه دروغ دی د الله په لاره کښ چه عذاب (ګناه) ئے نشته او ثواب دے.
ولـ۳ د هغوئ مخکښ د خوراک څیزونه کیښودلے شوی وو ۱۲. ولـ۴ یعنی زور او قوت سره ئے اودرول مات ئے کړل. ولـ۵ یعنی هغوئ ئے ملزم کړل کله چه ثابته شوه ۱۲. ولـ۶ یعنی کله چه پلار د کور نه اوویستو د بادشاه د وجے نه ۱۲. ولـ۷ د دینه لوئے صبر څه کیدے شی چه هغهٔ د ذبح حکم ورکړو ۱۲.

فتح الرحمٰن

فـلـ یعنی هلته ډیر زیات اور جمع کړئ (بل کړئ) ۱۲.

تفسیر:-

قَلْبٍ سَلِيْمٍ، چه د زړهٔ د عقیدے او د اخلاقو د خرابئ نه محفوظ وی او د هغهٔ اصلی رشته د دُنیا په ځائے د الله تعالیٰ سره وی نو هغه قلب سلیم دے سلیم ای مخلص من الشرك والشك (قرطبی) ای سالم من جمیع الآفات کفساد العقائد والنیات السیئة والصفات القبیحة کالحسد والغل وغیر ذلك (روح ج ۲۳ ص۱) سلیم من الاشتغال بغیر الله تعالیٰ خالیا عن الغیر وحبه کما یدل علیه قصة ذبح ابنه لامتثال امر ربه (مظهری ج ۸ ص۱۲۱).

۸۷ـه قَالَ الخ دا د اول اِذْ نه بدل دے او دا د هغهٔ د زړهٔ د سلامتیا بیان دے
چه کله هغهٔ خپل پلار او خپل قوم په شرک کښې مبتلاء اولیدل نو فوراً
ئے په هغې انکار او رد اوکړو، وے فرمائیل لن شان خیال او سوچ خو اوکړئ
تاسو د الله نه سیوا د چا عبادت کوئ او چا ته آواز کوئ؟ آیا هغوئ د عبادت
او رابللو لائق دی؟ اَئِفْکًا ډیر زیات خراب دروغ والافك اسوء الکذب (جلالین)
اٰلِهَةً . د افکًا نه بدل الکل دے آیا تاسو باطل یعنی د الله نه سیوا د معبوداتو
خواهش لرئ او طلب کوئ؟ بیا ستاسو د هغه رب العالمین باره کښې څهٔ
خیال دے چه په حقیقت کښې د عبادت مستحق دے؟ آیا د هغهٔ په قدرت
او عظمت کښې او د هغهٔ په ربوبیت عامه کښې تاسو په شک او شبه کښې
پریوتلی یئ چه د هغهٔ نه سیوا د هغهٔ عاجز مخلوق هم کارساز، مُتصرف،
مختار او مستحق د عبادت گڼرئ؟ یا مطلب دا دے چه کله تاسو د الله نه
سیوا د نورو عبادت هم کوئ نو بیا چه کله تاسو د الله په محکمه کښې حاضریږئ
نو ستاسو د هغهٔ متعلق څهٔ خیال دے آیا هغه به تاسو ته د دے سزا نهٔ درکوي
دے صورت کښې به دا تخویف اخروی وی - ای شئ ظنکم بمن هو حقیق
بالعبادة لکونه ربًا للعٰلمین . أشککتم فیه حتی ترکتم عبادته الخ (روح ص۱۰۲ ج۲۳)
ای ما ظنکم به اذا لقیتموه وقد عبدتم غیره، فهو تحذیر (قرطبی ج۱۵ ص۹۲)
۸۸ـه فَنَظَرَ نَظْرَةً الخ حضرت ابراهیم علیه السلام دے انتظار کښې وو چه هغهٔ
ته به کله یوه داسے موقع په لاس ورشی چه هغه د معبوداتو دا عاجزی او
کمزوری مشرکانو ته واضحه کړی . نو چه کله د مشرکانو د اختر ورځ راغله
چه په هغې کښې به هغوئ ټول د ښار نه بهر ته تلل او په یو مخصوص ځائے
کښې به ئے اختر کولو حضرت ابراهیم علیه السلام ته ئے هم د اختر په خوشحالئ
کښې د شریکیدلو دعوت ورکړو هغه خو د داسے موقعو په تلاش کښې وو چه
دا مشرکان ټول بهر ته لاړشی او دے یوازے په ښار کښې پاتے شی دے د پاره
چه د هغوئ معبودان (بوتان) مات کړی . نو هغهٔ د غور او فکر نه روستو دا
فیصله اوکړه چه هغوئ په څهٔ بهانه رخصت کړی او خپله ئے ښار کښې پاتے
کیدل غوښتل شائد چه بیا دا موقع په لاس رانهٔ شی که دے وجے نه هغهٔ
اوفرمائیل اِنِّیْ سَقِیْمٌ ، وروره زهٔ خو بیمار یم که دے وجے نه زهٔ ستاسو سره
د اختر په خوشحالئ کښې د شریکیدلو نه معذور یم . لفظ سَقِیْم که دے دوه
معنے لری . اوّل سقیم النفس یعنی بیزار . اراد انی سقیم النفس لکفرکم (مدارک)
دویم مریض ، بیمار . حضرت ابراهیم علیه السلام دے لفظ سره دویمه معنی
مراد کړه یعنی زهٔ ستاسو د کفر او شرک په وجے سره ستاسو نه بیزار یم
او ستاسو اختر کښې نهٔ شم شریکیدے . لیکن مشرکانو د دینه اوله معنی معلومه

کړه دے اسلوب کلام ته تعریض یا توریه وئیلے شی چه په حقیقت کښ صحیح او د واقعے مطابق وی. لیکن په ظاهره دروغ معلومیږی. نَظَرَ نَظۡرَةً فِي النُّجُومِ داماوره ده چه معنی ئے غوړ او فکر کول دی. قال الحسن المعنی انهم لما کلفوه الخروج معهم تفکر فیما یعمل ----- الخلیل والمبرد، یقال للرجل اذا فکر فی الشئ ید بره، نظر فی النجوم. (قرطبی ج ۱۵ ص ۹۲) یا دا دیته حقیقةً په ستوړو کښ غوړ او فکر کول مراد دے. دا قوم چونکه نجوم پرست وو او د ستوړو مختلف احوال او اوضاع ئے په نظام عالم کښ مؤثر گنړل د دے وجے ته حضرت ابراهیم علیه السلام په طوړ د ایهام ستوړو ته اُوکتل جواب ئے ورکړو چه د هغوئ دا گمان راشی چه ابراهیم علیه السلام د ستوړو حساب لګولے دے او جواب ئے راکړو. او چه د هغوئ د جواب په صحت باندے یقین راشی کان قومه نجامین او همهم استدلاله علی مرضه بعلم النجوم (جامع البیان ص ۳۸۵). ۳۹ فَتَوَلَّوۡا عَنۡهُ الخ د حضرت ابراهیم علیه السلام جواب اورید لو سره مشرکانو په هغه باندے زیات کوشش اُونهٔ کړو او صباله خپل اختر کښ شرکت کولو د پاره د ښار نه بهر ته اُوتل ابراهیم علیه السلام چه د داسے موقعے په تلاش کښ وو د هغوئ د معبودانو (بتانو) دیوتئ (کمرے) ته ننوتو چه ئے اُوکتل د بُتانو مخے ته ئے مختلف قسم د خوراک څیزونه پراته دی چه د هغوئ عبادت کوونکو کیښودلی وو دے د پاره چه برکتی شی او د اختر نه واپسئ سره بیا هغه اُخری. حضرت ابراهیم علیه السلام په طوړ د استهزاء د بتانو سره خطاب اُوکړه وے وئیل دا خوراکونه چه پراتهٔ دی ولے نه خورئ؟ کله چه هغوئ څه جواب ورنکړو نو د استهزاء په طوړ ئے دویم سوال اُوکړو مَا لَكُمۡ لَا تَنطِقُونَ په تاسو څه شوی دی تاسو خبرے ولے نهٔ کوئ او څما د خبرے جواب ولے نه راکوئ. ۴۰ فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ الخ دیته رو ستوئے د دوارسو نو پوره قوت سره په تبرګی سره د هغوی وهل او ماتول شروع کړل. اَلۡيَمِين د قوت نه کنایه ده. بالیمین ای بالقوة علی ان الیمین مجاز عنها روی انه علیه السلام کان یجمع یدیه فی الآلة التی یضربها بها وهی الفاس فیضربها بکمال قوته (روح ج ۲۳ ص ۱۲۳). ۴۱ فَأَقۡبَلُوٓاْ الخ د دیته مخکښ اتن ماج دے کله چه مشرکانو اختر اوکړو واپس د بتانو آستانے ته راغلل نو بتان ئے ټکړے ټکړے اولیدل خپل میتځ کښ ئے او وئیل دا ناکاره حرکت چا کړے دے په هغوئ کښ څنو شبه ظاهره کړه چه دا کار د ابراهیم کیدے شی ځکه چه هغه دا معبودان همیشه په بدئ سره یادوی نو هغوی په منړه منړه حضرت ابراهیم علیه السلام ته راغلل او وے وئیل اے ابراهیم مونږ خو د دے بتانو عبادت کوو تاسو دا څه حرکت اوکړو چه دا مو ټکړے

ټکړے ټکړے او مات کړل. ثم قالوا با جمعهم نحن نعبدها وانت تکسرها (مدارک ج۴ ص۱۵). ۴۲ قال اتعبدون الخ حضرت ابراهیم علیه السلام په جواب کښې اوفرمائیل آیا تاسو دَ عقل نه کار نه اخلئ کوم بتان چه خپل لاسونو سره او تراشئ او جوړ ئے کړئ او دَ کوم صورت چه ستاسو تراشلو ته او ستاسو آوزارو او سامان ته محتاج دی بیا دَ هغوئ عبادت کوئ حال دا دے چه عبادت خو دَ خپل خالق کول پکار دی او خالق دَ ټولو (ستاسو او ستاسو دَ بتانو) صرف الله تعالیٰ دے دَ دے وجے نه دَ هر قسم عبادت مستحق هم هغه دے دَ بتانو تراشلو والا اګرچه مشرکان دی لیکن هغوئ د ماده خالق الله دے او دَ هغوی شکلونه او صورتونه چه دَ مشرکانو فعل او قوت سره حاصل شویدی دَ هغه فعل او قوت خالق هم صرف الله دے. فان جوهرها مخلقه و شکلها وان کان بفعلهم وکذلك جعل من اعمالهم فباقداره ایاهم علیه وخلقه ما یتوقف فعلهم من الدواعی والعدد (بیضاوی).

۴۳ قالوا ابنوا له الخ کله چه مشرکان دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ خبرونه لاجواب شول نو هغوی د انتقام اخستلو دَ پاره او په عوامو باندے دَ اثر اچولو دَ پاره دَ هغوئ په اور کښې دَ اچولو فیصله اوکړه. لما قهرهم بالحجة قصدوا تعذیبه بذلك لئلا یظهر للعامة عجزهم (روح ج ۲۳ ص۱۲۶). نو هغوئ شپږ دیرش ګزه مربع چار دیواری جوړه کړه چه لوړوالے (اوچتوالے) ئے دیرش ګزه وو (مدارک) او هغه ئے خشاک نه ډکه کړه او اور ئے بل کړو کله چه اور لمبه شو نو سکروټے جوړے شوے او دَ اور لمبو دَ آسمان سره خبرے کول شروع کړل نو حضرت ابراهیم علیه السلام ئے په دغه لمبه وهونکی اور کښې واچولو. وارادوا به کیدًا الخ هغوئ حضرت ابراهیم علیه السلام دے تدبیر سره هلاکول غوښتل. لیکن الله تعالیٰ اور هغه دَ پاره یخ (معتدل) اوګرځولو او هغه ئے دَ اور نه صحیح سلامت بچ اوساتلو مشرکان ئے په دے مقصد کښې ناکام او تاوانیان ذلیل او دَ عوام په مخکښې خوار شرمنده کړل بلکه دا واقعه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام په صداقت باندے یو واضح دلیل او یو قاطع برهان اوګرځیده. حضرت ابراهیم علیه السلام چه کله په اور کښې اوغورځولے شو نو هغه وخت دَ هغوی په ژبه دا کلمات وو حسبی الله و نعم الوکیل (قرطبی) دَ دے نه معلوم شو چه حضرت ابراهیم علیه السلام پخپله یو مصیبت کښې راګیر شو او په هغے کښې ئے الله ته آواز اوکړو او دَ هغه په دربار کښې دَ عاجزی اظهار اوکړو دَ دے وجے نه هغه هیڅ کله شفیع غالب نه شی کیدلے.

۴۴ وَقَالَ اِنِّیْ الخ حضرت ابراهیم علیه السلام چه کله دَ خپل قوم دَ طرف نه دیر زیات ضد او عناد اولیدۀ او دَ هغوئ دَ ایمان نه نا اُمیده شو نو الله تعالیٰ هغه ته دَ شام او بیت المقدس طرف ته دَ هجرت کولو حکم ورکړو. دے هجرت کښې

هغه سره د هغهٔ ملګرے صرف حضرت لوط علیه السلام او حضرت بی بی سارة
وه. الی ربی الی حیث امرنی (روح). ۴۵ رب هب لی الخ شام ملک ته د
رسیدلو نه روستو حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ نه د ځوئے ورکولو
سوال اوکړلو. فبشرنٰه الخ وے فرمائیل مونږ هغه ته د لوئے حوصلے ځوئے
زیرے ورکړو دینه مراد حضرت اسماعیل ذبیح الله علیه السلام دے.
لیکن یهود غلط بیانئ او تحریف نه کار اخلی. حضرت اسحٰق علیه السلام
ذبیح ګرځوی. علماء اسلام کښې دا دواړه قول موجود دی. لیکن راجح
دا ده چه حضرت اسماعیل علیه السلام ذبیح دے. ځکه چه د هجرت نه
روستو د حضرت اسماعیل علیه السلام زیرے ورکړے شو او د ذبح د واقعے
ذکر کولو نه روستو د حضرت اسحاق علیه السلام د بشارت ذکر اوشو. نو د دینه
معلومه شوه چه د حضرت اسحاق علیه السلام ولادت د دے واقعے نه روستو
اوشو. والاظهر ان المخاطب اسماعیل علیه السلام لانه الذی وهب له اثر
الهجرة ولان البشارة باسحاق بعد معطوفة علی البشارة بهذا الغلام (بیضاوی)

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى
بیا چه کله اورسید ئ هغه سره (حد) د منډې وهلو ته وے وئیل اے ځویه! زه وینم
فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ؕ
په خوب کښې چه تا ذبح کوم بیا اوګوره ته چه ته څه مصلحت وینے؛
قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْٓ
وے وئیل اے پلاره! کله اوکړه هغه چه تا ته څه حکم کیږی ته به ما لره بیا مومے
اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّآ اَسْلَمَا
که چرے الله اوغوښتل صبر کوونکے وا بیا چه کله دواړو حکم اومنو
وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿١٠٤﴾ۙ
او وائے چوه هغه پړمخ په تندی باندے ف ٢ او مونږ هغه ته آواز اوکړو دا چه اے ابراهیم!
قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي
تا رښتیا کړو خپل خوب مونږ هم دا شان ورکوو بدله

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿۱۰۶﴾

نیکی کوونکو ته ف۲ بیشکه دا دے شه بښکاره امتحان.

وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۰۷﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

او د هغه بدله ورکړه موږ ذبح کول د یو لوئے څاروي ف۲ او باقي پریخود موږ شه په هغه باندے

فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۱۰۹﴾ كَذٰلِكَ

په روستنو (خلقو) کښ دا چه سلام دے په ابراهیم باندے. موږ هم دا شان ورکوو

نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

بدله نیکی کوونکو ته شه هغه دے زموږ د بندګانو

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ

ایمان لرونکو نه. او زیرے ورکړو شه موږ هغه ته د اسحق چه نبي به وي په

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ

نیک بختانو کښ ف او برکت واچولو موږ په هغهٔ (اسمٰعیل) باندے او په اسحٰق باندے

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ

او د دواړو په اولاد کښ نیکان دي او بدکار هم دي خپل حق کښ

مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

بښکاره ف۲ او موږ احسان اوکړو شه په موسٰي او په هارون باندے.

نکات ۱ دا دریمه او څلورمه قصّه ده ۱۲.

موضح قرآن ف وائی چه په اتمه شپه د ذی الحجّه ئے خوب اولیده چه څوئے ذبح کوم صباله ئے سوچ فکر اوکړو چه د دے تعبیر څه دے. بیائے په نهمه شپه اولیدل چهٔ ذبح کوي نو ورته معلومه شوه چه ذبح کول ضروري دي بیائے تدبیر شروع کړو بیا په لسمه شپه ئے دغه شان خوب اولیده دغه وخت څوئے له ورغے وے وئیل هغه هم په تند ئے سره قبوله کړه. زړګونه رحمتونه دي په هغه پلار او څوئے باندے.

ف دے د پارہ چه د ځوئے مخ ورته په نظر نه راځی او د ځوئے وائی محبت په جوش راشی او حکم منلو کښ تاخیر راشی وائی چه دا خبره ځوئے هغه ته او نبودله د دینه زیاته خبره الله نه ده فرمائیلی چه وړاندے څه کیفیت وو یعنی په وئیلو او لیکلو کښ نه راځی کوم حال چه د دوی په زړونو او په فرشتو تیر شو.

ف یعنی دا شان مشکل حکمونه د امتحان د پاره صادر وو بیا هغوی قائم او مستقیم لرو او بیا هغوئ ته لوړے او بلندے درجے ورکوو.

ف یعنی د لوے درجے چه د جنت نه یو ګډ راغلے. حضرت ابراهیم علیه السلام غټے سترګے یو ښئ سره او ترلے او چاړه ئے راشکله ښه په زور سره. د الله په حکم مرئ ئے غوڅه نکړه. حضرت جبرائیل علیه السلام ځوئے د هغه نه لرے کړو او ګډ ئے د هغه په ځائے کینښود. چه سترګے ئے پرانستلے نو ګډ حلال شوے پروت وو.

ف معلومه شوه چه هغه اول زیږے د اسمٰعیل علیه السلام دے او د ذبح ټوله قصّه د هغه وه. یهود وائی چه اسحٰق علیه السلام ئے ذبح کړے وو لیکن دا خلاف دے د حقیقت او واقعے نه د اسحاق علیه السلام د خوشخبرئ سره د یعقوب زیږے هم ورکړے شو په سورۀ هود کښ او د نبی کیدو هم خبر دے د دے او ړیږ لو سره

په ابراهیم علیه السلام ضرور ثبوس کولے چه دا دواړه خبرے خولا ظهور ته نه دی راغلی نو څنګه په ذبح اوکړے شی.

ف دا دواړه ئے اوئیلے د ابراهیم علیه السلام دواړو ځامنو ته دواړو نه ډیر اولاد خور شو. د اسحاق علیه السلام په اولاد کښ نبیان تیر شول د بنی اسرائیلو او د اسماعیل علیه السلام په اولاد کښ عرب چه په هغوئ کښ محمود پیغمبر اولیږلے شو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی هغه ځائے ته چرته څما د پروردګار خوښه وی ۱۲.

تفسیر لٰکه فَلَمَّا بَلَغَ الخ کله چه ځوئے لږ شان لوے شو د پلار سره سره په کار کښ لاس امداد کول شروع کړل او د اوه اته کلونو شو نو حضرت ابراهیم علیه السلام خوب کښ اولیده چه هغوی خپل یو ځوئے ذبح کوی. متواتر درے ورځے هغوی دا خوب اولیده نو پوهه شو چه دا د الله حکم دے نو ځوئے ته ئے اووئیل ځویه ! ما خوب لیدلے دے چه زۀ تا ذبح کوم راته او وایه ستا څه رائے ده. ځوئے ئے سمدست پوهه شو چه دا د الله لطرفه ماته د ذبح حکم دے. ځکه چه د انبیاء علیهم السلام خوب د وحی حکم لری.

ټکه قَالَ یٰٓاَبَتِ الخ نو حضرت اسماعیل علیه السلام په جواب کښ عرض اوکړو

خوږه پلاره! الله چه څه حکم در کړے دے په هغے عمل اوکړه ځما د طرفه په هیڅ قسم مخکښې روستو کیدلو یا د بے صبرئ او پریے اظهار نه وی انشاءالله ته به ما د صبر کوونکو نه بیا مومے. فَلَمَّاۤ اَسْلَمَا الخ کله چه دواړه پلار او ځوئے د الله د حکم تعمیل ته تیار شول او حلیم پلار او حلیم ځوئے د ذبح کولو په غرض په اړخ باندے په څملولو نو د الله د طرفه آواز اوشو یَاۤ اِبْرٰهِیْمُ الخ اے ابراهیم! تا خپل خوب رښتونے کړو. څوئ مقصد د حضرت اسماعیل علیه السلام روح اخستل نه وو بلکه ستاسو د اطاعت او تسلیم د جذبے امتحان کول مقصود وو چه تاسو هغه خپل عمل سره ثابته کړه. ای حصل المقصود من تلك الرؤیا حیث ظهر منه کمال الطاعة والانقیاد لامر الله تعالٰی. وکذلك الولد (خازن ج ۶ ص۲۴) دا آواز په مرئ باندے د چړے چلولو نه مخکښې اوشو. اخرج الامام احمد عن ابن عباس انه علیه السلام لما اخذ الشفرة واراد ان یذبحه نودی من خلفه ان یا ابراهیم قد صدقت الرؤیا (روح ج ۲۳ ص۱۳۱) د ذبح په وخت حضرت ابراهیم علیه السلام خپل عزتمند ځوئے په اړخ څملولو څنګه چه عام طور باندے څاروی د حلالولو په وخت څملولے شی. دے طریقه باندے چونکه مخ تندے هم په زمکه باندے پریوځی. د دے وجے نه ئے تَلَّهٗ لِلْجَبِیْنِ اوفرمائیلو یعنی هغه ئے د مخ په اړخ راواچولو. صرعه علی شقه فوقع جبینه علی الارض (روح) جبین د تندی هغه حصے ته وئیلے شی چه ښی طرف او کینړ طرف ته واقع وی او مخے ته چه کومه حصه وی هغے ته جبهة وئیلے شی. صَرَعَهٗ علی شقه فوقع جبینه علی الارض وهو احد جانبی الجبهة (بیضاوی) تله للجبین. صرعه علیه ولکل انسان جبینان بینهما الجبهة (جلالین).

د ذبح د واقعے په سلسله کښې ډیر زیات تفصیلات ذکر کولے شی چه د روایت او درایت (نقل او عقل) په اعتبار سره ضعیف دی مثلاً د حضرت اسماعیل علیه السلام خپل عزتمند پلار ته وئیل چه تاسو خپلے سترګے په پټئ او تړئ او ځما لاسونه خپے په رسئ او تړئ او ما پړمخے الته واچوئ د څټ د طرفه مے حلال کړئ. دا شان د چړے بیا بیا تیره کول بیا بیا په مرئ راښکل وغیره وغیره دا تفصیلات د صحیح روایتونو نه ثابت نه دی. اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ مونږ خپل فرمانبردار بندګانو ته دا شان جزا ورکوو او دا شان هغوئ د تکلیفونو او مصیبتونو نه خلاصوو. ای نجزیهم بالخلاص من الشدائد فی الدنیا والاخرة (قرطبی ج ۱۵ ص۱۰۶).

۴۵ اِنَّ هٰذَا الخ دا یو داسے ابتلاء او امتحان وو چه د دے سره د مخلص او غیر مخلص واضح طور باندے امتیاز راتلے شی لکه چه د حضرت ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام د اخلاص او انقیاد نه ظاهر شوه. وَفَدَیْنٰهُ الخ د اسماعیل

(علیه السلام) په ځائے مونږ یو عظیم الشان څاروے په طور د فدیه ورکړو ابراهیم علیه السلام چه کله دا آواز واوریدلو ﴿يٰٓاِبْرٰهِيْمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا﴾ نو سر ئے پورته کړو وے کتل نو جبرائیل علیه السلام کمبړ نیولے را روان وو د ځوئے په ځائے هغه قربانی ورکړه. روی انه لما سمع ابراهیم النداء نظر الی السماء فاذا هو بجبریل و معه کبش املح اقرن وقال هذا فداء لا بنك فاذ بحه دونه (مظهری ج ۸ صـ۱۳۲).

۱۱۱ ﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ﴾ الخ د دے تفسیر تیر شوے دے.

۱۱۲ ﴿وَبَشَّرْنٰهُ﴾ الخ د قرآن د سیاق سباق (ربط مضمون) نه معلومیږی چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام هجرت اوکړو او په شام کښ اوسیدل نو هغوئ د الله نه دُعا اوغوښتله د ځوئے. د هغه د دُعا په جواب کښ الله تعالیٰ د یو حلیم غلام (ځوئے) خوشخبری ورکړه کله چه دغه غلام حلیم لوئے شو نو د هغه د ذبح کولو حکم راغلے. بیا چه د ذبح واقعه تیره شوه نو د هغے نه روستو الله تعالیٰ حضرت ابراهیم علیه السلام ته د دویم ځوئے حضرت اسحاق علیه السلام خوشخبری واورولو. د قرآن دا سیاق واضح دلیل دے چه ذبیح حضرت اسماعیل ع دے او د حضرت اسحاق علیه السلام ولادت د دے واقعے نه روستو شوے دے. ﴿وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ﴾ الخ ابراهیم او اسحاق باندے مونږ د دین او دنیا برکتونه نازل کړل د هغوی نسل مونږ په دنیا کښ خورکړه د هغوئ په اولاد کښ مونږ انبیاء او بادشاهان پیدا کړل ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا ظَالِمٌ﴾ الخ لیکن د هغوئ ټول نسل په دین قائم پاتے نه شو څنې خو د هغوئ په مسلک ایمان او احسان باندے روان پاتے شول او څنې په ظلم او اسراف باندے روان شول بهرحال د اخلاف (یا اهل اولاد) بے لارے کیدل لوسره په اسلاف باندے څه عیب نشی لګیدلے او نه نسب ته په هدایت او ضلالت کښ څه دخل شته. وفی ذلك تنبیه علی ان النسب لا اثر له فی الهدی والضلال وان الظلم فی اعقابهما لا یضرهما (مظهری ج ۸ صـ۱۳۳)

۱۱۴ ﴿وَلَقَدْ مَنَنَّا﴾ الخ دا دریمه او څلورمه قصه ده د حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام قوم فرعون غلامان کړځولے وو الله تعالیٰ هغوئ او د هغوئ قوم د فرعون د غلامئ نه خلاص کړل او بیا ئے د فرعون د لښکرنه په دریاب کښ معجزانه لارے جوړے لوسره هغوی بچ کړل. هغوئ خو پخپله په مصیبتو نو کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی. د دے وجے نه څنګه شفیع غالب کیدلے شی. ﴿مَنَنَّا﴾ کښ د احسان نه دینی او دنیوی احسانات مراد دی. انعمنا علیهما بالنبوة وغیرها من المنافع الدینیة والدنیویة (روح ج ۲۳ صـ۱۳۹).

وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿١١٥﴾

او بچ او ساتل موبر دواړه هغوي او د هغوي قوم د هغه پریشانی (غم) لوی نه.

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا

او موبر د هغوي امداد اوکړو نو هغوي غالب پاتې شول. او موبر ورکړې هغوي ته

الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ

کتاب واضح. او ښودلې وه موبر هغوي ته لار

الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١١٩﴾

سمه. او باقی اوساته موبر په هغوي روستنو خلقو کښې

سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ

چه سلام دې په موسٰی او په هارون بانداے موبر دا شان ورکوو

نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا

بدله نیکی کوونکو ته. بیشکه هغه دواړه دی خمونږ د بندګانو

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾

ایماندارو نه. او بیشکه الیاس دے په رسولانو کښې ۵۳.

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا

کله چه هغه اووئیل خپل قوم ته آیا تاسو نه ویرېږئ. آیا تاسو رابلئ بعل

وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخٰلِقِيْنَ ﴿١٢٥﴾ اللّٰهَ رَبَّكُمْ

او پرېږدی بهتر جوړوونکے (پیدا کوونکے) ۵۴. الله چه رب دے ستاسو

وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ

او رب دے ستاسو د پلارانو مخکنو بیا ئې دروغ اوګنړه ۵۵ نو هغوي راتلونکی دی

لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٢٨﴾

نیول شوي ۵۶ لیکن څوک چه بندګان دی د الله غوره کړے شوي

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۲۹﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ
او باقی پریخودو مونږ په هغه باندې روستنو خلقو کښې، چه سلام دې په

إِلْ يَاسِينَ ﴿۱۳۰﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۱﴾
الیاس باندې ف۱ مونږ داشان بدله ورکوو نیکانو ته

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳۲﴾
هغه دې څمونږ د ایماندارو بندګانو نه.

نکات: سلا پنځمه قصه د پاره د نفی د شفاعت قهری ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ حضرت الیاس علیه السلام د حضرت هارون علیه السلام په اولاد کښې دې د بعلبک ښار طرف ته الله هغه اولیږلو هغوئ د بت عبادت کووچه نوم ئې بعل وو ۱۲۔
ف۱ الیاس ته الیاسین هم وائی لکه طور سینا او طور سینین. او ال یاسین هم وئیلې شوید ے تو یاسین چرته د هغهٔ د پلار نوم دې ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۲ یعنی په دوزخ کښې ۱۲۔

تفسیر: ۵۲ه وَنَجَّيْنٰهُمَا الخ دا او د دهٔ مابعد د عطف خاص علی العام قبیل نه دې ځکه چه دې ایتونو کښې د خاص انعاماتو ذکر دې دا یو د نیوی انعام وو چه الله تعالیٰ موسیٰ او هارون علیهما السلام ته او د هغوئ قوم ته د فرعون د ظلمونو نه نجات ورکړو۔ وَنَصَرْنٰهُمْ الخ دا هم د الله یو انعام دې. مونږ د هغوئ امداد اوکړو او د فرعون په قوم باندې مونږ هغوئ ته غلبه ورکړه۔
وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ الخ دا د دینی انعاماتو ذکر دې مونږ هغوئ ته یو واضح او مفصل کتاب (تورات) ورکړو او د دغه کتاب په ذریعه موهغوئ ته سمه لار اوښودله۔ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا الخ تا...... مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ، د دې تفسیر تیر شوی دې۔
۵۳ه وَاِنَّ اِلْيَاسَ الخ دا پنځمه قصه ده چه د شفاعت قهری په نفی باندې دلالت کوی. قوم د حضرت الیاس علیه السلام د توحید تبلیغ نه نفرت اوکړو بیا ئې اوته ګنړلو د هغهٔ د شهید کولو اراده ئې اوکړه نو الله تعالیٰ هغه د کافرانو په لاس د قتل او رسوائی نه بچ کړو د دې وجې نه هغه شفیع غالب نهٔ شی کیدلې۔ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا الخ بعل د الیاس علیه السلام

ڈ قوم ڈ معبود نوم دے چه ڈ هغهٔ بُت ئے جوړ کړے وو او عبادت کولو او ڈ هغهٔ نه
به ئے حاجتونه غوښتل۔ هو علم لصنمهم لهم قاله الضحاک والحسن وابن
زید (بحر جلد ۷ صفحه ۳۷۳) اتعبدونه وتطلبون الخیر (ابو السعود ج ۷ صفحه ۲۰)
دا بُت ڈ سرو زرو نه جوړ شوے وو چه ڈ هغهٔ اوګد والے څلویښت ګزه
وو څلور سوه خادمان هغهٔ ڈ پاره مقرر وو۔ شیطان به هغه بُت ته داخل
شو او خبرے به ئے کولے او ڈ ګمراهئ تعلیم به ئے ورکولو او ڈ هغهٔ مجاورانو
به خلقو ته ڈ هغهٔ ګمراهئ تعلیم ورکوو۔ فکان الشیطٰن یدخل فی جوف
بعل ویتکلم بشریعة الضلالة والسدنة یحفظونها ویعلمونها الناس
(قرطبی ج ۱۵ صفحه ۱۱۵) حضرت اسمٰعیل علیه السلام به ڈ هغهٔ ڈ عبادت او
رابللو نه خلق منع کول او فرمائیل به ئے۔ لږ شان ڈ عقل او هوش نه
کار واخلئ دا کومه بے عقلی ده چه عاجز او بے بس بعل رابلئ او الله
تعالیٰ چه احسن الخالقین دے او ستاسو او ستاسو ڈ پلرو او نیکهٔ رب
او منعم دے ڈ هغهٔ ڈ عبادت او رابللو نه اعراض کوئ۔
۵۵ فَكَذَّبُوْهُ الخ لیکن مشرکانو حضرت الیاس علیه السلام دروغژن
اوګڼلو او ڈ هغهٔ ڈ قتلولو ته تیارے شروع کړے لیکن الله تعالیٰ هغه ڈ قتل
نه بچ کړو۔ او دروغژن ګڼونکی په عذاب کښ مبتلاء شول۔
اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ۔ دا ڈ كَذَّبُوْهُ ڈ ضمیر فاعل نه استثناء متصل
ده یعنی ڈ هغهٔ ڈ قوم مخلصینو هغه دروغژن اونه ګڼلو۔ یا دا ڈ مُحْضَرُوْنَ
نه استثناء منقطع ده او مطلب دا دے چه ڈ الیاس علیه السلام قوم چه
هغه دروغژن اوګڼلو ڈ جهنم په عذاب کښ به حاضر کړے شی لیکن هغوئ
چه ڈ الله مخلص او غوره کړے شوی بندګان وی هغوئ به ڈ عذاب نه محفوظ وی۔

وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَ

او بیشکه لوط دے په رسولانو کښ ۵۶ کله چه مونږ بچ کړو هغه او

اَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾

ڈ هغهٔ ڈ کور ټول خلق لیکن یوه بوډئ چه هغه پاتے شوه په پاتے کیدونکو کښ

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ

بیا ڈ بیخه نه او ویستل نورو (کافران)۔ او تاسو تیریږئ

عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِاللَّيْلِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾

هغوی باندے د صباح په وخت کښ. او د شپے هم، بیا تاسو نه پوهیږئ ف۵.

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ

او بیشکه یونس دے د رسولانو نه ﷺ. کله چه او تښتیدو

إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ

او رسید و کشتئ ډکے ته. بیائے قرعه (حسنړے) واچوو نو راووت

مِنَ الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ

قصور وار ف۲. بیا یوه نوړئ کړو هغه لره ماهی

وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ

او هغه ملامت کوونکے وو د ځان. بیا که چرے نه وے دا خبره چه هغه ﷺ

الْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ

یادولے پاک ذات نو پاتے به وے د هغه په خیټه کښ تر هغے چه

يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾

مړی ژوندی کولے شی. بیا او غورځوه مونږ په هغه ډاګ میدان کښ ﷺ او هغه بیمار وو ف۳.

وَأَنبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾

او راوتوکوو مونږ په هغه باندے بوټے زیلا دار (کدو).

وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾

او مونږ اولیږلو هغه ﷺ یو لاکهه انسانانو ته یا د دینه زیات ته.

فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ

بیا هغوی ایمان راؤړو نو مونږ هغوی ته فائده اخستل ورکړه تر یو مقرر لیتے پورے اوس د هغوی نه پوښتنه اوکړه

أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾

چه آیا ستا رب د پاره لونړه دی او د دوی د پاره ځامن.

نکات: ۱. ښے شپږمه قصه ۱۲. ۲. ښے اوومه قصه ۱۳.

موضح قرآن ف۱ د لوط علیه السلام کلی په الټه شوی په نظر راتلل په لاره کښ. ف۲ کشتۍ په دریاب کښ چورلیدل شروع کړل خلقو اُوئیل چه دے کښ څوک غلام دے چه د خپل مالک نه تښتیدلے دے د هریو په نوم ئے خسته ړے (قرعه) واچولو د هغهٔ نوم رااُوختو.

تفسیر: ۵۵ وَإِنَّ لُوطًا الخ دا د شفاعت قهری په نفی باندے شپږمه واقعه ده لوط علیه السلام او د هغهٔ متبعینو ته موږ نجات ورکړو. لیکن د هغهٔ ښځه موږ په معذبین کښ شامل کړه او د هغهٔ د بدکاره قوم تخته موږ الټه کړه تباه او هلاک مو کړل لوط علیه السلام ته د عذاب نه نجات موږ ورکړو هغه د عذاب نه نجات کښ موږ ته محتاج وو د دے وجے نه هغه شفیع غالب نهٔ شی کیدلے. وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ الخ دا د مشرکانو سره خطاب دے چه تاسو صبا بیګاه د لوط علیه السلام په تباه شوی کلی باندے تیریږئ لیکن بیا هم تاسو عبرت نهٔ حاصلوئ او تاسو نهٔ پوهیږئ چه د بدکردار او سرکش قومونو انجام هم داشان وی.

۵۶ وَإِنَّ يُونُسَ الخ دا د شفاعت قهری د نفی د پاره اوومه قصه ده یونس (علیه السلام) مهی څموږ په حکم تیر کړو دا یو خبره ئے ورکول وو هغهٔ موږ ته آواز اُوکړو موږ هغهٔ ته د مصیبت نه نجات ورکړو د دے وجے نه څوک چه پخپله دومره زیات محتاج او عاجز وی نو هغه څنګه شفیع غالب کیدلے شی. إِذْ أَبَقَ الخ حضرت یونس علیه السلام چه کله په قوم باندے تبلیغ حق سره حجت قائم کړو او قوم په تکذیب او انکار باندے قائم پاتے شو نو هغهٔ د الله په حکم سره اعلان اُوکړو چه کهٔ چرے تاسو ایمان نهٔ راوړئ نو تر درے ورځو پورے به په تاسو عذاب نازلیږی. حضرت یونس علیه السلام د قوم د ایمان راوړلو نه نا امیده وو او په دریمه ورځ د الله د عذاب د نازلیدلو هم د هغهٔ یقین وو. د دے وجے نه په دریمه ورځ د الله د طرفه د اجازت نه بغیر د کلی نه اووتو د هغهٔ یقین وو چه دا قوم به نن عذاب سره هلاکیږی لیکن قوم چه کله د عذاب آثار اُولیدل نو ډیر په زاری او عاجزئ سره ئے توبه کړه او ایمان ئے راوړو نو الله تعالیٰ د هغوئ نه عذاب لرے کړو. دلته یونس علیه السلام د سفر په دوران کښ په دریاب باندے پورے وتلو د پاره په کشتۍ کښ سوار شو یو ځائے ته چه کشتۍ اُورسیدله نو

اُودریدله. ملاح اُوئیل په مسافرو کښې څوک داسې غلام دې چه دَ مالک دَ اجازت نه بغیر دَ کور نه راوتلے دے۔ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ۝ نو په ټولو مسافرو قرعه اندازی (خسنړے) واچولو نو دے څله دَ حضرت یونس علیه السلام په نوم خسنړے اُونو دِے سره هغه پخپله دریاب ته توپ کړو نو دَ الله په حکم سره یو لوئے مهی رانښکاره شو چه هغه په اُوبوکښې دَ غوږجیدلو نه مخکښې هغه الواک تیر کړو. اخرجه احمد وغیره عن ابن مسعود رضی الله عنه (روح ج ۲۳ ص ۱۴۳) وَهُوَ مُلِيْمٌ نفسه (ابو سعید، ۷و ۳)۔ ۵ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ الخ حضرت یونس علیه السلام دَ مهی په خیټه کښې دَ الله په حمد وثناء او تسبیح وتقدیس کښې مشغول شو او دَ خپل لغزش اعتراف ئے اُوکړو نو الله تعالیٰ دَ هغه مصیبت نه نجات ورکړو لکه چه په سورة الانبیاء (ع ۶) کښې دی. فنادی فی الظلمت ان لا اله الا انت سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ. که چرے یونس علیه السلام الله ته اوازنهٔ وے کړے او دَ هغهٔ په تسبیح او تقدیس کښې نهٔ وے مشغول شوے نو هغهٔ به تر قیامته پورے دَ مهی په خیټه کښې پاتے شوے وے لَلَبِثَ الخ موښږ هغه په یومیدان کښې اُوغورځولو چه هلته کومه سوړے لرونکے اُونه نهٔ وه دغه وخت هغه دَ مهی په خیټه کښې دَ پاتے کیدلو په وجه کمزورے ستړے ستومانه وو نو موښږ په هغهٔ باندے زیلئی لرونکے اُونه راُاوټوکوله چه په هغے کښې هغه خپل بدن اُونغښتلو دَ مچانو نه محفوظ شو يَقْطِيْنٍ، هر هغه اُونے ته وائی چه ښاخ (تنه) نهٔ لری او په زمکه خوریږی او زیلئی لری. کل شجرة لا تقوم علی ساق کالدباء والبطیخ والحنظل ونحو ذلك فهی عند العرب یقطین (ابن جریر) ځینے روایتونو کښې راځی چه دَ دینه مراد کدو دے. الجمهور علی انه القرع وفائدته ان الذباب لا یجتمع عنده (مدارك)۔

۹ وَاَرْسَلْنٰهُ الخ حضرت یونس علیه السلام چه دَ کوم قوم طرف ته لیږلے شوے وو دَ هغوئی شمار یو لاکهـ نه زیات وو او په معنیٰ دَ بَلْ دے قال الفراء او بمعنی بل (قرطبی. مدارك) فَاٰمَنُوْا الخ دَ یونس علیه السلام قوم دَ عذاب اثار لیدلو سره توبه ئے ویستلے وه او هغوئی په یونس علیه السلام ایمان راوړے وو دَ دے وجے نه الله تعالیٰ هغوئی دَ عذاب نه بچ اُوساتل. او دَ ژوند په تینه کښې ئے هغوئی ته دَ دُنیاوی منافعو نه دَ لفعے اخستلو موقع ورکړه.

۱۰ فَاسْتَفْتِهِمْ الخ دَ فَاسْتَفْتِهِمْ اهم اشد خلقا والا زجر دوباره ذکر کړے شوے دے دَ پاره دَ زړا اچولو او واضح کولو او دَ سورت دَ ابتداء سره

متعلق دے، دے ځائے نه واخله إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ پورے د
فرشتو او د پیریانو د حال اعاده ده په طور د لف نشر مرتب. مشرکانو
به فرشتو ته د خدائے لونړه وئیلے او هغه به ئے د خدائے سره سفارشیانے
ګڼړلے او از به ئے ورته کولو لیکن خپل ځان د پاره به ئے ځامن خوښول
دلته په طور د زجر دے باطله دعوی باندے د هغوئ نه دلیل طلب
کړے شویدے دا دعوی چونکه د عقل نه خلاف او بالکل باطل ده د
دے وجے نه په دے باندے کوم دلیل نهٔ شي قائمیدلے. فاستخبر
هؤلاء الکفرة عن وجه کون البنات وهن اوضع الجنسين له تعالى بزعمهم
والبنين الذين هم ار فعهما لهم فانهم لا يستطيعون ان يثبتوا له
وجها لانه فی غاية البطلان لا يقوله من له ادنى شئ من العقل.
(روح ج ۲۳ ص۱۴۹)

أَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ إِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾

یا مونږ پیدا کړے الله فرښتے ښځے او هغوئ کتل

أَلَآ إِنَّهُمْ مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ

او ږئ (پوهه شه) هغوئ د ځان نه جوړ کړے شوی دروغ وائي. چه اولاد دے

اللّٰهُ ۙ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ

د الله او بیشکه هغوئ دروغژن دی ایا هغهٔ خوښے کړلے لونړه

عَلَى الْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾

په ځامنو. په تاسو څهٔ شوی ی څنګه انصاف کوئ

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾

ایا تاسو سوچ نهٔ کوئ یا تاسو سره کوم دلیل شته دے ښکاره.

فَأْتُوا بِكِتٰبِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

تو راؤړئ خپل کتاب که چرے یئ تاسو رښتونی

وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ

او ګرځولے ده هغوئ په مینځ کښ ئلله د الله او د پیریانو رشته او بیشکه

عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ

معلومه ده پیریانو ته ۱؎ چه بیشکه هغوئ به تیولی شوی را وستلی شی ف۱ پاک دے

اللّٰهِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِیْنَ ﴿۱۶۰﴾

الله د هغه خبرو نه چه دوئ ئے بیانوی. لیکن کوم بندګان چه د الله غوره کړے شوی دی ف۲

فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ مَاۤ اَنْتُمْ عَلَیْهِ

نو تاسو او تاسو چه د چا عبادت کوئ ۲؎ هیڅوک د هغوئ په لاس نشی

بِفٰتِنِیْنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِیْمِ ﴿۱۶۳﴾

ګمراه کولے لیکن هغه څوک چه رسیدونکے دے دوزخ ته ف۱

وَمَا مِنَّاۤ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾ وَّاِنَّا لَنَحْنُ

او مونږ کښې ۳؎ د هر یو دپاره (فرشتے) یو ځائے مقرر دے ف۲ او مونږ یو

الصَّآفُّوْنَ ﴿۱۶۵﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿۱۶۶﴾

صف تړونکی ف۳ او مونږ یو پاکی بیانوونکی.

نکات: ۱؎ اعاده د حال د جنات ۱۲- ۲؎ د ملائکه د حال دویم ځل اعاده ۱۲-

موضح قرآن ف۱ یعنی تاسو انسانان او ستاسو معبودان شیطانان بے د الله د مرضئ نه څوک نهٔ شی ګمراه کولے ګمراه به هغه وی څوک چه هغهٔ ګمراه اُولیکو ۱۲ منه. ف۲ دلته الله تعالیٰ د فرشتو د ژبے او د هغوئ د طرفه اُوفرمائیل لکه چه ډیرو ځایونو کښې ئے د انسانانو د جانبه د هغوئ د ژبو دعاګانے فرمائیلی دی. یو ځائے مقرر دے یعنی (خپل حد دے) د هغے نه مخکښې نهٔ شی تللے. دائے په دے وجه اُوفرمائیل چه کافرانو به وئیل فرشتے د الله لونړه دی د پیریانو د ځامنو نه پیدا شوی دی. نو پیریانو ته خپل حال معلوم دے او فرشتے هم داشان وائی چه مونږ د دغه خبرو طاقت نهٔ لرو چه د الله تعالیٰ د احکامو نه د یو ویښته برابر مخکښې روستو شو ۱۲- ف۳ یعنی په خپل خپل حد باندے هره یوه ولاړه وی

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د پاره د حساب او عذاب ۱۲. ف۲ یعنی د مخلصینو بیان موافق د واقعے سره دے ۱۲-

تفسیر: ۱۵۰ اَمۡ خَلَقۡنَا الخ ایا فرښتې موږ د هغوئ په وړاندې مؤنث پیدا کړې دي چه هغوئ دوئ ته د خدائے لونړه وائي. اَلَا اِنَّهُمۡ الخ اصل خبره دا ده چه په دې باندې هغوئ سره هیڅ دلیل نشته هغوئ خالص دروغ وائي او د الله طرف ته د ولد نسبت کولو سره د هغه په پاک ذات باندې محض افتراء کوي او هغوئ په دې دعوی کښې یقینًا دروغژن دي. اَصۡطَفَى الۡبَنَاتِ الخ ایا الله خپل ځان د پاره لونړه خوښې کړیدي؟ په تاسو څه شویدي څنګه فضول خبرې کوئ او عبث حکم لګوئ؟ ایا تاسو لږ شان د سوچ نه کار نه اخلئ؟ - اَمۡ لَكُمۡ سُلۡطٰنٌ یا ستاسو سره کوم واضح دلیل هم موجود دے نو راوړئ که چرے تاسو رښتونی یئ نو هغه دلیل پیش کړئ.

۱۵۸ وَجَعَلُوا الخ دا د پیریانو د حال اعاده ده ځینې مشرکانو د الله تعالی او د جنانو مینځ کښې هم رشته قائم کړے وه (عیاذًا بالله) د هغوئ په خیال کښې فرښتې د خدائے لونړه دي. او د هغوئ میاندې د جنانو د بادشاهانو شهزادګئ دي. قال مجاهد والسدی ومقاتل ایضا القائل بذلك كنانة وخزاعة قالوا ان الله خطب الى سادات الجن فزوجوه من سروات بناتهم فالملائكة بنات الله من سروات بنات الجن (قرطبی ج ۱۵ ص۱۳۵) یا د نسب نه مراد مناسبت دے یعنی هغوئ شیطانان د الله په عبادت کښې شریک کړل او هغوئ ئے شفیع غالب اوګڼړل. او اریدا جعلوا بینه سبحانه وبینهم مناسبة حیث اشرکوهم به تعالی فی استحقاق العبادة (روح ج ۲۳ ص۱۵۱).

۱۵۸ وَلَقَدۡ عَلِمَتِ الخ حال دا دے چه د شیطانانو یقین دے چه هغوئ ټول د جهنم ښکار دے. نو بیا راته اووایئ چه د دے شیطانانو د الله تعالی سره څه رشته کیدے شي او هغوئ څنګه شفیع غالب کیدے شي. سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یَصِفُوۡنَ ۝ مشرکان چه کوم څه وائي یعنی د فرښتو او جنانو د الله تعالی سره نسبي تعلق کیدل او د فرښتو او پیریانو د الله تعالی په نزد شفیع غالب کیدل الله تعالی د دے افتراءات نه پاک دے لهٰذا الله په رابللو کښې د دے شریکانو نه پاک اوګڼړئ - اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِیۡنَ. دا د محضرون نه استثناء ده. كما مر تفسيره فی (ص۵۳).

۱۶۱ فَاِنَّكُمۡ الخ خطاب مشرکانو سره دے اے مشرکانو! تاسو او ستاسو معبودان د شیطانانو او د پیریانو د جنس نه خپل مکر او فریب سره د الله په مقابله کښې هیڅوک نه شي ګمراه کولے. لیکن د چا جهنمي کیدل چه د الله په علم کښې مقدر شویدي هغوئ به ستاسو د فریب په دام کښې

راجع. لعلمه تعالى بانه يصبر على الكفر بسوء اختياره ويصير من اهل النار لامحالة (ابو السعود ج ۷ ص ۱۶۷)

۷۵ وَمَا مِنَّا الخ لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ، پورې د فرښتو د حال دويم محل اعاده ده. فرښتې پخپله د خپل عبوديت اعتراف کوي. محمونږ ته د هر يو د الله په دربار کښې يو معين مقام دے چه د هغې نه هغوئ يو ذره هم مخکښې روستو کيدے نه شي. مونږ تولے د الله په مخکښې صف جوړولکے ولاړ يو د هغه په عبادت کښې مصروف يا د هغه د احکامو انتظار کوو او مونږ د الله تعالى تنزيه او تقديس کوو او د مشرکانو د شرک نه د الله تعالىٰ لويئ او د هغه د پاکئ اعلان کوو. فرښتې پخپله اعلان کوي چه هغوئ نه خو معبودان دي نه د خدائے لونړه او نه د هغه په دربار کښې شفيع غالب دي. والمراد انهم يخبرون انهم يعبدون الله بالتسبيح والصلوٰة وليسو معبودين ولا بنات الله (قرطبي ج ۱۵ ص ۱۳۸)

وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا
او دوئ خو به وئيل لله که چرے وے محمونږ سره څه احوال

مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾
د مخکنو خلقو . نو مونږ به وے بندګان د الله غوره کړے شوي ف

فَكَفَرُوا بِهِ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ
نو د دينه منکر شول اوس به مخکښې پوهه شي او مخکښې شوې دے کله

كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ
محمونږ حکم د خپلو بندګانو په حق کښې کوم چه رسولان دي. بيشکه د هغوئ

الْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿١٧٣﴾
امداد به کولے شي او محمونږ چه کوم لښکر دے بيشکه هغه غالب دے

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ
نو ته مخ وګرځوه د دوئ نه تر يو وخت پورې او ګوره ته دوئ ته چه هغوئ به مخکښې

يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۷۵﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ
اوويني (خپل انجام) ايا نو څه زمونږ عذاب په تلوار غواړي ﴿۱۷﴾ بيا چه کله نازل شي

بِسَاحَتِهِمۡ فَسَآءَ صَبَاحُ الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿۱۷۷﴾ وَتَوَلَّ
د دوئ په ميدان (غولي) کښې نو بد صبا به وي د ډيرول شوو ﴿۱﴾ - او مخ واړوه

عَنۡهُمۡ حَتّٰى حِيۡنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبۡصِرۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۷۹﴾
د دوئ نه تر يو وخت پورې - ته اوګوره او س به هغوئ هم په مخکښ اويني ﴿۳﴾

سُبۡحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۱۸۰﴾
پاک ذات دے ستا رب هغه ستا پرور دګار د عزت والا پاک دے د هغې خبرو نه کوم چه مشرکان ئې کوي

وَسَلٰمٌ عَلَى الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ
او سلام دے په رسولانو باندې او ټول صفتونه الله لره دي

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۸۲﴾
رب دے د ټول عالم ﴿۱۱﴾

نکات: ۱ سله شکوی سره د تخویف ۱۲ - سله بشارت دنیوی ۱۲ - سله زجر سره د تخويف دنيوى او تسلی ۱۲ - سله د سورت خلاصه ۱۲ - سله د کارساز ئي صفات ۱۲ -

موضح قرآن | ف د عربو خلقو يه د انبياؤ قوم او ريدو د هغوئ د علم نه خبر نه وو نو دا به ئې وئيل او س چه په هغوئ کښې پيغمبر پيدا شو نو که هغه نه اوګرځيدل انکار ئې اوکړو ۱۲ - ف۲ دا د فتح په ورځ اوشو ۱۲ منه رحمه - ف۳ شائد اوله وعده د دنيا عذاب او روستو د اخرت عذاب ۱۲ -

تفسیر: لله وَاِنۡ كَانُوۡا الخ دا شکوی ده سره د تخويف دنيوى نه - د قرآن د نزول نه مخکښ به د قريشو مشرکانو وئيل چه لکه څنګه مخکنو خلقو يهود نصارٰى) باندې کتابونه نازل شول که چرې دا شان کوم کتاب په مونږ نازل شوے وے نو مونږ به د الله غوره کړے شوی بندګان جوړ شوے وے او خالص د الله عبادت به مونږ کولے - کله چه مونږ د الله د طرفه هغوئ ته اخري کتاب (قرآن) راغے نو فورًا ئې

دَ هغې نه انکار اوکړو. دَ دے کفر او انکار انجام به لږ زر دے دوی چه اووینی.

۱۷۱ وَلَقَدْ سَبَقَتْ الخ دا بشارت دنیوی دے. څمونږ فیصله دَ انبیاء علیهم السلام په حق کښې صادر شویده چه په آخر الامر به هغوی او دَ هغوی متبعین غالب او منصور وی او دَ هغوی دشمنان به مغلوب او مقهور وی. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ الخ دا مشرکانو باندے زجر او دَ هغوی ویرول دی په دنیا کښې او نبی علیه السلام ته تسلی ده لږ وخته پورے تاسو دوی ته څه تعرض مه کوی (په دوی هیڅ کار مه لرئ) او گورئ چه دَ دوی انجام به څه کیږی؟ هغه وخت به دوی پخپله هم خپل انجام اووینی حِیْنٍ نه مراد دَ جنگ بدر پورے وقفه ده او دَ انجام نه مراد په جنگ بدر کښې دَ هغوی قتل او قید کیدل دی. اِلٰی حِیْنٍ، المراد الی یوم بدر (کبیر) فسوف یبصرونها وما یحل بهم من العذاب والاسر والقتل (بحر ج ۷ ص ۳۷۰).

۱۷۶ افبعذابنا الخ دا څنګه کم عقله او ناپوهه دی چه څمونږ عذاب تلوار سره غواړی حال دا دے چه کوم ورځ څمونږ عذاب په هغوی نازل شی هغه ورځ به دَ دوی دَ پاره ډیره بده ورځ وی. وَتَوَلَّ عَنْهُمْ الخ بیا دے ده! تاسو فی الحال په هغوی څه کار مه لرئ او انتظار کوئ چه دَ هغوی انجام به څه وی هغوی به پخپله هم خپل انجام په خپلو سترګو اووینی.

۱۸۰ سبحان ربك الخ دا د سورت خلاصه ده الله تعالی چه ستا مربی دے او دَ چاپیره لاس (اختیار) کښې چه عزت او غلبه ده دَ مشرکانو دَ شرک او افتراء نه پاک دے. دَ سَلٰمٌ علی المرسلین انبیاء کرام دَ الله تعالی ډیر زیات غوره کړے شوی او عاجز بندګان دی هغوی په خدائی اختیاراتو کښې دَ هغۀ سره بالکل شریک نه دی بلکه په مصائب او حوادث کښې هغه (الله) دوی ته نجات او سلامتیا ورکوی والحمد لله رب العالمین دَ کارسازئ صفتونه الله پورے خاص دی چه دَ ټول کائنات رب دے. دیکښې دَ هغۀ سره هیڅوک شریک نۀ دے او نۀ دَ هغه په شاهی دربار کښې څوک شفیع غالب شته. لهٰذا هر قسم عبادت هغه دَ پاره په ځائے راوړو. او په مصائب او مشکلات کښې ما فوق الاسباب صرف هغه ته آواز ورکوی. وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

سورۂ صٰفّٰت کښې د توحید آیتونه او دهغې خصوصیات

۱ وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ـــ نه تر ـــ وَرَبُّ الْمَشَارِقِ (۱۶) نفي د شفاعت قهري د ملائکه نه.
۲ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ـــ نه تر ـــ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ (۱۰) نفي د شفاعت د شیطانانو نه.
۳ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ـــ نه تر ـــ اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ (۱۲) نفي د شفاعت د رهنمایانِ سوء او د تابعین او متبوعین بد انجام ذکر کول.
۴ د اووه پیغمبرانو قصې د شفاعت قهري د نفي د پاره.
۵ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ـــ نه تر ـــ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۵۶) د شرک د ټولو قسمونو نفي.

بحمد الله تعالی نن په ورځ د کل تاریخ ۱۴۲۶ھ جمادی الاولی مطابق ۲۰۰۵ء مارچ ۲۸ پاؤ باندے ۱ اته بجے د سحر د سورۂ صٰفّٰت پښتو تفسیر او ترجمه ختمه شوه. فالحمد لله رب العٰلمین والصلوٰة والسلام علی سید المرسلین وخاتم النبین وعلیٰ اٰله وصحبه اجمعین وعلی سائر عباد الله الصالحین۔

(عبد المالک المهمندی عفی الله تعالیٰ عنه)

سورۂ ص

ربط سورۂ صافات کښې بیان اوشو چه مشرکان څوک کارساز او د خدائے سره شفیع غالب ګڼړی هغوی خو پخپله عاجز دی او د خپل عجز اظهار د خدائے په مخکښې کوی او په حاجتونو کښې خدائے ته آواز کوی نو هغوی پخپله څنګه کارساز او شفیع غالب کیدے شی۔ اوس په دې سورۂ ص کښې په طور د ترقئ ذکر اوشی چه مشرکان کوم د الله بندګان شفیع غالب ګڼړی هغوی د خپلے عاجزئ او کمزورئ ظاهرولو نه علاوه پخپله څښې جسمانی تکلیفونو او ازمائشونو کښې مبتلا دی د دے وجے نه هغوئ په هیڅ شان هم کارساز او شفیع غالب نشی کیدے۔

خلاصه تمهید سره د ترغیب نه، تخویف، زجر، شکوٰی، په دعوٰی باندے پنځه نقلی دلیلونه او یو دلیل وحی په آخر کښې د فرشتو او د پیریانو د عجز بیان۔

تفصیلی خلاصه

ص وَالْقُرْآنِ ـــ نه ترـــ فِیْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ تمهید سره د ترغیب۔ دا قرآن تول نصیحت دے دا او منئ د عناد او استکبار په وجه سره د دهٔ نه اعراض مه کوئ کَمْ اَهْلَکْنَا الخ تخویف دنیوی د دوئ نه مخکښې مونږ منکرین عذاب سره هلاک کړل۔ وعجبوا ان جاءهم الخ دا شکوٰی ده۔ مشرکان تعجب کوی چه یو بشر نبی او کرځولے شو د دے وجے نه هغه نبی نه دے بلکه جادوګر دے او د توحید د مسئلے یو نوے د دهوکے جال ئے خور کړے دے۔ ام عندهم خزائن ربك الخ دا زجر دے الله تعالیٰ د ټولو خزانو مالک دے او د زمکے او آسمان بادشاه دے هغهٔ ته معلومه ده چه څوک د نبوت مستحق دے۔ کَذَّبَتْ قبلهم الخ دا تخویف اُخروی دے۔ د دوئ نه مخکښې لوئے لوئے طاقتور قومونه د حق نه د انکار په جرم کښې تباه شویدی دا مشرکان به د هغه شان انجام منتظر دی۔ وقالوا ربنا عجل لنا الخ (۱۶) دا شکوٰی ده دا معاندین خو مره ډیر بے باک دی چه عذاب په دنیا کښې غواړی۔ اصبر علی ما یقولون۔ نبی علیه السلام ته تسلّی ده۔

واذکر عبدنا داوٗد الخ دا اولنے عقلی دلیل دے۔ حضرت داوٗد علیه السلام څومره عظیم المرتبت پیغمبر وو دینی او دنیوی نعمتونه ورکړے شوے وو۔ لیکن د دے باوجود په یو لغزش باندے هغه ته هم تنبیه ورکړے شوه چه په هغې باندے هغه ډیر زیات عاجزی او زاری سره د الله تعالیٰ نه معافی او غوښتله د دے وجے نه هغه شفیع غالب او کارساز هرګز نشی کیدے۔ وما خلقنا السماء الخ

دا په توحید باندے عقلي دلیل دے . زمکه او آسمان او دا ټول کائنات هسے بیکاره نه دي پیدا کړے شوي بلکه د کائنات زره زره د الله تعالیٰ د وحدانیت او د هغهٔ د قدرت کامله دلیل دے . فویل للذین کفروا من النار . تخویف اخروي دے . ام نجعل الذین امنوا الخ دا زجر دے . کتٰب انزلنٰه الیك الخ دا دلیل وحي دے دا ټول د برکت نه ډک کتاب (قرآن) چه په هغے کښ د توحید مسئله او نور احکام واضح بیان شویدي مونږ دے د پاره نازل کړي دي چه د عقل والا په دے کښ غور اوکړي او په دے ځان پوهه کړي .

ووهبنا لداود سلیمٰن ــــ نه تر ــــ لزلفٰی وحسن مآب (۴۰) دویم دلیل دے حضرت سلیمٰن علیه السلام د لوے درجے پیغمبر او بادشاه وو هغه هم په یو امتحان کښ راګیر کړے شو . آخر د الله تعالیٰ په حضور کښ ئے فریاد او زاري اوکړه نو د هغه ابتلاء او ازمائش نه ئے خلاصے بیا مونده دا د دے خبرے دلیل دے چه هغه شفیع غالب او کارساز نه وو .

واذکر عبدنا ایوب .... (۴۲) دریم نقلي دلیل دے حضرت ایوب علیه السلام سخت جسماني تکلیف کښ مبتلا شو آخر ئے د خپل مولا په مهربانئ په دربار کښ عاجزي اوکړه او دُعائے اوغوښتله نو هغه محض خپل رحمت سره هغوی ته شفاء کامله ورکړه . څوک چه پخپله داسے تکلیفونو کښ مبتلا شو او د مصیبتونو نه ئے خپل حفاظت اونکړو . نو بیا هغه څنګه شفیع غالب او کارساز کیدے شي .

واذکر عبادنا ابراهیم الخ دا څلورم دلیل نقلي دے . حضرت ابراهیم ، اسحٰق ، او یعقوب علیه السلام څمونږ مخلص او غوره کړے شوي بندګان وو او همیشه د آخرت په تیاري کښ مصروف او سیدل د دے وجے نه هغوی کارساز نه شو کیدے او نه شفیع غالب .

واذکر اسمٰعیل الخ دا پنځم نقلي دلیل دے . حضرت اسمٰعیل ، الیسع ، او ذوالکفل علیهم السلام ټول نیکي کوونکي او تابعدار بندګان وو څمونږ هغوئ کارساز او شفیع غالب نه وو .

وان للمتقین لحسن مآب ــــ نه تر ــــ ماله من نفاذ . بشارت اخروي دے . وان للطٰغین لشر مآب ــــ نه تر ــــ ان ذٰلك لحق تخاصم اهل النار . دا تخویف اخروي دے . قل انما انا منذر ــــ نه تر ــــ انتم عنه معرضون (۵۶) د دلائل عقلیه او نقلیه نه روستو د سورت دعوي ذکر شوه د جلیل القدر انبیاء علیهم السلام خو دا حال دے چه په طور د امتحان او ابتلاء پخپله په مصیبتونو او تکلیفونو کښ نیول شوي دي او د الله په حضور کښ عاجزي کوي د دے وجے نه د خدائے واحد ، قهار او مولا عزیز او غفار نه علاوه څوک کارساز او متصرف او مختار نشته . او په انبیاء علیهم السلام کښ څوک هم د

هغهٔ په حضور کښ شفیع غالب نشته .

ما کان لی من علمٍ ـــــ نه تر ـــــ انما انا نذیر مبین . دا د سوال مقدر جواب دے مشرکانو به وئیل که چرے تا سو رښتونی پیغمبر یئ نو مونږ ته د راتلونکو حوادث د وقوع نه مخکښ خبر راکړئ دا شان دا هم راته اوښایئ چه د کوم عذاب نه تاسو مونږ ویره وئ هغه به کله راځی . ورے فرمائیل جواب ورکړه چه ما ته هیڅ علم نشته چه په ملأ اعلیٰ (آسمان کښ فرشتو) ته څه د راتلونکو حوادث باره کښ څه حکم ورکولے شی او فیصله کیږی . ما ته خو چه کوم څیز ښودلے شی هغه د وحی په ذریعه ښودلے شی او د وحی تعلق هم اکثر د هغه امورو نه وی د کوم چه شریعت او دین کښ ضرورت وی .

واذ قال ربك للملٰئكة ـــــ نه تر ـــــ فسجد الملٰئكة کلهم اجمعون . دے آیتونو کښ د فرشتو حال ذکر شوے دے چه هغوی ټول د الله تعالیٰ عاجز او فرمانبردار مخلوق دے او د الله په حضور کښ هیڅ اختیار نه لری د دے وجے نه هغوئ هم په هیڅ شان شفیع غالب نشی کیدلے .

الا ابلیس استکبر وکان من الکافرین ـــــ نه تر ـــــ وممن تبعك منهم اجمعین . د جنات حال دا دے چه د هغوئ پورتنی نیکه د الله د حکم نه بغاوت اوکړو چه د هغے په وجه ملعون او مردود شو او هغه او د هغه اولاد به د جهنم خشاک ګرځولے شی . د دے وجے نه دا سے ملعون او شړلے شوے جماعت هم د الله په نزد شفیع غالب نشی کیدلے .

قل ما اسئلکم ـــــ نه تر ـــــ آخر سورت . کښ دے ناصحانه تبلیغ او دے واضح بیانات سره تاسو نه هیڅ معاوضه هم نه غواړم او نه تاسو تکلف سره د خپل ځان نه خبرے جوړوم . بلکه د الله وحی تاسو ته اوروم او س خو تاسو نه منئ د قیامت په ورځ به د غیر الله کارساز او شفیع غالب ګڼړلو بد انجام پخپله سترګو اووینئ .

سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة صٓ مکه کښې نازل شوې او دا کښې اته اتیا آیتونه او پنځه رکوع ګانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ﴿۱﴾ بَلِ الَّذِيْنَ

قسم دے دے قرآن نصیحت کوونکی (پوهه ورکوونکی) باندے ئه بلکه کوم خلق

كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ﴿۲﴾ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ

چه منکر دي په سرکشئ کښې دي او په مقابله کښې . ډیر هلاک کړل مونږ د دوی نه

قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ﴿۳﴾

مخکښې ډلے ډلے ئه بیا ئے نارے وهلے او وخت پاتے نه وو د خلاصی ئه .

وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ

او تعجب ئے کولو پدے خبره باندے چه راغلے هغوی ته ویروونکے د هغوی نه او اووئیل

الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۴﴾ اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ

کافرانو دا څه جادوګر دے دروغژن . آیا او ګرځول هغه د ډیرو (معبودانو) دګنګ

اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴿۵﴾

یو نه کښې صرف د یو (معبود) بنا ګی ئه دا هم یو ډیره د تعجب خبره ده .

وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا

او روان شول ډیر مشران د هغوئ نه څه چه ځئ (پاځئ) او محکم شئ

عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ يُّرَادُ ﴿۶﴾ مَا سَمِعْنَا

خپلو معبودانو باندے بیشکه دے خبره کښې څه غرض دے . نه دے اوریدلے مونږ څه

بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

دا څه (توحید) په روستنی دین کښې هم نو هیڅ نه دے (توحید) مګر دا خبره

اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْۢ بَيْنِنَا ط

وګان ته جوړه شوې ده ف۱. آیا په هغه باندې شه نازل شو نصیحت په مونږ ټولو کښې نور هیڅ لله

بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِيْ ۚ بَلْ لَّمَّا

بلکه دوی ته ده هغوی دهوکه شوې ای ځما په نصیحت (قرآن) کښې هیڅ (خبره) نشته

يَذُوْقُوْا عَذَابِ ۝٨ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ

هغوی ځما عذاب ته دے څکلے. آیا دوی سره دی لله خزانې دَ مهربانۍ

رَبِّكَ الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ۝٩ اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ

ستا دَ رب چه غالب دے او بخونکے ف۲. یا دَ دوی حکومت دے په آسمانونو کښې

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫ فَلْيَرْتَقُوْا فِي الْاَسْبَابِ ۝١٠

او په زمکه کښې او کوم څه چه دَ دوی په مینځ کښې دی نو دوی له پکار دی چه او خیژی (آسمان ته) رسئ او کړئ نو

نکات

۱ تمهید سره دَ ترغیب نه ۱۲ ۲ تخویف دنیوی ۱۲ ۳ شکوی ۱۲

۴ زجر مشرکانو دَ پاره ۱۲

موضح قرآن

ف۱ روښتنے دین ئے دَ خپلو پلرونو نیکونو دین ته او وئیل یعنی ځمکښې مونږ اوریدل چه پخوانو خلقو به داسے خبرے کولے لیکن ځمونږ پلرونو نیکو خودائے ته وئیلی او نه ئے کړیدی. ف۲ هغه کوم چه دوی وائی چه په مونږ (قرآن) ولے نازل نه شو ۱۲.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی قرآن چه په آخر کښې مونږ هغه بیا موندلے ۱۲.

ف۲ یعنی په آسمان پورے دَ زور رسیدلو طاقت هم نه لری چه آسمان ته او خیژی نو بادشاهی به دوی دَ پاره څنګه شی ۱۲.

تفسیر

۲ ص والقرآن نه تر وشقاق. دا تمهید دے سره دَ ترغیب نه. والقرآن الخ قسم دے او جواب دَ قسم محذوف دے ای ما بقی موضع شبهة یعنی دا ذکر او نصیحت نه ډک قرآن پدے شاهد دے چه دَ توحید مسئله کښې دَ شک او شبه ګنجائش باقی پاتے نه شو دَ کافرانو دَ نه منلو وجه دا نه ده چه په مسئله کښې څه شک پاتے دے بلکه اصلی وجه دا ده چه دا کافران او مشرکان په کبر او غرور او عناد او عداوت کښې غوره څیدلے دی. د دے وجے ئے انکار ته ملا تړلے ده او دَ دوی دَ غرور او استکبار سبب دَ دنیاوی سامان عیش ډیروالے دے. بل متعت هؤلاء واباءهم حتی نسوا الذکر وکانوا قوما بورا (الفرقان ۲۶) کله چه په سورة صافات کښې بیان اوشو چه ټول انبیاء علیهم السلام فرښتے او جن ټول دَ الله په دربار کښې عاجز

دی او ټول هر څه کوونکے صرف الله تعالیٰ دے تو دینه صفا ظاهره شوه چه هغوئ د څه دائے سره شفیع غالب نهٔ دی او د دے توضیح او تفصیل سره د شک او شبهے هیڅ گنجائش باقی پاتے نهٔ شو لیکن د دے باوجود کافران د غرور او عناد په وجه نهٔ منی. هذا ما افاده الشیخ قدس سره یعنی مفسرینو انك لمن المرسلین (بیشکه ته ضرور د رسولانو نه ئے) محذوما الامر کما قال کفار مکه من تعدد الالهة (خبره داسے نهٔ ده لکه چه د مکے کافران وائی چه معبود ډیر دی) محذوما الامر کما یقولون انك ساحر کذاب (خبره داسے نهٔ ده څنګه چه مشرکان وائی چه ته جادوګر او دروغژن ئے) وغیره جواب قسم مقدر متلے دے (روح، جلالین) دا د ذکر او نصیحت والا قرآن خو منل پکار وو لیکن کافران په ضد کښ راغلل د هغهٔ نه ئے انکار اوکړو.

۳ کَمۡ اَهۡلَکۡنَا الخ دا تخویف دنیوی دے. لَاتَ دا لا مشبه بلیس دے تاء تانیث تاکید د پاره زیاته کړے شوے ده. حِیۡنَ مَنَاصٍ، د هغهٔ خبر دے مناص، خلاص هی لا المشبهة بلیس عند سیبویه زیدت علیها تاء التانیث لتاکید معناها وهو النفی (روح ج ۲۳ ص۱۶۳) ای لیس الحین حین مناص (بیضاوی) د دوئ نه مخکښ موتږ ډیر قومونه هلاک کړی دی کله چه څو ورته عذاب راغے نو چغے ئے وهلے حال دا دے چه دغه وخت د عذاب نه د بچ کیدلو او خلاصی موندلو نهٔ وو. د مکے مشرکان هم د داسے عذاب د پاره تیار اوسیږی یعنی انهم یهلکون کما هلك من قبلهم (مظهری ج۸ ص۱۵۵) ۴ وَعَجِبُوۡۤا الخ دا زجر دے، دے ځائے ته ترپل هُمۡ فِیۡ شَكٍّ مِّنۡ ذِکۡرِیۡ پورے د مکے د کافرانو د تکبر او عناد ذکر دے. مُّنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ، هغوئ په دے هم حیرانتیا او تعجب کوی چه د هغوئ نه یو بشر رسول اوګرځولے شو د دوئ طرف ته اولیږلے شو (مُنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ) رسول بشر من انفسهم (جامع البیان ص۳۸۹)

۵ وَقَالَ الۡکٰفِرُوۡنَ الخ دا شکوی ده د کافرانو د عناد. کافرانو اوئیل چه دا خو یو جادوګر دے د دهٔ په لاس څو د جادوګرو پشان هنرونه او لوبے ظاهریږی او د وحی او نبوت په دعوی کښ دروغژن دے. په خدائے دروغ تړی (العیاذ بالله) معجزاتو ته جادو او د جادوګرو هنر وئیل او یو داسے رښتیا ویونکی انسان ته د دروغو نسبت کول چه هغهٔ په ټول عمر کښ هیڅکله دروغ نهٔ دی وئیلی ټول په ضد او عناد بانـدے مبنی دے.

۶ اَجَعَلَ الخ د ټولو معبودانو د الوهیت نفی ئے اوکړه هغه الوهیت صرف یو ذات پاک د پاره خاص کړو او وائی چه د یو خدائے نه سیوا بل څوک اِله (معبود) نشته دا خبره خو ډیره حیرانتیا او تعجب کښ اچوونکے ده. عُجَابٌ

صیغه دَ مبالغې ده والعجاب الذی قد تجاوز حد العجب (قرطبی ج ۱۵ ص ۱۵۱).
خلقو چه دَ خدائے نه علاوه په سوونو او زرګونو معبودان او کارساز
ګڼل کړیدی هغوئ دَ پاره واقعی دَ توحید مسئله ډیره زیاته تعجب ګښ
او چونکې ده.
ؔ وانطلق الخ دَ ابوجهل، عتبه، شیبه، امیه بن خلف، عتبه بن ابی معیط،
عاص بن وائل وغیره دَ قریش سردارانو یو وفد ابوطالب ته راغلی دے دَ پاره
د هغه خپل وراره دَ معبودان باطله دَ سپک وئیلو نه منع کړی یعنی هغه د
ځونږ دَ معبودانو باره کښ دا نۀ وائی چه هغوئ هیڅ نشی کولے هغه د مونږ په
خپل حال بانده پریږدی او مونږ به هغه په خپل حال بانده پریږدو ابوطالب
رسول الله صلی الله علیه وسلم را اوبللو ورته ئے اووئیل چه ځما وراره دا د
قریش اشراف دی د دے مقصد دَ پاره راغلی دی. نبی علیه السلام او فرمائیل
ز دوی نه صرف دَ یوے خبرے مطالبه کوم که چرے دوی هغه او مني نو ټول
عرب به د دوی تابعدار او حکم منونکی شی ابوجهل فوراً اووئیل مونږ خو داسے
لس خبرو منلو ته تیار یو.
نبی علیه السلام او فرمائیل هغه یوه خبره دا ده لا اله الا الله. دا ئے چه
واوریدل نو وے وئیل اجعل الالهة الٰهًا واحدًا. او پا څیدل رووان شول
او خپل مینځ کښ ئے اووئیل دَ خپلو معبودانو عبادت بانده ټینګ او سیږئ
دے آیتونو کښ دے طرف ته اشاره ده (روح، قرطبی، خازن، معالم).
ؔ ان هذا الخ دا هم دَ کافرانو مقوله ده دوئ پریګړی دا ریاست (مشری)
او لوبئ یو داسے څیز دے چه هر سړے دَ دے خواهش لری او محمد (صلی الله
علیه وسلم) هم دَ دے آرزو دَ تکمیل دَ پاره دَ توحید وغیره نعره اوچتوی
ان هذا الذی یدعیه محمد من التوحید او الذی یقصد من الریاست و
الترفع علی العرب والعجم لشئ یتمنی او یریده کل احد (مظهری ج ۸ ص ۱۵۲)
ؔ ما سمعنا الخ هذا سره دَ توحید مسئلے ته اشاره ده او الملة الاخرة نه دَ
حضرت عیسٰی علیه السلام دین یا دَ آباؤ اجداد (پلار نیکه) دین مراد دے.
مونږ ترنن ورځ پورے دا دَ توحید مسئله نه خو دَ عیسٰی علیه السلام په دین
کښ دَ عالمانو نه اوریدلے ده بلکه دَ دے په عکس ټول دَ عیسایانو مذهبی مشران
(پوپ، پادری) دَ تثلیث (دَ خدائے دَ وحدانیت درے شاخونه. پلار، ځوئے
روح القدس) قائل دی او نۀ خو دَ خپل پلار نیکۀ نه مونږ دا مسئله دَ توحید
اوریدلے ده. دَ دے وجے نه لا محاله دا دَ توحید مسئله دَ خدائے دَ طرف نه
ده بلکه محمد صلی الله علیه وسلم دَ ځان نه جوړه کړیده فی ملة عیسٰی التی
هی اخر الملل لان النصاری مثلثة غیر موحدة او فی ملة قریش التی ادرکنا

علیها اٰباءنا (مدارك ج ۴ ص ۲۷)

۱۰ ءانزل الخ دا هم دَ هغوئ په بغض او حسد او عناد بانـدے مبني دے آیا مونږ مونږ ټولو کښ دے دَ دے لائق وو چه ده ته نبوت ورکولے شي او په ده بانـدے قرآن نازولے شي ځمونږ غونډے اشراف او لویو لویو مالدارانو کښ څوک هم دَ دے مرتبے لائق نهٔ وو. دا دَ دے خبرے دلیل دے چه دَ هغوی انکار محض په حسد او عناد بانـدے مبني وو. وامثال هذه المقالات الباطلة دلیل علی أن مناط تکذیبهم لیس الا الحسد وقصر النظر علی حکام الدنیا (روح ج ۲۳ ص ۱۲۸).

۱۱ بل هم الخ دا دَ ماقبل ذکر شوو امورو نه اضراب دے یعني دَ دوی دَ تکذیب اصلي وجه هغه نه ده کوم چه ذکر شوی ده دا خو محض دَ تکذیب دَ پاره دروغ بهانے دي بلکه اصل خبره دا ده چه هغوئ دَ دے قرآن بارهٔ کښ په شک کښ سرګردان دي چه دَ توحید دَ دلائلو نه ډک دے. هم دا وجه ده چه کله خو هغوی دیته جادو وائي او کله شعر سره تعبیر کوي (روح). بل لما یذوقوا عذاب. دا د دواړو نه اضراب دے یعني هغوی نه حسد منع کړیدي او نهٔ شک بلکه تر اوسه پورے هغوئ ځما دَ عذاب مزه او خوند نه دے څکلے. کله چه دَ عذاب مزه او څکی نو نه به حسد پاتے شي بلکه پوره پوره یقین به هغوي ته حاصل شي. لیکن دا به بے فائدے وي. ای لم یذوقوا عذابي بعد فاذا ذاقوه زال عنهم ما بهم من الحسد والشك حینئذ (روح).

۱۲ ام عندهم الخ دا دَ مشرکانو دَ قول ءانزل علیه الذکر الخ جواب دے دا خلق دومره لوے دعوٰی کوي او دَ خپل ځان نه بل څوک لوے نهٔ ګڼړي آیا دَ الله دَ رحمت خزانے دَ دوي په قبضه کښ دي او آیا دَ الله دَ رحمت تقسیم دَ دوي په اختیار کښ دے چه دوي څوک مستحق ګڼړي هغه ته نبوت ورکړي. استفهام انکاري دے یعني داسے نهٔ ده.

۱۳ ام لهم الخ یا دَ زمکے او آسمان حکومت دَ دوئ په قبضه کښ دے چه دَ هغے په وجه دوی دَ خدائے په کارونو کښ کار لري او تصرف کوي. نو بیا دِ ټول اسباب په کار راولي دَ ټولو کائناتو نظم او نسق (انتظام) دِ او چلوي او چا له چه خواړي دَ نبوت مقام دِ هغهٔ ته ورکړي په هغهٔ دِ وحي نازل کړي. دا دَ مشرکانو په عبث او بیهوده خبرو پورے ټوقے او خندا ده. نه خو دَ الله دَ رحمت خزانے دَ دوي په لاس کښ دي نهٔ دَ زمکے او آسمان حکومت دَ دوئ په قبضه کښ دے لیکن خبرے دومره لوے او غټے کوي لکه چه هر څهٔ دَ دَ دوي په اختیار کښ دي. وایا ما کان ففي امرهم بذلك تهکم بهم

لا یخفی (روح ج ۲۳ ص ۱۲۹). یا مطلب دا دے چه که چرے د دوئ څه اختیار
چلیږي نو آسمان ته د اوخیژي او وحي د بنده کړي. ای فلیصعدوا الی
السمٰوٰت ولیمنعوا الملائکة من انزال الوحي علی محمد (قرطبي ج ۱۵ ص ۱۵۳).

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهزُومٌ مِّنَ الاَحزَابِ ﴿۱۱﴾

یو لښکر دا هم هلته تباه شو په هغه ټولو کله لښکرو کښې دی.

كَذَّبَت قَبلَهُم قَومُ نُوحٍ وَّعَادٌ وَّفِرعَونُ

دروغ ګنړلي دي د دوي نه مخکښې قوم د نوح ؏ او عادیانو او فرعون

ذُو الاَوتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُودُ وَقَومُ لُوطٍ وَّاَصحٰبُ

د میخونو والا وو. او ثمودیانو او قوم د لوط او خلقو

لـَٔيكَةِ ؕ اُولٰٓئِكَ الاَحزَابُ ﴿۱۳﴾ اِن كُلٌّ اِلَّا

د ایکه. دغه لوے لوے فوجونو. دا هر څوک هم دلے چه وے ټولو دا شان

كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿۱۴﴾ وَمَا يَنظُرُ

ع ۱۲

اوکړه چه دروغ ئے اوګنړل پیغمبران بیا ثابت شوه زما د طرف سزا. او انتظار نه کوي دا

هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا مِن

دا خلق لیکن د یو چغې (آواز) چه د هغې مینځ کښې نه اخلي

فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا

ساه او وائي اے ربه زر راکړه مونږ ته څه خو نږ حصه (عملنامه)

قَبلَ يَومِ الحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اِصبِر عَلٰى مَا يَقُولُونَ

د حساب د ورځې نه مخکښې. ته صبر اوکړه په هغې کوم چه هغوئ وائي ؏

وَاذكُر عَبدَنَا دَاوٗدَ ذَا الاَيدِ ۚ اِنَّهٗٓ

او یاد کړه څمونږ بنده داؤد ؏ د قوت والا ؏ هغه وو

أَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ

رجوع کوونکی۔ مونږ تابع کړل غرونه له هغه سره پاکی به ئې بیانوله

بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً

بیگاه او صبا۔ او الوتونکی مارغان به جمع کیدل ټول

كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ﴿۱۹﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ

ټول وو دَ هغهٔ مخکښ رجوع کوونکی۔ او قوت ورکړو مونږ دَ هغهٔ بادشاهئ ته او

وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾

او ورکړه مونږ هغه ته۔ تدبیر او فیصله کوونکې خبرې۔

نکات سـ۱ تخویف دنیوي ۱۲ سـ۲ شکوٰی ۱۲ سـ۳ تسلّی ۱۲ سـ۴ اول دلیل نقلي دَ پاره دَ نفي شفاعت قهري ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی تیر شوی قومونه برباد شول که چرې دوی هم دَ هغوی په شان په سرکشئ او نافرمانئ کښ همیشه پاتې شي نو دا یو لښکر به هم تباه شي ۱۲۔ ف۲ هغه ظالم انسان چه دَ میخونو ټک وهلو عذاب به ئې ورکولو دَ هغه نوم (ذوالاوتاد) کیښودے شو۔ څني وائي چه دَ لښکر دَ اسونو میخونه به ئې دَ سرو زرو وو او دَ سرو زرو روپئ به ئې ساتلې ف۳ یعنی دَ شپیلئ آواز۔ ف۴ کله چه به ئې دَ قیامت وعده اوریدله نو وئیل به ئې څمونږ حصه اوس مونږ ته راکړئ دا د هغوی ټوقې او خندا وه ۱۲ ف۵ دلته ئې هغوئ ته دا یادګیرنه اوکړه چه داؤد علیه السلام دَ طالوت په حکومت کښ صبر اوکړو آخر حکومت هغهٔ ته ملاؤ شو او مخالفین ئې په جهاد کښ مغلوب کړل هم دغه نقشه څمونږ پیغمبر ته هم وړ پیښه شوه۔ دَ لاس طاقت او قوت یعنی دَ حکومت طاقت، یا اوسپنه نرمه وونکے، یا دَ لاس طاقت دا چه دَ حکومت مال به ئې نهٔ خوړو بلکه دَ خپل لاس دَ کټے نه به ئې خوراک کوؤ۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی دَ جنس دَ هغه قومونو او ټولیونه چه دَ انبیاء مخالفت به ئې کولو۔ ف۲ یعنی په څلور میخونو به ئې پرې ټک وهل او عذاب به ئې ورکولو۔
ف۳ یعنی دَ خدائے طرف ته۔

تفسیر ۱۳ جُندٌ مَّا الخ دا نبی علیه السلام ته تسلّی ده او د مکے د مشرکانو
د مهزوم او مغلوب کیدلو پیشنګوئی ده
دا د مشرکانو یو ډیر حقیر، سپک او خوار ذلیل
لښکر دے چه نزدے وخت کښې به مغلوب او مقهور شي دا هم د هغه
قومونو (ډلو) نه یو دے چا چه د انبیاء علیهم السلام خلاف جنګ او مقابله
اوکړه او آخر ذلیل او رسوا شول. دا وعده په جنګ بدر کښې پوره شوه. او
هُنَالِكَ نه د مشرکانو قتل کیدلو او غورځیدلو طرف ته اشاره ده. یعنی ان
قریشا من جملة الاجناد الذین تجمعوا وتحزبوا علی الانبیاء بالتکذیب فقهروا
واهلکوا. اخبر الله سبحانه وتعالیٰ نبیه صلی الله علیه وسلم وهو بمکة انه سیهزم جند المشرکین
فجاء تاویلها یوم بدر وهنالك اشارة الی مصارعهم ببدر (خازن ج ۶ ص ۴۲).
۱۴ كَذَّبَتْ الخ دا تخویف دنیوی دے. قوم نوح، عادیان، فرعون، ثمودیان، قوم
لوط او اصحاب الایکه دا هغه احزاب (ټولے) دی چا چه د انبیاء علیهم السلام نه انکار
اوکړو او هغوئ ئے دروغژن اوګڼړل په هغه ټولو څوموږ عذاب نازل شو او موږ
هغوی تباه او هلاک کړل او خپل پیغمبران هم په هغوی غالب کړل. فرعون ته
ذوالاوتاد ځکه وئیلے شي چه د هغه ملک ډیر زیات مضبوط او مستحکم وو لکه چه
د هغه د حکومت تشبیه هغه کور سره ورکړے شوے ده چه د هغه ستنے ډیرے مضبوطے
وے ذوالاوتاد ذوالملك الثابت (جامع البیان ص ۳۹۰) شبه هنا فرعون فی ثبات ملکه
ورسوخ سلطنته ببیت ثابت اقیم عماده وثبتت اوتاده (روح ج ۲۳ ص ۱۶۸) او اصحاب
الایکه د حضرت شعیب علیه السلام قوم دے.
۱۵ وما ینظر الخ فَوَاق، د اوښے یو ځل لوشلو نه روستو دویم ځل لوشلو د پاره چه
څومره وخت هغه پرے خودلے شي دے د پاره چه هغه نور پئ په تیو نوکښې
جمع کړي دغه مینځنئ وقفے ته فَوَاق وئیلے شي. والفواق والفُواق ما بین
الحلبتین من الوقت. لانها تحلب ثم تترك سویعة یرضعها الفصیل لتدر ثم
تحلب (قرطبی ج ۱۵ ص ۱۵۶) دا کافران د قیامت په انتظار کښې دی کله چه قیامت
قائم شي دوی به هغه وخت ایمان راوړي. صیحة وَّاحِدَةً نه نفخه اولیٰ مراد
ده چه ډیره اوږده او مسلسل به وی او د دے په مینځ کښې معمولی شان وقفه
هم نه وی.
۱۶ وَقَالُوا الخ دا شکوی ده او د سورت د ابتداء سره متعلق ده بل الذین کفروا
کافران او مشرکان غرور او تکبر کښې مست او نشه دی او د ټوقو او سرکشئ په
طور وائی د قیامت په ورځ چه څومره د پاره کوم عذاب تیار دے هغه موږته
په دنیا کښې را کړئ. قطنا ای قسطنا من العذاب الذی توعدنا به (بیضاوی)
۱۷ اصبروا الخ دا نبی علیه السلام ته تسلّی ده او د شفاعت قهری په نفی باندے

اولنۍ دلیل دے. تاسو دَ صبر او تحمل نه کار واخلئ مونږ به هغوئ ته دَ ګستاخانه طریقے سخته سزا ورکړو او هغوئ ته دَ داؤد علیه السلام قصه واؤره وه چه دَ دومره لوئے شان باوجود په یو خلاف اولیٰ کار باندے هغهٔ ته هم تنبیه ورکړے شوه نو بیا دا سرکش او ګستاخ به څه رنګ پریخودلے شی. (واذکر عبدنا داؤد) و کرامته علی الله کیف زل تلك الزلة الیسیرة فلقی من عتاب الله مالقی (مدارك ج ۴ ص۲۸) دے سره دا دَ شفاعت قهری په نفی باندے هم دلیل دے. یعنی داؤد علیه السلام سره دَ دے چه دومره جلیل القدر پیغمبر او ډیر زیات عابد او زاهد او دے سره یو لوے بادشاه هم وو لیکن دَ دے ټولو خبرو باوجود دَ هغهٔ نه یو لغزش اوشو چه دَ هغے په وجه هغهٔ ته تنبیه ورکړے شوه دَ دے وجے نه هغه په هیڅ طریقه هم دَ خدائے په دربار کښ شفیع غالب نشی کیدلے.

دلیل نقلی دَ انبیاء علیهم السلام نه دوه طریقو سره وی. اول دا چه دَ انبیاء علیهم السلام اقوال او دَ هغوی تعلیمات نقل کړے شی. دویم دا چه دَ هغوئ احوال نقل کړے شی او هغے سره استشهاد اوکړے شی. دَ دے سورت کښ دَ دلیل نقلی دویم قسم مراد دے.

۱۹ ذَا الْاَیْدِ الخ دا دَ حضرت داؤد علیه السلام صفت دے اَیْدِ په معنیٰ دَ قوت او طاقت. حضرت داؤد علیه السلام به دَ الله په عبادت کښ ډیر زیات مضبوط او طاقتور او سیده هره شپه به ئے نیمه شپه دَ الله په عبادت کښ تیروله او هره دویمه ورځ به ئے روژه نیوله دا دَ هغهٔ دَ ټول ژوند معمول وو. اَوَّاب دَ الله طرف ته ډیر زیات رجوع کوؤنکے او دَ هغه په عبادت او طاعت کښ مصروف (روح).

۲۰ اِنَّا سَخَّرْنَا الخ غرونه مونږ خپل حکم سره دَ هغه تابعدار کړی ول وو چه کله به صبا بیګاه دَ الله په تسبیح او پاکئ بیا نولو کښ مصروف نو غرونه به هم زبان قال سره دَ هغه سره په تسبیح او تقدیس کښ شامیلیدل دَ غرونو تسبیح زبان قال سره مراد ده نه چه زبان حال سره ځکه چه تسبیح حالی دوه وختونو پورے خاص نه ده. و تسبیحهن تقدیس بلسان قال لائق بهن الخ (روح ج ۲۳ ص۱۷۳). وان ذلك تسبیح مقال علی الصحیح من الاقوال (قرطبی ج ۱۵ ص۱۵۹).

۲۱ وَالطَّیْرَ الخ دا په الجبال باندے معطوف دے. دا آیت قرینه ده چه په سورهٔ سبا کښ الطیر نه مخکښ سخرنا مقدر دے. محشورة الطیر نه حال دے کله چه به حضرت داؤد علیه السلام په تسبیح او تقدیس کښ مصروف وو نو دَ غرونو دَ شمولیت نه علاوه مارغان به هم دَ هغوئ کیره چاپیره جمع کیدل او دَ الله تعالیٰ تسبیح به ئے وئیل. ای مجتمعة الیه من کل جانب

تسبح معه (مظهری ج ۸ صـ۱۶۲). کل له اواب دَحضرت داؤد علیه السلام دَ
تسبیح په وجه به ټولو دَ الله تسبیح وئیل اللام تعلیلیة والضمیر له اُوداي کل
واحد من الجبال والطیر لاجل تسبیحه رجاع الی التسبیح (روح ج ۲۳ صـ۱۷۷).
۲۲ وشددنا الخ موږ دَهغه دَ ذاتي هیبت او وجاهت (رعب) او دَ غیبي مدد
او نصرت او ډیر لښکر او دَ مختلف قسم نعمتونو دَ کثرت په وجه سره مضبوط
او مستحکم کړخولے وو او هغهٔ ته موږ کمال علم او عمل نصیب کړے وو او
هغه ته موږ دَ فیصله کوونکو خبرو ملکه ورکړے وه (خازن، روح وغیرها).

وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ ۘ اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾

او را رسیدلے دے تا ته خبر دَ دعوی کوونکو کله چه په ټټ دیوال راوختل عبادت خانے ته. ۲۱

اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۚ

کله چه دننه راغلل داؤد ته نو دَ هغوئ نه او بریدل هغوی او وئیل مهٔ ویریږه.

خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا

موږ دوه جګړه کوونکي یو زیاتے کړیدے یو په بل باندے نو فیصله او کړه زموږ

بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾

انصاف سره او لرے مهٔ غورځوه خبره او وښایه موږ ته سمه لار. ۲۲

اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ ۫ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ

دا زما رور دے دهٔ سره یو کم سل ګډے دي او زما سره

نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ ۫ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ

یوه ګډه ده بیا وائي حواله کړه ما ته هغه هم او غلبه کوي په ما باندے

فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ

په خبرو کښې. ۲۳ وے وئیل هغهٔ بے انصافي کوي تا سره چه غواړي

نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْخُلَطَآءِ

ستا ګډه چه یو ځائے کړي دَ خپلو ګډو سره، او اکثر شریکان

لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
زیاتے کوی په یو بل باندے لیکن هغه چه ایمان راوړے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ۗ وَظَنَّ
او کوی نیک کارونه او لږ خلق دی دا سے ، او په خیال کښې راغله

دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ
د داؤد چه موږ په هغه امتحان اوکړو، بیائے د گناه بخنه اوغوښتله د خپل رب نه بیا پریوت

رَاكِعًا وَّاَنَابَ ۩ ﴿۲۴﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ۗ وَاِنَّ لَهٗ
ښکته کیږونکی (رکوع ته او سجدے ته) او رجوع ئے اوکړه (الله ته). بیا موږ معاف کړه هغه ته هغه کار الله او هغه د پاره

عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا
خپل سره مرتبه ده او ښه ځائے . اے داؤد الله موږ

جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ
اوگرځولے ته نائب په ملک کښې نو حکومت کوه په

النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ
خلقو کښې انصاف سره او مه ځه د نفس په خواهشات باندے بیا به هغه تا وارولی

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ
د الله د لارے نه، بیشک کوم خلق چه اوړی د لار

اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا نَسُوْا
د الله نه هغوی د پاره عذاب سخت دے په دے خبره باندے چه هغوئ هیره کړه

يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ ع
د حساب ورځ .

السجدة

ع ۱۲ ۱۱

موضح قرآن ف حضرت داؤد علیه السلام دربے ورځے تقسیم کړے وے
یوه ورځ د عام دربار د پاره. یوه ورځ د خپلو بیبیانو سره ،

یوه ورځ به خلوت کښې (خاص دَ الله دَ عبادت دَ پاره وه) چه په دغه ورځ کښې به یواځې ناست وو دربان (څوکیدار) به هیڅوک راتلو ته نۀ پریښودو. یوه ورځ څو تنه سړي په دیوال راؤختل او هغه له راغلل.

ف د داؤد علیه السلام په وخت کښې اوریا نوم یو سړے وو چه هغه یوے ښځې ته دَ نکاح پیغام لیږلے وو نزدے وه چه نکاح اوشي د دغه ښځې دَ اولیاء دَ اوریا سره څۀ خفګان وو په دغه وجه ئې هغه ښځه هغه ته په نکاح ورنکړه کله چه حضرت داؤد علیه السلام دغه ښځې ته دَ نکاح پیغام اولیږه او دَ هغه یو کم سل ښځې موجود وے اګر چه دیکښې دَ شریعت نه کوم خلاف کار اونکړے شو لیکن دومره هم دَ پیغمبرانو دَ شان نه خلاف دی چه شاید څوک اعتراض اوکړي په هغې باندے امتحان اوکړے شو. دا دَ تفسیر حسیني نه اولیکل شو.

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائي چه داؤد علیه السلام یو کم سل ښځې لرلے سره دَ هغې نه ئې یوه بله ښځه چه دَ بل یو سړي غوښتلے شوے یا په نکاح کښې وه دَ هغې درخواست ئې اوکړو. الله تعالیٰ فرښتے په طور دَ تنبیه داؤد علیه السلام ته په شکل دَ جګړه کوؤنکو متشکل کړے راوے لیږلے دے آیتونو کښې دغه قصے طرف ته اشاره ده. والله اعلم.

تفسیر ۲۳ وَهَلْ الخ تسوّروا په دیوال ئې ټوپ کړه را اوختل داخل شو. وَلَا تُشْطِطْ. دَ حق نه تجاوز مۀ کوی. نعجة ولس الضأن دَ ګډې ښځې اکفلنیها هغه ما ته راکړه عزّني، په ما غالب شو. دے ځائے نه واخله تر دَ قَلِيْلٌ مَّا هُمْ پورے دَ یوے واقعے ذکر دے چه دَ هغې حاصل دا دے چه حضرت داؤد علیه السلام یوه ورځ په عبادت خانه کښې عبادت کښې محو او فنا شوے وو او دَ عبادت خانے دروازے دننه نه بند وے چه ناڅاپه دوه سړي دیوال باندے ټوپ وهلو سره دننه داخل شول حضرت داؤد علیه السلام دَ دوی اجازت غوښتلو نه بغیر داخلیدلو سره او ویریده کیدیشي چه دَ قتل په اراده راغلے وي. راتلونکو او وئیل ویریږه مۀ مونږ دَ یوے جګړے فیصله کولو دَ پاره راغلے یو تاسو صحیح فیصله اوکړئ او څمونږ رهنمائي اوکړئ. خبره دا ده چه دا څما رور دے دَ ده سره یو کم سل ګډے دي او څما سره صرف یوه ګډه ده او دا څما رور هغه یوه ګډه څما نه زبردستئ سره اخستل غواړي. او په خبرو اترو کښې په ما غالب شوید ے. حضرت داؤد علیه السلام دَ یو فریق خبره واؤریدله وے فرمائیل بیشکه دے سړي په تا ظلم کړیدے او دَ خلقو دستور دا دے چه اکثر خلق خپل ملګرو سره ظلم او زیاتے کوی. لیکن مؤمنان صالحان داسے نۀ کوی لیکن دَ هغوئ شمار ډیر کم دے. دینه روستو ارشاد دے وَظَنَّ دَاوُدَ الخ داؤد علیه السلام خیال اوکړو چه دا امتحان وو لیکن څما لغزش اوشو

جلد ۵

دَ دې وجې نه فورًا په سجده پريبووت او الله نه ئے معافي اوغوښتله. دې واقعې کښ چونکه په ديوال باندې دَ ټوپ وهلو او دَ حضرت داؤد عليه السلام دَ لغزش ذکر بالتعين نشته دَ دې وجې نه دَ دې دواړو په تعيين کښ دَ مفسرينو ډير زيات اختلاف موندلے شي. دې سلسله کښ دَ اسلام دشمنانو يهوديانو هم خپل دَ خودساخته بيهوده اوعبث خبرو په مسلمانانو کښ رائج کولو کوشش کړيدې. ځنې مفسرينو دَ يهوديانو دغه خرافات (باطل خبرې) په خپلو تفسيرونو کښ بغير دَ څۀ رد کولو نه ذکر کړيدي. ليکن اکثر محققين مفسرينو دغه اسرائيلي قصے بالکل رد کړيدي. د دغه اسرائيلي قصو له مخه دَ حضرت داؤد عليه السلام يو کم سل بيبيانے دي اويوه ورځ ئے اتفاقًا دَ يو امتي په ښځه نظر پريبووت او دَ هغې دَ حُسن اوجمال په وجه هغهٔ دَ دغه ښځې سره نکاح غوښتله نو دَ هغهٔ ښځې خاوند ئے جهاد ته اوليږه هلته شهيد شو او دَ هغهٔ دَ ښځې سره ئے نکاح اوکړه او الله تعالیٰ فرښتے را اوليږلے په هغې باندې ئے تنبيه ورکړه. دا قصّه ټوله دروغ ده اودا په حضرت داؤد عليه السلام افتراء او دَ هغه دَ اوچت او بلند مقام سره قطعًا منافي ده دا حرکت خو يو کامل مؤمن نه هم نشي کيدلے. بيا څنګه يو جليل القدر پيغمبر دَ دې ارتکاب کوي. چونکه دا واقعه دَ عصمت انبياء نه خلاف ده. دَ دې وجې نه ټولو محققينو دا باطل او مردود ګرځولے ده.

دَ حضرت علي رضي الله عنه منقول ده چه کوم سړے چه دا واقعه دَ حضرت داؤد عليه السلام باره کښ بيانوي نو زهٔ به هغه سړے يو سل شپيته درے او وهم چه په انبياء عليهم السلام باندې دَ بهتان تړلو سزا ده. قال علي رضي الله عنه من حدثکم بحديث داؤد عليه السلام علی ما يرويه القصاص جلدته مائة وستين وهو حد الفرية علی الانبياء (مدارک ج ۴ ص ۳۰۳۹ خازن ج ۶ ص ۲۹، بيضاوي ج ۲ ص ۲۲۵، روح ج ۲۳ ص ۱۸۵، قرطبي ج ۱۵ ص ۱۸۱، جامع البيان ص ۳۹۰) مفسر ابن کثير فرمائي. قد ذکر المفسرون ههنا قصة اکثرها مأخوذ من الاسرائيليات ولم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتباعه (ابن کثير ج ۴ ص ۳۱) امام قاضي عياض رح فرمائي. لا يجوز ان يلتفت الی ما سطره الاخباريون من اهل الکتاب الذين بدلوا وغيروا ونقله بعض المفسرين ولم ينص الله تعالیٰ علی شيئ من ذلک ولا ورد في حديث صحيح والذی نص عليه الله في قصة داؤد وظن داؤد انما فتناه وليس في قصة داؤد او ريا خبر ثابت (خازن ج ۶ ص ۲۹). علامه معين الدين صفي ليکي. وما يذکره القصاص ليس له اصل يعتمد عليه (جامع البيان ص ۳۹۰) امام بيضاوي فرمائي، وما قيل انه ارسل اوريا الی الجهاد مرارًا وامر ان يقدم

حتی قتل فتزوجها، هراء وافتراء (بیضاوی) امام ابو حیان فرمائی. ویعلم قطعاً ان الانبیاء علیهم السّلام معصومون من الخطایا لایمکن وقوعهم فی شئ منها، ضرورة اذ لوجوزنا علیهم شیئاً من ذلك بطلت الشرائع ولم نثق بشئ مما یذکرون انه اوحی الله به الیهم. فما حکی الله تعالیٰ فی کتابه یمر علی ما اراده تعالیٰ. وما حکی القصاص مما فیه غض من منصب النبوة طرحناه (بحر ج ۷، ص۳۹۲).

او س سوال دا دے چه اصل لغزش څهٔ وو نو دَ دے جواب دا دے چه اصل لغزش هر څهٔ چه وی خو هغه دَ ترکِ اولیٰ دَ قبیل نه کیدے شی دَ ګناه دَ قبیل نه نشی کیدے ځکه چه په اجماع دَ اهل سنت حضرات انبیاء علیهم السلام دَ هر قسم ګناه نه معصوم او بچ ساتلے شوی دی. لیکن دَ خپل لوئے منصب پیش نظر هغوئ ترکِ اولیٰ هم په خپل حق کښ ګناه ګڼړی دَ الله تعالیٰ نه دو مره زیات زاری او عاجزئ سره دَ هغے معافی غواړی ځکه چه مونږ له په کبیره او لوئے لوئے ګناهونو باندے معافی غوښتل پکار دَه ولابد من القول بانه لم یکن منه علیه السلام الا ترك ما هو الاولیٰ بعلی شانه والاستغفار منه وهو لا یخل بالعصمة (روح ج ۲۲ ص۱۸۶). دَ اصل لغزش په تعیین کښ دَ مفسرینو اقوال مختلف دی دَ څنو په نزد لغزش دا وو چه دَ هغوئ په ګاونډ کښ یو ښځے یو بنډ لمبل نو هغه دَ کړکئ طرف ته لاړے ناګهانه بلا قصد او اراده دَ هغهٔ نظر په هغے پریوتلو لیکن هغه نور نظر او کړځولو (قرطبی) دا فعل اګر چه ګناه نهٔ دَه لیکن دلته دا مراد نشی کیدے ځکه چه دَ دے صورت کښ نبیا نو دَ ذکر هیڅ فائده باقی نه پاتے کیږی. څنو لیکلی دی چه حضرت داؤد علیه السلام یو مسلمان ته ویلے وو چه ته خما په خاطر خپلے ښځے ته طلاق ورکړه او دا سے کول دَ هغوئ په نزد جائز او مروج وو لیکن دَ داؤد علیه السلام دَ لوئے شان نه خلاف وو دَ دے وجے نه تنبیه ورکړے شوه او څنو ویلی دی چه حضرت داؤد علیه السلام دَ یو مسلمان په خطبه باندے خطبه ورکړیده وغیره (روح).

لیکن دَ ټولو نه زیات موزون او مناسب توجیه هغه دَه چه څنو مفسرینو لیکلے دَه او رئیس المفسرین حضرت شیخ قدس سره چه کوم ته ترجیح ورکړیده په دغه توجیه کښ نه خو اسرائیلیات باندے تکیه وهلو ته ضرورت شته نه ظاهر دَ نظم قرآنی دَ ظاهر نه ګرځولو ته حاجت شته او لغزش هم بخپله دَ نظم د سیاق نه متعین کیږی. حقیقت دا دے چه دا په دیوال باندے ټوپ وهونکی او دننه داخلیدونکی انسانان نه وو بلکه فرښتے وے چه الله تعالیٰ دَ حضرت داؤد علیه السلام دَ امتحان دَ پاره رالیږلے وے روی انّ الله تعالیٰ بعث الیه ملکین فی صورة انسانین فطلبا

ان يدخلا عليه فوجداه فی يوم عبادته فمنعهما الحرس فتسورا المحراب (مدارک ج ۳ ص ۲۹). او يا هغوی چه كوم د جګړے صورت د حضرت داؤد عليه السلام په مخکښ پیش کړے وو هغه په نفس الامر کښ واقع نهٔ وو بلکه یو فرضی صورت وو لکه چه هغوی داوئیل چه ځمونږ نه دا صورت راپیښ شي نو د هغې حکم څهٔ دے لکه چه اهل نحو د فاعل او مفعول په تمثیل کښ وائی ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا حال دا دے چه فی الواقع هلته ضرب نهٔ وی قال الحسین بن الفضل : هذا من الملكين تعريض وتنبيه كقولهم ضرب زيد عمرا. وما كان ضرب ولا نعاج على التحقيق. كانه قال نحن خصمن هذه حالنا. قال ابو جعفر النحاس واحسن ما قيل فی هذا ان المعنی يقول خصمن بغى بعضنا على بعض على جهة المسئلة. كما تقول ، رجل يقول لامرأته كذا ما يجب عليه (قرطبی ج ۱۵ ص ۱۷۳) دے نه روستو حضرت داؤد عليه السلام مدعی علیه نه د صفائئ موقع ورکولو نه بغیر خپله فیصله صادره کړه. دا هغه لغزش وو. قال النحاس : فيقال ان هذه كانت خطيئة داؤد عليه السلام. لانه قال ، لقد ظلمك من غير تثبت ببينة ولا اقرار من الخصم (قرطبی ج ۱۵ ص ۱۷۵). وقيل ان ذنب داؤد الذی استغفر منه ليس هو بسبب اوريا والمرأة وانما هو بسبب الخصمين وكونه قضى لاحدهما قبل سماع كلام الاخر (خازن ج ۶ ص ۵۵) حضرت داؤد عليه السلام اول داخیال کولو چه فریقین انسانان دی او د یو واقع او حقیقی مقدمے فیصله کولو د پاره راغلی دی. لیکن کله چه هغوئ اوليدل چه د فیصلے اوریدلو نه روستو دواړه یوبل ته اوکتل مُسکی شول او بیا د هغهٔ په مخکښ د اسمان طرف ته اوختل نو پوهه شو چه دا د الله د طرفه امتحان وو چه په هغے کښ ځما نه لغزش اُوشو د دے وجے نه فوراً په سجده پریوتو او د الله نه ئے معافی اوغوښتله. وقيل لما قضى بينهما نظر احدهما الى صاحبه فضحك ثم صعدا الى السماء حيال وجهه فعلم بذلك انه تعالى ابتلاه (روح ج ۲۳ ص ۱۸۳). ۲۴ فَغَفَرْنَا لَهُ الخ مونږ د هغهٔ لغزش معاف کړو هغه ځمونږ ډیر زیات مقرب او غوره کړے شوے بنده وو او په آخرت کښ ځمونږ سره د هغهٔ انجام ډیر زیات عمده او د هغهٔ مقام ډیر اُوچت دے. ۲۵ یٰدَاوٗدُ الخ حضرت داود عليه السلام ته په دُنیا کښ چه کوم شان او مرتبه درکړے شوه د هغے ذکر د ے او ورے سره هدایات هم دی مونږ تاسو ته د زمکے حکومت درکړو او تاسو مونږ د خلقو د معاملاتو متولی جوړ کړی یئ. د دے وجے نه د خلقو مینځ کښ د هغوئ د جګړو فیصله پوره تحقیق سره کوئ او عدل انصاف خپل شعار جوړ کړئ په مقدماتو او په نورو تولو امورو کښ د نفس خواهش ته هیڅ تصرف مهٔ ورکوئ ګنی نو هغهٔ به تا لره د حق او د عدل د لارے نه واړوی کوم خلق چه

د خواهش نفس تابع شی او د حقے لارے نه بے لارے شی هغوئ د پاره
ډیر سخت عذاب دے ځکه چه هغوئ د قیامت ورځ هیره کړے ده.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
او مونږ پیدا نه کړل آسمان او زمکه لغله او څه چه د دے په مینځ کښ دی
بَاطِلًا ۭ ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ
بے کاره دا خیال دے د هغه چا څوک چه منکر دی نو خرابی ده
لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ۭ﴿۲۷﴾ اَمْ نَجْعَلُ
انکار کوونکو د پاره چه هغه اور دے ول. آیا مونږ به او کرځوو که
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ
ایمان والا چه کوئ نیکئ برابر د هغه چا سره چه فساد کوی
فِي الْاَرْضِ ۡ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ﴿۲۸﴾
په زمکه کښ آیا مونږ به او کرځوو ویریدونکی برابر د سرکشه خلقو.
كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ
یو کتاب دے ش۲۸ چه نازل کړو مونږ ستا طرف ته د برکت چه سوچ او کړی خلق د دے په خبرو کښ
وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ﴿۲۹﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ
او د دے د پاره چه پوهه شی عقل والا. او ورکړو مونږ داؤد ته
سُلَيْمٰنَ ۭ نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ۭ﴿۳۰﴾ اِذْ عُرِضَ
سلیمان ع۲۹ ډیر ښه بنده هغه دے رجوع کوونکے الله ته کله چه د خودنے د پاره وړاندے شو
عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۙ﴿۳۱﴾ فَقَالَ
د هغه په مخکښ ش۳۰ په آخر ورځ کښ آسونه ډیر کره . نو وے وئیل
اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ
ما خوښه کړه مینه د مال د خیل رب د یاد نه

حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۖ فَطَفِقَ

تر دے چه نمر پټ شو په پرده کښې ۱ . واپس راولئي هغه ما ته بیا شروع شو

مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا

په صفا کول ئے د هغوئ پنډئ او څټونه ۲ . او موږ امتحان اوکړو

سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا

په سلیمان ۳ او وغورځولو موږ د هغهٔ په تخت باندے یو تنه (بے روح)

ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ

بیا هغه راجع شو (الله ته) وے وئیل اے ځما ربه معاف کړه ما لره ۳ او را او بښه ما ته

مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ اِنَّكَ

هغه بادشاهي چه مناسب نهٔ دي د هیچا سره ځما نه روستو بیشکه

اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾

ته ئے ډیر هرڅهٔ ښښونکے ۳ ۳ .

نکات: ۱ دلیل عقلي په توحید باندے ۱۲ . ۲ تخویف اُخروي ۱۲
۳ زجر ۱۲ . ۴ دلیل وحي ۱۲ . ۵ دویم نقلي دلیل ۱۲ .

موضح قرآن

ف ۱ حضرت سلیمان علیه السلام واوریدل چه د سمندر په غاړه دریائي اسونه راووځي اعلیٰ قسمه اسپي ئے هلته اُوترلے د دغه اسونو نه هغه مال شوے . بچي ئے راوړل د دغه بچو څخه چه کله تیار شوه چه د هغه دریائي اسونو پشان قدمونه په ئے اخستل سلیمان علیه السلام ته پیش کړے شول د هغوئ کتلو او تماشه کولو سره دومره پوهه نهٔ شول او د وخت وظیفه فوت شوه د ماځیګر نمر په پرده کښې پټ شو پریوتو . بیا غصه شو دغه اسونه ئے راوغوښتل حلال ئے کړل . دا د الله د محبت جوش وو د هغې صفت اوکړے شو . ف ۲ حضرت سلیمان علیه السلام چه به کله استنجاء د پاره (غسل خانے ته) تللو ګوتمه به ئے یو خادمے ته ورکوله چه په هغې کښې اسم اعظم لیکلے شوے وو . صخر نوم یو پیرے وو خادمه ئے دهوکه کړه ګوتمه ئے هغې نه واخستله او خپل شکل صورت ئے د سلیمان علیه السلا

په شان جوړ کړو په تخت باندې کېناستو حکمونه ورکول ئې شروع کړل
حضرت سلیمان علیه السلام ته چه پته اُولګیده نو یهرته اووتو چه
هسې نه ما قتل کړی په یو کلی کښ پټ شو. شیږ میاشتې روستو صخر
د شرابو په نشه کښ ووا وګیمه د هغهٔ ته په دریاب کښ پریوتله یو مهی هغه
تیره کړه. هغه ښکار کړے شو د سلیمان علیه السلام په لاس باندې د هغهٔ
د خیټې نګینه را ووتله هغه ئې واخستله بیا راغے د خپل سلطنت په تخت
باندې کېناستو. سلیمان علیه السلام باندې دا امتحان اُوشو چه د هغوی
په کوړ کښ یوه ښځه وه چه خپل پلار ئې مړ شو هغه به ئې یادولو او ژړل
به ئې هغې د پاره پیریانو د هغهٔ تصویر جوړ کړو چه په آرام شی هغه شروع
شوه چه د دغه تصویر عبادت به ئې کولو سلیمان علیه السلام خبرنهٔ شو
یائې خبر مونږ لو سره بے پرواهي اُوکړه. ځینې وائي امتحان دا وو چه د خپلو
امیرانو نه خفه شو چه په جهاد کښ به ئې کمے کولو. وے غوښتل چه یو
شپه لا ړشي خپلو اُویاؤ ښځو سره یو ځائے شي چه د هرې یوې نه به
یو یو ځوئے اُوشي او هغوی به د الله په لاره کښ شوق سره جهاد کوي.
فرشتې هغهٔ ته په زړه کښ دا خبره واچوله انشاء الله ئې اُو نهٔ وئیل.
اُویاؤ ښځو کښ د یوې حمل شو او په خپل وخت کښ ناقص اُوځیکوئے
شو هغه ئې راوړو د سلیمان علیه السلام په تخت باندې ئې کېښودو
نو حضرت سلیمان علیه السلام په انشاء الله نهٔ وئیلو پښیمانه شو.
ف۳ یعنی د هیچا دا طاقت نهٔ وی چه هغه ځما نه واخلی ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی د ماځیګر مونځ فوت شو ۱۲۔ ف۲ یعنی حلال ئې کړل او د هغوی خپې ئې پریکړے د وجې د غیرت

کولو نه د الله تعالیٰ په ذکر ۱۲۔ ف۳ سلیمان علیه السلام د خپلو امیرانو
نه خفه شو او زړه کښ ئې اراده اُوکړه چه شپه کښ به د سل بیبیانو
سره جماع (کوړ والے) کوم او هره یو ښځه به ئې ځوئے راوړي او هریو
به شهسوار او مجاهد وی جهاد به کوي او ځما ځهٔ حاجت به د امیرانو
خوشامند ئې ته نهٔ وی. فرشتې هغهٔ ته اُو وئیل انشاء الله اُوایه سلیمان
علیه السلام سهوه شو او هیڅ یو ښځه حامله نهٔ شوه لیکن یوې ښځې
ناقص الخلقة بچے اُوځیکولو او هغه بچے ئې سلیمان علیه السلام ته په
تخت اُوغوړځولو سلیمان علیه السلام پوهه شو او رب العزت ته ئې
رجوع اُوکړه.

تفسیر | ۲۶ وَمَا خَلَقْنَا الخ دا دلیل عقلی دے زمکه او اسمانونه او ټول کائنات مونږ دا سے بے مقصد نهٔ دی پیدا کړی. بلکه

دا ټول کائنات د الله تعالیٰ د وحدانیت او د هغهٔ په الوهیت کښ یو والی باندے دلالت کوی د کائناتو نظم نسق برقرار ساتل او ډیر په حکیمانه تدبیر سره د کائناتو نظام چلول د معبودحق نه سیوا د بل چا کار نهٔ دے هغه چه څهٔ کوی چلے ار ادے سره ئے کوی۔ د دے وجے نه هیڅوک داسے شفیع غالب نشته چه د هغهٔ په کاروتوکښ څهٔ اختیار اولری د کافرانو دا خیال چه دا د کائنات کار خانه محض بے مقصد ده یا دا چه د هغوئ باطل معبودان د خدائے په کار وتوکښ اختیار لرلے شی او د هغهٔ سره شفیع غالب دی سراسر باطل ده۔ فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا الخ دا د دغه شان کافرانو د پاره تخویف دے۔

۲۷ اَمۡ نَجۡعَلُ الخ دا زجر دے د قیامت نه انکار په اصل کښ د جزاء او سزاء نه انکار دے چه د هغے لازمی نتیجه به دا وی چه د ایمان والا د چا ژوند چه په صلاح او تقوی کښ تیر شوے وی هغوئ به د دے فساق او فجار سره برابر شی د چا د ژوند پیغام چه شر او فساد پیدا کول وو که چرے جزاء او سزاء نشته نو متقیان به د اعمالو د جزاء نه محروم شی او مفسدین به د بد وعملونو د سزاء نه محفوظ شی حال دا دے چه دا ټوله بے انصافی ده او خلاف عقل دے۔ والمراد انه لوبطل الجزاء کما یقول الکفار لاستوت احوال من اصلح وافسد واتقی وفجرومن سوی بینهم کان سفیها ولم یکن حکیما (مدارک)

۲۸ کِتٰبٌ الخ دا دلیل وحی دے دا کتاب چه د دین او دُنیا د برکتونه ډک دے موږ دے د پاره نازل کړے دے چه خلق د دهٔ په ایتونوکښ غور فکر اوکړی او د عقل سلیم او صحیح پوهه لرونکی خلق د دهٔ نه نصیحت حاصل کړی۔ او پوهه شی چه د الله نه سیوا څوک شفیع غالب نشته۔ د دے وحی الهی صراحت سره د شفاعت قهری نفی کړیده۔

۲۹ وَوَهَبۡنَا الخ دا دویم نقلی دلیل دے۔ حضرت سلیمان علیه السلام د لوئے درجے پیغمبر او بادشاه وو هغهٔ باندے هم د الله د طرفه امتحان اوشو اخر هغه د الله تعالیٰ نه استغفار اوغوښتو او توبه ئے اویستله هغه خو بخپله د الله په مخکښ دومره عاجز وو د دے وجے نه هغه شفیع غالب نشی کیدلے۔ داؤد علیه السلام نه موږ سلیمان علیه السلام یو داسے نیک او لائق ځوئے ورکړو چه د الله تعالیٰ ډیر زیات تابعدار بنده وو۔ ۳۰ اِذۡ عُرِضَ الخ یو ځل حضرت سلیمان علیه السلام نه تجهاد ضرورت پیښ شو نو د ورځے په آخری حصه کښ ئے د اصطبل (طبیله) نه د اسونو د پیش کولو حکم ورکړو چه د هغے شمار کم او زیات یو زر وو

نو اسونو ته هغهٔ مخکښ پیش کړے شول ځکه چه هغه د اسونو د صفتونو نه
ښهٔ خبر وو. کله چه هغهٔ اولیدل چه ټول اسونه اعلی نسل دے اصیل
او تیز رفتار دی نو ډیر زیات خوشحاله شو او وے فرمائیل د (اسونو)
محبت هم د الله د یاد د وجے نه دے دا دُنیوی محبت نهٔ دے، دے دوران
کښ ئے اسونه د سترګو نه پناه شوی وو د دے وجے نه ئے دوباره حکم
ورکړو چه هغه واپس ما ته راولئ کله چه واپس را وستلے شول نو د هغوئ
څټونه او پتړئ ئے د محبت او مینے په وجه ټپول شروع کړل (ابن جریر
کبیر، خازن). اَلصّٰفِنٰتُ، جمع ده د صَافِن، هغه اس ته وائی چه یوه خپه
ئے پوره ته اوچته کړے وی او د هغے په نوکونو ولاړ وی. دا د اسونو په
غوره صفتونو کښ شمار لے شی. اَلْجِیَادُ، جمع ده د جواد تیز رفتار اس
ته وئیلے شی. اَلْخَیْرِ نه مراد مال دے. عَنْ ذِکْرِ رَبِّیْ، کښ عَنْ په معنٰی
د مِنْ دے. عن ذکر ربی من ذکر ربی (صحیح بخاری ج ۱ ص ۴۸۶) تَوَارَتْ
کښ ضمیر الصافنات الجیاد طرف ته راجع دے د ایت پوره تتے ذکر شوے
مفهوم امام ابن جریر طبری، امام رازی، خطیب، شربینی او خازن ذکر
کړیدے او دا مفهوم د حبر الامة حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما
نه په سند متصل سره امام طبری روایت کړیدے. رازی او طبری
دے مفهوم ته ترجیح ورکړیده. امام رازی دا د امام زهری او ابن
کیسان طرف ته هم منسوب کړیدے. والذی ذهبنا الیه قول
الزهری و ابن کیسان (السراج المنیر للخطیب الشربینی ج ۳ ص ۳۹۰)
لیکن د حضرت علی رضی الله عنه او نورو مفسرینو په نزد د ایت مطلب
دا دے چه د اسونو په کتلو او دوباره ستپالولو کښ د حضرت سلیمان
علیه السلام نه د ماخیګر مونځ فوت شو چه په هغوئ باندے فرض
وو. د مانځه د قضاء کیدلو سبب اسونه وو د دے وجے نه ئے اسونه
واپس را اوغوښتل او ذبح ئے کړل (بحر، روح، معالم، مدارک، ابن جریر،
ابن کثیر) دے صورت کښ به د تَوَارَتْ ضمیر الشمس (رنمس) طرف ته
راجع وی چه د اَلْعَشِیِّ نه مفهوم دے او عَنْ به په خپل اصل معنٰی باندے
وی لیکن امام رازی پدے باندے څو اعتراضونه کړیدی. اول دا چه د

له دا عبارت علامه خطیب شربینی المتوفی ۹۷۷ھ د امام رازی نه په خپل
تفسیر کښ نقل کړیدے لیکن د تفسیر کبیر په مطبوعه نسخه کښ دا عبارت
موجود نهٔ دے دا د نسخو اختلاف دے یا د طباعت غلطی ده - والله اعلم.

الصّٰفِنٰتُ ذکر په ایت کښ صریح دے او د الشَّمْسِ هیڅ ذکر نشته. د دے وجے نه د الصّٰفِنٰتُ طرف ته ضمیر راجع کول بهتر دے. دویم مسح بالسوق په ذبح محمولول صحیح نهٔ دے ځکه نو د فامسحوا برؤسکم معنٰی به هم د قطع کولو وی. لیکن مسح بالسیف د قطع په معنٰی سره راځی. لوکان مسح السوق والاعناق قطعها لکان معنی قوله وامسحوا برؤسکم وارجلکم قطعها وهذا مما لا یقوله عاقل بل لو قیل مسح رأسه بالسیف فربما فهم منه ضرب العنق (کبیر ج ۷ ص۲۰۰) دریم په سوونو اسونه بے مقصده حلالول او بیا چه ټخهٔ قصور هم په هغوئ کښ نهٔ وی د پیغمبر د شان نه ډیر لرې دی.

۳۱ه وَلَقَدْ فَتَنَّا الخ سلیمان علیه السلام مونږ په ازمائش او امتحان کښ واچولو او د هغهٔ په تخت باندے مو یو جسد اُوغورځولو. دے ایت کښ د جسد او ازمائش تعیین نهٔ دے شوے د دے وجے نه د دے په تعیین کښ هم اختلاف دے. ځنے مفسرینو لیکلی دی په حدیث کښ راغلی دی چه یو ځل حضرت سلیمان علیه السلام قسم اوکړو چه نن شپه به زهٔ د خپلو ټولو بیبیانو سره جماع (کور والے) کوم او د هرے یوے نه بچے پیدا کیږی او مجاهد به وی لیکن انشاء الله ئے اُونهٔ وئیل نو د یوے بی بی نه علاوه د هیچا بچے هم پیدا نهٔ شو او هغه هم ناقص الخلقت (نا تمام) وو دینه روستو نبی علیه السلام اُوفرمائیل که چرے سلیمان علیه السلام انشاء الله وئیلے وے نو د ټولو بیبیانو نه به بچی پیدا شوے وے او ټول به مجاهدین او شهسوار وو. د حدیث الفاظ صرف دومره حد پورے دی. د دے حدیث نقل کولو نه روستو ځنو مفسرینو لیکلی دی چه دایه (خدمت کوونکی) هغه راؤړو د سلیمان علیه السلام په مخکښ ئے په تخت واچولو دے سره حضرت سلیمان علیه السلام پوهه شو چه د انشاء الله نهٔ وئیلو نتیجه ده. نو فوراً ئے توبه استغفار کړله داحدیث صحیح دے چه په صحیح بخاری (ج ا ص۲۹۵) کښ جلد ۳ ص۹۹۳ نه علاوه په نورو کتابونو کښ هم موجود دے. لیکن د دے حدیث په هیڅ یوه طریقه کښ هم یوه ادنیٰ شان اشاره هم داسے نهٔ ملاویږی چه هغے نه دا معلومه شی چه داحدیث د دے ایت تفسیر دے. په حدیث کښ چه کومه واقعه ذکر شوے ده هغه پخپل ځائے ده لیکن هغه واقعه د دے ایت تفسیر نهٔ دے. لیکن مفسرینو هغه د دے ایت په تفسیر کښ ذکر کړے ده. ځنے مفسرینو د جسد نه د سلیمان علیه السلام خپل جسد مراد کړے دے. هغه د بیمارئ په وجه دومره کمزورے او بے هوش شو چه

دا سے به معلومیدو چه جسد بلا روح دے. وقال قوم مرض سلیمان علیه السلام مرضا کالاغماء حتی صار علی کرسیه جسدا کانه بلا روح (بحر ج ۷ ص۳۹۷) ولقد فتنا سلیمان بسبب مرض شدید القاه الله علیه والقینا علی کرسیه منه جسدا وذلك لشدة المرض والعرب تقول فی الضعیف انه لحم علی وضم وجسم بلا روح ثم اناب ای رجع الی حال الصحة (کبیر ج ۷ ص۲۰۳) حضرت شیخ قدس سره فرمائی چه حضرت سلیمان علیه السلام د جهاد د اسونو په کتلو راکتلو او تکراتنی کښ دومره محوه شو چه د ماځیګر مونځ د خپل اصلی وخت نه روستو کړے شو اګر چه نمر پریوتلے نه وو. الله تعالی په دے ادنیٰ بے پرواهئ باندے د تنبیه په طور د حضرت سلیمان علیه السلام نه حکومت واخستو د هغه په ځائے باندے ئے یو بیکاره سړے په تخت کینوو. کله چه هغه استغفار اوکړو نو هغهٔ ته ملک واپس ورکړے شو او د اسونو په ځائے هغهٔ د پاره هوا مسخر کړے شوه. د جسد نه مراد هغه بیکاره سړے دے. د دینه علاوه ځنو مفسرینو د حضرت سلیمان علیه السلام لګمه یو شیطان (جن) په قبضه کښ د اخستلو او د هغهٔ په حکومت باندے د مسلط کیدلو قصه ذکر کړیده هغه ټول دروغ دی او د یهودیانو او زندیقانو افتراء ده د هغے ذکر کول هم جائز نه دی. قال ابو حیان وغیره ان هذه المقالة من اوضاع زنادقة السوفسطائیة ولا ینبغی لعاقل ان یعتقد صحة ما فیها (روح ج ۲۳ ص۱۹۹) قال القاضی عیاض وغیره من المحققین لایصح ما نقله الاخباریون من تشبیه الشیطان به وتسلیطه علی ملکه وتصرفه فی امته بالجور فی حکمه وان الشیاطین لا یسلطون علی مثله وقد عصم الله تعالی الانبیاء من مثل هذا (خازن ج ۶ ص۴۹) واما ما یروی من حدیث الخاتم والشیطان وعبادة الوثن فی بیت سلیمان علیه السلام فمن اباطیل الیهود (مدارك) ۳۲ قَالَ رَبِّ الخ حضرت سلیمان علیه السلام د الله تعالی نه د بخښش دُعا اُوغوښتله د انبیاء علیهم السلام طریقه ده چه هر وخت د الله تعالی نه استغفار کوی چه د هغے نه د درجاتو بلندی او د ګناهونو نه د حفاظت طلب مقصود وی. د دے وجے نه استغفار د پاره د ګناه مخکښ والے ضروری نه دے. وَهَبْ لِیْ مُلْکًا الخ حضرت سلیمان علیه السلام دا دُعا هم اُوکړه چه ما ته داسے حکومت راکړه چه ځما نه سیوا بل هیچا ته هم ورکړے شی. والصحیح انه سائل من الله تعالی ملکا لا یکون لاحد من بعده من البشر مثله وهذا هو ظاهر السیاق من الآیة (ابن کثیر).

فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً

بیا مونږ تابع کړله هغهٔ دپاره هوا ف۳۳ تلله به د هغهٔ په حکم نرمه

حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَ

چرته چه به ئے رسیدل غوښتل. او تابع مو کړل شیطانان ټول ابادي جوړوونکی او

غَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾

غوپه وهونکی. او نور ډیر چه یو ځل سره تړلے شوی وی په بیړو کښې ف.

هَٰذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ

دا بخشش دے ف۳۴ زمونږ. اوس ته احسان او کړه یائے بند او ساته نهٔ به وی (تا سره)

حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ

هیڅ حساب. او مونږ سره د هغهٔ مرتبه ده او ښهٔ ځائے

مَآبٍ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ

د استوګنے ف۲. او یاد کړه زمونږ بنده ف۳۵ ایوب کله چه هغهٔ اواز او کړو خپل رب ته

أَنِّي مَسَّنِيَ الشَّيْطَانُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾

چه ما ته اورسولو شیطان ازار او تکلیف

ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ

او هه زمکه په خپله خپه ف۳۶ دا چینه را اوتله د لمبلو دپاره یخه

وَشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ

او څکلو دپاره. او مونږ اوبښل هغهٔ ته د هغهٔ د کور خلق او د هغې برابر د هغوئ سره

مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٤٣﴾

د خپل طرف د مهربانئ نه او د یاد ساتلو عقل لرونکو دپاره ف۳۷

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِهِ وَلَا تَحْنَثْ

وقف لازم

إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾

مونږ هغه بیا موندلو صبر ناک ډیر ښه بنده بیشکه هغه ډیر رجوع کوونکے الله ته ؈

وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ

او یاد کړه څموږ بندګان ؈ ابراهیم ، او اسحق او یعقوب

أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴿٤٥﴾ إِنَّا أَخْلَصْنَاهُم

لاسونو والا ؈ او سترګو والا ؈ - مونږ خصوصیت ورکړو هغوئ ته

بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا

د یوے امتیازے (غوره کړے شوے) خبرے چه هغه یاددول (د آخرت) د کور . او هغوئ دی څموږ په نزد دی

لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾

د غوره کړے شوو نیکو بندګانو نه .

نکات: ؈ دریم نقلی دلیل ۱۲ ؈ څلورم نقلی دلیل ۱۲ -

موضح قرآن ؈ تولے دنیا کښ به چه هغهٔ ته چرته هم معلومه شوه چه کوم یو پیړے کوم یو انسان ته تکلیف ورکوی نو هغه به ئے قید کړل ، یا به ئے دریاب ته اوغورځول او یا به ئے په زمکه کښ د ننه بند کړل څنګه تر اوسه پورے قید دی - ؈ دائے یوه بله مهربانی اوکړه چه دومره ډیره دنیائے هم ورکړه او اختیار ئے هم ورکړو او حساب ئے هغهٔ ته معاف کړو لیکن بیا هم هغوئ خوراک د خپل لاس د ګټے نه کوو پخپل لاس به ئے ټوکرئ جوړولے . ؈ کله چه الله تعالی اوغوښتل چه هغه صحتیاب کړی یوه چینه ئے را اوویستله د هغهٔ ځپے وهلو سره د هغے نه به ئے غسل کوو او څکلے به ئے هم او هغے سره صحتیاب شول . او د هغهٔ ځامن او لوڼړه چه د چهت راپریوتلو په وجے سره د چهت د لاندے کیر شوی وو او مړه شوی وو هغه ئے راژوندی کړل او د هغے په اندازه ئے دوچند نور اولاد هم ورکړو . ؈ په مرض کښ خفه کیدو سره ئے قسم کړے وو چه خپله ښځه به سل لختے وهم هغه ښځه د هغهٔ د حال ملګرے وه او بے ګناه . الله تعالی قسم دا شان رښتنے کړو . ؈ یعنی لاسونو سره به ئے بندګی کوله او سترګو سره به ئے قدرتونه لیدل یقین به ئے کوؤ -

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی خپله ښځه ۱۲ ف۲ ایوب علیه السلام قسم کړے وو چه خپله ښځه به سل دُرے وَهم الله تعالیٰ هغې سره اسانی اُوکړه ۱۲. ف۳ یعنی علم او عمل دواړه ئے ډیر زیات لرل.

تفسیر: ۳۳ فَسَخَّرْنَا الخ نو مونږ دَ حضرت سلیمان علیه السلام دُعا قبوله کړه هوا او پیریان مونږ هغهٔ تابع اُوګرځول.

اصاب ای اراد (روح) حضرت سلیمان علیه السلام به چه چرته غوښتل هوا به تیز رفتاری سره دَ هغهٔ تخت اُوچت کړو هلته به ئے اُورسولو او پیریان مونږ هغهٔ تابع کړل چه په هغې کښ ئے ځنے دَ ابادئ په کار لګیا کړل او ځنو به غوپے وهلے چه دَ سمندر دَ بیخ نه به ئے جواهرات او نور قیمتی څیزونه راویستل. او کوم شیطانان چه زیات سرکش وو هغه ئے په زنځیرونو کښ اُوتړل او قتل ئے کړل.

۳۴ هٰذَا الخ دا دَ الله دَ طرفه حضرت سلیمان علیه السلام سره خطاب دے دا لوئے حکمت او بے انتهاء نعمتونه مونږ تا ته درکړل اُوس تا ته اختیار دے چه دَ دینه تور وخلقو ته هم ورکړه کوئ یا ئے نه کوئ. قال ابن عباس رضی الله عنهما اعط من شئت وامنع من شئت بغیر حساب ای لیس علیك حرج فیما اعطیت وفیما امسکت (کبیر ج ۷ ص ۲۰۵). وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا الخ دَ دے دُنیوی حکومت، دَ شیطانانو، هوا گانو مسخر کولو نه علاوه مونږ سره دَ حضرت سلیمان علیه السلام مرتبه ډیره اُوچته ده او دَ هغهٔ انجام هم محمود (ښهٔ) دے او هغه محمود مونږ غوره کړے شوے او مقبول بنده دے. ۳۵ وَاذْکُرْ الخ دا دریم نقلی دلیل دے دَ حضرت ایوب علیه السلام قوم دَ توحید دَ مسئلے په وجے سره دَ هغهٔ مخالف شول او دَ الله تعالیٰ دَ طرفه په شکل دَ یو سختے بیمارئ هغهٔ باندے امتحان اُوشو چه دَ هغې په وجے سره دَ ښار خلقو هغه دَ ښار نه بهر اُویستو. آخر هغهٔ دَ الله ته دُعا اُوغوښتله نو الله تعالیٰ هغهٔ ته دَ هغه بیمارئ نه شفاء ورکړه. دَ چا چه پخپله دا حال وی هغه څنګه شفیع غالب کیدے شی.

اَنِّیْ مَسَّنِیَ الشَّیْطٰنُ الخ نُصْب، سخت تکلیف ته وائی دَ حضرت ایوب علیه السلام بیماری ډیره اُوګده شوه او هغه اتلس کلونه دیکښ مبتلا وو دد بیمارئ په وجه سره هغهٔ ډیر تکلیفونه برداشت کړل. یوه ورځ دَ هغهٔ بی بی دَ څه کار دَ پاره تلله لاره کښ ئے یو طبیب اولیدهٔ چه په حقیقت کښ شیطان وو او د انسان په شکل کښ متشکل شوے وو مخے ته راغلے هغهٔ ته ئے دَ خپل خاوند دَ بیمارئ ذکر اوکړو نو شیطان (په شکل دَ طبیب)

اوویل چه زهٔ به پدے شرط علاج کوم چه کله ستا خاوند څما علاج سره صحتیاب شی نو تاسو به دَغیر الله په نوم قربانی کوئ بی بی صاحبے چونکه دَ خاوند حضرت ایوب علیه السلام دَ بیمارئ په وجه ډیره زیاته غمژنه وه او زړه ئے غمژن وو دَ دے وجے نه دَ هغے په زړهٔ کښ دَ شیطان خبرے طرف ته څهٔ میلان پیدا شو. هغے دا واقعه حضرت ایوب علیه السلام ته بیان کړه نو هغه فوراً پوهه شو چه هغه شیطان دے او دے سره دَ هغهٔ زړهٔ ته ډیر زیات روحانی تکلیف اورسیدهٔ او ډیر په عاجزئ او زارئ سره دَ الله په حضور کښ دُعا اوغوښتله. اے څما پروردګاره! څما دَاوږدے بیمارئ په وجه سره خواوس شیطان ته هم دا اُمید پیدا شو چه مونږ شرک کولو باندے آماده شو. څما پروردګاره! شیطان خپلے خبرے سره ما ته ډیر سخت تکلیف راکړے دے. اوس په ما مهربانی اوکړه دَ دے مصیبت نه ما خلاص کړه. ان الشیطان تعرض لامرأته بصورة طبیب. فقالت له ان ههنا مبتلی فهل لك ان تداویه..... ان الشیطان طلب منها ان تذبح بغیر الله تعالی اذا عالجه وبرأ فمالت لذلك، فعظم علیه. علیه السلام الامر فنادی الخ (روح ج ۲۳ ص۲۰۶) اشار بقوله مسنی الشیطن الی تعریضه لامرأته وطلبه ان تشرك بالله وکانه تشکی هذا الامر. کان علیه اشد من مرضه (بحر ج ۷ ص۴۰۰).

۳۶ ارکض الخ دَ الله تعالی رحمت په جوش کښ راغلے وے فرمائیل زمکه په خپله خپه اووهه، فوراً به دَ اوبو چینه راووځی په هغے کښ غسل اوکړه او دَ هغے نه څښکل اوکړه نو هغه زمکه په خپه اووهله هغے نه دیخوا او بو چینه راوخوټیدله هغے کښ ئے غسل اوکړو او هغے نه ئے څښکل اوکړل نو سمدستی صحتیاب شول بالکل بیماری نه وه. ووهبنا له اهله الخ ابتلاء او امتحان کښ چه دَ هغهٔ کوم اولاد فوت شوے وو هغه مونږ دوباره ژوندی کړل او دَ هغے نه علاوه هم نور اولاد ورکړهٔ دا ټوله دَ الله مهربانی وه. دا شان دے کښ دَ عقلمندو خلقو دَ پاره عبرت دے چه په مصیبتونو او تکلیفونو کښ صبر کول دَ هغے دا ثمره او میوه ده.

۳۷ وَخُذْ الخ دَ حضرت ایوب علیه السلام ښځے چه کله دَ طبیب (شیطان) قصه هغه ته بیان کړه او دَ خپل طبیعت میلان ئے ظاهر کړه نو حضرت ایوب علیه السلام ناراض او خفه شو قسم ئے اوکړو چه که چرے الله ما ته صحت راکړو نو زهٔ به تا لره سل دُرے (چوکے) وهم. لیکن دَ هغهٔ دَ ښځے دَ قربانئ او خدمت جذبه دَ هغے دَ وفادارئ او په مصیبت کښ دَ پیغمبر علیه السلام مخلصانه خدمت الله تعالی ته ډیر خوښ وو دَ دے وجے

نه الله تعالیٰ محض خپل مهربانئ سره د قسم پوره کولو حیله اوښودله چه د نرو نروخا لګو شلګ غاښکے یو موټے پوره نه کړه بی بی پرے اووهه ستا قسم به پوره شي او ته به حانث نه شے۔ تمثّل الشیطان لها فی صورة ناصح او مداو وعرض لها شفاء ایوب علی یدیه علی شرط لا یمکن وقوعه من مؤمن فذکرت ذلک له فعلم ان الذی عرض لها هو الشیطان وغضب لعرضها ذلک علیه مخلف ..... فحلل الله یمینه باهون شيء علیه وعلیها لحسن خدمتها ایاه ورضاه عنها (کبیر جلد ۷ صفحه)۔ دا حیله حضرت ایوب علیه السلام پورے خاص وه۔ دے باندے قیاس کولو سره حیله اسقاط وغیره ته جائز ویل صحیح نه دي۔ هر هغه حیله چه هغے سره حکمت تشریع (د شریعت حکمت) باطل شي ناجائز او حرام ده۔ مروجه حیلهٔ اسقاط سره هم حکمت تشریع باطل ګرځي د دے وجے نه هغه هم جائز نه ده کلّ حیلة اوجبت ابطال حکمة شرعیة لا تقبل الخ (روح جلد ۲۳ صفحه ۳۰۹) انا وجدنٰه صابرا الخ دا د الله له طرفه د حضرت ایوب علیه السلام تعریف او د هغهٔ ښهٔ بیانول دي بیشکه مونږ ایوب علیه السلام، صابر بیا موندلو په دومره اوګده بیمارئ او امتحان کښ مونږ د هغهٔ نه یوځل شکایت کوم لفظ وانهٔ وریده او په ژبه کښ رانه وړو هغه ځمونږ ډیر ښهٔ بنده وو او ځمونږ طرف ته رجوع کوونکے وو په خپل تکلیف او مصیبت کښ هغه ځمونږ نه سوا بل هیچا ته آواز اونکړو۔

۳۳ واذکر عبادنا الخ دا څلورم دلیل نقلی دے ځمونږ د بندګانو ابراهیم، اسحٰق، یعقوب علیهم السلام ذکر اوکړئ چه ظاهری اعمالو او طاعت کښ او باطنی علوم کښ او دینی بصیرت (پوهه) کښ کامل وو (اولی الایدی والابصار) اولی القوة فی الطاعة والبصیرة فی الدین او اولی الاعمال الجلیلة والعلوم الشریفة (ابوالسعود جلد ۷ صفحه ۲۰۸)۔ مونږ هغوئ ته د آخرت د یاد د پاره خاص کړے وو او د هغوئ ټوله توجه د الله د اطاعت او عبادت او د هغهٔ د رضا طلب کولو باندے مرکوزه وه ګویا چه هغوی هر وخت د آخرت په تیارئ کښ مصروف وو نو د چا خپل حال چهٔ داسی وی هغوئ شفیع غالب څنګه کیدے شي بیشکه هغوی ځمونږ مقبول او غوره کړے شوی نیک بندګان وو لیکن شفیع غالب نهٔ وو ۱۲۔

له مروجه حیله اسقاط د څو وجوهات په وجه ناجائز ده تفصیل د پاره د فقه کتابونه اوګورئ دا شان رساله توثیق الکلام فی رد حیلة الاسقاط المروجة بین الانام۔ اوګورئ ۱۲۔

وَاذْكُرْ إِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ

او یاد کړه اسمٰعیل ﷺ او الیسع او ذوالکفل .

وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ هٰذَا ذِكْرٌ ۚ

او هر یو وؤ د خیر والا وو . دا (خو) ذکر او ثنا (د انبیاو).

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿۴۹﴾ جَنّٰتِ

او بیشکه ویریدونکو د پاره دے ښه ځائے د اوسیدلو . باغونه دی

عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ مُتَّكِـِٔينَ

د همیشه اوسیدلو پرانستل شوی دی هغوئ د پاره دروازے تکیه وهونکی به ناست وی

فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَّ

په هغې کښې راغواړی به میوے ډیرے او

شَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾

شراب . او د هغوی سره به ښځے وی ښکته کتونکی د خپلو نظرونو همزولی به وی .

هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ إِنَّ هٰذَا

دا هغه دی چه تاسو سره ئے وعده کړے شوې وه د حساب په ورځ . دا

لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾ هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطّٰغِينَ

روزی ده خمونږ ورکړے شوے نشته هغې د پاره ختمیدل . دا خو هم داور بیان او بیشکه د سرکشانو د پاره ځ

لَشَرَّ مَآبٍ ﴿۵۵﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾

ئ ډیر بد ځائے . دوزخ دے چه په هغې کښې به هغوی ننوځی څو به شوی لټی نو خوره بد ځائے ګډ د آرام کولو

هٰذَا ۙ فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾

دا (دوزخ) دے اوس دا و څکی دا ګرمے اوبه او زوے .

وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ أَزْوَاجٌ ﴿۵۸﴾ هٰذَا فَوْجٌ

او څینے نور د دے قسم څیزونه هم . دا یو فوج دے

مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ۗ إِنَّهُمْ

ننوتونکې دے په سختئ سره ستاسو سره ﴿لله﴾ نه دِ وي خلائے د خوشحالئ او آرام دوي د پاره دوئ دي

صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوا بَلْ أَنتُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا

داخلیدونکي اور ته . هغوي به اووائي بلکه تاسو د پاره دِ نه وي خلائے د خوشحالئ

بِكُمْ ۖ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾

تاسو راوړاندے کړے دے مونږ ته دا عذاب نو ډیر بد ځائے دے د استوګنے .

نکات ١ پنځم عقلی دلیل ١٢ ٢ بشارت اُخروی ١٢ ٣ تخویف اُخروی ١٢

موضح قرآن ف الْيَسَعَ د حضرت الیاس علیه السلام خلیفه وو او نبوت ورکړے شوے وو. ف ٢ کله چه جنت ته ننوځي نو هر یو به بغیر د چا د بسودلے نه خپل کور ته ځي ١٢.

فتح الرحمٰن ف ١ کله چه تابعین او غواړي چه دوزخ ته داخل شي نو متبوعانو ته به او وئیل شي.

تفسیر ﴿لله﴾ وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ الخ دا پنځم نقلی دلیل دے څو نور د بندګانو اسماعیل ، الیسع او ذوالکفل ذکر هم اوکړه دا ټول نیک او غوره کړے شوی بندګان وو. هٰذَا ذِكْرٌ ، د انبیاء علیهم السلام ذکر خیر ټول عبرت او نصیحت دے دنیا کښې که چرے په هغوئ باندے څه تکلیف او مصیبت راځي نو محض د آزمائش او امتحان د پاره ئے نیي نو په آخرت کښې خو به د هغوئ مرتبه ډیره پُلنه او اوچته وي ١٢

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ تر مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ دا بشارت اخروی دے عام متقیانو او پرهیزګارو خلقو د پاره. دیته د انبیاء علیهم السلام د شان اندازه لګول پکار دي چه هغوئ ته خو به د دوی نه هم زیات نعمتونه ورکولے شي. د الله د احکامو د اطاعت کوونکو او د هغه د نافرمانئ نه د ځان ساتونکو انجام به ښه وي په آخرت کښې به هغوي ته د همیشه نعمتونو باغونه (جنات عدن) ورکولے شي چه د هغے دروازے به د دوئ د ورتللو نه مخکښې پرانستلے شي هغوی به په دغه جنتونو کښې په صوفو باندے تکیه وهونکي وي آرام به کوي او قسم قسم میوے او د څکلو څیزونو سره به د هغوئ تواضع او میلمستیا کولے شي. هلته به هغوئ ته پاکې او عفیف، همزولے بیبیانے ملاویږي او هغوی ته به وئیلے شي دا ټول نعمتونه هغه دي

دَ کوم چه تاسو سره په دنیا کښې وعده کړے شوے وه.

وَاِنَّ لِلطّٰغِیْنَ نه تر تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ. دا تخویف اخروی دے دَ فرمانبردار مؤمنانو په مقابله کښې به دَ سرکشانو انجام ډیر بد وی. طَاغِیْنَ نه سرکش کافران او دَ مشرکانو سرداران او مشران مراد دی چه هغوئ به ئے دَ شرک دعوت ورکوو هغوی به جهنم ته داخلولے شی او هغوی ته به ووئیلے شی دا په دنیا کښې ستاسو دَ سرکشئ سزاء ده اوس دَ دے مزه اوڅکئ جوش ورکړے شوے اوبه او دَ دوزخیانو دَ زخمونو نه بهیدونکے زوے به هغوی ته دَ څښلو دَ پاره ورکولے شی او هغوئ دَ پاره به دَ دے په شان عذابونه او دَ څښلو نور هم څو قسمه تیار وی. اَلْغَسَّاقُ مَا یَغْسِقُ مِنْ صَدِیْدِ اَهْلِ النَّارِ (مدارک) وَلَهُمْ مِنْ وُقَاتٍ وَاَنْوَاعُ عَذَابٍ اٰخَرَ (روح جلد ۲۳ صفحه ۲۱۵).

هٰذَا فَوْجٌ الخ کله چه دَ مشرکانو سرداران او دَ شرک داعیان جهنم ته داخل شی نو دَ هغوئ نه روستو به دَ هغوئ دَ اتباع او اذناب فوج جهنم ته داخلولے شی او دَ هغوی متبوعین ته به ووئیلے شی دا فوج به هم ستاسو سره جهنم ته داخلیږی نو هغوی به اووائی په دوی دِ دَ خدائے عذاب وی دوئ هم دوزخ ته داخلیږی. قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ الخ دَ دے په جواب کښې به اتباع خپلو سردارانو ته وائی بلکه په تاسو دِ دَ خدائے عذاب وی تاسو مونږ ګمراه کړو او ستاسو په وجه سره مونږ دے بد انجام ته رسیدلے یو. "هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ" کلام الخزنة لرؤساء الکفرة فی اتباعهم و "لا مرحبا بهم انهم صالوا النار" کلام الرؤساء (مدارک) انتم قدمتموه لنا یعنی وتقول الاتباع للقادة انتم بل انتم بالکفر قبلنا وشرعتموه لنا وقیل معناه انتم قدمتم لنا هذا العذاب بدعائکم ایانا الی الکفر (خازن و معالم ج ۶ صفحه ۵۲).

قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدْهُ

هغوئ به اووائی اے خدایه پروردګاره! ﷲ چا چه مونږ ته دا وړاندے کړے دے مونږ ته دا (لاندے) هغه ته عذاب

عَذَابًا ضِعْفًا فِی النَّارِ ﴿۶۱﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا

ورکړه دوچند عذاب په اور کښې ف۱. او وائی به (مشرکان) څه اوشول

لَا نَرٰی رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿۶۲﴾

چه نه وینو مونږ هغه سړی چه مونږ هغه شمارل خراب خلق ف۲

أَتَّخَذْنَٰهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَٰرُ ﴿٦٣﴾

آیا موږ هغوئ ټوکے وو په ټوکو سره یا خطا شوے هغوئ نه خموږ سترګے ف ۲

إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾ ع ۴ ۱۳

دا خبره ۳۳ رښتونے ده جګړه کول خپل کښ د دوزخیانو.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ

ته اووایه زهٔ خو هم ویره وونکے یم ۳۴ او څوک حاکم نشته

إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمَٰوَٰتِ

لیکن الله چه یو دے ډیر قهر کوونکے. رب د آسمانونو

وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾

او د زمکے او څهٔ چه د دے په مینځ کښ دی غالب (قوی) ګناه بخوونکے.

قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ عَنْهُ

ته اووایه دا یو لوئے خبر دے ۳۵ ف چه تاسو پرے

مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ

سوچ نهٔ کوئ. ما ته هیڅ خبر نه وو ۳۶

بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰ

د پورتنی ټولی (د ملائکو) چه کله هغوئ خپل مینځ کښ بحث مباحثه کوی ما ته خو دا حکم

إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ

کیږی چه زهٔ خو صرف ویره وونکے یم ښکاره. کله چه اووئیل

رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن

ستا رب ۳۷ فرښتو ته زهٔ جوړوم یو انسان د

طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ

خټے نه. بیا چه کله زهٔ هغه برابر کړم او پوک وهم په هغه کښ

مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَسَجَدَ

خپل یو روح نو تاسو پریوځئ ده هغهٔ ته مخکښ سجده کوونکي. بیا سجده اوکړه

الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۷۳﴾

فرښتو ټولو په یو ځائے.

نکات سا دَ سورت دعوٰی ذکر کول ۱۲ سـ۲ دَ مقدر سوال جواب ۱۲ سـ۳ دَ ملائکه دَ حال بیان ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ دَ دوزخ په غاړه به فرښتے دا دوزخیان په شړلو او وهلو راجمع کړی دغه سختئ او بے آرامئ کښ اوله ډله دَ دُنیا (مردارانو، متبوعان) په روستئ ډلے رټا بعانو) ته بد رد وئیل شروع کړی او روستی به په هغوئ لعنت وئیل شروع کړی۔

ف۲ هلته به دوی اوګوری ټول یاران دوستان ادنیٰ او اعلیٰ خپل خپلوان به دوزخ کښ راجمع کړے شوی وی او کوم مسلمانان چه به ئے پیژندل او دَ ټولو نه زیات به ئے هغوئ بد او خراب ګڼړل هغوی به په نظر نه راځي نو حیران به شي وائی به چه مونږ خو هغوئ پوره په غلطه ټوقے کولے هغوی خو دَ دے قابل نهٔ وو چه نن دوزخ ته نزدے نهٔ دی یا دلته چرته بل ځائے دے چه خمونږ سترګے غلطے شویدی په نظر نه راځي۔

ف۳ یعني دَ قیامت احوال یا دَ دے دین نازلیدلو ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعني فقیران مسلمانان ۱۲۔

تفسیر ۲۴ قَالُوْا رَبَّنَا الخ دَ مشرانو سردارانو مشرکانو تابعین او پیروکار به وائی اے خمونږ پروردګاره! دَ چا دَ وجے نه چه مونږ دے انجام ته را اورسیدلو یعني دَ کفر او شرک تعلیم ورکوونکو ته دَ جهنم په اور کښ دوچند عذاب ورکړه۔ وَقَالُوْا مَالَنَا الخ په دنیا کښ به مشرکانو اهل توحید بد ګڼړل او توحید بیانوونکو ته به ئے شر او فساد پیدا کوونکي وئیل۔ دَ قیامت په ورځ به مشرکان په جهنم کښ وی او اهل توحید به په جنت کښ وی دغه وخت به مشرکان دَ اهل توحید بارہ کښ خپل مینځ کښ خبرے کوی او وائی به څهٔ خبره ده نن په جهنم کښ هغه خلق په نظر نه راځي چا ته چه به مونږ په دنیا کښ شرارتیان فسادیان وئیل۔ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا الخ آیا مونږ په دُنیا کښ په غلطئ سره شرارتیان ګڼړل په هغوئ پورے مونږ توقے کولے لیکن په حقیقت کښ هغوئ نیک خلق وو او نن هغوئ په جنت کښ دی۔

یا هغوئ چرته په دوزخ کښې دی لیکن مونږ ته په نظر نه راځی. والمعنی مالنا لا نراهم فی النار الیسوا فیها فلذلك لا نراهم. بل ازاغت عنهم ابصارنا فلا نراهم وهم فیها (روح ج ۲۳ ص ۲۱۸).

ان ذلك الخ دَ جهنمیانو دا خبرے، دَ رهنمیانِ شرک او دَ هغوی دَ متونکو تابعدارانو خپل مینځ کښې جګړه او دَ دوزخیانو دَ مؤحدین او مبلغین توحید پاره کښې سوال او جواب دا ټول برحق دی او ضرور به وی.

قُلْ اِنَّمَاۤ ته تر العزیز الغفار. دا دلائل عقلی او نقلی او وحی نه روستو صراحت سره دَ سورت دعوی ذکر شوے ده. دَ تیر شوو دلائلو نه ثابته شوه چه انبیاء علیهم السلام خو به دَ مصیبتونو په وخت پخپله الله ته آوازونه کولو او دَ هغه په مخکښې به ئے عاجزی کوله دَ دے وجې نه هغوی شفیع غالب نشی کیدے الله تعالیٰ معبود برحق، کارساز، پخپلو صفاتو کښې یو او په ټولو غالب دے. دَ ټولو کائنات مالک او ټول جهان کښې متصرف او مختار صرف هغه دے څه چه غواړی کوی او دَ هغه په دربار کښې څوک شفیع غالب نشته.

قُلْ هُوَ الخ دَ هُوَ ضمیر دَ تیر شوو آیتونو مضمون یعنی دَ توحید دَ دعوت ته کنایه دے یعنی دَ توحید مسئله یوه ډیره اهم او عظیم الشان امر دے چه زهٔ تاسو ته دَ خدائے په امر خبر درکوم او هغهٔ دَ دے لائق دے چه په ډیر شوق او خوښئ سره قبول کړے شی او دَ هغے نه اعراض اونکړے شی لیکن تاسو دَ خپل کم عقلئ او بد بختئ په وجه سره هغهٔ شا ته غورځوی. (هُوَ) ای هذا الذی انبأتکم به من کونی رسولا منذرا وان الله واحد لا شریك له (روح، مدارک).

ما کان لی الخ دا دَ سوال مقدر جواب دے. مشرکانو به وئیل که چرے ته واقعی دَ خدائے پیغمبر ئے او تا ته وحی راځی نو مونږ ته او وایه دَ کوم عذاب نه چه ته مونږ ویره وے هغه به کله راځی. جواب ورکړے شو چه بیشکه زهٔ دَ الله پیغمبر یم او په ما باندے وحی راځی لیکن ملأ اعلیٰ کښې چه کوم څه کیږی ما ته دَ هغے هیڅ علم نشته دَ دے وجې نه زهٔ دا نشم وئیلے چه دَ خدائے عذاب به کله راځی. او دَ الله له طرفه په ما وحی نازلیږی چه زهٔ دَ هغه پیغمبر او بشر، نذیر یم.

اذ قال ربك الخ دلته نه دَ فرښتو حال بیان کړے شوے دے چه هغوئ هم دَ الله دَ حکم منونکی دی دَ دے وجې نه هغه هم شفیع غالب نشی کیدے

فقعوا. قعوا دَ وَقَعَ یَقَعُ (فَتَحَ) نه جمع مذکر امر حاضر صیغه ده

ای فاسقطوا له (روح) الله د تخلیق آدم نه مخکښ فرښتو ته او فرمائیل چه زهٔ د خاورې نه بشر پیدا کوونکے یم. او هغه ته به د زمکے خلافت سپارم لهٰذا چه کله زهٔ د هغه شکل او صورت مکمل کړم په هغے کښ روح پو کوهم او هغه د یو کامل انسان په صورت کښ ظاهر شی نو تاسو ټول د هغه په مخکښ سجده اوکړئ. غیر الله ته د سجدے کولو پوره تحقیق د سورۃ یوسف په تفسیر ۸۴ کښ تیر شویدے. فسجد الملٰئکۃ الخ نو چه کله د آدم علیه السلام پیدائش مکمل شو نو ټولے فرښتے په یو ځائے سر په سجده شوے.

اِلَّآ اِبْلِیْسَ ؕ اِسْتَكْبَرَ وَ كَانَ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۷۴﴾

لیکن ابلیس ۵۶ غرور اوکړه او وو هغه په انکار کوونکو کښ ف۱

قَالَ یٰۤاِبْلِیْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا

وے فرمائیل اے ابلیس ۵۷ څهٔ شے منع کړے ته چه سجده اوکړے هغه چا ته

خَلَقْتُ بِیَدَیَّ ؕ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ

چه ما هغه پیدا کړو خپل دواړو لاسو نو سره دا تا تکبر اوکړو یا ته یې

الْعَالِیْنَ ﴿۷۵﴾ قَالَ اَنَا خَیْرٌ مِّنْهُ ؕ خَلَقْتَنِیْ

درجه کښ لوے وے ف۱ وے وئیل زهٔ بهتر یم د هغه نه. زه دِ پیدا کړے یم

مِنْ نَّارٍ وَّ خَلَقْتَهٗ مِنْ طِیْنٍ ﴿۷۶﴾ قَالَ

د اور نه او هغه دِ پیدا کړو د خټے نه ف۳. وے فرمائیل

فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِیْمٌ ﴿۷۷﴾ وَّ اِنَّ

نو ته اوځه د دے ځائے نه ځکه چه ته اورټلے شوے او په

عَلَیْكَ لَعْنَتِیْۤ اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنِ ﴿۷۸﴾ قَالَ

تا خما لعنت دے د هغه ورځے د جزاء پورے ف۴. وے وئیل

رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِیۡۤ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ ﴿۷۹﴾ قَالَ

اے رب ! ما ته مهلت راکړه هغې ورځې پورې چه مړي ژوندي پاڅولې شي

فَاِنَّکَ مِنَ الۡمُنۡظَرِیۡنَ ﴿۸۰﴾ اِلٰی یَوۡمِ الۡوَقۡتِ

نو تا ته مهلت دے. د هغې ورځې د وخت پورې

الۡمَعۡلُوۡمِ ﴿۸۱﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِکَ لَاُغۡوِیَنَّهُمۡ

چه معلوم دے. وے وئیل نو قسم دے ستا په عزت باندے چه زۀ به ګمراه کړم هغه

اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۸۲﴾ اِلَّا عِبَادَکَ مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِیۡنَ ﴿۸۳﴾

ټول. لیکن چه کوم بندګان دی ستا په هغوی کښې غوره کړے شوی.

قَالَ فَالۡحَقُّ ۫ وَالۡحَقَّ اَقُوۡلُ ﴿۸۴﴾ لَاَمۡلَـَٔنَّ

وے فرمائیل نو صحیح خبره داده او زۀ حق خبره وایم زۀ به ډکوومه

جَهَنَّمَ مِنۡکَ وَمِمَّنۡ تَبِعَکَ مِنۡهُمۡ

دوزخ له ستا نه او په هغوی کښې چه څوک ستا په لاره لاړ شی د هغه

اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۸۵﴾ قُلۡ مَاۤ اَسۡـَٔلُکُمۡ عَلَیۡهِ

ټولو نه. ته او وایه زۀ نۀ غوارم ستاسو نه په دے باندے

مِنۡ اَجۡرٍ وَّمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُتَکَلِّفِیۡنَ ﴿۸۶﴾

څۀ بدله او زۀ نه یم د خپل ځان نه جوړوونکے.

اِنۡ هُوَ اِلَّا ذِکۡرٌ لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ

دا خو یو نصیحت دے د ټول جهان والو د پاره. او معلوم به کړئ

نَبَاَهٗ بَعۡدَ حِیۡنٍ ﴿۸۸﴾ ع

احوال ئې وخت نه روستو پسے.

نکات

۱ د پیریانو د حال بیان ۱۲-

ع ۵ ۲۳ ۱۲

موضح قرآن

ف۱ دا د پیریانو نه وو اکثر به د خدائے پاک د حکم نه منکر وو لیکن د خپل عبادت د کثرت په وجه به د فرشتو سره اوسیده.

ف۲ دوه لاسونو سره. یعنی بدن ئے د ظاهر په لاس او روح ئے د غیب په لاس الله د غیب خیزونه په یو قسم قدرت سره جوړوی او د ظاهر خیزونه په بل قسم قدرت سره جوړوی د دے انسان په جوړولو کښ ئے دواړه قسمه قدرت خرچ کړه.

ف۳ اور ګرم دے او د جوش نه ډک او خاوره یخه ده او خاموش شیطان هغه (اور) بنه اوګڼړه او الله خاوره خوښه کړه ۱۲.

ف۴ یعنی تر هغے به ستا د اعمالو د شامت په وجه په تا لعنت وریږی. د دے ځائے نه یعنی د جنت نه شیطان به د فرشتو د ملاقات د پاره جنت ته ورتللو اوس او ویستلے شو او منع کړے شو.

تفسیر

ﷲ اِلَّا اِبْلِیْسَ الخ دا د جنات (پیریانو) حال دے چه ابلیس د ډیرے لوئے درجے مالک وو ډیر عبادت کوونکے او مقرب وو

صد هزاران سال ابلیس لعین ❊ بود از ابدال امیرالمؤمنین

لیکن د الله د نافرمانئ په وجه سره ملعون اوګرځیدل او اوشړلے شو. د دے وجے نه هغه هم شفیع غالب نشی کیدلے. یا د دے ربط دا دے چه اوګوری د شیطان پیروی مه کوئ او د توحید دعوی او منئ. اِسْتَکْبَرَ. ابلیس تکبر اوکړه او آدم خاکی ئے د خپلے مرتبے نه کم اوګڼړو وکان ای وصار منهم باستکباره وتعاظمه علی امر الله تعالٰی (روح ج ۲۳ ص ۲۲۵) د الله تعالٰی د حکم په مقابله کښ د غرور او استکبار په وجه سره کافر شو یا کَانَ په خپل اصل باندے دے او مطلب دا دے چه ابلیس په علم الٰهی کښ وو کافر ځکه چه هغه ته معلومه وه چه د هغهٔ نه به د استکبار صدور کیږی ویجوز ان یکون المعنی وکان من الکافرین فی علم الله تعالٰی لعلمه عزوجل انه سیعصیه ویصدر عنه ما یصدر باختیاره وخبث طویته واستعداده (روح).

ﷲ قَالَ یٰاِبْلِیْسُ الخ وے فرمائیل اے ابلیس! کوم آدم چه ما د خپل قدرت په لاس جوړ کړو او هغه م د ختے نه پیدا کړو تا هغه ته سجده ولے اونکړه؟ تَکَبَّرْتَ من غیر استحقاق او کنت ممن علا واستحق التفوق (بیضاوی) قَالَ اَنَا خَیْرٌ مِّنْهُ الخ ابلیس جواب ورکړو. چه زهٔ واقعی د آدم علیه السلام نه غوره یم ځکه چه زهٔ خو تا د اور نه پیدا کړے یم او هغهٔ دِ د خاورے (ختے) نه او ظاهره ده چه اور د خاورے نه افضل دے. قَالَ فَاخْرُجْ الخ وے فرمائیل کد دے ځائے (جنت یا آسمان) نه ووځه ته رحمت او کرامت نه محروم کړے شوے یئے او

تر قیامته پورې دَ لعنت او ملامتیا مورد گرځولے شوے یې. قَالَ رَبِّ الخ ابلیس عرض اوکړو. اے ځما پروردگاره! تر قیامت پورې ماته مهلت راکړه او ماته اوږده ژوند راکړه ورته فرمائیل قیامته پورې نه بلکه دَ عالم دَ فنا کیدلو یعنی دَ اول شپیلئ پوکوهلو پورې تاته مهلت درکړے شوے دے وئیل ځما دِ ستا په غلبه او قوت پاندې قسم وی زۀ به هم دَ دې آدم اولاد گمراه کړم. لیکن ستا مخلص بندګان به ځما غلبے مونډلو نه بچ شي. قَالَ فَالحق الخ فالحق مبتداء ده او یمینی دَ هغې خبر مقدر دے. وے فرمائیل ځما قسم هم تول حق دے او زۀ حق وایم. لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ الخ دا دَ مقدر قسم جواب دے ای والله لَاَمۡلَئَنَّ. فالحق قسمي، قسم دے او لاملئن دَ هغۀ جواب دے او والحق اقول جمله معترضه ده (روح، بیضاوی، قرطبی، جلالین.)

منك، من جنسك وهم الشياطين (وممن تبعك منهم) من ذرية آدم (مدارک ج ۴ ص ۴۸) ځما دِ په خپل ذات قسم وی زۀ به هم جهنم ستا دَ اولاد او دَ اولاد آدم نه ستا دَ پیروی کوونکو نه ډک کړم.

۵۶ قل ما اسئلکم الخ دے لا صحانه وعظ او تبلیغ پاندې زۀ ستاسو نه څۀ معاوضه نۀ غواړم او نه په تکلف سره دَ ځان نه خبرے جوړوم چه تاسو ته ئې اوروم بلکه دا خو دَ الله دَ طرف نه ټولو انسانانو دَ پاره یو نصیحت نامه ده لکه چه دَ سورت په اول کښ ئې اوفرمائیل والقرآن ذی الذکر. دَ سورت انتهاء (آخر) دَ ابتداء سره متعلق دے.

۵۷ ولتعلمن نباه الخ حین نه مرگ یا قیامت مراد دے یعنی اوس په دنیا کښ خو نۀ منئ لیکن یو داسے وخت به راشي چه تاسو به دَ خپل کفر او انکار انجام په خپلو سترگو اووینئ او په قرآن کښ چه کوم څۀ بیان شویدی دَ هغې دَ صداقت مشاهده به په خپلو سترگو اوکړئ لیکن دغه وخت به دَ څۀ گټې او نقصان پوره کولو هیڅ صورت نۀ وی. وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين.

سورۃ صٓ کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

۱- أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا (۱۶) نفی د شرک فی التصرف۔

۲- أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ ــــ نه تر ــــ فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ۝ نفی د شرک فی التصرف۔

۳- وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ ــــ نه تر ــــ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ (۵۶) نفی د شرک فی التصرف او نفی د شفاعت قهری۔

دسورهٔ زمر

ربط دَسورهٔ زمر ربط دَ سورهٔ ص سره دَ نوم پهٔ اعتبار دا دے چه په سورهٔ ص کښ واضح کړے شوه چه تا سو کوم سفارشیان گڼئ هغوئ خو په طور دَ امتحان پخپله څنګے جسمانی تکلیفونو کښ مبتلا دی او بیول شویدی دَ دے وجے نه دَ الله په بارګاه کښ څوک شفیع غالب نشته. او س په په سورهٔ زمر کښ بیانیږی چه اهل توحید او اهل شرک (غیر الله شفیع غالب ګڼړلو والا وغیره) به په مختلف ټولو (زُمر) کښ تقسیمیږی اهل توحید به جنت ته او اهل شرک به جهنم ته ځی دَ سورهٔ زمر ما قبل سره معنوی ربط دادے چه په سورهٔ سبا کښ دَشفاعت قهری دَ نفی مضمون ذکر شویو او په سورهٔ فاطر کښ په طور دَ تفریع ذکر شوے وو چه عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے په حاجتونو کښ ما فوق الاسباب آواز صرف هغه ته کوئ. دَ هغے نه روستو سورهٔ یٰسٓ، سورهٔ صافات او سورهٔ صٓ په سورهٔ سبا باندے مرتب دی ځکه چه په دے دریواړو سورتونو کښ علیٰ سبیل الترقی دَ شفاعت قهری دَ نفی ذکر دے او سورهٔ زمر په سورهٔ فاطر مرتب دے. او دَ دهٔ څهٔ حصه په سورهٔ سبا باندے هم مرتب ده یعنی وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى (۱۶) او اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ (۵۶) کله چه دَ الله تعالیٰ نه سوا څوک عالم الغیب او کار ساز نشته او نه دَ هغهٔ په دربار کښ څوک شفیع غالب شته نو هر قسم عبادت صرف هغهٔ دَ پاره کوئ او په حاجتونو کښ صرف هغهٔ رابلئ.

خلاصه تمهید سره دَ ترغیب، دریے ځل دعوٰی ذکر کول، او ووه دلائل عقلیه علیٰ سبیل الترقی، دَ دلائلو ثمره بیانول څلور ځله، شپږ دلائل وحی، یو دلیل نقلی ضمنًا، دَ زجر بیان څلور ځله، تقابل دَ مؤمنانو او کافرانو دریے ځله، ترغیب الی الهجرة.

تفصیل

تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ الخ تمهید مع ترغیب. دا ډیر لوے غالب او حکیم حکمنامه ده دا او منئ، دا سورت دَ مضمون په اعتبار سره په شپږو سلسلو دَ مضامینو کښ تقسیم دے شی. ع۱ سلسله دَ مضمون ذکر دعوٰی. ع۲ سلسله دَ دلائل عقلیه ع۳ سلسله دَ دلائل وحی، ع۴ سلسله د بیانِ ثمرات، ع۵ سلسله دَ زجرات دَ ذکر. او ع۶ سلسله دَ تقابل بین المؤمنین والمشرکین.

۱۔ سلسله د مضمون ذکر دعوی

د سورت دعوی دری ځله ذکر شوی ده اول فاعبد الله مخلصًا له الدین (۱۶)
دا دعوی په مخکښې سورتونو باندې متفرع ده کله چه الله تعالیٰ نه سوا څوک
عالم الغیب او کارساز نشته او څوک د هغه په بارګاه کښې شفیع، قاهر
او غالب نشته نو د هغه عبادت کوئ۔ الا لله الدین الخالص دا تنبیه ده
چه د الله نه سوا څوک د عبادت لائق نشته۔ هو الله الواحد القهار، دا په
دعوی باندې تفریع ده چه الله تعالیٰ وحده لا شریک دے۔ دویم ځل
د دعوی ذکر۔ قل الله اعبد مخلصًا له دینی (۲۳) زه خو به صرف د الله
عبادت کوم او د هغه په عبادت کښې به هیڅوک نه شریکوم۔ دریم ځل
د دعوی ذکر۔ قل افغیر الله تأمرونی اعبد ایها الجاهلون (۲۷) دا اعاده
د دعوی په طور د زجر ده۔ اے کم عقلو! د دومره واضح دلائلو باوجود
تاسو ماته وایئ چه زه د الله نه سوا د بل چا عبادت اوکړم؟ دا سے
هرګز نشي کیدلے۔

۲۔ سلسله دلائل عقلیه علیٰ سبیل الترقی

اولنے عقلی دلیل۔ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ــــ نه تر ــــ اَلَا هُوَ
الْعَزِیْزُ الْغَفَّارُ (۱۶) زمکه او آسمانونه الله پیدا کړل دا د ورځ او شپې تلل راتلل
او د نمر سپوږمئ یو معین وخت پورې چلیدل ټول د الله تعالیٰ په اختیار کښې
دی۔ دے کائناتو کښې غور فکر اوکړئ دا ټول د الله د وحدانیت او د هغه
د قدرت دلائل دی۔ دویم عقلی دلیل، خلقکم من نفس واحدة ــــ نه تر
فی ظلمت ثلث (۶۱) دا د اول دلیل نه په طور د ترقی دے۔ الله تعالیٰ صرف نظام
شمسی نه دے پیدا کړے بلکه تاسو ئے هم پیدا کړی یئ د مور په رحم کښې ئے د
مختلف حالات نه تیر کړی ستاسو پیدائش ئے اختتام ته اورسول۔ دریم دلیل
عقلی۔ الم تر ان الله انزل ــــ نه تر ــــ لذکری لاولی الالباب (۲۲) دا د
دویم دلیل نه په طور د ترقی دے۔ الله تاسو پیدا کړئ هم دا شان ئے پرے
نه نبودلئ بلکه ستاسو د ژوند ټول ضروریات۔ خصوصًا خوراک ئے هم ستاسو
د پاره برابر کړه۔ د دے وجې نه صرف د هغه عبادت کوئ۔ ضَرَبَ اللهُ مثلًا
رجلًا الخ (۲۶) تمثیل د مؤمن او مشرک د پاره۔ څلورم دلیل عقلی۔ ولئن
سألتهم ــــ نه تر ــــ لیقولن الله (۴۶) دا دلیل علیٰ سبیل الاعتراف
من الخصم دے۔ کله چه تاسو منئ چه د زمکے او آسمان خالق الله تعالیٰ دے نو

لا محاله دَ هغهٔ نه سِوا ځوک معبود اودَ رابللو لائق په هم نهٔ وی. پنځم عقلی دلیل. الله یتوفی الا نفس ـــــ نه تر ـــــ یتفکرون. (۵۶) پهٔ اول اودوېم دلیل کښ دَ ابتدائی حالت ذکر وو اوس دے دلیل کښ دَ انسان دَ انتهائی حالات ذکر دے حاصل دا چه دَ انسان ابتداء او انتها دَ الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښ ده دَ دے وجے نه هغه معبود برحق دے. شپږم عقلی دلیل. اَوَلَمْ یعلموا ـــــ نه تر ـــــ یؤمنون (۵۶) دَ انسان دَ ابتدائی او انتهائی حالات نه روستو دے دلیل کښ دَ هغهٔ دَ مینځنی حالات ذکر کړے شوے دے چه په ژوند کښ دَ انسان روزی ورکولو والا هم صرف الله تعالیٰ دے او ځوک چه خالق او رازق وی هغه معبود کیدے شی. اووم دلیل عقلی! الله خالق کل شیءٍ ـــــ نه تر ـــــ له مقالید السمٰوٰت والارض (۶۶). دَ هر څیز خالق هم هغه دے اودَ هر څیز محافظ او نگران هم صرف هغه دے لهٰذا دَ ټولو معبود هم هغه دے.

۳- سلسله دَ دلائل وحی

اوّلنے دلیل وحی. انا انزلنا الیك الکتٰب بالحق الخ (۱۶) مونږ په تاسو باندے یو عظیم الشان کتاب نازل کړو چه دَ هغهٔ دَ ټولو نه اهم او اولین پیغام دا دے چه صرف دَ الله عبادت کوئ. دا مسئله دَ چا خود ساخته نه ده بلکه دَ الله دَ طرفه ده.

دویم دلیل وحی. قل انی امرتُ ان اعبدالله ـــــ نه تر ـــــ اول المسلمین (۲۶) دا غوږ او ماته دَ وحی په ذریعه حکم راکړے شویدے چه زهٔ خالصةً دَ یو خدائے عبادت اوکړم دینه معلومه شوه چه دَ تخصیص عبادت مسئله ځما دَ ځان نه جوړه شوے نهٔ ده بلکه من عند الله ده.

دریم دلیل وحی. الله نزّل احسن الحدیث ـــــ نه تر ـــــ فماله من هاد (۳۶) دا عمده او دَ تاثیر نه ډک کتاب الله نازل کړیدے. دَ ایمان والا چه دَ دهٔ آیتونه واوری نو په لرچیدو شی. دا کتاب ما دَ ځان نه نهٔ دے جوړ کړے.

څلورم دلیل وحی. انا انزلنا الیك الکتٰب للناس بالحق (۴۶) مونږ په تا باندے پیغام په حق سره دا یو عمده او دَ تاثیر نه ډک کتاب نازل کړے دے چه تاسو دَ دے پیغام خلقو ته اورسوئ تاسو خو زمونږ پیغام اورَوئ دَ خپل طرف نه څه دعوٰی نهٔ کوئ.

پنځم دليل وحي على سبيل الترقي. واتبعوا احسن ما انزل اليكم من ربكم (۵۵)
دا ترقي من الادنى الى الاعلى ده. اول ئے اوفرمائيل اعلان ئے اوکړئ چه زه د
خپل طرف نه هيڅ نه وايم. څه چه وايم د الله وحي سره ئے وايم. بيا ئے
اوفرمائيل دا څومره عمده او د تاثير نه ډک کتاب دے (دريم دليل وحي)
د الله اوفرمائيل د دے احسن او اعلى کتاب شوق سره تابعداري اوکړئ.

شپږم دليل وحي. ولقد اوحي اليك ــــ نه تر ــــ وكن من
الشاكرين (۶۶) د الله د جانبه ما ته وحي ليږلے شويده چه شرک سره
ټول اعمال صالحه ضائع کيږي ځکه چه توحيد طرف ته د الله په حکم
سره دعوت ورکوم. دا شان د شرک رد هم د هغه په حکم سره کوم د
دے دليل وحي په ضمن کښ دليل نقلي هم راغلے. والى الذين من قبلك
تيرشوو انبياء عليهم السلام باندے هم دا وحي نازل شوه چه شرک
سره ټول اعمال برباد کړي.

۴- سلسله بيانِ ثمرات دلائل

ثمرات شلور دي. اولني دوه واړه او آخري دوه لوے.

اول وړه فائده. لا اله الا هو (۶) دا د اولنو دوؤ عقلي دليلونو
نه روستو ذکر کړے شويده دے دواړو دليلونو نه واضح شوه چه د
الله نه سوا بل څوک د عبادت لائق نشته.

دويمه وړه فائده. الحمد لله (۲۹) دريم عقلي دليل او د تمثيل
مؤمن او کافر نه روستو د دليل او تمثيل ثمره بيان کړے شويده چه د دينه
معلومه شوه چه ټول صفات د کارسازئ په الله پورے خاص دي.

اولنۍ لويه ثمره. قل افرءيتم ما تدعون ــــ نه تر ــــ يتوكل المتوكلون (۳۸)
د تيرشوو دلائلو نه واضح او روښانه شوه چه په ټول کائنات کښ منصرف او
کارساز صرف الله تعالى ده. لهذا د الله نه سوا مشرکان چه چا ته آوازکوي او
رابلي هغوئ د تکليف لرے کولو او نفع رسولو قدرت نه لري.

دويمه لويه ثمره. قل اللهم فاطر السموات والارض ــــ نه تر ــــ
يختلفون (۴۶) دا خلق دا سے روښانه او واضح دلائلو سره هم الله نه منې
او انکار او جهود باندے هميشه ټينګ ولاړ دي. د دے وجے نه تا سو
الله ته عرض اوکړئ چه اے الله ځمونږ او د دوي مينځ کښ په آخري فيصله
د قيامت په ورځ ته کوے.

۵۔ دَ زجرونو دَ بیان سلسله

اول زجر: والذین اتخذوا من دونه اولیاء ـــــ نه تر ـــــ من هو کاذب کفار (۱۶)۔ مشرکان چه دَ کوم خود ساخته معبودانو عبادت کوی دَ هغوی دعوی ده چه هغوی دغه معبودان بالاستقلال دَ عبادت مستحق نه ګنړی بلکه دَ هغوئ عبادت او تعظیم دَ الله دَ نزدیکت ذریعه او وسیله او هغوئ دَ الله په نزد شفیع ګنړی وے فرمائیل دنیا کښ دلائلو سرهٔ هغوی او نهٔ منل په آخرت کښ به هغوئ جهنم ته داخل کړم دَ دے اختلاف قطعی فیصله به اوکړم۔

دویم زجر: واذا مس الانسان ضر ـــــ نه تر ـــــ عن سبیله (۱۶) کله چه په مشرک انسان باندے مصیبت راځی نو هغه دَ خود ساخته سفارشیانو نه نا امید شی معبود حق ته آواز کوی۔ لیکن الله هغه ته خپله مهربانئ سره دَ مصیبتونو نه نجات ورکوی نو هغه خدائے هیروی او دَ خدائے دَ انعامات نسبت باطل معبودانو ته کوی۔

دریم زجر: ام اتخذوا من دون الله شفعاء ـــــ نه تر ـــــ اذا هم یستبشرون (۵۶) دا دَ اول تشریح ده مشرکان خپل خود ساخته معبودان دَ الله په نزد شفیع غالب ګنړی۔ حال دا دے چه هغوئ په هر څهٔ کښ عاجز او محتاج دی او دَ هیڅ څیز اختیار نهٔ لری۔

څلورم زجر: فاذا مس الانسان ضر ـــــ نه تر ـــــ ولکن اکثرهم لا یعلمون (۵۶) دا زجر په طور دَ شکوی دے مشرک انسان چه کله دَ معبودان باطله نه نا امید شی خپل مصیبت کښ الله ته آواز کوی او الله تعالیٰ چه په هغهٔ مهربانی اوکړی هغهٔ ته دَ مصیبت نه نجات ورکړی نو هغه دغه کامیابی دَ خپل علم او فن کمال ګرځوی او وائی ما فلانکئ حیله اوچل اوکړو او فلانکے بزرګ (پیر) م سفارشی جوړ کړو چه دَ هغهٔ په وجه سره مصیبت ختم شو۔

۶۔ دَ مؤمن او کافر دَ تقابل سلسله

اول: امن هو قانت ـــــ نه تر ـــــ انما یتذکر اولوا الالباب (۱۶) دلیل نه روستو دَ مؤمن او کافر دَ تقابل ذکر اوکړے شو یو هغه (مؤمن) دے

چه د شپې د الله په بارګاه کښې سر په سجده وي او عبادت کوي او د آخرت د عذاب نه ویریږي او د الله د رحمت امید لري. د هغه په مقابله کښې کافر دي چه ذکر دے صفات نه خالي دے.

دویم ! افمن شرح الله صدره ـــ نه تر ـــ ضلل مبین (۳۶) یو هغه مؤمن دے چه د هغه سینه الله اسلام د پاره پرانستې ده او د هغه سینه د اسلام رڼرا سره روښانه شوې ده او یو هغه کافر دے چه د هغه زړه د کاڼي پشان سخت دے او په هغې کښې د قبول اسلام صلاحیت بالکل موجود نه دے دواړه نه شي برابر کیدلے.

دریم. افمن یتقی بوجهه سوء العذاب یوم القیامة (۳۶) یو هغه کافر دے چه د هغه په مقابله کښې مؤمن دے چه د جهنم د عذاب نه په مامون او محفوظ وي آیا دا دواړه برابر کیدے شي؟

د سورت په ابتداء کښې د دوه دلیلونو نه روستو ثمره بیان کړے شوه او د سورت په آخر کښې د ټولو دلائلو نه روستو هم ثمره بیان کړے شوه. سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِکُوْنَ (۶۷) دے د پاره چه معلومه شي چه ټول دلیلونه دعوی صراحت سره ثابتوي. دے سورت کښې وارض الله واسعة (۲۶) د هجرت ترغیب طرف ته اشاره ده. په سورت کښې ځائے په ځائے تخویف او تبشیر هم ذکر دے.

سُوْرَةُ الزُّمَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ

سورة زمر له په مکه کښ نازل شوې ده کښ پنځه اویا آیتونه او اته رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

رالیږل د کتاب دی له د الله نه چه طاقتور دے حکمتونو والا.

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ

موږ نازل کړے دے ستا طرف ته کتاب په حقه سره نو بندګي کوه

اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ② اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ

د الله خالص کړه هغه د پاره بندګي خپله. واورئ صرف الله د پاره ده بندګي

الْخَالِصُ ؕ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

خالص له هغه او چا چه نیولي دي د هغه نه سوا

اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ

دوستان چه موږ خو د هغوئ عبادت کوو دے د پاره چه موږ ته اورسوي د الله طرف ته

زُلْفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ

نزدے درجے ته بیشکه الله به فیصله اوکړي له د هغوئ مینځ کښ په کوم څیز

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ؕ۬ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ

کښ چه هغوئ اختلاف کوي بیشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته

هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ③ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ

چه دروغجن وي او حق نه مني. که چرے الله غوښتلے وے چه نیولے وے

وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ

اولاد نو غوره کړے به ئے وے په خپل مخلوق کښ هغه څه چه ئے غوښتلے.

سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ④

هغه پاک دے هغه دے یو ډیر غالب ف۱

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ

پیدا ئے کړل آسمانونه او زمکه صحیح صحیح رانغاړی

الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ

شپه په ورځ باندے او رانغاړی ورځ په شپه باندے

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ

او په کار ئے لګولی دی نمر او سپوږمۍ هر یو روان وی

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ⑤

تر یو مقرر شوی مودے پورے ، واورئ هم هغه دے طاقتور ګناه بخونکے ف۲

نکات

ل۱ تمهید سره د ترغیب نه ۱۲ ل۲ اولنے دلیل وحی ۱۲ ل۳ اول حل د دعوی ذکر ۱۲ ل۴ اولنے زجر ۱۲ ل۵ تخویف اخروی ۱۲ ل۶ اولنے دلیل عقلی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ لونړه پرے ولے نیولے غوره څیز پرے نیولے ځامن ۱۲ ۔ ف۲ نغاړی یعنی یو بل باندے داسے راځی او غوړیږی چه څهٔ ما تولے او نقصان پکښ نهٔ راځی۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی مقبول هغه ته نزدے دے ۱۲ ف۲ یعنی د شرک نه بغیر ۱۲۔

تفسیر

۲ ته تنزیل الخ تنزیل الکتاب مبتداء ده او من الله خبر دے. یا تنزیل د مبتداء محذوف خبر دے او من الله الخ متعلق دے د تنزیل سره. قال الفراء والزجاج هو مبتداء وقوله تعالى (من الله العزیز الحکیم) خبره. او خبر مبتدأ محذوف. ای هذا المذکور تنزل، و(من الله) متعلق بتنزیل والوجه الاول اوجه (روح ج ۲۳ ص۲۳۳). دا تمهید مع ترغیب دے. دا حکمنامه د هغه بادشاه د طرفه ده چه په ټولو غالب او ټول هر څه نه خبردے د هغهٔ هیڅ فعل د حکمت نه خالی نهٔ دے هغهٔ ترا وسه پورے کړچرے معاندینو ته دی نیولی نو په دے کښ حکمت دے چه منکرینو ته زیاتی د غور او فکر موقع ملاو شی او هغوی په سمه لار روان شی د دے وجه نه د هغه غالب او حکیم بادشاه

حکمتامه او منئ.

ﯿ۳ انا انزلناه الخ دا اولنی دلیل وحی دے. دا کتاب چه اول نه تر آخره پورے حق دے او په عقائدو او حق احکامو باندے مشتمل دے مونږ نازل کړیدے تا سوچه څۀ فرمایئ خمونږ په حکم سره ئے بیا نوئ دَ خپل ځان نه هیڅ نۀ وائی فاعبد الله مخلصاً له الدین. دا دَ سورت دَ دعوی اول ځل ذکر دے. دَسورت دا دعوی په اولنو سورتونو باندے عموماً او سورۀ فاطر باندے خصوصاً متفرع ده. سورۀ سبا، سورۀ یٰس، سورۀ صافات او سورۀ صٓ کښ ثابته شوه چه دَ الله په دربار کښ څوک شفیع غالب نشته او په سورۀ فاطر کښ بیان اوشو. لهذا دَ الله نه سوا هیڅوک عالم الغیب او کارساز نشته. کله چه ثابته شوه چه دَ هغۀ نه سوا هیڅوک کارساز او عالم الغیب نشته او نۀ څوک دَ هغۀ په دربار کښ شفیع غالب دے نو خالصۃً صرف دَ هغۀ عبادت کوئ او هیڅوک دَ هغۀ سره په عبادت کښ شریک مۀ جوړوئ او خلقو ته هم دَ دے خالص توحید دعوت ورکړئ. ای فاعبد الله وحده لا شریك له وادع الخلق الی ذلك و اعلمهم انه لا تصلح العبادة الا له وحده وانه لیس له شریك ولا عدیل ولا ندید (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۵).

ﯿ۴ الا لله الخ دا تنبیه ده چه عبادت خالصۃً دَ الله تعالیٰ حق دے دَ الله نه سوا بل څوک دَ عبادت لائق نشته.

ﯿ۵ والذین اتخذوا الخ دا اولنی زجر دے او دَ دۀ په آخر کښ دَ تخویف اخروی طرف ته اشاره ده اسم موصول نه مشرکان او اولیاء کرام نه دَ مشرکانو خیالی او کمان کړے شوے کارسازان مراد دی خواه فرشتے وی یا پیغمبران یا اولیاء کرام فالموصول عبارۃ عنهم (ثلثۃ احیاء من المشرکین، عامر وکنانۃ وبنی سلمۃ) او عبارۃ عما یعمهم واضرابهم من عبدۃ غیر الله سبحانه و هو الظاهر فیکون الاولیاء عبارۃ عن کل معبود باطل کالملئکۃ وعیسی علیهم السلام والاصنام (روح ج ۲۳ ص ۲۳۵)

امام قتادہؒ فرمائی کله چه به دَ مشرکانو نه تپوس اوشو چه ستا سو خالق او مالک څوک دے؟ او زمکه آسمانونه چا پیدا کړیدی او دَ آسمان نه باران څوک وروی؟ نو وائی الله! بیا چه هغوئ نه او وئیلے شی دَ غیر الله عبادت ولے کوئ؟ نو جواب کښ به ئے وئیل لیقربونا الی الله زلفی ویشفعوا لنا عنده (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۳۳) مونږ دَ دغه خود ساخته معبودانو عبادت ځکه کوؤ چه هغوئ خمونږ سفارش اوکړی او مونږ دَ الله په دربار کښ مقرب جوړ کړی او خمونږ دنیوی کارونه په هغه باندے اوکړی ځکه چه هغوئ خو دَ آخرت د سره قائل نه وو. ای انما یحملهم علی عبادتهم لهم انهم عمدوا الی

اصنامًا اتخذوها علی صور الملائکة المقربین فی زعمهم فعبدوا تلك الصور تنزیلًا لذلك منزلة عبادتهم الملائکة لیشفعوا لهم عند الله تعالٰی فی نصرهم ورزقهم وما ینوبهم من امور الدنیا فاما المعاد فکانوا جاحدین له کافرین به (ابن کثیر ج ۴ ص۵۲) زلفٰی، لیقربونا مفعول مطلق دے من غیر لفظه.

له ان الله الخ دا تخویف اُخروی دے. په دنیا کښ خو مشرکان نه مني چه د الله په دربار کښ څوک شفیع غالب نشته او د الله نه سوا څوک د عبادت مستحق نشته د دے وجے نه د محق او مبطل مینځ کښ به آخري فیصله د قیامت په ورځ وی کله چه اهل حق جنت ته داخل شی او اهل باطل دوزخ ته. ان الله یحکم بینهم وبین المسلمین فی ما هم یختلفون فی امر الدین بادخال المحق الجنة والمبطل النار (مظهري، بیضاوي). ان الله لا یهدی الخ کوم خلق چه د عناد او ضد او کفر او افتراء (الله دپاره نائب یا شفیع غالب ثابتولو) باندے کلک ولاړ دی هغوئ ته الله تعالٰی د هدایت قبلولو توفیق نه ورکوی.

ئه لو اراد الله الخ کښ د مشرکانو د تیرے دعوٰی بطلان واضح کړے شوے دے چه که چرے بفرض محال الله تعالٰی ته منظوره وے چه څوک خپل نائب جوړ کړی نو د خپل مخلوق نه به ئے چا ته چه غوښتلے هغه به ئے غوره کړے وے آخر ستاسو خود ساخته معبودان څلکه د هغه نائب جوړ کړے شو. سبحنه الخ دا په مذکوره دعوٰی باندے تفریع ده یعني الله تعالٰی د شریک او نائب نه پاک دے هغه وحده لا شریک دے او قهار بے نیاز دے د هغه نائب ته ضرورت نشته.

ٹه خلق السّمٰوٰتِ الخ دا اولنے عقلي دلیل دے چه بغیر د چا د شرکت نه د الله په استحقاق عبادت دلالت کوی لیکن دے کښ د غور او فکر ضرورت دے زمکے او آسمانونه الله عبث نه دی پیدا کړی بلکه ټول کائنات هغه د یو عظیم مقصد دپاره پیدا کړیدی او هغه دا دے چه خلق د کائنات ذرے ذرے سره د صانع عالم قدرت او د هغه په وحدانیت باندے استدلال اوکړی او دلیل اونیسی. بالحق ای متلبسا بالحق غیر ثابت بل لیکون دلیلا علی الصّانع (مظهري ج ۸ ص۱۹۶) هغه ورځ په شپه کښ ننوتوی او شپه په ورځ کښ ننوتوی نمر او سپوږمئ هم د هغهٔ تابعدار دی او د هغه په حکم سره دواړه د خپلے خپلے دورے په مکمل کولو کښ تیزئ سره روان دی دا کار ئے خان د عالم چه کوم عزیز او غفار پیدا کړیده او څوک چه په دیکښ متصرف او مختار دے بس هغه د هر قسم عبادت مستحق دے.

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ

پیدا ئے کړی تاسو شه د نفس یو نه بیا ئے پیدا کړه

مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ

د هغه نه د هغه جوړه او نازل ئے کړل ستاسو د پاره چارپایانو نه

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

اته جوړے (نر او ښځه) پیدا کوی تاسو په خیټه د مورګنو

خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ

په یو قسم پیدا کولو سره روستو د بل قسم پیدا کولو د درے تیارو په مینځ کښ ولے،

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَآ اِلٰهَ

دغه خو الله دے رب ستاسو د هغه بادشاهی ده نشته د هیچا بندګی نشته

اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿٦﴾ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ

د هغه نه سوا بیا چرته تاسو ګرځئ ولے ۔ که چرے تاسو منکر شوئ الله نو

اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۟ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ

الله پروا نه لری ستاسو او نه خوښوی د خپلو بندګانو انکار کول

وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ؕ وَلَا تَزِرُ

او که چرے د هغه حق او منئ نو هغه به ستاسو د پاره خوښوی، او نه به پورته کوی

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ

څوک پورته کوونکے بار د بل چا ۔ بیا به د خپل رب طرفته ستاسو واپس کیدل دی

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

نو هغه به تاسو ته بیان کړی کوم څه چه تاسو کول، بیشکه هغه خبر دے

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٧﴾

د زړونو په خبرو باندے.

نکات سـ۱ دویم عقلي دلیل ۱۲ سـ۲ دَ تیر شوو دلائلو ثمره ۱۲
سـ۳ تخویف اخروي ۱۲

موضح قرآن ف یوه خیټه، یو رحم، یو نرئ پرده چه دَ ماشوم
پیدا کیدلو سره بهر ته راځي ۱۲۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی نر او ښځه له اوښ، غویٔ، ګډ، پسه
(رسیږلي) نه ۱۲۔ ف۲ یعنی نرئ پرده چه دَ بچي نه تاؤ
شوي وي، رحم او خیټه۔

تفسیر ۵ خلقکم الخ دا دویم عقلي دلیل دے دَ اول نه علی سبیل
الترقي یعني هغهٔ نه صرف زمکه او آسمان پیدا کړي دي بلکه ستاسو
خالق هم هغهٔ دے په خپل پیدائش کښ غور اوکړئ چه کوم قسم کمال قدرت
سره او حسن تدبیر سره هغهٔ ستاسو ابتداء دَ یو نفس (حضرت آدم علیه السلام)
نه اوکړه او بیا دَ انسانانو دَ نسل سلسله ئې دَ زوجین په ذریعه مخکښ او چلوله،
بیا دَ مور په رحم کښ دَ نطفه نه واخله دَ کمال تخلیق پورے چه کوم مختلف احوال
مخې ته راځي دَ هغې نه هر یو دَ الله تعالیٰ دَ قدرت کامل دلیل دے. بیا هغهٔ ستاسو
دَ پاره دَ فائدے په خاطر مختلف قسم چارپایان پیدا کړل چه تاسو دَ هغې غوښے
خورئ او پئ څښئ او دَ دینه علاوه دَ سورلئ او بار اوړولو کار هم ترینه اخلئ
هغه الله چه هغه محض خپلے مهربانئ سره او خپل قدرت کامله سره
دا ټول هر څه کړي دي هغه دَ ټول کائنات مالک او هغه معبود برحق دے دَ
هغهٔ نه سوا بل څوک دَ عبادت لائق نشته۔
من نفس واحدۃ ۔ حضرت آدم علیه السلام. منها ضمیر نفس واحدۃ طرفته
راجع دے او دَ دهٔ مضاف مقدر دے ای من جنسها یعني دَ آدم دَ جنس او بشر
نه ئې دَ هغه جوړه پیدا کړه وانزل قال سعید بن جبیر خلق ثمانیۃ ازواج)
دَ چارپایانو دا اته قسمونه په سورۃ انعام کښ تفصیل سره تیر شوي دي. یعني
اوښان (اوښ، اوښه) بقر (غویے، غوا، سانډا، میښه) هم په بقره کښ داخل
دي. ضأن (ګډ، ګډه او بغیر دَ لم نه ګډ او ګډه) معز (چیلے او چیلئ) خلقًا
من بعد خلق. دَ نطفه نه. علقه (چکه وینه) علقه نه مضغه (دَ غوښے بوټئ)
دَ مضغه نه عظام (هډوکي) او بیا دَ دغه ځانچے نه انسام پوره خلقت او تمام
بدن سره دَ دے تفصیل په سورۃ مؤمنون (۱۶) کښ ذکر شوے دے
في ظلمت ثلث. درے واړه تیارونه، خیټه، رحم، مشیمه (هغه پرده
په کوم کښ چه بچے محفوظ وي.) مراد دي (روح، جامع وغیرهما)
۵ ذلکم الله الخ دا تنبیه ده او دَ دلائل مذکوره اجمالًا استحضار دے
دے دَ پاره چه پدے باندے راتلونکے حکم او ثمره مرتب شي. پوره تنو

صفتونو سره متصف ذات با برکت ستاسو رب او مالک دے او په ټوله کائنات کښ او په ځپله ستاسو وجود کښ صرف هغه متصرف دے. لا اله الا هُوَ. دا دلائل سابقه ثمره ده کله چه الله تعالیٰ د ټولو خالق او مالک دے او په ټول عالم کښ متصرف او مختار دے او بل څوک د عبادت لائق هم د هغه نه غیر نشته لهذا هر قسم عبادت صرف هغه د پاره په ځائے راوړی.

فَاَنّٰی یُؤْفَکُوْنَ بیا د دے شافی بیان نه روستو کوم یو دلیل سره د الله د خالص عبادت نه ګرځئ او د غیر الله عبادت کوئ؟ دلائل عقلیه خو د الله تعالیٰ په وحدانیت قائم دی د دے وجے نه ستاسو شرک کول محض بے دلیل دے.

۱۱ اِنْ تَکْفُرُوْا الخ دا تخویف اخروی دے. د دا سے واضح دلیلونو باوجود هم که چرے تاسو په کفر باندے قائم پاتے شوئ نو واورئ چه الله تعالیٰ ستاسو د ایمان او شکر نه بے پرواه دے. ستاسو کفر سره هغه ته هیڅ نقصان نه رسیږی او ستاسو ایمان او شکر سره هغه فائده نه رسیږی.

وَلَا یَرْضٰی الخ لیکن محض د خپلو بندګانو د خیر خواهئ د پاره هغه د هدایت اسباب برابره وی او کفر او ناشکری خپلو بندګانو د پاره نه خوښوی ځکه چه په دے کښ د بندګانو ټول نقصان دے هم د دنیا او هم د آخرت.

وَاِنْ تَشْکُرُوْا الخ او که چرے تاسو د هغه شکر ادا کړئ د هغه په توحید ایمان راوړئ او د پیغمبر علیه السلام د هدایت مطابق اعمال صالحه په ځائے راوړی نو هغه ستاسو د پاره خوښوی. ځکه چه په دیکښ ستاسو د دنیا او د آخرت فائده ده (وَلَا یَرْضٰی لعباده الکفر) لما فیه من الضرر علیهم (وان تشکروا یرضه لکم) لما فیه من نفعکم (روح ج ۲۳ ص۲۴۱).

۱۲ وَلَا تَزِرُ الخ ستاسو د کفر او انکار او ناشکرئ نقصان صرف تاسو ته دے او د قیامت په ورځ به د هغے سزا هم تاسو بیا مومئ په دنیا کښ خو تاسو د خپلو بدو اعمالو په انجام باندے نه پوهیږی د قیامت په ورځ چه کله د الله په حضور کښ حاضر کړے شئ هغه وخت به تاسو ته هغه ستاسو د بدو اعمالو نه خبر کړی هغه چونکه د زړونو رازونو باندے خبر دے د دے وجے نه هیڅ یو ظاهر یا پټ عمل ستاسو د هغه نه پټ نه دے.

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ مُنِیْبًا

او کله چه اورسیږی انسان ته ۱۳ سختی آواز کوی خپل رب ته او راجع شی

إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا

د هغه طرف ته بيا چه کله او بخښي هغه ته نعمت د خپل طرف نه هير کړي هغه

كَانَ يَدْعُوٓا إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ

چه د کوم د پاره ئے هغه ته آواز کولو مخکښې او کړځوي

لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ قُلْ

د الله برابر نور (شريکان) دے د پاره چه بے لاره کړي (خلق) د هغه د لار نه، ته او وايه

تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ

نفع واخله خپل کفر سره لږ ورځے ته ئے د ملګرے

ٱلنَّارِ ﴿٨﴾ أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا

د دوزخ. آيا هغه يو چه په بندګۍ کښې لګيا وي د شپے په وختونو کښې سجده کوونکے

وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ

او ولاړ او ويريږي د آخرت نه او اميد لري د مهربانۍ

رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ

د خپل رب نه، ته او وايه څوک برابر کيدے شي د پوهے والا

وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ

او نا پوهه، پند هغه څوک اخلي

ع ۱/۱۵ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٩﴾ قُلْ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟

څوک چه د عقل خاوندان دي. ته او وايه اے زما بندګانو چه يقين لرئ (مؤمنان يئ)

ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ فِى هَٰذِهِ

او ويريږئ د خپل رب نه. کله چا چه نيکي اوکړه دے

ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا

دنيا کښې هغوي د پاره نيکي ده (په) آخرت کښې، او زمکه د الله فراخه ده هما

يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾

صبر کوونکو ته ملاویږی ذ هغوئ ثواب بے شماره۔

قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا

ته اُوایه ماته حکم دے شوے چه بندګی اوکړم ذ الله خالص کوونکے یم

لَّهُ الدِّيْنَ ﴿۱۱﴾ وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ

هغه ذ پاره بندګی۔ او حکم شوے دے ماته چه زه شم ذ ټولو

اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲﴾

اوّل فرمانبردار۔

نکات ۱ دویم زجر په صورت ذ شکوی ۱۲ ۲ امر تهدید ذ پاره دے ۱۲ ۳ ذ مؤمنانو او کافرانو تقابل اوّل ځل ۴ بشارت دنیوی او اخروی ۱۲ ۵ دویم دلیل وحی ۱۲۔

فتح الرحمٰن ۱ دے آیت کښ تعریض دے ذ حبشه هجرت ته ۱۲۔

تفسیر ۱۱ وَاِذَا مَسَّ الخ دا دویم زجر دے په صورت ذ شکوی۔ الانسان نه مراد کافر دے (مدارک، قرطبی) ذ کافر او مشرک انسان دا حال دے چه په هغه باندے څه مصیبت راشی نو هغه خپل منعومه (ګمان کړے شوے) معبودانو او کارسازانو نه ناامیده شی پوره توجه سره او ذ زړه په توجه سره الله تعالیٰ ته آواز کوی بیا چه کله الله تعالیٰ هغه باندے خپل انعام او احسان اوکړی نو هغه حقیقی منعم هیر کړی کوم چه ئے ذ مصیبت په وخت ډیر په زاری او عاجزئ سره رابللو یا هغه مصیبت هیر کړی ذ کوم په وجه چه ئے الله ته آواز کوؤ او بیا ذ الله سره په عبادت او رابللو کښ شرک کوی او ذ الله انعامات ذ معبودان باطله احسان منی۔ نسی ما کان یدعوا الیه ای نسی ربه الذی کان یتضرع الیه ...... او نسی الضر الذی کان یدعوا الله الی کشفه (مدارک ج ۴ ص ۴۲) وجعل الله اندادا ای فی حال العافیة یشرک بالله ویجعل له اندادا (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۸) لیضل عن سبیله دے ذ پاره چه خلقو ته دا تأثر ورکړی او ذ الله ذ لارے (توحید) نه ئے بے لارے کړی، چه هغه ته خود مصیبت نه ذ هغه خود ساخته معبودانو نجات ورکړے دے۔ (لیضل) الناس بذلك (عن سبیله) عزوجل الذی هو التوحید (روح ج ۲۳ ص ۲۴۵)۔

ﷺ قل تمتع بکفرك الخ دا امر تهدید دپاره دے. ښه ده! نو که چرے ددے واضح دلیلونو باوجود هم په کفر باندے قائم پاتے کیدل غواړې او دے کښ خپله فائده ګنړې نو څو ورځے دی ددینه فائده پوره ته کړې آخر کار ستا سو ډاوسیدلو ځائے جهنم دے.

ﷺ امّن هو قانت الخ دا اول ځل د مؤمنانو او مشرکانو د صفاتو مینځ کښ د تقابل ذکر دے. یوهغه مؤمن دے چه راحت او آرام ئے پریخود د شپے په وختونو کښ راپاڅي او د الله عبادت کوي. کله ئے په ولاړه لاس په نامه کښ ایښي دی ولاړ دے او کله د هغه په دربار کښ عاجزئ سره تندے په زمکه ګدي په سجده پریوځي د آخرت ویره په هغه غالب ده لیکن ناامید هم نه دے بلکه د الله د رحمت امیدوار دے. رحمة ربه نه روستو کمن هو لیس کذلك مقدر دے یعني آیا د مذکوره صفات والا مؤمن د کافر پشان کیدے شي څوک چه د دے قسم صفتونو نه خالي دے. قال الشیخ قدس سره امن هو قانت کمن هو غیر قانت (معالم وخازن ج ۶ ص۷۹)

ﷺ قل هل الخ دا ماقبل دپاره د مثال او نظیر په صورت کښ تائید دے یا د عملي تفاوت نه روستو د علمي تفاوت بیان دے یعني مؤمن او کافر د عمل پشان په علم کښ هم نشي برابر کیدے. یا مطلب دادے چه څنګه یو عالم او جاهل نشي برابرکیدے داشان مؤمن او کافر هم خپل مینځ کښ برابر نه دے نفي لا ستواء الفریقین باعتبار القوة العلمیة بعد نفیه باعتبار القوة العملیة علی وجه ابلغ لمزید فضل العلم وقیل تقریر للاول علی سبیل التشبیه ای کما لا یستوی العالمون والجاهلون لا یستوی القانتون والعاصون (بیضاوی). انما یتذکر الخ د داسے واضح او مدلل بیانات نه صرف عقل او فکر لرونکي نصیحت او عبرت حاصلوي.

ﷺ قل یعباد الخ ایمان والو دپاره دنیوي او اخروي بشارت دے. ځما مؤمنانو بندګانو ته اووایه چه د خپل پروردګار نه اوویریږئ د هغه د احکامو تعمیل اوکړئ او د هغه د منهیات نه احتراز اوکړئ کوم خلق چه پوره اخلاص سره په ایمان او تقوی باندے قائم وي په دنیا کښ هم په هغوئ د الله د انعام او اکرام دروازے پرانستلے شي دا په هغه صورت کښ دے چه کله فی هذه الدنیا، حسنة پورے متعلق شي او که چرے فی الدنیا د احسنوا سره متعلق وي نو مطلب به داوي چه کوم خلق په دنیا کښ نیک اعمال په ځائے راوړي هغوی به په آخرت کښ د هغے اجر او ثواب بیاموي وارض الله واسعة دا د هجرت ترغیب دے که چرے د کفر د غلبه په وجه سره تاسو په خپل وطن کښ د الله په دین باندے قائم نشي پاتے کیدلے

او نهٔ کَمَا حَقَّهٗ دَ هغهٔ عبادت کولے شی نو دَ الله زمکه فراخ ده بل کوم ځائے ته لاړ شئ چرته هلته تاسو دَ الله په دین باندے پاکے شئ - کوم خلق چه دَ هجرت تکلیفونه او سختئ برداشت کړی او په رونړ تندی هغے باندے صبر او کړی هغوئ ته به په آخرت کښ اجر او ثواب بے حسابه ملاویږی انما یوفی الصابرون الذین صبروا علی الهجرة ومفارقة الصحاب و الاقتداء بالانبیاء والصالحین اجرهم بغیر حساب (روح ج ۲۳ صـ۲۴۸).

قل یعباد الخ دَ الله تعالیٰ مقوله ده چه بعینه دَ هغے دَ رسولو حکم دَ الله بندګانو ته نبی علیه السلام ته ورکړے شوے دے - یعباد الخ دَ نبی علیه السلام مقوله نهٔ ده دے کړ پاره چه پدے سره دا استدلال او نکړے شی چه ټول مؤمنان دَ نبی علیه السلام بندګان دی لکه چه اهل بدعت بیان کوی - ای قل لهم قولی هذا بعینه وفیه تشریف لهم باضافتهم الی ضمیر الجلالة (روح ج ۲۳ صـ۲۴۸) ای قل یا محمد لعبادی المؤمنین - (قرطبی ج ۱۵ صـ۲۴۰).

۱۱ قل انی امرت الخ دا دلیل وحی دے یعنی ماته دَ وحی په ذریعه حکم راکړے شوے دے چه زهٔ خالصۃً دَ الله عبادت اوکړم او دَ هغه په عبادت کښ هیڅوک هغه سره شریک نکړم او دا حکم ماته دے دَ پاره راکړے شوے دے چه دَ نیا او آخرت کښ ټولو مسلمانانو باندے مقدم او سابق شم یا مطلب دا دے چه په امت کښ دَ ټولو نه مخکښ اسلام قبلولو والا شم ای امرت بالاخلاص لاجل ان اکون مقدمهم فی الدنیا والاخرة لان قصب السبق انما هو بالاخلاص اولکونی اول من اسلم من قریش ومن دان بدینهم (مظهری، بیضاوی، روح)

قُلْ اِنِّیْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَیْتُ رَبِّیْ عَذَابَ

نهٔ او وایه زهٔ ۱۲ ویریږم که چرے حکم نهٔ منم دَ خپل رب دَ عذاب

یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿۱۳﴾ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ

دَ یوے لوئے ورځے نه - ته او وایه ۱۳ زهٔ خو دَ الله عبادت کوم خالص کوم هغهٔ کړ پاره

دِیْنِیْ ﴿۱۴﴾ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ ؕ

خپله بندګی - او س تاسو عبادت کوئ کوم چه تاسو غواړئ دَ الله نه سوا ،

قُلْ اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

ته اووایه چه بیشکه تاوانیان هغه دی چه تاوان ورکړی خپل ځانونه

وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ

او خپل د کور خلقو ته د قیامت په ورځ خبردار اوورئ همدا دے تاوان

الْمُبِيْنُ ﴿۱۵﴾ لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ

ښکاره. هغوی دپاره د پاسه ئے وریځے دی د اور

وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ

او د لاندے نه وریځے، دا دے چه ویروی الله

بِهٖ عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْنَ

په دے خپل بندګان، اے بندګانو زما نه اوویریږئ. او کوم خلق چه

اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا

بچ شول د شیطانانو نه لله چه د هغوئ عبادت اوکړی او متوجه کیږی

اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾

د الله طرف ته هغوئ مستحق دی د خوشخبرئ او ورولو نو ته زما هغه بندګانو ته خوشخبری واوروه

الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ

چه دوی کلام ته غوږ کیدی او ورئ ئے بیا کړی پے ښو ښو خبرو باندے

اَحْسَنَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ

روان وی، هم دا دی چا ته چه الله هدایت اوکړو

وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾

او هم دا دی چه د عقل خاوندان دی.

نکات: سـ۱ دویم حل د دعوی ذکر ۱۲ سـ۲ امر د تهدید دپاره او تخویف اخروی ۱۲ سـ۳ دا بشارت اخروی دے.

موضح قرآن

ف روان وی دَ هغهٔ په نیک باندے یعنی په حکمونو باندے تلل چه هغه کوی په منع باندے تلل چهٔ هغه نه کوی دَ هغهٔ کول ښهٔ کار دے او دَ دغے نهٔ کول ښهٔ کار دے ۱۲ منهٔ۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی دَ شرک نه ۱۲۔ ف۲ یعنی خپل ځان ئے هلاک کړو او خپل دَ کور خلق په گمراه کیدلو او په گمراه کولو۔

تفسیر

۱۹ قل انی اخاف الخ ستاسو زړهٔ چونکه دَ الله دَ ویرے نه خالی دے دَ دے وجه نه تاسو کفر او شرک او نور ډیرے بد عملئ دریغه کوئ لیکن زهٔ خو دَ خدائے دَ عذاب نه ویریږم۔ ځما سره خو ویره ده چه که چرے زهٔ دَ عبادت په خالص کولو کښ کوتاهی اوکړم او ستاسو پشان دَ شرک طرف ته مائل شم نو ما لره به هغه په عذاب کښ گرفتار کړی۔ دے سره مقصود په مشرکانو باندے تعریض دے ځکه چه نبی علیه السلام معصوم دے او دَ هغوئ نه دَ معصیت صادریدل محال دی وهذا شرط معناه تعریض بغیر بطریق الاولی والاخری (ابن کثیر ج ۴ ص۴۸)

۲۰ قل الله اعبد الخ دا دویم ځل دَ دعوی ذکر دے وے فرمائیل دوباره اعلان اوکړه چه زهٔ خو صرف دَ الله عبادت کوم او همیشه به په دے قائم یم او دَ هغهٔ په عبادت کښ به هیڅوک نهٔ شریکوم۔ فاعبدوا الخ دا امر دَ تهدید دَ پاره دے او تخویف اخروی دے۔ تاسو ته اختیار دے دَ الله نه سوا چه دَ چا عبادت کول غواړئ کوئ لیکن یوه خبره یاد لرئ دَ قیامت په ورځ به په سخت نقصان کښ یئ چه دَ هغے ازاله به نشی کیدلے ځکه چه دَ شرک جرم په سزا کښ بلا حساب او کتاب په جهنم کښ داخل کړے شئ۔ تاسو خلق خو دَ مال دولت نقصان شمارئ حال دا دے چه اصل نقصان دا نهٔ دے اصل نقصان دَ آخرت نقصان دے او په حقیقت کښ نقصان کښ به هغه کسان وی چه دَ قیامت په ورځ خپل ځانونه او خپل منونکی او اتباع هلاک او تباه کړی ځکه چه هغوئ پخپله هم کفر او شرک اختیار کړو او خپل اتباع او مریدان ئے په دغه عادت واچول دَ دے وجه نه به ټول یو ځائے جهنم ته ځی۔ (خسروا انفسهم واهلیهم) باختیارهم الکفر لهما فالمراد بالاهل اتباعهم الذین اضلوهم ای اضاعوا انفسهم واضاعوا اهلیهم واتلفوهما (یوم القیٰمة) حین یدخلون النار الخ (روح ج ۲۳ ص۲۵۱)۔

۲۱ لهم من الخ دا دَ جهنم دَ عذاب تفصیل دے په جهنم کښ چرته چه دَ دوی دَ استوگنے ځائے وی دَ دوی لاندے باندے به بے شمار دَ اور طبقے وی چه په هغے کښ به محبوس او محصور وی او دَ هغے نه به چرته وتل او تښتیدل هم نهٔ وی۔ ذٰلك یخوف الله الخ الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو دَ

ویرولو دَپاره دَ جهنم دَ عذاب دا ویروونکی مناظر بیانوی دے دَپاره چه دَ هغے نه دَ بچ کیدلو دَپاره دَ ایمان او اعمال صالحه طرفته مائل شی. خما بندګانو! خما دَ عذاب نه خما اطاعت او عبادت سره دَ بچ کیدلو کوشش اوکړئ.

۲۲ والذین الخ دا ایمان والو دَپاره بشارت اخروی دے. څوک چه دَ الله تعالیٰ سره شرک نه کوی الطاغوت نه هر معبود دَ غیر الله مراد دے قال الراغب: هو عبارة عن کل متعد وکل معبود من دون الله تعالیٰ (روح ج ۲۳ ص ۲۵۲) دَ طاغوت زیات تحقیق دَ سورة بقره تفسیر حاشیه (۵۰۲) کښې ص باندے تیر شوے دے فراجعه. ان یعبدوها. الطاغوت نه بدل اشتمال دے وانابوا الی الله کښې واؤ تفسیریه دے یعنی کوم خلقو چه دَ غیر الله دَ عبادت نه اجتناب اوکړو او دَ الله په خالص عبادت کښې پوره توجه سره مصروف شول هغوئ دَپاره په آخرت کښې دَ جنت زیرے دے. فبشر عباد الخ دَ دے وجه نه تاسو خما بندګانو ته زیرے واوروئ څوک چه خبره غوږ سره اوری او په حق او باطل کښې فرق کوی حق خبره منی او دَ هغے تابعداری کوی دغه خلقو ته الله تعالیٰ دَ هدایت دَ قبول توفیق ورکړو او په حقیقت کښې عقل والا خلق هم دغه دی. حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی دا حسن القول نه دَ توحید مسئله مراد ده.

اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ اَفَاَنْتَ

آیا هغه څوک چه صحیح (لازم) شوے وی ۳۳ په هغه باندے حکم دَ عذاب آیا

تُنْقِذُ مَنْ فِى النَّارِ ۚ ﴿۱۹﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ

خلاص به کړے هغه څوک چه په اور کښې پریوتلے وی. لیکن هغه څوک چه

اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا

ویریږی ۳۴ دَ خپل رب نه هغوئ دَپاره ماڼئ دی دَ هغے دَپاسه

غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ

به نورے ماڼئ جوړے شوی وی دَ هغے دَ لاندے بهیږی ویالے.

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿۲۰﴾ اَلَمْ تَرَ

وعده او شوه دَ الله. الله خلاف نه کوی دَ خپلے وعدے نه. آیا او نه لیدل تا

أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ

چه الله تعالیٰ نازل کړے له آسمان نه او بیا ئے روان کړے هغه اوبه

يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ

په چینو کښ په زمکه کښ بیا راوباسی په هغے سره

زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ

فصلونه مختلف قسم رنګونو والا بیا هغه پاخه شی نو ته به ئے وینے ډیر

مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

زیړ بیا هغه او ګرځوی مات شوے رژیدلے، بیشکه په دے کښ

لَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٢١﴾ أَفَمَن شَرَحَ ۳ ع ۱۷ ۱۶

نصیحت دے عقلمندو د پاره آیا د چا سینه چه

اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ

الله پرانستله دین اسلام د پاره نو هغه په رنړا کښ دے

مِّن رَّبِّهِ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن

د خپل رب له طرف نه نو هلاکت دے د هغو چا چه زړونه ئے سخت دی د

ذِكْرِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

الله د یاد نه هغوی په پوره دی په ښکاره ګمراهئ کښ.

نکات

سـ ۱ تخویف أخروی ۱۲ سـ ۲ بشارت أخروی ۱۲ سـ ۳ د مؤمن او کافر مینځ کښ تقابل ۱۲ دویم محل. سـ ۴ دریم دلیل وحی ۱۲.

تفسیر

ـــه ۲۳ أَفَمَنْ حَقَّ الخ دا تخویف أخروی دے د کوم سړی باره کښ چه د هغهٔ د پړله پسے انکار او سرکشئ په وجه چه د جهنم د عذاب فیصله شوے وی آیا ته هغهٔ د عذاب نه خلاصولے شی؟ استفهام انکاری دے یعنی هغه د عذاب نه نشئ خلاصولے.

ـــه ۲۴ لکن الذین الخ دا بشارت اخروی دے. لیکن کوم خلق چه دُنیا کښ

دَ خپل پروردګار دَ عذاب نه اوویرېږي دَ هغه په عبادت او اطاعت کښې مشغول پاتې شي هغوئ دَ پاره به دَ ماڼړو دپاسه ماڼړئ نوره جوړې وي او لاندې به ترې نهرونه بهېږي دا دَ الله وعده ده او الله تعالیٰ دَ وعدې خلاف نه کوي.

۲۵ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ الخ دا دریم عقلي دلیل دے دا دَ اوّل دواړو دلیلونو نه په طور دَ ترقئ دے دغه دواړو کښې دَ زمکې او آسمان او دَ حضرت انسان دَ پیدائش ذکر وو او په دیکښې دَ پیدائش نه روستو دَ انسان دَ تربیت او دَ ضروریات زندګئ مهیا کولو ذکر دے الله پاک دَ آسمان نه باران اوورَوي. او بیا په خوړونو او لختو او دَ دریابونو په صورت کښې او بهیوي په زمکه باندې چه هغې سره زمکې خړوب شي مختلف قسم رنګونو والا غلې پیدا کوي. شنه او تازه فصلونه په پخیدلو راشي نو زېړ شي او چه کله بالکل تیار شي نو اوچ شي او ماتیږي. دَ عقل او بصیرت خاوندانو دَ پاره دے کښې ډېر لوې عبرت دَ هغوئ دے سره یو طرف ته دَ الله په وحدانیت او قدرت باندې دلیل قائموي او بل طرف ته دَ دے دُنیاوي ژوند دَ بے ثباتئ او فنا سبق یادوي. الذین یتذکرون بهذا فیعتبرون الی ان الدنیا هکذا تکون خضرة نضرة حسناء ثم تعود عجوزا شوهاء (ابن کثیر ج ۴ ص۵۱).

۲۶ اَفَمَنْ شَرَحَ الخ دا په دویم ځل دَ مومن او کافر دَ اوصافو مینځ کښې دَ مقابلې کولو ذکر دے. دریم دلیل نه روستو دا بیان مقصودی دے یو هغه مؤمن دے چا چه دَ اسلام او توحید دَ حقانیت په دلائلو کښې غور فکر اوکړو نو الله دَ قبول اسلام دَ پاره دَ هغه سینه پراخه کړله او دَ اسلام په صداقت باندې دَ هغه زړه مطمئن شو او دَ الله په مهربانئ او دَ هغه په توفیق سره دَ هغه سینه دَ توحید نور او دَ اسلام په رڼا سره روښانه او ګرځیدله آیا دَ هغه سنګدل سخت زړي کافر پشان کیدے شي چه دَ هغه په زړه باندې دَ جباریت مهر لګیدلے وي او هغه دَ قبول حق دَ استعداد نه محروم کړځیدلے وي؟ دلته هم کَمَنْ هُوَ لَيْسَ كَذٰلِكَ مقدار دے. قاله الشیخ قدس سره یا کمن لم یشرح صدره (معالم ج ۶ ص۶۹) یا کمن طبع الله تعالیٰ علی قلبه فلم یهتد (خازن ج ۶ ص۶۷) یا کمن اقسی الله قلبه (جامع البیان ص۳۹۹)

فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ الخ دَ چا په زړونو چه مهر لګیدلے دے او دَ هغوی زړونه دا سې سخت شویدي چه هدایت نه قبلوي او دَ الله آیتونو او ریدلو سره نور هم سخت ګرځي. هغوئ په ښکاره ګمراهئ کښې دي. هلاکت دے هغوئ دَ پاره چه دَ داسې واضح او ښکاره دلائلو باوجود نه پوهیږي. اذا ذکر الله عندهم او ایاته ازدادت قلوبهم قساوة (مدارک ج ۴ ص۴۷).

اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا

الله نازل ګړه بهتر خبره کتاب خپل مینځ کښې

مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ

یو بل سره ملاؤ مکرر کړے شوے چه څوک کیږی ویښته د هغے نه په څرمن بانډے

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ

د هغه خلقو څوک چه ویریږی د خپل رب نه بیا نرم شی

جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ

د هغوئ څرمنے او د هغوئ زړونه د الله یاد سره،

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

دا ده لار ښودنه د الله دا ښان لار ښائی دے سره چاته چه او غواړی،

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۲۳﴾

او د چا نه چه لار هیره کړی الله هغه ته نشته څوک لار ښودونکے وا.

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ

آیا یو هغه چه ځان ساتی ګله په خپل مخ بانډے د بد عذاب نه په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ

د قیامت سل، او وائی به بے انصافو ته ګله او څکئ چه کوم تاسو

تَكْسِبُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

کولو. دروغژن ګڼړلی دی د دوی نه مخکښې

فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۵﴾

بیا راورسیدو هغوئ ته عذاب د داسے ځائے نه چه د هغوئ خیال هم نه وو.

فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

بیا به اوڅکولو په هغوی بانډے الله رسوائی د دنیا په ژوند کښې

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾

او عذاب د آخرت خو ډیر لوئے دے که چرے هغوئ پوهیدلے.

نکات ۱ د مؤمن او کافر د صفاتو تقابل ۱۲ ۲ تخویف اخروی ۱۲
۳ تخویف دنیوی ۱۲

موضح قرآن ف۱ کتاب خپل مینځ کښ ملاؤ یعنی په خوبئ او صفتونو کښ هیڅ یو آیت کم نۀ دے. مکرر کړے شوے یعنی یوه مدعی په ښو ښو طریقو بیان کړے شویده ۱۲

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی وعده یا وعید او انذار یا بشارت ۱۲.

تفسیر ۲۷ الله نزّل الخ دا دریم دلیل وحی دے دا د اوّل دواړو دلیلونو نه علی سبیل الترقی دے یعنی د خپل جانب نه هیڅ هم نۀ وایم د الله په حکم او د هغے په وحی سره ئے وایم دا کتاب چه الله نازل کړیدے هغه د هر کلام نه بهتر او په محاسن کلام کښ په ټولو د پاسه دے او اوچت دے متشابهًا د دۀ بعضے حصے د بعضو سره په حسن او خوبئ کښ یو بل سره ملاؤ دی او یو د بل تصدیق کوی. یشبه بعضه بعضًا فی الحسن والحکمة ویصدق بعضه بعضًا (قرطبی ج ۱۵ ص۲۴۹) مثانی د دۀ ځینې آیتونه او ځینې مضامین بیا بیا مکرر کړے شویدی دے د پاره چه په ښۀ طریقه سره ذهن کښ کینی. قال الضحاک مثانی تردید القول لیفهموا عن ربهم تبارک وتعالیٰ (ابن کثیر ج ۴ ص۵۱). تقشعر ومنه الخ قرآن مجید چونکه وعد او وعید او بشارت او تخویف دواړو باندے مشتمل دے د دے وجے نه د کوم خلقو په زړونو کښ چه د الله ویره ده کله چه هغوئ په تهدید او تخویف (ویره) عذاب باندے مشتمل آیتونه تلاوت کوی نو د الله د ویرے نه لړځیږی او د ویرے په وجه سره د هغوئ ویښته ځیګ شی او دریږی بیا چه کله د رحمت آیتونو ته او د مغفرت آیتونو ته اورسیږی نو د هغوئ بدن نرم شی او په زړونو کښ د سکون او اطمینان چپے وهل شروع شی ذٰلک هدی الله الخ ذٰلک سره د کتاب طرف ته اشاره ده دا د کتاب الله هدایت د هغۀ په توحید او د هغه د رسولو دین په احکامو احاطه کوونکے دے هغه چه چا ته او غواړی د دے هدایت قبلولو توفیق ورکړی یعنی هغه خلقو ته څوک چه ضد نۀ کوی او نیک نیتئ سره د طلب حق جذبه لری او څوک چه هغه ګمراه کړی یعنی د هغۀ د مسلسل عناد او تعنت په وجه سره هغه د قبول حق نه محروم کړی هغه ته هیڅوک لاره ښئ نشی ښودلے.

۲۵ افمن یتقی الخ دا دریم ځل د مؤمن او د کافر د اوصافو د تقابل ذکر دے انسان همیشه خپل مخ د لاسونو په ذریعه بچ کوی لیکن کافران چه کله په جهنم کښ اوغورځولے شی د هغوی لاسونه د هغوی څټونو سره تړلے شوے وی د دے وجې نه هغوی به خپل مخونه د اور د لمبونه د لاسونو په امداد سره نشی بچ کولے بلکه د اور لمبے به هغوی خپلو مخونو سره اخلی۔ والکافر حین یلقی فی النار تکون یداه مغلولتین الی عنقه فلا یستطیع ان یتقی الا بوجهه (مظهری ج ۸ ص ۲۱۰) آیا د جهنم تیز او گرم لمبه و هونکے اور کښ راگیر شوے کافر د هغه مؤمن پشان کیدے شی چه د جهنم د عذاب نه په امن او حفاظت کښ وی. حضرت شیخ قدس سره فرمائی دلته هم کمن هو لیس کذلک مقدر دے یا کمن هو امن من العذاب محذوف دے (معالم، مظهری)

۲۶ وقیل للظالمین الخ دا تخویف اخروی دے. د قیامت په ورځ به مشرکانو ته ویلے شی چه په دنیا کښ تاسو کوم مشرکانه اعمال کول نن د هغے خوند او مزه اوڅکئ. کذب الذین الخ دا تخویف دنیوی دے تیر شوو امتونو کافرانو او مشرکانو د توحید او رسالت او د نورو امورو خداوندی تکذیب اوکړو نو ناڅاپه هغوی عذاب اونیول او همیشه د پاره د هغوی نوم او نشان ختم شو. فاذاقهم الله الخ دنیا کښ الله هغوی ته د ذلت او د رسوائۍ د عذاب مزه اوڅکوله او د آخرت عذاب به د دینه هم سخت او هیبتناک وی۔

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

او موږ بیان کړل ته خلقو د پاره دے قرآن کښ

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۲۷

د ټولو څیزونو مثال دے د پاره چه هغوی تربینه پند واخلی

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ

قرآن دے په عربئ ژبه کښ چه په هغے کښ کوږوالے نشته دے د پاره چه هغوی

يَتَّقُوْنَ ۝۲۸ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ

ځان بچ کړی. الله بیان کړو یو مثال یو سړے دے چه په هغه کښ

شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا

شریک دی ډیر ضدی (بدخویه) او یو سړے دے پوره

لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ یَسْتَوِیٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ

د یو سړي . آیا برابر کیدیشي دواړه مثالونه ټول صفتونه

لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّكَ

الله لره دي ؎ بیا هغه ډیر خلق نه پوهیږي ف بیشکه ته به

مَیِّتٌ وَّ اِنَّهُمْ مَّیِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ

هم مرے ؎ او هغوئ به هم مري . بیا بیشکه تاسو به

۳
ع
۱۷
یَوْمَ الْقِیٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾

د قیامت په ورځ د خپل رب په مخکښ جګړه کوئ .

نکات ؎ تمهید د پاره د تمثیل ۱۲ ؎ تمثیل د مؤمن او مشرک ۱۲ ؎ د مخکني دلیل ثمره ۱۲

موضح قرآن ف یو غلام چه د ډیرو خلقو وي . یو هم هغه خپل نه ګڼړي نو د هغه نه پوره ځان نه خبري او یو غلام د چه ټول د یو تن دے هغه ده لره خپل ګڼړي او پوره خیال ئے ساتي ځان خبره وي . دا مثال دے د هغه چا چه څوک د یو رب بندګان دي او د هغه چا څوک چه د ډیر معبودانو بندګان دي .

ف کافران به منکر وي چه مونږ ته چا حکم نه وو راړسولے بیا به د فرښتو په ګواهئ سره او د آسمان او زمکے او لاسونو او خپو ګواهئ سره ثابته شي .

تفسیر ؎ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا الخ دا د راتلونکي تمثیل د پاره تمهید دے . مونږ قرآن کښ د هر قسم مثالونه بیان کړي دي چه د کوم ضرورت وو د موقع او محل مطابق دے د پاره چه خلق ښه پوهه شي او نصیحت حاصل کړي لکه چه د مؤمن او مشرک یو مثال مخکښ راځي . قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا الخ دا د هٰذَا نه حال واقع دے (روح) . دا قرآن خالص عربي دے فصاحت ، بلاغت ، د مضامینو په معقولیت او د دلائلو په مضبوطیا ، او د واقعات د صحت په اعتبار او هر ارخ نه هغه کامل او مکمل دے . په دے کښ هیڅ قسم کیږے کوږوالے او کوتاهي نشته دا د اوچت درجے کتاب دے د پاره نازل کړے شو چه خلق د دے تعلیمات او منی او په دے عمل او کړي او د الله د نافرمانئ او ګناه نه بچ شي ۱۲ .

۳۱ ضَرَبَ اللّٰهُ الخ دا د مؤمن او مشرک تمثیل دے یو هغه غلام دے چه په هغهٔ کښې ډیر انسانان شریک دی چه ډیر بد اخلاق او جګړه کوونکي او انصاف نهٔ خوښوونکي دي د هغوی نه هر یو د ضرورت په وخت هغه خپل خدمت د پاره طلب کوي او س هغهٔ پریشان او حیران دے چه د کوم د حکم تعمیل او کړم که یو خوشحاله وي نو بل خفه کیږي او که دویم خوشحاله وي نو دریم خفه کیږي. او یو هغه غلام دے چه د هغه صرف یو آقا او مالک دے او هغه پوره اخلاص سره د هغه خدمت کوي او د هغه د خوشحالولو کوشش کوي. پخپله فیصله او کړئ دا دواړه غلامان برابر کیدے شي؟ آیا د دوی حال یو شان دے؟ که چرے نهٔ دے نو په دواړو کښې د کوم یو حال ښهٔ دے؟ د مشرک مثال د اول غلام پشان دے چه د بیشماره خدایانو عبادت کوي او د مؤمن مثال د دویم غلام پشان دے چه صرف د یو خدائے عبادت کوي او په حاجتونو کښې صرف هغهٔ ته آواز کوي او صرف د هغهٔ رضا لټوي د هغهٔ په توم نن روښه او مننتے ورکوي ظاهره ده چه د مؤمن حال د مشرک نه په ډیرو درجو بهتر دے. وَهٰذَا مَثَلٌ ضربه الله تعالٰی للکافر الذی یعبد اٰلهة شتی والمؤمن الذی یعبد الله وحده فکان حال المؤمن الذی یعبد الٰهًا واحدا احسن واصلح من حال الکافر الذی یعبد اٰلهة شتی (خازن ج ۶ ص۴۳).

۳۲ الحمد لله الخ دا د اول دلیل ثمره ده کله چه دا خبره واضح شوه چه د آسمان نه باران ورولو سره شنه تازه فصلونه پیدا کول او مخلوق ته روزي ورسول صرف د الله تعالٰی کار دے نو دینه معلومه شوه چه ټول صفات د کارسازئ هم په هغهٔ پورے مختص دي او هغه د هر قسم عبادت لائق دے بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ، دا سے روښانه بیانونو نه روستو خو د شبه او شک ګنجائش نه وو لیکن بیا هم اکثر خلق ناپوهه دي دے کښې غور فکر نه کوي.

۳۳ اِنَّكَ مَيِّتٌ الخ دا د مقدر شبهٔ جواب دے. شبه دا وه چه مشرکانو به وئیل ترڅو چه دے ژوندے دے تر هغے خو به دے خمونږ او خمونږ د معبودانو بد وائي. لیکن مرګ به مونږ له د ده نه خلاصے راکړي کله چه دے مړ شي خبره به ختمه شي لکه چه په بل ځائے کښې د دوئ قول نقل کړے شوے دے. ام یقولون شاعر نتربص به ریب المنون (طور ۲۶) په جواب کښې ارشاد او فرمائیلے شو. د مرګ نه خو څوک هم نیښته نشي کولے که چرے هغوی ستاسو د مرګ انتظار کوي نو هغوئ به پخپله ترڅو ژوندي وي څنګه چه ته وفات کیدونکے ئے دا شان به هغوئ هم د مرګ یوه نوړئ او ګرځي. بیا به د قیامت په ورځ تاسو د خدائے په محکښ جګړے کوئ. مشرکان به وائي ما جاءنا من بشیر ولا نذیر مونږ ته خو څوک پیغمبر نهٔ وو راغلے. نبي علیه السلام

په فرمائي ما خو تاسو ته د الله پیغام رسولے دے لیکن تاسو هغه اونه منل د هغې نه روستو به الله تعالی د مبطل او محق مینځ کښې به آخري فیصله اوکړي كانوا يتربصون برسول الله صلى الله عليه وسلم موته فاخبران الموت يعمهم فلا معنى للتربص وشماتة الفاني بالفاني (مدارك ج ۴ ص۴۲)

انك ميت وانهم ميتون نبي عليه السلام او كافرانو باندے د مرګ راتلل د دوه مستقل او مؤكد جملو كښې پوره وجه ذكر كړل چه كوم مشركان د مرګ نه غافل شوي دي د غفلت د خوب نه رابيدار شي. دا رنګ په نبي عليه السلام باندے د مرګ وارد ديدل لري او نه كنړي وَتَأْكِيدُ الْجُمْلَةِ في (انهم ميتون) للاشعار بانهم في غفلة عظيمة كانهم ينكرون الموت وتاكيد الاولى دفعا للاستبعاد موته عليه الصلوة والسلام (روح ج ۲۳ ص۲۶۳) ځكه چه كله د نبي عليه السلام خاتم النبيين د وفات دردمنده كوَنكي سانحه راپيښ شوه حضرت عمر رضي الله عنه د نبي عليه السلام د مرګ ډير زيات حزن اوغم بے اختياره كړو د نبي عليه السلام د مرګ نه ئے انكار اوكړو دغه وخت حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه چه كوم آيتونو سره استدلال اوكړو او حضرت عمر رضي الله عنه ته ئے د نبي عليه السلام د مرګ يقين وركړو په دغه آيتونو كښې دا آيت هم وو. هذه الآية من الآيات التي استشهد بها الصديق رضي الله عنه عند موت الرسول صلى الله عليه وسلم حتى تحقق الناس موته (ابن كثير ج ۴ ص۵۲) اخبره بموته وموتهم..... لئلا يختلفوا في موته كما اختلفت الامم في غيره. حتى ان عمر رضي الله عنه لما انكر موته احتج ابو بكر رضي الله عنه بهذه الآية فامسك (قرطبي ج ۱۵ ص۲۵۴)

د دوؤ مستقل جملو استعمالولو نه د دواړو مرګونو د نوعيت يا كيفيت اختلاف طرف ته اشاره كول مقصود نه دے لكه چه د بعضو خيال دے. بلكه مستقل او مؤكد جملو سره په درجات كښې د تفاوت باوجود د دواړو مرګ كښې فرګون مساوي كيدل على وجه التاكيد بيانول مقصود دے. الخامس ليعلم ان الله تعالى قد سوّى فيه بين خلقه مع تفاضلهم في غيره لتكثر فيه السلوة وتقل فيه الحسرة (ايضا) باقي پاتے دنيا نه د انبياء عليهم السلام رخصت كيدلو نه روستو په عالم برزخ كښې ژوند. نو په دے باندے د تول اهل سنت والجماعت اتفاق دے چه انبياء عليهم السلام ته په عالم برزخ كښې ډير د اعلى او اوچت درجے برزخي ژوند حاصل دے چه په **بعضے** اعتبارات سره د دنياوي ژوند نه هم زيات قوي دے. د انبياء عليهم السلام د حيات تحقيق د سورة آل عمران په تفسير كښې حاشيه ۲۶۰ ص باندے تير شوي دے.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ

بیا د هغه نه زیات ظالم څوک دے ۳۳ چا چه دروغ اووئیل په الله باندے او دروغ ئے

بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى

اوګڼړله رښتونی خبره کله چه راورسیده ده ته. آیا نه دے دوزخ ځائے د اوسیدو د

لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝۳۲ وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ

انکار کوونکو والا ۳۵ او چا چه راوړله رښتونی خبره او رښتونی ئے اوګڼړله

بِهٖٓ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝۳۳ لَهُمْ مَّا يَشَاۗءُوْنَ

هغه هم دغه خلق دی ویریدونکی (متقیان) هغوی د پاره دی څه چه هغوی غواړی

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ ذٰلِكَ جَزٰۗؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ۝۳۴ لِيُكَفِّرَ

۳۶ے دخپل رب سره. دا بدله ده د نیکی کوونکو د دے د پاره چه لرې کړی

اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ

الله د هغوی نه بدکاروند کوم چه هغوی کړے دو او په بدله کښی ورکړی

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۳۵

هغوی ته ثواب د بهترکاردنو کوم چه هغوی کول.

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ۭ وَيُخَوِّفُوْنَكَ

آیا الله کافی نه دے دخپل بنده ته ۳۷ے. او تا ویروی

بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

د هغے چا نه کوم چه د هغه نه سیوا دی. او څوک چه الله تعالیٰ ګمراه کړی

فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝۳۶ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

نو هیڅوک نشته هغه لره لاره ښوودونکے. او چا ته چه الله تعالیٰ لاره اوښائی نو هیڅوک نشته

مِنْ مُّضِلٍّ ۭ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝۳۷

هغه لره ګمراه کوونکے. آیا نه دے الله زبردست بدله اخستلو والا.

نکات ۱ زجر سره د تخویف اُخروی نه ۱۲ ۲ د مؤمنانو د حال بیان او بشارتِ اُخروی ۱۲ ۳ شلورم عقلی دلیل ۱۲ ۴ او لنې حقیقی ثمره ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی کچرے نبی په دروغ د الله لوم واخسته نو دهغهٔ نه به څوک دے او که چرے هغه رښتونی وو او تاسو دروغ او گڼړه نو تاسو نه به څوک دے ۱۲ منه رح۔

ف۲ چاچه رښتیا راوړل هغه نبی دے او چاچه او منل هغه مؤمن دے ۱۲ منه رح۔

ف۳ تا ویرهٔ وی یعنی ته بُتانو نه هغے نو تا ته دے غصه کیږی چه تا ته څهٔ نقصان اورسوی نو د چا اِمداد دی چه الله تعالیٰ وی هغهٔ ته به څوک نقصان اورسوی ۱۲۔

تفسیر ۳۲ فَمَنْ اَظْلَمُ الخ۔ دا زجر دے سره د تخویف اُخروی د ټولو نه لوئے ظالم او بے انصافه هغه سړے دے د الله تعالیٰ طرف ته دروغ خبرے منسوب کړی او حق خبره دروغ اوګڼړی۔ په خدائے باندے دروغ تړلو نه مُراد دا دے چه هغهٔ سره شریک جوړ کړی او نائب او متصرف ثابت کړی۔ او الصِّدق نه قرآن او هغه ټول شریعت مُراد دے کوم چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ له طرفه راوړے دے (قرطبی و مدارک و خازن و بیضاوی)۔ اَلَیْسَ فِیْ جَهَنَّمَ الخ اوس تاسو انصاف سره او وائی چه کلمه د الله تعالیٰ توحید او دین اسلام صداقت د لمر واضح او روښانه دلائلو سره ثابت شو نو دے نه روستو هم چه کوم سړے الله تعالیٰ د پاره شریک تجویز کوی او د حق او صداقت نه انکار او کړی، آیا د داسے ضدی او معاند منکرینو ځائے به جهنم کښ نه وی؟ ولے نه۔ دهغوی ځائے به جهنم وی۔

۳۵ وَالَّذِیْ جَآءَ الخ۔ دا د منکرینو په مقابله کښ د مؤمنانو حال دے او هغوی د پاره بشارت اُخروی دے کوم سړی چه د حق پیغام راوړو او صرف راوړے ئے نه وو بلکه د ډیر شوق او زړهٔ نه ئے منلے هم دے نو دا شان خلق په حقیقت کښ د خدائے نه ویریږی او پرهیزګاری دے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم او باالتبع صحابه کرام هم مُراد دی او والصدق نه پیغامِ حق یعنی د توحید پیغام مُراد دے۔ الموصول عبارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم کما اخرجه ابن جریر وابن المنذر وابن ابی حاتم وابن مردویه والبیهقی فی الاسماء والصفات عن ابن عباس وفسر الصدق بلا اله الا الله۔ والمؤمنون داخلون بدلالة السیاق وحکم التبعیه۔ الخ (روح ج ۲۴ ص۲)۔

۳۶ لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ الخ۔ هغوی ته به د خپل مهربان خدائے له طرفه هر هغه څیز ملاویږی د کوم چه هغوی خواهش کوی اخلاص او لِلّٰهیت سره د نیک کارکونو هم دا جزاء ده۔ لِیُکَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ الخ۔ دا د لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ الخ علت دے۔ یعنی دا انعام او اکرام د دے وجه نه دے چه د هغوی ټول قصورونه او کوتاهی معاف کړی او د هغوی د اعمالِ صالحه بدله هغوی ته ورکړی۔

۳۷ اَلَیْسَ اللّٰهُ بِکَافٍ عَبْدَهٗ۔ دا تنبیه ده مشرکانو ته چه نبی علیه السلام بسه د خپلو معبودانو نه ویرولو تنبیهه ئے ورکړه او خبردار ئے کړل چه الله تعالیٰ

دخپل خاص بنده محمد صلی الله علیه وسلم دپاره کافی دے چه د هرے ویرے او خطرے نه به ئے محفوظ ساتی۔ وَيُخَوِّفُونَكَ الخ۔ د دلائلو وثمرات او تنبیه نه روستو ئے د مشرکانو د خیام خیالئ او کمزوری خیال رد او فرمائیلو۔ مشرکانو به نبی علیه السلام ته دهمکی ورکوله، د باؤ به ئے اچولو چه ته زمونږ د معبودانو بے عزتی کوے تاسو د دے نه منع شی گنی هغوی به تا ته تکلیف اورسوی۔ قَالُوا أَتَسُبُّ آلِهَتَنَا؟ لَئِن لَّمْ تَكُفَّ عَن ذِكْرِهَا لَتُخَبِّلَنَّكَ أَوْ تُصِيبَنَّكَ بِسُوءٍ (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۵۸) د دے تفصیلی رد په راتلونکی نمره کښ راځی۔ وَمَن يُضْلِلِ الخ دهغوی دا خیال بالکل په گمراهئ باندے مبنی دے دا عاجزا او خودساخته معبودان څه کولے شی او دوی په اختیار کښ څه دی؟ لیکن هدایت او گمراهی د الله تعالی په اختیار کښ دی په حقیقت کښ هغوی گمراه دی او د گمراهئ خبرے د دوی د خلے نه اوځی او دا خلق محض د ضد او عناد د وجے نه د حق نه انکار کوی، د دے وجے نه داسے خلقو ته هدایت نه نصیب کیږی حکه چه د دوی په زړونو د جبا ریت مهر لگیدلے دے۔

۳۱ وَمَن يَهْدِ۔ الخ او د کومو خلقو سینے چه الله تعالی د ایمان دپاره پرانځی او د هدایت نور د هغوی په گوشت پوست (غوښه او څرمن) کښ ځائے شی هغه د پیا په بے لارے کولو او غلولو هرگز نه شی گمراه کیدے۔ الله تعالی هغوی خپلے مهربانئ او توفیق سره د هدایت په لاره قائم او ثابت قدم لری۔ أَلَيْسَ اللَّهُ۔ الخ۔ آیا الله تعالی غالب او انتقام اخستلو باندے قادر نه دے؟ استفهام انکاری دے یعنی هغه په خپلو دشمنانو غالب او دهغوی نه بدله اخستلو قادر دے۔ د معاندینو د توفیق هدایت نه محرومه کول هم په انتقام کښ داخل دی۔

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

او که ته د دوی نه تپوس اوکړے (اے پیغمبره) چه چا پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه

لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن

نو وائی به (الله پیدا کړی دی) ته اووایه آیا وینی تاسو چه کوم (بتانو) عبادت کوی

دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ

د الله نه سوا که چیرے اوغواړی الله ما ته تکلیف رسول نو هغوی داسے دی

كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ

چه لرے کړی تکلیف د هغه اچولے شوے، یا هغه اوغواړی په ما باندے مهربانی کول نو هغوی داسے دی

مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ ۚ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ ۖ عَلَيْهِ

چه منع کړی مهربانی د هغه ته اووایه خما دپاره کافی دے الله په هغه

يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى

توکل کوی توکل کوونکی . ته اووایه اے قوم کار کوئ په

مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾

خپل ځائے باندے . زه هم کار کوم اوس به معلومه کړئ پوهه شئ.

مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ

په چا باندے راځی آفت چه هغه رسوا کړی او نازلیږی په هغه باندے

عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

عذاب همیشه پاتے کیدونکے . بیشکه موږ نازل کړے دے په تا باندے کتاب

لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ

خلقو د پاره رښتونے دین سره . بیا چه څوک په لاره باندے راغلل نو د خپل فائدے د پاره

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنْتَ

او څوک چه ګمراه شو نو هم دا خبره ده چه ګمراه شو د خپل نقصان د پاره . او ته د هغوئ

عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۴۱﴾ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ

ذمه وار نه ئے . الله را کاږی ساه ګانے روحونه کله چه وخت دی

مَوْتِهَا وَالَّتِىْ لَمْ تَمُتْ فِىْ مَنَامِهَا ۚ

د هغوئ د مرګ . او کوم چه نه دی مړه هغه را کاږی د هغه په خوب کښے

فَيُمْسِكُ الَّتِىْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ

بیا پریږدی ساه ګانے د چا چه مرګ مقرر شوے دے او لیږی

الْاُخْرٰٓى اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

نور تر یوے وعدے مقررے پورے . بیشکه په دے خبره کښے

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾

لوئے نښانے دی هغه خلقو د پاره چه سوچ او فکر وکړی ۴۲.

نکات ۳۔ شلورم دلیل عقلی ۱۲ ۔ ۴۔ اولنۍ حقیق ثمره ۱۲ ۔

موضح قرآن ف۱ (دغه د رسوائۍ عذاب) په دنیا کښې او دا (عذاب مقیم) په اخرت کښې۔ ف۲ یعنی په خوب کښې هره ورځ روح راکاږي (اخلي) او بیا بیرته ورلیږي، هم دا نښه ده د اخرت، معلومه شوه چه په خوب کښې هم لکه د مرګ سا اخستلے کیږي کله چرے خوب کښې وا خستلے شو او خوب اوږد شو نو هم دغه مرګ دے لیکن دغه روح هغه دے چه په ظاهره ورته هوش وائي او یو روح هغه دے چه هغے سره تنفس جاري وي او نبضین توپ وهي (خوزیږي) او خوراک هضم کیږي هغه بل دے چه د مرګ واقع کیدلو نه مخکښې نه ایستلے کیږي ۱۲ منه رح

تفسیر ۳۹ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ الخ۔ دا شلورم دلیل عقلی دے لیکن علی سَبِيلِ الْاِعْتِرَافِ مِنَ الْخَصْمِ۔ که چرے د مشرکانو نه سوال او کړې چه اوښا ئې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړل نو یقینًا دا جواب به ورکوي "الله" قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ الخ۔ دا اوله لویه ثمره ده "دا په تیرو شوو دلائلو ثمره او نتیجه ده۔ تیر شوے دلائل خو تاسو واوریدل اوس لږ شان سوچ او فکر اوکړئ او انصاف سره اووایئ چه که چرے الله تعالیٰ مَا تَحْتَهُ تکلیف را رسوي نو آیا ستاسو مزعومه (ګمان کړے شوي) معبودان کارساز کوم چه تاسو د الله تعالیٰ نه سوا رابلئ، په مصیبتونو کښې، هغوئي به د الله را وستلے شوے او رسول شوے تکلیف لرے کړي، یا که چرے الله په ما رحمت نازلول اوغواړي نو آیا هغوئي به دغه رحمت زما نه بند او منع کړي؟ هرګز دا سے نه شي کولے حاصل دا چه د کوم خود ساخته معبودانو نه تاسو مونږ ویروئ، هغه بالکل عاجز دي او د الله په مقابله کښې هیڅ هم نشي کولے۔ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ۔ د دے وجه نه تاسو اعلان اوکړئ چه په ټولو مصائبو او مشکلاتو کښې زما د پاره الله کافي دے او که چرے په چا باندے بهروسه کول وي نو په هغه قادر او قیوم باندے کول پکار دي۔ نه چه د هغه په عاجز مخلوق باندے۔

۴۰ قُلْ يٰقَوْمِ۔ دا تخویف اخروي دے تاسو د خپل قوم مشرکانو ته اووایئ بنده! که چرے تاسو د ضد او عناد په وجه سره حق نه منئ نو تاسو په خپله طریقه باندے روان اوسیږئ او زهٔ به هم په خپله لاره باندے روان یم۔ د قیامت په ورځ به پوهه شئ چه څوک رسینونکے دے او څوک د هغه ځن۔ او رسوا کوونکے او همیشه عذاب د چا په نصیب دے او د جنت نعمتونه او آرام د چا د پاره مقدر دي۔

۴۱ اِنَّآ اَنْزَلْنَا الخ۔ دا شلورم دلیل وحي دے۔ دا کتاب چه په پیغام حق یعني فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ (صرف د الله تعالیٰ عبادت)۔ باندے مشتمل دے۔ مونږ په تاسو نازل کړے دے د دے د پاره چه تاسو یې خلقو ته اورسوئ تاسو د خپل طرف نه کوم دعوي نه پیش کوئ۔ فَمَنِ اهْتَدٰى الخ۔ چا چه د دے کتاب هدایت قبول کړو هغه خپل ځان ته فائده اورسوله او چا چه ګمراهي

اختیار کړه هغه خپل نقصان اوکړو. فَمَنِ اخْتَارَ الْهُدٰى فَقَدْ نَفَعَ نَفْسَهٗ وَمَنِ اخْتَارَ الضَّلَالَةَ فَقَدْ ضَرَّهَا (مدارک ج ۴ ص ۲۶). تا سو د هغوی په سمه لاره د راوستلو ذمه دار نه یئ. تا سو کما حقه. د الله تعالیٰ پیغام هغوی ته اورسولو خپل فرض هم ادا کړل.

۴۲ اللّٰهُ يَتَوَفَّى الْخ دا پنځم عقلی دے دا د مخکینو دلا ئلو نه په طور د ترقی دے. مخکښ د انسان د ابتدائی حالت ذکر وو یعنی د هغه پیدا ایښ شخے نه روستو د پیدا ایښ نه روستو حالت یعنی د هغه د رزق رسا فه او د هغه د پرورش ذکر او کړے شو او دلته د هغه د ژوند د آخری حالت تذکره ده. حاصل دا چه انسان په هر حال کښ د الله تعالیٰ محتاج دے، او د هغه ټول حالات او کوائف د الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښ دی. توفی دلته په عموم مجاز باندے محمول ده یعنی مطلق قبض خواه ظاهرًا وی لکه چه د خوب په حالت کښ کیږی یا ظاهرًا او باطنًا وی لکه چه د مرګ په حالت کښ کیږی. (مظهری) یعنی الله تعالیٰ د مرګ په وخت روحونه قبض کوی په دے طریقه چه د روحونو تعلق بالکلیه د بدن نه منقطع کیږی. ظاهرًا او باطنًا او د چا د مرګ وخت چه لا تراوسه نه وی راغلے د خوب په حالت کښ په ظاهره د هغوی روحونه قبض کوی ترڅو چه د هغه حالت کښ د اوده ارادی حس او حرکت سلب کولے شی ای يقبضها عن الابدان اما بان يقطع تعلقها عنها بالكلية فلا يمكن لها التصرف فيها ظاهرا ولا باطنا وذلك حين موتها و نزعها عنها واما بان يقبضها ظاهرا بعض القبض بان يسلب عنها الحس وحركت الارادية الخ (مظهری ج ۸ ص ۲۱۷). ۴۳ فَيُمْسِكُ الَّتِي الخ د خوب په حالت کښ د چا په باره چه مرګ فیصله شوے وی د هغه روح حصار ولے شی او د چا د مرګ فیصله چه نوی شوی د هغه روح آزاد کړے شی او ورکړے شی تر دے چه د هغه د مرګ متعین وخت راشی په دے توفی او ارسال کښ د غور او فکر کوونکو د پاره د الله تعالیٰ د قدرت کامله او وحدانیت نښانات موجود دی. کوم سړے چه د عناد او ضد نه کار وانخلی ضد او عناد پرے دی دے کښ په غور او فکر کوی هغه ته به یقین حاصلیږی چه د الله تعالیٰ نه سوا څوک قادر علی الاطلاق او معبود برحق نشته.

أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ شُفَعَاءَ ۚ قُلْ أَوَلَوْ

ایا هغوی نیولی دی ۴۴ د الله تعالیٰ نه سوا څوک سفارش کوونکے. ته اووایه اګرچه

كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٣﴾ قُلْ

ته اووایه

هغوی اختیار نه وی د څه څیز او نه پوهه

لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ۖ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

د الله په اختیار کښ دے ۴۵ ټول سفارش. د هغه حکومت دے په اسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ
او ځمکو کښې . بیا به د هغهٔ طرف ته ګرځولے شئ او کله چه نوم واخستے شی د الله
وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
خالص د الله و ترهیږی زړونه د هغه چا چه یقین نهٔ لری
بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا
د روستونی کور (د اخرت) او کله چه نوم واخستل شی د هغهٔ نه سوا د نورو (بتانو)
هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ
د هغه وخت شروع شی خوشحالی کولو ته . ته اووایه اے الله پیدا کوونکے د آسمانونو
وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ
او ځمکے عالم په پټو او ښکاره ئے ته به
تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾
فیصله کوے د خپلو بندګانو مینځه کښې کوم څیز کښې چه هغوئ اختلاف جهګړه کوله .
وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا
او که چرے ثابت شی د ګنهګارانو سره وی هغه مالونه کوم چه په ځمکه کښې ټول
وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ
او دومره نور د هغے سره نو هغه ټول ورکړی د خپل ځان خلاصولو دپاره د بد عذاب
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ
د قیامت په ورځ او په نظر به راشی هغوئ ته د الله له طرفه کوم چه د دوئ
يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ
په خیال کښې هم نهٔ راتلل ... او په نظر به راشی د هغوئ بد کارونه
مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾
کوم چه ئے کول او را به ګیر کړی په هغوئ (سزا) د هغے څیز کوم پورے چه به ئے توقے کولے.

نکات : ۴۳ دریم زجر ۱۲ ۴۴ دمشرکانو دباطل خیال رد ۱۲ ۴۵ شکوی ۱۲
۴۶ تخویف اُخروی ۱۲ ۴۷ څلورم زجر ۱۲۔

موضح قرآن

ول یعنی الله تعالیٰ ته مخکښې سفارش شته دے لیکن دالله تعالیٰ په حکم نه ستاسو په وینا. کله چه مرګ راشی نو دچا په وینا عزرائیل علیه السلام هیڅوک نه شی پریخودلے ۱۲۔

تفسیر

۴۳ اَمِ اتَّخَذُوْا الخ دا دریم زجر دے او د زجر اول تشریح او تفصیل دے. ددومره واضح دلائلو او روښانه بیانات باوجود بیا هم مشرکان غیرالله معبود ګڼړی دالله په دربار کښې شفیع غالب منی. حال دا دے چه هغه د هیڅ اختیار هم شته دوی کښې نه قدرت شته نه د علم او فهم صلاحیت شته بیا معبود او شفیع غالب څنګه جوړ کړے شو دا شاید چه د فوت شوو بزرګانو باره کښې دے یا د دینه هغه اوثان، واصنام (بتان) مراد دی چه د الله تعالیٰ دنیک بندګانو په شکل او د هغوی په نومونو باندے جوړ کړے شوے وو او هغوی سره به د معبودانو په شان معامله کیدله دے ایت کښې د شفاعت قهری نفی ده دلته او د سورة په شروع کښې د سورة سبا مضمون ذکر کړے شوے دے او په باقی سورة کښې د سورة فاطر مضمون ذکر کړے شوے دے یعنی په حاجتونو کښې غائبانه صرف الله ته آواز کوئ. دا شان ددے سورة کښې دواړه مضمونونه جمع کړے شوے دی.

۴۴ قُلْ لِّلّٰهِ الخ. دا د مشرکانو د باطل ګمان جواب دے چه مشرکانو ته حق حاصل نه دے چه هغوئي خپل مزعومه معبودان د الله په نزد شفیع غالب او منی شفاعت خو الله پورے خاص دے هغه چه ځے چاته اوغواړی او د چا په حق کښې چه ئے اوغواړی د شفاعت اجازت به ورکوی. د شفاعت اجازت به صرف انبیاء علیهم السلام او د امت صلحاؤ ته ملاویږی. او هغه به ځے خپل مرضئ او اختیار سره په دے کښې تصرّف کوی، ددے وجه نه د هغه په دربار کښې هیڅوک شفیع غالب نشته. په اخرت کښې به هم بلول د هغه په مخکښې حاضروی، هلته به هم بغیر د چا د شرکت نه صرف هغه متصرّف او مختار وی.

۴۵ وَاِذَا ذُكِرَ الخ. دا شکوه ده ددوئی د حال هم عجیبه دے که چرے واقعی حقیقت ددوئی مخکښې پیش کړے شی یعنی او وئیل شی چه صرف دیو الله عبادت کوئ نو هغے سره ددوئی زړونه نفرت کوونکی ګرځی لیکن که چرے د غیرالله د پرستش او عبادت اجازت ورکړے شی یا د الله سره د هغوئی د معبودانو ذکر اوکړے شی نو ډیر زیات خوشحالیږی (وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ) ای قیل لا اله الا الله (اشمأزت) انقبضت ونفرت (قلوب الذین لا یؤمنون بالاٰخرة واذا ذکر الذین من دونه) ای الاوثان (اذاهم یستبشرون) سواء ذکر الله معهم او لم یذکر (جامع البیان ص ۳۹۸) ۴۶ قُلِ اللّٰهُمَّ الخ دا دویم مقصله تمره ده اللّٰهم موصوف و فاطر السمٰوٰت الخ. د هغه صفت مقصود بالنداء په آخر کښې مقدر دے د مقصود بالنداء څخه تخصیص نشته. لیکن په قرینه د حدیث څخو مفسرینو اِهْدِنِیْ لِمَا اخْتُلِفَ فِیْهِ مِنَ الْحَقِّ مقدر منلے (جلالین، خازن). ددا سے روښانه او قطعی دلائلو نه روستو هم که معاندین

نه منی نو تاسو د الله نه دا دُعا او غواړئ. چه اے الله د دے مذکوره صفتونو والا مانه په دے هدایت باندے قائم او لره او د قیامت په ورځ حمو نږ او ځمونږ د منکرینو مینځ کښ فیصله او کړه. وَلَوْ اَنَّ الخ. دا تخویفِ اُخروی دے، دُنیا کښې خو عناد او ضد کښې را غلل توحید ئے او نه منلو او د الله نه سوائے نور معبودان جوړ کړل او د صحیح لاره مونږ دوی ته یوه خبره ئے او نه منله. په آخرت کښې به د هغوئ حال داوی چه هغوئ به دا خواهش کوی چه که چرے نن د یو لے دنیا دولت او د هغے مقدار دو مره نور دولت هم د هغوئ سره وی نو هغه به په فدیه کښې ورکړی چه د عذاب نه بچ شی، د قیامت په ورځ به هغوئ ته دا سے سزا گانے ملاویږی چه د هغوئ په وَهم او گمان کښې به هم نه وی او د هغوئ ټول بد عملئ او گناهونه به د هغوئ په مخکښې وی او په کوم عذاب پورے چه به ئے ټوقے کولے هغه په دوئ باندے احاطه کوونکے دے.

فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ

نو کله چه اورسیږی قَالَهٗ انسان ته څه تکلیف مونږ ته آواز کوی، بیا چه کله ادبښو مونږ

نِعْمَةً مِّنَّا ۙ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ

هغه ته نعمت د خپل طرف نه. وائی دا خو ما ته ملاؤ شو چه د مخکښې نه ما ته معلوم وو. (دا عطا نه)

هِىَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۴۹

دا امتحان دے ۵۰ لیکن هغوئ اکثر نه پوهیږی. ول

قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى

ویلے وه دا خبره ځینو ددوئ نه مخکښې (خلقو) بیا هیڅ کار را نه غلل

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۵۰ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ

د هغوئ چه کوم به ئے گټل پس پریوتلے په هغوئ بدئ

مَا كَسَبُوْا ؕ وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ

۵۲ ئے د هغے کوم څه چه ئے کړی وو او کوم چه گنهګار دی په دوی کښې په هغوئ باندے

سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا هُمْ

هم اوس پریوځی جزا د هغه بد عملونو کوم چه ئے کړی دی. او هغوئ نه دی

بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ

عاجزه کوونکی اؤ آیا نه دی پوهه شوی ۳ ؎ چه الله فراخه کوی

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

رزق چا د پاره چه او غواړی اؤ په اندازه کوی بیشکه دے کښی

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ ع قُلْ يٰعِبَادِيَ

نښے د (قدرت) دی هغه خلقو د پاره چه ئے څوک مني ۲ ؎ اؤ وایه اے بندګانو زما

الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا

هغه چا چه زیاتے کړے دے په خپلو ځانونو باندے مه ناامیده کیږئ

مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ

د الله تعالیٰ د مهربانۍ نه بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے دے د ګناهونو

جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ وَاَنِيْبُوْٓا

ټولو بیشکه چه هم هغه دے معاف کوونکے مهربان اؤ رجوع شئ

اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ

خپل رب طرف ته اؤ د هغه حکم په ځائے راوړئ مخکښی د هغے نه چه

يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۴﴾

راشی په تاسو عذاب بیا به ستاسو امداد د پاره څوک هم نه راځی ۳ ؎

نکات ۱ ؎ شپږم عقلی دلیل ۱۲ ۲ ؎ ترغیب الی التّوحید ۱۲۔

موضح قرآن ف ۱ د مخکښی نه معلومه وه یعنی قیاس هم د هغه خوښتل چه هُم د هغه شان اوشی د الله د قدرت قایل نه وی۔ دا امتحان دے چه د دهٔ عقل اؤ هوش تر هغه ځائے پورے رسیږی خو چه کله خپل عقل باندے معزور شی نو سره د هغے عقل نه بیا هغه ته آفت ور رسیږی نو بیا د بل چا په منع کولو سره هغه نه منع کیږی۔ ف ۲ یعنی په عقل زغلولو کښی هیڅوک کمے نه کوی (هر څوک عقل اؤ تد بیر چلوی)۔ بیا د یو رزق فراخ دے اؤ د بل تنګ نو پوهه شئ چه دا د عقل کار نه دے ۱۲ منه رح ف ۳ کله چه الله تعالیٰ اسلام غالب کړو کوم کافران

چه په دشمنئ کښې مصروف وو پوهه شول چه بیشکه الله تعالیٰ د اسلام حامی او ناصر دے او په خپلو زړونو کښې بشپیما نه شول لیکن له شرم په وجه نه مسلمانیدل چه اوس به څه مونږ مسلمانی څه رنګه قبول شی دشمنئ موهم کړے دی جنګونه لے هم یو ډیر مسلمانان موږلی هم دی نو الله تعالیٰ د دوئ د تسلئ دپاره او فرمائیل چه داسے هیڅ یو ګناه نشته چه د هغے نه الله توبه قبوله نه کړی. مه ناامیده کیږئ توبه او باسئ او رجوع الله ته اوکړئ او به بښلے شئ لیکن چه کله عذاب په سر راشی او مرګ په نظر راشی د هغه وخت توبه نه قبلیږی او نه ستاسو امداد ته څوک رسیدلے شی ۱۲ منه.

تفسیر ۴۹ فَاِذَا مَسَّ الخ دا شلورم زجر دے په طور د شکوے. اَلْاِنْسَانَ. په دے جنس انسان طرف ته اشاره ده او د جنس بشر د غالب صفت بیانول مقصود دے او دا صفت اکثر په مشرکانو کښې موندلے شی یا الام عهد دپاره دے او د دے نه مراد کافران دی. اخبار عن الجنس بما یغلب فیه (بیضاوی) وقیل المراد بالانسان الکفرة (روح) مشرک انسان چونکه په یو الله باندے صابر او قانع نه وی د دے وجه نه په یو عجیبه کشمکش (حیرانتیا) کښې مبتلا وی کله چه یو مصیبت کښې ګرفتار شی د خپلو خیالی کارساز او معبودانو نه ناامیده شی د هغه یو خدائے وحده لاشریک ته آواز کوی د کوم د وحدانیت د ذکر نه چه هغوی مخ یوزه تریو وی او نفرت کوی. فَاِذَا رَكِبُوْا فِی الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ (عنکبوت ع ۷)

بیا چه کله الله تعالیٰ په خپله مهربانئ سره په هغه باندے د انعام او اکرام باران اوکړی نو ټول تکلیفونه د هغه نه لرے کړی نو د الله د شکر اداکولو په ځائے د الله احسانات د خپل بنده ته بیرا و حیلو او چلو نو مرهون منت اوګرځوی مثلاً وائی ما فلانکے چل اوکړو. فلانکی بزرګ ته مې آواز کړو د فلانکی پیر بند رم اوکړو وغیره وغیره لکه چه زمونږ پلاران او نیکونو به کول. تائید. فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ (حم السجدة ع ۹) داشان قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓی اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓی اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ۝ (زخرف ع ۲). په اول زجر کښې د شکوے په طور ذکر شوید ے چه کله مونږ په هغوی احسان اوکړو نو هغوی مصیبت هیر کړی لکه چه په هغوی چرته هم مصیبت نه دے اوس ئے په طور د ترقئ اوفرمائیل بلکه اولټه وائی چه مونږ فلانکے ته بیرا و چل اوکړو ځکه مصیبت لرے شو هٰذا ما افاده الشیخ قدس سره.

۵۰ بَلْ هِیَ الخ. دا د هغوی د باطل خیال رد دے دا نعمت ستاسو ته بیرا و چل سره نه دے ملاؤ شوے بلکه الله تعالیٰ درکړے دے او د مصیبت نه هم تاسو ستاسو حیلے نه بلکه الله تعالیٰ خلاصے درکړے دے او دا د الله تعالیٰ له طرفه د آزمائښت او ابتلاء په طور د استدراج دے په دے باندے دومره خوشحالی او ناز ایدل پکار نه دی لیکن اکثر خلق په دے حقیقت نه پوهیږی.

۵۱ قَدْ قَالَهَا الخ. دا تخویف دنیوی دے هم دا خبره د دوئ نه مخکښې تیر شوو مشرکانو هم کوله لیکن کله چه هغوی په دنیا کښې مونږ او نیول د غیر الله رابللو سره هغوی ته هیڅ فائده او نه شوه او نه د هغوی خود ساخته معبودانو هغوی د الله د عذاب نه بچ کړل.

شي کفر او شرک پکار راغلو نه مال اولاد هغوی سره څه امداد اوکړو. ای من اموال الدنیا و
من اعمالهم وعقائدهم (جامع البیان ص۳۹۹) فما اغنی عنهم الکفر من العذاب شیئًا (معالم
وخازن ج ۶ ص۷۹). ۵۲ فَاَصَابَهُمْ . الخ. هغوی د خپلو کړو عملونو سزا بیا موندله.
وَالَّذِیْنَ ظَلَمُوْا . الخ. دا د قریشو مشرکانو دپاره تخویف دنیوی دے څنګه چه تیرو شوو
قومونو مشرکانو ته په دنیا کښې د خپلو عملونو سزا ملاؤ شوه دا شان به د قریشو مشرکان هم په دنیا کښې
د خپلو عملونو سزا بیا مومی او هغوی به د الله تعالیٰ عذاب منع نه کړېشي او نه به د الله د عذاب نه خلاص شي
لکه چه هم دا شان د الله عذاب د قریش په مشرکانو باندې د قحط په صورت کښې نازل شو. ای یصیبهم
مثل ما اصاب اولئک فقتل صنادیدهم ببدر وحبس عنهم الرزق فقحطوا سبع سنین (مدارک ج۴
ص۴۸). ۵۳ اَوَلَمْ یَعْلَمُوْا . الخ. دا شپږم عقلي دلیل دے. تیرو شوو دلائلو نما علی سبیل الترق
دے نه مخکښې دا انسان اولني او روستنی حالات ذکر وو. دلته منځنی حالات ذکر شوي دے یعنی د
رزق فراخی او تنګی د الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښې ده د ایمان والو دپاره دے کښې د الله تعالیٰ د
قدرت کامله واضح نشانات دی دے نه معلومیږی چه ټول هر څه د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی
او هغه فاعل حقیقی دے. لایات دالة علی ان الحوادث کافة من الله تعالیٰ شانه والاسباب فی
الحقیقة ملغاة (روح ج ۲۴ ص۱۳). ۵۴ قُلْ یٰعِبَادِیَ . الخ. دا ترغیب الی التوحید دے. څما پیغمبر!
زما هغه بندګانو ته اووایه چا چه د شرک په وجه سره په خپلو ځانونو باندې ظلم کړېدے چه هغوی څما
د رحمت نه نا امیده کیږی بلکه چه د شرک نه په صدق توبه اوباسی صرف ما ته اواز اوکړی نو زه به
د هغوی ټول ګناهونه معاف کړم څکه چه غفور او رحیم صرف زه یم. ان اهل مکة قالوا یزعم
محمد ان من عبد الوثن وقتل النفس بغیر حق لم یغفر له فکیف ولم نهاجر وقد عبدنا الاوثان
وقتلنا النفس فنزلت. (بیضاوی). شان نزول اګرچه خاص دے لیکن د مفهوم په لحاظ سره د آیت
حکم عام دے او په دے باندې هر ګنهګار ته د الله تعالیٰ د رحمت امید ورکړے شویدے. وانیبوا الی
ربکم. الخ. او ګناهونه پریږدئ. د الله تعالیٰ طرف ته رجوع اوکړئ او د هغه د احکامو تابعداری
اوکړئ مخکښې د هغے نه چه ستاسو د نافرمانۍ او سرکشۍ په سزا کښې تاسو باندې د الله تعالیٰ
عذاب راشي بیا د هغه د عذاب نه خلاصولو والا هیڅوک نه وي.

وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَیْکُمْ مِّنْ رَّبِّکُمْ مِّنْ قَبْلِ

او تابعداری اوکړئ د هغے د غوره خبرے (قرآن) کوم چه نازل شو تاسو ته د رب له طرفه مخکښې د هغے نه

اَنْ یَّاْتِیَکُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَنْ

چه اورسیږی تاسو ته عذاب ناڅاپه او تاسو ته خبر نه وی چرته

تَقُوْلَ نَفْسٌ یّٰحَسْرَتٰی عَلٰی مَا فَرَّطْتُّ فِیْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ

به او وائی یو نفس اے افسوس په دے خبره چه ما کوتاهی کوله د الله تعالیٰ په طرف (په حق د طاعت) او ما

كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ

خاندل (قرآن او مؤمن په) پورې يا به اووائي كه چېرې

اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَوْ تَقُوْلَ

الله ما ته لار ښودلې وے نو زهٔ به وے د ويرېدونكو نه يا اووائي

حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ

چه كله اووينى عذاب په كوم يو طريقه كه چېرې ما ته بيا واپس تلل ملاو شي نو زهٔ به شم

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ

د نيكى كوونكو نه ولې نه ده (هم داسې ده) راغلې وو تا ته زما حكمونه

فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾

بيا تا هغه دروغ اوګڼل او تكبر او غرور دې اوكړو او ته وې په انكار كوونكو كښې.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ

او د قيامت په ورځ كښې به ته اووينې هغه خلق چه دروغ به ئے وئيل په الله باندې

وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى

چه د هغوي مخونه به وي تور. آيا نه دے دوزخ ځائے د اوسيدلو د

لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا

كافرانو او بچ به كړي الله هغه خلق چه ويرېدل په

بِمَفَازَتِهِمْ ۫ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ

سبب د خلاصې موندلو د دوي. نه به رسيږي هغوي ته تكليف او نه به هغوي

يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾ اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ

غمژن وي الله پيدا كوونكے د هر څيز دے او هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۶۲﴾

د هر څه ذمه اخلي.

نکات ۱ ای لئلا تقول ۲ تخویف اخروی ۳ بشارت اخروی ۴ اووم عقلی دلیل.

تفسیر

۵۵ے واتبعوا الخ دا پنځم دلیل وحی دے علی سبیل الترقی من الادنی الی الاعلیٰ. اول ئے او فرمائیل اعلان او کړه چه زه د خپل ځان نه هیڅ نه وایم کوم څه چه وایم دا الله تعالیٰ د وحی نه ئے وایم. بیائے او فرمائیل دا قرآن مره غوره او د تاثیر نه ډک کتاب دے (دریم دلیل وحی) دلته ئے او فرمائیل دا دے احسن او اعلیٰ کتاب شوق او جذبے سره پیروی او کړئ ځکه چه ستاسو د خالق او مالک له طرفه نازل شوے دے د هغے نه مخکښ چه د دے کتاب د احکامو د خلاف ورزئ په وجه سره ناڅاپه پر تاسو باندے دا الله تعالیٰ عذاب راشی او تاسو ته پته هم نه وی. ان تقول الخ ای لئلا تقول الخ (روح) فی جنب الله د الله په جانب کښ یعنی په اطاعت او توحید کښ یعنی د هغه احسن او اعلیٰ کتاب پیروی او کړئ د دے د پاره چه د هغه د مخالفت په وجه سره تاسو حسرت او ندامت سره مخامخ نه شی او د قیامت په ورځ دا د دُنیا موقع تاسو ته رانشی چه هائے افسوس! ما د الله په اطاعت کښ کوتاهی کړے ده او د الله ایتونو پورے به م خندا کوله او تقول الخ او نه دا او وائی چه کاش! که چرے الله ما ته سمه لاره ښودلے وے نو ما به حق لاره قبوله کړے وه. د الله د نا فرمانئ نه به م ځان بچ کړے وے. او چه نه دا آرزو او کړی چه که چرے یو ځل بیا دُنیا ته اولیږلے شم نو زه به ډیر په شوق او مینه د زړه په خوښه د الله فرمانبرداری کوم.

۵۶ے بلیٰ الخ د قیامت په ورځ چه کله نافرمان خلق پورتنئ ذکر شوے حیلے بهانے جوړے کړی نو جواب به ور کړے شی دُنیا کښ د الله تعالیٰ روښانه کتاب تاسو ته راغلے وو چه تاسو ته د هدایت لاره هغے سره واضح شوه لیکن تاسو هغه دروغ او ګڼړه او غرور او تکبر سره تاسو د هغے نه انکار او کړو او ضد او عناد کښ راغلئ. د حق د خبرے اقرار هم او نکړو الکافرین ای الساترین للحق عنادًا. قاله الشیخ رحمه الله.

۵۷ے ویوم القیامة الخ دا تخویف اخروی دے کوم خلق چه په الله باندے دروغ تړی مثلاً هغه د پاره شریک او نائب متصرف ثابتوی د قیامت په ورځ به تاسو اووینئ چه د هغوی مخونه به تک تور وی او جهنم کښ د هغوی او سیدل دی آیا د داسے متکبرانو خلقو ځائے به په جهنم کښ نه وی چه د غرور او کبر په نشه کښ د حق نه انکار کوی. کذبهم علی الله تعالیٰ لوصفهم له سبحانه بان له شریکا وتعوذ لک تعالیٰ عما یصفون علوا کبیرا.

۵۸ے وینجی الخ دا د ایمان والو د پاره بشارت اخروی دے کوم خلق چه د کفر او شرک او د الله د نا فرمانئ نه او د نورو متکبرانه صفتونو نه ځان بچ ساتی هغوی به الله تعالیٰ د جهنم نه بچ کړی او هغوی ته به کامیابی او خلاصے ورکړی او هغوی ته به عذاب یا غم، خفګان نه رسیږی. ۵۹ے الله خالق الخ دا اووم عقلی دلیل دے او د تیر شوو دلائلو د پاره په منزله د ثمره دے. د اولنو شلور دلیلو حاصل دا وو چه د هر

څیز خالق الله تعالیٰ دے. د پنځم دلیل حاصل دا دو چه د بنده ګانو روزونه د الله په قبضه کښی دی او هغه د ټولو محافظ دے. د شپږم دلیل خلاصه دا ده چه رزق ورکونکے الله تعالیٰ دے د رزق فراخی او تنګی د هغه په اختیار کښی ده او دوم دلیل کښی ئے او فرمایل چه د هر څیز خالق صرف هم هغه دے او د هر څیز محافظ او نګهبان هم صرف هغه دے او د زمکے او اسمانونو د خزانو کنجیانے هم د هغه په قبضه کښی دی په دے کائنات کښی هغه متصرف او مختار او قادر علی الاطلاق دے. لایملك امرها ولا یتمکن من التصرف فیها غیره (بیضاوی) مقالید السموات خزائن الرحمة والرزق والمطر ومقالید الارض النبات (خازن جلد ۶ ص ۸۳). یعنی له مفاتیح خزائن السموات والارض بیده ملکوتها لا یتمکن من التصرف فیها غیره (مظهری جلد ۸ ص ۲۳۰)

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَالَّذِيْنَ

هغه سره دی کنجیانے د اسمانونو او د زمکے هم او هغوی چه

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۳﴾ قُلْ

منکر شو د خبرو د الله نه هم دغه خلق دی پوره تاوان کښی. ته او وایه

اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْۗنِّىْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾

اوس د الله تعالیٰ نه سوا الٰه ماته امر کوی چه عبادت او کړم اے ناپوهانو!

وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ

او حکم شوے دے تاته ۶۲ او هغو ته او ستا نه مخکښو ته.

لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ

داچه که چیرے تا شرک او کړو نو ضائع به شی ستا عمل او ته به شے

الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۶﴾

په تاوانیانو کښی. بلکه د الله عبادت کوه ۶۳ او شه د حق منونکو نه.

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ڰ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا

او دوی او نه پیژندو الله ۶۴ لره څومره چه د هغه (لوئ شان) دے او زمکه ټوله

قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ

به موټے دے د هغه. د قیامت په ورځ او اسمانونه به نغښتلے شوی وی

بِیَمِیْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَ تَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَ

د هغهٔ په ښي لاس کښې، هغه پاکي دے شه اوډېر اوچت دے د هغې نه چه دوی شرک بیانوی. ول او

نُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَنْ

پوکے به او کړے شي په شپیلئ کښې ۶۷ بیا به بے هوشه شي هغوی چه دي په آسمانونو کښې او په

فِی الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِیْهِ

زمکه کښې لیکن الله چه څوک او غواړي بیا به شپیلئ او وهلے شي

اُخْرٰی فَاِذَا هُمْ قِیَامٌ یَّنْظُرُوْنَ ﴿۶۸﴾

دویم ځل نو هغوی به فوراً او درېږي چه هر طرف ته به ګوري ول

نکات

سل تخویف اُخروی ۲. سل درېم ځل د دعوی ذکر ۲. سل شپږم دلیل وحی ۲. سل دمشرکانو د مطالبے جواب ۲. سل د تیرو شوو دلائلو ثمره ۲. سل تخویف اُخروی ۲.

موضح قرآن

ول الله تعالٰی د فرمان موافق ښي لاس وائی او کینزسودائی ۱۲ امنه. ول یو ځل شپیلئ وهل دی د عالم پناه کولو د پاره دویم ځل د ژوندي کولو د پاره دریم ځل د بیهوشه کولو د پاره د حشر نه روستو او څلورم ځل د بیدارولو د پاره هغه نه روستو به بقول د الله تعالٰی په محکښې روانېدے کیږی.

فتح الرحمٰن: ول یعني مختار او متصرف هغه دے.

تفسیر

۶۶ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا الخ. دا تخویف اُخروی دے کوم خلق چه د الله د آیتونو او د هغهٔ د وحدانیت او بغیر د چا د شرکت نه په کائنات کښې د متصرف او مختار کیدلو د دلائلو نه انکار کوی په حقیقت کښې تاوانیان خلق هم هغه دی ځکه چه هغوی د الله د رحمت او ثواب نه محروم شول. او همیشه همیشه به په جهنم کښې اوسیږی. والمراد بآیات الله دلائل قدرته واستبداده بامر السمٰوٰت والارض او کلمات توحیده وتمجیده، وتخصیص الخسار بهم لان غیرهم ذو حظ من الرحمة والثواب (بیضاوی ج۲ ص۲۶۰).

۶۴ قُلْ اَفَغَیْرَ اللّٰهِ. دا درېم ځل د دعوے ذکر کړے شوے دے په طور د زجر بانده کم عقلانو! آیا د الله تعالٰی د وحدانیت د دا سے واضح او یقیني براهین او دلائلو نه روستو هم ستاسو خیال نه دا توقع ده چه زهٔ ستاسو دین ته مائل شم او تاسو ما ته د غیر الله د عبادت دعوت را کوئ؟ دا خو بیا ستاسو ناپوهي ده دے خیام خالص نه د ځپل ذهنونه پاک کړئ وذلك حین دعوا النبی صلی الله علیه وسلم الی ما هم علیه من عبادة الاوثان وقالوا هو دین ابائك (قرطبی ج۱۵ ص۲۷۶).

۶۵ وَلَقَدْ اُوْحِیَ الخ دا شپږم دلیل وحی دے او دد ے په ضمن کښې کوالی الَّذِیْنَ

مِن قَبلِكَ سره دلیل نقلي طرف ته اشاره ده، وې فرمایل څنا پیغمبره! تا ته هم وحي کیږي او ستا نه مخکښ هم انبیاء علیهم السلام ته وحي کړې شوې وه که چرې بفرض محال تاسو د شرک ارتکاب اوکړو نو ستاسو ټول اعمال به برباد شي او تاسو به په خساره مو ندونکو یعنې د الله تعالیٰ د رحمت او مغفرت نه محروم شوو خلقو کښې شامل کړې شئ. د انبیاء علیهم السلام نه خود شرک صادریدل محال دی، لیکن دا کلام په طریقه د فرض محال دے، دے د پاره چه د شرک قباحت علی وجه الاتم ظاهر شي او مشرکان دے امید کښې پاتې نشي چه هغوئ ته به معافي ملاؤ شي. واياما كان فهو كلام على سبيل الفرض لتهييج المخاطب المعصوم واقناط الكفرة والايذان بغاية شناعة الاشراك وقبحه وكونه بحيث ينهى عنه من لا يكاد يباشره فكيف بمن عداه (روح ج ۲۴ ص۲۴) هر کله چه په شرک باندے دومره سخت وعید دے نو دا څنګه ممکن کیدے شي چه زهٔ ستاسو خبره اومنم ٦٣ بَلِ اللّٰهَ الخ دا د مشرکانو د مطالبے جواب دے چه تاسو وایئ چه زهٔ د غیر الله په عبادت کښې تاسو سره شریک شم لیکن د الله تعالیٰ عالیشان فرمان دا دے چه زهٔ صرف د هغهٔ عبادت اوکړم او د هغهٔ په عبادت کښې د هغهٔ سره څوک شریک نهٔ کړم او د هغهٔ شکر ګذار بنده جوړ شم ځکه چه منعم او محسن صرف هغه دے یعنی لا تعبد ما امروك بل اعبد ه وحده. فهو رد لما امروه به (جامع البیان ص۴۰۱) ٦٤ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ الخ. دے ناپوهانو د الله تعالیٰ د عظمت قدر او د جلالت شان كما حقه او نهٔ پیژندو هغه د ټول کائناتو خالق او مالک دے د هر جاندار (ساوالا) رازق او د هر شیز محافظ دے د زمکے او آسمانونو خزانے د هغهٔ په تصرف او اختیار کښې دي لیکن مشرکانو د الله نه سوا نور معبودان جوړ کړیدي. وَالۡاَرۡضُ جَمِیۡعًا الخ دا کلام علی سبیل التمثیل دے او د الله د قدرت او عظمت نه کنایه ده د هغهٔ عظمت او قدرت او ملکوت (بادشاهي) څنګه چه په دُنیا کښې په هر شیز حاوي دے دا شان به په آخرت کښې هم د قیامت په ورځ ټول د هغهٔ عظمت او کبریائي ته سر ښکته کوونکي وي او صرف د هغهٔ قدرت او تصرف به هلته نافذ وي، د مشرکانو ټول د زمکې او آسمان معبودان به د هغهٔ د عظمت او قدرت په مخکښې عاجز وي. والكلام عند كثير من الخلف تمثيل لحال عظمته تعالیٰ ونفاذ قدرته عزوجل .... وفيه رمز الی ان ما یشرکونه معه عزوجل ارضيا كان ام سماويا مقهور تحت سلطانه جل شانه وعز سلطانه فالقبضة مجاز عن الملك او التصرف واليمين مجاز عن القدرة التامة (روح ج ۲۴ ص۲۶) ٦٥ سُبۡحٰنَهٗ الخ دا د تیر شوو دلائلو ثمره ده د سورة په ابتداء کښې د دوو دلیلونو نه روستو ثمره ذکر کړې شوې وه دے د پاره چه واضح شي چه د سورة د دعوی ټول دلائل صراحت سره ثابتوي یعنی د ټولو ذکر شوو دلائلو نه د روښانه ورځې په شان ظاهره شوه چه د الله سره څوک شریک نشته هغه د هر شریک نه پاک دے او هر قسم عبادت صرف هغهٔ د پاره دے او د هغهٔ نه سیوا څوک د عبادت لائق نشته. ٦٦ وَنُفِخَ الخ دا تخویف اُخروي دے، د دے حاصل دا دے چه په آخرت کښې به هم متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ وي او هغه به په خپله باندے د بادشاهي په تخت جلوه افروز وي او د مشرکانو خود ساخته سفارشیان به هلته د هغوئ په کار نهٔ راځي او د الله تعالیٰ په دربار کښې به هیڅوک شفیع غالب نهٔ وي او د نفخ نه نفخه اولیٰ مُراد ده چه هغے سره به ټول د ساه والا د مرګ په خوب اوده شي. د صَعِق نه مُراد

مرګ دے ۔ فَنَفخَۃُ الفزع هی نفخۃ الصعق والصعق هنا الموت (بحر ج ۷ ص ۴۲۱)

اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰہُ مستثنیٰ څوک دی ۔ دے کښې

مختلف اقوال دی دیو قول مطابق ۔ جبرئیل علیه السلام، میکائیل ؑ واسرافیل ؑ وملک الموت وخازن دَجنت زبانیه وغیره دا د ضحاک قول دے ، حسن بصری ؒ فرمائی مستثنیٰ ذات دَالله دے ۔ دځنو په نزد هغه خلق مستثنیٰ دی کوم چه چا چه دوړے نفخه نه مخکښې د مرګ پیاله څکلې ده ۔ والله اعلم (کبیر و بحر ص ۴۳۰) ثُمَّ نُفِخَ فِیهِ الخ ۔ داخو یا دویمه نفخه ده یا دَ بعث نفخه ده چه د هغے نه روستو به هول ژوندی شی او ګوری به ۔

وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْکِتٰبُ

او روښانه به شی زمکه ځکه دخپل رب په رڼا سره او کیښودلے به شی عملنامے

وَجِایْٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِیَ بَیْنَهُمْ

او حاضر به کړے شی پیغمبران او ګواهان او فیصله به کیږی دوی میئنځ کښې

بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَوُفِّیَتْ کُلُّ

په انصاف سره او په هغوی به ظلم نه کیږی وا او پوره به ملاؤ شی ۶۹ هر

نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا یَفْعَلُوْنَ ﴿۷۰﴾

نفس ته ځنګه چه هغه کړے دی او هغه ښه خبر دے کوم څه چه هغوی کوی ۷۰

وَسِیْقَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْٓا اِلٰی جَهَنَّمَ زُمَرًا ط

او شړلے به شی څوک چه ۷۱ے منکر دی د دوزخ طرف ته ډلے ډلے

حَتّٰٓی اِذَا جَآءُوْهَا فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ

ترڅو چه او رسیږی ګله هلته پرانستلے به شی د هغے دروازے او وائی به

لَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ یَاْتِکُمْ رُسُلٌ مِّنْکُمْ

هغوی ته د هغے دربانچی ایا نه وو درغلی تاسو ته پیغمبران ستاسو نه

یَتْلُوْنَ عَلَیْکُمْ اٰیٰتِ رَبِّکُمْ وَیُنْذِرُوْنَکُمْ

چه لوستلے به ئے په تاسو باندے خبرے ستاسو د رب او تاسو به ئے یرولئ

لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا ؕ قَالُوۡا بَلٰى وَلٰكِنۡ حَقَّتۡ

په تاسو د دې ورځې د ملاقات نه . وائی به ولې نه (وو را غلی) لیکن ثابت شو

كَلِمَةُ الۡعَذَابِ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۷۱﴾ قِيۡلَ ادۡخُلُوۡۤا

حکم د عذاب په انکار کوونکو باندې حکم به اوشی چه داخل شئ

اَبۡوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ۚ فَبِئۡسَ مَثۡوَى

دروازو د دوزخ ته همیشه اوسیدلو دپاره په هغې کښې پس څه بد ځائ دې

الۡمُتَكَبِّرِيۡنَ ﴿۷۲﴾ وَسِيۡقَ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا رَبَّهُمۡ

د اوسیدو د تکبر کوونکو دپاره . او شړلې به شی هغه خلق بوتلې شو کوم چه ویریدل د خپل رب نه

اِلَى الۡجَنَّةِ زُمَرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوۡهَا وَفُتِحَتۡ

جنت ته ډلې ډلې تردې چه کله چه هغې ته اورسیږی او پرانستې شی

اَبۡوَابُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ

د هغې (جنت) دروازې او وائی به هغوی ته خزانچی د هغه سلام د او سیږی تاسو ته

طِبۡتُمۡ فَادۡخُلُوۡهَا خٰلِدِيۡنَ ﴿۷۳﴾

تاسو خلق پاک یئ نو داخل شئ دې ته همیشه اوسیدلو دپاره .

نکات : ۱۔ تخویف اُخروی ۱۲۔ ۲۔ بشارت اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ د هر اُمت نیکان خلق به گواهی کوی او حالات به بیانوی د هغه بدی او د نیکانو نیکی کوم چه هغوی لیدل ۱۲۔

ف۲ یعنی گواه راغی د دوی د ملامت کولو دپاره کنی نو د الله نه خو هیڅ پټ نه دی ۱۲۔

تفسیر ۷۵ وَاَشۡرَقَتِ الۡاَرۡضُ الخ کله چه الله تعالیٰ د محشر په میدان کښې د فیصلې کولو دپاره حاضروی د هغه وخت به د محشر په میدان کښې د انوار الهی او تجلیات په وجه خاص قسم رڼا وی یا دا د عدل او انصاف نه کنایه ده یعنی د محشر میدان به د الله تعالیٰ د عدل و انصاف په نور سره منور وی . وَذٰلِكَ حِيۡنَ يَتَجَلَّى الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى لِفَصۡلِ الۡقَضَاءِ بَيۡنَ خَلۡقِهٖ (خازن و معالم ج ۶ ص ...) بما اقام فيها من العدل استعير له النور لانه يزين البقاع ويظهر الحقوق (ابو السعود ج ۷ ص ۲۸۹) . د هغو لو اعمالنامې به په عدالت کښې پیش کولې شی او هغه به په عدالت کښې انبیاء علیهم السلام هم حاضرولې شی . د دې دپاره چه هغوی د خپلو امتونو په منکرینو باندې به گواهی او کړی او شهداء یعنی اُمت محمدیه به هم

حاضر وے شی دے د پاره چه هغوی د انبیاء علیهم السلام په حق کښ ګواهی اوکړی چه بیشکه هغوی د الله تعالیٰ
پیغام خپلو اُمتونو ته رسولے وو - وجیئ بالنبیین یشهدوا علیٰ اممهم والشهداء ..... امة محمد صلی الله علیه وسلم
یشهدون للرسل (بحر ج ۷ ص ۴۴۲) . مخلوق کښ به عدل و انصاف سره فیصله کولے شی او د هیڅ حق تلفی به هم نه شی کیدے
۶۸ ووفیت الخ . هر سړی ته به د هغه د عملونو پوره پوره جزا اؤ سزا ورکولے شی
اؤ د هیڅ یو تن هیڅ قسم عمل به نه شی پریښودے ځکه چه الله تعالیٰ د مخلوق د ټولو اعمالو
نه پوره پوره خبر دے - ۶۹ وَسِيقَ الَّذِينَ الخ دا هم تخویف اُخروی دے
د قیامت په ورځ به د فیصلے کولو نه روستو به کافران اؤ مشرکان د ډلو په صورت کښ د
جهنم طرف ته شړلے شی اؤ بوتللے به شی کله چه هغوی د جهنم دروازو ته اورسیږی نو
هغوی ته به د جهنم دروازے پرانستلے شی د هغه وخت به په جهنم مقرر شوے فرشتے د
هغوی نه تپوس اوکړی آیا تاسو ته ستاسو د (جنس) نه د الله تعالیٰ پیغام رسونکی نه وو
راغلے . چه تاسو ته به ئے د الله تعالیٰ ایتونه لوستل اؤ اورول اؤ تاسو به ئے د دغه ورځے
د پیښیدو نه د الله په حکم یرولئ ؟ هغوی به جواب کښ وائی ولے نه . راغلی وو لیکن
د بد قسمتئ نه په مونږ کافرانو باندے د الله تعالیٰ د عذاب فیصله نافذ شوه ځکه
چه مونږ محض د ضد اؤ عناد په وجه د حق نه انکار اوکړو . قیل ادخلوا الخ . د هغه وخت
به هغوی ته اوویلے شی بس ده ! نو اوس جهنم ته داخل شئ چه همیشه د پاره ستاسو د
اوسیدلو ځائے دے ، جهنم د منکرینو د پاره ډیر بد ځائے د اوسیدلو دے .
۷۰ وَسِيقَ الَّذِينَ الخ د مؤمنانو د پاره بشارت اُخروی دے ، د الله نه
ویریدونکی فرمانبردار اؤ د هغه نافرمانئ نه بچ کیدونکی به د قیامت په ورځ به د
جماعتونو (ډلو) په شکل باندے د جنت طرف ته بوتللے شی ، کله چه هغوی د جنت
دروازو ته اورسیږی اول نه به هغوی ته د جنت دروازے بیرته کړے شوے وی د
جنت خزانچی (دربان) فرشتے به هغوی باندے سلام وائی اؤ په خیر راغلے
به ورته وائی . اؤ هغوی ته به درخواست کوی چه تاسو جنت ته لاړ شئ دا ستاسو د پاره
همیشه کور دے اؤ تاسو به په دے کښ همیشه اوسیږئ .

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ

اؤ وائی به د الله تعالیٰ شکر لره چا چه رښتیا کړه ځمونږ سره خپله وعده

وَأَوْرَثَنَا الْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ

اؤ وارث ئے کړلو مونږ د دے زمکے (د جنت) چه کور نیسو د جنت نه چرته چه مونږ

نَشَاءُ ۚ فَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ

اوغواړو . ښه ډیره ښه بدله ده د محنت کونکو اؤ ته به اؤوینے فرشتے

حَافِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ

۲ ۳ چه د عرش نه گیر چاپیره گرځي پاکي بیانوي د خپل رب حمد سره

رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ

رب او فیصله به کیږي د دوی مینځ کښ د انصاف او دا به ویلے شي چه صفتونه

لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۵﴾

ټول الله لره دي چه رب دے د ټول جهان وی۔

موضح قرآن ف۱ هغوی ته حکم دے چه چرته غواړئ او سیږئ لیکن هر سړے به هغه ځائے غواړي کوم چه هغه د پاره د اول نه مقرر شویدے او خاص کړے شویدے ۱۲۔ ف۲ په فرشتو کښ فیصله دا چه هر لوی فرشته (ملاء اعلیٰ کښ) یو ته بیړ د خپلے قاعدے موافق وائی یا الله تعالیٰ دیوے فرشتے خبرے ته د جاري کولو حکم ورکوی او هغه خبره د حکمت سره موافق وی دغه آیرا او س هم جاري ده او په قیامت کښ به هم وی ۱۲ ف۳ یعنی اشیا یانے لری د سردارانو سره د دے طمع مه کړه۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی په آخرت کښ ملاء اعلیٰ وائی ۱۲۔

تفسیر ۱۷۵ وَقَالُوا الخ اهل جنت به د غه وخت د الله تعالیٰ حمد او ثناء وائی او وائی به چه څنګه په دُنیا کښ ټول د کارسازی صفتونه الله تعالیٰ پورے خاص وو آخرت کښ هم هغه کارساز او برکات ورکونکے دے او د هر قسم شریکانو نه پاک دے هر حمد او ثناء هغه پاک ذات لره ده چا چه حمونږ سره خپله وعده پوره کړه او مونږ ئے د جنت د زمکے وارثان او گرځولو چه جنت کښ مونږ هر چرته او غواړو اوسیږو د عمل کوونکو اجر او ثواب څومره ښه دے۔ د وعدے نه حشر او نشر او اجر او ثواب مراد دے چه د انبیاء علیهم السّلام په ذریعه کړے شوے وه۔ (۳م۲۱) او د جنت زمکه مراد ده۔ المراد بالارض ارض الجنة (کبیر جلد ۷ ص ۲۸۵)

۱۷۵ وَتَرَى الْمَلٰئِكَةَ الخ د الله تعالیٰ د عظمت شان او جبروت بیان دے د قیامت په ورځ به تاسو او وینئ چه فرشتے به د عرش نه گیر چاپیره ولاړے وی او د خپل مالک حقیقی په حمد او ثناء او تسبیح تقدیس کښ به مصروف وی د ټولو فرشتو په ژبه به جاري وی چه د الله پاک ذات د هر شریک نه پاک او د ټول صفتونو د کمال سره متصف دے، د دا سے جاه او جلال باوجود هم یو څوک د ټپوس کولو والانشتر د هیچا حق به نه تلف کیږي او هر فیصله به عدل او انصاف سره کیږي۔ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۔ د غه وخت به د هر طرف نه د مالک کائنات او د دوارو جهانونو د رب د حمد او ثناء چغے او چیغے به فرشتے او مؤمنان به وائی هر حمد او ثنا هغه ذات پاک او هغه رب د جهان سره ښائی چا چه د مؤمنانو او مُشرکانو مینځ کښ د عدل او انصاف فیصله او کړه۔ او ول کل حمد ثناء

دَوعدے په پوره کولو بانده وه او دا په عدل او انصاف کولو بانده ده. ختمهم الاول على انجاز وعده سبحانه وایراثهم الارض یتبوؤن من الجنة ما شاؤا، وختمهم هذا على القضاء بالحق بینهم فلا تکرار۔ (روح ج ۲۴ ص ۳۲)

وَاٰخِرُ دَعْوٰنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

○

سورة زمر کښ د توحید ایتونه او د هغے خصوصیات

۱۔ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّیْنَ ۝ اَلَا لِلّٰهِ الدِّیْنُ الْخَالِصُ (۲) نفی دشرک فی الدعاء
۲۔ وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا ـــ تا ـــ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ (۳) نفی دشفاعت قهری۔
۳۔ قُلْ اِنِّیْ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ ـــ تا ـــ اَوَّلَ الْمُسْلِمِیْنَ (۱۲) نفی دشرک فی الدعاء۔
۴۔ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ دِیْنِیْ ـــــــ (۱۴) نفی دشرک فی الدعاء
۵۔ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا ـــ تا ـــ بَلْ اَکْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ (۲۹) تمثیل مشرک او موحد
۶۔ قُلْ اَفَرَءَیْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ ـــ تا ـــ یَتَوَکَّلُ الْمُتَوَکِّلُوْنَ ۔ (۳۸) نفی دشرک فی التصرف
۷۔ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ـــ تا ـــ ثُمَّ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۔ (۴۴) نفی دشفاعت قهری۔
۸۔ قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ ـــ تا ـــ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ ۔ (۴۶) نفی دشرک فی العلم۔
۹۔ قُلْ اَفَغَیْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّیْٓ اَعْبُدُ اَیُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۔ (۶۴) نفی دشرک فی العبادة

○

نن په تاریخ ۶ د ربیع الاول ۱۴۲۶ھ بمطابق ۱۷ اپریل ۲۰۰۵ء ورځ د اتوار
پنځوس منټه او لس بجے سحر د سورة زمر پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو۔

○

فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ اَوَّلًا وَّاٰخِرًا وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ دَائِمًا اَبَدًا وَّعَلٰی
اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَائِرِ عِبَادِهِ الصّٰلِحِیْنَ لَیْلًا وَّنَهَارًا۔

○

(کتابت: محمد اسلم اتحاد کالونی ۰۳۳۵-۹۲۰۱۱۲۳)

سُورَةُ مُؤْمِنْ

ربط

د سُورَةُ مؤمن د سورة زمر سره اسې رَبط دالے چه په سورة زمر کښ د دوؤ زمرو (ډلو) ذکر کړے شوے دے۔ فريق في الجنة وفريق في السّعير۔ يو جنتي ډله او بله دوزخي او سورة مؤمن کښ د مؤمن آل فرعون په ژبه سره هغه مسئله ذکر کړے شويده يعني د توحيد مسئله چه دهغې منونکے ډله جنتي ده او نه منونکي دوزخي۔

او د دے سورة ماقبل سره معنوي ربط دا دے چه د سورة زمر مرکزي دعوىٰ ده فاعبد الله مُخلصًا له الدين (۱۲) د الله تعالىٰ عبادت کوئ او د هغه په عبادت کښ حوک نه شريکوئ او په سورة مؤمن ، حمّ سجدة ، او شوریٰ کښ جزو اعلیٰ او مغز د عبادت يعنی دُعاء او د رابللو مسئله مفصل او مدلل بيان کړے شويده۔ دا شان په سورة زمر کښ نفی د شفاعت قهري هم بيان شويده۔ ام اتخذوا من دون الله شفعاء (۵۶) چه هغه سورة مؤمن ، سجدة ، او شوریٰ نه روستو په زخرف کښ بيان کړے شوے ده۔

خلاصه : د سُورة دوه حصے دي اوله حصه د سورة د شروع نه واخله تر الحمد لله رب العالمين (۶۵) او دويمه حصه قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ (۶۶) تر آخر د سورة پورے۔ اوله حصه په څلورو عنوانو مشتمل ده۔ تمهيد هغے نه روستو ترغيب ، درے ځل د سورة دعوىٰ ذکر کول د اثبات د دعوىٰ د پاره يو دليل وحي ، يو دليل نقلي ، او دوه عقلي دليلونه هر عقلي دليل نه پس ثمره د تخويف دنيوي مفصل نمونه او دوه ځله تسلي نبي عليه السلام د پاره دويمه حصه : اد اوّل حصے د مضامينو اعاده۔

تفصيلي خُلاصه

حمّ ـــــ تا ـــــ فالحكم لله العلي الكبير۔ تمهيد دے چه په څلورو عنوانو باندے مُشتمل دے اول عنوان تَنْزِيلُ الْكِتَبِ ـــــ تا ـــــ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ۔ دا حکم نامه د هغے شهنشاه له طرف نه نازل شوے ده چه په ټولو غالب او په ټول هر څه خبردار دے او مهربان دومره چه هر توبه ويستونکي ته معافي کوي او قدرت ئے دومره چه سرکشان به په سخت عذاب کښ ګرفتار کړي۔ دويم عنوان : مَا يُجَادِلُ ـــــ تا ـــــ أَنَّهُمْ أَصْحٰبُ النَّارِ ٥ د دے ځاے او واضح حکمونو نه انکار به صرف معاندين کوي او د تيرو شوو قومونو په شان به د دے جهګړے او انکار سزا په دنيا کښ بيا مومي۔ دريم عنوان ، الَّذِينَ يَحْمِلُونَ ـــــ تا ـــــ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ٥ کوم خلق چه دا حکمنامه او مني هغوئ ته به دا شرف حاصل وي چه د عرش پورته کوونکے فرشتے او د

عرش نه کبیر چاپیره تسبیح تقدیس بیانونکی فرشتے به د الله نه هغوئ دپاره دعا کانے غواړی۔ څلورم عنوان: اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ـــــ تا ـــــ العلی الکبیر ○ (۲۶) کوم خلق چه دا حکمنامه نه مني هغوئ به په آخرت کښ د الله د عذاب نازلید و دپاره حاضر وی هُوَ الَّذِیْ یُرِیْکُمْ اٰیٰتِهٖ (الآیة) دا د حکمنامے منلو ترغیب دے۔

دَ دعوئ ذکر

د سورة مرکزی دعوی درے ځل ذکر شوے ده اول ځل فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ وَلَوْ کَرِهَ الْکٰفِرُوْنَ۔ (۱۴) په مصیبتونو او حاجتونو کښ غائبانه آواز صرف الله ته کوئ اګر چه مشرکانو باندے دا خبره سخته لګی او د قهر او د غصے نه سوزی۔ رَفِیْعُ الدَّرَجٰتِ ـــــ تا ـــــ سَرِیْعُ الْحِسَابِ ○ د دعوے د اهمیت ذکر دے دا حکمنامه څه معمولی شیز نه دے بلکه دا د اوچت شان والا د عرش عظیم د مالک له طرفه ده چه هیشه په خپلو پیغمبرانو باندے خپله حکمنامه نازلوی وَاَنْذِرْهُمْ یَوْمَ الْاٰزِفَةِ الخ تخویف اُخروی دے۔ وَاللّٰهُ یَقْضِیْ بِالْحَقِّ (الآیة) متعلق دے دعوی پورے۔ وَاللّٰهُ یَقْضِیْ بِالْحَقِّ دا امر اول دے یعنی الله تعالیٰ د خپلے هر یوے ارادے مطابق فیصله کوی وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ الخ دا دوم امر دے یعنی معبودان باطله د سے نه شی کولے۔ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ دا د ماقبل دواړو خبرو دلیل دے۔

د دعوی ذکر دوم ځلے:۔ وَقَالَ رَبُّکُمُ ادْعُوْنِیْ اَسْتَجِبْ لَکُمْ۔ الآیة ۶۶) د خپل مالک او پروردګار حکم دے چه په حاجتونو کښ غائبانه آواز ما ته کوئ کوم خلق چه صرف ما ته د آواز کولو باندے نه وی بلکه ما نه سوا نورو ته هم آواز کوی زه به هغوئ رسوا او ذلیل کړم او جهنم ته به ئے داخل کړم۔

دریم ځلے د دعوئ ذکر: هُوَ الْحَیُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ (الآیة ۶۷) الله تعالیٰ همیشه ژوندے دے په هغه هیڅکله مرګ نه راځی دے وجه په مصیبتونو آفتونو کښ او په حاجتونو او مشکلاتو کښ خالصة هغه ته آواز کوئ ټولے د الوهیت صفات د هغه په ذات پورے خاص کړے شوے دے۔

دَلیلِ وحی

تَنْزِیْلُ الْکِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ ○ (۱۲) دا حکمنامه چه د توحید په دعوی باندے مشتمل ده د کوم انسان جوړه کړے شوے نه ده بلکه د الله له طرفه ده چه په ټولو غالب او د ټول هر څه نه خبر دے۔

دلیلِ نقلی

وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْهُدٰی الآیتین (۶۲) موسیٰ علیه السلام ته مونږ چه کوم کتاب

ورکړے وو چه د بنی اسرائیلو دپاره د هدایت ضابطه او قانون وو په هغے کښ مونږ حکم ورکړے وو چه څه نه سوا څوک کارساز نشته دے وجه نه په مصیبتونو او حاجتونو کښ صرف ما ته آواز کوئ. دلیل نقلی نه روستو فاصبران وعد الله حق (الآیة) کښ نبی علیه السلام دپاره تسلّی ده. او ددینه مخکښ انا لننصر رسلنا الخ کښ هم تسلّی ده. ان الذین یجادلون. (الآیة) زجر دے معاندینو دپاره. لخلق السموات والارض (الآیة) په ثبوت قیامت باندے دلیل انی دے. وما یستوی الاعمٰی والبصیر (الآیة). د قیامت په ثبوت باندے دلیل لمی دے ان الساعة لآتیة (الآیة) د قیامت د قیام دعوی.

اولنے عقلی دلیل:

الله الذی جعل لکم اللیل (الآیة ۶۱) شپه او ورځ داسے نعمتونه او ددینه علاوه نور نعمتونه ټول د الله له طرفه دی. ذالکم الله ربکم الخ. دا د دلیل ثمره ده وهی منعم و محسن الله ستاسو د ټولو مالک او خالق دے د هغه نه سوا څوک کارساز نشته. د دے وجه نه په حاجتونو کښ مافوق الاسباب صرف هغه ته آواز کوئ کذالك یؤفك الخ دا زجر دے.

دویم عقلی دلیل

الله الذی جعل لکم الارض الخ. الله تعالی ستاسو په خاطر زمکه او آسمانونو پیدا کړل تاسو ته ئے ښائسته شکلونه درکړل او ستاسو دپاره ئے د حلالو او پاکیزه رزق انتظام اوکړو. ذلکم الله ربکم (الآیة) دا د دویم عقلی دلیل ثمره ده. د مذکوره بالا صفتونو والا الله ستاسو رب او کارساز دے او هغه د ټولو پروردګار دے. د دے وجه نه غائبانه هغه رابللی.

تخویف دنیوی

اولم یسیروا فی الارض ـــــ تا ـــــ انه قوی شدید العقاب ۰ (۲۲). دا د مکے مشرکانو ته زمکه کښ ته ګرځی چه د هغه سرکش قومونو انجام اوګوری کوم چه د دوئ نه په قوت او کارنامو کښ ډیر زیات وو کله چه مونږ د ګناه په سزا کښ هغوئ او نیول نو د هغوئ د غه معبودان هغوئ خمونږ د عذاب نه خلاص نه کړل کوم چه ئے دنیا کښ کارساز ګنړل او رابلل به ئے. ددینه روستو ولقد ارسلنا موسٰی بآیٰتنا (۲۳) ـــــ تا ـــــ وحاق بآل فرعون سوء العذاب (۴۵). د تخویف دنیوی یو مفصّل نمونه ذکر کړے شویده. النار یعرضون علیها ـــــ تا ـــــ وما دعاء الکافرین. الا فی ضلٰل ۰ (۵۰) دا تخویف اخروی دے. انا لننصر رسلنا (الآیة) دا نبی علیه السلام ته تسلّی ده اول ځل. ددینه روستو فاصبر ان وعد الله حق (الآیة) کښ دوباره تسلّی ده. دویمه حصه: دویمه حصه کښ د اول حصے د مضامینو اعاده ده.

۱- اعاده دلیل وحی:

قل انی نهیت ان اعبد الذین تدعون من دون الله الآیة ۶۶) د غیر الله دعا او عبادت ته ما د حیل ځانه د شرک نه دے ویلے بلکه الله تعالٰی د وحی په ذریعه ما منع کړے یم چه زه معبودانے باطله رااوبلم او ما ته حکم راکړے شوے دے چه صرف د الله تعالٰی فرمانبرداری بنده

شم چه هغه د ټولو کائنات مالک او کارساز دے۔

اعاده داولئے دلیل عقلی الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا (۷۰) دا دلیل نقلی اجمالی طرف ته اشاره ده وَمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ نه د توحید مسئله مراد ده۔

اعاده دلیل عقلی اوّل هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ـــــ تا ـــــ كُنْ فَيَكُوْنُ ○ (۶۸) الله تعالیٰ ټول انسانان پیدا کړل د مور په رحم کښې د تخلیق ټول مدارج نه تیرولو سره په اَحسن تقویم کښې پیدا کړه او د دنیا په زندګئ کښې ئے ټول ضروریات برابر کړل۔ ژوندا او مرګ د هغه په قبضه کښې دے د دے وجه نه هغه کارساز او حاجت روا دے په حاجتونو کښې غائبانه آواز هغه ته کول پکار دی۔

دلیل عقلی دویم اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ ـــــ تا ـــــ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ○ (۸۱) الله تعالیٰ انسانانو د پاره چارپایان پیدا کړل چه په هغے کښې څنې خوړلې او باراو ړلو د پاره په کار راځي او څنې د لسے دی چه د هغے غوښه خوړلے شي او پے څه څښلے شي کوم محسن حقیقي چه دا ټول نعمتونه درکړي دي هغه مالک او معبود او متصرف کارساز دے په مصیبتونو او حاجتونو کښې صرف هغه ته آواز کول پکار دي۔

۲۔ اعاده د تخویف دنیوی اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا ـــــ تا ـــــ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ○ (۸۵) د مخکے مشرکانو د هغے سرکش قومونو انجام او نه لیدو څوک چه د دوئ نه زیات طاقتور او زیات دولتمند وو۔ هغوئ خپلو پیغمبرانو د دوغ او ګڼړل نو موږ هغوئ په دنیا کښې اونیول او د سرکش خلقو د پاره خپل دا قانون دے۔

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة مؤمن سله په مکه کښې نازل شوې ده کښې پنځه اتیا ایتونه او نهه رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

حٰمٓ دے نازلول د کتاب دے د الله له طرفه دي چه غالب دے

الْعَلِيْمِ ﴿۲﴾ غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ

او خبردار گناه بخوونکے دے او توبه قبلوونکے دے سخت

الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ إِلَيْهِ

سخت عذاب ورکوونکے خاوند د فضل دے دهیڅوک بندګي لښته سوا د هغهٔ نه. هغه طرف ته

الْمَصِيرُ ③ مَا يُجَادِلُ فِي آيَاتِ اللّٰهِ إِلَّا

واپس ورتلل دي نهٔ هغه څوک جهګړه کوي د الله په خبرو کښی

الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي

هغوی چه منکر دي نو تا ته دے دهوکه نه درنه کړي دا خبره چه هغوی ګرځي راګرځي

الْبِلَادِ ④ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَالْأَحْزَابُ

په ښارونو کښی دروغ ګڼلي ووه دوی نه مخکښی د نوح قوم او ډیرو ټولونو

مِنْ بَعْدِهِمْ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ

د دوی نه روستو او اراده اوکړه هر اُمت په خپل رسول باندے

لِيَأْخُذُوهُ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا

چه هغه اونیسي او راغے وړلے جهګړے باطل (په دوکه) چه مغلوب کړے په هغے سره

بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤

په هغے سره رښتونے دین بیا مونږه هغوی اونیول او دا په بیا څنګه شوه څما سزا ورکول ئے

نکات

سلے مشتمل په شلورو عنوانانو ۱۲ سلے اول عنوان ۱۲ سلے دویم عنوان ۱۲- سلے اوله طریقه دَ اصلاح ۱۲- سلے دویمه طریقه د اصلاح ۱۲-

تفسیر

علے حٰمٓ ۰ سورة مؤمن په حوامیم سبعه کښ دے عبدالله بن مسعودؓ نه نقل شویدي چه حٰمٓ د الله تعالیٰ اسم اعظم دے قال ابن عباسؓ حٰمٓ اسم الله الاعظم (قرطبی، مدارک، معالم، خازن) حضرت ابن عباسؓ نه منقول دی چه د هر شیز مغز او خلاصه وی او د قرآن مجید خلاصه حوامیم دی، یعنی په مصیبتونو او حاجتونو کښ صرف الله تعالیٰ رابلئ. ان لکل شیٔ لبابا وان لباب القرآن الحوامیم (روح ج ۲۴ ص ۳۹ خازن، معالم ج ۶ ص ۲۳) - د نبی علیه السلام ارشاد دے الدعاء مخ العبادة په مصیبتونو او حاجتونو کښ آواز کول د عبادت مغز او لب لباب دے او حوامیم کښ چونکه د دغه مغز عبادت بیان دے د دے وجه نه ابن عباسؓ حوامیم ته د قرآن لُبِ لباب اوویل او هم د دے وجه نه حضرت ابن مسعودؓ فرمائی چه حوامیم د قرآن مجید ډیر اعلیٰ درجه حصه ده الحوامیم دیباج القرآن (روح) ج ۲۴ ص ۳۹ قرطبی ج ۱۵ ص ۲۸۸) -
دا الفاظ مرفوعاً هم روایت شوی دی. (بحر ج ۷ ص ۴۳۶ قرطبی) -

(بحر ج ۷ ص ۴۳۶، قرطبی). ۳ه تنزیل الکتب الخ دے ځائے نه واخله فالحکم لله العلی الکبیر ○ (ع ۲۶) پورے تمهید دے چه په شلو (عنوانات) باندے مشتمل دے اول عنوان تنزیل الکتب ... تا ... الیه المصیر ○ او دا دلیل وحی هم دے. دا حکمنامه د لوئے شهنشاه له طرفه (نازل) شوے چه په ټولو غالب او ټول هر څه نه خبر دے څوک چه د دے حکمنامے طرف ته رجوع کوی دا او منی د هغوی ګناه معاف کوی او د هغوی رجوع قبلوی لیکن دے ته د هم خیال او کړے شی چه سرکش او نه منونکو د پاره د هغه عذاب هم ډیر سخت دے او هغه د قدرت طاقت مالک دے کله چه اوغواړی نو مجرمان اونیسی هیڅوک د هغه د قدرت نه بهر نه دی او د توبه قبلولو او ګناه معاف کولو قدرت هم هغه ته حاصل دے د هغه نه سیوا څوک د عبادت او د رابللو لائق نشته چه د هغه پناه د خدائے د ګرفت نه څوک خلاص کړی نو ټول په هغه سره حاضریږی څوک هم د هغه نه لښی تښتیدلے. دا عظیم الشان حکمنامه د هغه عالی مرتبت شهنشاه ده دا او منئ او د دینه مخ مه اړوئ.

غافر الذنب وقابل التوب. دا واړه د لفظ جلالت (الله) صفتونه دی دا ئے د واو په ذریعه دے وجهه یو ځائے کړل چه د دواړو مجموعه په حقیقت کښ یو صفت دے. قال الشیخ رحمه الله تعالی. لا اله الا هو الیه المصیر دا دواړه جملے یا خو مستانفه دی یا د لفظ جلالت (الله) نه حال واقع شوی دی، یا د هغه صفتونه دی. لیکن د دے صفت کیدلو په صورت کښ اعتراض وارد یږی چه لفظ جلالت اعرف المعارف دے او جمله د معرفے صفت نشی جوړیدلے نو د دے جواب دا دے چه کله مضمون جمله په هغه معرفه کښ منحصر وی نو جمله د هغے صفت جوړیدے شی او دلته هم دا شان ده لهذا اعتراض ساقط دے قاله الشیخ قدس سره.

۵ه فلا یغررک الخ. دا د اصلاح اوله طریقه. تقلب مصدر د تقلیل او تحقیر د پاره دے لکه چه مخکښ راغی انما هذه الحیوة الدنیا متاع وان الاخرة هی دار القرار ○ (ع ۵۶). متاع خالص نفع اخستل او په سورة حدید (ع ۳) کښ ئے دا مضمون داسے بیان کړے دے. اعلموا انما الحیوة الدنیا لعب ولهو وزینة وتفاخر بینکم وتکاثر فی الاموال والاولاد. د دنیا محض تفاخر او تکاثر فی الاموال والاولاد دے یعنی د اخرت په مقابله کښ قلیل او حقیر ده او په سورة آل عمران (ع ۲۰) کښ ئے د دنیا تقلیل او تحقیر داسے بیان کړے دے لا یغرنک تقلب الذین کفروا فی البلاد ○ متاع قلیل قف ثم ماوٰهم جهنم وبئس المهاد ○ حاصل دا شو د خدائے په حکمنامه کښ د جهګړه کوونکو او د هغے د نه منونکو د عیش نه ډکه ژوندګی په لویو لویو ښارونو کښ د هغوی فراخ تجارتی کاروبار او د هغوی د دولت زیاتوالے د دنیا په دهوکه کښ وانه چوی دا خو محض په دنیا کښ څو ورځے نفع ده د دے عاقبت تباهی ده او همیشه عذاب دے. لا یغرنک ما هم فیه من الخیر والسعة فی الرزق فانه متاع قلیل فی الدنیا (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۹۲)

۶ه ما یجادل الخ. دا دویم عنوان دے په ایت الله کښ وضع الظاهر موضع المضمر ایضاح او د حکمنامے د عظمت شان ښکاره کولو د پاره دے اصل کښ فیه وقیل وو- الذین کفروا ای ستروا الحق عنادا (مدارک فی موضع آخر) یعنی دا حکمنامه د ډیر لوئے پادشاه له طرفه ده او سراسر حق او ظاهر او باهره ده اوس به په دیکښ صرف معاندین جدال (جنګ) کوی نو خلق چه ضدیان نه دی هغوی به ئے او منی دینه پس د دعوی د منکرینو د اصلاح د پاره درے طریقے مذکور دی

۷ه کذبت الخ دا د منکرینو د اصلاح دویمه طریقه ده. الله تعالی د جدال په وجه سره همیشه معاندینو ته عذاب ورکوی مثلاً د نوح علیه السلام قوم

اوّ دهغهٔ نه روستو نور قومونه چا چه حق د رووغ اوګڼړو لیکن صرف تکذیب (د رووغ ګڼل) اګرچه دغضب الٰهي موجب دے لیکن دُ دنیاوی عذاب موجب نشي جوړیدلے د ے قومونو دوه نور لوئے جُرمونه اوکړل چه دهغے په وجه سره هغوئ په دُنیا کښې دعذاب نازلیدلو مستحق اوګرځیدل اوّل دُهر اُمّت معاندینو دحق پیغام راوړونکی رسول ته دتکلیف رسولو بلکه دهغهٔ دقتل کولو کوشش اوکړو. دویم دهغوئ دباطل په ذریعه سره دحق راغورځولو اوُدهغه دَمغلوب کولو کوشش اوکړو دهغے نتیجه دا شوه چه مونږ په دنیا کښې هغوئ اونیول اوُدا سے عذاب مونږ راولیږلو چه دهغوئ نام او نشان ئے ختم کړو. اودا ئیئ څنګه عذاب څنګه وو تا سو دهغه تباه شوو کلو په خوا کښې تیریږئ اوُدالله دعذاب نښے په خپلو سترګو وینئ ډیو ولی الله قول دے ے

چیت خدایا برګرا بینـدازي بما اندازی. اے الله! ځه وجه ده چه ته دچا دغورځولو اراده کوے نو هغه مونږ ته مقابله کوی یعنی هغه ځمونږ په وژلو آماده کیږی نو ته هغه په عذاب کښې مبتلا کوے. مولوی معنوی ویلے دي ے

ریح قومے را خدا رسوا نه کرد تا دل صاحب دلے نه آمد به درد

لکه چه دالله تعالیٰ ارشاد دے وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا (بنی اسرائیل ۲۴) بل ځائے کښې ئے اوفرمائیل جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ. (البقرة رکوع ۱۲) ىکـه بِالْبَاطِلِ شبهات واهیه چه د دوئ مشرک رهنمایانو جوړکړیدی چه په هغے سره ئے دشرک تائید کولو قال یحییٰ بن سلام: جادلوا الانبیاء بالشرک لیبطلوا به الایمان (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۹۳) جادلوا رسلهم بالباطل ای بایراد الشبهات لیدحضوا به الحق ای ان یزیلوا بسبب ایراد تلک الشبهات الحق والصدق (کبیر جلد ۷ ص ۲۹۴).

وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ

ے اوُهم داشان واجب شویده خبره ستا د رب په منکرینو باندے

كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۶﴾ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ

چه هغوئ دی د دوزخ والا ف کوم خلق چه پورته کوی

الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

عرش او کوم چه دهغه ګیر چاپیره دی وائی د خپل رب صفتونه

وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او په هغه یقین لری او بښنه غواړی مات د ایمان والو دپاره

رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ

اے پروردګاره! ځمونږ هر څیز ته رسیدلے دے ستا بخشش (مهربانی) او خبر نو معاف کړه

لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ

هغه خلکو لره چه توبه ئې اوباسلې او روان شي ستا په لاره او بچ کړه هغوئي د عذاب

الْجَحِيْمِ ۝٧ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ۣالَّتِيْ

د اور نه اے ځمونږ ربه! او داخل کړه الله هغوئي د همیشه اوسیدلو باغونو نه د کوم

وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ

چه وعده کړې ده تا د هغوئي سره او هغه خلکو چه نیک دي د هغوئي د پلارانو او د ښځو نه

وَذُرِّيّٰتِهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٨ۙ وَ

او د اولاد نه بیشکه ته ئې غالب، حکمت والا او

قِهِمُ السَّيِّاٰتِ ۭ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَىِٕذٍ

[2] اے او ساته هغوئي د بدو نه۔ او هغه خلک چه ته بچ کړې د بدو نه په هغه ورځ

فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ۭ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٩ۧ اِنَّ

په هغه مهربانی اوکړه: او دا چه کوم دے هم دا لوئے مراد موندل دي [ف2] کوم

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ

خلق [3] اے چه منکر دي هغوئي ته به آواز اوکړے او به وئیل شي د الله بیزاره کیدل زیات د هغې نه

مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ

چه تاسو کوم بیزاره شوے ئې د خپل ځان نه کوم وخت چه به تاسو رابلل شوئي ایمان راوړلو ته

فَتَكْفُرُوْنَ ۝١٠

بیا تاسو منکر شوے وئ [ف3]

نکات

[1] در همه طریقه د اصلاح ۱۲ [2] در دریم عنوان ۱۲ [3] اعاده د بُعد عهد په وجه. [4] څلورم عنوان ۱۲۔

موضح قرآن

[ف2] یعنی اګرچه جنت خو هر چا ته د خپل عمل سره ملاویږي ښځه، خوئے، مور، پلار پکار نه راځي لیکن ستا حکمت نه دلته دي چه د یو په سبب او خاطر ډیرو ته اعلیٰ درجات ورکړي د خپل عمل نه زیات

اوَدا به هُم دهغوئ دعمل قلبي بدلوئ چه دوئ به اُرښه وکوی چه مونږ دده په شان عمل کړے وے دهغوئ دغه دنیکئ نیت اؤ حرص به قبول کړے شي ۱۲۔

ف۲ یعنی که ستا مهربانی اوشوه نو دبدکارونو نه به مونږ کړے شي خپل عمل سره هیڅوک نشي بچ کیدلے ډلږے بدئ نه څوک خالی دے۔

تفسیر

ف۵ وکذالک الخ دا دریمه طریقه ده دَ اصلاح وکذالک کښ کاف په معنٰی دلام تعلیلیه دے ای لذالک یعنی دے جدال په وجه سره ستا دَرب خبره په دے معاندینو باندے ثابته شوے ده چه هغوئ جهنمي دی۔ انهم اصحٰب النار، دکلمه نه بدل دے۔ وجوزان یکون فی محل رفع علی انه بدل من (کلمة ربک) بدل کل من کل۔ (روح جلد ۲۴ ص۴۴)۔

ف۶ الذین یحملون الخ دا دریم عنوان دے کوم خلق چه داحکمنامه مني دا الله دعرش حاملین به هغوئ دپاره اؤ دهغوئ دَ آباء دپاره اؤلیدا اد دپاره (پلرونو نیکونو) اؤ دهغوئ دال دپاره اؤ اولاد دپاره دَ دُعا کانے کوی یعنی کوم خلق چه داحکمنامه اومني هغوئ به د فرشتو په دُعا کانو کښ شامل کړے شي دا مُراد نه دے چه هغوئ په دُعا کانو کښ دغه انسانانو نوم اخلی۔ ځکه چه هغوئ عالم الغیب نه دی۔ الذین یحملون العرش۔ دینه هغه فرشتے مُراد دی کوم چه دعرش الٰهي حاملین (پورته کوونکی) دی حاملان دعرش الٰهي۔ اؤ نورے فرشتے چه دعرش څلور واړو طرفونو ته صف تړونکی ولاړے دی۔ دهغوئ ټول وخت پروتې داده چه هغوئ دالله تعالٰی حمد اوثنا اؤ دهغه په تسبیح اؤ تقدیس کښ مصروف دی په الله باندے دهغوئ ایمان ډیر زیات کامل دے یا په دے حکمنامه دهغوئ ایمان مستحکم دے قال الشیخ رحمه الله تعالٰی دَ فرشتو دایمان ذکر ئے اوکړو اګرچه ضرورت نه وو لیکن دایمان اؤ اهل ایمان دفضیلت ظاهرولو دپاره دهغوئ ذکر اوکړے شو۔ (روح)

ف۷ ویستغفرون الخ دالله تعالٰی حمد وثناء اؤ تسبیح وتقدیس سره سره هغه فرشتے دایمان والو دپاره داشان دُعا کانے کوی۔ ربنا وسعت خمونږ پروردګاره! ستا رحمت هرڅه ته شامل اؤ ستا علم په هرڅیز احاطه کوونکے دے دغه ایماندارو ګناه معاف کړه چا چه په رښتیا سره توبه اوویستله اؤ دَ هدایت په لاره اؤ صراط مستقیم باندے روان شویدی اؤ هغوئ د جهنم دعذاب نه خلاص کړه

ف۸ ربنا وادخلهم الخ ربنا اعاده کول دبعد عهد په وجه دے۔ اے خمونږ پروردګاره! هغوئ په همیشه هغه جنتونو کښ داخل کړه د کوم وعده چه تا سو هغوئ سره په عمل صالح کړیده اؤ هغوئ سره دهغوئ مور پلار، بیبیانے اؤ دهغوئ اولاد هم په جنت کښ داخل کړه چا چه ضد اؤ انکار اونه کړو اؤ دهغوئ په پیروئ کښ ئے ایمان اؤ نیک عمل ئے په ځانے راوړو بیشکه ته غالب ئے

خو چه غواړی هغه کولے شی حکمت والا دے شوک تابع او شوک متبوع جوړه دی او جنت ته ئے داخلولے شی ۔ وَمَنْ صَلَحَ الخ څوک ئے ایمان راوړه، مور پلار ضد او نه کړو او بالتبع د څوئے ایمان دو وجه نه دے ایمان راوړه نو د هغوئ دا ایمان به قبول کړے شی او د هغوئ به بالتبع جنت ته داخل شی قاله الشیخ قدس سره ۔ والظاهر العطف علی الاول وان دعاء بالادخال فیه صریح وفی الثانی ضمنی والظاهر ان المراد بالصلاح الصلاح المصحح لدخول الجنة وان کان دون صلاح المتبوعین (روح ج ۲۴ ص ۴۸)

۱۲ے وَقِهِمُ الخ السیئات نه مراد عقوبات دی یا جزاء السیئات علی المضاف ۔ ای العقوبات لان اجزاء السیئة سیئة مثلها او جزاء السیئات علی حذف المضاف (ابو سعود ج ۷ ص ۲۹۶) او هغوئ د گناهونو د سزا نه بچ کړه او چا لره چه تا د دغه ورځے یعنی په دُنیا کښ یا په آخرت کښ د سزا نه بچ اوساتلو نو په هغه باندے ستا خالص رحمت اوشو او هم دا د ټولو نه لویه کامیابی ده چه انسان محض د الله په رحمت د هغه عذاب نه بچ شی ۔

۱۳ے اِنَّ الَّذِیْنَ الخ دا تخلوم عنوان دے چا چه دا مکنامه او نه منله په هغه باندے به د الله تعالیٰ غضب وی کله چه هغوئ په جهنم کښ داخلولے شی نو هغوئ ته به آواز اوکړے شی ورته به اووئیلے شی چه نن تاسو خومره په خپلو ځانونو باندے غضبناک یئ چه په دُنیا کښ به تاسو ته د ایمان دعوت ورکولے شو نو تاسو به انکار کولو چه مخکښ راغلے ۔ اَلَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ فِیْٓ اٰیٰتِ اللّٰهِ بِغَیْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَ عِنْدَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ؕ (۴۶) . دا اذ ظرف عامل مقدر دے ای یمقتکم او دا ظرف مقتکم انفسکم سره نشی متعلق کیدلے حکه چه دے کښ د آخرت حال ذکر شوید ے او اذ تدعون کښی د دنیا حال طرف ته اشاره ده ۔ دا شان لَمَقْتُ اللّٰهِ سره هم نشی متعلق کیدلے حکه چه دے صورت کښ به د مصدر مبتدا ، معمول د هغه د خبر نه مؤخر شی او دا جائز نه ده (مدارک بحر) لیکن علامه ابن حاجب وائی چه په ظروف کښ د دے گنجائش شته ۔ وفی امالی ابن حاجب لا باس بذلك لان الظروف متسع فیها (روح ج ۲۴ ص ۵۰) ۔

قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَیْنِ وَاَحْیَیْتَنَا اثْنَتَیْنِ

کلك وائی به اے خشتن زمونږه! تا مونږه مړه کړلو ځلے دوه ځل او ژوندی دِ را کړو دوه ځل

فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ اِلٰی خُرُوْجٍ مِّنْ

اوس مونږه قائل شو په خپلو گناهونو بیا اوس هم شته د وتلو ځلے کوم یوه

سَبِيلٍ ﴿١١﴾ ذٰلِكُمْ بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

لاره وت ۲ دا هله (همیشه عذاب) په تاسو څکه دے چه کله به آواز او کړے شو الله ته یواځې

كَفَرْتُمْ ۚ وَإِنْ يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا ۚ فَالْحُكْمُ

نو تاسو به انکار اوکړو او کله چه به ئے آواز کولو هغه ته سره د شریک نو تاسو به ایمان راوړو ولے او س حکم

لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴿١٢﴾ هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ

هغه دے کوم چه الله ته دے چه اوچت دے او ډیر لوئے دے (الله) هغه دے چه تاسو ته ښائي

آيَاتِهِ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ رِزْقًا ۚ وَ

خپلې نښې (د قدرت) او نازلوي ستاسو د پاره د آسمان نه روزي او

مَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَنْ يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ

نصیحت هغه قبلوي څوک چه رجوع کوي (الله ته). پس آواز کوئ ولے الله ته

مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿١٤﴾

او خالص کوئ هغه د پاره بندګي ولے اګر چه بد ګڼړي کافران ولے.

رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ يُلْقِي الرُّوحَ

(الله) هغه دے اوچتو درجو والا مالک د عرش ولے نازلوي د راز خبره

مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

خپل حکم سره په چا چه اوغواړي خپلو بندګانو کښې.

لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُمْ بَارِزُونَ ۚ

د دے د پاره چه او ویروي (خلق) د ملاقات د ورځے نه ولے کومه ورځ چه به خلق ښکاره ولاړ وي

لَا يَخْفَىٰ عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۚ لِمَنِ

(د قبرونو نه) پټ به نه وي به الله باندے د هغوئ هیڅ څیز د چا

الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾

حکومت دے نن ورځ. د الله دے چه یو دے او غالب دے.

نکات

۱ جواب مقدر دے ۱۲ ۲ د مقدر جواب علت ۱۲ ۳ او خل د دعوی ذکر ۱۲ ۴ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی نن تاسو په خپل ځان باندے غصه کیږئ په دُنیا کښ چه کله تاسو کفر کولو الله دے نه زیات په تاسو غصه کیده ځکه بدله نن بیا مومئ۔ ف۲ اول خاوری وو یا نطفه لو مړه وو بیا په کښ روح واچول شو بیا مړهٔ شول بیا ژوندی شول، دوه مرګه شول او دوه ژوند ۱۲۔

فتح الرحمن

ف۱ یعنی په دوزخ کښ به په خپل ځان باندے بد دُعائ کوی کاش چه مونږ معدوم شوے او ورک شوے او دا هغه د خپل ځان دشمنی ده والله اعلم. وَيُمْكِنُ چه معنیٰ دا شان وی. بیشکه دشمنان ګڼړل د الله تاسو له ډیر سخت دی د دُشمن ګڼړلو ستاسو خپل ځانونو لره هغه چه را بللے شئ ایمان ته بس کافران پاتے شوئ یعنی د ایمان نه قبلول د خپل ځان سره دُشمنی ده اګرچه پوهه دے نه پوهیدل لو جزاء د دے خپل ځان دشمنی د هغه الله دشمنی شوه دوی سره لیکن سختی او عذاب دلته ښکاره شو۔

ف۲ مترجم وائی نطفه وه. الله تعالیٰ په کښ روح واچولو او د هغے نه روستو ئے روح قبض کړلو او بیا ئے ژوندے کړلو ۱۲۔ والله اعلم ۱۲۔

تفسیر

۱۱ قالوا الخ جهنم ته داخلیدلو نه روستو به مشرکان د جهنم نه د وتلو لار تلاش کوی او وائی به اے خمونږ پروردګاره! تا مونږ دوه ځل مړهٔ کړلو او دوه ځل دِ ژوندی راکړو، مونږ د خپلو ګناهونو اعتراف کوو او د کوم حشر او نشر نه چه مونږ انکار کولو نن مونږ په هغه ایمان راوړو۔ آیا اوس کوم صورت شته چه مونږ د دوزخ نه او باسئ که یو ځل بیا مونږ ته د دنیا ژوند ملاؤ شی لو مونږ به ستا پوره پوره تابعدار منونکی جوړ شو. والمراد طلب الخروج نظیره (فارجعنا نعمل صالحا) (سجده) د اول مرګ نه مراد عدم دے کله چه هغوئ د پلارانو په شاګانو کښ وو او دویم مرګ هغه دے چه د دُنیا ژوند ختموی او اول ځل ژوندی کولو نه په دُنیا کښ پیدا کول مراد دے، او دویم ځل ژوندی کولو نه بعث بعد الموت مراد دے. قال ابن مسعود وابن عباس وقتادة والضحاك "كانوا امواتا فی اصلاب اباءهم ثم احياهم ثم اماتهم الموتة التی لابد منها فی الدنيا ثم احياهم للبعث والقيامة، فهاتان حياتان وموتتان وهو قوله تعالى كيف تكفرون بالله وكنتم امواتا فاحياكم ثم يميتكم ثم يحييكم (قرطبی ج ۱۵ ص ۲۹۶).

۱۵ ذالكم الخ په اصل کښ دا جواب نه دے بلکه د جواب علت دے او د جواب قائم مقام دے. او جواب مقدر دے ای لاسبيل الى الخروج یعنی اوس د جهنم نه د وتلو هیڅ صورت نشته ځکه چه په دُنیا کښ ستاسو دا حال وو چه کله به د یو خدای آواز کیدلو نو تاسو به د هغه د وحدانیت نه انکار کولو او کله چه به د هغه

سره چا شرک کولو نو په شرک باندې به تاسو ایمان راوړو. جواب کښې د اختصار په غرض د جواب علت بیانولو د پاره تفصیل بیان کړې شو. دا شان دا بیان اوکړے شو چه بل څوک هم د ویستلو طاقت نه لري. وفی الکلام متروک تقدیره فاجیبوا بان لاسبیل الی الرد و ذالک لانکم اذا دعی الله وحده الخ (قرطبی) ای ذلکم الذی انتم فیه وان لا سبیل لکم الی خروج قط بسبب کفرکم بتوحید الله وایمانکم بالاشراک به (مدارک).

۱۶ فَالْحُكْمُ الخ دالله تعالیٰ نه سوا د بل چا طاقت هم نشته چه هغه دوئ د دوزخ نه اوباسی حکم چه فیصله ده دالله تعالیٰ نافذ کیږی چه بلند او اعلیٰ دے او س په پوره او کامل ډول حکومت دالله په قبضه کښې او په اختیار کښې دے او د هغه فیصله هم دا ده چه مشرکان به همیشه همیشه د پاره په جهنم کښې اوسیږی. دے کښې د دے خبرے دلیل بیان کړے شوے دے چه د بل کوم یو تن هم دا طاقت نشته چه هغوئ د دوزخ نه بهر ته اوباسي.

۱۷ هُوَ الَّذِیْ الخ دتمهید نه وروستو دحکمنامے دمنلو ترغیب دے. هغه داسے مهربان بادشاه دے چه دخپل قدرت او وحدانیت دلائل هم تاسو ته ښکاره او د اسمان نه باران اوورَوی ستاسو د روزئ انتظام هم کوی، د دے وجه نه د هغه حکمنامه ضرور منل پکاردی. وما یتذکر الخ لیکن هغه څوک به ئے مني څوک چه ضد او عناد پریکدی دالله په ایتونو کښې غور وفکر کوی او د الله طرف ته رجوع کوی.

وَمَا یتعظ وما یعتبر بایات الله الامن یتوب من الشرک ویرجع الی الله فان المعاند لایتذکر ولا یتعظ (مدارک) تائید:. اَللّٰهُ یَجْتَبِیْٓ اِلَیْهِ مَنْ یَّشَآءُ وَیَهْدِیْٓ اِلَیْهِ مَنْ یُّنِیْبُ ○ (شوریٰ ۱۳). مَنْ خَشِیَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَیْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِیْبٍ ○ (قٓ ۳۳). واتبع سبیل من اناب الیّ (لقمان ۱۵).

۱۸ فَادْعُوا الخ تمهید او ترغیب نه وروستو اول ځل دعویٰ ذکر دے فاء فصیحه ده او دا د شرط محذوف دے ای اذا کان الامر کما ذکر من اختصاص التذکر بمن ینیب فاعبدوه ایها المؤمنون مخلصین له دینکم الخ (ابوالسعود ج۷ ص۲۷۲) یعني چه کله معامله دا ده چه صرف انابت کوونکی نصیحت قبلوی نو د ایمان والو تاسو خالصة الله ته اواز کوئ. لیکن د حضرت شیخ قدس سره په نزد فادعوا الله مخلصین له الدین د دے سورة مرکزی دعویٰ ده چه د سورة د ابتداء نه واخله تر دے ځائے پورے د بیان شوے تمهید او ترغیب ټول مضمون باندے مرتب ده چه د هغے حاصل دا دے کله چه تاسو ته معلومه شوه چه دا حکمنامه چه په فادعوا الله الخ مضمون باندے مشتمل ده د داسے لوئے شهنشاه له طرفه ده چه مهربان هم دے او شدید العقاب هم دے کښې به جدال صرف معاندین کوی. لیکن کوم خلق چه دا حکمنامه مني دالله تعالیٰ فرښتے به د هغوئ د پاره دعاګانے کوی او څوک چه دا حکمنامه او نه مني هغه به د الله تعالیٰ د غضب او قهر سزا وار ګرځي. دا حکمنامه د ډیر لوئے مهربان او محسن بادشاه ده چه تاسو ته دخپل توحید نښانات هم ښکاره کوی، لیکن مني به ئے هغه څوک چه

د الله طرف ته را ثابت کوی کله چه تاسو د اتول هرڅه واوریدل نو اوس په حاجتونو مصیبتونو کښې ما فوق الاسباب صرف الله تعالیٰ ته آواز کوئ او د هغه سره په را بللو کښې هیڅوک شریک مه ګرځوئ۔ تقدیر د عبادت په داشان وی۔ اذا سمعتم ما ذکر فادعوا الله مخلصین له الدین۔

۱۹ ولو کره الکافرون، تاسو په هر حالت کښې صرف الله تعالیٰ ته آواز کوئ اګرچه مشرکان ستاسو په نوم او نشان ختمولو کښې کوشش کوی دا به نه خوښوی او د قهر او غصې نه به سوزی ای اعبدوه مخلصین له الدین من الشرک علی کل حال حتی فی حال غیظ اعدائکم المتمالئین علیکم وعلی استئصالکم (بحر ج۷ ص۴۵۲) حضرت شیخ قدس سره فرمائی چه د قتل ذکر ځکه اونه کړو چه د دُعا او پکار تعلق د ژبې سره دے او په صورت د اکراه کښې د قتل نه د بچ کیدلو د پاره ژبې سره د کلمهٔ شرک د ویلو رخصت دے په دے شرط چه د زړهٔ په ایمان قائم وی لکه چه ارشاد دے الا من اکره وقلبه مطمئن بالایمان. (النحل ۱۰۶)۔

۲۰ رفیع الدرجات دا د سورة د دعوے اهمیّت طرف ته اشاره ده داحکمنامه د کوم د پاره چه د دومره اوږد تمهید ذکر شوے دے څه معمولی نه ده بلکه دا د رفیع الشان د عرش عظیم د مالک بادشاه حکمنامه ده چه د دے نه مخکښې ئے هم په خپلو پیغمبرانو باندے حکمنامے نازل کړے دی دے د پاره چه دهغه بندګان د دے تعمیل اوکړی او د اومنی د قیامت د سختو او تکلیفونو نه بچ شی۔ رفیع الدرجات۔ د اوچت او عظمت شان والا۔ هو المرتفع بعزمته فی صفات جلاله وکماله ووحدانیته المستغنی عن کل ما سواه وکل الخلق فقراء الیه (خازن ج۶ ص۷۷) عبارت عن رفعة شانه وعلو سلطانه کما ان قوله ذوالعرش عبارة من ملکه وبنحوه فسر ابن زید قال: عظیم الصفات (بحر ج۷ ص۴۵۵)۔

۲۱ یلقی۔ صیغهٔ د مضارع د ماضی استمراری په مفهوم کښې ده یعنی همیشه اچوی والاستمرار التجددی المفهوم من (یلقی)۔ ظاهر فان الالقاء لم یزل من لدن آدم علیه السلام الی انتهاء زمان نبینا صلی الله تعالیٰ علیه وسلم (روح ج۲۴ ص۵۶)۔ دے صورت کښې به د الروح نه مطلق وحی مراد وی. وحی ته ئے روح د دے وجه نه ویلو چه د کوم روح نه بدن ته حیات حاصلیږی داشان وحی الٰهی سره چه کوم احکام نازلیږی هغه د خلقو د حیات ذریعه ده. الوحی الذی تحیا به القلوب (مدارک) حیاة الارواح بالمعارف الالٰهیة والجلایا القدسیة فاذا کان الوحی سببا لحصول هذه الارواح سمی بالروح فان الروح سبب لحصول الحیاة والوحی سبب لحصول هذه الحیاة الروحانیة (کبیر ج۷ ص۳۰۶)۔ حاصل دا دے چه د وحی او د توحید پیغام چه کوم دے پورے د زړونو حیات تړلے شوے دے دومره ډیر اهم دے چه الله تعالیٰ دا همیشه په پیغمبرانو نازلوی دے د پاره چه هغه د انبیاء علیهم السلام په وساطت سره

بندګانو د قیامت د ورځې د آفات نه خبر کړی او هغوئ ته د الله تعالیٰ حکمونه او منع د هغې نه خلاصې او موجی لیکن که چرې د الروح نه قرآن مجید مراد وی لکه چه حضرت ابن عباسؓ (بحر، روح) او ابن زیدؓ (قرطبی) نه نقل شوې دې نو په دې صورت کښې به یلقی په حال مستمر باندې محمول وی. یعنې اچوی او نازلوی. اول صورت کښې به من یشاء الخ نه تول انبیاء علیهم السلام مراد وی. وهم الانبیاء هوان یکونوا انبیاء، ولیس لاحد فیهم مشیئة (قرطبی ۱۵ ص ۲۹۹) او په دوئم صورت کښې به د دې نه حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم مراد وی.

۲۲ یَوْمَ هُمْ بَارِزُوْنَ. دا د یوم التلاق نه بدل دې. د قیامت په ورځ به ټول انسانان په یو میدان کښې یو بل سره مخامخ وی او څوک به هم د هغې د نظر نه پناه نه وی او نه به د هغوئ کوم حال او عمل د هغه نه پټ وی. لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ. د هغه وخت به د الله تعالیٰ له طرفه سوال وی. نن بادشاهی د چا ده؟ دا سوال به د الله تعالیٰ له طرفه یو آواز کوونکے (منادی) پیش کوی د دې په جواب کښې به ټول مؤمنان او کافران وائی لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ. نن بادشاهی د الله تعالیٰ ده چه یو دې او غالب دې (روح، قرطبی).

۲۳ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى. نن من کل الوجوه د یو واحد قهار حکومت دې چه د لته هغه سره ظلم نشته. د دې وجه نه هر سړی ته به د هغه د اعمالو پوره پوره بدله ملاویږی په هیچا به ظلم زیاتے نه کیږی، د چا حق تلفی به نه کیږی او چا ته به د نا کرده ګناه سزا نه ملاویږی. اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ. د دومره ډیر مخلوق نه حساب کتاب اخستل او بیا ټولو ته د هغوئ د اعمالو مطابق جزاء او سزاء ورکول په ظاهره مشکل معلومیږی لیکن دا اشکال صرف زمونږ په نظر کښې دې د هغه واحد او قهار او قادر مطلق د پاره هیڅ مشکل نه دې هغه به ډیر زر د ټول مخلوق نه حساب واخلی. ای سریع حسابه تعالیٰ اذ لا یشغله تعالیٰ شان عن شان فیحاسب الخلائق قاطبة فی اقرب زمان (روح ج ۲۴ ص ۴۰۲).

اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ؕ لَا ظُلْمَ
۲۳ نن ورځ به بدله ملاویږی هر نفس ته څنګه (عمل) چه ئې کړی دې. بالکل ظلم
الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۷﴾ وَاَنْذِرْهُمْ
نشته نن ورځ. بیشکه الله زر حساب اخستونکے دې ۲۴ او خبر داروه
يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ
هغوئ ته د هغې نژدې راتلونکې ورځ کوم وخت چه به زړونه راورسیږی مرو ته

كٰظِمِيْنَ ۬ؕ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا

زهغوی به دباؤ وی ۲۵ے هیڅوک نشته د ګنهګارانو دوست او نه سفارشی

شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ؕ ﴿۱۸﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَ

سفارشی چه د هغه خبره او منلے شی ۲۶ے هغه پیژنی د غلا نظر او

مَا تُخْفِى الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِىْ بِالْحَقِّ ؕ

کوم شے چه سینو کښې پټ شوی دی ۲۷ے او الله فیصله کوی په انصاف سره

وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ

او کوم چه را بلی سوا د هغه نه هیڅ فیصله نشی کولے

بِشَىْءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۲۰﴾ اَوَلَمْ

د هیڅ شیز. بیشکه الله دے اوریدونکے لیدونکے ۲۸ے آیا هغوی

يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

نه ګرځی په ملک کښې چه اوګوری څنګه شو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْا هُمْ

انجام د هغه چا څوک چه د دوی نه مخکښې وو هغوی د دوی نه

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِى الْاَرْضِ

سخت وو په زور کښې او په نښانو کښې کوم چه ئے پریښودلے په زمکه کښې

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَمَا كَانَ

وا بیا هغوی اونیول الله د هغوی په ګناهونو او نه وو

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

هغوی د پاره د الله نه څوک خلاصولو د پاره ۳۰ے ۲۹ے دا ځکه چه هغوی ته به

كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا

را تلل د هغوی رسولان ښکاره نښو سره بیا کافر شول

فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ قَوِيٌّ شَدِيدُ

نو ونیول هغوی الله او بیشکه هغه طاقتور دے سخت

الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾

عذاب ورکولو والا۔

نکات ۱۔ متعلق په دعویٰ ۱۲ ۲۔ دلیل دماقبل۔ ۳۔ تخویف دنیوی ۱۲۔ ۴۔ دماقبل تفصیلی علت ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف ۱۔ ډیرے محلات او قلعه گانے ئے جوړولے ۱۲۔

تفسیر ۲۴۔ وَأَنذِرْهُمْ۔ یَوْمَ الْآزِفَةِ نه د قیامت ورځ مُراد ده۔ الازفة د پاره موصوف محذوف دے۔ والأزفة صفة لمحذوف تقديره يوم الساعة الأزفة او الطامة الأزفة (بحر ج ۷ ص ۴۵۶) الأزفة القريبة۔ لکه چه په سورة معارج کښې ارشاد دے۔ انهم يرونه بعيدا و نرلٰه قريبا. کاظمین سخت تکلیف او غم او درد کښې مُبتلا کیدل او د هغوئ د قهر او غصے پیمانه به ډکه شوے وي۔ کاظمین ای مکروبین وا لکاظم الساکت حال امتلا ئه غما وغيظا (کبیر ج ۷ ص ۳۱)۔ دا د الٰهی حکمنامے سره متعلق تخویف اُخروی دے هغوئ د هغه نزدے راتلونکی هولناک آفت (قیامت) نه خبر کړه کله چه د ډیرو یات ویرے په وجه به د انکارکوونکو زړونه خولے له راغلي وي او د غم او خفگان نه به ئے ساگانے بند شوے وي۔ که چرے هغوئ د دے هولناک آفتونو نه بچ کیدل غواړی نو هغوئ له پکار ده چه هغوئ دا حکمنامه اومني۔

۲۵۔ د قیامت په ورځ به د مشرکانو هیڅوک حامی او مدد گار نه وي او نه به څوک داسے سفارشي ملاویږي چه د هغه سفارش د دوئ په حق کښې قبول کړے شي. ای ليس للذين ظلموا انفسهم بالشرك بالله من قريب منهم ينفعهم ولا شفيع يشفع فيهم (ابن کثیر ج ۴ ص ـــ)۔ ۲۶۔ يعلم خائنة الاعين دا اضافت د قبیلے د صفت نه موصوف ته دے او په اصل کښې الاعین الخائنة دے یعنی هغه د خیانت کوونکی سترگے به پیژنی یا الخائنة مصدر دے. د العافية، او د العاقبة په شان د سترگو خیانت نه مُراد د غیر محرم ته کتل دی۔ يعلم خائنة الاعين كقوله۔ وان سقيت كرام الناس اي الناس وجوزان تكون خائنة مصدر اي العافية والعاقبة اي يعلم خيانة الاعين (بحر ج ۷ ص ۴۵۷)۔ هغه داسے علیم او خبیر دے چه د سترگو خیانت هم پیژنی او کومے خبرے چه په سینو کښې پټے دي د هغے نه هم خبر دے۔ د دے وجه نه د قیامت په ورځ به هغه د ټولو د عملونو پوره پوره جزاء او سزا ورکړي۔ ۲۷۔ والله يقضي بالحق. دا د اصلي دعوی

تائید دے۔ امر اوّل واللّٰه یقضی بالحق یعنی اللّٰه تعالیٰ خود اسے قادر او متصرف دے چہ هغه دکوم کار اراده اوکړی هغه خپلے ارادے سره او د فیصلے مطابق سرته رسوی. دوئیم امر! وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ۔ لیکن مشرکان چه د اللّٰه نه سوا دکوم خود ساخته معبودانو ته مصائب او حاجاتو کښں آواز کوی هغه دا سے عاجز او بے طاقته دی چه هیڅ هم نه شی کولے لکه چه ئے اوفرمائیل وَاِذَا قَضٰٓی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ (بقره ۱۴۶)۔ او بل ځائے کښں ئے اوفرمائیل۔ قوله الحق (انعام ۹)۔ دهغه ارشاد ټول حق دے او دهغه دارشاد او اراده مطابق کار کیدل داد هغه صفت دے۔ معبودان باطله دا سے نشی کولے۔ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ۔ دا ماقبل دپاره علت دے اللّٰه تعالیٰ چه څه اوغواړی هغه کولے شی هغه اَلسَّمِیْعُ لِکُلِّ شَیْءٍ (دهر څه خبرے اوریدونکے) او اَلْبَصِیْرُ لِکُلِّ شَیْءٍ (دهر څیز لیدونکے) دے لیکن باطل معبودانو کښں دا صفت نشته۔ ددے وجه نه په مصیبتونو او حاجتونو کښں صرف اللّٰه تعالیٰ ته آواز کول پکار دی چه هغه ټول هر څه وینی اوری او ټول هر څه کولے شی۔

۲۸ ف اَوَلَمْ یَسِیْرُوْا۔ دا تخویف دنیوی دے۔ دے مشرکانو په زمکه کښں ګرځیدلو او تللو را تللو کښں دهغه خلقو انجام نه دے لیدلے چه په قوت کښں او کارنامو کښں ددوی نه ډیر زیات وو کله چه هغوی انبیاء علیهم السلام دروغژن اوګڼړل او په شرک باندے قائم پاتے شول نو اللّٰه تعالیٰ هغوی اونیول لیکن د هغوی خود ساخته معبودان (کارسازانو) هغوی د اللّٰه تعالیٰ د عذاب نه خلاص نه کړل کوم چه هغوی د اللّٰه تعالیٰ سره سفارشی ګڼړل۔ اٰثَارًا فِی الْاَرْضِ په زمکه باندے هغوی چه کوم مضبوط قلعه ګانے او محفوظ بنارونه آباد کړے وو۔ مثل القلاع المحکمة والمدائن الحصینة (روح ج ۲۴ ص ۶۱)۔ بِذُنُوْبِهِمْ دهغوی د مختلف قسم ګناهونو په وجه سره مثلاً د اللّٰه د توحید او دهغه د وحی (حکمونو) نه انکار کول د انبیاء علیهم السلام تکذیب او د حشر نشر نه انکار وغیره۔ مِنْ وَّاقٍ هغوی د اللّٰه د عذاب نه دهغوی مزعومه (خیالی) کارسازانو هم خلاص نکړل لکه چه ارشاد دے فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِیْ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّکَ (هود ۹۶) دا شان ئے اوفرمائیل فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً (احقاف ۴۶)۔

۲۹ ف ذٰلِکَ بِاَنَّهُمْ۔ دا ماقبل دپاره تفصیلی علت دے په دنیا کښں هغوی اللّٰه ځکه اونیول چه هغوی ته د اللّٰه تعالیٰ رسولان واضح احکام او ښکاره دلیلونو سره راغلی وو نو هغوی انکار او کړو او یوه خبره ئے هم د هغوی او نه منله۔ هغه لوئے طاقت والا او سخت عذاب والا دے هغه چه چا له او غواړی ونیسی او هیڅوک ئے د هغه نه نه شی خلاصولے۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾

او ۳۱ے موږ اولیږه موسیٰ خپل نښانات (معجزات) او ښکاره سند سره

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ

فرعون ته او هامان او قارون ته پس هغوی اوویل دا جادوګر

كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا

دروغژن دے ۳۲ے نو بیا چه کله راغلو هغوی ته ریښتونی خبرے سره زموږ له طرفه

قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

وے ویل قتل کړی خامن د هغه چا چه ایمان راوړے دے هغه سره

وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ

او ژوندی پریږدی لونړه د هغوی - او ۳۲ے کوم تدبیر چه دے د کافرانو

اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ

نو په غلطئ کښ دی اوویل فرعون ۳۳ے ما پریږدئ چه قتل کړم

مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ

موسیٰ او آواز دے اوکړی خپل رب ته څکه چه ویریږم چه

يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِى الْاَرْضِ

خراب به کړی ستاسو دین، یا به خور کړی به ملک کښ

الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ

فساد (خرابی) و ۲ او اوویل ۳۴ے موسیٰ زه پناه غواړم خپل

وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ

او ستاسو رب سره د هر متکبر کوونکی نه چه یقین نه کوی

بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾

په ورځ د حساب و ۳

نکات: سـ۱ تخویفِ دنیوی یوه مفصل نمونه ۱۲۔ سـ۲ ادخالِ الٰهی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ قارون د بنی اسرائیلو د قوم نه وو لیکن کار به ئې د فرعون په خوښه کولو او د هغهٔ په دولت باندې به ئې مال گټلو ۱۲۔ ف۲ فرعون اوویل ما پریږدئ شاید چه د هغه ارکان (مشیرانو) په مشوره نهٔ ورکوله د وژلو په دې سبب د معجزاتو لیدلو سره هغوئ ویریدل چه چرته د هغهٔ ربّ د دوئ بدله وا نخلی ۱۲۔ ف۳ څوک چه په حساب کتاب یقین او باور اوکړی نو هغه ظلم څنګه اوکړی ۱۲۔

تفسیر

۳۰ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا دا تخویف دنیوی یو مفصل نمونه ده۔ دې کښې ذکر کړے شوے دے چه حضرت موسیٰ علیه السلام فرعون ته او د هغهٔ قوم ته څنګه نشانات او ښکاره معجزات راوړل او فرعون او د هغهٔ قوم هغوئ څنګه د هغوئ اوګنړل دالله توحید او حکمنا مه ئې اونه منله نو بیا څنګه رسوا کوونکی عذاب سره هلاک شول د دې په ضمن کښې د مؤمن د آل فرعون قصه هم ذکر کړے شوې ده۔ د دې تفصیل کښې یو طرف ته نبي علیه السلام ته تسلّی ده او بل طرف ته د مکې مشرکانو دپاره د عبرت څائے دے د آیت نه معجزات مراد دے او سلطان مبین حجت قاهره (غالب دلیل) چه د هغه معجزات سره قائم شو (ابوالسعود، روح)۔ هامان د فرعون وزیر۔ قارون اګرچه د موسیٰ علیه السلام د قوم نه وو لیکن په کفر او طغیان کښې د فرعون او د هغهٔ په وزیرانو کښې شامل وو دا د فرعون په نزد دے خلقو کښې د ټولو نه زیات سرمایه دار وو۔ فَقَالُوا سٰحِرٌ كَذَّابٌ دے نه مخکښې اندماج دے فرعون د موسیٰ علیه السلام نه د رسالت د دلیل مطالبه اوکړه نو هغهٔ عصا، او ید بیضا، معجزے ښکاره کړے۔ چه دا معجزے ئې اولیدلے وے ویل دا خو جادوګر دے او د نبوّت په دعوت کښې دروغژن دے۔ العِیَاذُ بِاللهِ۔

۳۱ فَلَمَّا جَآءَهُمْ کله چه فرعون او د هغهٔ د دولت ارکان (د حکومت مشیران) د مقابلے نه عاجز شول نو په غیظ او غضب کښې راغلل او د موسیٰ علیه السلام قوم د موسیٰ علیه السلام د امداد نه منع کولو دپاره به هغوئ د ایمان راوړونکو نارینه بچي وژل او لو نړه به ئې ژوندئ پریخودلے د فرعون په حکم باندے۔ فرعون د بنی اسرائیلو د ځامنو دوباره د قتل کولو حکم ورکړے وو۔ یو ځل د موسیٰ علیه السلام د پیدا ایښ نه مخکښې او دویم ځل د حضرت موسیٰ علیه السلام د پیدا ایښ نه روستو۔ (قرطبی، امداد، روح وغیره)۔

۳۲ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ۔ دا ادخالِ الٰهی دے۔ د فرعون او د هغهٔ د مشیرانو دا تدبیر ناکام شو الله تعالیٰ ورپسې په فرعون او د هغهٔ په قوم باندے د مختلف قسم عذابونو سلسله شروع کړه لکه چه ارشاد دے: فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ (اعراف ع۱۶)۔ دا سلسله د بنی اسرائیلو د مصر نه تللو پورے جاری وه، دا شان

د فرعون قوم دے منصوبه باندے د عمل کولو په ځائے په خپل حال کښې مشغول شول.
فشغلهم الله عن ذلك بما انزل عليهم من انواع العذاب، كالضفادع والقمل والدم
والطوفان الى ان خرجوا من مصر، فاغرقهم الله. وهذا معنى قوله تعالى وما كيد
الكافرين الا فى ضلال. (قرطبى ج ۱۵ ص ۳۰۵) -

۳۳ے وَقَالَ فِرْعَوْنُ. فرعون سوچ اوکړو چه موسیٰ علیه السلام د دے نوی
دین بنیاد دے د دے وجه نه د دے ختمول پکار دی نو اوس ئے د هغه د قتلولو فیصله
اوکړه. فرعون اووئیل ما پریږدئ چه زه د دے قتل کړم او هغه د خپل خدائے امداد
د پاره رااوبلی. موتږ کوروچه هغه په څنګه د قتل نه موسیٰ علیه السلام بچ کړی. د
فرعون د دے طریقه باندے خبرونه معلومیږی چه هغه ډیر وو او د خدائے د وجود
قائل نه وو. انی اخاف د دے کښې فرعون د موسیٰ علیه السلام د قتل وجه بیان کړے
ده ځما ویره ده چه ستاسو دین بدل کړی او ستاسو قوم (شاهی خاندان) د هغه دین
قبول کړی او هغوی ځما عبادت پریږدی او د هغه د رب عبادت شروع کړی او که چرے
هغه په دے کښې کامیاب هم نشی نو په قوم کښې اختلاف اچولو سره به څینے خلق خپلے پارټی
کښې شامل کړی (انی اخاف ان یبدل دینکم) ای عبادتکم لی الی عبادة ربه (او ان
یظهر فی الارض الفساد) ان لم یبدل دینکم فانه یظهر فی الارض الفساد ای یقع
بین الناس بسببه الخلاف (قرطبی) -

۳۴ے وَقَالَ مُوسٰى. کله چه موسیٰ علیه السلام پوهه شو چه د هغه د قتل سازش
کولے شی نو خپل قوم ته ئے اطمینان درکړو چه زه د هریو داسے مغرور او متکبر د شر
چه د قیامت په ورځ یقین نه لری په خپل او ستاسو پرورد ګار سره پناه غواړم. ځما
پروردګار به ما ته د هغه د شر نه پناه راکړے او ما به محفوظ او ساتی.

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ
۳۵ے او وئیل یو سړی ایماندار د فرعون د خلقو نه
يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ
چه پټولو ئے خپل ایمان ایا وژنئ یو سړے په دے خبره چه وائی
رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ
ځما رب الله دے او راوړے ئے دی تاسو ته ښکاره نښانات (معجزے) له طرفه
رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ
ستاسو د رب. او که چرے ۳۶ے هغه دروغژن وی نو په هغه باندے به پریوځی جزا د

وَإِنْ يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِي

دهغه دروغ او که چرے هغه رښتیا وی ۳۷ نو او به رسیږی تاسو ته ځینے (هغه عذاب) چه

يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ

وعده کوی تاسو سره ۳۸ بیشکه الله لاره نه ښائی هغه چا ته چه دی دحد نه تیریدونکی (بے لحاظه)

كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ

او دروغژن وی اے خما قوم ۳۹ حکومت دے نن ستاسو

ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ

غالب یئ په زمکه کښې بیا به څوک امداد کوی خمونږ

بَأْسِ اللَّهِ إِنْ جَاءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ مَا

د الله دعذاب نه که چرے مونږ ته راغلے. فرعون اوویل څه نه

أُرِيكُمْ إِلَّا مَا أَرَىٰ وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا

تاسو په هغه خبره پوهه کوم کومه چه ماته معلومه ده او هغه لاره تاسو ته ښایم په

سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الَّذِي آمَنَ يَا قَوْمِ

کوم کښې چه مصلحت دے او اوویل ۴۰ هغه ایماندار! اے قومه خما

إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾

زه ویریږم چه راشی تاسو باندے ورځ د تیرو شوو قومونو په شان

مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَ

څنګه چه حال شو د قوم د نوح او عادیانو او ثمودیانو او د کوم

الَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ

خلق چه د هغوئ نه روستو وو او الله بے انصافی نه غواړی

ظُلْمًا لِلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ

په خپلو بندګانو باندې او اے خما قومه ۴۱ زه ویریږم په تاسو

يَوْمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾

چه راشي ورځ د رابللو (يو بل ته د آواز کولو) ف۱

نکات: ۱ ادخال الٰهي او مقدر سوال او جواب ۱۲ ۲ تخويف اُخروي ۱۲

موضح قرآن ف۱ يعني کچرې دروغژن وي نو چه په چا باندې ئې دروغ ويلي وي هغه به سزا ورکوي او کيدې شي چه رښتينې وي نو بيا خپل فکر کوئ. ف۲ د چغو سورو ورځ په هغوئ راغله کله چه په بحر قلزم کښې غرق شول. يو بل ته ئې آوازونه کول او په ډوبيدلو شول دا به هغوئ ته کشف سره معلومه شوې وه يا قياس سره چه په هر قوم باندې عذاب هم داشان راځي.

تفسير ۳۵ وَقَالَ رَجُلٌ. کله چه د فرعون په دربار کښې د موسیٰ عليه السلام د قتل پروګرام جوړيدو د هغه وخت د فرعون د قوم يو سړي د هغه قبيح او ناکاره جرم خلاف آواز پورته کوي دا سړې د فرعون د تره ځوئے وو او په پټه ئې موسیٰ عليه السلام باندې ايمان راوړے وو. مُؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗ. درې واړه د رَجُلٌ صفات دي دويم صفت ئې په دريم صفت باندې ځکه مقدم کړې دے چه واضح شي چه هغه رجل مؤمن د آل فرعون نه وو کچرې دے عکس شوې وے نو مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ به يَكْتُمُ سره متعلق وے او داشان به هغه فائده نه حاصليده. مؤمن آل فرعون اګرچه خپل ايمان پټ ساتلے وو ليکن د حضرت موسیٰ عليه السلام د قتل ئې چه واوريدل نو صبر ترينه اونه شو او وې ويل اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا الخ. تاسو يو سړے ناحق قتل کول غواړئ چه هغه داوائي چه خما رب الله دے حٰه د هغه نه سوا ئې بل چا عبادت نه کوم نو دا خبره خو د قتل وجه نه شي جوړيدے ځکه چه دا دعوي د هغه غلطه نه ده بلکه بالکل حقه ده او هغه د خپل دعوي حقانيت د پاره ستاسو د پروردګار له طرفه واضح دلائل او معجزات سره راغلے دے چه تاسو هغه په خپلو سترګو سره وينئ مشاهده کوئ د دے وجه نه د هغه د وژلو د پاره تاسو سره هيڅ جواز نشته ۳۶ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا دا د قتل نه د منع کولو دويم انداز دے. د موسیٰ عليه السلام باره کښې دوه احتمال دي. يا خو هغه په خپله دعوي کښې دروغژن دے يا رښتونے. د دواړو صورتونو کښې د هغه وژل د عقل تقاضا نه ده فرض کړئ کچرې هغه دروغژن دے نو د هغه نه د خلاصي موندلو د پاره د هغه د وژلو ضرورت نشته بلکه تاسو چه هغه د خپل دين د اظهار نه منع کړئ نو داشان به د هغه د دروغو وبال په هغه باندې پريوځي او نور خلق به د هغه نه بچ شي او داشان به د هغه مشن په خپله په خپل مرګ مړشي (ختم به شي). لا حاجة بكم في دفع شره الى قتله بل يكفيكم ان تمنعوه عن اظهار هذه المقالة ثم تتركوا قتله فان كان كاذبا فحينئذ لا يعود ضرره الا اليه وان كان صادقا انتفعتم به (كبير ج ۷ ص ۳۱۸)

۳۷ وَاِنْ یَّكُ صَادِقًا اوکچیرې هغه رښتونی وي او تاسو د هغهٔ تکذیب کوئ
نو د کوم قسم عذابونو چه هغه تاسو ویروي د هغې نه به ضرور تاسو ته رسیږي لکه چه
په سورة طٰهٰ کښ دي او فرمائیل اِنَّا قَدْ اُوْحِیَ اِلَیْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰی مَنْ كَذَّبَ
وَتَوَلّٰی مؤمن د آل فرعون خو یقین لرلو چه د موعود عذاب ټول اقسام به راځي
لیکن د فرعون او د هغهٔ د قوم په لحاظ ئې بعض عذاب اوویل دې د پاره چه
هغوئ د پاره تسلیمول آسان وي مقصد دا دې چه کچیرې هغه رښتونی وي نو کم
نه کم وعده کړې شوي عذاب نه به ضرور څه عذاب راځي او په دې کښ هم
ستاسو هلاکت دې د دې وجه نه د هغه د وژلو خیال پریږدی او د هغهٔ تابعداری
اوکړئ د دې د پاره چه د وعدې کړې شوي عذاب نه بچ شئ. وَلَمْ يَقُلْ كُلَّ الَّذِىْ
يَعِدُكُمْ مع انه وعد من نبي صادق القول، مداراة لهم وسلوكا لطريق الانصاف
فجاء بما هو اقرب الى تسليمهم له وليس فيه نفي اصابة الكل، فكانه قال لهم:-
اقل ما يكون في صدقه ان يصيبكم بعض ما يعدكم وهو العذاب العاجل وفي
ذالك هلاككم. (مدارك). ۳۸ اِنَّ اللّٰهَ. دا ادخال الهي دې او د هغه سوال
جواب دې چه د مؤمن آل فرعون دې تقریر سره په فرعون څه اثر اوشو یا نه؟ وې
فرمائیل دا سې دا الله حدود ماتونکو سرکشانو ته او دجالانو ته الله د هدایت قبلولو
توفیق نه ورکوي. قال الشیخ رحمه الله تعالی یا دا هم د مؤمن مقوله ده او د دې سره د
هغهٔ مقصد د فرعون قوم ته دا ښودل مقصود دې چه کچیرې موسی علیه السلام لکه
چه تاسو وائئ جادوګر او کذاب دې نو الله تعالی به هغهٔ ته د دې واضح دلائلو
طرف ته رهنمائي نه کولې او نه به ئې دې غالب معجزات سره د هغهٔ تائید کولې اِنَّهٗ
لو كان مسرفا كذابا لما هداه الله تعالى الى البينات ولما عضده بتلك المعجزات
(روح ج ۲۴ ص ۶۵). ۳۹ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ. ځما قومه! نن د مصر حکومت ستاسو
په لاس کښ دې او د مصر په زمکه کښ تاسو په بنی اسرائیلو باندې غالب او حکمران
ئې لیکن ما ته دا اووایئ چه کچیرې موسی (علیه السلام) رښتونی وي او بیا مونږ هغه
اونه منو، بلکه الټه د هغې په قتل پسې او لږو نو په دې وجه کچیرې په مونږ دا الله
عذاب راغلې نو مونږ به د هغې نه څوک بچ کړي؟ قَالَ فِرْعَوْنُ. کله چه فرعون محسوس
کړه چه د مؤمن وینا ډیره زیاته مُدلّل او معقول ده نو په اوریدونکو باندې د هغې
د اثر زائل کولو د پاره ئې اوویل. مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى زه خو اوس هم تاسو ته دا
مشوره درکوم دا ځما رائې ده او زه دا صحیح ګڼړم او ما چه کوم تاسو ته مخکښې خودلې
وه چه موسی علیه السلام قتل کړئ د هغهٔ د وژلو نه بغیر دا فتنه نه ختمیږي او زه خو
تاسو ته د کامیابۍ او بهترۍ لاره ښایم. ای ما اشير عليكم الا الذي اراه واستصوبه
من قتله يعني لا استصوب الا قتله (ابوالسعود، بحر، روح واللفظ له)
۴۰ وَقَالَ الَّذِىْٓ اٰمَنَ. د فرعون د خبرو نه روستو د هغه مؤمن بیا ټولو ته

خطاب اوکړو په ناصحانه انداز کښې اووئیل اے زما قومه! کچرے داشان تاسو د موسٰی علیه السلام تکذیب او دهغوی په تکلیف رسولو کښ کوشش کوئ نو زما سره داویره ده چه په تاسو باندے دهغه قهر او غضب په شکل کښ عذاب نازل شی څنګه چه تیر شوو اُمتونو باندے مثلاً د نوح علیه السلام قوم، عادیانو او ثمودیانو او د هغوی نه روستو سرکش قومونو باندے نازل شوے وو او هغوی په لږه ساعت کښ نیست او نابود تباه کړے شو. د تیر شوو اُمتونو هغه سرکشانو سره الله تعالٰی چه کوم سلوک اوکړو هغه ظلم نه وو هغوی ددغه شان عذاب مستحق وو. ظلم خو په طرف ته الله تعالٰی په بندګانو باندے د ظلم اراده هم نه کوی. تیر شوو اُمتونو ته الله تعالٰی بکاره او واضح معجزات سره خپل پیغمبران رااولیږل. هغوی ددوی تکذیب اوکړو او دهغوی سره جنګ او قتال ته آماده شول ددے وجه نه هغوی په دنیا کښ خپل بد انجام ته اورسول شول. حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی وما الله یرید ظلما للعباد. ادفال الٰهی دے او دے کښ ددے شبه ازاله کړے شوے چه ددے قومونو ددے دومره زیات شمیر باوجود هلاکول ظلم نه وو؟

۱۲۰ ویٰقوم انی اخاف الخ اول هغوی د دنیاوی عذاب نه اوویره ول شو اوس ئے د اُخروی عذاب نه ویره وی. یوم التناد. یوبل ته د آواز کولو ورځ مراد د قیامت ورځ ده. د قیامت په ورځ به هغوی یوبل ته د اِمداد د پاره آوازونه کوی. دویم یوم د اول یوم نه بدل دے مؤمن اووئیل اے زما قومه! د دنیا کښ د هلاکت او بربادئ ذلت او رسوائئ نه علاوه ما سره ستاسو د قیامت په ورځ د عذاب نه هم ویره ده کله چه به تاسو یوبل ته د اِمداد د پاره آوازنه کوئ لیکن څوک به هم د چا خبره نه اوری او نه به د چا امداد کولے شی دغه ورځ به تاسو عذاب لیدلو سره ډیکښتے کوشش کوئ دے د پاره چه د عذاب نه بچ شئ لیکن تختیدلو سره به هم د عذاب نه خپل ځانونه بچ نه کړے شئ ځکه چه به نه څه تدبیر چلیږی او نه څوک سفارشی بکار راځی. ومن یضلل الله الخ د ضد او عناد په وجه سره تکذیب باندے ټینګ ولاړ ئے ددے وجه نه زما مدلل او ناصحانه تقریر په تاسو باندے اثر نه کوی او سمے لارے ته تاسو نه شی راوستلے ځکه چه د منکرینو د ضد او عناد د وجه نه چه کله الله تعالٰی هغوی د حق قبلولو د توفیق نه محروم کړی نو بیا هغوی څوک په سمه لاره نشی راوستلے. دا الفاظ مؤمن د هغوی د ایمان او قبول نصیحت نه د مایوس او نا اُمیدئ لوسره اووئیل. ولما یئس المؤمن من قبولها قال ومن یضلل الله فماله من هاد (بحر ۷۷ ص ۳۶۴).

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

کومه ورځ چه تاسو اوګرځئ شا کوونکی (موقف نه) هیڅوک د الله نه

مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ

خلاصونکے نشته ۔ او څوک چه الله یې ګمراه کړي نو هیڅوک نشته هغه

هَادٍ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ

رهنما (ښودونکے) (دلار) ۔ او اوګوره تاسو ته راغلے وو یوسف دد ے نه مخکښې

بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ

په ښکاره دلائلو بیا تاسو پاتے شوئ همیشه په دهوکه کښې د هغه څیزونو نه کوم چه هغه

بِهٖ ۖ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ

تاسو ته راوړل، تر دے چه کله هغه مړ شو تاسو اووئیل هرګز به اونه لیږي الله

مِنْ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ۚ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ

د هغه نه روستو څوک پیغمبر ۔ داشان ګمراه کوي الله

مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ

هغه څوک چه وي د حد نه تیریدونکي شک کوونکي ۔ هغه کسان (چه جګړه کوي

فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۚ كَبُرَ

په خبرو د الله کښې بغیر د څه سند نه چه هغوی ته راغلے وي ۔ ډیر لوئے دے

مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ كَذٰلِكَ

(دغه جدال) له جهته د بیزارۍ (او غضب) نه د الله په نزد او د ایمان لرونکو په نزد ۔ داشان

يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾

مهر لګوي الله په هر زړه تکبر کوونکي سرکش باندے

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا

او اووئیل فرعون چه اے هامان! جوړه کړه ما دپاره یو ماڼۍ

لَّعَلِّيْۤ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ

شاید چه زه اورسیږم لارو ته ، لارو د اسمان ته

فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّىْ لَاَظُنُّهٗ

بیا اوګورم (ولړې نه) د موسیٰ معبود او خامخا زه ګمان کوم هغه

كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ

دروغژن دے. هسې او داشان ښه ښکاره کړے شول فرعون ته د هغه بد عملونه

وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ

او منع کړے شو د سمې لارې نه او کوم مکر (تدبیر) چه فرعون دو

اِلَّا فِىْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾

نو هغه د تباه کیدو لپاره.

موضح قرآن ول دحضرت یوسف علیه السّلام په ژوندا کښې مصریان دهغه په نبوّت قائل نه شول دهغه د مرګ نه روستو چه کله د مصر انتظام خراب شو نو وے وئیل دیوسف علیه السلام قدم دے ښار بانندے مبارک وو. دا سے نبی به بل هیڅوک رانشي یا هغه انکار او یا دا اقرار هم د اسراف او زیاتی خبرے کول دی ۱۲. وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ.

تفسیر ۲۲ اوس مؤمن (سړی) خپل قوم ته د هغوئ تیر شوے بد عملونو باندے زور نه ورکول شروع کړل وے فرمائیل: د موسیٰ علیه السّلام نه مخکښې حضرت یوسف علیه السّلام هم دے ملک مصر کښې د لائلو او معجزاتو سره تاسو ته راغلے وو نو هغه وخت هم تاسو دهغه د رسالت او د الله په وحدانیت کښې شکوک او شبهات کښې مبتلا وئ او تاسو هغه او نه منلو تردے چه کله هغه وفات شو نو تاسو دهغه د نبوت قائل نه وئ لیکن د وفات نه روستو تاسو صفا صفا وئیل شروع کړل چه همیشه همیشه د پاره دا جهګړه ختم شوه كَذٰلِكَ الخ کاف په معنی د لام تعلیلیه دے. د دے وجه نه یعنی د الله په توحید کښې د شک کولو په وجه سره د حد نه تیریدونکو ته او په شک کښې پریوتونکو ته هدایت نه ورکوی په ګمراهئ کښې ئې پریوتلے ساتی. قاله الشیخ قدس سرهٗ.

۲۳ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ. چه محض د ضد او عناد په وجه سره د دلیل او حجت نه بغیر د الله تعالیٰ په ایتونو کښې جدال او جهګړه کوی. كَبُرَ مَقْتًا. د اخبره یعنی د الله تعالیٰ توحید او دهغه په ایتونو کښې جهګړه کول د الله تعالیٰ او د ایمان والو په نزد ډیر زیات د قهر او د ناخوښئ او قابل مذمّت فعل دے. كَذٰلِكَ ای لذالك یعنی د توحید مبدأ (د الله آیتونو) کښې د جدال او جهګړے د وجې نه الله تعالیٰ

دهر معاند او جابر په زړۀ باندې د جبار ربیت مهر لګوی ځکه چه هغه د حق طلب کولو
جذبې نه عاری وی او په ضد باندې قائم وی د دې وجې نه هغوی ته د هدایت قبلولو
توفیق نه ملاویږی کله چه انسان د توحید واضح دلائل او آیتونه اووینی او بیا هم په شک
کښې پاتې شی نو دا شک د هغوی د ګمراهئ سبب ګرځی د ګمراهئ نه روستو که چرې په آیات
بینات کښې نیک نیتئ سره د غور او فکر په ځائ په کږه لاره روان شی او جدال کول
شروع کړی نو د شقاوت انتهی ته بد او رسیږی او د هغه په زړۀ په د جبار ربیت مهر اولګی
دلته د د غه څلورو منزلونو ذکر د ې ترتیب سره شوې دې۔ (۱) شک (۲) د شک نه
روستو ضلال و ګمراهی (۳) ضلل نه روستو جدال۔ (۴) او د جدال نه روستو طبع یعنی د
جبار ربیت مهر۔ ﴿۳۶﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ۔ فرعون سره فکر شو هسې نه چه د مؤمن کلام
سره قوم متاثر شی د دې وجه نه د قوم بل طرف ته مشغولولو د پاره ئې خپل وزیر هامان
ته حکم ورکړو چه یوه ډیره زیاته او چته مناره جوړه کړه چه هغه ور باندې او ختلې ږی د
موسی علیه السلام خدائے او ګوری د کوم د عبادت دعوت چه هغه خلقو ته ورکوی۔
لیکن یاد لرئ دا خو صرف ستا سو د اطمینان د پاره دې هسې خو زما په خپل ځائے یقین
دے چه موسی علیه السلام د ې دعوی کښې دروغژن دے۔ چه زما نه علاوه بل څوک
معبود (اله) هم شته؟ (العیاذ بالله)۔ دلته ظن په معنی د یقین دے۔ ان الظن بمعنی
الیقین۔ ای وانا اتیقن انه کاذب وانما اقول ما اقوله لازالة الشبهة عمن لا یتیقن
ما اتیقنه (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۱۵)۔ ﴿۳۷﴾ وکذالك زین۔ دا شان فرعون ته د هغه مشرکانه
اعمال او د هغه متکبرانه حرکات د هغه په نظر کښې ښائسته کړې شول او هغه ئې په سمه
لاره د راوستلو نه منع کړل یعنی د هغه د ضد او عناد د وجې نه هغه د قبول حق د توفیق نه
محروم کړې شو۔ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ الخ دا ادخال الٰهی دے د فرعون هر چال او تدبیر
او د هغه هر فریب دهوکې کاره او ضائع وه هغه هیڅ تدبیر سره هم خپل ځان د بد
انجام نه بچ نه کړې شو آخر د ډیر لوئ لښکر او سامانونو سره غرق کړې شول۔

وَقَالَ الَّذِیٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ

او اووئیل ئې هغه ایماندار اے قوم! لار شئ ځما په لار او به رسوم تاسو

سَبِیْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ یٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَیٰوةُ

د نیکئ لاره باندې اے ځما قوم! دا چه کوم ژوند دے

الدُّنْیَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِیَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾

د دنیا نو هغه فائده اخستل دی۔ او هغه کور کوم چه روستو دے هغه د همیشه د اوسیدو کور

مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَ
چا چه کړے ده بدي نو هغه به بدله بیا مومي د هغې برابر اؤ
مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ
چا چه کړے ده نیکي که سړے دی یا ښځه اؤ
هُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ
هغه یقین لری نو هغه خلق به داخلیږی جنت ته
يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ وَيٰقَوْمِ
رزق به هلته بیا مومی بے شماره اؤ اے زما قومه!
مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى
ما له څه دی زه بلم تاسو د نجات طرف ته تاسو ما بلئ د
النَّارِ ﴿۴۱﴾ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ
اور طرف ته ولے تاسو ما بلئ چه منکر شم د الله نه اؤ شریک اوګرځوم
بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۡ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ
هغه د پاره هغه څوک چه ما ته د هغه په (ربوبیت) هیڅ خبر نشته اؤ زه تاسو رابلم
اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّمَا
هغه طاقتور بخښونکی طرف ته بشکاره. (اؤ یقیني خبره) ده چه د کوم طرف ته
تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي
تاسو ما بلئ د هغه هیڅ بلنه نشته د هغه هیڅ بلنه په
الدُّنْيَا وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ
دنیا کښ اؤ نه په آخرت کښ اؤ دا چه زمونږ واپس راتلل دی
اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ
الله ته اؤ دا چه زیاتے کوونکی هغوی دی خلق

النَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۚ وَ

دَ دوزخ ۹۲ لو نزدے ردہ چہ یاد بہ کړئ زۂ چہ څۂ وایم (پہ وخت دلیدلو دعذاب)

اُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ

اؤ زۂ سپارم خپل کار اللہ تہ بیشکہ اللہ

بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾

وینی بندګان ښے

موضح قرآن

ف خپل ځان سرہ تعجب اوکړو وے ویل اؤ هغوئ تہ ئے واورول ۱۲۔

تفسیر

۶۶ وقال الذی امن ۔ مؤمن سړی او ویل ۔ څما خبرہ اومنئ څۂ تاسو تہ صحیح اؤ نیغہ لارہ ښایم ۔ یقوم څما قوم دا دُنیا ژوند خو محض څو ورځے دَ نفع خیز دے اؤ همیشہ کور اؤ همیشہ دَ اوسیدلو ځائے خو دَ اٰخرت کور دے دے وجہ نہ تاسو دُنیا دَ څو ورځو فانی منافع پہ وجہ دَ اٰخرت همیشہ ژوند اؤ خوشحالی مۂ قربانوئ دَ اٰخرت دَ همیشہ ژوند حاصلولو دپارہ ضروری دہ چہ تاسو پہ موسیٰ علیہ السلام باندے ایمان راوړئ اؤ نیک کار اوکړئ ۔ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً ۔ کوم سړے چہ بد کار کوی هغۂ تہ بہ دَ هغہ ګناہ سزا ملاویږی لیکن کوم سړی یا ښځہ چہ ایمان راوړو نیک کارونہ ئے اوکړل دَ اللہ توحید اؤ نور بنیادی عقائد ئے اومنل اؤ دَ هغے مطابق ئے اعمال صالحہ پہ ځائے راوړل نو هغوئ بہ جنت تہ داخل شی اؤ هغوئ تہ بہ هر نعمت خالص دَ اللہ پہ فضل بے حسابہ اؤ بے اندازہ کولو نہ ملاویږی ۔ پہ جنت کښ بہ دَ اللہ تعالیٰ دَ نعمتونو څو برابرہ اعمالو سرہ هیڅ نسبت نۂ وی ۔ دَ اعمالو پہ مقابلہ کښ بہ دَ جنت نعمتونہ څو چندہ زیات وی ای بغیر تقدیر وموازنۃ بالعمل بل اضعاف مضاعفۃ فضلا من اللہ عزوجل ورحمۃ (ابوالسعود ج ۷ ص ۳۲۵)۔

۶۷ ویقوم مالی ۔ څما رورنو داڅۂ دی چہ زۂ تاسو دَ نجات لارے تہ رابلم لیکن تاسو ما دَ دوزخ طرف تہ بلئ څۂ تاسو تہ دَ توحید طرف تہ دعوت درکوم اؤ تاسو ما تہ دَ شرک دعوت راکوئ چہ دَ دوزخ دَ عذاب موجب اؤ سبب ګرځی ۔ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ الخ ۔ دا دَ ماقبل تفسیر دے واشرک کښ واؤ تفسیریہ دے بہ ای بمعبودیتہ (جلالین) تاسو ما تہ دعوت راکوئ چہ زۂ هغہ څوک خدائے سرہ شریک اوګرځوم چہ دَ هغۂ دَ معبود کیدو څما سرہ (بلکہ تاسو سرہ هم) څۂ دلیل نشتہ لیکن زۂ دَ هغہ خدائے

چه عزیز او غفار دے دَهغهٔ د توحید طرف ته تاسو رابلم چه د سرکشانو په بدله اخستلو باندے قادر دے او ایمان والو باندے ډیر زیات مهربان دے او دَ مومنو خطا گانے معاف کوی. ف۴۸ لَاجَرَمَ - دا یقینی او قطعی خبره ده چه د کوم خود ساخته معبودانو طرف ته تاسو ما بلئ هغه دَ رابللو لائق نه دی نه په دُنیا کښ او نه په اخرت کښ هغه نه په دُنیا کښ دَ چا بلل او آواز اوریدلے شی او نه په اخرت کښ څهٔ پکار راشی او یقینًا مونږ د ټولو الله ته واپس ورتلل دی او دَ حد نه تیریدونکی (مشرکان) به قطعًا د جهنم خشاک وی. د دے وجه نه زهٔ ستاسو خبرے اوریدلو سره ښکته جهنم خپله ټهکانه او کوړ او کړ غوم؟ یعنی لیست له استجابة دعوة لاحد فی الدنیا ولا فی الاخرة (خازن ج ۶ ص ۸۰) - المسرفین، قال قتادة وابن سیرین یعنی المشرکین. (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۱۶) - ف۴۹ فَسَتَذْكُرُونَ - دے مؤمن سړی په اخر کښ ډیر دِلسوزئ او دَ زړهٔ درد سره اووئیل نن خو تاسو زما خبرے پرواه نکوی لیکن چه کله په دُنیا کښ یا په اخرت کښ په تاسو باندے دالله تعالیٰ عذاب راشی نو تاسو به هغه وخت زما خبرے یاد کړئ او وائئ به چه واقعی مونږ ورور ربنتیا وئیل. هغه چه څهٔ وئیل هغه بالکل صحیح او درست وو. بیا ئې دا هم اوئے نگهبان! زهٔ په الله باندے بهروسه کوم او خپله معامله الله ته سپارم. هغه خپل بندگان بنهٔ وینی.

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ

ف۵۰ بس اوساته مؤمن الله د بدو تدبیر نه کوم چه هغوئ کړے وو او راچاپیره

بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ اَلنَّارُ

شو فرعونیانو باندے بد عذاب ف۵۱ هغه اور دے

يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ

چه بیودلے شی هغوئ ته صبا او بیگا او په کومه ورځ

تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ

چه قائم شی قیامت حکم به اوشی چه داخل کړئ فرعونیان د سخت نه سخت

الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ

عذاب ته ف او کله چه ف۵۲ خپل مینځ کښ جهگړه کوی په اور کښ دننه

فَيَقُولُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا

بیا به وائی کمزوری . تکبر کوونکی (مشرانوته) مونږ

كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا

وو ستاسو تابعدار ، آیا تاسو به لرې کړی مونږ نه

نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

څه حصه د اور . وائی به چاچه تکبر کړے وو

اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ

مونږ ټول پرېوتلی یو په دیکښ بیشکه الله فیصله اوکړه په مینځ کښ

الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ فِى النَّارِ لِخَزَنَةِ

دبندګانو ول ۲ او وائی ۵۳ به کوم خلق چه پراته دی په اور کښ خزانچیانو

جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا

د دوزخ ته اوغواړئ دُعا دخپل رب نه چه کم کړی په مونږ باندے یوه ورځ

مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيْكُمْ

عذاب هغوئ به اووائی ګله آیا نه راتلل تاسوته ستاسو

رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ قَالُوْا بَلٰى ؕ قَالُوْا

رسولان په ښکاره دلائلو (دقدرت). وائی به ولے نه . هغوئ به ورته اووائی

فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِىْ

بیا را اوبلئ (الله) او نه ده دُعا د کافرانو لیکن

ضَلٰلٍ ﴿۵۰﴾

ګمراهی ول

نکات ۱ تخویف اُخروی ۱۲ .

موضح قرآن ول دا د عالم قبر حال دے کافرانو ته دهغوئ ځائے بنودلے

شي او په قیامت کښې به په هغې کښې او سیږي او مؤمنان به په جنت کښې وي ۱۲۔

ف ۲ یعنې اوس ځانته ځانته نه شو چه څوک د چا پکار راشي ۱۲۔ د دوزخ فرښتې به واې سفارش کول ځمونږ کار نه دے مونږ په عذاب یاندے مقرر یو سفارش خو د رسولانو کار دے او د رسولانو خو تاسو خلاف وئ۔

تفسیر ۴۵ فوقٰه اللّٰهُ. د مؤمن سړي دا یقین وو چه د دے تقریر نه روستو به د اخلق ماڅوندے نه پرېږدي د دے وجه نه هغه د هغه ځانته نه او تختیدو او د غرونو طرف ته مخه او کړه فرعون هغه پسے د رستو نه یو زر سړي اولیږل لیکن هغوئ دده په نیولو کښې کامیاب نه شول ځنې خو هلته ځناورو اوخوړل او ځنې د تندے نه هلاک شول او کوم چه واپس راغلل فرعون هغه پاسي کړل دهغه شک شو چه دوئ قصدًا او نه نیولو او واپس راغلل. (مدارک، بحر).

دا شان الله تعالیٰ مردِ مؤمن د هغه د مکرو فریب نه بچ کړو او د فرعون د قوم سړي کوم چه د هغه د نیولو د پاره تلي وو ډیر په بد عذاب سره هلاک کړل یا د آلِ فرعون نه د فرعون قوم سره د فرعون نه مراد دے او د سُوْٓءُ الْعَذَابِ نه د غرق عذاب مراد دے۔

۴۶ اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ. دا تخویف اُخروي دے دے کښې د عالمِ برزخ او د قیامت د دوارو عذابونو ذکر دے د فرعون د قوم هلاکت او غرق نه روستو په برزخ کښې روزانه صبا بېګا د اور عذاب ورکولے شي دا سلسله به تر قیامته پورے جاري وي او کله چه قیامت قائم شي نو حکم به اوشي چه د فرعون قوم اوس د دغه مخکینې عذاب نه هم په سخت عذاب کښې داخل کړئ دا آیت د عذابِ قبر (عالمِ برزخ) په ثبوت باندې صریح نص او د تمام اهل سنت والجماعة د عذابِ قبر اثبات باندے اتفاق دے دے آیت کښې د دوو عذابونو ذکر دے یو اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ الخ دویم اَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ الخ. د دوارو مینځ کښې د وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ وارد دے چه د هغې مطلب دا دے چه اَلنَّارُ یعرضون الخ کښې د کوم عذاب ذکر کړے شوے دے هغه د قیام قیامت نه مخکښې دے او دا د عالمِ برزخ د عذاب نه بل کوم عذاب دے۔ وهذه الاٰية دليل على عذاب القبر (مدارک) والجمهور على ان هذا العرض في البرزخ ...... هذه الاٰية تدل على عذاب القبر في الدنيا (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۱۹-۳۱۸) دل على ان المراد النار يعرضون عليها غدوا وعشيا قبل القيامة (جصاص ج ۳ ص ۴۷۳) هذه الاٰية تدل على عذاب القبر (جصاص ج ۳ ص ۴۷۳) ان هذا العرض انما حصل بعد الموت وقبل يوم القيامة وذالك يدل على اثبات عذاب القبر الخ (کبیر ج ۷ ص ۳۳۰). وهذه الاٰية اصل كبير في استدلال اهل السنة على عذاب البرزخ في القبور (ابن کثیر ج ۴ ص ۸۱).

او دا د عالمِ برزخ مثال دا جسامِ مثالیه په وساطت سره په ارواحو باندے وارد یږي ځکه چه د حضرت ابن مسعود رض نه روایت دے فرمائي د آلِ فرعون روحونه د تورو مارغانو په خیټو کښې داخل کړے شي هغه په اور باندے پیش کولے شي اَرْوَاحُ اٰلِ

ترعون فی اجواف طیور سود یعرضون علی النار الخ (معالم۔ قرطبی۔ روح) اؤ دا صُوَر مثالیه د هغوئ د اعمالَ نه پیدا کولے شی وهذه الطیر صور تخلق لهم من صور اعمالهم (روح ج ۲۴ ص۷۳)۔

۵۲ اذ یتحاجون۔ کله چه مشرک رهنمایان اؤ د هغوئ متبعین د دوزخ په اور کښ داخلولے شی نو هغوئ به خپل مینځ کښ جهګړے کوی اؤ هر یوه ډله به بله ملامته کوی۔ ضعفوء یعنی کمزور اؤ ماتحت خلق چا چه د مشرانو اؤ رهنمایانو په بنا باندے کفر اؤ شرک اختیار کړے دے هغوئ به خپلو پیشوایانو ته وائی چا چه د تکبر د وجه نه توحید نه وو قبول کړے اؤ عوام ئے هم د توحید نه منع کړے وو چه مونږ خو ستاسو ماتحت اؤ تابع وواؤ د دے په نتیجه کښ مونږ ننن په دوزخ کښ پراته یو آیا نن تاسو زمونږ په عذاب کښ څه تخفیف کولے شئ. قال الذین استکبروا۔ نو هغه مشران (متبوعین) به په جواب کښ اووائی مونږ په خپله په دے عذاب کښ پراته یُو که چرے زمونږ څه قدرت اختیار وے نو په خپله به د دے عذاب نه بچ شوے وے اؤ اوس خو الله تعالیٰ د خپلو بندګانو فیصله کړے ده اوس د الله تعالیٰ د دے قطعی اؤ حتمی فیصلے نه روستو څه کیدے شی۔

۵۳ وقال الذین فی النار۔ اهل جهنم به د خپل مشرک سردارانو طرف نه نا امیده شی چه دا جواب واوری اؤ مشرک سرداران اؤ پیشوایان به چپلے تولے حیلے اؤ بهانے ناکام بیاموی نو ټول به جهنم باندے مقرر فرشتو ته درخواست اوکړی چه هغوئ د الله په بارګاه کښ هغوئ د پاره سفارش اوکړی چه د هغوئ په سزا کښ کمے اوکړے شی (وقال الذین فی النار) من الضعفاء والمستکبرین جمیعا لما ضاقت بهم الحیل وعیت بهم العلل (روح ج ۲۴ ص۷۵)۔

۵۴ قالوا اولم تک۔ فرشتے به د ویرولو اؤ رټلو په طور باندے هغوئ ته اووائی۔ ولے تاسو ته انبیاء علیهم السلام نه وو راغلی چه ښکاره اؤ واضح دلائل ئے دځان سره راوړے وو؟ قالوا بلیٰ۔ جواب به ورکړی ولے نه وو راغلے۔ راغلی خو وو۔ هغوئ مونږ ته د الله تعالیٰ احکام واورول، مومنانو ته ئے د جنت خوشخبری ورکړه اؤ منکرین ئے د خدائے د عذاب نه اوویرول لیکن د بد قسمتئ نه مونږ د هغوئ خبره نه اوریدله قالوا فادعوا الخ۔ د دُعا وختونه اؤ د دُعا د قبولیت اسباب خو تاسو په دُنیا کښ ضائع کړل اؤ تاسو هلته ویخ اؤ بیدار نه شوی تاسو په شان خلقو د پاره دُعا کول خو مونږ د پاره ممکن نه ده مونږ نه ستاسو د پاره دُعا کولے شو نه ستاسو درخواست قبولولے شو بلکه تاسو په خپله د الله نه دُعا اوغواړئ لیکن دا هم واورئ چه د کافرانو اؤ مشرکانو دُعا ضائع ګرځی اؤ نه قبلیږی (فادعوا) ای انتم لانفسکم فنحن لا ندعوا لکم ولا نسمع منکم ولا نود خلاصکم ونحن منکم براء ثم نخبرکم انه سواء دعوتم اولم تدعوا

لا یستجاب لکم ولا یخفف عنکم (ابن کثیر ج ۴ ص ۸۳) یا مطلب دا دے چه اوس الله ته
دد رابللو درخواست کوئ اوس هم خپل خود ساخته معبودانو ته آواز اوکړئ چه په دُنیا
کښې به تاسو مصیبتونو او حاجتونو کښې رابلل دا به د هغوئ په حسرت او ندامت کښې
د زیاتوالو د پاره هغوئ ته وئیلے شي۔

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَوٰةِ

مونږ ۵۵ے امداد کوو د خپلو رسولانو او د ایمان والو په ژوند

الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ

د دُنیا کښې او کله چه قائم شي گواهان هغه ورځ چه نه به رانشي

الظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ

د منکرینو بهانے د هغوئ او هغوئ د پاره لعنت دے او هغوئ

سُوءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْهُدَىٰ

د پاره بد کور دے او مونږ ۵۶ے ورکړو موسیٰ ته (امورد) هدایت

وَأَوْرَثْنَا بَنِي إِسْرَاءِيلَ الْكِتَٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى

او وارثان کړل مونږ بني اسرائیل د کتاب (تورات) لارښودونکے

وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَٰبِ ﴿٥٤﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ

او نصیحت د عقلمندو د پاره نو ته صبر کوه ۵۷ے بیشکه

وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ

وعده د الله صحیح ده او بښنه غواړه د خپلے گناه او پاکي بیانوه

بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾ إِنَّ

د خپل رب په صفتونو بیگاه او صبا ۵۸ے کوم خلق

الَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِي آيَٰتِ اللَّهِ بِغَيْرِ

چه جهگړه کوي د الله خبرو کښې په بغیر د څه

سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا

سند نه چه راغلے دی هغوی ته نو رهیڅ خبره نشته دهغوی په زړونو کښ

كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِیْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ

غرور دے چه هیڅکله به اونه رسیږی هغے ته لو ته پناه او غواړه ۲ ف د الله بیشکه

هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَ

هغه اوری او وینی ف ۳ خامخا پیدا کول ۲ ف د آسمانونو او

الْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ

د زمکے ډیر لوی دی د خلقو د پیدا کولو نه ف ۲ لیکن ډیر

النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾

خلق نه پوهیږی ف ۱

نکات: ۱ د سورت په دعوی باندے نقلی دلیل ۱۲۔ ۲ دویم ځل د تسلی ذکر۔ ۳ د قیامت په ثبوت باندے دلیل إنی ۱۲۔

موضح قرآن ف ۱ نبی علیه السلام به په ورځ کښ سل سل ځله استغفار غوښته لګناه نه هر بنده په خپله خپله درجه کښ قصور وار دے د هغے موافق هر چا ته استغفار ضروری دے۔ ف ۲ غرور دا چه دوی دے پیغمبر نه مونږ او چت او پورته شو۔ دا سے نه شی کیدے ۱۲ ف ۳ یعنی دویم ځل پیدا کیدل محال ګنړی ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی فرشتے ګواه کوی ۱۲ ف ۲ یعنی د دوی دوباره ژوندی کول۔

تفسیر ۵۵ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا الخ دا نبی علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم د پاره تسلی ده مونږ د خپل پیغمبرانو او مؤمنانو دُنیا کښ امداد کوو دُشمنانو په لاس مونږ هغوی ذلت ته نه ورکوو او په آخرت کښ به هم هغوی ته بهترین جزا ورکوو او په اعلی درجو به فائز او کامیاب کړو۔ وَیَوْمَ یَقُوْمُ الْاَشْهَادُ داد علقتها تبنا وماء باردا د قبیلے نه دے او په اصل کښ دا سے دے ونجزیهم جزاءً حسنا یَوْمَ یَقُوْمُ الْاَشْهَادُ۔ قال الشیخ قدس سره یَوْمَ لَا یَنْفَعُ دا دیوم تقوم نه بدل دے په کومه ورځ چه فرشتے او نور ګواهان د الله په بارګاه کښ ولاړ وی هغه به پوره انصاف وی۔ دغه ورځ به د مشرکانو هیڅ حیله او بهانه کامیاب نه وی او هغوی به د الله د رحمت نه لرے کړے شی او د هغوی دا وسیله لو ګانے به ډیر ناکاره وی یعنی

جهنم ۱۲۔ ۵۶ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی الخ داد سورت په دعوی باندے نقلی دلیل دے حضرت موسٰی علیه السّلام سره یعنی مونږ موسٰی علیه السلام ته په تورات کښې هم دغه پیغام دهدایت ورکړے وو او د بنی اسرائیلو دپاره مونږ دستور ګرځولے وو چه زمانه سیوا بل څوک کارساز مه جوړه وئ لکه چه په سورة بنی اسرائیل رکوع ۱ کښې ئے ارشاد او فرمائی وَاٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًی لِّبَنِیْٓ اِسْرَآئِیْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَکِیْلًا۔ او بیا دے کتاب (تورات) وارثان مونږ بنی اسرائیل اوګرځول چه دغه پیغامِ هدایت (توحید) باندے مشتمل او دعقل او پوهی خاوندانو دپاره پوره نصیحت وو۔ ۵۷ فَاصْبِرْ۔ دا دویم ځل دتسلئ ذکر دے ددعوت توحید په سِلسله کښې به دمشرکانو لطرفه تاسو ته تکلیفونه او مصیبتونه رسیږی تاسو هغه صبر او تحمل سره برداشت کوئ د الله وعده برحق ده هغه به ضرور تاسو او ستاسو مَلګری په مشرکانو باندے غالب کوی۔ لیکن دا وعده به په خپل مقرّر وخت باندے پوره کیږی لکه چه موسٰی علیه السلام او دهغه قوم د دے پیغامِ توحید په خاطِر دفرعون دلاسه مصیبتونه برداشت کړل الله آخر هغه غالب او منصور اوګرځولو او فرعون او دهغه قوم ئے دهغوی دسترګو په وړاندے ذلیل او رُسوا کړل او هلاک ئے کړل تاسو دے مصیبتونو پرواه مه کوئ د الله پیغام رسوئ او صبا بیګاه د الله تنزیه او تقدیس دشرک نه بیانوئ او د الله په حمد او ثنا کښې مصروف اوسیږی الله تعالٰی دهر قسم شرک نه پاک دے او ټول هرڅه کولو والا صرف هغه دے۔ دے سِلسله کښې که چرے ستاسو نه کوم یو داسے لغزش صادر شي چه اګرچه فی نفسه ګناه نه وی لیکن تاسو د رفیع شان سره مناسب هم نه وی نو هغے دپاره د الله نه دبخشش دُعا او غواړه او دهغه کمے پوره کولو کوشش اوکړه (وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ) اقبل علی امر الدّین وتلاف ماربما یفرط مما یعد بالنسبة الیك ذنبا وان لم یکنه (روح ج ۲۴ ص ۷۷)۔
۵۸ اِنَّ الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ۔ دا په مجادله کوونکو او بے دلیل جهګړه کوونکو باندے زجر دے کوم خلق چه د الله په ایتونو کښې د دلیل او حُجّت نه بغیر جهګړه کوی هغوی محض ضد یان او عنادګردی په اصل کښې دهغوی په زړونو کښې کبر او غرور دے۔ دهغوی خیال دے چه که چرے هغوی د پیغمبر علیه السّلام (خبره) او منی نو بیا به هغوی تابعدار او فرمانبردار اوګرځی او داشان به دهغوی سرداری او لوئی ختم شی لیکن که چرے پیغمبر علیه السّلام او نه منی نو د هغوی عظمت او حکومت به قائم پاتے شی۔ وے فرمائیل ددوئ دا خیال باطل دے د پیغمبر علیه السّلام د مخالفت او عداوت په وجه سره به هغوی خپل عظمت او لوئی قائم او نه ساتلے شی مونږ به دهغوی دا آرزو دخاورو سره مِلاؤ کړو او په دُنیا کښې به هغوی ذلیل او رُسوا کړو۔ هؤلاء قوم رأوا انهم ان اتبعوا النبی صلّی الله علیه وسلّم قل ارتفاعهم ونقصت احوالهم وانهم یرتفعون اذا لم یکونوا تبعا۔ فاعلم الله عزّوجل انهم

لا یبلغون الارتفاع الذی املوه بالتکذیب۔ (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۲۳)۔

۵۵ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ۔ تا سو د دے معاندینو په شرارتونو او کړو وړو باندے مه خفه کیږئ بلکه د صبر او تحمل نه کار واخلئ که چرے کوم یو وخت په تقاضا د بشریت په طبیعت کښ خه تیزی راشی نو تا سو الله سره د هغے نه پناه او غواړئ۔ قال الشیخ رحمه الله تعالیٰ۔ یا مطلب دا دے چه د دے حسد کوونکو او معاندینو د مکر او فریب نه د الله پناه او غواړئ ځکه چه هغه ټول هر څه اوریدونکے او لیدونکے دے۔ هغه د معاندینو جدال (جګړی) نه هم خبر دے او ستا د حال نه هم خبر یو ته به د هغه د حال مطابق جزاء سزا ورکوی۔ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ۔ دا د ما قبل د پاره علت دے یعنی د دینه دے د پاره پناه او غواړئ چه ټول هر څه اوریدو والا او لیدو والا صرف هغه ذات دے۔

۵۶ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے دلیل اِنّی دے۔ اَلنَّارُ یعرضون علیها الخ کښ د تخویف اخروی ذکر وو او تخویف اخروی هغه وخت کیدے شی کله چه قیامت راشی د دے وجه نه دلته ئے په قیامت باندے دلیل ذکر کړو۔ دا معاندین او مجادلین چه هغوی ته په بعث او کښ اکثریت حاصل دے دومره سوچ هم نه کوی چه د زمکے او آسمان پیدا کول د انسانانو د پیدا کولو نه ډیر زیات لوئے کار دے نو کوم قادر مطلق چه زمکه او آسمان پیدا کړل لکه چه د دے تولو مشرکانو هم ایمان او یقین دے هغه ته د انسانانو دوباره ژوندی کول او پیدا کول کوم مشکل کار دے وَمَا یَسْتَوِی الْاَعْمٰی وَالْبَصِیْرُ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے دلیل لِمّی دے۔ ړوند یعنی (کافر) چه د قدرت دلائلو او د توحید آیتونو ته نه ګوری او په دے کښ غور او فکر نه کوی او بصیر (مؤمن) چه د قدرت په دلائلو او د توحید آیتونو ته ګوری او هغه منی دا دواړه نشی برابر کیدے په بل عنوان سره مؤمن صالح او کافر بدکار یو بل سره برابر نه دی۔ اول الذکر د الله له طرفه د ثواب جزیل او اجر عظیم مستحق دے حال دا دے چه آخر الذکر د سخت عذاب او دردمند عذاب مستحق دے لیکن جزا او سزا په دنیا کښ خو ظاهریږی نه د دے وجه نه لا محاله د دے دنیا وی ژوند نه روستو یو داسے وخت پکار دے چه په هغے کښ د مؤمن او کافر جزاء او سزاء کما حقہ ظاهر شی د دغے نوم آخرت دے۔

وَمَا یَسْتَوِی الْاَعْمٰی وَالْبَصِیْرُ ۙ وَالَّذِیْنَ

او برابر نه دے ړوند او سترګو والا او نه هغوی

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِیْٓءُ ؕ

ایماندار چه نیک کار د نه کوی او نه بد کار

قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ
ډېر لږ سوچ کوئ تاسو ف ۲ یقینا قیامت راتلونکې ده

لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا
په هغه کښې څه دهوکه نشته لیکن ډېر خلق دي نه

يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ
منی.. او وائي ۶۲ ستاسو رب ما ته آواز کوئ چه څه درا ورسیږم

لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي
ستاسو آواز ته. بیشکه کوم خلق چه تکبر کوي حما د بندګئ نه

سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ اللَّهُ الَّذِي
اوس به داخلیږي دوزخ ته خوار (ذلیله) ف ۳ الله (هغه) دے ۶۳

جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ
چا چه پیدا کړه ستاسو دپاره شپه چه په هغے کښې آرام اوکړئ او ورځ ئے

مُبْصِرًا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ
د لیدلو دپاره. بیشکه الله خو فضل والا دے په خلقو باندے

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ
لیکن ډېر خلق داسے دي چه حق نه مني هغه

اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا
الله دے رب ستاسو هر څیز پیدا کوونکے د هیچا بندګي نشته سوا

هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِينَ
د هغه نه. بیا کوم طرف ته ګرځولے شئ. دا شان ګرځولے شي کوم خلق چه

كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾
د الله د خبرو نه منکریږي.

نکات

۱ د قیامت په ثبوت باندے دلیل نقلی ۱۲۔ ۲ دعوی ثبوت قیامت ۱۲۔
۳ دویم حل د دعوی ذکر۔ ۴ توحید باندے اولنے عقلی دلیل ۱۲۔
۵ داول دلیل ثمره ۱۲ ۶ دویم عقلی دلیل ۱۲۔

موضح قرآن

و۲ بندګی د پاره شرط دے د خپل رب نه سوال کول، نه غوښتل غرور دے کچرے دنیا نه غواړی نو د الله نه دِ ګناه بخښنه اوغواړی۔ او دینه معلومه شوه چه الله ته آواز رسیږی نو حق خبره داده لیکن داسے نه ده چه د هریو بنده هر یو دعا قبولیږی هغه د خپلے مرضی موافق مالک دے خپله خوښه سره هرڅه کوی۔

تفسیر

۶۱ دا د ثبوت قیامت دعوی ده. قیامت ضرور راتلونکے دے دهغے په راتللو کښ هیڅ شک نشته لیکن دے باوجود اکثر خلق یعنی کافران د داسے یقینی اؤ قطعی څیز نه هم انکار کوی۔

۶۲ وَقَالَ رَبُّكُمُ۔ دا د سورت د دعوی دویم حل ذکر دے. ستاسو پروردګار اعلان عام دے. څما بندګانو! په حاجتونو او مصیبتونو کښ ما فوق الاسباب صرف ما ته آواز کوئ کچرے زهٔ او غواړم نو ستاسو دعا به قبوله کړم. اِسْتَجِبْ لَكُمْ اِنْ شِئْتُ. لکه چه بل ځائے ارشاد دے. عَجَّلْنَا لَهٗ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُّرِيدُ (بنی اسرائیل ۲۶) داشان ئے اوفرمائیل. وَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ اِلَيْهِ اِنْ شَاءَ (انعام ۴۴) یا به مطلب داوی چه ما ته آواز کوئ تاسو۔ ستاسو د دعا قبلولو طاقت ما کښ شته دے. څما نه سیوا څوک هم دعا اؤ آواز نه شی اوریدلے. اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ کوم خلق چه صرف څما ذرابللو نه اِستکبار کوئ صرف څما ذرابللو نه څما په رابللو اِکتفاء نه کوی اؤ څما نه سیوا نورو ته آواز کوئ هغوئ به ضرور لا محاله ذلیل اؤ رسوا جهنم ته داخلیږی د عبادت معنیٰ دلته دعا اؤ رابلل ده ځکه چه دعا د عبادت مغز دے. عَنْ عِبَادَتِيْ عَنْ دُعَائِيْ وَالدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ (جامع البیان ص۴۰۴) ای عن دعائی وتوحیدی (ابن کثیر ج ۴ ص۸۶)

حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه روایت کوی چه رسولِ خدا صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ. بیا ئے د روستو هغوئ په طور د استدلال دا ایت تلاوت کړو وقال ربکم ادعونی (الآیة) د دے حدیث تخریج د حدیث اؤ د تفسیر اِماماٰنو (ابن جریر، ابوداود، نسائی، ترمذی، ابن ماجه، ابن ابی حاتم) کړیدے (ابن کثیر) داشان نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل الدعاء مخ العبادة (خازن ج ۶ ص۱۰) په حواله د ترمذی۔ دعا د عبادت مغز دے اؤ د عبادت ډیر اُوچت فرد دے۔

۶۳ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ۔ دا په توحید باندے اولنے عقلی دلیل دے الله تعالیٰ شپه ستاسو د آرام د پاره تیاره، اؤ ورځ ستاسو د کار د پاره روښانه اوګرځوله بیشکه الله په خپلو بندګانو باندے ډیر مهربان اؤ فضل کوونکے دے لیکن اکثر

خلق د هغهٔ د انعاماتو شکر نهٔ ادا کوی۔ ذٰلِکُمُ اللّٰهُ رَبُّکُمْ الخ داد دلیل نتیجه ده او ثمره۔ د الله چه په ذکر شوو پورتنو صفتو نو سره متصف دے۔ نظام شمسی (د کائنات نظام) چه د چا په لاس کښ دے هغه ستا سو رب دے، د هر شیز خالق لهٰذا د هغهٔ نه سوا هیڅوک اِلٰه نشته بس صرف د هغهٔ عبادت کوئ او په مصیبتونو او حاجتونو کښ ما فوق الاسباب صرف هغه رابلئ۔ د الله تعالیٰ د توحید آیتت د دا سے روښانه دلائلو باوجود تا سو چرته اَلتېږئ۔ ستا سو په عقل او فکر باندے څه شوی دی چه د الله نه سوا دا سے معبودان او کارساز نیولے دی چه بالکل عاجز دی۔

فکیف و من ای جهة تصرفون من عبادته سبحانه الی عبادة غیره عزوجل۔ (روح ج ۲۴ ص ۸۳) کذٰلك یؤفك الخ کوم خلق چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه محض د ضد او عناد په وجه انکار اوکړی او په انصاف سره په هغے کښ غور او فکر اونه کړی د هغوی عقل دا شان وهلے او ډَرَسے لارے نه په لارے او گمراه کولے شی ای کل من جحد بایات الله ولم یتاملها ولم یطلب الحق افك کما افکوا (مدارک ج ۴ ص ۶۳)۔

۶۴ اَللّٰهُ الَّذِیْ۔ دا دویم عقلی دلیل دے۔ الله تعالیٰ ستا سو د پاره زمکه د قرار ځائے او گرځولو او آسمان ئے چهت اوگرځولو او تا سو ته ئے ډیرے ښایسته او ښکلی صورتونه در کړل او ښائسته ډیر ښایسته عمده او پاکیزه څیزونه تا سو ته رزق در کړو۔ ذٰلِکُمُ اللّٰهُ رَبُّکُمْ۔ دا دویم دلیل ثمره ده۔ د الله څوک چه پورتنو ذکر شوو صفتونو سره متصف دے هغه ستا سو رب او کارساز دے څومره د اوچت شان والا دے۔ هغه الله برکات ورکوونکے، او ټول جهان ته ورکړه کوونکے، د جهانونو پروردګار دے۔ هُوَ الْحَیُّ الخ۔ د دے نه علاوه هغه همیشه ژوندے دے په هغهٔ باندے هیڅ کله مرګ نه راځی د هغهٔ نه سوا څوک معبود او کارساز نشته نو بیا په مصیبتونو او حاجتونو کښ صرف هغه ته آواز کوئ د هغهٔ په رابللو کښ څوک هغهٔ سره مه شریکوئ۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۔ دا د ما قبل دلیل دے صرف هغه رابلئ ځکه چه ټول د کارسازئ صفتونه په هغهٔ پورے مختص دی او هغه د ټولو جهانونو پروردګار او مربی دے تر دے ځائے د سورة اولنی حصه ختمه شوه۔

اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَکُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا

۶۴ الله (هغه) دے چا چه اوگرځوله ستا سو د پاره زمکه د قرارئ ځائے

وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَکُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَکُمْ

او آسمان چهت او صورتونه ئے جوړ کړل ستا سو نو ښائسته ئے جوړ کړل

وَرَزَقَکُمْ مِّنَ الطَّیِّبٰتِ ؕ ذٰلِکُمُ اللّٰهُ

صورتونه ستا سو او روزی ئے درکړه تا سو ته د صفا څیزونو نه هغه الله دے

رَبُّكُمْ ۖ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾

ربّ ستاسو نو ډیر برکت دے دَ الله چه ربّ دے د ټول جهانونو

هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ

هم هغه دے همیشه ژوندے دے هیچا بندګی نشته دهغه نه سوا، نو هغه ته آواز کوئ چه خالص کوونکی

لَهُ الدِّيْنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾

ئ هغه د پاره بندګی . ټول صفتونه دالله دی چه ربّ دے د ټول جهان

قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

ته اُووایه ۶۶ ځه چه منع کړم چه عبادت اوکړم دهغه (بتانو) کوم چه تاسو رابللی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ

سوا د الله نه چه کله راغلے ما ته ښکاره دلیلونه له جانبه

رَّبِّيْ ۡ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾

زما د ربّ او ما ته حکم اوشو چه تابعدار شم د پاره د ربّ العالمین (الله).

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ

(الله) هم هغه دے چا چه پیدا کړے دے ستاسو (نیکه) د خاورے نه بیا (اولاد ادم) د

نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ

اوبو څاڅکی نه بیا د چکه وینے نه بیا تاسو رااوباسی

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا

بچی بیا تاسو اورسوی خپل پوره طاقت (ځوانی) ته بیا ترهغے چه شئ تاسو

شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ وَ

بوډاګان او څیني تاسو نه داسے دی چه مړه شي مخکښي د هغے نه او

لِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

تر څو چه تاسو اورسیږئ لیکلے شوے وعدے ته او دے د پاره چه تاسو سوچ اوکړئ وا

نکات

۱ ثمره د دویم دلیل ۱۲ ۲ ذکر د دعویٰ درېم عقلي ۱۲ ۳ اعاده د دلیل وحي ۲. ۴ اعاده د دلیل عقلي ۱۲.

موضح قرآن

ف دېولو ساه لرونکو نه ئې دانسان صورت بهتر او ده روزي صفا کړې ده ۱۲.

ف یعني دومره احوال په تاسو تېر شول شاید چه یو حال بل هم تیر شي په چه هغه د مرګ نه روستو ژوندي راپاڅېدل دي ۱۲.

دویمه حصه

تفسیر

ف ۶۵ قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ. دے ځائے نه د سورت دویمه حصه شروع کیږي. دے حصه کښې داول حصے د مضامینو اعاده شوېده. دے ایت کښې د دلیل وحي اعاده ده چه ما پروردګار په ما باندے د وحي په ذریعه ایات بینات او واضح او قوي دلائل نازل کړل زه ئې منع کړے یم چه زه د دے باطل معبودانو عبادت او کړم او هغه چا ته آواز او کړم کوم چه تاسو د الله نه سوا را بللې داشان ما ته حکم راکړے شویدے چه زه د رب العالمین فرمانبردار بنده شم او د هغه نه سوا بل څوک اونه بلم.

ف ۶۶ وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ. دا د دلیل عقلي اعاده ده هغه ذات خو الله تعالیٰ دے چه هغه ستاسو پلار آدم د خاورو نه پیدا کړه بیائے د هغه د نسل سلسله د نطفے نه شروع کړه نطفے د مور په رحم کښې خالص خپل قدرت سره د غوښے د ټکړے په شکل کښې بدله کړه بیائے د هغے نه کامل الخلقه بچے پیدا کړلو. بیائے زیات ژوند تاسو ته ورکړو ترد چه تاسو ځوانۍ ته اورسیدلئ بیائے زیاتے ژوند درکړه ترد چه تاسو بوډا والي ته اورسیدلئ. لتبلغوا اولتکونوا د دواړو نه مخکښې یبقیکم مقدر دے (مدارک). ستاسو نه ځنې داسے هم وي چه د ځوانۍ یا د بوډا والي نه مخکښې د مرګ جام اوڅکي. دا ټول هر څه دے د پاره کوي چه تاسو خپل معین وخت پوره کړے (د مرګ نیټې) پورے اورسیږئ او د هغه په کمال قدرت کښې غور فکر اوکړئ د هغه ربوبیت او د هغه وحدانیت او پیژنئ. هُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ. څنګه چه ژوند د هغه په لاس کښې دے داشان مرګ هم د هغه په قبضه قدرت کښې دے بلکه ټول د کائنات نظام د هغه زیر تصرف دے هغه ته هیڅ کار ګران او مشکل نه دے هغه چه د کوم کار فیصله کوي د هغے سرته رسولو د پاره د هغه اراده کافي وي. د لته ئې اراده اوکړه او هلته کار مکمل شو پس هم دغه قادر مطلق او متصرف علی الاطلاق ستاسو ټولو معبودانو کارساز دے د هغه نه سیوا هیچا ته په حاجتونو کښې غائبانه آوازے مه کوئ.

هُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰٓی

(الله) هغه ذات دے چه ژوندي کول کوي او مړه کول کوي بیا چه کله حکم او کړي د

أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾ أَلَمْ

یو کار نو هم دا او وائي هغه ته (موجود) شه پس هغه موجود شي آیا تا

تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ

اونه لیدل هغه خلکو ته ۶۷ چه جهګړه کوي په حکمونو د الله کښې

أَنَّى يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ

کوم طرف ته ګرځولے شي هغه خلق چه دروغ ئے اوګڼړلو دا کتاب (قرآن) ۶۸

وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾

او هغه کوم چه لیږلے مونږ خپلو پیغمبرانو سره پس اخر به پوهه شي

إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾

کله چه غاړه کښې واچول شي دهغوئ په څټونو کښې او زنځیرونه هم راښکلے به شي

فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ

په سوزونکو اوبو کښې بیا به په اور کښې سوزولے شي بیا

قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن

وبه ویلے شي هغوئ ته داوائي چرته لاړل هغه کوم چه تاسو شریکان ګرځول

دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن

سیوا د الله نه - وائي به هغه ځموږ نه ورک شول بلکه مونږ خو نه وو

نَّدْعُو مِن قَبْلُ شَيْئًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ

را بللے مخکښې هیڅ څیز دا شان ګمراه کوي

اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ تَفْرَحُونَ

الله کافران ۶۹ دا بدله ئے دهغې ده کوم چه تاسو کبر او غرور کوو

فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ

په زمکه کښې نا حق او دهغې چه تاسو

تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

نازیدئ داخل شئ دروازو ته د دوزخ

خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِیْنَ ﴿٧٦﴾

همیشه اوسیدلو دپاره په هغې کښې پس خه دیر بد ځائے دے د تکبر کوونکو

نکات: ٦١ دزجر إعادة ١٢- ٦٨ تخویفِ أُخروی ١٣-

موضح قرآن ف اوّل منکر شوے وو چه مونږ شریک نه دے نیولے اوس اوو یریدل دخلے نه پټے داخبره اوښی (ضلوا عنا) بیا په ځان سنبال کړی او انکار ئې کوی نو الله دهغوی دغه انکار دے حکمت سره ورک کړو۔

تفسیر ٦٩ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ الخ د اپه مجادلینو باندے دزجر اعادة ده د نبی علیه السلام د معاندینو قابل تعجب رویئے طرف ته متوجه کول مقصود دے۔ د دے ضدی خلقو حال هم عجیبه دے چه د الله تعالٰی په واضحو ایتونو کښې خامخا بے ځایه دلیلونه پیش کوی او جهګړه کوی حال دا دے چه دا ایتونه داسے واضح او روښانه دی چه د دے کښې غور او فکر په هغوی دایمان دولت او یقین لرلو ته اورسوی او دے مقصد جهګړو نه په هغوی منع کړی لیکن د دے باوجود هغوی څنګه د هدایت نه مخ اړوی او ګرځی۔ ٧٠ اَلَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ دلته نه واخله فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِیْنَ پورے دا تخویفِ اخروی إعادة ده۔ اَلَّذِیْنَ كَذَّبُوا د اَلَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ تبدل دے یا د هغے صفت دے دا هغه خلق دی چه د الله کتاب دروغ اوګنړلو او خاص طور سره د دے مسئله توحید نه ئے انکار اوکړو چه د هغے د تبلیغ دپاره مونږ ټول انبیاء او رسولان علیهم السلام اولیږل لکه چه بل ځائے ارشاد دے۔ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ۔ (الانبیاء ٢٦)۔ د دے خلقو د تکذیب او انکار او جهګړو او بد انجام پوره معلومات به هغه وخت اوشی کله چه د قیامت په ورځ د هغوی په څټونو کښې طوقونه (غاړه کئی) او په خپو کښې بیړئ وی او هغوی سوزوونکی او لمبه وهونکی اور ته راښکول شی۔ الاغلال جمع د غل ده یعنی د مرئ غاړه کئی او السلسل جمع ده د سِلسلة۔ یعنی بیړئ چه د قید یا نو په خپو کښې اچولے شی د دے وجه نه دلته د السلسل خبر محذوف دے او دا د علفتها تبنا وماء باردا د قبیل نه دے په اصل کښې داسے وو اذ الاغلال فی اعناقهم والسلاسل فی ارجلهم (جلالین) څنګه چه بیړئ په خپو کښې وی۔

٧١ ثُمَّ قِیْلَ لَهُمْ د تحسیر (فَمَژن کولو) او توبیخ (رټلو) دپاره به هغوی ته فرښتے اووائی چه نن چرته دی ستاسو کارساز او سفارشیان کوم چه تاسو د الله

په الوهیت کښې شریکول؟ نن هغه را او بللې دے د پاره چه تاسو د جهنم د عذاب نه خلاص کړي. قالوا ضلوا عنا. فورًا به جواب ورکړي چه جي! نن خو هغه په نظر نه راځي مونږ چا ته آواز اوکړو؟ دینه روستو به هغوی ځان سنبال کړي او خیال به اوکړي چه مونږ خو په خپل ځان باندے اقبال جرم (د شرک اعتراف) اوکړو د جرم نه به بیخې انکار اوکړي چه کیدے شي په دے طریقه ځمونږ د خلاصے څه صورت پیدا شي نو دینه اروستو به فورًا اووائي نه،نه.!! مونږ خطاء شو. بلکه مونږ خو په دُنیا کښې د الله نه سوا بل څوک چرته هم نه وو را بللے. الله تعالیٰ به کافرانو لره د دے جدال او عناد په وجه سره هم داشان ګمراه کړي او حیران سرګردان به ئے اوګرځوي چه هغوی به په دروغ وئیلو باندے سرشي حال دا دے چه د هغوی به یقین وي چه د دلته به دروغ وئیلو او غلط بیان سره هیڅ فائده نه وي. انه تعالیٰ یحیرهم فی امرهم حتی یفزعون الی الکذب مع علمهم بانه لا ینفعهم (روح ج ۲۴ ص ۸۱) یا مطلب دا دے چه نن مونږ چا ته آواز اوکړو نن خو مونږ ته دا حقیقت واضح شو چه په دُنیا کښې خو مونږ کوم معتبر شیز ونه دے را بللے کوم چه مونږ کارساز ګڼړل او هغه هم را بلل هغه نه نافع وو او نه ضرر ورکونکے شو نو بلکل محض صنم شو. ای بل تبین لنا الیوم انا لم نکن نعبد فی الدنیا شیئا یعتد به (روح) لم نکن ندعوا من قبل شیئا ینفعنا او یدفع عنا المکروه (مظهری ج ۸ ص ۲۷۶) ‏۸۶‏ ذلکم بما کنتم. دا دردناک عذاب تاسو ته دے د پاره درکولے شي چه په دُنیا کښې غیر الحق (باطل) یعنی په شرک او ګناهونو باندے خوشحال وی. بغیر الحق وهو الشرک وعبادة الاوثان (مدارک ج ۴ ص ۶۵، وهو الشرک والمعاصی (روح ج ۲۴ ص ۸۴) او د مشرک پیشوایانو په پیدا کړے شوو شبهات کښې او نخلئ په باطل باندے خوشحال او مطمئن شوئ کبر او غرور به مو هم کولو او اهل حق به تاسو حقیر او سپک ګڼړل. ادخلوا ابواب جهنم. لهذا اوس د جهنم نه سیوا ستاسو هیڅ ځائے د اوسیدو لشته. اوس د جهنم په اوو دروازو کښې جهنم ته همیشه اوسیدلو د پاره داخل شئ دا جهنم د منکرینو د پاره څومره بد ترین ځائے د اوسیدلو دے.

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ

پس صبر اوکړه بیشکه وعده د الله حق ده. بیا که چیرے او ښایو مونږ تا ته

بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا

کومه وعده چه مونږ ئے هغوی سره کړو، یا قبض کړو مونږ تا لره هر حال کښې به بیا

يُرْجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ

ځمونږ طرف ته راځي. او مونږ ۸۷ لیږلے دی ډیر رسولان ستا نه مخکښې

مِنۡهُمۡ مَّنۡ قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ
ځنې په هغوی کښې هغه دی چه واورول مونږ تاته د هغوی احوال او ځنې دی چه

لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَ ؕ وَمَا كَانَ لِرَسُوۡلٍ
نه دی اوروله مونږ او د هیڅ یو رسول قدرت کښې نه وه

اَنۡ يَّاۡتِىَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَآءَ
چه راوړې دې څه نښانه بیغیر په حکم د الله بیا چه کله راغلو

اَمۡرُ اللّٰهِ قُضِىَ بِالۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ
حکم د الله فیصله اوشوه انصاف سره او تاوان کښې پریوتل هغه ځائے

الۡمُبۡطِلُوۡنَ ﴿۷۸﴾ اَللّٰهُ الَّذِىۡ جَعَلَ لَـكُمُ الۡاَنۡعَامَ
دروغژن الله هغه (ذات) دے چا چه گرځولی دی ستاسو دپاره څاروی

لِتَرۡكَبُوۡا مِنۡهَا وَمِنۡهَا تَاۡكُلُوۡنَ ﴿۷۹﴾ وَلَـكُمۡ
دے دپاره چه سورلی اوکړئ په بعضو باندې او بعضی اوخورئ او ستاسو

فِيۡهَا مَنَافِعُ وَلِتَبۡلُغُوۡا عَلَيۡهَا حَاجَةً فِىۡ
دپاره په دیکښې ډیرے فائدے دی او دے دپاره چه اورسیږئ سواره یو کار ته کوم چه ستاسو

صُدُوۡرِكُمۡ وَعَلَيۡهَا وَعَلَى الۡـفُلۡكِ تُحۡمَلُوۡنَ ﴿۸۰﴾ ؕ
په زړونو کښې وی او په هغوی باندے او کشتو باندے سواره کرے شئ۔

وَيُرِيۡكُمۡ اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَىَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنۡكِرُوۡنَ ﴿۸۱﴾
او ښائی تاسو ته خپلے نښانے (د قدرت) بیا د کوم کوم نښانو د خپل رب نه انکار کوئ۔

نکات ۱ تسلی نبی علیه السلام ته ده ۱۲ ۲ اعاده د دلیل نقلی ۱۲ ۳ جواب دسوال مقدر ۱۲۔ ۴ اعاده د دلیل عقلی دوهم عمل۔

تفسیر ۱ فَاصۡبِرۡ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده دوباره۔ تاسو د مشرکانو په ضرر رسولو باندے صبر کوئ آخری غلبه به هم ستاسو وی دا د الله وعده ده چه برحق دے او په خپل وخت به

ضرور پوره کیږی اوس به مونږ ستاسو دُشمنانو ته څنی وعده کړے شوے سزاګانے درکوو او تاسو به ئے په خپلو سترګو باندے په دُنیا کښ اووینئ لکه چه په جنګ بدر وغیره کښ قتل او قید وینئ او که چرے مونږ هغوئ ته دسزا ورکولو نه مخکښ تاسو وفات کړو نو په آخرت کښ به هغوئ ته سزا ورکوو ځکه چه هغوئ به مونږ ته واپس راځی او دُمحشر په میدان کښ به ځمونږ په مخکښ حاضرولے شی۔

۷۲ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا۔ دا دَ دلیل نقلی إعاده ده دا دلیل نقلی اجمالی دے تولو انبیاء علیهم السّلام سره تعلق لری تیر شوی انبیاء علیهم السّلام دے دعوت سره لیږلے شوے دی په هغے کښ دځینو ذکر مونږ تاسو ته کړے دے او دځینو ذکر مو هم نه دے کړے لیکن په هر حال کښ دعوت د ټولو یو وو۔ چه د الله نه سوا څوک معبود نشته او نه کارساز لهٰذا په حاجتونو او مصیبتونو کښ صرف هغه ته آواز کوئ۔ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ الخ دا د مقدر سوال جواب دے مشرکانو به دعناد په وجه وئیل مونږ به هله او منو چه که چرے محمد علیه السّلام مونږ ته مطلوبه معجزه ښکاره کړی وے فرمائیل معجزه ښکاره کول د پیغمبر په اختیار کښ نه ده چه کله ئے څوک مطالبه اوکړی او فوراً ئے هغه ته ښکاره کړی۔ بلکه معجزه د الله په اختیار کښ ده کله چه الله تعالیٰ غواړی په تقاضا د حکمت بالغه د پیغمبر په لاس ئے ظاهره کوی۔ فالمعجزات علی تشعب فنونها عطایا من الله تعالیٰ قسمها بینهم حسبما اقتضت مشیئته المبنیة علی الحکم البالغة کسائر القسم لیس لهم اختیار فی ایثار بعضها والاستبداد باتیان المقترح بها (روح ج ۲۴ ص ۸۹)۔ فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ الخ کله چه د الله دعذاب مقرر وخت راشی نو دحق مطابق فیصله به کولے شی یعنی انبیاء علیهم السّلام او دهغوئ متبعین کامیاب کړلے شی د هغه وخت باطل پرست په خساره کښ غورځولے شی ځکه چه هغوئ رسوا کوونکی او دَ ذلت نه ډک عذاب سره تباه او برباد کړځولے شی۔

۷۳ اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ۔ دا هم دَ دلیل عقلی إعاده ده د الله تعالیٰ بے انتها انعامات او احسانات او ګورئ هغه ستاسو د پاره مختلف قسم چارپایان پیدا کړیدی ځنے خو داسے دی چه تاسو په هغے سورلئ کوئ مثلاً اوښ۔ آس او ځنے داسے دی چه دَ هغے غوښه خورئ مُراد حلال څاروی دی۔ ددینه علاوه دهغوئ نه تاسو نور مختلف قسم فائدے اخلئ۔ پئ، وړی او څرمنے وغیره۔ نه او د یر ضروری حاجتونه پوره کوئ مثلاً خپل سامان او د تجارت مال وغیره دیو ځائے نه بل ځائے ته په هغے باره وئ۔ دا سورلئ خو په اوچه کښ پکار راځی او په دریابونو او سمندرونو کښ د سفر کولو د پاره په کشتو او بحری جهازونو کښ سورلی کوئ۔ وَیُرِیْكُمْ اٰیٰتِهٖ الخ۔ الله تعالیٰ تاسو ته دخپل وحدانیت او کمال قدرت ځومره ډیرے نښی ښائی۔ او ښائی د کوم کوم نشانات نه به انکار کوئ او دهغه وحدانیت به پریږدئ غیر الله ته به آواز کوئ؟

اى ایٰته الدالة على وحدانیته و قدرته (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۳۵) ۔

اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ فَیَنۡظُرُوۡا کَیۡفَ

۷۴ آیا نه دی گرځیدلی هغوی په ځمکه (ملکونو) کښې چه کتلی ئې وی چې څنګه شو

کَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ کَانُوۡۤا

شو انجام د هغې مخکینو هغوی وو

اَکۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَ اَشَدَّ قُوَّةً وَّ اٰثَارًا فِی الۡاَرۡضِ

زیات د دوی نه په طاقت کښې ډیر سخت او په نښو کښې چه ئې پریښودلی دی په ځمکه

فَمَاۤ اَغۡنٰی عَنۡهُمۡ مَّا کَانُوۡا یَکۡسِبُوۡنَ ﴿۸۲﴾ فَلَمَّا

پس په کار رانه غلو د هغوی کوم چه هغوی کسب کول . بیا چه کله

جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُمۡ بِالۡبَیِّنٰتِ فَرِحُوۡا بِمَا

راغلل هغې هغوی ته رسولان د هغوی په ښکاره دلائلو سره خوشحالی (فخر) ئې شروع

عِنۡدَهُمۡ مِّنَ الۡعِلۡمِ وَ حَاقَ بِهِمۡ مَّا کَانُوۡا

کړو په هغې کوم چه هغوی سره وو د علم نه او راچاپیره شو په هغوی باندې هغه څیز په کوم څیز

بِهٖ یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا رَاَوۡا بَاۡسَنَا قَالُوۡۤا

پورې چه هغوی پیتوری کولې پس کله چه اوکړې هغوی او لیدو ځمونږ عذاب وې ویل

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗ وَ کَفَرۡنَا بِمَا کُنَّا بِهٖ

مونږ ایمان راوړو په الله یواځې او مونږ پریښودل هغه څیزونه کوم چه مونږ

مُشۡرِکِیۡنَ ﴿۸۴﴾ فَلَمۡ یَکُ یَنۡفَعُهُمۡ اِیۡمَانُهُمۡ

شریکان بیانول بیا نه وو چه فائده رسولې ورته د هغوی ایمان راوړل

لَمَّا رَاَوۡا بَاۡسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِیۡ قَدۡ

کوم وخت چه ئې اولید وځمونږ عذاب . طریقه د الله ایښې ده چه راچلیږی د هغه په

خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ۸۵

په بندګانو کښې. او خراب (تاوانیان) شول دغه ځائے کښې کافران

نکات: نمبر ۸۲ اعاده د تخویف دنیوی ۱۳۔

تفسیر: ۸۲ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ۔ دا د تخویف دنیوی اعاده ده ایا دے د مکے مشرکانو په زمکه کښې تلو راتلو کښې دهغه سرکش قومونو انجام او نه لید و کوم چه د دوئ نه مخکښې تیر شوی دی چه په تعداد کښې د دوئ نه زیات وو په طاقت کښې د دوئ نه زیات وو او په کارنامو کښې د دوئ نه ډیر مخکښې وو کله چه هغوئ دغنا د او سرکشئ نه کار واخست او د توحید پیغام ئے رد کړو وے نه منلو نو موږ هغوئ په دنیا کښې دهلاکت کندے ته او غورځول دغه وخت نه مال او دولت دهغوئ پکار راغلو او نه دهغوئ باطل معبودان، هغوئ څمونږ د ګرفت او عذاب نه خلاص کړل کوم چه هغوئ دنیا کښې کارساز ګڼړل او رابلل به ئے لکه چه په سُورة هُود کښې ئے اوفرمائیل۔ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ۔ دا شان ئے اوفرمائیل فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً (احقاف ع ۴)۔

۸۳ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ کله چه د انبیاء علیهم السلام ښکاره معجزات او واضح دلائل سره هغوئ ته راغلل او دهغوئ پیروی کولو په ځائے هغوئ په خپل علم او عقیدے باندے خوشحال او مطمئن شول چه هغوئ کوم څه کوی هغه صحیح دی او کوم معبودانو ته چه د الله نه سیوا اوازونه کوی هغوئ دوئ اواز اوری او دوئ امداد کوی هغوئ چونکه خپل پلاران او نیکونه په دے طریقه موندلی وو دے وجه نه هغوئ د دوئ په طریقه باندے چلیږی. کما قال تعالیٰ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ (زخرف ع ۲) المراد بالعلم عقائدهم الزائغة وشبههم الداحضة (روح ج ۲۴ ص ۹۱) دا مشرکین په خپل باطل عقائدو باندے فخر کولو او انبیاء علیهم السلام او دهغوئ حق تعلیمات پورے به ئے استهزاء او مسخرے کولے آخر دغه مسخرو او استهزاء مزه هغوئ ته په دنیا کښې اوڅکولے شوه۔

۸۴ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا کله چه څمونږ پیغمبرانو دلائلو او براهین سره هغوئ د توحید په مسئله باندے پوهه کړل یا هغه وخت خو پوهه نه شول بلکه ضد کښې راغلل او انکار ئے اوکړو لیکن چه کله څمونږ عذاب راغلو نو په خپله ئے اومنلو او صفا صفا ئے اووئیل مونږ د یو خدائے په وحدانیت باندے ایمان راوړو او کوم معبودان چه مونږ دخدائے سره شریکول دهغه نه تولونه منکر شول او بیزار شول۔ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ الخ لیکن څمونږ عذاب لیدلو سره چه هغوئ اضطرارًا کوم راوړه هغے سره دوئ ته هیڅ فائده حاصل نشوه او هغوئ

د الله د عذاب نه پېژنه کوي شول ځکه چه اضطراري ایمان معتبر او قبول نه دے ایمان هغه معتبر دے کوم چه اختیاري وي. سُنَّتَ اللّٰهِ الخ یعني د الله تعالی په خپلو بندګانو کښې سنت جاري دادے چه منکرینو باندے د الله عذاب نازل شو او د عذاب د نزول په وخت ایمان نه قبلیږي ځکه چه د الله عذاب راشي هغه وخت کافران ډیره لویه خساره کښې وي ځکه چه دُنیا هم لاړه او آخرت هم ضائع شو.

نه خدا ہی ملا نہ وصالِ صنم — نہ اِدھر کے رہے نہ اُدھر کے رہے

اي سن الله ذلك سنة ماضيه في العباد ان الايمان عند نزول العذاب لا ينفع وان العذاب نازل على مكذبي الرسل ...... قال الزجاج الكافر خاسر في كل وقت ولكن يتبين لهم خسرانهم اذا راوا العذاب (مظهري ج ۸ ص ۲۷۹) وَآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين ۝

د سورۃ مؤمن د مرکزي مضمون متعلقه بحث

سورۃ مؤمن کښې دا مسئله ذکر شوه چه په حاجتونو او مصیبتونو کښې مافوق الاسباب صرف الله تعالی ته آواز کوي په حاجتونو کښې صرف الله رابلل عبادت دے او غیر الله رابلل شرک دے او د دغه شرک مبدا او منشا داده چه رابللو والا داعقیده ساتي چه کوم الله (پیر) مرشد، ولي، نبي، فرشته، جن وغیره) ته آواز کوي هغه داده آواز اوري او د ده د بد حالت نه بنه خبر دے. د مشرکانو دے مشرکانه عقیدي او عمل قرآن جرړي پریکړي لکه چه د سورۃ فاطر نه واخله د حوامیم تر آخر پورے ذکر اوشو. د مشرکۍ دا بیماري د شیعه وو د طرف نه راغلے ده. لاندے څو مستند روایات د شیعه وو لیکلے شي چه هغے سره به دا حقیقت واضح شي.

۱۔ امام جعفر صادق نه روایت دے چه هغوی او فرمائیل چه ایت وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا کښې الاسماء الحسنٰی نه مُراد مونږ یو او الله تعالی څمونږ د معرفت نه بغیر د بندګانو هیڅ عمل نه قبلوي عن ابي عبدالله " ولله الاسماء الحسنى فادعوه بها، قال نحن و لله اسماء الحسنی لا يقبل الله من العباد عملا الا بمعرفتنا (اصول کافي ص ۸۳ طبع تدیم) دا په امام جعفر صادق باندے بهوله افتراء ده دا د هغه فرمان نه دے

۲۔ امامانو ته په علم غیب قدرت حاصل دے کله چه هغوی د څه څیز معلومول غواړي، نو معلومولے شي. عن ابي عبدالله عليه السلام ان الامام اذا شاء ان يعلم علم (اصول کافي ج ۱ ص ۲۵۸ طبع طهران).

۳۔ امامانو ته د خپل مرګ د وخت علم وي او نه مرۀ کیدل او نه مرۀ کیدل د هغوی په خپل اختیار کښې وي. ان الائمة عليهم السلام يعلمون متى يموتون وانهم

لا یموتون الا باختیار منهم (ایضا).

۴۔ امام په ټولو غیب څیزونو باندے عالم وی هیڅ څیز ده څخه نه پټ نه وی. د زمکے او آسمان هر څیز پیژنی او څه چه په جنت او دوزخ کښ دی هغه هم دده په علم کښ وی. (ا) انّ الائمة علیهم السّلام یعلمون علم ما کان وما یکون وانّه لا یخفیٰ علیهم الشئ صلوات الله علیهم (اصول کافی ج ۱ ص۲۶۰). (ب) قال ابوعبدالله انی لاعلم ما فی السمٰوٰت وما فی الارض واعلم ما فی الجنة واعلم ما فی النّار واعلم ما کان وما یکون (ایضا ج ۱ ص۲۶۱). استغفرالله! معاذالله! دا خو د خدائے تعالیٰ شان دے.

۵۔ د امام علم د پیغمبرانو نه هم زیات دے او د امامانو سره داسے علوم موجود وی چه د پیغمبرانو سره نشته. او امام څه چه کیږی او څه چه د قیامت پورے کیږی د ټولو نه خبر دے. قال ابوعبدالله لو کنت مع موسیٰ والخضر علیهما السلام اعطیا علم ما کان ولم یعطیا علم ما یکون وما هو کائن حتی تقوم السّاعة. وقد ورثناه من رسول الله صلّی الله علیه واٰله وراثة (اصول کافی ج ۱ ص۲۶۱).

۶۔ امام د هر سړی باره کښ د ټول هر څه نه خبر وی او هیڅ خبره د هیچا هغه پټه نه وی. قال ابوجعفر علیه السّلام لو کان لالسنتکم اوکیة لحدثت کل امرئ بماله وعلیه (اصول کافی ج ۱ ص۲۶۴).

۷۔ د امامانو سره د اولین او اٰخرین د ټولو انبیاء او مرسلینو او د ټولو علماؤ او اوصیاؤ ټول علوم موجود وی او هغوی د تیر شوی او اینده هر څه خبرے نه خبر وی.
(ا) وعندنا الجفر وما یدریهم ما الجفر؟ .... وعاء من ادم فیه علم النبیین و الوصیین وعلم العلماء الّذین مضوا من بنی اسرائیل .... وان عندنا المصحف فاطمة علیها السّلام وما یدریهم ما مصحف فاطمة علیها السّلام .... مصحف فاطمة فیه مثل قراٰنکم هذا ثلاث مرات، والله ما فیه من قراٰنکم حرف واحد .... ثم قال ان عندنا علم ما کان وعلم ما هو کائن الی ان تقوم السّاعة (اصول کافی ج ۱ ص۲۴۰). (ب). قال ابوعبدالله والله انی لاعلم کتاب الله من اوله الی اٰخره کانه فی کفی. فیه خبر السماء والارض وخبر ما کان وخبر ما هو کائن (اصول کافی ج ۱ ص۲۲۹).

دے حوالونه واضحه شوه چه په اسلام کښ ددے مشرکانه عقیدے موجد شیعه دی حال دا دے چه قرآن مجید ددے رد کوی او د قرآنی تصریحات مطابق د اهلسنت مسلک دا دے چه علم غیب د الله تعالیٰ خاصه ده او غیر الله د پاره علم غیب ثابتول شرک او کفر دے لکه چه د اسلام فقهاؤ صراحت کړے دے اعلم ان الانبیاء والاولیاء لم یعلموا من المغیبات الا ما اعلمهم الله تعالیٰ احیانا وقد ذکر الحنفیة تصریحا بتکفیر من اعتقد ان النبی صلّی الله علیه وسلم الغیب ( ) شیعه څنګه چه ژوندی پیغمبران او امامان عالم الغیب ګڼړی داشان د

هغوئ د اعقیدهٔ هم ده چه پیغمبر علیه السّلام او ائمه کرام د وفات نه روستو هم د هغوئ د اعمالو نه خبردی او روزانه دوه ځل د بندګانو اعمال د هغوئ په مخکښ پیش کولے شی (ا) قال ابو عبد الله تعرض الاعمال علیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم اعمال العباد کل صباح ابرارها وفجارها فاحذروها (اصول کافی ج ۱ ص ۲۱۹) ۔ (ب) قال الرضا ان اعمالکم لتعرض علی فی کل یوم ولیلة (ایضا) دینه معلومه شوه چه د بندګانو اعمال د هر و امامانو مخکښ پیش کولے شی دا د عرض اعمال عقیدهٔ هم د شیعه وو خود ساخته ده۔ د اشیعه وو د اعقیدهٔ هم ده چه په روضهٔ اقدس کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ازواج مطهرات هم تشریف راوړی د دے وجه نه په روضهٔ انورکښ چاد پاره کتل او نظر کول جائز نه دی قال ابو عبد الله ما احب لاحد منهم ان یعلو فوقه ولا امنه ان یری شیئا یذهب منه بصره او یراه قائما یصلی او یراه مع بعض ازواجه (اصول کافی ج ۱ ص ۴۵۲) اهلِ بدعت د اعقیده هم د شیعه وونه اخستے ده لکه چه امام د اهل بدعت لیکلی دی.

"د انبیاء علیهم السّلام په پاک قبرونو کښ ازواج مطهرات پیش کولے شی هغوئ د دوئ سره شپه تیروی":

یو شبهٔ او د هغے جواب باقی پاتے د اشبه چه په حدیث کښ راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل عُرضت علی اجور امتی حتے القذاة یخرجها الرجل من المسجد وعرضت علی ذنوب امتی فلم ارذنبا اعظم من سورة قرآن او اٰیة اوتیها رجل ثم نسیها (ابوداؤد، باب کنس المساجد ص ۶۶) دینه معلومه شوه چه په نبی علیه السّلام باندے د امت اعمال پیش شول نو د دے جواب دا دے د دینه تفصیلی عرض اعمال مُراد نه دے، بلکه مُراد دا دے چه زما د امّت د نیک او بد اعمالو فهرست پیش کولے شی چه دا اعمال موجب د ثواب دی او دا موجب د عقاب دی او عُرضتَ په صیغه د فعل ماضی (مجهول) د دے خبرے دلیل دے چه دا معامله یو ځل اوکړے شوه. روزانه عرض اعمال سره د دے هیڅ تعلق نشته دا شان د دے حدیث سند کښ مطلب بن عبد الله بن حنطب دے چه د حضرت انس رضی الله د ده سماع ثابت نه ده لکه چه امام الجرح والتعدیل ابو حاتم رازی فرمائی لم یسمع من جابر ولا زید بن ثابت ولا من عمران بن حصین ولم یدرک احدا من الصّحابة لاسهل بن سعد ومن فی طبقته (تهذیب التهذیب ج ۱۰ ص ۱۷۹) ۔ د عرض اعمال زیات تحقیق په سورهٔ توبه کښ فسیری الله عملکم ورسوله (الآیة) تیر شوے دے ۔ فلیراجع۔

سورة مؤمن کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

۱۔ فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (۲۶) نفي د شرک اعتقادي

۲۔ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ـــ تا ـــ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ○ (۲۶) نفي د شرک في التصرف

۳۔ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ ـــ تا ـــ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ○ (۶۶) نفي د شرک اعتقادي۔

۴۔ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ـــ تا ـــ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ○ (۶۷) د هر قسم شرک نفي۔

۵۔ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ○ برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے۔

۶۔ هُوَ الْحَيُّ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ـــ تا ـــ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ نفي د شرک اعتقادي۔

۷۔ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ ـــ تا ـــ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○
نفي د شرک اعتقادي۔



سورة حٰمٓ السَّجدة

ربط دے سورة ما قبل سره ربط دا دے چه ما قبل په سورة مؤمن کښې دا دعوىٰ ذکر شوه چه په حاجتونو او مشکلاتو کښې ما فوق الاسباب صرف الله ته اواز کوئ اوس دے سورة کښې ډیوے شبهه جواب ورکړے شوے دے شبهه دا ده چه ډیرو وختونو کښې لیدلے شوے ده چه یو سړے په مصیبت کښې گرفتار شي کله چه هغه غیر الله ته اواز کوي او د غیر الله د خوشحالولو او رضا کولو دپاره هغه منخته (نذر) مني نو د هغه مصیبت نه خلاصے مومي یا کله داسے کیږي چه انسان یو داسے خوب وینی چه د هغے نه د شرک تائید کیږي۔ مثلاً په خوب کښې یو پیر فقیر او وینی چه ده ته وائي تا سو بانده دا تکلیف او سختي ځکه راغلے ده چه تا سو ځمونږ په نذر نیاز یعني (منبتو) کښې قصور کړے دے وغیره۔ د دے جواب وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ (الآية) کښې ورکړے شوے دے چه دا ټول د قرنآء الشیاطین شرارت دے چه هغوی انسان ته مس شیطاني سره تکلیف رسوي او بیا په انسان باندې شرک اوکړي هغه پرې بیږدي. یا په خوبونو کښې مختلف شکلونو کښې راشي۔ انسانانو ته د شرک تعلیم ورکوي۔ د دے وجه نه حکم ورکړے شو فَاسْتَقِيْمُوْآ اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ (الآية) چه د الله توحید باندې قائم او سیږئ

او دغه نه د خپلو ګناهونو معافي او غواړئ - دا شان حٰمٓ مؤمن نه روستو په هر حٰمٓ کښې ديوې شبهې جواب ورکولے شی او هر سورة به د مخکښینی سورت د مضامينو مؤيد (تائيد کوونکے) وی.

خُلاصه

تمهيد سره د ترغيب څلور عقلی دليلونه علی سبيل الترقی د هر دليل نه روستو تخويف دنيوی يا اُخروی. څلور شکوی علی سبيل الترقی. د دويې او دريې شکوې مينځ کښې د طريقه تبليغ بيان او د څلورو واړو شکوونه روستو يو دلته ايت چه د هغه تعلق د څلورو واړو شکوو سره سره دے د دريې شکوو جوابات او يو دليل وحی ضمناً.

تفصيل

حٰمٓ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ ــــــ تا ــــــ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا (۱۶) تمهيد سره د ترغيب. داحکمنامه (کتاب) د لوئے مهربان بادشاه ده چه د دے هرايت او هره خبره ډيره واضح او مفصل ده د دغه ژبه ډيره فصيح او بليغ عربي ده چه د الله طرف نه نازل ثابت (رجوع) کوونکو پاره سراسر او ټول هدايت دے او په بشارت او تخويف مشتمل دے دا يو داسے عظيم الشان او اهم حکمنامه ده چه دا ضرور منل پکار دی.

دسُورة دعویٰ

قل انما انا بشر مثلکم ــ واستغفروه. (۱۶) دے کښې صراحتاً دسُورة دعویٰ ذکر ده او ضمناً دليل وحی ذکر دے ستاسو د ټولو معبود او کارساز يو دے او دا خبره زه د خپل طرف نه نه کوم بلکه دا الله وحی سره راليږلے ده وجه نه دغه طرف ته په سمه (يعنه) لاره روان شئ توحيد او منئ او تر او سه چه کوم شرک تاسو کړے دے د هغے نه بخښنه او غواړئ او د نورو ګناهونو بخښنه هم او غواړئ د بل هيڅ نه ئے مه غواړئ وويل للمشرکين (تا) هم الکفرون دا تخويف اُخروی دے او څوک چه د هغه طرف ته په سمه (يعنه لار (د توحيد لار) لا نه ړے هغه شرک دے او مُشرکانو د پاره ويل (هلاکت) يا د دوزخ يوه مخصوص طبقه) دے. څوک چه د الله توحيد او آخرت نه منی.

ان الذين امنوا (تا) غير ممنون دا بشارت اُخروی دے سمه لاره تلونکو د پاره.

دشبه جواب: د دے دعویٰ باره کښې دا شبه کيدے شی چه هغے وختونو کښې مُصيبت وهلے انسان غير الله ته او از کوی او رابلی ئے نو هغه د مصيبت نه خلاصے بيا مومی يا خپل خوبونو داسے په نظر راځی چه د هغے د غير الله د رابللو تائيد کيږی. نو د دے جواب (وقيضنا لهم قرناء. تا - انهم کانوا خسرين. (ع ۳). سره ورکړو يعنی دا د مثل شيطانی اثر دے دا شان شيطانان هغه ته خوب ښکاره کړی د شرک تلقين (تعليم) ورکوی.

څلور شکوی علی سبيل الترقی

اوله شکوی: فاعرض اکثرهم ــ تا - انناعاملون ٥ (۱۶) دا زجر

تاسو دے مشرکانو ته دا سے عظیم الشان کتاب اوروئ لیکن هغوئ د دے نه اعراض کوی او غوږ هم ورته نه ږدی او نه ئے اوری او وائی د توحید د مسئلے نه زمونږ زړونه په پرده کښ دی او څمونږ غوږونه کانړه دی یعنی ستا سو خبره څمونږ په پوهه (عقل) کښ نه راځی ۔ بلکه مونږ د دا سے خبرو اوریدلو ته هم تیار نه یو. ځئ خپل کار کوئ! مونږ به هم هغه څه کوؤ کوم چه مونږ مخکښ کول.

۲ دویمه شکوی

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ــــ تا ــــ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ۝ (۲۶) داشکوی د اول شکوی نه علیٰ سَبِیلِ الترقی ده. دا معاندین نه صرف دا چه پخپله قرآن نه اوری بلکه نور هم د اوریدلو نه منع کوی او وائی کله چه قرآن لوستلے شی نو چغے سورے وهی د دے د پاره چه ستا سو د چغو شورو په وجه د قرآن لوستونکو اواز کمزورے شی او نه اوریدلے شی ۔

فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا (تا) مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ۝ (۲۹) دویمے شکوے نه روستو دا تخویف اُخروی ذکر دے ۔ کافران او مشرکانو ته به د هغوئ د بدو عملونو د برخه بات سخت عذاب ورکولے شی چه په هغے کښ به همیشه اوسیږی. اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ــــ تا ــــ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ (۳۲) دا د الله توحید منونکو او په هغے باندے د قائم پاتے کیدونکو د پاره بشارت اُخروی دے هغوئ ته به په جنت کښ هر قسم آرام او د هغوئ (دخوښے) خوښتلے شوے نعمت ملاویږی ۔ وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا ۔ تا اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ (۳۶) دا د دویمے شکوی سره متعلق دے ۔ او د دے کښ د ترغیب او ترهیب او د طریقهٔ تبلیغ بیان دے کله چه تاسو هغوئ ته د خدائے حکمنامه (قرآن) اوروئ هغوئ به شور کوی او کنځل به کوی د غه وخت تاسو صبر کوئ او د هغوئ د سختئ او بدئ جواب په نرمئ سره ورکوئ نو د هغے نتیجه به دا وی چه هغوئ به هم نرم شی او ستا سو خبره به واوری لیکن کچرے په تقاضا د بشریت تاسو ته غصه راشی نو د شیطان د شر نه په خدائے سره پناه اوغواړئ ۔

۳ دریمه شکوی

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۔ تا ۔ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ (۴۲). دا دریمے شکوی تمهید دے مشرکان باندے به د عناد په وجه تا سو باندے اعتراض کوی تاسو په هغے باندے مه خفه کیږئ او زړه مه تنګوئ ۔ حال دا دے چه دا دا سے کتاب دے چه په دهٔ باندے د اعتراض ګنجایش نشته ځکه چه باطل د ده نزدے هم نشی راتلے ځکه چه دا د حکمت والا او په هر صفت موصوف بادشاه له طرفه حکمنامه ده. مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ. (الآیة). د تمهید نه روستو دا اصل شکوی ده او ضمنًا نبی علیه السلام ته تسلی ده مشرکان چه په تاسو کوم اعتراض کوی دا کومه نوے خبره نه ده بلکه ستاسو نه مخکښ انبیاء علیهم السلام سره د هغوئ د

زمانے مشرکانو هم دا طریقه ده اختیار کړه. دے نه روستو درے شبهات یا اعتراضات جواب دے. دا شکوی د دویمے شکوی نه په طور د ترقئ ده اول خو هغوی هیڅ خبرے اوری هم نه په خپله اوریدل خو پریږده بلکه نورخلق ذ اوریدلو نه هم منع کوی کېږے هغوی د حسن تبلیغ او نرم وینا نه متأثر شی قرآن واوری هم نو د هغے ذ اثر نه تېښتلو په غاړه. البته په هغے اعتراض کوی لیکن تاسو به دے مه غمژن کیږئ ځکه چه تیرشوی انبیاء علیهم السّلام هم د دے قسم حالات سره مخامخ شوے دی.

د درے شبهات جواب

دَاول شبهه جواب: وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا الخ د مشرکانو شبهه دا وه چه قرآن په یو عجمی (غیر عربی) ژبه کښ ولے نازل نه شو دا عربی قرآن خو محمد صلی الله علیه وسلم په خپله جوړه وی (خلقو ته ئے) اوروی. د دے جواب ورکړے شو چه که چرے قرآن په یو عجمی ژبه کښ نازل شوے وے نو دے خلقو به اعتراض کولو چه دا قرآن واضح او مفصل ولے نه دے هغه خو مونږ په پوهه (عقل) کښ نه راځی. دا قرآن مومنانو د پاره خو هدایت دے او د شفاء نسخه ده لیکن څوک چه دا نه اوری له دے وجه نه به هغوی د ګمراهئ په تیاره کښ همیشه پاتے وی.

د دویمے شبه جواب جواب

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ الخ شبه دَا وه چه دا قرآن ټول په یو ځل نازل ولے نکړے شو. معلومیږی چه محمد (صلی الله علیه وسلم) د خپل ځان نه لږ لږ جوړه وی (خلقو ته ئے) اوروی. دا شان که چرے دا کتاب زیښتونے کتاب وی نو د دے باره کښ به اختلاف نه وے بلکه ټولو خلقو به پرے ایمان راوړلے نو د دے په جواب کښ ئے اوفرمائیل چه مونږ موسیٰ علیه السّلام ته کوم کتاب ورکړے وو هغه ټول په یو ځائے نازل کړے شوے وو او هغه هم وو ریښتونے کتاب. لیکن بیا هم په هغے کښ اختلاف اوکړے شو نو د دے نه معلومه شوه چه انکار محض عناداً دے.

د درےیمے شبه جواب

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ الخ شبه دا وه چه که مونږ نه منو نو په مونږ عذاب ولے نه راځی ؟ نو د دے جواب ورکړے شو د عذاب د راتللو یو وخت مقرر دے هغه به ضرور راځی لیکن په خپل وخت باندے د هغے نه مخکښ نه راځی.

څلورمه شبهه : لَا يَسْئَمُ الْاِنْسَانُ - تا - فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ○ (۵۱) مشرک انسان د باطل معبودانو نه غوښتلو او سوال کولو سره نه ستړے کیږی لیکن چه کله هغه ته څه حاصل نه شی د هغوی نه نو فوراً نا امیده شی او خدائے ته اوازو نه کول شروع کړی د هغے نه روستو که چرے الله تعالیٰ خپلے مهربانئ سره د هغه

نه تکلیف لرے کړی نو صفا وائی بیشکه زهٔ د دے انعام مستحق وم ځکه چه ما فلانکے بزرګ یا معبود را بللے وو او د قیامت چه د هغهٔ خبره کیږی نو اوّل خو هغه نه راځی او کچرے بالفرض راغلے نو هلته به هم زهٔ بنهٔ یم ځکه چه ځما د معبودانو او بزرګانو به هلته ځما سفارشیان وی ۔ مشرک انسان مذبذب او ګډ وډ وی په یو حال باندے قائم نه وی ځکه چه الله تعالیٰ په هغهٔ اِنعام کوی نو هغه مغرور او فخر کوی تکبّر کوی او د هغه لئے شکر نه ادا کوی او کچرے په هغه باندے څهٔ مصیبت راشی نو د باطل معبودانو نه مایوس شی خو اخر ته اوازونه کوی د دے شکوی په مینځ کښ فلننبئن الذین کفروا الخ کښ د تخویفِ اُخروی ذکر شوے دے . قل أرءيتم ان كان (الآیة) د اد خلورو وارو شکوو سره متعلق دے یعنی دا او وائی چه کچرے دا قرآن واقعی د الله له طرفه وی او تاسو په دے کافر شئ اِنکار او کړئ نه خو پخپله دا اوری او نه بل څوک اوریدو ته پریږدئ او چه کچرے کلهٔ وا وری هم نو د دینه د اثر قبلولو په ځائے په دے باندے د عناد په وجه سره اعتراضات کوی او د معبودانِ باطله د رابللو نه پریږدی نو آیا د اخیز به ستاسو په حق کښ نقصان ده نه وی ؟ ضرور به وی او د اسے عناد کوونکی خلق ټول لوئے ګمراهان دی .

سنریهم ایٰتنا..... تا..... انه الحق (۵۳) دا تخویف دنیوی دے مونږ به د خپل متصرف کیدلو نښانے د اطراف والا خلقو کښ او پخپله د دوئ کښ هم ښکاره کوو چه د هغے نه به دوئ ته معلومه شی چه واقعی الله تعالیٰ په هر څهٔ قادر دے .

څلور عقلی دلیلونه علیٰ سبیل الترقی

د دے سورة کښ څلور عقلی دلیلونه ذکر شوی دی د اول دوه دلیلونو نه ثابتیږی چه الله تعالیٰ په هر څیز قادر او په ټولو کائنات کښ صرف هغه متصرف او مختار دے او په آخری دوه دلیلونو کښ ثابتیږی چه الله تعالیٰ عالم الغیب دے کله چه هغه متصرف او مختار او عالم الغیب دے نو د هغهٔ نه سوا بل څوک په مصیبتونو او حاجتونو کښ رابلل جائز نه دی ۔ د هر عقلی دلیل نه روستو تخویف ذکر شوے دے ۔

اولنے دلیل: قل ائنکم لتکفرون — تا — ذلك تقدیر العزیز العلیم (۱۲) حاصل دا چه تاسو څنګه ناپوهه یئ چه د هغه پاک ذات سره نور (خلق) شریکوئ چا چه خپل حکمت بالغه سره او خپل قدرت کامله سره زمکه او اسمانونه پیدا کړل . آسمان ئے په ستورو روښانه کړو او زمکه ئے د رزق د خزانو نه ډکه کړه لیکن ستاسو خود ساخته معبودان کوم چه تاسو د الله نه غیر رابلئ په هغوئ کښ یو هم داسے کار سرته نشی رسولے ۔ فان اعرضوا فقل انذرتکم — تا — بما کانوا یکسبون ٥ (۱۷) ۔ دا د اولنی عقلی دلیل نه روستو تخویفِ دنیوی دے ۔ کچرے د مکے مشرکان د دے حکمنامے نه اعراض او کړی نو د هغوئ انجام به هم

هغه شان وي څنګه چه د قوم عاد ، او ثمود شو هغوی هم دا حکم (الا تعبدوا الا الله) اونه منلو انکار ئے اوکړو ، نو قوم عاد طوفان سره او قوم ثمود د تند ر د آواز (یا چغه د جبرئیل) سره هلاک کړے شول . دا د دے حکمنامے منونکو ته بشارت اخروي دے ويوم يحشر اعداء الله - تا - فما هم من المعتبين ۝ (ع ۳۴).

دا تخویف اخروي دے د دنیاوي عذاب نه علاوه د دے منکرینو د پاره په اخرت کښ هم سخت عذاب تیار شوے دے په اخرت کښ به د هغوی غوږونه ، د هغوی سترګے ، د هغوی څرمنه بلکه د هغوی ټول اندامونه د هغوی خلاف ګواهي ورکوي د اشان د هغوی هیڅ یو جرم به پټ پاتے نه شي او هغوی ته به د هر جرم او ګناه پوره پوره سزا ملاؤ شي.

دویم عقلي دلیل ، دا د اول دلیل عقلي نه ترقي او د هغے تفصیل دے او دے کښ د قیامت اثبات هم دے ومن ایٰته اللیل والنهار - تا - ان کنتم ایاه تعبدون ۝ (ع ۵) دا د اول نے حصے (یعني د آسمان متعلق) تفصیل دے چه د الله تعالیٰ د قدرت د نشانات نه ورځ ، شپه ، او نمر ، سپوږمۍ دي دا څیزونه د هغه په اختیار کښ دي او د هغه د فرمان تابع دي لهٰذا هغه کارساز او ګڼړي د هغه عبادت او تعظیم په ځائے راوړئ . ومن ایٰته انك تری - تا - انه علی کل شیء قدیر ۝ دا د اول دلیل د ارضي (د زمکے متعلق) حصے تفصیل دے . دا هم د هغه د قدرت د نشانات نه ده چه بنجر غیر آباد او اوچه زمکه باندے باران او وروي او په هغے کښ تازه شینکي پیدا کړي څوک چه دا مړه زمکه ژوندۍ کولے شي هغه به د قیامت په ورځ مړه انسانان هم ژوندي کوي هم دا قادر او قیوم ستاسو د ټولو معبود او کارساز دے د هغه نه بغیر څوک د عبادت او رابللو لائق نشته. ان الذین یلحدون - تا - انه بما تعملون بصیر ۝ (۵۶) دا د دویم عقلي دلیل نه روستو تخویف اخروي دے او ضمناً بشارت اخروي دے ملحد او مومن د الله نه پټ نه دي ملحدین به په جهنم کښ غورځولے شي او مومنین کاملین به د جهنم نه محفوظ پاتے وي د دواړو جماعتونو نه هغه جماعت بهتر دے کوم چه د جهنم د عذاب نه د قیامت په ورځ په امن کښ وي.

دریم عقلي دلیل : الیه یرد علم الساعة - تا - ولا تضع الا بعلمه (ع ۶) دے دلیل نه ثابتیږي چه عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے د غیب کنجیانے هغه د هیچا په لاس کښ نه دي ورکړے . ویوم ینادیهم این شرکاءي - تا - مالهم من محیص ۝ (ع ۶) دا د دریم دلیل عقلي نه روستو تخویف اخروي دے د قیامت په ورځ به مشرکین خود ساخته سفارشیان د هغوی په کار نه راځي او هغوی ته به چرته هم پناه نه ملاویږي.

څلورم عقلي دلیل : اولم یکف بربك انه علی کل شیء شهید ۝ (ع ۶)

دے دلیل نه ثابتیږی چه د الله نه سوا څوک عالم الغیب او حاضر ناظر نشته ایا دا خبره کافی نه ده چه ستا پروردګار په هر څیز خبردار دے خپل علم محیط سره هر ځائے حاضر او ناظر دے ؟ بیا دهغه نه سوا نور ولے رابلئ چه عالم الغیب او هر ځائے حاضر او ناظر نه دی ۔ اَلَآ اِنَّهُمْ فِیْ مِرْیَةٍ (الاٰیة) دا څلورم دلیل نه روستو تخویف دنیوی او اخروی دے د دے منکرین توحید په قیامت باندے هم ایمان نشته هغوی د په دے خبر شی چه هغوی هیڅ وخت هم دهغه د قبضهٔ قدرت نه بهر نه دی هغه چه کله او غواړی د دنیا کښ به هغوی اونیسی او د قیامت په ورځ به هم هغوی د ده د قبضهٔ قدرت نه بهر نه وی ۔ او هلته به هم دوئی سزا بیا مومئی ۔

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة حٰمٓ السجدة دا په مکه کښ نازل شوے دیکښ ۵۴ ایتونه او ۶ رکوعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات بخښونکے مهربان دے ۔

حٰمٓ ۞ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾

نازل شویدے ۲ دلوئے مهربان ډیر رحم کوونکی له طرفه

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ

یو کتاب دے چه جدا جدا کړے شویدی د ده ایتونه قرآن په عربئ ژبه دیو قوم (خلقو)

يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ

پوهه دپاره زیرے اوروونکے او ویروونکے بیا غور فکر او نه کړو هغه ډیرو خلقو

فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۴﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ

۳ے پس هغوی نه اوری او وئیل دوئ زمونږ زړونه په پرده کښ دے

مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّ

د هغے خبرے نه کوم ته چه ته مونږ بلئ او زمونږ په غوږونو کښ درون والے دے او

مِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا

زمونږ او ستا سو په مینځ کښ پرده ده نو ته خپل کار کوه او مونږ

عَمَلُوْنَ ⑤ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى

خپل کار کوو ولہ تہ او وایہ زہ ہم انسان یم لکہ ستاسو پہ شان حکم راځی

اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا

ما ته چه یه ستاسو دیو معبود بندګی لازم دہ نو برابر (نیغ) شئ

اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۭ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ⑥

د هغہ طرف تہ او هغہ نہ دګناه بخښنہ اوغواړئ. او خرابی (هلاکت) دے دشرک کوونکو دپارہ

الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

ھغہ چہ نہ ورکوی زکوٰۃ او هغوی د آخرت نہ

هُمْ كٰفِرُوْنَ ⑦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

منکر دی ولہ بیشکہ کوم خلق چہ یقین لری لے او کړی ئے دی

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ⑧

نیک کارونہ هغوی تہ ثواب ملاویږی چہ نہ بہ ئی بند وی.

نکات: ۱ تمهید سره د ترغیب. ۲ زجر او ولنئ شکوی ۱۲ ۳ دعوی ذکر کول صراحةً پہ خپلہ طریقہ بانددے ۱۲. او دلیل وحی ذکر کول ضمناً. ۴ تخویف اخروی ۱۲ ۵ بشارت اخروی ۱۲.

موضح قرآن ولہ ځنے وائی دلتہ د زکوٰۃ نہ مراد کلمہ ویل. د زکوٰۃ معنی صفائی، پاکیزگی ۱۲.

فتح الرحمٰن: ھلہ یعنی پہ خپلہ طریقہ باندے ۱۲.

تفسیر ۲ے ۔ تَنْزِيْلٌ (الآیة) دا تمهید دے سره د ترغیب نہ دا د مبتداء مقدر یعنی یا حٰمٓ (کیچرے دا د سورة نوم وی) خبر دے او مِنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ خبر نہ پس خبر دے (روح) دا حکمنامہ د لوئے مهربان او رحیم بادشاہ لہ طرفہ نازل کړے شوے دہ. چہ پہ دے باندے عمل کولو کښې ستاسو د دُنیا او دین کامیابی او نجات دے د دے وجہ نہ دا او منئ ستر گو سره ئے ملاؤ کړئ. دے کښې غور فکر اوکړئ او دا د خپل ژوند دستور العمل جوړ کړئ. كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ دا یا د مخکښې پہ شان خبر بعد خبر دے یا د تنزیل نہ بدل دے یا د مبتداء محذوف خبر دے او فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ د کتاب صفت دے (مدارک د روح) یعنی

کتاب په عربي ژبه کښې نازل کړے شوے دے. لِقَوْمٍ يَعْلَمُوْنَ. اهل علم او نظر د پاره ځوک چه دده په ژبه پوهیږی. او دے کښې غور فکر اوکړی او په زړه کښې انابت (رجوع) دی ضد نه وی. نزل منزلة اللازم ای لقوم ذوی علم و نظر لا لمن اعرض عنها (مظهری جلد ۸ صفحه ۲۸۰) حضرت شیخ قدس سره فرمائی. يَعْلَمُوْنَ ای يُنِيبُوْنَ. دا هم تفسیر باللازم دے ځکه چه صحیح علم او نظر سره انابت لازم دے. بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا د قرآنًا صفتونه دی (مدارک) دا قرآن منونکوته د جنت خوشخبری ورکوی او نه منونکی د عذاب نه ویره وی.

ش ۵ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ. تا. اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝ دا منکرینو باندے زجر دے او اول شکوی ده، پکار خو دا وه چه هغوی خو دا سے عظیم الشان او جلیل القدر کتاب سینو سره لګولے وے لیکن هغوی ددے نه مخ داسے واړولو چه په هغے باندے پوهیدل او په هغے کښې غور او فکر کول خو لیرې طرف ته هغوی دا اوری هم نه هغوی نه اوریدل او اعراض کول معکښې درے تعبیرات سره ذکر کړے شوی دی.

اول ، وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ. مَا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ نه د توحید مسئله مراد ده چه د سورۃ مؤمن دعوی ده. مَا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ من التوحید (مدارک مظهری) یعنی زمونږ زړونه لاندے باندے ډیرو پردو کښې رانغښتل شوی دی ستا دے مسئله باندے د پوهیدلو نه قاصر دی دا خبره خمونږ د پوهی (او عقل نه) ډیره پورته ده چه خمونږ دا معبودان ټول عاجز دی او هیڅ نه شی کولے او دا چه خمونږ پلار نیکه ټول باطل پرست او ګمراه وو اصل خبره دا ده چه هغوی پوهیدل لیکن د خپل عقیدے مخالفت کیدلو د وجه نه ئے انکار کولو خالص د ضد او عناد په وجه.

دویم تعبیر : وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ. خمونږ غوږونه ستا د کلام نه کاڼه دی ستا کلام خمونږ غوږونو ته نه شی داخلیدلے.

دریم تعبیر ، وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ. خمونږ او ستا مینځ کښې یوه پرده حائل ده یعنی خمونږ دین ستا د دین نه جدا دے، مونږ د ډیرو معبودانو عبادت کوونکی یو او ته صرف د یو خدائے منونکے ئے دا د دین اختلاف یوه داسے پیړه (ډبل) پرده ده چه مونږ ستا د خبرے اوریدلو او پوهیدلو نه منع کوی دا ټول د اعراض او نه قبلولو نه کنایات دی او د هغے تمثیلات دی. فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝ ځه ته خپل کار کوه ستا خبره خمونږ په عقل کښې نه راځی. مونږ به هم هغه څه کوو کوم چه خمونږ پلار نیکه کول.

ش ۶ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ الخ. دا د مشرکانو د قول وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ. یعنی خمونږ او ستا مینځ کښې پرده حائل ده. جواب دے. وے فرمائیل چه ددے په جواب کښې اووایه چه زه څو څه فرښته یا پیرے نه یم چه د هغے په وجه په پوهولو او پوهیدلو کښې تکلیف وی بلکه څه ستاسو غوندے بشر او انسان یم چه د هغه په خبره تاسو اسانۍ سره پوهیدلے شئ که چرے یو ځل سره

خبره په پوهه کښ نه راځي نو بیا بیا تپوس کولو سره اطمینان کولے شي ۔لست ملکا ولاجنیا لایمکنکم التلقي منه وهورد لقولهم بیننا وبینك حجاب (روح ج ۲۴ ص ۹۶)۔ یوحی الی انما الٰهکم اله واحد۔ دا د مشرکینو قول قلوبنا في اکنة الخ جواب دے یعني زه تاسو ته د یو داسے خبرے دعوت نه درکوم چه عقل او پوهه کښ نه راځي بلکه زه خو تاسو ته د الله د توحید طرف ته دعوت درکوم چه د عقلي او نقلي دلائلو نه ثابت دے ۔ ای ولا ادعوکم الی ما تنبو عنه العقول وانما ادعوکم الی التوحید الذی دلت علیه دلائل العقل وشهدت له شواهد السمع وهذا جواب عن قولهم قلوبنا فی اکنة مما تدعونا الیه وفی اذاننا وقر (۳۶۷) دے وجه نه تاسو توحید عبادت کښ اخلاص سره نیغ د الله طرف ته لاړ شئ دے نیغے لارے نه ښي طرف او کیڼ طرف ته مه کیږئ غیر الله معبود او کارساز مه جوړوئ او د خدائے نه د شرک معافي اوغواړئ۔ فاستقیموا الیه بالتوحید واخلاص العبادة غیر ذاهبین یمینا وشمالا ولا ملتفتین الی ما یسول لکم الشیطان من اتخاذ الاولیاء والشفعاء (مدارك ج ۴ ص ۷۶)۔

۵ وویل للمشرکین (الآیتین) دا اول شکوی نه روستو تخویف اخروي دے کوم خلق چه نیغ برابر د الله طرف ته نه ځي بلکه د توحید لاره پریږدي هغه مشرکان دي او د غه مشرکانو د پاره هلاکت او بربادي ده، څوک چه د الله توحید نه مني او د آخرت نه هم انکار کوي۔ دا سورة مکي دے او زکوٰة په مدینه کښ د هجرت په دوئم کال فرض شوې دے وجه نه دلته د زکوٰة نه د مال زکوٰة نه بلکه د نفس زکوٰة مراد دے یعني شرک او نورو اخلاق رذیله نه نفس پاکول، حضرت ابن عباس او عکرمه رضی الله عنهما فرمائي یعني الذین لا یشهدون ان لا اله الا الله (ابن کثیر ج ۴ ص ۹۲ وخازن ومعالم ج ۶ ص ۱۰۲ وقرطبی ج ۱۵ ص ۳۴۲ وروح ج ۲۴ ص ۹۸)۔

۶ ان الذین امنوا (الآیة) دا په سمه لاره تلونکو او په توحید باندے قائم پاتے کیدونکو د پاره بشارت اخروي دے، دے خلقو د پاره په آخرت کښ چه کوم اجر او ثواب او انعام او اکرام مقرر دے هغه به همیشه وي هیڅ کله به نه ختمیږي۔ غیر ممنون۔ قال ابن عباس غیر مقطوع (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۴۳)۔

قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ خَلَقَ

ته اووایه آیا تاسو خامخا منکرے د هغه (الله) نه چا چه پیدا کړے

الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗ

ده زمکه په دوه ورځو کښ او برابروئ د هغه سره

اَنْدَادًا ۚ ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٩ وَجَعَلَ

نور (شریکان) هغه دے رب د جهان او ایښے دي

فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا وَبٰرَكَ فِيْهَا

په دے کښې درانه غرونه شته د پاسه او برکت ئے کېښود په دے کښې

وَقَدَّرَ فِيْهَآ اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ ط

دننه او په اندازه ئے کړل په دے کښې خوراکونه د هغے په څلور ورځو کښې

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ ﴿۱۰﴾ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى

پوره شو (جواب) د تپوس کوونکو بیا اوخوت طرف د

السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ

آسمان ته او هغه لوگے کیدو بیائے اووئیل هغه ته الله او زمکے ته

ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ط قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ﴿۱۱﴾

راشئ تاسو دواړه خپله خوښئ سره یا زور سره دواړه هغوی اووئیل موږ راغلو خوښئ سره

فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ وَ

پس جوړے کړل اووه آسمانونه په دوه ورځو کښې او

اَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ط وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ

نازل ئے کړو په هر آسمان کښې د هغه حکم او ښائست موږ ورکړو د تولو نه

الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ صلے ق وَحِفْظًا ط ذٰلِكَ

نزدے (لاندے) آسمان ته ډیوے ستورو سره او محفوظ هم کړو ـ دا اندازه کړے شوے ده

تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۱۲﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا

د غالب او خبردار (الله) پس که چرته هغوی مخ اوګرځولو

فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ

نو ته اووایه ما خبردار کړلو تاسو ته د یو سخت عذاب نه لکه چه عذاب راغلے

عَادٍ وَّثَمُوْدَ ط ﴿۱۳﴾

په عاد او ثمود باندے

نکات سـ۱ اول دلیل عقلی ۱۲۔ سـ۲ زجر سره د تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ د هغې خوراک یعنی په زمکه دا وسیدونکو خوراک، پوره شو، یعنی جواب پوره شو. ف۲ په دوه ورځو کښې زمکه پیدا کړه او په دوه ورځو کښې ئې غرونه او ونې شینکی چه د خلقو خوراک دے بیا ټول آسمانونه یو لوګی په شان څیز ئې تقسیم کړل اوه ئې او ګرځول او دهریو کارخانه ئې جُدا اوګرځوله بیائې آسمان او زمکه را اوبلل په خوښه راشئ یا په زور یعنی اراده ئې اوکړه چه د دے دواړو یو ځائے کیدلو سره دُنیا آباده وادانه کړی په خپل طبیعت سره یو ځائے شی یا په زور سره او هغه دواړه طبیعت سره ملاؤ شول د نمر شعاع سره ګرمی پیدا شوه هوا ګانے جاری شوے چه هغے سره ګرد او بُخار په پورته اوختلو او بهٔ شوے چه د باران په صورت او ورید لے څلور عناصر په زمکه جمع شول. مخلوقات پیدا شواؤ په زمکه کښې ئې محکښ دُ خوراک څیزونه کیښودلے وو یعنی په هغے کښې قابلیت وو د دغه څیزونو راویستلو او راټوکولو، او دهر آسمان حُکم جُدا دے دارب ته معلوم دے چه هلته کوم قسم مخلوق او سیږی د هغوئ اسلوب هیئت څنګه دے په دے زمکه کښې په زرګونو زرګونو کارخانے دی دومره لوئے آسمانونه به څنګه خالی وی ۱۲۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی حمٰا د حکم تابعدار شی ۱۲۔

تفسیر ۷ے قُلْ اَئِنَّكُمْ ...... تا ...... ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ. دا اولنے عقلی دلیل دے. د دے نه ثابتیږی چه د الله تعالیٰ نه سوا څوک متصرف او مالک مُختار نشته. حاصل د دلیل دا دے چه آیا تاسو د هغه قادر او مطلق سره کفر کوی او غیر الله هغه سره شریک ګرځوی چه د ټولو کارونه سرته رسونکے دے او څوک چه تاسو دُ هغه نه سوا متصرف او کارساز ګڼړی او رابلئ هغه د دے کارونو نه یو کار هم نه شی کولے. وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا دا د تکفرون بِالَّذِیْ تفسیر دے. واو تفسیریه دے او د دویمے جملے په اوله جمله عطف تفسیری دے ځکه چه د مکے مُشرکان د ذات باری تعالیٰ نه مُنکر نهٔ وو لکه چه د لیقولن الله نه د هغوئ اعتراف ظاهر دے. ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ. یعنی څنګه چه پیدا کونکے رب العالمین دے دا شان مربّی او پرورش کونکے هم هغه دے.

۸ے وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ. په زمکه باندے ئے غرونه کیښودل د دے دپاره چه هغه په خپل ځائے قائم پاتے شی وَبٰرَكَ فِيْهَا او په دے کښې ئې انسان دپاره برکات او منافع امانت کړل او د ټول مخلوق دپاره ئې پوره اندازے سره د روزی او معاش سامان په هغے کښې کیښود زمکے ئے د ټول مخلوق (انسان، پیرے، مارغان په سوړو کښې حشرات الارض (چینجی) وغیره وغیره. د ټول ضروریات زندګی مخزن اوګرځوله چه هغے نه به د خدائے مخلوق حسب ضرورت تر قیامت پورے د هغوئ د ژوند ضرورتونه پوره کیږی یو څیز ئے په یوه علاقه کښې زیات مقدار

کښې پیدا کړو او بل یو شیز ئې په بله علاقه کښې زیات پیدا کړو دے د پاره چه خلق
په یو ځائے او یو بل سره خپل مینځ کښې ژوند تیر کړی او مداد کولو سره ژوند تیر
کړی او د هرے علاقے خلقو ته د ژوند ضروریات حاصل وی. قال عکرمة والضحاک
معنی (قدر فیها) اقواتها) ای ارزاق اهلها وما یصلح لمعاشهم من التجارات و
الاشجار والمنافع فی کل بلدة مالم یجعله فی الاخری لیعیش بعضهم من بعض
بالتجارة والاسفار من بلد الی بلد (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۴۲، خازن و معالم ج ۶ ص ۱۰۵، مدارک ج ۴ ص ۶۸)
کم چرے په آبادئ کښې زیاتے اوشی نو د روټۍ د مسئلے حل کولو د پاره د خاندانی
منصوبه بندئ (د بچو د پیدا ایښ بندولو منصوبه) ضرورت نشته او نه دا منصوبه د دے
مسئلے حل دے بلکه د دے مسئلے صحیح حل دا دے چه هر انسان ته د خپل تول جسمانی
او ذهنی صلاحیتونو او مالی وسائلو په کار راوستلو موقع ورکړے شی د دے د پاره چه
هر انسان په زمکه کښې د پټو خدائی خزانو نه خپل روزی حاصل کړی. فِیْۤ اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ
یعنی دوه ورځو کښې ئې زمکه پیدا کړه او په دوه ورځو کښې ئې برکات او منافع او
ارزاق او اقوات مقدار او په اندازه کړل شو دا شان دا ټول کار په څلورو ورځو کښې
مکمل شو او مراد د څلور ورځو اندازه ده ځکه چه هغه وخت د ورځے او شپے وجود نه وو
۹ـــ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِیْنَ. په سواءً کښې درے قراءتونه دی. اول مجرور د دے
صورت کښې به دا د ایّام صفت دے. دویم مرفوع. د دے صورت کښې به دا د مبتداء
محذوف خبر وی. او جمله به د ایّام صفت وی. دریم منصوب. د دے صورت کښې
به سواءً د اربعة ایام نه حال وی په درے وارو صورتونو کښې به وقف په سواءً وی
او مطلب به دا وی چه په پوره د څلورو ورځو په اندازه کښې ئے دا ټول کارونه مکمل
کړے شول دے کښې د یو منټ فرق هم نه وو او په هر حال کښې به لِلسَّآئِلِیْنَ د قدّر
سره متعلق وی او سائلین به په معنٰی د محتاجین وی یعنی د محتاجانو د پاره ئے
په زمکه کښې خزانے کیښو دے دا سواءً د فعل متعدی سوّی نه مفعول مطلق دے او
لِلسَّآئِلِیْنَ متعلق دے د سوّی سره. د دے صورت کښې به مطلب دا وی چه کوم خلقو
د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه سوال کړے وو چه دا کار په څومره ورځو کښې مکمل
کړے شو نو په جواب کښې ئے او فرمائیل دا تعداد د سائلین د علم موافق او مطابق دے
ځکه چه دے سائلینو د آسمانی کتابونو تورات او انجیل لوستلو سره یا د اهل کتاب
د علماؤ نه اوریدلو سره د دے علم وو. قاله الشیخ قدس سره.
۱۱ـــ ثُمَّ اسْتَوٰۤی. بیا هغه د آسمان د تخلیق اراده او کړه نو هغه ماده د بخار
په شکل وه. فَقَضٰىهُنَّ الخ نو د دوه ورځو په مقدار کښې ئے د دغه دخانے مادے نه
اووه آسمانونه پیدا کړل او دا شان د زمکے او آسمانونو پیدا ایښ په شپږو ورځو
کښې مکمل شو ځکه چه په بل ځائے کښې ارشاد دے اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ (الاعراف ۵۴). وَاَوْحٰی فِیْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا یعنی په هر آسمان کښې ئے

فرښتې پیدا کړې او هغوی ته دخپل اوامرو خبر کړې قاله الشیخ قدس سره. یا مطلب دادې چه هر آسمان کښې دخپل حکمت بالغه مطابق فرښتې پیدا کړې او د نورا مور فیصله ئې اوکړه ای ورتّب مقررا فی کل سماء امرها .... تا .... الآهو (ابن کثیر ج ۴ ص ۹۳)

ف ۱۱ فَقَالَ لَهَا. داسمانونو او زمکې دپیدائیش نه روستو ئې دواړه ته حکم اوکړو چه دکوم منافع او مصالح دپاره تاسو پیدا کړې شوې ئې هغه ادا کړئ او هغه په خلقو راوړئ دا کار به تاسو کوئ په خوښه دی یا په مجبورولو. نو دواړو زبان حال سره جواب جواب ورکړو موږ دې خدمت سره رسولو دپاره په خوښه او رضا حاضر یو. ای ائتیا ما امرتکما به ای افعلاه .... وقال طاؤس عن ابن عباس ائتیا اعطیا یعنی اخرجا ما خلقت فیکما من المنافع لمصالح العباد (خازن ومعالم ج ۶ ص ۱۰۶) لکه چه په سوره احزاب رکوع ۹ کښې دی انا عرضنا الامانة علی السموٰت والارض والجبال. (الآیة) زمکې او آسمانونو په خوښه او رضا دالله تعالیٰ اطاعت قبول کړو لیکن انسان ته چه کوم امانت حواله کړې شوې وو چه صرف دالله تعالیٰ عبادت کوی او صرف هغه رابلئ او دهغه ټول احکام په ځائې راوړی هغه ددې امانت حق ادا نه کړو دالله سره ئې شریکان جوړ کړل او دهغه داحکامو مخالفت ئې اوکړو، قال بعض الاعلام علی التقدیم والتأخیر والاصل ثم استوی الی السماء وهی دخان فقضاهن سبع سموٰت الخ فقال لها وللارض ائتیا الخ وهو ابعد عن القیل والقال الا انه خلاف الظاهر (روح جلد ۲۴ ص ۱۰۳)

ف ۱۲ وزینا السماء، وحفظا فعل مقدر حفظناها دپاره مفعول مطلق دې او موږ دټولو نه لاندې آسمان دشمعو په شان روښانه ستورو سره ښائسته کړې دې او آسمانونه موږ د هر قسم آفات او حادثات یا د شیطانانو نه محفوظ کړی دی. ستورې په فضا کښې معلق دی لکه چه دجدیدو سائنسدانانو خیال دې یا د آسمانونو نه دپاسه کرسی (اتم آسمان) کښې مرکوز دی لکه چه دقدیم ریاضی دانانو نظریه ده په هر حال کښې هغه داول آسمان زینت او آرائش دې.

ف ۱۳ ذٰلِكَ تَقْدِیرُ الْعَزِیزِ الْعَلِیمِ. دا ټول هرڅه دهغه قادر او علیم تدبیر او تقدیر دې. چه په هرڅه قادر او په ټولو غالب دې او دچا دعلم محیط نه هیڅ څیز بهر نه دې. دا ټول دکائنات ټول نظام ئې یو ډیر ښائسته محکم طریقه او تدبیر سره قائم کړې دې او دا دهغه قدرت او حکمت سره قائم دی.

ف ۱۴ فان اعرضوا. دا د اول عقلی دلیل نه روستو زجر او تخویف دنیوی دې که چیرې هغوی د توحید نه اعراض کوی نو تاسو اوفرمائی ښه ده نو دقوم عاد او ثمود حال واورئ دا اعراض او جحود په وجه سره څه حشر شو؟ که اعراض جحود انکار او عناد باندې قائم پاتې شوئ نو زه تاسو هم دداسې دردناک عذاب نه ډیروم کوم عذاب چه په قوم عاد او ثمود باندې نازل شو. ای انذرکم عذابا امثل عذابهم قال قتادة (روح جلد ۲۴ ص ۱۰۹).

إِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ أَيْدِيْهِمْ
کله چه راغلل هغوی ته رسولان د هغوی د وړاندے
وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوْٓا إِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا
او د روستو نه چه عبادت مه کوئ د هیچا سوا د الله نه. وئے وئیل
لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ
که چرے زمونږ رب غوښتلے نو لیږلے به ئے وے فرښتے نو مونږ ستاسو
أُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا
راوړلے شوے (پیغام توحید) نه منو ولے پس څوک چه عادیان وو غرور (تکبر) اوکړو
فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ أَشَدُّ
په ملک کښ په ناحق. او وئے وئیل څوک دے زیات
مِنَّا قُوَّةً ؕ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ
له مونږ نه په طاقت کښ. آیا نه گوری چه الله چا چه
خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَكَانُوْا
پیدا کړی دی هغه زیات دے د دوئ نه په طاقت کښ او وو
بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ
زمونږ د آیتونو (نشانو) نه منکر وو ف ۳۲ بیا اولیږله مونږ په هغوی باندے
رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ
یوه هوا ډیره طاقتوره شو ورځے چه د مصیبت وے د پاره چه اوڅکوو
عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ
هغوی ته عذاب د رسوائی په ژوندانه د دنیا کښ. او یقیناً عذاب
الْاٰخِرَةِ أَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَأَمَّا
د آخرت کښ خو پوره رسوائی ده او د هغوی چرته هم امداد نشته. ف ۳۳ او هغه څوک

ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى

چه ثمودیان وو ﴿۸﴾ نو مونږ هغوئ ته لار او ښودله بیا هغوئ ښه او گڼل ړانده والے باندے کیدل

الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ

ډلار ډلیدلو نه بیا او نیول هغوئ (تندر) یا جبرئیل ؑ اواز هغه عذاب

الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا

رسوا کوونکے په بدله د هغے عملونو کښ چه هغوئ کسب کولو ﴿۴﴾ او خلاص ے در کړو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَيَوْمَ

مونږه هغه خلقو ته چا چه یقین کړے وو او هغوئ ے ساتلے وو (د شرک نه). او په کومه ورځ

يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾

چه به جمع کړے شي دشمنان د الله په دوزخ باندے نو دهغوئ به مخے جوړولے شي۔

نکات۔ ۱ بشارت دنیوی ۱۲۔ ۲ تخویف اخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ رسولان راغلل دوړاندے او د روستو نه یعنی د هر طرف نه شاید ډیر رسولان راغلی وي لیکن دا دوه رسولان مشهور شوی وي حضرت هود او صالح علیهما السلام ۱۲۔ ف۲ دهغوئ بد لونه به لوئے لوئے وو دیدن په قوت باندے مغرور شول. تکبر سره د الله عذاب راغئ ۱۲۔
ف۳ دهغوئ دکبر او غرور ماتولو د پاره ے هغوئ په کمزورے مخلوق سره هلاک کړل۔ دا ئ چه دغه تیزه هوا د میاشتے په آخر کښ آته ورځے وه کوم کښ چه هوا راغله۔
ف۴ زلزله راغله چه هغے سره یو تیز آواز وو چه د هغوئ زړونه ے او چول ۱۲۔

تفسیر ۱۵ اِذْ جَآءَتْهُمْ. کله چه هغوئ ته د هر طرف نه پیغمبران راغلل یعنی هغوئ هر ممکن طریقه باندے هغوئ پوهه کړل. اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اللّٰهَ. چه د الله نه سوا د هیچا عبادت مه کوئ او په حاجتونو کښ مافوق الاسباب د هغه نه سوا هیچا ته آواز مه کوئ دا هغه دعویٰ (حکمنامه) ده کومه چه په سورهٔ مؤمن کښ ذکر شوے ده۔
والمراد باتیانهم من جمیع الجهات بذل الوسع فی دعوتهم علی طریق الکنایة (روح ۲۴ ص ۱۰۱)۔
نو مشرکانو د انبیاء علیهم السلام په جواب کښ او وئیل چه مونږ دا سے پیغمبران نه منو څوک چه بشر وي او خوراک څښاک ته محتاج وي که چرے الله تعالیٰ ته پیغمبران رالیږل منظور وو نو هغه به فرښتے پیغمبرانے جوړولو سره رالیږلے وے د دے وجه نه مونږ د توحید پیغام نه منو کوم چه تاسو راوړید ے۔

۱۶ــه فَاَمَّا عَادٌ - قوم عاد ته په خپل قوت او شوکت باندے ناز وو ددے وجه نه ئے کبر غرور اوکړو او وے ویل .څوک دے چه په قوت او طاقت کښې څمونږ نه زیات وی؟ اَوَ لَمْ یَرَوْا اَنَّ اللهَ الخ دا ادخال الٰهی دے وے فرمائیل! دے کم عقلانو دا سوچ اونه کړو چه کوم الله هغوی پیدا کړیدی او قوت ئے ورکړے دے. هغه د دوی نه هم زیات قوی او طاقتور دے لیکن هغوی ته دے پوهیدلو توفیق ملاؤ نه شولو او هغوی د آیتونو نه مسلسل انکار کولو بلکه د غرور او استکبار په وجه ئے د هغے اوریدل هم نه خوښول۔

۱۷ــه فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمْ - د قوم عاد متکبرانه دعوی وه چه په قوت او طاقت کښې د هغوی نه زیات څوک نشته نو الله تعالیٰ د خپل مخلوق نه یو معمولی څیز یعنی تیزه او تنده هوا راولیږله د هغوی د غرور او تکبر څټ ئے مات کړو او په هغے سره ئے ټول هلاک کړل په دُنیا کښې ئے ذلیل او رُسوا کړل. اَیَّامٍ نَّحِسَاتٍ نحس او بدی ورځے دا خراب او بدی ورځے د قوم عاد په حق کښې وے کنې فی نفسه هیڅ ورځ منحوس او بده نه ده. دا رُسوائی خو په دُنیا کښې اوشوه او په آخرت کښې به هغوی ته چه کوم عذاب ورکولے شی هغه به د دینه هم زیات ذلت نه ډک او رُسوا کونکے وی او بیا به د هیڅ خائے نه هغوی ته امداد هم نه ملاویږی چه د الله د عذاب نه خلاص شی.

۱۸ــه وَاَمَّا ثَمُوْدُ. د ثمود قوم ته هم مونږ د حضرت صالح علیه السلام په ذریعه د توحید مسئله واؤروله لیکن هغوی د اوریدلو نه روستو هدایت باندے گمراهئ ته ترجیح ورکړه نو د ذلت نه ډک عذاب تند ر هغوی اونیول او ټول ئے هلاک او برباد کړل دا سزا هغوی ته د هغوی د مُشرکانه اعمال د وجه نه ورکړے شوه قوم عاد او د قوم ثمود نه هم زیات سرکش وو ځکه چه هغوی د توحید د مسئلے اوریدلو ته هم تیار نه وو او په طغیان او ظلم زیاتے او سرکشئ باندے سر شول. د غه دواړو قومونو کښې هم دا فرق وو. لکه چه موسیٰ علیه السلام عرض کړے وو. اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ یَّفْرُطَ عَلَیْنَا اَوْ اَنْ یَّطْغٰی یعنی مونږ سره ویره وه چه هغوی به څمونږ خبره بالکل وا نه وری او په ظلم زیاتے به سرکشی د قوم عاد په شان. یا که خبره واوری هم لیکن طغیان او سرکشئ ته به ملاو تړی د قوم ثمود په شان، قاله الشیخ قدس سرهٗ۔

۱۹ــه وَنَجَّیْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ (الآیة) دا ایمان والو د پاره بشارت دُنیوی دے د قوم عاد او قوم ثمود نه چه کوم خلقو ایمان راوړو په توحید باندے او د انبیاء علیهم السلام په رهنمائی کښې ئے نیک عمل اوکړو الله تعالیٰ هغوی د رُسوا کونکی عذاب او ساتل.

۲۰ــه وَیَوْمَ ...... تا ...... فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِیْنَ ○ د تخویف دُنیوی نه روستو د تخویف اُخروی بیان دے د قیامت په ورځ چه کله د خدائے دُشمنان کافران او مُشرکان د دوزخ طرف ته اوشړلے شی نو د دوزخ په غاړه به هغوی منع کړے شی دے د پاره چه جمع شی قال قتادة والسدی یُحْبَسُ اولهم علی اٰخرهم حتی یجتمعوا. (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۵۲).

⁂ ⁂ ⁂

حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ
تر دې چه کله ۲۱ ے هغوی راشی دوزخ ته گواهی به اوکړی په هغوی باندې
سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا
د هغوی غوږونه او د هغوی سترگې او د هغوی څرمنې څه چه کول
يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ
هغوی عملونه او هغوی به وائی خپلو څرمنو ته ۲۲ ے تاسو ولې گواهی اوکړه
عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ
په مونږ. هغوی به اووائی مونږ باندې خبرې اوکړې الله چا چه د خبرو طاقت ورکړے
كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ
دے هر څیز ته او هغه پیدا کړی یئ تاسو اول ځل او بیا د هغه طرف ته
تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ
واپس ورځئ ول او تاسو پرده نه کوله ۲۳ لے فله د دے خبرې
يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَ
چه گواهی به ورکړی ستاسو غوږونه او نه ستاسو سترگې او
لَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا
نه ستاسو څرمنې لیکن ستاسو دا خیال وو چه الله ته نه دی
يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَذٰلِكُمْ
معلومه ډیر څیزونه کوم چه تاسو کوئ ول ۲ او دا ستاسو
ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ
هغه خیال دے ۲۴ لے چه تاسو کولو خیال د خپل رب په حق کښې هغه تاسو هلاک کړئ
فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا
پس تاسو ئې شوئ په تاوان کښې. پس که هغوی صبر کوی

فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا
نو اور دهغوئ کور دے او که چرے هغوئ د الله رضا کول اُغواړي نو د
هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ
هغوئ نه به قبوله نه کړے شي ول۳ او لګولے دي موږ دوئ پسے دروستونه ۲۵
فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا
ول۲ ددوئ سره یوځائے او سپین دي پس ښائسته کړل هغوئ د دوئ په ستړګو کښ هغه کوم چه
خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِىْٓ اُمَمٍ قَدْ
ددوئ مخکښ دي ول۲ او کوم چه روستو دي ول۱ او ثابت شویده په دوئ خبره د عذاب
خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ
دهغه ډلو سره کوم چه تیرے شویدي دوئ نه مخکښ د پیریانو او د انسانانو
اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ع
بیشکه هغوئ ؤو تاوانیان ول۱

نکات
ل۱ داعضا کلام دے یا ادخال الٰهي دے ۱۲ ل۲ تمهید شکوي د پاره ۱۲ او د سورت مقصودي مقام ۱۲۔

موضح قرآن
ول۱ د کافرانو اعمال چه کله فرښتے لیکل شوے راوړي نو هغوئ به انکار کوي چه دا خو زموږ دشمنانے دي په موږ نے دروغ لیکلي دي دغه وخت به اسمانونه او زمکے ګواهي اوکړي غوښے شي او به وائي دا هم حموږ دشمنان دي اے پروردګاره! ته خو ظلم نه کوے حموږ څوک دوست که ګواهي اوکړي دغه وخت به هغه شنه وي نو هغه وخت به ددوئ څپے لاسونه او وائي. وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ. د دے ترجمه فتح الرحمٰن کښ داسے شویده او پرده کښ پټ نه وے پاتے شوے یعني په دُنیا کښ دے ویرے نه چه ګواهي به اوکړي په تاسو باندے غوږ، ونه ستاسو او سترګے ستاسو او څرمنې ستاسو. ول۲ یعني د لوړونه به تاسو په پټه ګناه کوله دا خبر تاسو ته نه وو چه لاسونه او څپے به په تاسو ګواهي اوکړي د دینه هم پرده اوکړئ۔
ول۳ یعني په دُنیا کښ څنې مصیبت صبر سره اسانیږي هلته که صبر اوکړي او که او نه کړي دوزخ دهغوئ کور دے او څنې مصیبت منت زاري سره لرے کیږي هلته که هر څو مره ډیر زاري منت (خوشامند) دے اوکړي هیڅ به قبوله نه شي ۱۲۔

ف یعنې په هغوئ شیطانان مقرر شوے وو چه هغوئ ته بد کارونه ښکاره کړي او ثابته شوه خبره لَاَمْلَئَنَّ۔

فتح الرحمٰن ف یعنې د شیطانانو نه ۱۲ ف یعنې وسوسه اچوي چه د دنیا رغبت فایده ده او آخرت د رغبت قابل نه دے ۱۲۔

تفسیر ۲۱ حَتّٰی اِذَا مَا۔ کله چه ټول مشرکان د جهنم دروازه باندے جمع شي نو وائي به اے خمونږ پروردګاره! مونږ د کراماً کاتبین ګواهي منظور نه ده هغوئ خامخا خمونږ په اعمال نامه کښ داسے ګناهونه لیکلي دي چه مونږ هغه هیڅ کله نه وو کړي دے وجه مونږ د خپل کور د ګواه نه علاوه د بل په ګواهئ اعتماد نه کوو د غه وخت به الله تعالیٰ د هغوئ په خلو باندے به مهر اولګوي او د هغوئ لاسونه، خپے او نور اندامونو ته به د ویناطاقت ورکړے شي نو هغه اندامونه به د دوئ خلاف ګواهي کول شروع کړي. اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَ تُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَ تَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ (یٰسٓ ۶۶) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم عجبت من مجادلة العبد ربه یوم القیامة یقول ای رب الیس وعدتنی ان لا تظلمنی قال بلی فیقول فانی لا اقبل علی شاهدا الا من نفسی فیقول الله تبارک وتعالیٰ اولیس کفی بی شهیدا وبالملائکة الکرام الکاتبین؟ قال فیردد هذا الکلام مرارا. قال فیختم علی فیه وتتکلم ارکانه بما کان یعمل (ابن کثیر ج ۴ ص ۹۵) ۲۲ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ. کله چه مشرکان د خپلو اعضاؤ د خپل ځان خلاف ګواهي واوري، نو خپلو اندامونو ته به وائي تاسو خمونږ خلاف ولے ګواهي ورکړه حال دا دے چه مونږ خو به د دنیا کښ تاسو ته د هر آفت نه حفاظت د رکولو نو اندامونه به جواب ورکړي چه مونږ په خپل اختیار خبرے نه کوؤ مونږ ته خو هغه قادر او قیوم ذات د خبرو طاقت راکړے دے چا چه هر خبرے کوونکي ته د خبرو کولو قوت ورکړے دے او خوک چه ستاسو د اول ځل او بیا دویم ځل د پیدا کولو طاقت لري کله چه هغه مونږ ته د ویناطاقت راکړو او بیا ئے ستاسو خلاف د ګواهئ ورکولو حکم مونږ ته او فرمائیلو نو مونږ څنګه د هغه د حکم تعمیل نه وے کړے.

۲۳ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ .... تا .... فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ دا د اعضاء کلام دے یا د خدای الٰهی دے اَنْ یَّشْهَدَ نه مخکښې مِنْ مقدر دے تاسو د ګناه په وخت خو د انسانانو پټیدلے شوئ د خپلو اندامونو نه خو نه شوئ پټیدلے هسے نه چه هغه ستاسو خلاف ګواهي ورکړي بلکه دا ګناهونه خو تاسو په دے اندامونو باندے کول، د دے وجه نه د دوئ نه پټول ناممکن وو بلکه ستاسو د عملونو نه ستاسو د آخرت نه اعراض او د دنیا په عیش کښ ورننوتلو نه خو داسے معلومیده چه تاسو دا خیال کولو چه خدائے په خپله هم ستاسو د ډیرو عملونو نه ناخبره دے یعنې پټ عملونه نه پیژنی، ممکن ده چه د ځنې کافرانو په حقیقت کښ هم دا اعتقاد وي لکه چه د حضرت ابن عباس رض نه منقول دی. کان الکفار یقولون ان الله لا یعلم ما فی

اَنفسنا ولکنه یعلم ما یظهر (خازن ج ۶ ص ۱۰۹)

۲۴ وَ ذٰلِکُمْ ظَنُّکُمُ ذٰلکم موصوف ظنکم الخ صفت ۔ موصوف صفت مُبتدا اردٰکم خبر ۔ (مدارک) ۔ دَ هغه عالم الغیب وَالشهادة پاره کښ ستاسو دے گمان چه هغه ستاسو دیټ عملونو نه خبر نه دے ۔ تاسو تباه او برباد کړئ دغه خیال سره تاسو په گناهونو کښ ښوتلے وئ او دین دُنیا کښ تاوانیان شوئ فَاِنْ یَّصْبِرُوْا (الآیة) هغوئ که صَبر کوی نو هم دهغوئ ځائے جهنّم دے او که چرے جزع فزع فریاد او معذرت کوی نو هم دَهغوئ هیڅ عذر به قبول نه وی هر حال کښ دهغوئ ځائے جهنّم دے اوس دهغے نه د دوئ هیڅ دَ تیښتې ځائے نشته ۔

۲۵ وَ قَیَّضْنَا لَهُمْ ۔ د دویم شکوی تمهید دے او دا دے سورت مقصودی مقام دے دَ سورۂ مؤمن په مرکزی دعوی باندے چه کوم اعتراض شبهه کیدله دے آیت کښ دَهغے جواب ورکړے شوے دے شبهه دا ده چه تاسو وائی چه په حاجتونو او مصیبتونو کښ دالله نه سوا بل هیچا ته آوازمه کوئ ځکه چه دهغه نه سوا څوک متصرّف او مختار او کارساز نشته حال دا دے چه مونږ وینو چه کچرے یو سړے په سخته مصیبت کښ مُبتلا شی او غیرالله ته آواز اوکړی یا دغیرالله نذر و نیاز منښته اوکړی نو هغه دمصیبت نه خلاصے بیا مومی ، دا شان ځنی وخت پیر او مُرشد او بزرگان دین خپلو عقیدتمندو ته په خوب کښ ملاویږی یا کله په بیداری کښ مخے ته راشی نو وائی دا تکلیف تاسو ته ځکه راغلے دے چه تا مونږ رابللے نه یو یا دے زمونږ په نذر نیاز کښ قصور کړے دے او ځنے وخت هغوئ آواز کوونکی ته حاضریږی او دهغه امداد هم کوی نو ددے جواب ئے ورکړو چه تاسو دا سے ضدی او عنادی خلق دی چه زړونه چه مرۂ شویدی او دهغوئ په زړونو باندے دجبّاریت مُهر لگیدلے دے ۔ په هغوئ باندے شیطانان مُسلّط کولے شی او دکفر شرک او هره گناه دهغوئ نظرونو کښ مزیّن او ښه ښائسته صُورت کښ پیش کوی چه په هر ممکن طریقه سره هغوئ په گمراهئ کښ مخکښ بیائی هغوئ په خپله مِنْ شیطانی سره انسان ته تکلیف رسَوی کله چه هغوئ غیرالله ته آواز کوی نو هغه ئے پریږدی کله داولیاء کرام او بزرگانو په شکل متمثّل شی په خوب کښ یا په ویخه مخے ته ورشی او گمراه کوی ئے او دَ شرک تعلیم ورکوی سلطنا علیهم قرناء یز ینون لهم المعاصی وَهٰؤلاء القرناء من الجن والشیاطین ومن الانس ایضا (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۵۴) ای بعثنا ووکلنا لهم نظراء من الشیاطین حتی اضلوهم (معالم وخازن ج ۶ ص ۱۱۰) ولایغرنك ان المستغیث بمخلوق قد تقضی حاجته وتنجح طلبته ، فان ذلك ابتلاء وفتنة منه عزوجل ۔ وقد یتمثل الشیطان للمستغیث فی صورة الذی استغاث به ۔ فیظن ان ذلك کرامة لمن استغاث به ، هیهات هیهات انما هو شیطان اضله واغواه وزین له هواه ، وذلك کما یتکلم الشیطان فی الاصنام لیضل عبدتها الطغام (روح ج ۶ ص ۱۲۹) ۔ هم دا مضمون بل یو ځائے کښ دا سے ذکر شوے دے ، وَمَنْ یَّعْشُ عَنْ ذِکْرِ الرَّحْمٰن

نقیض له شیطانًا فهو له قرین ○ وانهم لیصدونهم عن السبیل و یحسبون انهم مهتدون ○ (زخرف ۴۲) شیخ شهاب الدین سهروردی په عوارف المعارف کښې فرمائی چه کله شیطان څوک ګمراه کوی نو هغه په ذکر کښې مشغول کړی دهغه زړه مصروف سائی دے د پاره چه هغه په شرک باندے خبر نه شی. عارف رُومی وئیلی دی.

ے برزبان نام حق' برجان شان ؞ گند کفر وشرک برایمان شان

۲۶ے مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ - دا کنایه ده. من کل جانب نه یعنی شیطانان مُشرکان هرممکن طریقے سره ګمراه کوی او هغوئ د شرک د حمایت کولو حیله او چل ښائی. قاله الشیخ قدس سره. یا د دے نه دُنیوی او اُخروی اُمور مُراد دی یعنی شیطانان هغوئ په اتباع شهوات او د آخرت په تکلیف باندے آماده کوی (مظهری). وحق علیهم القول. فی په معنی د مع دے یا مضاف مقدر دے ای فی جملة امم (مدارک قرطبی). دے. د مکے مُشرکانو باندے او د دوئ نه مخکښې چه کوم د پیریانو او انسانانو کافر تولی تیرشویدی په هغه ټولو باندے د الله د عذاب فیصله ثابته شوے ده چه دا خلق په دُنیا کښې هم ناکام او تاوانیان دی ځکه چه ټول اعمال ئے ضائع شول او په آخرت کښې به هم ناکام او نامُرادوی او په جهنم کښې به همیشه او سیزی.

وَقَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا

او اووئیل انکار کوونکو (کافرانو) ۲۷ے غوږ مه ږدی دغه

الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِیْهِ لَعَلَّکُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿۲۶﴾

قرآن اوریدلو ته او فضول خبرے کوئ دغے دلوستلو په (وخت) کښې چه تاسو غالب شی و۲

فَلَنُذِیْقَنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا عَذَابًا شَدِیْدًا

پس مونږ به ضرور اوڅکوو ۲۸ے انکار کوونکو ته عذاب سخت

وَّلَنَجْزِیَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِیْ کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾

او بدله ورکول دی هغوئ ته دهغه ډیر بدکارونو کوم چه هغوئ کول.

ذٰلِکَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ لَهُمْ فِیْهَا

دا سزا ده دُشمنانو د الله اور دهغوئ کورهم دے

دَارُ الْخُلْدِ جَزَآءً بِمَا کَانُوْا بِاٰیٰتِنَا

(اور) کښې دے همیشه. بدله دهغه چه کولو به ئے حقونو دعنبرو نه

يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

انکار ا اؤ وائی به هغه خلق کوم چه منکر دی

رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَ

اے ربه ځموږ موږ ته اوښایه هغه دواړه چه چه موږ ګمراه کړی وو کوم چه پیریان دی اؤ

الْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا

کوم چه انسانان دی چه موږ هغوئی اوغورځوو لاندے د خپلو ښپو چه هغوئی د

مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا

ټولو نه لاندے پراته وی بیشکه چا چه اووئیل ۳۰ے رب ځموږ

اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

الله دے بیا په هغے باندے قائم پاتے شو په هغوئی باندے نازلیږی ۳۱ے فرښتے

اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ

چه مه ویریږی تاسو اؤ مه غمژن کیږی اؤ زیرے واخلئ د هغه جنت

الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ

چه د کوم تاسو سره کیدله وعده ۱ موږ ستاسو امداديان یو

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ وَلَكُمْ

په ژوند د دنیا کښ اؤ په آخرت کښ اؤ ستاسو دپاره

فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا

دی هلته څه چه غواړی زړونه ستاسو اؤ ستاسو دپاره په دے کښ

تَدَّعُوْنَ ﴿۳۱﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾

میلمستیا د هغه له طرفه چه بخښونکے اؤ مهربان دے ۱

نکات : ۱ دویمه شکوی ۱۲۔ ۲ تخویف اخروی ۱۲ ۳ بشارت اخروی ۱۲۔

❀ ❀ ❀

موضح قرآن

ف۱ دا د جاهلانو ظلم زیاتے دے چه شور کوی د قرآن اوریدلو ته ئے نه پریږدی۔

ف۲ فرښتے نازلیږی د حشر په ورځ په کومه ورځ چه په د هر چا خپل فکر او غم وی یا د مرګ په وخت نازلیږی او دا سے وائی ۔

تفسیر

۲۶ وَقَالَ الَّذِيْنَ (الآیة) دا دویمه شکوی ده او د اول نه علی سبیل الترقی هغے کښ ویلے شوے دے چه هغوی په خپله اعراض کوی او نه اوری۔ دلته ئے اوفرمائیل چه دا منکرین نور خلق هم د قرآن د اوریدلو نه منع کوی، او وائی کله چه کله قرآن لوستلے شی نو هغه مه اوری بلکه شور او غوغا (چیغے سورے) وهئ۔ دے د پاره چه تاسو لوستونکی (محمد صلی الله علیه وسلم) باندے غالب شئ او هغه په خپله هم پریشانه شی او بل څوک ئے هم وانه وری یا مطلب دا دے چه د قرآن مقابله فضول او باطل اعتراضونو سره اوکړئ دے د پاره چه خلق د قرآن طرف ته مائل نه شی او تاسو غالب شئ ۔ وعارضوه بالخرافات او ارفعوا اصواتکم بها لتشوشوه علی القاری (بیضاوی) قال ابو العالیه وابن عباس ایضا قعوا فیه وعیبوه لعلکم تغلبون محمدا علی قراءته فلا یظهر ولا یستمیل القلوب (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۵۶)۔

۲۸ فَلَنُذِيْقَنَّ ۔ دویمه شکوی نه روستو تخویف اخروی دے مونږ به کافرانو او مشرکانو ته د سخت عذاب مزه اوڅکوو او د هغوی د ډیر ناکاره اعمال (کفر او شرک) ډیره سخته سزا به هغوی ته ورکړو۔ ذلك مبتدا۔ پورته ذکر شوی سختی سزا طرف ته اشاره ده جزاء الخ خبر او النار د جزاء عطف بیان دالله د دشمنانو جزا ده۔ اوریدے به دے کښ به همیشه هغوی اوسیږی دا د هغوی د جرم سزا ده چه هغوی دالله د ایتونو نه انکار کوی۔

۲۹ وَقَالَ الَّذِيْنَ (الآیة) دا آیت د مشرک پیشوایانو او د ګمراه کوونکو پیرانو او د هغوی د منونکو په حق کښ دے د قیامت په ورځ چه کله مشرکان د جهنم په عذاب کښ ګرفتار وی نو د قهر او د غصے نه به وائی مونږ پروردګاره! لږ شان څو مونږ ته هغه شیطانان د پیریانو او هغه شیطانان د انسانانو (ګمراه کوونکی مشرک پیشوایان) اوښایه چا چه مونږ ګمراه کړو د سمے لارے نه او د توحید نه ئے لرے کړو د شرک په لاره ئے روان کړو چه مونږ هغوی د خپلو قدمونو د لاندے کړو او نوڅے ئے کړو او دا شان ئ هغوی د محشر دے میدان کښ خوار ذلیل کړو یا مطلب دا دے چه هغوی د جهنم په لاندے طبقه کښ اوغورځوو دے د پاره چه هغوی په سخت عذاب کښ وی. (بیضاوی)۔

۳۰ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا ۔ د منکرینو د تخویف نه روستو مومنانو د پاره بشارت اخروی کوو خلقو چه دالله د وحدانیت او د هغه د ربوبیت اعتراف اوکړو او بیا په هغے باندے قائم پاتے شول الله سره ئے هیڅوک شریک جوړ نه کړل اخلاص او احسان سره ئے د هغه اطاعت (فرائض اداکول او محرمات نه ځان

سائل) بانده روان دے او د اطاعت (بندګئ) نه کولو د پاره ئے جیلے بهانے او نه لټولے. عن ابی بکر الصدیق رضی الله عنه انه قال ثم استقاموا لم یشرکوا بالله شیئا ...... عن عمر رضی الله عنه استقاموا والله علی الطریقة لطاعته ثم لم یروغوا روغان الثعالب وقال عثمان رضی الله عنه ثم اخلصوا العمل لله وقال علی رضی الله عنه ثم ادوا الفرائض. (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۵۸).

۳۱ تتنزل، د قیامت په ورځ به د الله له طرفه فرښتے هغوی ته زیرے ورکوی چه تاسو هیڅ ویره او غم نشته. تاسو ته د هغه جنت با غونه مبارک د کوم وعده چه په دُنیا کښ ستاسو سره کړے شوے وه. نحن اولیاءکم. دا هم د فرښتو کلام دے دُنیا او آخرت کښ مونږ ستاسو ملګری یو دُنیا کښ هم ستاسو سره یو ځائے او سیدلو د الله په حکم سره مونږ ستاسو حفاظت کولو تاسو به مونږ نیک کارونو ته مائل کولئ او ستاسو اعمال به مونږ لیکل او په آخرت کښ به هم ستاسو سره یو پُل صراط بانده د حشر په میدان کښ، او په جنت کښ به تاسو ته هر هغه نعمت میسر وی کوم چه ستاسو زړونه غواړی او په خُله سره ئے غواړئ فوراً به حاضروی. دا ټول هرڅه به د معاف کوونکی مهربان خدائے له طرفه میلستیا وی. نو هلته د کوم څیز کمے کیدے شی؟

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى

او د هغه نه بهتره څوک دے د چا د وینا ۳۲ چا چه بلنه ورکړه د

اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ

الله طرف ته او نیک کارونه ئے اوکړو او وے وئیل زه حکم ته

الْمُسْلِمِيْنَ ۝۳۳ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا

غاړه کیښودونکے یم ۳۳ او نه دے برابر نیکی او نه

السَّيِّئَةُ ۚ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا

بدی جواب کښ هغه اودوایه چه هغه نه بهتره وی بیا ته

الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ

اوګوره چه د چا او ستا مینځ کښ چه دُشمنی وه لکه چه

وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ۝۳۴ وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ

دوست دے رشته دار ف ۲ او دا خبره ملاویږی هغه چا ته

صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾

چه هغه صبر کوونکی وی او دا خبره ملاو نه کړی هغه چا ته چه دهغه لوئے قسمت دے ف۲

وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ

او کله چه اورسیږی تا ته له شیطان وسوسه ۳۲ دشیطان وسوسه

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۶﴾

اچولو سره لو پناه اوغواړه دالله بیشکه هم هغه دے اوریدونکے او ښه پوهه کے

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ؕ

او دهغه د قدرت نمونے دی شپه او ورځ او نمر او سپوږمئ

لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا

مه کوئ سجده نمر ته او نه سپوږمئ ته او سجده کوئ

لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

الله ته چا چه دا پیدا کړیدی که چرے تاسو د هغه

تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾

عبادت کوئ۔

نکات ۱۔ متعلق د شکوی دویمے سره او د تبلیغ د طریقے بیان۔
۲۔ دویم دلیل عقلی علی سبیل الترقی۔

موضح قرآن ف۱ برابر نه ده نیکی د بدئ او نه برابره بدی د نیکئ سره ۱۲ که شوک سخته خبره اوکړی یا بده معامله تا سره اوکړی نو د هغے مقابله کښ هغه اوکړه کوم چه د هغے نه بهتره وی دے کار کولو سره دشمن دا سے کرځی لکه دوست اګرچه زړه کښ دوست نه وی لیکن په مزه مزه به د زړه نه هم دوست اوګرځی۔
ف۲ یعنی لو یه حوصله پکار ده چه د بدی خبرے په مقابله کښ ښه خبره اوکړی دا ښه اخلاق د الله تعالیٰ له طرفه خوش قسمت خلقو ته ملاویږی ۱۲۔
ف۳ یعنی که چرے بے اختیاره غصه راشی نو د شیطان اثر دے۔ او دهغه وسوسه ۱۲

تفسیر ۳۲ وَمَنْ اَحْسَنُ دا دویمے شکوی سره متعلق دے دے کښ د ترغیب او ترهیب او د تبلیغ د طریقے بیان دے کله چه تاسو دے

معاندینو ته د الله تعالیٰ حکمنامه (قرآن) اوروي نو هغوئ په شورکوي او ګډې وډې (فضول) خبرې به کوي نو تاسو د هغوئ د شرارتونو جواب په سختۍ سره مه ورکوي بلکه په نرمۍ سره ئې پوهه کړئ او ډیر معقول و سنجیده طریقه اختیار کړئ دې دپاره چه کم از کم هغوئ د قرآن خبره واوري. د دغه معاندینو بد بختي او ګورئ چه هغوئ د توحید دعوت په شان احسن او افضل خبره نه مني کوم چه د محمد صلی الله علیه وسلم په شان جامع د کمالات او ناصح مشفق د هغوئ په مخکښ پیش کوي. آیا د هغه چا نه هم د چا قول بهتر او اعلیٰ کیدے شي چه د الله تعالیٰ د توحید دعوت ورکوي. په خپله هم د هغې مطابق عمل کوي او د الله تعالیٰ ډیر زیات تابعدار بنده وي؟ - استفهام انکاري دے. یعني د هغه نه بهتر هیڅوک نشته. هو رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا الی التوحید. (مدارک ج ۴ ص ۷۲). ۳۳ ولا تستوی الحسنة. مدارات (نرمي) او سختي بد اخلاق. او ښه اخلاق برابر نه دي. الحسنة المداراة، والسیئة، الغلظة (قرطبي ج ۱۵ ص ۳۶۱) کوم سړے چه سختي او بد خوئي، او بد وخبرو سره مخے ته راځي هغه سره نرمۍ بنو خبرو، صبر او تحمل سره سلوک او معامله اوکړه، هغه چه څو مره لوئے دشمن وي د هغه زړه به نرم شي او ډیر ژر او مخلص دوست به او ګرځي اذا فعلت ذٰلك صار عدوك المشاق مثل الولي الشفيق (بیضاوي) لیکن دا خصلت او خوئي صرف هغه خلقو ته نصیب کیږي څوک چه حوصلے والا وي او صبر ناک طبیعت لري او د تزکیهٔ نفس د عظیم دوست نه هغه ته پوره حصه ملاو شوے وي.

۳۴ واما ینزغنك اکچرے کله په تقاضا د بشریت تاسو ته د دوئ باطل خبرو باندے غصه راشي نو تاسو د شیطان د شر نه الله سره پناه او غواړئ دے دپاره چه د هغے اثر زائل شي. انه هو السمیع العلیم ۰ دا د ما قبل دپاره علت دے ځکه چه ټول هر څه اوریدونکے او ټول هر څه نه خبر صرف الله تعالیٰ دے. وإن صرفك الشیطان عما وصیت به من الدفع بالتي هي احسن (فاستعذ بالله) اي من شره (خازن جلد ۶ ص ۱۱۳).

۳۵ ومن ایته ...... تا ..... انه علی کل شیء قدیر ۰ دا دویم عقلي دلیل علی سبیل الترقي دے. دے کښې داول دلیل دواړو حصو باندے زیاتے رڼا اچول شوے ده. اول دلیل کښې د آسمانونو پیدا کولو ذکر وو، دے دلیل کښې د دلیل شمسي ذکر شوے دے چه د شپے او ورځے تلل راتلل، او د سپوږمۍ او نمر ګردش دا ټول نظام هم د الله د وحدانیت او د هغه د کمال قدرت د دلائلو نه دے. د نمر او سپوږمۍ د دے ګردش نه پته لګي چه هغه دیو ډیر لوئے طاقت ما تحت او د هغه فرمانبرداري چه هر وخت د هغه په طاعت کښې مصروف او سیږي او هغه معبودان او کارساز نه دي. د دے وجه نه نمر او سپوږمۍ معبود مه ګڼړئ او د هغوئ عبادت مه کوئ او په مصیبتونو کښې هغه مه رابلئ بلکه هغه الله ته آواز کوئ او صرف د هغه عبادت کوئ چا چه نمر سپوږمۍ پیدا کړے دي کچرے تاسو واقعي د الله عبادت کوئ نو دغه

خو د ساخته دغوان نه جوړ کړے شوے وسائل پرېږدي.

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ

پس که لوئے اوکړي ۳۶ نو چه کوم خلق ستا د رب په نزد دي

يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا

پاکي وائي دغه شپه او ورځ او دغوي نه

يَسْأَمُونَ ﴿٣٨﴾ السجدة وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ

ستړي کيږي ۵ او د دغه نه يو لا نښه (د قدرت) دا ده ۳۷ چه ته وينے زمکه

خَاشِعَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ

چه وچه پرته وي بيا چه کله نازل کړو مونږ په هغے باندے اوبه تازه شوله

وَرَبَتْ ۚ إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۚ

او راوپړسيدله بيشکه چا چه هغه ژوندۍ کړه هغه به ژوندي کوي مړي

إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ

هغه هر څه کولے شي په هر څه قادر دے کوم خلق چه

يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ۗ

کاږه روان دي څمونږ په خبرو کښ نه دي پټ هغوي څمونږ نه .

أَفَمَنْ يُلْقَىٰ فِي النَّارِ خَيْرٌ أَمْ مَنْ يَأْتِي

آيا څوک چه پروت وي په اور کښ هغه بهتر دے يا هغه څوک چه راشي

آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ۙ

امن سره په ورځ د قيامت . کوئي څه چه ستاسو خوښ دي

إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ

بيشکه تاسو چه څه کوئي هغه ئے وينى کوم خلق چه

كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ

منکر شول د نصیحت نه کله چه هغوی ته راغلے او هغه

لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ﴿٤١﴾ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ

کتاب دے قوی (نادر) په هغه کښې د دروغو دخل تاثیر نشته نه

بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ۭ تَنْزِيْلٌ

د مخې له طرفه او نه د روستو له طرفه نازل شوے دے

مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿٤٢﴾

له طرفه د حکمت والا صفت کړے شوی نه.

نکات ۱ ادخال الٰهی ۱۲ ۲ د دویم دلیل عقلی دویم حصه ۱۲ ۳ تخویف اُخروی ۱۲ ۴ تمهید شکویٰ دپاره ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی دوئ څه شئ دے او د دوئ غرور څه شئ دے (الله د دوئ هیڅ پرواه نه لری)۔

تفسیر ۳۶ فَاِنِ اسْتَکْبَرُوْا۔ دا ادخال الٰهی دے او د کبر نه ډک معاندینو باندے زجر دے کچرے دا خلق کبر او غرور سره انکار او عناد باندے قائم پاتے شی او دالله خالص عبادت او نکړی نو آیا د دوی نه علاوه څوک دالله عبادت کوونکی نشته؟ دالله فرښتے چه د هغوی شمار د الله نه سوا بل هیچا ته معلوم نه دے، هر وخت شپه او ورځ دالله په تسبیح او تقدیس کښې مشغول او سیړی او بیا نه ستړی کیږی او نه ستومانه کیږی د دے وجه نه دالله عبادت نه کولو کښې ستاسو نفع یا نقصان دے کچرے تاسو عبادت کوئ نو مونږ ته د هغے هیڅ فائده نشته او کچرے نه کوی نو د دے کښې حمونږ هیڅ نقصان نشته۔

۳۷ وَمِنْ اٰیٰتِهٖ۔ دا د دویم دلیل عقلی دویمه حصه ده چه د اولنی عقلی دلیل د اولنی حصے سره متعلق ده په هغے کښې ذکر دو چه الله زمکه پیدا کړه او په هغے کښې ئے بول خاصیتونه کیښودل او دلته د هغه ځنی خاصیتونه ذکر کړے شول د هغه د قدرت او وحدانیت د دلائلو نه دا هم ده چه هغه او چه کلکه زمکه باندے باران اووروی په هغے کښې د زمکه او نشوونما اثار پیدا کوی او په هغے کښې تروتازه شنه ځنګلونه او فصلونه پیدا کوی۔ اِنَّ الَّذِیْ اَحْیَاهَا (الآیة)۔ دا جمله معترضه ده کوم پاک ذات ته چه مړے او غیر اباد زمکے ته د شینکی او تازګئ ورکولو قدرت حاصل دے، هغه د مړو دوباره ژوندی کولو باندے هم قادر دے ځکه چه د هغه قدرتِ کامله

په هر شئ باندے مساوی دے او هیڅ یو شئ د هغهٔ د قدرت نه بهر نهٔ دے په دُنیا کښې هر کار د هغهٔ د قدرت نه لاندے کیدل په دے خبره گواه دے چه هغه د انسانانو دُوباره ژوندی کولو باندے قادر دے۔

۳۸ـــہ اِنَّ الَّذِیۡنَ یُلۡحِدُوۡنَ (الآیة) دا دویم دلیل نه روستو تخویف اُخروی دے دا تخویف د اول دلیل نه روستو تخویف نه په طور د ترقی دے حکم چه دے سره د کافرانو اعتراف او اِقرار کول مقصود دے لکه چه وړاندے راغی کوم خلق چه زمونږ په آیتونو کښې بحث مُباحثه او په کږه لاره تلل اِختیاروی او د منلو په ځائے په هغې باندے عیب او اِلزام لږوی او په هغې کښې نقصان راوباسی هغوئی شمونږ نه پټ پناه نهٔ دی مونږ ته هغه معلوم دی او د هغوئی ټول اعمال هم زمونږ په مخکښې دی دے وجه نه هغوئی د جهنم د اور نه نشی بچ کیدلے د هغوئی د اعمالو جزا به هغوئی ته پُوره پوره ورکولے شی۔ اَفَمَنۡ یُّلۡقٰی الخ دا به دِینه کافران به په جهنم کښې غورځولے شی تاسو په فیصله اووائی یو هغه مُلحد (بے دین) دے چه په جهنم کښې به غورځولے شی یو هغه مؤمن دے چه د قیامت په ورځ به د هر قسم عذاب نه محفوظ او په امن کښې وی دے دواړو کښې کوم یو بهٔ ښائسته شو؟ دا اِستفهام رد دے او مقصود د هغوئی نه اِقرار اخستل دی چه بیشکه په دواړو کښې بهٔ صرف مؤمن دے چه د عذاب نه به محفوظ وی او س هم کچرے تاسو منونه شوئی نو چه ښهٔ مو خوښه وی هغه اوکړئی، ستاسو کار د الله نه پټ نهٔ دے هغه ستاسو ټول کار رونه وینی۔

۳۹ـــہ اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا الخ دا دریمے شکوئی تمهید دے د اِنَّ خبر محذوف دے ای معاندون (بیضاوی) د الذکر نه قرآن مُراد دے یعنی کوم خلق چه د قرآن عظیم الشان چه ټول حق دے مدلل او مبرهن کتاب نه اِنکار کوی هغوئی خالص ضدیان او عنادیان دی۔ وَاِنَّهٗ لَکِتٰبٌ عَزِیۡزٌ الخ دا ما قبل د پاره دلیل دے چه قرآن یو ډیر نهایت رفیع القدر او لوئے شان والا کتاب دے د هیڅ یو طرف نه او هیڅ یو حیلے سره په دے کښې باطل نهٔ شی داخلیدے هغه د هر قسم باطل نه محفوظ دے او نازل کړے هغه چا دے چه د حکمت بادشاه د هر صفت مالک دے د دے وجه نه دا قرآن د هر شک شبه نه ډیر اوچت دے او د هر قسم عیب او اعتراض نه پاک دے لیکن معاند او ضدی خلق محض د عناد نه په دهٔ عیب لگوی او دے کښې شبهات پیدا کوی۔

مَا یُقَالُ لَکَ اِلَّا مَا قَدۡ قِیۡلَ لِلرُّسُلِ

تاته هغه ویلے شی نهٔ کوم چه ویلے شوے دی ټولو رسولانو ته

مِنۡ قَبۡلِکَ ؕ اِنَّ رَبَّکَ لَذُوۡ مَغۡفِرَۃٍ وَّ

ستا نه مخکښې ستا رب سره معافی هم دهٔ او

ذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا

او سزا هم ده دردناکه او کچیرے مونږ ګرځولے وے قرآن

اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ

الته بله ژبه کښې نو ویلے به ئے ولے دا نه دے ښکاره کړے شوے آیتونه دده.

ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

آیا د بلے ژبے کتاب او عربیان خلق . ته او وایه دا کتاب د ایمان والو د پاره

هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

دے هدایت او بیماری لرے کوونکے او هغوی چه نه کوی یقین

فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ

د هغوی په غوږونو کښې درون والے او دا قرآن د هغوی په حق کښې ړوند والے دے

اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾

هغوی ته آواز کوی د لرے ځائے نه

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ

او مونږ ورکړے وو موسیٰ ته کتاب بیا اختلاف اوشو

فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ

په هغے کښې. او کچیرے نه وے یوه خبره چه مخکښې اووتله ستا د رب له طرفه

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ

نو فیصله به شوے وے دوئی کښې او هغوی په دا سے دهوکه کښې دی د دے قرآن نه

مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ

چه آرام نه ورکوی ۲۵ چا چه اوکړه نیکی نو دخپل ځان د پاره

وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ

او چا چه اوکړه بدی نو هغه هم په هغه باندے ده. نه دے ستا رب چه ظلم اوکړی

لِّلْعَبِيدِ ﴿۴۶﴾

په بندګانو باندے

نکات سر ۱ د ریمه شکوی علیٰ سبیل الترقی او ضمناً تسلی ۱۲ سر ۲ دا اول شبه جواب ۱۲ سر ۳ د دویمے شبه جواب ۱۲ سر ۴ د دریمے شبه جواب ۱۲ ـ سر ۵ بشارت او تخویف ۱۲

موضح قرآن ف۱ دا په هغوی رونړ والے یعنی دا په هغوی باندے پټ دے ۱۲ـ ف۲ خبره مخکښ هغه وتلے ده چه فیصله به په آخرت کښ وی.

تفسیر ۴۳ ما یقال لك دا دریمه شکوی ده علیٰ سبیل الترقی او ضمناً نبی علیه السلام ته تسلی ده تا څوچه کله نرمی او حسن اخلاق سره هغوی ته قرآن اوروی نو هغوی خوبږے واوری لیکن د اثر اخستلو په ځائے به هغوی په دے اعتراضونه کوی او په دے کښ ضرور شبهات راوباسی تا سو د هغوی دے طریقه باندے تنګدل او خفه زړه مه ګرځئ ځکه چه د انبیاء او تیرو شوو رسولانو علیهم السلام سره هم د هغوی د زمانے معاندینو دا قسم سلوک کړیدے او په هغوی باندے هم دا قسم اعتراضات کړے شوے دی ـ ستا پروردګار مؤمنانو دپاره معاف کونکے او مهربان دے او معاندینو ته دردناک عذاب ورکوونکے دے. اوس مخکښ مشرکانو ته د دریو شبهات جواب ورکړے شوے دے.

۴۴ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ. دا د اول شبهه جواب دے، مشرکانو ویل دا قرآن چرته په عجمی (غیر عربی) ژبه کښ ولے نازل نه شو دا خو محمدؐ په خپله عربی ژبه کښ جوړ کړیدے او مونږ ته ئے اوروی د دے جواب کښ ئے اوفرمائیل کچرے قرآن د عربئ نه علاوه په بله کومه یوه ژبه کښ نازل شوے وے نو بیا به هغوی دا اعتراض کولے چه قرآن په یوه داسے ژبه کښ نازل شوے دے چه مونږ په هغے نه پوهیږو ـ هغه زمونږ په ژبه کښ ولے نازل نه شو چه مونږ په هغے پوهیدلے دا کومه خبره ده چه کلام عجمی وی او د هغے مخاطبین عربی وی. قال الکفار اقتراحا وتعنتا هلا انزل القرآن بلغة العجم الخ (مظهری ج ۸ ص ۳۱۰).

۴۵ قُلْ هُوَ معاندین به په قرآن باندے قسم قسم اعتراضونه کوی او دده د هدایت نه به محروم ګرځی ـ لیکن مؤمنان به د دینه فائده اخلی قرآن سره به هغوی ته د صراط مستقیم رهنمائی کوی او دده په مطالعه سره به د هغوی د زړونه د شکوک او شبهاتو د بیمارونه شفا موهی ـ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ او کوم خلق چه هغوی د دے د نه منلو پخه اراده کړیده د هغوی دا اوری هم نه او کچرے کله ئے واوری هم نو عناداً انکار کوی او دا شان د هغوی په ګمراهئ کښ نور زیاتے ئے هم کیږی دا خلق د نزدے کیدلو با وجود هم قرآن نه اوری او د دے نه لرے تختی د دوی مثال د داسے سړی دے چه ډیر لرے وی او هغه ته څوک چه ډیر اوچت آواز سره

هم اواز او کړے شي نو هغه به ئے نه اوري او نه به پرے پوهه شي، هم دا مثال د دوئ دے چه نزدے هم ناست وي بیا هم حق نه اوري نه او نه پوهیږي ایهم کالمنادي من مکان بعید لایسمع ولایفهم ماینادي به. (جلالین).

۴۳ وَلَقَدۡ اٰتَیۡنَا مُوۡسَی الۡخ دا د معاندینو د دویم شبهې جواب دے مشرکانو وائی چه قرآن ټول په یو ځل ولے نازل نه شو کیدے شي محمد (صلی الله علیه وسلم) لږ لږ په خپله جوړوي لکه چه په سورة فرقان (۳۲) کښې د هغوئ قول نقل کړے شوے دے. وقالوا لولا نزل علیه القرآن جملة واحدة. داشان هغوئ وائی چه داقرآن ریښتونے دے نو ټولو خلقو به منلے لیکن مونږ وینو چه اکثر خلق په هغے کښې دا اهل کتاب عالمان هم شامل دي دا نه مني د دے جواب ورکړے شو چه مونږه په موسیٰ علیه السلام کوم کتاب نازل کړے وو هغه ټول په یو ځل نازل شوے وو او هغه ریښتونے هم وو لیکن بیا هم په هغے کښې اختلاف اوشو د دے وجه نه شا سوا انکار خالص په عناد او ضد مبنی دے.

۴۴ وَلَوۡلَا کَلِمَةٌ سَبَقَتۡ - دا د دریم شبهې جواب دے. معاندین وائی که چرے دا قرآن ریښتونے دے او مونږ ئے نه منو نو په مونږ عذاب ولے نه راځي؟ ورته فرمائیل عذاب د پاره وخت متعین دے د هغے نه مخکښې نه شي راتلے که چرے د هغے وخت معین نه وے نو د دوئ قصه (خبره) ډیره مخکښې به پاکه شوے (ختمه شوے) وے. دا خلق د عذاب باره کښې مسلسل (همیشه) په شک کښې پریوتلي دي. او د هغوئ په دے یقین نه کیږي.

۴۵ مَنۡ عَمِلَ (الآیة) دا بشارت او تخویف دے کوم سړے چه نیک عمل کوی د هغے فائده به هم هغه ته ملاویږي او څوک چه بدکار کوی د هغے سزا به هم په هغه پریوځي. نیک خلقو ته به نیکه جزاء ملاویږي او ناکاره خلقو ته به د هغوئ د بدو سزا ملاویږي. الله تعالیٰ په هیڅ باندے ظلم نه کوی او نه د چا حق ضائع کوی د هیچا هیڅ نیکي به هم نه شي ضائع کولے، او هیچا ته به د ناکړے گناه سزا نه ملاویږي.

(کتابت: تحمید الله سلیم فون ۹۲۰۱۱۲۴-۰۳۲۵)

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ
دهغه طرفته حواله کیږي د قیامت علم ، او نه وځي یوه میوه
مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا
د پټیلې پردې نه او نه حامله کیږي یوه ښځه ، او نه هغه زیږوي چه
بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ
هغې علم هغه ته نه وي، او په کومه ورځ چه دوی ته اواز وکړي ګله چرته دي زما شریکان ، والي به موږ تاته واوروُل
مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ (٤٧) وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ
موږ کښې څوک هم اقرار نکوي . او ورک شو دهغوی نه کوم چه ئې رابلل ،
مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ (٤٨) لَّا يَسْأَمُ
مخکښې او پوهه شول چه د دوی چرته هم خلاصے نشته . نه ستړے کیږي
الْإِنسَانُ مِن دُعَاءِ الْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوسٌ
انسان ګله د غوښتلو د خیر نه او چرے ورسیږي ده ته بدي نو نا امیده شي
قَنُوطٌ (٤٩) وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِن بَعْدِ ضَرَّاءَ
ډیر سخت نا امیده . او که اوڅکوو هغه ته ګله خپله مهرباني روستو د تکلیف نه چه
مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً
هغه ته رسیدلے وو نو وائي دا زما سره لائق ده، او زه ګمان نکوم چه قیامت راتلونکے دے ،
وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِندَهُ لَلْحُسْنَىٰ ۚ
او که زه واپس هم لاړ شم د خپل رب طرفته بیشکه ما د پاره هغه سره ده تیکي (جنت)
فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ
پس موږ به خبر ورکړو کافرانو ته د هغه څه چه ئې کړیږي او څکوو به هغوی ته یو
عَذَابٍ غَلِيظٍ (٥٠) وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَ
سخت عذاب . او کله چه موږ نعمتونه اولیږو ګله په انسان باندې او ګرځي او

نَا بِجَانِبِهٖ ۚ وَ اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿۵۱﴾

واوړي په اړخ خپل، او کله چه ورسیږي ده ته بدي، نو دُعا کانے کوي اوږدے ف ۱

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ

ته ووايه! آيا وينئ تاسو ځکه خبره داوي د الله له طرفه بيا تاسو دا ونه منلو،

مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿۵۲﴾ سَنُرِيْهِمْ

نو څوک دي زيات ګمراه نه هغه چه لرے لارشي په مخالفت کښي - اوس به موږ ښايو دوي ته

اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ

خپلے نښے (قدرت) ځکه په دُنيا کښي او دوي په خپلو ځانونو کښي، تردے چه ښکاره شي دوي ته،

اَنَّهُ الْحَقُّ ؕ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

چه دا (قرآن) رښتونے دے آيا ستا رب ځکه کافي نه دے چه په هر څيز باندے ګواه

شَهِيْدٌ ﴿۵۳﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ؕ اَلَآ

کيدلو د پاره؟ واورئ! دوي ځکه په دهوکه کښي دي د خپل رب د ملاقات نه، واورئ!

اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿۵۴﴾ ع

چه بيشکه الله چاپيره کيدونکے دے (په علم او قدرت خپل سره) هر څيز باندے۔

نکات: ۱ دريم عقلي دليل علیٰ سبيل الترقي۔ ۲ تخويف اُخروي۔ ۳ شلورمه شکوي۔ ۴ جواب محذوف دے او د اشلورو واړو شکوو سره متعلق دے۔ ۵ تخويف دُنيوي۔ ۶ شلورم عقلي دليل۔ ۷ تخويف اُخروي۔

موضح قرآن ف ۱: دا هول بيان دے د انسان چه نه په سختئ کښي صبر کوي او نه په نرمئ (راحت) کښي شکر ادا کوي۔

فتح الرحمٰن ف ۱: يعني مطمئن شي او ويره د زړه ئے ختمه شي۔

تفسير ۱ اِلَيْهِ يُرَدُّ: دا دريم عقلي دليل دے علیٰ سبيل الترقي۔ د اِلَيْهِ تقديم مفيد د حصر دے۔ دے دليل سره د علم غيب نفي کړے شوے ده۔ يعني څنګه چه متصرف او کارساز صرف الله تعالیٰ دے لکه چه د مشرکين د دواړو عقلي دليلونو نه ثابته شوے ده۔ دغه شان عالم الغيب هم صرف هغه دے

او هغهٔ دَغیب کنجیانے هیڅ ته نهٔ دی ورکړی. دَقیامت قائمیدلو معین وخت صرف هغهٔ ته معلوم دے اردا علم هغهٔ ته حواله کول شی. ای علم وقت قیامها یرد الیه یعنی یجب علی کل من سئل عنها ان یقول الله اعلم اذ لا یعلمها الا هو. (مظهری ج ۸ ص ۳۰۳) - کوم میوے چه دَخپلو پردونه راښکاره کیږی، کومه ښځه (دَانسانانو او حیوانانو) چه حامله کیږی او کوم ماشوم چه پیدا کیږی، دا ټول هرڅهٔ دَ الله تعالیٰ په علم محیط کښ دی او دَ هغهٔ نه سوا هیڅوک هم په دے اُمورو باندی خاوی نهٔ دے.

۴۷ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ اُخرویم عقلی دلیل نه روستو تخویف اُخروی دے. دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دَمشرکانو نه تپوس وکړی، چرته دی هغه کوم چه تاسو په دُنیا کښ ما سره شریکان جوړ کړی وُو. جواب به ورکړی، اے زمونږ پروردګاره! مونږ خو عرض وکړو چه اُوس زمونږ نه هیڅوک هم دَهغوی دَ اُلوهیت قائل پاتے نشو. اُوس چه دَ اَصلی حقیقت مشاهده ګانو مونږ دَهغوی نه بیزاره شوی یُو او دَ زړهٔ په صدق سره مؤحدین جوړ شوی یُو. دُنیا کښ چه هغوی څوک کارساز ګنړلے وُو او رابلل به ئے هم، دَقیامت په ورځ به ټول غائب وی او څوک به هم دَهغوی په کار نهٔ راځی او مشرکان به یقین وکړی چه نن دَ عذاب الٰهی نه دَ بچ کیدلو هیڅ صورت نشته. ای ما منا احد الیوم یشهد بان لک شریکا وما منا الا موحد لک (مدارک ج ۴ ص ۷۵)

۴۸ لَا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَٰنُ دا شکوه شکوی ده. دَ انسان نه کافر انسان مراد دے (مظهری)، دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ مصدر مفعول طرفته مضاف دے (روح) مشرک او کافر انسان خپل خو ساخته معبودانو ته دُنیوی نعمتونو غوښتلو سره نهٔ ستړے کیږی او مسلسل سوال کوی لیکن کچرے هغهٔ ته څهٔ ورنکړے شی او دَ هغهٔ مصیبت هم هغه شان باقی پاتے وی نو دَخپلو معبودانو نه نا اُمیده شی او خیال کوی چه هغوی هیڅ نشی کولے او دَدوی په اختیار کښ هیڅ هم نشته. نو دَ باطل معبودانو نه مایوسه او نا اُمیده شی او دَ الله تعالیٰ نه اُوږ دے دُعا کانے شروع کړی. قنوط من الصنم ذو دُعاء الله تعالیٰ. (مدارک ص ج ۴ ص ۷۵، مظهری ج ۸ ص ۳۰۵).

۴۹ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ بیا کچرے الله تعالیٰ خپل فراخه رحمت سره دهٔ ته نعمت ورکوی او تکلیف ترے لرے کوی نو دے دَ الله تعالیٰ دَشکر اَدا کولو په ځائے وائی چه دا نعمت خو ما ته ملاویدل پکار دُو ځکه چه څهٔ دردے مستحق وُم. او ما فلانے فلانے تدبیر او حیله اختیار کړه نو ځکه ما ته دا نعمت راکړے شو. ما فلانے معبود راوبللو، دَ فلانی بزرګ نذر منځته مِ وکړه، ما دا حیله وکړه، هغه حیله مِ وکړه وغیره وغیره. ای هذا من عندی (قرطبی) ای استحقه بعملی (خازن) لکه چه بل ځائے راغلی دی: إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓ (القصص ع ۸).

ثانیه: ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِیَ مَا كَانَ یَدۡعُوۡۤا اِلَیۡهِ مِنۡ قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنۡدَادًا ؕ (الزمر)

باقی پاتے د قیامت قصه شوه نو خپل خیال دا دے چه قیامت به نه راځی لیکن که بالفرض راشی هم نو په اخرت کښ به هم ځما حالت بنه وی څنګه چه په دنیا کښ ځه د ارام او راحت او عیش وعشرت مستحق یم، دغه شان به په اخرت کښ هم د هغه د نعمتونو مستحق یم - یا په اخرت کښ به ځما بزرګان او معبودان ما د پاره د هر راحت او ارام او نعمت سامان برابر کړی - قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ -

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا الخ، دا د شکوے په مینځ کښ تخویف اُخروی دے - د قیامت په ورځ به مونږ مشرکانو لره د هغوی د اعمالو د حقیقت نه خبر کړو او هغوی ته به معلومه شی چه اصلی حقیقت د هغوی د باطل خیال خلاف دے - او دوی د نعمت او کرامت نه بلکه د ذلت او سپکاوی مستحق دی او مونږ به دوی لره ډیر سخت عذاب کښ ګرفتار کړو چه د هغې نه به ئے خلاصے ناممکن وی - لنعلمنّهم بحقیقة اعمالهم ولنبصرنهم بعکس ما اعتقدوا فیها یظهر لهم انهم مستحقون للاهانة لا للکرامة کما توهموا - (روح ج ۲۵ ص ۴)

۵۰ وَاِذَاۤ اَنۡعَمۡنَا الخ: دا د کافر انسان حال دے - کله چه مونږ هغه ته په دُنیا کښ انعام او راحت ورکړو نو د شکر ادا کولو په ځائے هغه د حق نه اعراض کوی او تکبر او غرور سره ناز رفتاری کوی لیکن دغه حال باندې هم قائم نه پاتے کیږی - د انعام او راحت نه پس کله چه په ده څه مصیبت راشی نو ټول کبر او غرور ئے ختم شی او ډیرے زاری او عاجزی سره د الله تعالیٰ نه دُعا غواړی، لکه چه بل ځائے کښ ارشاد دے: وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِی الۡبَحۡرِ ضَلَّ مَنۡ تَدۡعُوۡنَ اِلَّاۤ اِیَّاهُ ۚ (بنی اسرائیل ع ۷) او - فَاِذَا رَكِبُوۡا فِی الۡفُلۡكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّیۡنَ (عنکبوت ع ۷)

۵۱ قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ الاٰیة: دا ایت څلورو وارو شکوو سره متعلق دے او جواب محذوف دے: ای افلا یضر کم ذلك یعنی دا خو راوښایئ کچرے دا قران واقعی د الله پاک له طرفه وی لیکن تاسو د دے نه انکار کوئ، نه ئے بخپله اورئ او نه ئے بل خوک اوریدلو ته پریږدئ او چه کله ئے واورئ نو د دے نه د اثر قبلولو او منلو په ځائے د عناد په وجه په ده باندې عیب لګوئ او په ده کښ شبهات راوباسئ او د باطل معبودانو رابلل نه پریږدئ، نو ایا دا چیز به ستاسو حق کښ د نقصان او ضرر نه وی؟ په دے وجه تاسو له پکار دی چه اعراض ونکړئ - کله چه قران لوستلے شی نو هغه غور سره اورئ او شور مکوئ او د عیب لګولو نه منعه شئ او د غیر الله رابلل پریږدئ او د دلائلو او براهینو په رڼا کښ روان شئ. مَنۡ اَضَلُّ، دا ځانله جمله ده یعنی د هغه نه لوئے ګمراه څوک دے چه ډیر سخت عناد او ضد کښ وی او محض د عناد او سرکشئ په وجه د حق نه اعراض وکړی او منع ئے کړی - قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ -

۵۲ سَنُرِيهِمْ اٰيٰتِنَا: دا تخويف دُنيوي دے۔ موږ به هغوی ته دَخپل متصرف او مختار او قادرِ مطلق کيدلو دلائل او نشانات په اطرافو کښ يعنی دَتيرو شوو اُمتونو په تباه شوو کلو او کنډراتو کښ يا دَ زمکے او اسمانونو دَ ټول مخلوق په تخليق کښ او دَ کائناتو دَ نظام په چلولو کښ او بخپله دَدغه (زمکے او سيدونکو) په ځانونو کښ ښکاره کوو چه دے سره به دوی ته واضحه شی چه اَنَّهُ هغه دَ توحيد حکمنامه حق ده کله چه دُنيا کښ په هغوی دَ الله تعالیٰ عذاب راځی او دَدوی خيالی کارسازان دوی لره دَ الله تعالیٰ دَعذاب نه نشی بچ کولے نو دوی ته به معلومه شی چه واقعی دَ الله تعالیٰ نه سوا هيڅوک کارساز او دَ دُعا او دَ بلنے لائق نشته۔ فی الاٰفاق يعنی خراب منازل الامم الخالية (قرطبی ج ۱۵ ص ۳۷۳) يعنی فی اقطار السمٰوٰت والارض من الشمس والقمر والنجوم والنبات والاشجار والانهار (مظهری ج ۸ ص ۳۰۵) وفی انفسهم يعنی يوم بدر (مظهری) قال قتادة فی الاٰفاق يعنی وقائع الله فی الامم وفی انفسهم يوم بدر (معالم ج ۶ ص ۱۱۵)

۵۳ اَوَلَمْ يَكْفِ: دا څلورم عقلی دليل دے چه دَهغے نه ثابتيږی: الله تعالیٰ عالم الغيب او هر ځائے حاضر او ناظر دے۔ لهٰذا په مصيبتونو او حاجتونو کښ صرف هغه ته اواز کول پکار دی۔ بِرَبِّكَ بانی باء زائده ده او دا دَ لَمْ يَكْفِ دپاره فاعل دے او اَنَّهُ دَ فاعل نه بدل الاشتمال دے يعنی هغوی له دَ کناهونو او دَ غير الله رابللو نه منع کولو دپاره دا خبره کافی نه ده چه ستا رب په هر څيز بانی خبردار دے او هيڅ څيز دَ هغه نه پټ نه دے او دا صفت دَ هغه نه سوا بل هيچا کښ نشی موندلے کيدے۔ نو ايا دا حقيقت دَدے خبرے دپاره کافی نه دے چه دَ هغه نه سوا بل څوک په مصيبتونو کښ مافوق الاسباب رابلل نه دی پکار۔ الم يكف الانسان رادعا عن المعاصی انه تعالیٰ مطلع علی کل شیء لا يخفی عليه خافية (بيضاوی) يا په بِرَبِّكَ کښ باء په معنیٰ دَ فی ده او اَنَّهُ الخ دَ لَم يكف فاعل دے: اولم يكف بربك ای فی توحيد ربك۔ ايا ستا دَ رب په توحيد او دَ هغه دپاره دَ عبادت خاص کولو او دَ هغه دَ رابللو دپاره دا دليل کافی نه دے چه هغه دَ هر څيز نه خبردار دے او هيڅ څيز دَ هغه دَ علم نه بهر نه دے۔ استفهام انکاری دے يعنی دَ الله تعالیٰ عالم الغيب کيدل دَدے خبرے دپاره کافی دليل دے چه دَ هغه نه سوا بل څوک کارساز نشته او نه دَ هغه نه سوا څوک دَ دُعا او رابللو لائق شته۔ قاله الشيخ رحمه الله۔

۵۴ دا دَ څلورم دليل نه پس تخويف اُخروی دے۔ دا خلق دَ قيامت په باره کښ په شك او تردد او نزاع (جهګړه) کښ پريوتلی دی او الله تعالیٰ هر څيز بانی احاطه کړيده او هيڅ څيز دَ هغه دَ علم او قدرت نه بهر نشته او دَدوی په ټولو اعمالو بانی هم دَ هغه علم حاوی دے۔ نو هغه به دوی ته دَدوی دَ ټولو بدو اعمالو سزا ورکړی۔

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمين۔

سجاد بخاری عفا الله تعالیٰ عنه۔

سورۃ حٰمٓ سجدہ کښ دَ توحید اَیتونه او دَهغې خصوصیات

① قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ — تا — ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ (ع ۲) نفي دَ شرك في التصرف۔

② وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ۔ الآية (ع ۳) شيطانان انسانانو لره په ويښه او خوب کښ مختلفو طريقو سره گمراه کوي۔

③ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ۔ تا۔ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ (ع ۵) نفي دَ شرك في التصرف او اثبات دَ حشر ونشر۔

④ اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ۔ تا۔ وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ (ع ۶) نفي دَ شرك في العلم

⑤ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ (ع ۶) نفي دَ شرك في العلم۔

بَحث

متعلق دَ مرکزي مضمون دَ سورۃ حٰمٓ السجدة

سورۃ مؤمن کښ ذکر اوشو چه دَ الله تعالىٰ نه سوا په حاجتونو کښ هیچا ته اواز مکوئ۔ دِے بانډې دا شبه کیده له چه دا لیده لے شویده چه دَ غیر الله رابللو سره ځنې وختونو کښ انسان دَ مصیبتونو نه خلاصے مومي، دا رنګے په ځنې وختونو کښ چه چا ته اواز وکړے شي هغه په خوب یا بیدارۍ کښ امداد کوي نو په سورۃ حٰمٓ السجدہ کښ دَدے جواب ورکړے شو۔ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ الآية چه دَ هغې حاصل دا دے چه دا ټول دَ شیطانانو کارنامے دي چه په مختلف شکلونو کښ متمثل کیږي او هغوي گمراه کوي۔

ځنې وخت داسے کیږي چه مصیبت زپلے انسان دَ مصیبت لرے کولو دَ پاره خپل ژوندي یا مړشوي پیر مرشد ته اواز کوي نو شیطانان دَ هغهٔ په شکل کښ ورله مخے ته راځي او هغهٔ ته دَ مصیبت نه خلاصے ورکوي۔ هغه سړے داګنړي چه په رښتیا پیر صاحب راغے او دَدهٔ امداد ئے وکړو حال دا دے چه هغه شیطان وُو۔ دَ دهٔ

مشرکانو عقیده مضبوطولو دپاره د پیر صاحب په شکل کښې رابنکاره شوی وُو لکه څنګه چه امام ابن تیمیه فرمائی: وکثیرا ما یستغیث الرجل بشیخه الحی والمیت فیأتونه فی صورة ذلک الشیخ وقد یخلصونه مما یکره، فلا یشک ان الشیخ نفسه جاء ..... ولا یعلم ذلک الذی تمثل انما هو الشیطان، لما اشرک بالله اضلته الشیاطین. (الفرقان بین الحق والباطل ص ۶۶)

عمدة المفسرین علامه سید آلوسی رحمه الله فرمائی: وقد یتمثل الشیطان للمستغیث فی صورة الذی استغاث به۔ فیظن ان ذلک کرامة لمن استغاث به، هیهات هیهات انما هو شیطان اضله واغواه، وزین له هواه (روح ج ۷ ص ۲۹۴)۔

څنې وخت دا هم کیږی چه یو انسان خپل شیخ ته غاړې ته اواز کوی نو شیطان دده دا کلام د انسانی اواز په لهجه کښې ددهٔ د پیر په غوږ وته کښې اچوی چه دے سره ددهٔ پیر هم دهوکه کیږی چه هغهٔ د دومره لرے نه د خپل مرید خبره واوریدله او کله چه پیر ددهٔ د اواز جواب ورکوی او د ددهٔ د مصیبت لرے کولو دپاره څهٔ اشاره کوی نو شیطان د هغهٔ کلام د هغهٔ د اواز پشان اواز کښې د مرید په غوږ ونو کښې اچوی چه دے سره هغه دا خیال کوی چه پیر او مرشد ددهٔ اواز واوریدهٔ او ددهٔ امداد ئے کړیدے او دغه شان پیر او مرید دواړه په ګمراهئ کښې پراتهٔ وی۔ لکه چه امام ابن تیمیه لیکی:

وتارة یکون التابع قد نادی لشیخه وهتف به یا سیدی فلان فمنقل الجنی ذلک الکلام الی الشیخ بمثل صوت الانسی حتی یظن الشیخ انه صوت الانسی بعینه ثم ان الشیخ یقول نعم ویشیر اشارة یدفع بها ذلک المکروه، فیأتی الجنی بمثل ذلک الصوت والفعل یظن ذلک الشخص انه شیخه نفسه وهو الذی اجابه، وهو الذی فعل ذلک۔ (الفرقان بین الحق والباطل ص ۱۶)

بیا یو ځائے کښې لیکی: څنې وخت بعضو خلقو ته صرف اواز اورولے شی او څنې وختو نو کښې انسان هم په نظر راځی چه د شریعت نه خلاف خبره کوی نو خلق دا ګنړی چه دا څوک ولی الله وُو حال دا دے چه هغه شیطان وی:

فمن هؤلاء من یسمع خطابا او یری من یأمره بقضیه ویکون ذلک الخطاب من الشیطان ویکون ذلک الذی یخاطبه الشیطان وهو یحسب انه من اولیاء الله من رجال الغیب۔ (الفرقان ص ۵۲)

څنې وخت شیطان په انسانی شکل کښې بنکاره شی د خلقو د ګمراه کولو دپاره دا دعوی کوی چه زهٔ فلانے بزرګ یم۔ مثلاً وائی چه زهٔ خضر یم، یا الیاس یم، یا شیخ عبدالقادر جیلانی یم وغیره وغیره۔ نو دے طریقے سره خلق په دهوکه کښې راشی، دا ګنړی چه اولیاء الله ژوندی دی او هر ځائے موجود دی:

قالوا هذا هو الخضر وهذا هو الیاس وهذا هو ابوبکر وعمر وهذا هو الشیخ عبدالقادر او الشیخ عدی او الشیخ احمد الرفاعی او غیر ذلك ظن ان الامر کذلك فهذا لم یغلط، لکن غلط عقله حیث لم یعرف ان هذه شیاطین تمثلت علی صور هؤلاء۔ (الفرقان ص ۵۷)

د دے نه معلومه شوه چه خوبونه، غیبي اوازونه او د اولیاء الله طرفته منسوب شوی شکلونه او مثالونه سره چه د غیر الله په رابللو کوم استدلال کولے شی هغه ټول باطلے دعوے دی او دا ټول شیطاني اعمال دی چه د دے په ذریعه شیطانان انسانانو لره گمراه کوی او د شرك تعلیم ورته ورکوی۔



سُوْرَةُ الشُّوْرٰى

ربط سورۀ حٰمٓ السجدة کښې دا شبه لرې کړې شوه چه په خوب یا بیداری کښې څښے وخت د بزرگانو زیارت کیږی نو د هغوی د خبرو نه معلومیږی چه په حاجتونو کښې غیر الله ته اواز کول او د هغوی نذرونه او منتونه کول جائز دی نو د هغے جواب ورکړے شو چه دا د شیطانانو شرارت دے. هغوی په خوب کښې یا په ویښه د بزرګانو په شکل کښې څخے ته راځی او خلق ګمراه کوی. اوس په سورۀ شوریٰ کښې د بیو دویمے شبهے جواب ورکولے شی یعنی مشرکان وائی چه موږ په مخکینو کتابونو کښې داسے عبارتونه ملاویږی چه د هغے نه معلومیږی چه غیر الله ته اواز کولو اجازت شته. نو د دے جواب دا ورکړے شو چه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام طرفته هم دا وحی لیږلے شوے وه چه ټول هرڅه کولو والا او په ټول هرڅه خبردار الله تعالیٰ دے. نو په حاجتونو او مصیبتونو کښې صرف هغهٔ ته اواز کوئ. په انبیاء علیهم السلام چه کوم کتابونه نازل کړے شو په هغے کښې هم دا مضمون وو لیکن اوس کچرے دے کتابونو کښې د هغے خلاف څهٔ څیز ملاویږی چه هغے نه د شرک تائید کیږی نو هغه د الله پاک د توحید او د انبیاء علیهم السلام د تعلیماتو نه د باغی مُلایانو او ګمراه کونکو پیشوایانو تحریف دے او هغوی څپله دغه مشرکانه مضامین لیکلو سره په هغه کتابونو کښې شامل کړیدی. نو روستو خلقو چه هغه تحریف ته وکتل او ګمراه شول نو دوی به معذور نهٔ وی.

د دے قسم درے شبهاتو جواب په مخکنو سورتونو کښې تیر شویدے. اول حضرت سُلیمان علیه السلام نه داسے کلمات ملاویږی چه په هغے کښې غیر الله ته اواز کول ایکلے شوی دی نو په سورۀ بقره ع ۱۲ کښې د هغے جواب ورکړے شو: وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا الآية. چه حضرت سلیمان علیه السلام ته د غیر الله د راپلو نسبت غلط دے. دا د شیطانانو شرارت دے چه هغوی څپله کتابونه تصنیف کړل په هغے کښې ئے د خپل ځان نه د حضرت سلیمان علیه السلام په حق کښې داسے کلمات منسوب کړل. دغه شان د اولیاء کرامو طرفته روستو مفسدانو خلقو ګمراه کولو او مشرکانه خبرے منسوب کړیدی چه د هغے نه بزرګان بری دی.

دویم عیسایانو وئیلی وو چه حضرت عیسیٰ علیه السلام څپله موږ ته تعلیم راکړیدے چه په حاجتونو کښې ما ته اواز کوئ. د دے جواب په سورۀ آل عمران (ع ۸) مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ الْكِتٰبَ (الآية) کښې ورکړے شو چه دا هم په عیسیٰ علیه السلام باندې

بهتان دے ۔ هغه دَ الله تعالىٰ پيغمبر وُو او دَ الله پاک دَ پيغمبر نه دا خبره ممکن نۀ دۀ چه هغه دَ الله تعالىٰ دَ توحيد نه خلاف خلقو ته تعليم ورکړو۔

دريم دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام باره کښې په انجيل او په قرآن کښې چه کوم کلمات ملاويږي مثلاً ابن الله (انجيل)، کلمة الله، روح الله (قرآن)، دِ دے سره شبهه کيږي چه هغوي ته دَ الله تعالىٰ په دربار کښې داسے نزديکت حاصل دے چه شايد هغوي ته دَ کائناتو په نظام کښې څۀ اختيارات هم ورکړے شوي وي۔ دَ دے جواب ئے په سورة ال عمران (ع۱) هُوَ الَّذِيٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ط (الاٰية) کښې ورکړے شو۔ دا کلمات دَ متشابهاتو نه دي او دَ دين شريعت بنياد په محکماتو باندے دے، نۀ چه په متشابهاتو باندې۔ او دَ متشابهاتو حقيقت دَ الله تعالىٰ نه سوا هيچا ته معلوم نۀ دے۔ دَ دے جوابا تو تفصيل په خپل خپل ځائے کښې تير شوے دے۔

خلاصه

دَ شبهے ازاله او دَ دے نه پس دَ دے متعلق دَ دوارو دعوو باره کښې اٰيتونه۔ اوله دعوىٰ دَ ټولو پيغمبرانو طرفته دا وحي کړے شوے وه چه عالم الغيب او کارساز صرف الله تعالىٰ دے۔ په دے وجه صرف هغۀ ته اٰواز کوئ۔

دويمه دعوىٰ دا انبياء عليهم السلام دَ دے متفق عليه تعليم خلاف چه کوم څۀ دَ هغوي طرفته منسوب کړے شويدي هغه دَ باغي او ګمراه کوونکو عالمانو کارنامه دَه۔ دا تحريفات دَ روستنو خلقو دپاره قابلِ عذر نۀ دي لکه دَ سامري دَ سخي اٰواز ويستل دَ سخي عبادت کوونکو دپاره قابل دَ معذرت نۀ وُو۔ بيا به دَ دوارو دعوو متعلق اٰيتونه دي او مينځ کښې به دَ دفع دَ عذاب دپاره دَ درے امورو بيان وي۔ په اٰخر دَ سورت کښې به درے واړه دلائل عقلي، نقلي او وحي بيانيږي۔

تفصيل

كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ ۔ تا ۔ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝ (ع۱) انبياء عليهم السلام ته هم دا وحي اوليږلے شوه چه دِ دے ټول جهان کښې صرف الله تعالىٰ متصرف، مختار او کارساز دے۔ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ ۔ تا ۔ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝ فرښتے هم دَ شرک نه دَ الله تعالىٰ پاکي بيانوي او دَ توحيد خاوندانو دپاره استغفار غواړي۔ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ الاٰية، مشرکانو باندې زجر او تخويف دے۔ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ الخ ترغيب الى القرآن او بشارت او تخويف اُخروي دے۔ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ الخ، دَ زجر اعاده دَه۔ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔ تا ۔ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ دا لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ سره متعلق دے۔ يعنې دا مضامين هم انبياء عليهم السلام ته وحي کړے شويدي چه

الله تعالیٰ عالم الغیب او مالک او مختار دے او هغه سره هیڅوک شریک نشته۔ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ ــ تا ــ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ٥ (ع۲) تولو انبیاؤ علیهم السلام ته دَ دین قانونولو یعنی دَ الله تعالیٰ دَ توحید دَ تبلیغ کولو او دَ غیر الله دَ رابللو نه دَ منعه کولو حکم ورکړے شو۔ ټول پیغمبران دَ الله تعالیٰ په توحید باندې متفق وُو۔ وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ الخ: دا دَ دے سورت دَ مرکزی شبهے جواب دے شبه دا وه چه هر کله ټول انبیاء علیهم السّلام دَ توحید په مسئله کښې متفق وُو نو بیا په مخکنو کتابونو کښې دَ دے خلاف لیکل ولے ملاویږی۔ نو دَ دے جواب ورکړے شو چه دا دَ روستنو باغی پیشوایانو تحریف دے۔ هغوی دَ دے مسئلهٔ توحید پوهیدلو او پیژندلو نه پس دَ ضد او عناد په وجه په توحید کښې اختلاف واچولو۔

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ الخ: دا دَ یو سوال جواب دے۔ دِے باغیانو او سرکشو باندې عذاب ولے نه راځی کوم چه دَ توحید نه انکار کوی؟ جواب ورکړے شو چه دَ عذاب یو وخت مقرر دے او هغه به پخپل وخت راځی۔ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ الخ: دَ دے گمراه کونکو او باغیانو علماؤ نه پس چه کوم خلق راغلل هغوی دَ غه محرّف کتابونو ته وکتل نو دَ توحید په باره کښې دَ شکونو او شبهاتو ښکار شول۔ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ــ تا ــ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ٥ دا په ما قبل باندې څلور متفرع امور دی: ① فَلِذٰلِكَ فَادْعُ: تاسو دَ دے حکمنامے دعوت ورکوئ۔ ② فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ: په دِے باندې قائم وسیږئ۔ ③ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ: دَ دوی دَ خواهشاتو تابعداری مکوئ۔ ④ قُلْ اٰمَنْتُ الخ: ځما په هغے ایمان دے کوم چه الله تعالیٰ نازل کړیدی، دَ باغیانو تحریفات به نه منم۔ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ: ما ته حکم راکړے شویدے چه ستاسو مینځ کښې انصاف اوکړم۔

حاصل دا دے چه هغه خلق په شکونو او شبهاتو کښې پریوتلی دی او دَ باغیانو لیکلے شوے منی لیکن تاسو دَ توحید دَ مسئلے دعوت جاری وُساتئ او په دِے قائم وسیږئ او صرف الله تعالیٰ ته په حاجتونو کښې آواز کوئ او دَ دے تبلیغ کوئ او اعلان وکړئ چه څۀ به هغه څیز منم کوم چه الله تعالیٰ نازل کړیدے او ما ته دَ انصاف کولو حکم راکړے شویدے۔

وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِى اللّٰهِ الخ: دَ باغی او گمراه علماؤ دَ تابعداری کولو سره چه کوم خلقو دَ الله تعالیٰ توحید پریښودو، هغوی دَ دے باره کښې معذور نه دی ځکه چه اول خو الله تعالیٰ کتاب نازل کړیدے چه دَ حق او باطل مینځ کښې میزان دے، حق او باطل جدا کونکے دے۔ دویم دا دَ توحید مسئله انبیاء علیهم السلام او علماء حق تسلیم کړے ده۔ په دِے وجه دَ دے مشرکانو عذر قبول نه دے لکه دَ سامری دَ سخی آواز ویستل دَ سخی دَ عبادت کونکو دَ پاره دَ معذورکیدلو سبب جوړ نشو۔ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ ٥ ــ تا ــ لَفِىْ ضَلٰلٍۢ مُّبِيْنٍ ٥ دا

مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے۔
اَللّٰهُ لَطِیْفٌۢ بِعِبَادِهٖ الآیة: دا اٰیت د اُولے دعوے سره متعلق دے یعنی الله تعالیٰ کارساز دے۔ نوغائبانه اواز هغه ته کوئ۔ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ الخ (ع ۳): دا ترغیب فی الاٰخرت او تزهید فی الدنیا دے (یعنی اٰخرت سره مینه پیدا کول او د دنیا نه بے رغبتی کول)۔ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا الخ: دا د دویمے دعوے سره متعلق دے۔ د الله په شریعت کښې خو دا نوچه صرف الله پاک ته اواز کوئ۔ ایا ستاسو پیشوایانو او معبودانو د هغه د شریعت نه خلاف بل کوم نوے شریعت جوړ کړے دے؟
وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ ۔ تا ۔ وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ: تخویف اُخروی دے۔ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۔ تا ۔ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ؁ بشارتِ اُخروی دے او مینځ کښې قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ الخ سره ترغیب دے۔ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى الآیة: دا شکوٰی ده۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخکنو پیغمبرانو او کتابونو مطابق دعوت پیش کوی۔ لیکن معاندین بیا هم تا سو ته مفتری (دروغ جوړونکے) وائی۔ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ الآیة دا د اُولے دعوے سره متعلق دے۔ الله تعالیٰ معاف کوونکے او په غیبو عالم دے، هغه نه د گناه بخښنه وغواړئ او هغه ته اواز کوئ۔ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ: بشارت اُخروی دے۔ وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؁ تخویف اُخروی دے۔ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ الآیة: دا د یو سوال جواب دے چه هغه دا سے مهربانه دے نو ټولو ته ولے فراخئ سره رزق نه ورکوی؟
که چرے هغه دوی ته فراخئ سره رزق ورکوله نو ټول به د هغه د احکامو نه باغی شوی وو۔ په دے وجه هغه خپل حکمت سره هر یو ته یو خاص اندازه باندې رزق ورکوی۔ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۔ تا ۔ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ؁ دا د اُولے دعوے سره متعلق دے۔ کارساز، متصرف او مختار صرف هغه دے نو په حاجتونو کښې صرف هغه رابلئ۔ دا په اُوله دعوی باندې عقلی دلیل دے۔ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ ۔ تا ۔ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا (ع ۴) دا تخویف دُنیوی دے۔ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ ۔ تا ۔ فَاُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ؁ دا ایمان والو د پاره بشارت اُخروی دے او دیکښې د عذاب دفع کولو د پاره د اُمور ثلاثه ذکر بیان هم دے۔
① شرک مکوئ: لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ؁ ② ظلم مکوئ۔ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ الخ ③ احسان کوئ: وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ؁ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ الخ (الآیة)، دا تخویف اُخروی دے۔ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ الخ (ع ۵): دا د دویمے دعوے سره متعلق دے یعنی څوک چه محض د ضد او عناد په وجه د باطل پرستو عالمانو تحریفات اُومنی او گمراه شی هغه هیڅوک هم په سمه لاره نشی راوستلے۔ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ ۔ تا ۔ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ؁ دا تخویف اُخروی دے۔ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ ۔ تا ۔ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ؁ دا د دویمے دعوے

سره متعلق دے او تخویف اُخروی هم دے یعنی د باغیانو او ګمراهانو د تحریفاتو تابعداری مکوئ او صرف الله تعالیٰ ته اواز کوئ۔

فَإِنْ أَعْرَضُوا الخ: دا زجر دے سره د تسلئ نه. کهٔ چرے معاندین اعراض کوی نو ته مهٔ غمژن کیږه، ستا سو فریضه او کار اورول او پوهول دی نهٔ چه په هغوی باندے منل۔ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الآية: دا زجر دے۔ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ ـــ تا ـــ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ۞: دا په اوله دعوی باندے عقلی دلیل دے او د اولے دعوے سره متعلق دے۔ په ټولو کائناتو کښ صرف هغه متصرف او مختار دے او اولاد ورکول هم د هغهٔ په اختیار کښ دی۔ نو په حاجتونو کښ صرف هغه رابلئ۔ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ الآية: دا د دویمے دعوے سره متعلق دے۔ او شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ سره هم او دلیل نقلی طرفته اشاره ده۔ مخکنو پیغمبرانو علیهم السلام او نبی کریم ﷺ سره په درے طریقو سره کلام او کړے شو۔ کوم څیز چه د دے وحی نه خلاف وی هغه به د مُفسد و او ګمراه کوونکو پیشوایانو ایجاد او تحریف وی۔

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ الخ: دا دلیلِ وحی دے۔ درے واړو طریقو سره مونږ تا ته وحی لیږلے ده او د مخکنو انبیاؤ علیهم السلام پشان مونږ تا سو هم د توحید دپاره لیږلی یئ۔

صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ الآية: دا دلیل عقلی طرفته اشاره ده ۞



سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة شوریٰ مکه کښې نازل شو او دیکښې دری پنځوس (۵۳) ایتونه او پنځه (۵) رکوعګانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع په نوم د الله چه ډیر زیات مهربانه نهایت رحم کوونکے دے.

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ

داشان وحی لیږی ته ستا طرفته او ستا نه مخکښې

مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

(تیرو شوؤ) طرفته ، الله غالب حکمتونو والا. هغهٔ دپاره دی ټول هغه چه په اسمانونو کښې دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۴﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

او هغه چه په زمکه کښې دی ، او هغه دے ډیر لوړ شان والا لوئے. نزدے دے چه اوچوی ګه

يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ

اسمانونه د پاسه نه او فرښتے پاکی بیانوی سره د خوبیانو

رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ۭ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ

د خپل رب او د ګناه بخښنه غواړی د زمکے والاؤ دپاره ، واورئ خاص

هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

هغه دے بخښونکے مهربانه ، او چا چه نیولی دی سره د هغهٔ نه سوا

اَوْلِيَاۗءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ڮ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

دوستان (بتان) الله ته هغه ټول یاد دی ، او نه یه ته پر هغوی نګرانه

بِوَكِيْلٍ ﴿۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

د هغوی ذمه داری. او داسے همدارنګے نازل کړو موږ په تا باندے قرآن په عربی ژبه کښې

لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ

چه ته وویروے لوئے کلے او د هغهٔ نه چاپیره خلق او خبردار کړے د جمع کیدلو د ورځے

لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ⑦

په هغې کښې دهوکه نشته، یو ګډله به په جنت کښې او بله ډله به په دوزخ کښې وي ئ

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِنْ يُدْخِلُ

او که چرے غوښتلے وے الله نو ټول خلق به ئے ګرځولي وے یوه ډله ، لیکن داخلوي

مَنْ يَشَاءُ فِي رَحْمَتِهِ ۚ وَالظَّالِمُونَ مَا لَهُمْ مِنْ وَلِيٍّ

هغه چا لره چه وغواړي په خپل رحمت کښې او ګناهګاران چه دي، د هغوي هیڅوک نشته دوست

وَلَا نَصِيرٍ ⑧ أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۖ فَاللَّهُ

او نه مددګار- آیا څه دوي نیولي دي د هغه نه سوا کارجوړونکي؟ پس الله،

هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

هم هغه دے کارجوړونکے، او هغه دے ژوندي کونکے مړو لره، او هغه هر څه

قَدِيرٌ ⑨

کوُنکے شي-

نکات: ۱ زجر سره د تخویف نه- ۲ کاف د بیان کمال د پاره دے-
۳ د زجر اعاده-

موضح قرآن ف ۱ اسمان اوچوي د رب د عظمت او جلال د زور نه یا د فرشتو د ذکر د ډیر والي خاص تاثیروي او د هغې په وجه اوچوي- نبي علیه السلام دي فرمایل په اسمانونو کښې د څلورو ګوتو په اندازه ځائے نشته چه هلته فرشته سر په سجده نه پروت وي- ف ۲ لوئے کلے ئے مکے ته او وئیلے شُو که چه د ټولو عربو جمع کیدل به هلته کیدل او په ټوله دُنیا کښې د الله تعالیٰ کور هلته دے او د کلي چاپیره خلقو نه مُراد اول د عربستان خلق دي او بیا د هغې نه پس ټوله دُنیا-

فتح الرحمٰن ف ۱ یعني د الله پاک د ویرے نه-

تفسیر ۲ كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ: دے صورت کښې چه کوم د توحید مضمون نازل شوے دے- هم دغه مضمون مونږ د دے نه مخکښې سورتونو کښې ستاسو طرفته نازل کړے دے او د همدغه مضمون د توحید مو مخکنو انبیاؤ علیهم السلام ته وحي کوُله: کلام مستأنف وارد لتحقیق ان مضمون السورة موافق لما في

تصانيف الكتب المنزلة علے سائر الرسل المتقدمين فى الدعوة الى التوحيد و الارشاد الى الحق۔ (روح ج ۲۵ ص ۱۰) - كَذٰلِكَ يعنى دَ هغې پشان - دا تعبير ځکه غوره کړے شو چه عبارت هغه نهٔ دے ليکن مضمون هم هغه دے - اى مثل ذٰلك الوحى (مدارک، جامع البيان) يُوْحِىْٓ کښې تير شوے حال مضارع سره تعبير کړے شو دے دپاره چه په دوام او استمرار بانې دلالت وکړی۔ وذكر المضارع للاستمرار وبيان العادة - (جامع البيان ص ۴۱۳)

سؔ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ؛ دَدے نه مخکښې قُوْلُوْا مقدر دے يعنى انبياء عليهم السلام ته په وحى کښې دا حُکم ورکړے شوچه کوايئ: زمکه او اسمانونو کښې چه څهٔ دی ټول دَ الله پاک دی او په ټولو کائناتو کښې صرف هغه متصرف او مختار دے۔ وَهُوَ الْعَلِىُّ الْعَظِيْمُ ۝ هغه ډير زيات اوچت او لوئے دے او دَلوئے شان خاوند دے۔ هيڅوك په هغه بانې جَبر زبردستی نشی کولے او هيڅوك په هغه بانې دَ خپلے خوښے کار نشی کولے۔ قال الشيخ رحمه الله تعالىٰ۔ يادا استيناف دے دَ الله دَ عظمت او دَ حکمت دَ تقدير او تبيين دپاره؛ استيناف مقرر لعزته تعالىٰ وحكمته عزوجل. (روح ج ۲۵ ص ۱۱)

کؔ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ الاٰية؛ ديکښې دَ الله تعالىٰ دَلوئے شان، هيبت او جلال بيان دے۔ نزدے دہ چه دَ الله تعالىٰ دَويرے او هيبت او خشيت نه اسمان دَپاس نه اوچوی او راپريوځی۔ اى يتشقق من عظمة الله وجلاله (قرطبى ص ۴ ج ۱۶) دَ هغهٔ لوئے شان دا حالت دے چه فرشتے هم دَ هرقسمه شرك نه دَ هغهٔ په پاکئ بيانولو کښې مشغولے دی او وائی چه دَ هر حمد او ثنا لائق الله تعالىٰ دے۔ ځکه چه هر نعمت دَ هغهٔ په قبضه او اختيار کښې دے او هغه دَ ټولو پروردګار دے۔ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ کښې بآءَ دَ تلبيس دپاره ده (روح) دَ الله تعالىٰ فرشتے يو طرفته خو دَ الله تعالىٰ په تسبيح او تحميد کښې مصروفے دی او بل طرفته دَ هغه خلقو دپاره استغفار هم کوی چاچه دَ شرك نه توبه کړه او دَ الله پاك دَ توحيد لاره (صراط مستقيم) ئے اختيار کړه۔ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ نه مؤمنان مُراد دی ځکه چه په سورة مؤمن (ع۱) کښې تير شول: فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ (الآيات)

۵ؔ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا (الآيات) دا زجر دے سره دَ تخويف نه۔ کوموخلقو چه دَ الله تعالىٰ نه سوا نور کارسازان جوړ کړيدی، الله تعالىٰ دَ هغوی دَ اعمالو او احوالو نګران دے او دَ هغوی ټول اعمال دَ هغهٔ دَ علم په احاطه کښې دی په دے وجه هغه په دوی ته دَدوی دَ اعمالو پوره پوره سزا ورکړی ليکن تاسو دَدوی ذمه دار نه يئ ځکه چه تاسو خو دَ اِنذار او تبليغ دپاره ليږلی شوی يئ او تاسو خپله فريضه ادا کړيده۔

۶ؔ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ الاٰية؛ کاف دپاره دَ بيان کمال دے يعنى مونږ همغه شان

واضحه کړه دا مضمون (توحید) مونږ په عربي ژبه کښې نازل کړی دے ددے دپاره چه مکه او دَ هغې نه ګیرچاپیره خلق خبردار کړې دَدهٔ دَ احکامو نه او دوی لره دَ قیامت دَ ورځې نه اُویروې چه په هغې کښې به ټول خلق راجمع کولی شی او دَ هغې په راتلو کښې هیڅ شك نشته - دغه ورځ به ټول انسانان په دوه ډلو کښې تقسیم وی - یوه ډله به دَ ایمان والو وی هغه به جنت ته ځی او دویمه ډله به دَ کافرانو او مشرکانو وی، دا به دَ جهنم خشاك وی - دا مشرکان کچرے داسے واضح قران هم نهٔ مني نو جهنم دپاره دِ تیار شی -

۷ف وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ (الآیة)، الله تعالیٰ قادر او متصرف دے - کچرے هغهٔ غوښتلے نو ټول بنیادم به ئے جبرًا په توحید باندې قائم کړے وے او دغه رنګ ټول انسانان به یو اُمت وے لیکن دَ زور ایمان مطلوب نهٔ دے - په دے شان دَ جزاء او سزا حکمت فوت کیږی او دَ امتحان او ابتلاء سلسله ختمیږی دَ کوم په خاطر چه الله تعالیٰ انسان پیدا کړے دے - اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا، (الملك ع۱) او په سورهٔ مائده (ع۷) کښې ارشاد دے، وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّیَبْلُوَكُمْ فِیْ مَآ اٰتٰىكُمْ (الآیة) -

وَلٰكِنْ یُّدْخِلُ الخ، دا هم دغه ابتلاء او امتحان طرفته اشاره ده یعنی انسان ته اختیار ورکړے شو او دواړه لارے ورباندې واضحه کړے شوے، اُوس هغه دواړو لارو کښې چه هره یوه لار اختیار کړی دَ هغې مطابق به ئے انجام وی - کچرے صراط مستقیم اختیار کړی نو الله تعالیٰ به ئے په خپل رحمت کښې داخل کړی ځکه چه هغه داسے خلقو لره په خپل رحمت کښې داخلول غواړی - او څوك چه کفر او شرك اختیار کړی نو داسے ظالمان او بے انصافه به دَ هغهٔ دَ غضب حقدار وی او دَ دوی به هیڅوك یار او مددګار نهٔ وی چه دوی لره دَ الله تعالیٰ دَ غضب نه بچ کړی -

۸ف اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِیَآءَ، دا دَ زجر اعاده ده - آیا دے خلقو دَ الله تعالیٰ نه سوا نور خلق کارساز او مددګار جوړ کړیدی دپاره دَدے چه په مشکل وخت کښې ئے پکار راشی؟ حال دا دے چه الله تعالیٰ دَ ټولو یار او مددګار او کارساز دے - دَ هغهٔ شان دا دے چه مړی هم ژوندی کولے شی او په هر څیز او هر کار باندې قدرت هم لری - دا صفات دَ الله تعالیٰ نه سوا په بل چا کښې نشی موندلے - په دے وجه دَ هغهٔ نه سوا بل څوك کارساز او مددګار مهٔ ګڼئ،

یعنی ان من یکون بهذه الصفة فهو الحقیق بان یتخذ ولیًا ومن لا یکون بهذه الصفة فلیس بولی -

(خازن ج ۶ ص ۱۱۷)

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ۚ

او په کوم څیز کښې چه جګړه کوئ تاسو د یو څیز نه، د هغې فیصله الله ته حواله ده،

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾

هغه الله دے رب ځما، په هغه ده بھروسه ځما او د هغه طرف ته ځما رجوع ده.

فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ

جوړونکے دے د آسمانونو دے او د زمکے، ورکړي دي تاسو له ستا سو د نفسونو نه

أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۖ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ

جوړے (ښځے) او د چارپایانو نه جوړے، خوروي (زیاتوي) تاسو له پیدا طریقه

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ

نشته د هغه پشان هیڅوک او هغه دے اوریدونکے لیدونکے. هغه سره دي

مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ

کنجیانے د آسمانونو او د زمکے، فراخ کوي رزق چا دپاره چه وغواړي

وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾ شَرَعَ لَكُمْ مِنَ

او په اندازه کوي، هغه د هر څه نه خبر دے. لاره ئے جوړه کړې ده تاسو له په

الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

دین کښې کله هغه د کوم حکم چه ئے کړے وو نوح ته او د کوم چه رالیږلے دے مونږ ستا طرف ته

وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ۖ أَنْ

او د کوم چه حکم وکړو مونږ ابراهیم ته او موسیٰ ته او عیسیٰ ته، دا چه

أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى

قائم کړئ دین او اختلاف مه کوئ په دین کښې، ډیر دروند دے په

الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ

شرک کوونکو باندې، هغه څیز د کوم طرف ته چه ته رابلې، الله غوره کوي (راکاږي) خپل ځان طرف ته

مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوا

څوک چه وغواړي او لاره ښائي خپل (دین) طرفته هغه چاته چه رجوع وکړي هغه ته. او چا چه اختلاف وکړو

إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ وَلَوْلَا

نو د علم راتللو نه روستو خپل مینځ کښې د ضد په وجه او که چرې نه وے

كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ

یوه خبره وتلے د که ستا د رب نه د یوے مقررے وعدے پورے نو فیصله به کړے شوے

بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا الْكِتَابَ مِن بَعْدِهِمْ

وے په دوی کښې، او چا ته چه ملاؤ شوے دے کتاب د هغوی نه پس،

لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١٤﴾ فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ ۖ وَاسْتَقِمْ

خامخا د هغے نه په شک کښې دی وړ. پس ته د عمر (توحید) طرفته بلل کوه ګله او قائم وسیږه

كَمَا أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ۖ وَقُلْ آمَنتُ بِمَا

څنګه چه تا ته حکم شوے دے او مه ځه د هغوی په خواهشاتو پسے او وو ایه ما یقین وکړو په هغه کتاب

أَنزَلَ اللَّهُ مِن كِتَابٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ

باندے چه نازل کړے دے الله تعالیٰ، او ما ته حکم دے چه انصاف وکړم ستاسو مینځ کښې،

اللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ۖ

الله رب دے زمونږ او ستاسو، مونږ ته به ملاویږی زمونږ کار او تاسو ته ستاسو کار،

لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ اللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ وَإِلَيْهِ

هیڅ جګړه نشته زمونږ او ستاسو په مینځ کښې، الله به یو ځائے کوی مونږ ټول ټل او د هغه طرفته

الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا

واپس ورتلل دی ټل. او کوم خلق چه جګړه کوی ټل د الله په خبره کښې کله چه خلقو

اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ

هغه او منله ټل د هغوی جګړه باطله ده د دوی د رب په نزد او په دوی باندې

غَضَبٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۶﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

غصه ده او دوی دپاره سخت عذاب دے ف۱ ۔ الله هغه دے چا چه نازل کړیدے

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

کتاب ریښتونی دین سره او تله هم ، تا ته څه خبر دے ؟ ښائی چه هغه ګړۍ وخت

قَرِيْبٌ ﴿۱۷﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ

نزدے وی ف۲ تلوار کوی د دغه ساعت (قیامت) هغه خلق چه یقین نلری په هغے باندې ،

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا

او خلق چه یقین لری هغوی سره ویره ده د هغے نه او پوهیږی چه هغه

الْحَقُّ ؕ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ لَفِيْ

حق دے ، واورئ! کوم خلق چه جګړے کوی د دغه قیامت په راتلو کښې هغوی په

ضَلٰلٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۱۸﴾ اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ

ګمراهۍ کښې ډیر لرے پریوتلی دی ۔ الله مهربانه دے په خپلو بندګانو باندې ف۳ رزق ورکوی چا ته چه

يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾

وغواړی ف۴ او هغه دے زورآور غالب ۔

نکات: ۱ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ سره متعلق ۔ ۲ ایضاً ۳ اعاده د دعوے چه د ټولو پیغمبرانو دین یو دے ۔ ۴ جواب د شبهے او دویمه دعویٰ ۔ ۵ رومبے امر متفرع ۔ ۶ دویم امر متفرع ۷ دریم امر متفرع ۸ څلورم امر متفرع ۔ ۹ د یو سوال جواب ۔ ۱۰ د عذر نه قبلیدو رومبے دلیل ۔ ۱۱ د عذر نه قبلیدو دویم دلیل ۔ ۱۲ تخویف اُخروی ۔ ۱۳ اولے دعوے سره متعلق ۔

موضح قرآن ف۱ اصل دین همیشه یو دے ، د دے د قائمولو طریقے الله پاک هر وخت جُدا جُدا مقرر کړیدی ۔ ف۲ یعنی مخکښو خلقو خو د ضد نه د خپلے خبرے ثابتولو دپاره د کتاب معنیٰ بدلوله او روستنو راتلونکی خلق چه مختلفے معنے کوری نو حیرانیږی چه معنیٰ هغه ده یا دا ده نو دا اختلاق بد دے په کومو معنو کښې چه خلاف راوُزی او مختلف قسمه معنے کول چه خلاف پکښې نه واقع کیږی د هغے منع نشته ۔ ف۳ مخکښو کتابیانو سره دا قسم خبره

کوُل پکاردی۔ **ف۴** دائے هغه کتابیانو ته ووئیل چه پو هه خلق گمراه کړی په شبهاتو اُچوُلوسره۔ **ف۵** تله نے حق دین ته اُووئیله چه په هغے کښ تولے خبرے په ښهٔ طریقه تللے شویدی، نهٔ پکښ زیاتے شته نهٔ کمے۔ **ف۶** چاته چه وغواړی او څومره چه وغواړی۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی دَ الله پاک طرفته حاصل دادے چه انبیاءعلیهم السلام دَ دین په اُصولوکښ متفق دی، دَ شرائعو اختلاف په فروع کښ دے۔ **ف۲** یعنی دَ قیامت ورځ۔ **ف۳** یعنی یوه د له په اسلام کښ داخله شوے دهٔ۔

تفسیر

۹ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ الخ، دا دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ قول حکایت دے رسُول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته وفرمایل چه په کومو شرائعو کښ ستاسو او دَ مشرکانو او کتابیانو په مینځ کښ اختلاف راشی نو دَ هغے فیصله سپارلے شویده الله پاک ته او په هغے کښ دَ هغهٔ حکم قطعی دے، هغه الله تعالیٰ څما مالك اوکارساز دے، په هغهٔ څما بهروسه دهٔ، څهٔ په هره معامله کښ هغه طرفته رجوع کوُم۔ دا الله تعالیٰ فیصله داده چه ریښتونے دین اسلام دے چه دَ توحید تعلیم ورکوی، نهٔ چه دَ مشرکانو دین۔ دا رنگے شریعت جوړول دَ الله تعالیٰ کار دے احبار او رُهبان (دَ یهودو عالمانو او پیرانو) ته په شریعت کښ دَ کمی زیاتی او تحریف اوتبدیل هیڅ اختیار نشته۔ ای ماخالفکم فیه الکفار من اهل الکتب والمشركين من امر الدين، فقولوا لهم حكمه الی الله لا الیکم وقد حکم ان الدین هوالاسلام لاغیرهٔ، وامور الشرائع انما تتلقی من بیان الله۔ (قرطبی ج ۱۶ ص ۷)

۱۰ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، دا لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ سره متعلق دے گویا چه دَ مضمون په اعتبار سره دا ټول دَ یُوْحِیٓ مفعول په دهٔ یعنی دَ ټولو انبیاؤ علیهم السلام طرفته وحی ولیږلے شوه چه کارساز اوعالم الغیب کیدلوکښ دَ الله پاك سره هیڅوك شریك نشته۔ الله تعالیٰ فطرةٌ زمکه او اسمانونوکښ هغه تعلق ایښے دے کوم چه په ښځه اونر کښ وی۔ څنګه چه هغهٔ زمکه او اسمانونه پیدا کړل او دَ دے دواړو دَ خواصو یوځائے کیدلو سره دا ټول نعمتونه او برکتونه ظاهرشول دغه شان هغهٔ دَ انسانانو دَ جنس نه دَ هغوی ښځے پیدا کړے دی، لکه په سورهٔ نساء (ع۱) کښ دی: اَلَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا ای من جنسها۔ او په سورهٔ نحل (ع۱۰) کښ ئے وفرمایل: وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا (الآیة) ای من جنس انفسکم (جعل لکم من انفسکم) خلق لکم من جنسکم (مدارك ص ۷۷ ج ۴) او هغهٔ چارپایانولره هم جوړے جوړے (نر او ښځه) پیدا کړل۔ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ضمیر غائب الجعل طرفته راجع دے

کوم چه دَ جَعَلَ نه مفهوم دے۔ فکانه قال یخلقکم ویکثرکم فی الجعل (قرطبی ج ۸ ص ۱۶) یعنی دَ جوړولو په صورت کښې هغهٔ تاسو لره نسل در نسل خوروی۔ لَیۡسَ کَمِثۡلِهٖ شَیۡءٌ : هغه پخپل ذات او صفاتو کښې او په تخلیق کائنات او تدبیر عالم کښې بیوازے او بے مثله دے هیڅوك دَ هغهٔ سره مشابه نشته او نهٔ دَ هغهٔ پشان څوك چه هغه هره خبره اَوریدونکے او هر څیز لیدونکے دے۔ وَالَّذِی یعتقد فی هذا الباب ان الله جل اسمه فی عظمته وکبریائه وملکوته وحسنی اسمائه وعلی صفاته لا شبه شیئا من مخلوقاته ولا یشبه به۔ (قرطبی ج ۱۶ ص ۸)۔

۱۱ لَهٗ مَقَالِیۡدُ السَّمٰوٰتِ الاٰیة : دا هم لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ الخ سره متعلق دے څنګه چه دَ ټول کائنات خالق او مالك صرف هغه دے، دارنګے دَ زمکے او آسمان دَ خزانو دَ کُنجیانو مالك هم خاص هغه دے۔ ټولے دَ رحمت او رزق خزانے صرف دَ هغهٔ په اختیار کښې دی۔ صحت، دولت، اولاد، عزت وغیره او ددے اضداد ټول دَ هغهٔ په قبضه او اختیار کښې دی، هغه چه چاته وغواړی فراخئ سره رزق ورکوی او چاته چه وغواړی دَ هغه رزق تنګ کړی۔ هغه هر څیز ښهٔ پیژنی۔ دے دپاره څهٔ چه هم کوی دَ خپل علم او حکمت دَ تقاضے مطابق یے کوی۔ دَ سورت دَ ابتداء نه تر دے ځائے پورے واضحه شوه چه په ټول عالم کښې خاص الله متصرف او مختار دے او هغه غیب دان دے، هیڅ څیز دَ هغهٔ دَ علم او قدرت نه بهر نشته او دَ هغهٔ په صفاتو کښې څوك پیریه یا بشر، فرشته یا پیغمبر شریك نهٔ دے۔ دَ دے نه واضحه شوه چه هر کله هغه کارساز او عالم الغیب دے نو په حاجتونو کښې مافوق الاسباب صرف هغه رابلل پکار دی۔

۱۲ شَرَعَ لَکُمۡ مِّنَ الدِّیۡنِ الاٰیة : ستاسو دپاره مونږ هغه دین مقرر کړیے چه دَ هغې دَ قائمولو حکم مونږ نوح ؑ ته ورکړے وُو او دَ کوم چه تاته مونږ دَ وحی په ذریعه حکم درکړے دے او دَ کوم دَ قائمولو حکم چه مونږ ابراهیم، موسیٰ او عیسیٰ علیهم السلام ته ورکړے وُو۔ مونږ دے ټولو اُولوا العزم پیغمبرانو ته حکم ورکړے وُو چه دا دینِ توحید قائم کړئ او دیکښې اختلاف مکوئ۔ دَ دین قائمولو مطلب دا دے چه دَ الله تعالیٰ په توحید او ټول دَ دین ضروریاتو باندے ایمان راوړئ او دَ هغهٔ دَ حُکم اطاعت وکړئ۔ ای دین الاسلام الذی هو توحید الله تعالیٰ وطاعته والایمان بکتبه ورسله وبیوم الجزاء وسائر ما یکون العبد به مؤمنا۔ (روح ج ۲۵ ص ۲۱) فِیۡهِ ای فی التوحید یعنی توحید کوم چه دَ ټولو انبیاء علیهم السلام دین وُو۔ لکه بل ځائے ارشاد دے: وَلَا تَکُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُشۡرِکِیۡنَ ۙ مِنَ الَّذِیۡنَ فَرَّقُوۡا دِیۡنَهُمۡ وَکَانُوۡا شِیَعًا (روم ع ۴)۔ مَا تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَیۡهِ یعنی توحید او منع او شرك پریښودل : ای من التوحید و رفض الاوثان۔ (خازن ج ۶ ص ۱۱۹)۔ مشرکانو باندے دا خبره ډیره سخته لګی

کله چه هغوی ته دَ توحید دعوت ورکوله شي چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک کارساز
اوغیبدان نشته نو په حاجتونوکښ صرف هغهٔ ته اوازکوئ - الله تعالیٰ چه چا ته
وغواړي دَ خپل دین اوتوحید دپاره ئې منتخب کړي او دَ حق قبلولو توفیق ورته
ورکړي او څوک چه خوښ کړي نو دَ هدایت قبلولو توفیق ورته ورکړي اوڅوک چه اخلاص
او رښتنی نیت سره هغهٔ طرفته رجوع کوي او انصاف سره دَ حق تلاش کوي، دَ ضد
اوعناد نه لرې وسیږي. حاصل دا دے چه دَ یو الله عبادت کوئ، هغهٔ سره
شرک مکوئ - دا دَ ټولو پیغمبرانو دین دے. وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ
اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ (انبیاء ع ۲).

۱۳ وَمَا تَفَرَّقُوْٓا: دا دَ یوے شبهے جواب دے چه هرکله دَ انبیاء علیهم السلام
دین یو دے او دَ توحید مسئله دَ ټولو اجماعي دین دے نو چه کوم کتابونه او
صحیفے په هغوی نازلے شوے په هغے کښ دَ توحید دَ مسئلے خلاف ولے موندلے شي؟
دَ دے جواب ورکړے شو چه بیشکه ټول انبیاء علیهم السلام په مسئله توحید
باندے متفق وو اوصرف دا مسئله هغوی ته وحی کړے شوے وه لیکن روستو دُنیا پرستو
باغي اوګمراه کوونکو عالمانو او پیشوایانو دَ حق پیژندلو باوجود قصدًا عمدًا
په مخکنو کتابونو کښ تحریفات اوکړل او په هغے کښ ئې دَ توحید خلاف عبارتونه
دَ خپل ځان نه درج کړل او دا ټول هرڅهٔ هغوی محض دَ ضد او عناد په وجه کړیدي.
دَ دے نه درے خبرے معلومے شوے:

اول دا چه په توحید کښ اختلاف چا واچولو؟ مشرک پیشوایانو او ګمراه کوونکو
او دُنیا پرستو عالمانو. دوئم اختلاف ئې کله واچولو؟ کله چه دوي ته علم
راغے او حق ورته معلوم شو ګویا چه دا اختلاف دوي قصدًا عمدًا اوکړو. دَ څهٔ
غلط فهمئ په بناء باندے ئې ونکړو. دریم اختلاف ئې ولے وکړو؟ محض دَ
ضد او عناد او سرکشئ دَ وجے نه. وَلَوْ لَا كَلِمَةٌ: دا دَ هغه شبهے جواب دے چه
بیا په دے معاندینو باندے فورًا عذاب ولے نهٔ راځي؟ وے فرمائیل عذاب دپاره
یو وخت مقرر دے (دَ قیامت ورځ یا دَ ژوند آخري وخت) مخکښ دے وخت معین نه دے
نو دغه وخت به دَ هغوی قصه ختمه کړے شوے وے. اَجَلٍ مُّسَمًّی هو یوم
القیامة و اخر اعمارهم المقدرة (بیضاوی) وَاِنَّ الَّذِیْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ الخ
دَ دغه تحریف کوونکو او ګمراه کوونکو پیشوایانو هغه کتابونه چه کله روستو راتلونکو
خلقو ته ملاؤ شول نو هغوي هم هغه محرّف او بدل شوي کتابونه ولوستل او دَ توحید
په مسئله کښ دَ شکونو او شبهاتو ښکار شول - دراتلونکو امور ذکر شوي دي چه په
ماقبل باندے متفرع دي.

۱۴ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ: دا اول متفرع امر دے. دا په اصل کښ فادع لذلك الملك فادع
دَ اول جملے نه ادع حذف کړے شو او دَ دویمے نه لِذٰلِكَ دے دپاره چه تکرار مع اختصار

اوشی - فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ترکیب هم دا رنګے دے - نقله الشیخ رحمه الله عن الرضی.
هرکله چه دَټولو أنبیاؤ علیهم السلام دعوت یو وُ ولیکن باغیانو په هغے کښ ضد او عناد
سره اختلاف کړیدے نو تاسو کړے توحید دَدین دعوت ورکوئ دکوم چه ټولو
پیغمبرانو ته تاکید شویدے، اِسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ؛ دا دویم امر متفرع دے او څنګه
چه تاسو ته حکم درکړے شوے دے تاسو هم دغه شان په دعوت باندے قائم وُسیږئ
وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ؛ دا دریم امر متفرع دے او کړے ګمراه کوونکو پیشوایانو او دَ
شرك دَ رهنمایانو تابعداری مکوئ- ای الی ما وصی الله تعالیٰ به الانبیاء من
التوحید - (معالم وخازن ج ۶ ص ۱۱۹) -
ف۵ وَقُلْ اٰمَنْتُ؛ دا څلورم امر متفرع دے - او تاسو ووایئ چه زهٔ خو صرف
په هغه کتاب ایمان راوړم کوم چه الله تعالیٰ نازل کړیدے - دَدے باغیانو او ګمراهی
خورؤونکو تحریفات او تحریرات منلو ته تیار نهٔ یم - وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ؛ دا
پنځم امر متفرع کښ داخل دے - او ما ته حکم راکړے شوے دے چه زهٔ دَ توحید
په تبلیغ او دَ احکامو په فیصله کولو کښ ستاسو په مینځ کښ انصاف (برابرے) کولو
سره دا مسئله ټولو ته واوروم او دَ چا طرفداری اونکړم ؛ فی تبلیغ الشرائع والحکم
بین المتخاصمین - (مظهری ج ۸ ص ۳۱۴) -
الله تعالیٰ زمونږ هم مالك او کارساز دے او ستاسو هم - مونږ دَ خپلو عملونو ذمه وار
یُو او تاسو دَ خپلو اعمالو ذمه واریئ - زمونږ دَ نیکو کارونو تاسو ته هیڅ فائده
نشته او ستاسو دَ شرکی اعمالو مونږ ته نقصان نشته - ددے دویم مطلب دا دے
چه زمونږ دَپاره زمونږ اعمال دی یعنی دَ شرك نه پاك دی او ستاسو اعمال ستاسو
دپاره دی ټول مشرکانه دی- پاتے دا خبره چه مونږ تاسو ته دَ اسلام او توحید
دعوت وَلے درکوو نو خالص ستاسو دَ خیرخواهئ دپاره. لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ؛ دے
دَپاره دَ جګړے څهٔ وجه نشته ؛ لان اعمالکم لا یضرنا و اعمالنا لا یضرکم انما
ندعوکم الی الاسلام نصحا لکم، فلا وجه للخصومة والعداوة - (مظهری). یا مطلب
دا دے چه دین حق دَ دلیل او حجت په اعتبار سره غالب شویدے او په تاسو باندے
دَ الله تعالیٰ حجت قائم شویدے - نو اوس پتاسو باندے دَ احتجاج هیڅ ضرورت
باقی پاتے نهٔ دے او ستاسو دَ انکار، عناد او تکبر نه سوا بله څهٔ توجیه نشته ؛ ای
لا احتجاج ولا خصومة لان الحق قد ظهر، فلم یبق للاحتجاج حاجة ولا للمخالفة
محمل سوی المکابرة والعناد - (روح ج ۲۵ ص ۲۵) - دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ
ټول راجمع کړی او دَ محشر په میدان کښ به دَ محق او مُبطل مینځ کښ آخری او قطعی
فیصله وکړی - فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ -
ف۶ وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ، دا دَ یو سوال جواب دے چه کله دَ مخکنو خلقو
تحریرات روستنو خلقو او لوستل او ګمراه شول نو هغوی به دے معامله کښ

معذور نهٔ وی؟ وے فرمائیل هغوی معذور نهٔ دی، دَ هغوی دا عذاب دَ الله تعالیٰ په نزد ساقط او مردود دے۔ فِی اللّٰهِ ای فی توحید الله۔ دَ دوی دَ دے عُذر دَ نهٔ قبلیدو دوه دلیلونه بیان کړے شول۔ اول دلیل: مِنۢ بَعۡدِ مَا اسۡتُجِیۡبَ لَهٗ۔ دا مسئله خو دَ اَهۡلِ کتاب و عالمانو هم منلے ده۔ مُراد هغه عالمان دی کوم چه اسلام راوړے وو۔ نو دَ ثقات عالمانو دَ هغې منل دَ دے دَ حق کیدلو دلیل دے نو څه خلقو دَ دغه باغیانو او ګمراهانو خبر ولے ومنلو، دَ دے قابلِ اعتماد عالمانو په نقش قدم ولے لاړل؟ هرکله چه دَ دوی حق پرستو عالمانو اُومنلو نو د دوی انکار محض مکابره او عناد دے۔ من بعد ما استجاب له اهل الکتاب بان اقروا بنبوته و استفتحوا به (بیضاوی)۔ دا بے خلقو باندې کوم چه دَ دا سے واضح حجتونو باوجود هم نهٔ مني، دَ الله پاک غضب دے او د دوی دپاره ډیر سخت عذاب تیار دے۔ تائید: (۱) اَوَلَمۡ یکن لهم اٰیة ان یعلمه علمٰٓؤا بنی اسرآءیل (شعراء، ع ۱۱)۔ (۲) الذین اٰتینٰهم الکتٰب یتلونه حق تلاوته اولٰٓئک یؤمنون به (بقره: ع ۳۳)

دویم دلیل، اَللّٰهُ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ الخ: الله تعالیٰ یو دا سے عظیم الشان کتاب نازل کړے دے چه په هغې کښې حق (دَ توحید مسئله او نور دَ دین ضروریات) ښهٔ واضحه او روښانه کړے شوې دی او یو دا سے شریعت ئے نازل کړے دے چه دَ حق او باطل، عدل او انصاف او ټولو حقوقو دپاره تله ده۔ نو دے خلقو دغه کتاب ته ولے توجه ونکړه او په هغې کښې غور او فکر کولو سره ئے پرے دَ پوهیدلو او دَ عمل کولو کوشش ولے ونکړو؟ په دے وجه دَ دوی عُذر قابل دَ قبلیدو نهٔ دے۔ لکه دَ بنی اسرائیلو دا شبه او عذر قبول نهٔ شو چه دَ سامری سخی به اواز کولو۔ ارشاد ئے وفرمایهٔ: اَوَلَمۡ یَرَوۡا اَنَّهٗ لَا یُکَلِّمُهُمۡ وَلَا یَهۡدِیۡهِمۡ سَبِیۡلًا ۘ اِتَّخَذُوۡهُ وَکَانُوۡا ظٰلِمِیۡنَ ﴿﴾ (اعراف ع ۱۸)۔ دغه شان څه چرے تن هم یو عبارت یا روایت دَ توحید دَ مسئلے نه خلاف ملاؤشي نو حجت به نهٔ وی، او دَ سامری دَ سخی دَ اواز نه زیات حیثیت به نهٔ لری۔

۲۸ وَمَا یُدۡرِیۡکَ، دا تخویفِ اُخروی دے۔ قیامت په سَر ولاړ دے۔ دپاره تاسو دَ الله تعالیٰ په کتاب باندې عمل وکړئ او خپل دعوت پیش کولو کښې مصروف اُوسیږئ۔ نهٔ منونکو دپاره دَ آخرت عذاب تیار دے۔ یَسۡتَعۡجِلُ بِهَا الَّذِیۡنَ الخ: کوم خلق چه دَ قیامت په راتللو باندې ایمان نهٔ لری هغوی دَ مسخرو او ټوقو په طور وائی چه قیامت به کله راځي؟ هغه زر ولے نهٔ راځي؟ لیکن ایمان والا چه دَ قیامت نوم واوری نو اُوږپیږی ځکه چه دوی دَ قیامت په راتللو او دَ هغهٔ په سختو او هیبت باندې ایمان لری۔ کوم خلق چه دَ قیامت په باره کښې جګړه کوی او په هغې باندې ایمان نهٔ راوړی دوی دَ هدایت او دَ سمے لارے نه ډیر زیات لرے دی۔ تر دے ځائے پورے دوه دعوے بیان شوے۔ اول، الله تع

ته لو پیغمبرانو ته هم دا وحی کوله چه کارساز او غیبدان صرف الله تعالیٰ دے، په حاجتونو کښې صرف هغه رابللی۔

دویمه: دَ مسئلهٔ توحید خلاف چه کوم څه لیکلے شویدی هغه دُنیا پرست او گمراه پیشوایانو محض دَ ضد او عناد په وجه لیکلی دی چه هغه دَ نورو خلقو دپاره حجت نهٔ دے۔ اُوس دَدے نه پس تر دَ سورت آخره پورے چه کوم آیتونه دی هغه په طور دَ تنویر (رنړا اچولو) دَ دغه دواړو دعوو سره متعلق دی۔

۱۸ اَللّٰهُ لَطِيفٌ (الآية): دا دَ اُولے دعوے سره متعلق دے او دَ هغے تائید دے۔ القوي القادر علے کل شيء، العزيز اي الغالب ولا يدافع۔ قاله الشيخ رحمة الله تعالى۔ الله تعالیٰ بخپلو بندګانو باندې ډیر مهربانه دے، دَ حکمت موافق چا ته کم رزق ورکوی او چا ته زیات، هغه په هر څهٔ قادر دے او په ټولو غالب دے۔ لهٰذا ټول هر څهٔ کوُنکے او کارساز هغه دے۔ دَدے وجے نه په حاجتونو کښې صرف هغهٔ ته آواز کوئ ❖

مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ

هر هغه څوک چه غواړی فصل دَ آخرت مونږ به زیات کړو هغه له دَ هغهٔ فصل،

وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۙ وَمَا

او هغه څوک چه غواړی فصل دَ دُنیا ورکړو مونږ به هغه ته دَ هغے نه، او هغهٔ له

لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيبٍ ﴿۲۰﴾ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا

نشته په آخرت کښې څهٔ حصه ولې۔ آیا دوی دپاره شته نور شریکان دی چه

شَرَعُوا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَأْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ۭ وَ

لاره ئے جوړه کړیده دوی دپاره په دین کښې دَ کوم چه الله حکم نهٔ دے ورکړے او

لَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ

که چرے نهٔ وے مقرر شوے یوه خبره دَ فیصلے نو فیصله به شوے وه دَ دوی مینځ کښې، او بیشکه څوک چه گناهگار دی

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا

هغوی دپاره عذاب دردناک دے۔ ته به وینے گناهگاران ویریدونکی دَ خپلو

كَسَبُوا وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ ۗ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

عملونه، او هغه (جزا) برابر پريوتونکې دې په دوى باندې، او کوم مؤمنان چه يقين اوکړو او نيک کارونه

الصّٰلِحٰتِ فِي رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُونَ

ئې وکړل، په باغونو کښې به وى د جنت، دوى لره به وى هغه څه چه دوى غواړى

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾ ذٰلِكَ الَّذِي

د خپل رب په نزد، دغه (مذکوره) ده ډير لويه کاميابي. دا دے هغه (فضل)

يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۗ

چه زيرے ورکوى الله خپلو ايماندارو بندګانو ته چه کوى نيک کارونه،

قُلْ لَّآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ۗ

ته ووايه څه نه غواړم زه ستاسو نه په دې باندې څه بدله ليکن دوستي غواړم رشته دارئ کښې ف۱

وَمَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ۗ إِنَّ

او څوک چه وکړى نيکى ف ۲۳ موږ به هغه له زياته کړو د هغه نيکى بيشکه

اللّٰهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

الله معاف کونکې حق منونکې دے ف۳. آيا دوى وائى چه هغه تړلے جوړ کړل په الله

كَذِبًا ۚ فَإِنْ يَّشَإِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ

دروغ، پس که الله تعالى وغواړى مهر به ولګوى ستا په زړه باندې او ختموى

اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ

الله دروغو لره ف ۲۵ او ثابتوى رښتيا لره خپلو خبرو سره، هغه ښه معلوم دى

بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٤﴾ وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ

هغه څه چه په زړونو کښې دى ف۴ او صرف هغه (الله) دے چه قبلوى توبه ف ۲۶

عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُوا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ مَا

د خپلو بندګانو او معاف کوى بدئ او پوهه دے په هغه څه چه

تَفْعَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

تاسو ئے کوئ وئ۔ او دُعا اوري د مؤمنانو څوک چه کوي نیک کارونه

وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ

او زیات ورکوي دوي ته د خپل فضل نه، او څوک چه کافران دي، هغوي لره سخت

شَدِيْدٌ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا

عذاب دے۔ او که چرے فراخ کړی الله ﷻ روزي د خپلو بندګانو، نو نافرماني به وکړي

فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ

په ملک کښ لیکن نازلوي ئے په اندازه څومره چه غواړي، بیشکه هغه

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ

د خپلو بندګانو نه خبر دے، لیدونکے دے۔ او الله هغه ذات دے چه نازلوي باران ئے

مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ الْوَلِيُّ

پس د دے نه چه نا اُمیده شي (خلق) او خوروي خپل رحمت (باران) او هغه دے کارجوړونکے

الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د ستائیلے شوے۔ او د بوه نښه (د قدرت) د هغه د پیدا کول د اسمانونو او د زمکے،

وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ

او کوم څه چه خواره کړي ئے په دواړو کښ ساه لرونکي، او هغه چه کله وغواړي

اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾

د اټول راجمع کولو لے قادر دے۔

نکات: ۱۔ ترغیب د آخرت۔ ۲۔ دویمے دعوے سره متعلق دے۔ ۳۔ تخویف اُخروي۔ ۴۔ بشارت اُخروي۔ ۵۔ د رسالت تصدیق او د اعمال صالحه ترغیب۔ ۶۔ شکوی۔ ۷۔ جواب شکوی۔ ۸۔ اولے دعوے سره متعلق دے۔ ۹۔ جواب د سوال مقدر۔ ۱۰۔ متعلق دے اولے دعوے سره، توحید بانده د دے په وجه عقلي دلیل دے۔

موضح قرآن **ف ۱** دُنیا کښې چه دُنیا دپاره خوګمره محنت وکړی نو دَ قسمت موافق به ورته ملاویږی بیا دَ دغه محنت فائده په آخرت کښې نشته۔ **ف ۲** یعنی دَ فیصلې وعده دَه پخپل وخت بانی۔ **ف ۳** یعنی دَ قرآن په رسولو مزدوری نه غواړم لیکن دَ قرابت دوستی یعنی ستاسو نسبې رورېم ما سره بد مکوئ او تکلیف مه راکوئ۔ **ف ۴** الله تعالیٰ پخپل ځان بانی دَ دروغ ویلو اجازت ولې ورکړی او په زړهٔ به مُهر اولګوی چه دَ دروغو مضمون په هغې کښې نه راشی اوکله وغواړی نوکفر به ختم کړی بغیر دَ پیغام لیږلو نه لیکن هغه خپلو خبرو سره دین ثابتوی، دے دپاره په نبیؑ بانی خپل کلام نازلوی۔ **ف ۵** یعنی نبیؑ پیغام رسوی او دَ بندګانو تهوله معامله خپل رب سره دَه۔

فتح الرحمن **ف ۱** یعنی ما سره صله رحمی وکړئ او تکلیف را ته مه رارسوئ۔

تفسیر **۱۹** مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْاٰيَة: دیکښې دَ آخرت ترغیب او دَ دُنیا نه نفرت او بے رغبتی دَه۔ څوک چه دَ آخرت فصل غواړی او دَ هغې دپاره نیک کارکوی نو مونږ به دَ هغهٔ په ثواب کښې زیاتوالے اوکړو او دَ یوے نیکئ بدله به دَ لسو چندو نه واخله تر اووه سوه چنده پورے او دَ دینه هم زیات به ورکړو۔ او څوک چه دُنیا غواړی او اخرت سره ئے څهٔ واسطه نشته نو دوی ته به په دُنیا کښې لږ شان حصه ورکړو خو په آخرت کښې به ئے هیڅ حصه نهٔ وی، هلته به ئے په حصه کښې دَ جهنم دَ اُور نه سِوا نور هیڅ هم نهٔ وی۔

تائید: مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ (بنی اسرآئیل ع ۲)

۲۰ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا: دا دویمے دعوے سره متعلق دے یعنی دا الله تعالیٰ شریعت خو دا دَے چه صرف دَ هغهٔ عبادت کوی او صرف هغه رابللې شی نو آیا دَ دوی ګمراه پیشوایانو دَ الله پاک دَ شریعت نه خلاف بل یو داسے شریعت دَ دوی دپاره جوړکړے دے او دوی ته ئے دَ غیر الله دَ رابللو اجازت ورکړے دے دکوم چه الله پاک اجازت نهٔ دے ورکړے۔

حاصل دا دے چه شریعت حقه صرف هغه دے کوم چه الله تعالیٰ پخپلو رسولانو ته رالیږلے دے، دَ هغې نه خلاف هیچا ته دخپل ځان نه دَ اختراع او ایجاد کولو اجازت نشته۔ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ ـ تا ـ وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ: دا تخویف اُخروی دے۔ كَلِمَةُ الْفَصْلِ یعنی دَ عذاب دپاره نیټه مقرره دَه۔ که چرے دَ دوی دَ عذاب دَ پاره نیټه مقرره نهٔ وے نو دوی په څوا هلاک کړے شوی وُو۔ داسے ظالمانو دپاره چه دَ الله پاک دَ شریعت په مقابله کښې احکام جوړوی او هغه خلقو له چه په دے عمل کوی ډیر زیات دردناک عذاب تیار دے۔ دَ قیامت په ورځ به ته

دغه مشرکان اُوویني چه دوی به دخپلو بدو اعمالو د سزا نه ویریږی او رپیږی لیکن ددے به ورته هیڅ فَائِدَه نه وی او دخپلو اعمالو سزا به ورته ضرور ملاویږی.

۲۱ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ـ تا ـ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ: دا ایمان والو دپاره بشارت اُخروی دے. دقیامت په ورځ به دوی دجنت په باغونو کښې خوشاله او تر و تازه وی، په جنت کښې چه دوی څه غواړی د خپل پروردګار له طرفه به ورته ملاویږی. دا د الله تعالیٰ دومره لوئے فضل او احسان دے چه دبیان د حد نه بهر دے. دا دے دهغه فضل، احسان او اکرام چه د هغے زیرے هغه خپلو بندګانو ته ورکوی، چه دهغه په توحید او ټولو اعتقادیاتو باندے ایمان راوړی او د هغه د شرائعو او احکامو تابعداری وکړی.

۲۲ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ: دا د رسالت تصدیق او د اعمالِ صالحه و ترغیب دے د اَلْقُرْبٰى نه قرابت مُراد دے. او مطلب دا دے چه تاسو خما د قرابت رشته دارئ لحاظ وکړئ او د صله رحمئ په طور باندے خما تصدیق وکړئ، کم نه کم داچه ما ته څو تکلیف مه رارسوئ او خما په کار کښې خلل او نقصان مه پیدا کوئ: لا اسئلکم علی هذا البلاغ والنصح لکم ما لا تعطونیه وانما اطلب منکم ان تکفوا شرکم عنی وتذرونی ابلغ رسالات ربی ان لم تنصرونی فلا تؤذونی بما بینی وبینکم من القرابة (ابن کثیر، ج ۴ ص ۱۱۲) عن ابن عباس رضی یعنی ان تحفظونی لقرابتی وتودونی وتصلوا رحمی. (مظهری ج ۸ ص ۳۱۷) ان تؤذونی فی قرابتی منکم، ای تراعوا ما بینی وبینکم فتصدقونی. (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۱).

جمهورو مفسرینو هم دا معنیٰ اختیار کړیده. یا اَلْقُرْبٰى مَصدر دے په معنیٰ د اَلْقُرْبَة سره یعنی تقرب لکه الزلفیٰ او الزلفة. او استثناء منقطع ده یعنی زه په تبلیغ باندے ستاسو نه څه اُجرت او تنخواه نه غواړم. خما مطالبه ستاسو نه دا ده چه تاسو حق دین قبول کړئ او د الله تعالیٰ د قرب حاصلولو دپاره شوق او محبت سره دهغه اطاعت وکړئ. دا قول د ابن عباس رض، حسن بصری رح او نورو مفسرینو نه منقول دے: الا ان تتوددوا الله وتتقربوا الیه بطاعته (خازن ج ۶ ص ۱۲۶ قرطبی ج ۱۶ ص ۲۲). یا مطلب دا دے چه څه د توحید تبلیغ د څه اجر یا چندے غوښتلو دپاره نه کوم بلکه د هغه قرابت او رشته دارئ لحاظ کوم د کوم په وجه چه ټول بنیآدم د یو بل رشته داردی. تاسو ته تبلیغ کوم دے دپاره چه تاسو د هلاکت نه بچ شئ. تائید: وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ (انعام ع ۸) قاله الشیخ قدس سره. څنو خلقو د اَلْقُرْبٰى نه ذَوِی الْقُرْبٰى یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم رشته دار او اهل بیت مُراد اخستے دی لیکن دا قول مرجوح دے. اول به دے وجه چه د یو صحابی رض نه منقول نه دے او ذکر شوے اولنئ دواړه معنے د امام المفسرین حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه صحیح اسناد و سره ثابتے دی. دویمه وجه دا ده چه

د رسالت په تبلیغ باندې د خپل خاندان او رشته دارئ پالِلو الزام راځي۔ علامه آلوسی رحمه الله د دے آخری مفهوم نقل کولو نه پس لیکي: وقد ذهب الجمهور الی المعنی الاول وقیل في هٰذا المعنی انه لایناسب شأن النبوة لما فیه من التهمة فان اکثر طلبة الدنیا یفعلون شیئا ویسئلون علیه ما یکون فیه نفع لاولادهم وقراباتهم۔ (روح ج ۲۵ ص ۳۳)

۲۳ ۔ وَمَنْ يَّقْتَرِفْ (الآية): د آیت د دے حصے نه د دے خبرے تائید کیږي چه د الْقُرْبٰى نه اعمالِ صالحه او حسنات مراد دي کوم سره چه د الله تعالیٰ قرب او نزدیکت حاصلیږي۔ څوک چه د الله تعالیٰ د رضا د پاره نیکي کوي د هغهٔ په اجر او ثواب کښ الله تعالیٰ زیاتوالے کوي او به خوشحال چندګانه ورله زیاتوي څکه چه هغه د خطا کارو خطا ګانے معاف کوي او د هغوي د نیکو قدر کوي۔

۲۴ ۔ اَمْ يَقُوْلُوْنَ: دا شکوی ده۔ مشرکان د عناد او تکبر په وجه الزام لګوي چه محمد (صلی الله علیه وسلم) په الله تعالیٰ باندې افتری (دروغ) جوړوي یعنی دده دا وینا چه الله تعالیٰ ماته د دے خبرے د تبلیغ حکم کړیدے چه د الله تعالیٰ نه سوا څوک کارساز نشته او هیڅوک د هغهٔ نه سوا په حاجتونو کښ غائبانه نه دے رابللې۔ دا په الله پاک باندې افتراء ده۔ فَاِنْ يَّشَاِ اللهُ الخ: دا جواب د شکوے دے او د نبي علیه السلام د مفتري کیدلو رد دے۔ په الله باندې افتراء هغه څوک کولے شي د چا په زړهٔ چه مهر لګیدلے وي۔ یعنی هغه د نورِ بصیرت او معرفت الٰهي نه محرومه وي او ستا چه کوم دعوت پیش کړیدے چه د الله تعالیٰ نه سوا څوک کارساز نشته او د هغهٔ نه سوا هیڅوک نهٔ رابللې۔ دا ټول د عقل مطابق او مخکنو پیغمبرانو د تعلیماتو سره عین موافق دے۔ که چرے الله تعالیٰ غوښتلے وے نو ستا په زړهٔ باندې به ئے مهر لګولے وے او بیا به هغوي افتراء کولے نو د هغوي د زړه نه به هیڅکله دا دے خبرے نه وتلے کومے چه د عقل او نقل موافق وي او کوم سره چه د توحید باره کښ د مشرکانو شبهات (چه د کتب سابقه نه د غیر الله د راپللو جواز معلومیږي) زائل کیږي: جملة معترضة ورد واستبعاد للافتراء عن مثله بالاشعار علی انه لایجتري علیه الا من کان مختوما علی قلبه جاهلا بربه، فاما من کان ذا بصیرة ومعرفة بربه فلا، وکانه قال ان یشأ الله خذلانك یختم علی قلبك لتجتری بالافتراء علیه (مظهری ج ص ۳۲۱)

۲۵ ۔ وَيَمْحُ اللهُ الْبَاطِلَ: دا استیناف دے او په جزاء باندې نهٔ دے۔ په اصل کښ "یَمْحُوْ" وو، په کتابت کښ واؤ ساقط دے لکه څنګه چه په يَدْعُ الْاِنْسَانُ کښ ساقط دے۔ نبي علیه السلام چه کوم دعوت پیش کړیدے چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک کارساز نشته او د هغهٔ نه سوا بل هیچا ته آواز مه کوئ، دا افتراء نهٔ ده بلکه ټول حق دے۔ الله تعالیٰ د دے قرآن په ذریعه سره شرك او په

توحید بانديکښې شوی شبهات محوه کوی او ختموی (مثلاً دا چه مونږ ته دَ ځکنو خلقو د لیکلونه دَ غیرالله دَ رابللو جواز معلومیږی)۔ او توحید لره واضحه ثابتوی او هغه دَ زړونو دَ خبرو نه هم خبر دے۔ دَ توحید باره کښې دمشرکانو هغه شبهات کوم چه دَ دوی په زړونو کښې پټ دی، قرآن کریم کښې دَ هغې ازاله هم شوی ده۔

۲۶ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ: دا آیت دَ اولے دعوے سره متعلق دے۔ هغه پخپلو بندګانو دا سے مهربان دے چه دَ هغوی توبه قبلوی او ګناه ئے معاف کوی او دَ هغوی دَ ټولو اعمالو نه خبر دے۔ هغه کارساز او په غیبو عالِم دے۔ نو په حاجتونو کښې صرف هغه ته چغه وهل پکار دی۔ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ: دا بشارت دُنیوی او اُخروی دے۔ ایمان والا چه کله هم دَ الله تعالیٰ نه دُعا غواړی نو هغه دَ دوی دُعا قبلوی او خالص پخپل فضل او احسان سره دَ دوی دَ سوال او استحقاق نه زیات ورته ورکوی؛ ای ویجیب الله تعالیٰ الذین اٰمنوا اذا دعوا و حاصله یجیب دعآءهم ------ (وَيَزِيْدُهُمْ) علیٰ ما سألوا و استحقوا (مِّنْ فَضْلِهٖ) الواسع جلّ شانه (روح ج ۲۵ ص ۳۷) وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۝ دا تخویف اُخروی دے۔ او دَ کافرانو او مشرکانو دپاره ډیر سخت عذاب تیار دے۔

۲۷ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ: دا دَ سوال مقدر جواب دے۔ کله چه الله تعالیٰ دومره زیات مهربان دے چه دَ بندګانو توبه قبلوی او رزق ورته هم ورکوی نو دَ ټولو روزی فراخه او زیاته وَلے نه ده؟ وے فرمائیل چه که هغه ټولو ته فراخه روزی ورکړی او فراخئ سره دولت ورکړی نو دَ بندګئ ټول حدود به پریږدی او باغیان به شی او په کبر او غرور کښې مست او بیهوشه کیدو سره به شر او فساد خورکړی لیکن الله تعالیٰ په خپل حکمتِ بالغه سره هر سړی ته چه څومره وغواړی ورکوی او هغه دَ خپلو بندګانو نه خبر دے، هغه ته معلومه ده چه څوک دَ څومره حقدار دے۔ بِقَدَرٍ موصوف، مَا يَشَآءُ ئے صفت دے او په صله کښې ضمیرِ غائب محذوف دی ای ما یشاءه۔

۲۸ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ: دا آیت اولے دعوے سره متعلق دے او دَ توحید په دعویٰ باندې اولنے دلیل دے۔ کله چه خلق دَ باران نه نا اُمیده شی او وچکالئ ویره ورسره پیدا شی، دغه وخت الله تعالیٰ دَ رحمت باران نازلولو سره خپل رحمت عام کوی هغه دَ اُلوهیت دَ ټولو صفتونو مالك دے او هم هغه کارساز دے۔ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ الخ: دَ هغهٔ دَ وحدانیت او قدرت کامله دلائل دا هم دی چه هغهٔ زمکه او آسمانونه پیدا کړل او کله چه غواړی ټول یوځائے کولے هم شی او څنګه چه هغهٔ اول خلق پیدا کړل دغه شان ئے دَ مرګ نه روستو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے۔ فِيْهِمَا: دے دواړو کښې۔ حالانکه کوم ژندکاسر باندې چه د دَآبّه لفظ صادقیږی هغه صرف په زمکه کښې دی۔ کوم تمیز چه دَ دے دواړو نه په یو کښې وی هغې باندې دا ویل صحیح دی چه دا

خيز په دوی کښ دے، لکه چه وے فرمائيل، يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ٥
حال دا دے ملغلرے او مرجان د دواړو نه نه راوځی بلکه د نمکين درياب نه راوځی
او د دے تائيد د سورهٔ بقره د دے ايت نه کيږی (ع ۲۰) چه په هغے کښ ذکر دے:
وَبَثَّ فِيهِمَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وما فی احد الشيئين يصدق انه فيهما
فی الجملة، فالاية على اسلوب (يخرج منهما اللؤلؤ والمرجان) وذلك
لقوله تعالىٰ فی البقرة (وبث فيهما من كل دآبة) (روح ج ۲۵ ص ۳۹)

وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيكُمْ
او کوم چه تاسو ته ورسيږی څه سختی پس هغه بدله د هغے کوم چه ستا سو لاسونو کړيدی

وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ ﴿۳۰﴾ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي
او معاف کوی د ډيرو ګناهونو ؎ او تاسو نه يئ عاجز کونکی (د الله) په

الْاَرْضِ ۚ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُونِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا
زمکه کښ تختيدو لو ته، او هيڅوک نشته تاسو لره د الله نه سوا کارجوړونکے او

نَصِيرٍ ﴿۳۱﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾
مدد ګار او د هغه يو نښه (د قدرت) دا ده چه جهازونه چليږی په درياب کښ لکه د غرونو ؎

اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ ۚ
که چرے وغواړی بند کاندی هوا، بيا به وګرزی تول ولاړ د هغه درياب په شا باندی،

اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿۳۳﴾ اَوْ
بيشکه دے خبره کښ دلائل (د قدرت) دی هر صبر کونکی د پاره چه احسان منی. يا

يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيرٍ ﴿۳۴﴾ وَّيَعْلَمَ
تباه کړی هغوی لره په سبب د هغوی د (بدو) عملونو او معاف هم کړی د ډير، او د دے د پاره چه پوهه شی

الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي اٰيٰتِنَا ۖ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيصٍ ﴿۳۵﴾
هغه خلق څوک چه جهګړه کوی زمونږ په قدرتونو کښ، چه نشته هغوی د پاره د تختيدو ځائی ؎

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج

پس څه چه درکړے شویدی تاسو ته د څه خیزنه پس هغه فائده اخستل دی د دُنیا په ژوند کښ ،

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى

او کوم څه چه الله سره دی هغه بهتر دی ٤١ او باقی پاتے کیدونکی ایمان والو د پاره چه هغوی

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ

پخپل رب باندې یقین لري. او کوم خلق چه ځان ساتی د لویو

الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿٣٧﴾

ګناهونو او بے حیایئ نه ، او کله چه غصه شی نو دوی معافی کوی .

وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ص وَ

او هغه چه ٤٢ او منلو حکم د رب خپل او قائم ئے کړو مونځ او

اَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ص وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٨﴾ ج

کارونه کوی مشورے سره خپل مینځ کښ او د زمونږ د ورکړے نه خرچ کوی ٤٣ و

وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ وَ

او هغه خلق چه کله په هغوی باندې ظلم وشی نو هغوی بدله اخلی ٤٤ مط او د

جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ج فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ

بدئ بدله ده ٤٥ بدی د هغې پشان ، نو څوک چه معاف وکړی او صلح وکړی

فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ط اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾

پس د هغه ثواب دے د الله په ذمه بیشکه الله تعالی نه خوښوی ګناهګاران .

وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ

او څوک چه بدله واخلی د مظلوم کیدلو نه پس ، نو په دوی باندې هم نشته

مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤١﴾ ط اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ

څه الزام (ملامتیا). ملامتیا په هغه چا ده څوک چه ظلم کوی په

النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ أُولَٰئِكَ

خلقو باندې او سرکشي کوي په زمکه کښې په ناحقه ، دغه خلقو

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ

دپاره دے عذاب دردناک - او چا چه برداشت وکړو او بخښنه ئے وکړه بیشکه دا

لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

کار د همت دے وړ -

نکات ۱ تخویف دنیوی، ۲ بشارت أخروی سره د ذکر د أمورِ ثلاثه ؤ نه. ۳ اعاده د أمورِ ثلاثه ، ۴ د قانونِ انتقام ذکر، ۵ زنړا اچول په مضمون د آیاتِ سابقه -

موضح قرآن **ف ۱** دا خطاب عاقل بالغ خلقو ته دے گنهګاروي یا نیک لیکن نبي په دیکښ نه دے داخلیږي ا و نابالغ هم پکښ داخل نه دے ، دوي دپاره په بل شے وي او سختۍ کښ د دُنیا هم سختي راغله او د قبر او آخرت سختي هم - **ف ۲** کوم خلق چه هر څیز خپل تدبیر سره کنړي دغه وخت به هغوي عاجزه پاتے شي. **ف ۳** مشورے سره کار کول غوره او ښه دي، کار د دِین وي یا د دُنیا. **ف ۴** یعني د کافرانو سره جهاد کوئي -

فتح الرحمن **ف ۱** مترجم وائي کچرے په ضعیف باندې ظلم زیاتے اوکړي نو د قبیلے بزرګان متفق شي او انتقام واخلي - واللّٰه تعالیٰ اعلم-
ف ۲ مترجم وائي مغفرت (بخښنه کول) په خپل حق کښ عزیمت دے او انتقام رُخصت دے او د ضُعفاؤ په حق کښ انتقام لازم دے لیکن دا چه هغه ضعیفان عفوه وکړي - واللّٰه اعلم ۶

تفسیر **۲۹** وَمَآ أَصَابَكُم - تا - فَمَتَاعُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا: دا تخویف دُنیوي دے - د مصیبت نه مُراد مشرکانو دپاره د دُنیا عذاب دے کوم چه د مشرکانو د عِناد او سرکشۍ او مشرکانه اعمالو سزا ده او مؤمن دپاره هغه تکلیفونه مُراد دي کوم چه د امتحان په طور یا په طور د ګناهٔ د کفارے په هغهٔ باندې راځي - دا مضمون د قرآن مجید د ګڼړو ایتونو نه معلومیږي:

(۱) ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ۝ (روم ع ۵) -

(۲) مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ (تغابن ع ۲)

(۳) وَمَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ (حدید - ع ۳) -

(۴) اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا - (آل عمران ع ۱۷)
(۵) وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ
دَدے ټولو ایتونو نه مُراد یا مشرکانو دپاره عذاب دُنیوی دے یا مؤمنانو دپاره تکلیفونه مُراد دی کوم چه هغوی باندے په طور دَ امتحان او ابتلاء راځي لیکن هغه ګناه دَکوم نه چه الله تعالیٰ درګذر کوی او معاف کوی او دَ هغے سزا په دُنیا کښ نه ورکوی، هغه دَ هغه ګناهونو نه ډیرزیات دی دَکوم سزا چه په دُنیا کښ ملاؤ شوه - وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ: او تاسو الله تعالیٰ په مصیبتونو او آفتونو عاجزه او ستړے ستومانه کولے هم نشئ او کله چه دَ هغه طرفه مصیبتونه راشي نو دَهغه نه سوا هیڅوک ستاسو حمایتی او مددګار نشته چه تاسو دَدغه مصیبتونو نه خلاص کړی -
۳۰ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ: دا په ظاهره خو دَ الله تعالیٰ دَ قدرت کامله او دَ هغه دَ وحدانیت دلائل دی لیکن دیکښ دَ تخویف دُنیوی اړخ هم ښکاره دے، دَ غرونو پشان اُوچت بحری جهازونه او بادبان سره چلیدونکے کشتئ کومے چه په سمندرونو او دریابونو کښ چلیږی، دَ الله پاک دَ قدرت کامله واضح دلیل دے - اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ، بحرے هغه وغواړی تو هوا به ودروی او کشتئ به دَ دریاب په سطح باندے ولاړے پاتے شی - هر هغه څوک چه په مصیبتونو باندے صبر کونکے وی او په خوشالئ کښ شکر ویستونکے وی، دیکښ هغه دپاره دَ الله پاک دَ قدرت او عظمت واضح دلائل دی: اِنَّ المؤمنين لا يخلو من ان يكون في السرآء والضرآء فان كان في الضرآء كان من الصابرين وان كان في السرآء كان من الشٰكرين - (کبیر) اَوْيُوْبِقْهُنَّ الخ دا په يُسْكِنِ باندے معطوف دے -
یا بحرے وغواړی نو تیز او تُند طوفان سره به دَهغوی کشتئ الټه کړی او غرق به کړی او دغه شان به ورته دَ خپلو ګناهونو مزه اُوڅکوی او ډیر به معاف کړی او دَ غرقیدلو نه به ئے بچ کړی - يَعْفُ په يُوْبِقْ باندے عطف دے او دَ جزم په وجه واؤ ساقط دے - یا يُوْبِقْ دپاره معطوف علیه محذوف دے يَعْصِفْهُنَّ - یا يرسلها عاصفة (روح) دا رنګے به دا دَ علفتها تبنا وماء باردًا دَ قبیل نه وی لیکن يظللن باندے نشی معطوف کیدلے ځکه چه دَهغه تعلق دَ سکون ریح (هوا اودریدلو) سره نشی کیدلے - وَيَعْلَمَ الخ دا په معطوف علیه مقدر باندے معطوف دے - ای لينتقم منهم - یا ليظهر عظيم قدرته (روح) دے دپاره چه هغه دَ مجرمانو نه انتقام واخلی یا دَ خپل قدرت کامله اظهار وکړی او زمونږ په ایتونو کښ جګړه کونکو او اختلاف اچونکو ته په توحید کښ یعنی هغه باغیانو ته چه دَ توحید خلاف لیکل ئے کړیدی او چا چه دَ باغیانو لیکل لوستلی دی او غیر الله ته ئے چغه وهلے ده، هغوی یقین وکړی چه دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه دَ بچ کیدو هیڅ صورت نشته - فَمَآ

اُوْتِیْتُمْ الخ: دَ تخویف دُنیوی نه پس ئے وفرمایل چه تاسو په دُنیا کښې څو ورځې ژوند بانډې مغرور مه کیږئ - دا دَ آخرت په مقابله کښې ډیر لږ دے. راشئ ایمان راوړئ دَ الله تعالیٰ حکمنامے اُومنئ دے دَپاره چه دَ آخرت دَعذاب نه بچ شئ.

۳۱ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ: دا بشارت اُخروی دے او دلته دَ هغې درے واړه اُمورو بیان هم دے کوم چه دَ الله تعالیٰ دَعذاب نه خلاصے ورکوی: (۱) شرک مکوئ (۲) ظلم مکوئ- (۳) احسان کوئ. دَ الله تعالیٰ په توحید بانډې ایمان راوړونکو، شرک نه کوُنکو او خپل رب بانډې یقین لرونکو دپاره الله پاک سره چه کوم اجر او ثواب او انعام محفوظ دے هغه دَ دُنیا دَمال اسباب نه ډیر زیات بهتر دے او همیشه پاتے کیدونکے دے- دیکښې دَعذاب نه دَ بچ کیدلو دپاره دَ اول امر ذکر دے- وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ الخ: دَ هغوی دویم صفت دا دے چه هغوی دَ لویو گناهونو او بے حیایئ دَ کارونو نه ځان ساتی- ظلم هم لویه گناه ده- او دَ هغوی دریم صفت دا دے چه کله ورته غصه راشی نو احسان او معافی کوی-

۳۲ وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا: دیکښې دویم عنوان سره دَ درے اُمورو اعاده شوې ده- تاکید دپاره دَ خپل رب حکمنامه قبلوی او شرک نکوی، مونځ قائموی او خپل ټول کارونه خپل مینځ کښې مشوره کولو سره کوی- دا اول امر دے- او کوم څه چه مونږ دوی ته ورکړیدی دَ هغې نه خرچ کوی او په خلقو احسان کوی دا دویم امر دے- او کله چه په دوی بانډې زیاتے وشی نو دوی صرف دَ زیاتی بدله اخلی لیکن بخپله څه بانډې ظلم نکوی-

۳۳ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ: دیکښې دَ قانون انتقام ذکر شوید ے- څوک سره چه بد وشی کچرے هغه بد له اخلی نو جائز ده خو زیاتے به نکوی- او څوک چه دَ بل څه زیاتے معاف کړی او بد له ترینه وانخلی بلکه صُلح ورسره وکړی نو دَ هغې اجر الله پاک سره دے، الله تعالیٰ به هغه ته اجر ورکړی او دَ هغه دغه عفوه او احسان به ضائع نه وی- دا سے خلقو لره الله تعالیٰ خوښوی لیکن په خلقو بانډې ظلم زیاتے کوُنکو لره الله پاک نه خوښوی: من ترك القصاص واصلح بينه وبين الظالم بالعفو (فاجره على الله) اى ان الله يأجره على ذلك. (قرطبی ج ۱۶ ص ۴۰)

۳۴ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ: دا ایت دَ تیر شوی ایت دَ مضمون تنویر دے او دَ هغې وضاحت دے- څوک چه مظلوم شی کچرے هغه دَ ظالم نه بد له واخلی نو هغه دَ طعن او ملامتیا لائق نه دے- اِنَّمَا السَّبِيْلُ الخ: دا ظالم او طاغی (سرکش) دپاره تخویف اُخروی دے او دا دَ اولنی صورت په مقابله کښې دَ انتقام دویم صورت دے- یا ابتداءً ظلم او زیاتی کوُنکی مُراد دی- کوم خلق چه دَ انتقام اخستلو په وخت یا ابتداءً ظلم زیاتے کوُنکی دی او په زمکه کښې ناحقه شر او فساد کوی او شرک خوره وی، دا سے خلق دَعذاب قابل دی او دوی

د پاره دردناك عذاب تیار دے۔ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ الخ: دیکښې د عفوے درگذر ترغیب دے۔ څوك چه ظالم ته معاف وکړي او صبر وکړي او د هغه نه بدله وانخلي نو دا ډیر عمل دے چه شرعاً مطلوب دے او الله تعالیٰ د دے حکم ورکړے دے۔ (جلالین مظهری)

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ

او چا ته چه لاره ونه ښائي الله نو هیڅوك نشته د هغه کار جوړونکے سوا د هغه نه،

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ

او ته به وینې گنهگاران کله چه ووینی عذاب وائي به

هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ

په څۀ طریقه بانږې به د واپس تللو لاره وي؟ او ته به وینې دوي به مخے ته راوستلے شي

عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ

د اور، او سترگے به ئے ښکته کړے وي د ذلت نه گوري به د سترگو په کوټو نو

خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ

(پټ پټ) او وائي به مؤمنان! یقیناً تاوانیان هغه دي چه

خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ

ضائع کړل خپل ځانونه او خپل د کور خلق د قیامت په ورځ، واورئ!

الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ

گنهگاران پراته دي په همیشه عذاب کښې۔ او هیڅوك نشته د دوي

اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

مدد گار چه امداد دے کړے د دوي د الله نه سوا او چا لره چه الله بے لارے کړي

فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ

هغه د پاره نشته هیڅ ته لاره۔ او منئ د خپل رب حکم د هغے نه مخکښې چه

أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ ۚ مَا لَكُم مِّن

چه راشي هغه ورځ چه واپس کیدل ئې نشته د الله په نزد، نه به ملاویږي تاسو ته د

مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾ فَإِنْ

خلاصي ځائې په دغه ورځ او نه به ملاویږي درته لاره د انکار - بیا که چېرې

أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ

دوی مخ واړوي نو مونږ نه ئې لیږلے ته په دوی باندې ساتونکے، ستا په ذمه خو صرف

إِلَّا الْبَلَاغُ ۗ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً

دے رسول دی هغوئی ته، او کله چه مونږ څکوو انسان ته د خپل طرفه رحمت نو

فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ

ډیر زیات خوشاله شي او چرې ورسیږي ورته څۀ بدي د خپلو (بدو) عملونو په

أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنسَانَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾ لِّلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ

بدله کښې نو انسان ډیر ناشکره دے. د الله حکومت دے په اسمانونو

وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا

او زمکه کښې پیدا کوي څۀ چه وغواړي، ورکوي چا ته چه وغواړي لونړه

وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن

او ورکوي چا ته چه وغواړي ځامن، یا ورته ورکوي جوړے ځامن او لونړه، او کړي چاله

يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ

چه وغواړي، شنډه، هغه دے په هرڅۀ عالم او هرڅۀ کوونکے- او د هیڅ یو انسان طاقت نشته

أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ

چه له دۀ سره خبرے وکړي الله لیکن اشارے سره یا د پردے نه شا ته

أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ

یا ولیږي یو پیغام راوړونکے (فرښته) بیا ورسوي د هغه په حکم سره څۀ چه غواړي، بیشکه هغه

عَلِیٌّ حَکِیۡمٌ ﴿۵۱﴾ وَ کَذٰلِکَ اَوۡحَیۡنَاۤ اِلَیۡکَ رُوۡحًا مِّنۡ

ډېر اوچت دے حکمتونو والا دے او دا رنګ رالیږلې مونږ ستا طرف ته یو فرښته خپل

اَمۡرِنَا ؕ مَا کُنۡتَ تَدۡرِیۡ مَا الۡکِتٰبُ وَ لَا الۡاِیۡمَانُ

حکم سره، ته نه پوهیدلے چه څه دے کتاب او نه ایمان

وَ لٰکِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا نَّهۡدِیۡ بِهٖ مَنۡ نَّشَآءُ مِنۡ

لیکن ګرځولے دا رڼا لاره ښایو دے سره چا ته چه وغواړو خپلو

عِبَادِنَا ؕ وَ اِنَّکَ لَتَهۡدِیۡۤ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿ۙ۵۲﴾

بندګانو کښې، او بیشکه ته ښایې نیغه (سمه) لاره۔

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی

لاره د الله چه هغه دپاره دی کوم څه چه په اسمانونو او په زمکه

الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِلَی اللّٰهِ تَصِیۡرُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۵۳﴾

کښې دی، واورئ! الله ته رسیږی ټول کارونه۔

نکات: ۱ متعلق د دویمے دعوے سره۔ ۲ تخویف اُخروی۔ ۳ متعلق د خسرُوا سره۔ ۴ صنغلق د دویمے دعوے سره، ثمره او تخویف اخروی۔ ۵ تسلی نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته او زجر په مشرکانو۔ ۶ متعلق اولے دعوے سره او دلیل عقلی۔ ۷ د دواړو دعوو سره متعلق او اشاره دلیل وحی ته۔ ۸ دلیل وحی۔ ۹ علت دپاره د ما قبل۔ ۱۰ اشاره دلیل عقلی ته۔

موضح قرآن

ف ۱ حضرت موسٰی علیہ السلام سره کلام شوے وُو د پردے نه شا ته۔

فتح الرحمٰن

ف ۲ مترجم وائی د عبارت اشاره خوب لیدلو ته د ه او د علم اچولو ته په زړه کښې په طریقه د الهام او روستو د پردے نه عبارت دے د هغے نه چه اواز اوری او څوک نه وینی او دریم قسم هغه دے چه فرښته په صورت د انسان متمثل شی او خبرے کوی۔ والله اعلم ۱۲

تفسیر

۳۵ وَمَنۡ یُّضۡلِلِ اللّٰهُ: دا د دویمے دعوے سره متعلق دے۔ څوک چه د انصاف سترګے پټے کړی او محض د ضد او عناد په

وجه دَ باغیانو او ګمراه کوونکو پیشوایانو تحریفاتو ته کتلو سره ګمراه شی او شرك شروع کړی او په حاجتونو کښې غیر الله رابلل شروع کړی نو الله تعالیٰ هغوی لره دَ هدایت دَ توفیق نه محرومه کوی نو اوس به ئے هیڅوك حمایتی او مددګار نه وی چه هغه په سمه لاره راولی یا ئے دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه خلاص کړی. وَتَرَى الظّٰلِمِیْنَ الخ: دا تخویف اُخروی دے. دَ قیامت په ورځ به تاسو دا منظر ووینئ چه کله مشرکان دَ جهنم دَ عذاب مشاهده وکړی نو دَرخواست به وکړی آیا دنیا ته دَ واپس تللو کومه یوه لاره چرته شته؟ چه موږ هلته لاړ شو او نیك عمل وکړو. تاسو به هم دا ووینئ چه کله دوی په دوزخ کښې غورځولے شی نو دوی به دَ ذلت او خوارئ نه سرونه ښکته کړے وی او په ټیټو سترګو به ګوری، په دوی به ذلت او رسوائی دومره غالبه وی چه په وُچتو سترګو به کتلے هم نشی. وَقَالَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ، دغه وخت به مؤمنان خوشاله وی او دوائی به یا به په دُنیا کښې دا ئے وائی. یَوْمَ الْقِیٰمَةِ، خَسِرُوْا سره متعلق دے (روح). یعنی په اصل کښې خو په تاوان کښې هغه خلك دی چه دَ قیامت په ورځ خپل ځان او خپل اهل وعیال په تاوان کښې وغورځوی، کله چه دے پخپله او دَ دهٔ مشرکان بال بچ په دوزخ کښې وغورځولی شی نو په همیشه عذاب کښې به ګرفتار شی. واورئ! بیشکه مشرکان به په همیشه عذاب کښې مبتلا وی.

۳۶ وَمَا كَانَ لَهُمْ (الآیة): دَ قیامت په ورځ کله چه مشرکان دَ دوزخ په عذاب کښې راګیر شی نو هغه وخت به دَ دوی هیڅوك حمایتی او امداد نه وی چه دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه ئے خلاص کړی. دُنیا کښې چه ئے څوك کارساز ګنړلو سره رابلل هلته به ئے هیڅوك هم دَ هغوی نه بکار رانشی او څوك چه الله دَ عناد او سرکشئ او دَ مُهرجبّاریت په وجه ګمراه کړی او دَ هدایت دَ توفیق نه ئے محرومه کړی نو په دُنیا کښې دَ هغهٔ په سمه لاره راوستلو او آخرت کښې دَ هغهٔ جنت ته رسولو دپاره به هیڅ لاره نه وی، هیڅوك حمایتی او مددګار به دَ دهٔ نه دا بدبختی لرے کړے نشی. مِن سَبِیْلٍ ای وصول الی الحق فی الدنیا والجنة فی العقبٰی (معالم وخازن ج ۶ ص ۱۲۸)

۳۷ اِسْتَجِیْبُوْا لِرَبِّكُمْ: دا دَ دویمے دعوے سره متعلق دے او ثمره او تخویف اُخروی هم دے. یعنی هر کله چه دَ باغیانو تحریرات حجت نه دے نو دَ الله تعالیٰ توحید او دَ هغهٔ احکام قبول کړئ او صرف دَ هغهٔ عبادت وکړئ او دَ ګمراهانو تحریفاتو پسے مه ځئ: اجیبوه بالتوحید والعبادة. (جلالین) مخکښې دَ دے نه چه دَ الله پاك له طرفه هغه ورځ راشی چه دَ هغے راتلل هیڅوك نشی بندولے او هغه به ضرور راځی. مُراد دَ قیامت ورځ ده یا مرګ: ای لا یقدر احدٌ علیٰ دفعه وهو یوم القیامة وقیل هو یوم

الموت - (خازن ج ۶ ص ۱۲۸) - مِنَ اللهِ، یَأْتِیَ سره متعلق دے، یا د یَوْمٌ صفت دے - (روح) هغه ورځ به ډیره زیاته هیبتناکه وی - دغه ورځ به نه تاسو په تیختې خپل ځان خلاص کړئ اونه به د خپلو ګناهونو نه انکار کولے شئ ځکه چه هغه ستاسو په عملنامو کښې محفوظ کړے شوی دی -

۳۸ فَاِنْ اَعْرَضُوْا : دا زجر دے او نبی علیه السلام ته تسلی ده - که مشرکان ستاسو دعوت نه منی او د هغې نه اعراض کوی نو تاسو غم مکوئ ځکه چه تاسو د هغوی ساتونکی نه یئ مقرر شوی چه هغوی د کفر او شرك نه بند کړئ او اسلام ته ئے راولئ - ستاسو فریضه خو صرف تبلیغ او دعوت دے، که منی ئے خو بهتره ده، دیکښې د هغوی فائده ده او که نه ئے منی نو د هغوی تپوس به ستا نه نه کیږی.

وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ الخ، دا زجر دے او د انسان نه کافر انسان مراد دے (قرطبی) د کافر انسان حال دا دے چه کله مونږ هغه ته خپل نعمت او رحمت ورکړو نو ناحقه او ناجائزه قسمه خوشالئ شروع کړی یعنی کبر او غرور سره سرکشی شروع کړی او د غیر الله په رابللو خوشالیږی.

تائید: ذٰلِکُمْ بِمَا کُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ (حٰمٓ السجدة ع ۸) - فرح بها بطرًا لاجلها (مدارك ص ۸۵ ج ۴) - خو که د هغه د ګناهونو په سزا کښې په هغه کوم مصیبت راشی نو دا سے ناشکره او احسان فراموشه شی چه د الله پاك تیر شوی انعامات او احسانات بیخی هیر کړی او مصیبتونه یادوی (روح، قرطبی) حضرت شیخ فرمائی په مشرك چه کله د الله تعالیٰ څه نعمت وشی نو د خپلو باطلو معبودانو مهربانئ ئے ګڼړی خو کله چه پرے څه مصیبت راشی نو د خپلو معبودانو نه ناامیده شی او د هغوی احسان فراموشی کوی او الله تعالیٰ ته آواز کوی.

۳۹ لِلّٰهِ مُلْکُ السَّمٰوٰتِ: دا عقلی دلیل دے او اولے دعوے سره متعلق دے - زمکه او اسمان کښې صرف هغه متصرف او مختار دے او صرف هغه د هر څیز خالق دے - اولاد ورکول، د اولاد نه محرومه کول هم د هغه په اختیار کښې دی، دے معامله کښې، بلکه د ټول کائنات په نظام کښې هیڅوك د خل کونکے نشته - هغه چه چا ته وغواړی صرف لونړه ورکوی لکه حضرت لوط او حضرت شعیب علیهما السلام او چا ته چه وغواړی صرف ځامن ورکوی لکه حضرت ابراهیم علیه السلام او چا ته چه اوغواړی لونړه او ځامن دواړه نعمتونه ورکوی لکه خاتم النبیین حضرت محمد صلی الله علیه وسلم - د هغوی ځلور ځامن ابراهیم، قاسم، طیب او طاهر رضی الله عنهم وو او ځلور ئے لونړه وے، زینب، ام کلثوم، رقیه او فاطمه رضی الله عنهن - او چا ته چه وغواړی د دواړو نعمتونو نه ئے محرومه کړی او هغه ټول عمر په ارمان کښې تیروی او آخر دغه ارمان په


خپلو سینو کښې اخستلو سره رخصت شي:
زعم بعضهم ان الآية في انبياء عليهم الصلوٰة والسلام حيث وهب سبحانه شعيب ولوط عليهما السلام اناثا ولابراهيم عليه السلام ذكورًا ولرسوله محمد صلى الله عليه وسلم ذكورا واناثا وجعل عيسٰى ويحيٰى عليهما السلام عقيمين. (روح ج ۲۵ ص ۵۴).
الله تعالیٰ بتول هر څهٔ باندې پوهه او قادر دے او هغه د خپل حکمت بالغه مطابق چه څهٔ وغواړي هغه کوي۔
۵۱ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ (الآية): دا ایت د شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّيْنِ (الآية) پشان د دویمے دعوے سره متعلق دے او اشاره ده د دلیل نقلی طرفته۔ مخکنو انبیاؤ علیهم السلام او بخپله حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم سره الله تعالیٰ د دریے طریقو سره کلام کړیدے او د دے دریو طریقو سره نے هغوی ته د احکامو وحی کړے ده۔
اول دا چه الله تعالیٰ په ویخه یا په خوب کښې څهٔ خبره په زړهٔ کښې واچوي. په نورو الفاظو کښې دا اِلهام سره تعبیر کړلے شي لکه چه حدیث کښې راغلي دي ان روح القدس نفث في روعي (ترمذي ج ۲ ص ۵۳) الا وحيًا الهاما كما روي نفث في روعي او رؤيا في المنام كقوله عليه السلام رؤيا الانبياء وحي هو كامر ابراهيم عليه السلام بذبح الولد. (مدارک ص ۸۵ ج ۴)۔ د حضرت ابراهیم علیه السلام د اسمٰعیل علیه السلام ذبح کولو باره کښې وحی د دے قسم نه وه۔
دویم دا چه په مینځ کښې څهٔ واسطه نهٔ وی او د الله کلام د پردے نه شا ته واورید لے شي لکه چه په کوه طور باندې حضرت موسیٰ علیه السلام ته وحی وشوه۔
دریم دا چه الله تعالیٰ فرشته د انسان په شکل کښې راولیږي خپل پیغام هغه ته ورکړي لکه چه د جبرئیل امین په واسطه سره په انبیاء علیهم السلام باندې وحی نازلیدله۔ الله پاک د انبیاء علیهم السلام طرفته د دے طریقو سره د مسئلهٔ توحید وحی کوي او حکم ورکوي چه صرف ځما عبادت کوئ او صرف ما ته اواز کوئ۔ د دے ربّانی وحی خلاف چه مُحرّفینو کومے خبرے د ځانه جوړے کړیدي چه په هغې کښې غیر الله ته د اواز کولو اجازت شته، هغه باطلے او مَردود دي۔ د هغهٔ ذات ډیر زیات بلند او د هغهٔ خبره محکمه او پخه ده۔
۵۲ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَا: دا دلیلِ وحی دے۔ او مونږ هغه دریو طریقو سره ستا طرفته رُوح لره وحی لیږلے ده۔ د روح نه مُراد د توحید مسئله ده یا قرآن چه د هغهٔ تعلیمات (توحید، رسالت، قیامت، احکام شریعت) زړونو ته د همیشه ژوند ورکولو ذریعه ده۔ وسمّاه روحًا لان القلوب تحيا به (بیضاوی) وَمَا كُنْتَ تَدْرِيْ الخ: دا ما قبل دپاره علت دے۔ چونکه تا سو د نزول وحی نه مخکښې د قرآن او ایمان تفصیلی حقیقت نهٔ پیژندهٔ نو ځکه مونږ تا سو باندے

وحی سره قرآن نازل کړه او دا قرآن مونږ د هدایت د پاره روښانه چیوه او روښانه نمر وګرځولو، د ے د پاره چه د دے په ذریعه هرهغه کس ته د هدایت لاره وښایو چاته چه مونږ وغواړو - یعنی څوک چه اخلاص سره د حق تلاش وکړی، د ضد او عناد نه لرے پاتے شی او د انصاف نظر سره په هغے کښ غور و فکر وکړی - د ایمان حقیقت کښ ځنګه چه توحید، تقدیر، حشر نشر وغیره داخل دی، دغه شان رسالت هم د ایمان جُزء دے او ځنګه چه نورو خلقو باندے د نورو ایمانیاتو سره په رسالت باندے ایمان راوړل ضروری دی دغه شان په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے هم خپل رسالت باندے ایمان راوړل ضروری وو او د وحی نه مخکښ چونکه نبی علیه السلام ته د خپل نبوت علم نه وو، د دے وجے نه ئے وفرمائیل چه تا سو د وحی نه مخکښ د ایمان د تفصیلی حقیقت نه ناخبره وے.

الایمان هو التصدیق بالله تعالیٰ وبرسوله علیه الصلوٰة والسلام و النبی صلی الله علیه وسلم مخاطب بالایمان برسالته نفسه کما ان امته مخاطبون بذلك ولاشك انه علیه السلام قبل الوحی لم یکن یعلم انه رسول الله وما علم ذلك الا بالوحی (روح ملخصاً ج ۲۵ ص ۵۸)

او بیشکه نبی علیه السلام صراط مستقیم طرفته دعوت ورکوی یعنی د الله توحید چه د الله تعالیٰ نه سوا د هیچا عبادت مکوئ او په حاجتونو کښ ما فوق الاسباب هیچا ته آواز مکوئ او نور احکام د شریعت.

۴۲ صِرَاطِ اللهِ الخ، د یکښ عقلی دلیل طرفته اشاره ده یعنی (صراط مستقیم، سمه لاره) د الله تعالیٰ ده چه د زمکے آسمانونو او د ټولو کائناتو مالك دے او د یکښ متصرّف او مختار دے، د دے کائناتو کښ هره معامله د هغهٔ د علم او قدرت سره تړلے شوے ده، او د لته چه هرڅه کیږی د هغهٔ اختیار او تصرف سره کیږی، صرف هغه متصرف او کارساز دے او یوازے هغه د دُعا او پکار مستحق دے ؞



سورة شورٰی کښې د توحید اېتونه او د هغې خصوصیات

① لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ○ (ع۱) نفی د شرک فی التصرف۔

② فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔ تا ۔ اِنَّهٗ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ○ (ع۲) نفی د شرک فی التصرف او نفی د شرک فی العلم۔

③ شَرَعَ لَکُمْ مِّنَ الدِّیْنِ ۔ تا ۔ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِیْهِ ؕ (ع۲) تولو پیغمبرانو تهٔ مونږ دا وحی لیږلې وه چه صرف الله پاک ته آواز کوئ، د ټولو پیغمبرانو دین یو وو۔

④ وَمَا تَفَرَّقُوْا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْیًۢا بَیْنَهُمْ (ع۲) باغیانو د توحید مسئله پیژندلې وه نو پس خالص د ضد او عناد په وجه هغې کښې اختلاف اوکړو۔

⑤ وَهُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ الْغَیْثَ ۔ تا ۔ اِذَا یَشَآءُ قَدِیْرٌ ○ (ع۳) نفی د شرک فی التصرف۔

⑥ لِلّٰهِ مُلْکُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔ تا ۔ اِنَّهٗ عَلِیْمٌ قَدِیْرٌ (ع۵) نفی د شرک فی التصرف۔



سُوْرَةُ زُخْرُف

ربط سورۀ شوریٰ کښ ذکر کړے شوے دی چه ټولو انبیاؤ علیهم السلام هم دا تعلیم ورکړو چه الله تعالیٰ متصرف او کارساز دے نو په حاجتونو کښ صرف هغهٔ له رابللئ۔ د انبیاء علیهم السلام د متفق تعلیم خلاف په خلکو کښ چه کوم مواد ملاویږی هغه د ګمراه کونکو پیشوایانو تحریفات دی چه هغوی د دغه خالص دین سره ډیکل او هغې سره ئے شامل کړل او په دے طریقه ئے خلق ګمراه کړل۔ اوس په سورۀ زخرف کښ د مشرکانو د یوے بلے شبهے جواب ورکړے شویدے چه مونږ منو دا چه د الله نه سوا هیڅوک متصرف او مختار نشته او زمونږ معبودان حاجت روا نه دی حکه چه ټول هر څه کوونکے الله تعالیٰ دے او مونږ د خپلو معبودانو عبادت حکه کوؤ او هغوی رابلو چه هغوی د الله تعالیٰ په دربار کښ زمونږ سفارشیان دی او زمونږ کارونه په الله تعالیٰ بانډې کوی۔ د سورة په آخر کښ: وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ (الآية) کښ د دے جواب ورکړے شو چه د الله په دربار کښ هیڅوک شفیع غالب نشته او د قیامت په ورځ به صرف د هغه خلقو په حق کښ شفاعت قبول وی چا چه په دُنیا کښ د توحید ګواهی ورکړه۔ په دے وجه د مشرکانو په حق کښ به هیڅ شفاعت نه وی۔

خلاصه تمهید سره د ترغیب نه، درے عقلی دلیلونه چه د هغې نه دوه علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم دی۔ یو په شروع کښ او یو په آخر کښ۔ څلور نقلی دلیلونه، درے تفصیلی او یو اجمالی او یو دلیل وحی او په آخر د سُورت کښ دعویٰ ذکر شوے ده یعنی د شبهے ازاله او مینځ کښ یو ډیر اهم زجر او شکویٰ ده۔

تفصیل

حٰمٓ ۚ وَالْكِتٰبِ ۔ تا ۔ لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ۝ تمهید سره د ترغیب نه او د کتاب د عظمت بیان دے۔ دا روښانه او واضح کتاب چه د ده نوم په لوح محفوظ کښ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ دے، په دے ځان پوهه کړئ او عمل پرے وکړئ۔ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ زجر دے۔ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ ۔ تا ۔ وَمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ تخویف دُنیوی دے۔ مونږ تیرو شوو اُمتونو ته پیغمبران ولیږل۔ هغوی د هغوی پیغمبرانو سره ټوقے وکړے نو مونږ هغه سرکشو له هلاک کړل څوک چه د دے مشرکین قریش نه

هم زیات طاقتور او درونه بدن والا وُو۔

وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ ۔ تا ۔ الۡعَزِيۡزُ الۡعَلِيۡمُ ۝ دا په توحید باندې اولنئ عقلي دلیل دے علی سبیل الاعتراف ۔ که دے مشرکانو نه تپوس وکړې چه زمکه او اسمان چا پیدا کړیدی نو اوبه وائي الله۔ هر کله چه د هر څیز خالق صرف هغه دے نو کارساز هم هغه دے ۔ اَلَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ ۔ تا ۔ مَا تَرۡکَبُوۡنَ ۝ دا په دلیل عقلي باندې تنویرات دی ۔ د زمکے او اسمان خالق صرف هغه دے چا چه زمکه هموار ه وګرزوله او لارے ئے پکښې جوړے کړے اود اسمان نه ئے باران راوُورَولو او مړه زمکه ئے پرے ژوندئ کړه او هر څیز ئے جوړ کړه، اود سورلئ دپاره ئے کشتئ او چارپایان پیدا کړل ۔ دا ټول هر څه ئے دے دپاره وکړل چه تاسو دیکښې غور وفکر وکړئ او پوهه شئ چه ټول هر څه کوُنکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نه دے او تاسو به د هغه طرفته رجوع کوئ ۔

وَجَعَلُوۡا لَهٗ مِنۡ عِبَادِهٖ جُزۡءًا ۔ تا ۔ غَيۡرُ مُبِيۡنٍ ۝ (ع ۲) دا زجر دے په دلیل عقلي او په هغے باندې د زړا اچولو نه ۔ د دے د ثابتولو نه روستو ټول هر څه کوُنکے صرف الله تعالیٰ دے ۔ د مشرکانو د دے عقیدے رد کړے شوے دے چه فرشتے د الله پاك لونړه دی او په کائناتو کښې د الله پاك له طرفه نائب او متصرف دی. او بیا چه د الله طرفته ئے نسبت وکړو نو د لونړو ، حال دا دے چه پخپله د لونړو نه نفرت کوی۔ وَجَعَلُوا الۡمَلٰٓئِكَةَ الخ: دا د زجر اعاده ده اود اول جَعَلُوا تفسیر دے وَقَالُوۡا لَوۡ شَآءَ الرَّحۡمٰنُ الخ، دا شکوی ده د مشرکانو سره چه کله جواب نه وی نو بیا د الله تعالیٰ د مشیت حواله ورکوی او وائي چه که الله تعالیٰ غوښتلے وے نو مونږ به د بتانو عبادت نه وے کړے حالانکه دا دلیل نه دے ۔ شریعت دلیلِ عقلي ، دلیلِ نقلي یا دلیلِ وحی سره ثابتیږی ۔ مَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ۔ د وی سره یو عقلي دلیل هم نشته۔

اَمۡ اٰتَيۡنٰهُمۡ الخ، او د دوی سره کوم نقلي دلیل هم نشته ۔ بَلۡ قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ: او دلیلِ وحی خو د دوی سره چرته هم نشی کیدے ۔ دوی سره که څه دلیل شته نو هغه صرف دا چه زمونږ پلار نیکه چونکه د دے دین (شرك) باندے وُو، د دے دپاره مونږ هم د هغوی په نقش قدم باندې ځو۔ وَکَذٰلِكَ مَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ الخ، دا شکوے سره متعلق دے ۔ ستاسو نه وړاندې چه مونږ په کوم کلی کښې د توحید د مسئلے رسولو دپاره څیل پیغمبر لیږلے دے، د هغے کلی دُنیا دارو او دولتمندو خلقو هم دا جواب ورکړو چه مونږ خپل پلار نیکه په دے باندې موندلی دی نو مونږ به هم د هغوی په قدم روان یو۔ فَانۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ الخ، دا تخویف دُنیوی دے ۔ مونږ د هغه معاندینو نه په دُنیا کښې انتقام واخستو او د هغوی بد انجام د چا نه پټ نه دے ۔

وَاِذۡ قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ لِاَبِيۡهِ الخ (ع ۳) دا د اول دلیل نقلي تفصیل دے حضرت

ابراهیم علیه السلام سره دے دعوی بانـدې چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک د عبادت، دُعا او رابللو لائق نشته - حضرت ابراهیم علیه السلام خپل پلار او خپل قوم ته صفا صفا ویلی وُو چه څهٔ ستاسو ټولو معبودانو باطلو د عبادت او رابللو نه بیزاره یم - الله تعالیٰ دا دعوتِ ابراهیمي (دَ توحید دعوت) دَ هغهٔ په اولادکښې جاري کړو او دَدے دَ تبلیغ دپاره ئے پیغمبران لیږلی وُو - بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ الخ؛ دا اَهلِ مکه طرفته التفات دے دلائل قاهره سره په اهـلِ مکه بانـدې دَ توحید مسئله واضح شوے ده، په دے وجه دَ شبهے ګنجائش نشته بلکه دَ دوی دَ انکار وجه دا ده چه مونږ دوی ته او دَ دوی پلار اونیکهٔ ته په دُنیا کښې دَ عیش سامانونه ډیر زیات ورکړل نو دَ دُنیاوی عیش او دولت په نشه کښې ئے انکار وکړو - وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ الخ؛ دا شکوی ده - دَ دُنیا دولت دوی لره دا سے نشه کړل چه دوی نبوت لره هم خپل حق ګڼړل شروع کړل - اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ : دا جواب دَ شکوے دے - کچرے مونږ دوی ته په دُنیا کښې زیات دولت ورکړو نو دَدے مطلب دا نهٔ دے چه دَ الله تعالیٰ رحمت (چه په کښې نبوت هم داخل دے) تقسیم هم دَ دوی په اختیار کښې دے - وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً الخ : دا وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ الخ (شکوے) سره متعلق دے - دا خلق دَ دُنیا په دولت باندې مغرور شول، اَلبته ئے فضول خبرے شروع کړے حال دا دے چه دَ الله تعالیٰ په نیز دَ اٰخرت په مقابله کښې دَ دُنیا هیڅ وقعت او عزت نشته.

وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ - تا - فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ٥ (ع-۳) زجر سره دَ تخویفِ اُخروی نه او دَ مشرکانو دَ نهٔ منلو وجه کوم خلق چه محض دَ ضد او عناد په وجه توحید نهٔ مني په هغوی باندې شیطان مُسلّط کیږی چه هغوی لره دَ نیغے لارے نه منعه کوی او شرک ورته ښائسته کوی او دوی شرک لره هدایت ګڼړی لیکن دَ قیامت په ورځ چه کله دوی ته دَ خپل انجام پته ولګی نو دَ هغوی نه به بیزاره شی لیکن دغه وخت به ورته دے سره هیڅ فائده نهٔ وی - اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ الخ، دا زجر دے - دَ دوی په زړونو دَ جباریت مُهر لګیدلے دے، اوس دوی په سمه لاره نشی راتلے - فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ الخ؛ دا تخویف دُنیوی دے - دا خلق دَ انتقام نه نشی بچ کیدے خواه ستاسو دَ دُنیا نه رخصتیدلو نه پس وی یا ستاسو په ژوند کښې وی - بهرحال دوی دَ دُنیوی عذاب او رسوایئ نه نشی بچ کیدے.

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ الخ؛ دا دلیل وحی دے - تاسو په حقه او نیغه لاره باندې یئ - دے دپاره تاسو ته چه کومه وحی شوے ده چه صرف دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ او صرف هغهٔ ته اواز کوئ، په دے قائم وسیږئ - وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا الخ؛ دا نقل انبیاء علیهم السلام سره دلیل نقلی اجمالی دے - دَ خپل عزتمند نیکهٔ ابراهیم علیه السلام حال خو تاسو واورید ه، پس دا راته ووایئ چه دَ هغهٔ نه علاوه مونږ دُنیا ته څومره رسولان لیږلی دی ایا دَ هغوی نه مونږ کوم یو ته دَ غیر الله دَ عبادت کولو او

دغیر الله د رابللو اجازت ورکړے وي؟

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی ۔ تا ۔ وَمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ٥ (ع۵) دويم دليل نقلي تفصيلي موسٰی علیه السلام سره، دغه شان متعلق د شکوے سره، وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ الخ او تخويف دنيوي ځنګه چه د مکے مشرکان په نبي علیه السلام اعتراض کوي، فرعون هم په موسٰی علیه السلام باندې داقسمه اعتراضات وکړل - آخر کله چه فرعون تکبر، عناد او د حق سپك کتو لو او د اهلِ حق توهين سره د الله تعالٰی غضب ته دعوت ورکړو نو الله تعالٰی هغه له سره کټول قوم نه غرق کړو او انتقام ئے ترے واخستو او د روستنو پاره ئے د عبرت او نصيحت يوه نمونه وګرځول.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ الخ (ع۶) کله چه د حضرت عيسٰی علیه السلام ذکر راځي نو د مکے مشرکان لاسونه په رقوي چه د ده عبادت هم شوے دے - د دے جواب وَرَاني راروان دے چه هغه هم دا تعليم ورکړے وو چه د الله تعالٰی نه سوا بل د هيچا عبادت مکوئ او بل څوك مه رابلئ او هغه د خپل عبادت حکم هيچا ته نه وو ورکړے بلکه د هغه د رفع آسمان ته ختلو نه پس باغيانو د هغه عبادت شروع کړو - وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً الخ، دا د يوے شبهے جواب دے - مشرکانو ويل چه زمونږ معبودان فرشتے دي نه چه حضرت عيسٰی علیه السلام - کله چه حضرت عيسٰی علیه السلام دلائل او بينات سره راغلے دے نو هغه اعلان وکړو چه زما او ستاسو ټولو مالك او کارساز الله تعالٰی دے - په دے وجه صرف د هغه عبادت کوئ او په حاجتونو کښ مافوق الاسباب صرف هغه ته آواز کوئ، هم دا اسمه لاره ده - فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ الخ، دا د سوال مقدر جواب دے چه کله حضرت عيسٰی علیه السلام صرف د الله تعالٰی د عبادت تعليم ورکوي او هغه د خپل عبادت حکم هيچا ته نه وو ورکړے نو بيا د هغه عبادت ولے اوکړے شو؟ نو د دے جواب ورکړے شو چه روستو باغيانو په توحيد کښ اختلاف اوکړو او حضرت مسيح علیه السلام ئے معبود اوګرځولو - فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا الخ، دا تخويف اخروي دے.


يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ ۔ تا ۔ مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ٥ (ع۷) دا بشارت اخرويه دے ايمان والو ته به د قيامت په ورځ هيڅ غم او ويره نه وي - په جنت کښ به دوي ته هر نعمت ملاويږي او هر خواهش به ئے پکښ پوره کيږي - اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ ۔ تا ۔ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ٥ دا تخويف اخروي دے - مجرمان به په جهنم کښ هميشه وسيږي او دا عذاب به د هغوي نه هيڅکله هم نه قطع کيږي او نه به پکښ کموالے کيږي.

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ الخ، دا اهلِ مکه طرفته التفات دے - اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ٥ : دا زجر دے - مشرکان نبي علیه السلام ته نقصان رسولو د پاره منصوبے جوړوي او مونږ د هغوي د حفاظت فيصله کړے ده - د دوي خيال دے

چه مونږ دَدوی ډیټو پروګرامونو نه خبر یُو حال دا دے چه دَدوی هر یو خبره فرښتو سره محفوظ ده - قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ الخ: دا دَسورت ابتدا: وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا سره متعلق دے یعنی که چرے دَ الله تعالیٰ څوك نائب وے نوما به دَ ټولونه مخکښې دَ هغهٔ خبره منلے او دَ هغهٔ عبادت به م کولے لیکن الله تعالیٰ چه دَ زمکے او اسمان او عرش عظیم مالك دے، هغه دَ نائب نه پاك او منزه دے. فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا الخ: دا زجر سره دَ تخویف دے - وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ تا - وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۝: دا دویم عقلی دلیل دے، په زمکه او اسمان کښې صرف هغه معبودِ برحق او متصرف او کارساز دے - ټول کائنات دَ هغهٔ په قبضه او اختیار کښې دی او دَ قیامت عِلم هم صرف هغهٔ ته دے - هر کله چه په ټولو کائناتو کښې صرف هغه معبود او متصرف او مختار دے نو هیڅوك نائب هم دَ هغهٔ نشته - وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ (الآية): دا دَسورت مرکزی دعوی ده او دَ مشرکانو دَ یو شبهے جواب دے چه مونږ او منو چه دَ الله تعالیٰ نه سوا څوك حاجت روا نشته او ټول هر څهٔ کولو والا هغه دے لیکن مونږ دَ خپلو معبودانو عبادت صرف دے دپاره کوو چه دوی زمونږ سفارشیان دی - وے فرمائیل چه مشرکان دَ الله تعالیٰ نه سوا کوم چا ته اواز کوی هغوی نه دَ دوی په حق کښې دَ سفارش کولو هیڅ اختیار نشته -

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ الخ: دا دریم عقلی دلیل دے علیٰ سَبِیل الاعتراف من الخصم - مشرکان دَ دے خبرے اقرار کوی چه دَ دوی او دَ دوی دَ باطل معبودانو خالق الله تعالیٰ دے لیکن دوی بیا هم نه پوهیږی او الله تعالیٰ دپاره ولد او نائب تجویز کوی -

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ: دا تخویف دے - دا خلق دا سے سرکشه او ضدیان دی چه دَ ایمان راوړلو نوم هم نهٔ اخلی - تاسو دَ دوی نه ډډه وکړئ - تزدے ده چه دوی به په دنیا کښې او بیا په اخرت کښې هم خپل انجام اووینی، او حقیقت به پورے واضح شی -



سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة زخرف مکه کښې نازل شو او دې نهه اتيا (۸۹) آيتونه او نهه (۹) رکوع دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله چه ډیر زیات مهربان نهایت رحم کوونکے دے.

حٰمٓ ﴿١﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا

قسم دے په دے واضح کتاب له موږ وګرځولو دا قرآن په عربي ژبه کښې

لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٣﴾ وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا

دے د پاره چه تاسو پوهه شئ. او بیشکه دا قرآن لوح محفوظ کښې موږ سره دے

لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿٤﴾ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا

ډلوړے مرتبے او مستحکم دے آیا بند کړو له موږ ستاسو نه دا کتاب ګرځولو سره

اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ﴿٥﴾ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ

په دې سبب چه تاسو یئ داسے خلق چه د حد نه تیریږئ وی او ډیر لیږلی دی موږ

نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا

نبیان کښې مخکنو ته. او نه به راتللو خلقو ته څوک پیغام راوړونکے چه په

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٧﴾ فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا

هغه پورے به ئے ټوقے نه کولے. بیا تباه کړل موږ د هغوی نه ډیر طاقتور

وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

او راچلیدلے مثال د مخکنو. او که چرے ته تپوس وکړے د دوی نه چه چا

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ

پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه نو وبه وائی پیدا کړیدی هغه غالب قوی

الْعَلِيْمُ ﴿٩﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ

خبردار (الله) هغه دے چا چه ګرځولے تاسو د پاره زمکه فرش او جوړ کړے ئے دی

لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِي نَزَّلَ

تاسو دپاره په دغه زمکه کښې لارې، ځکه دپاره چه تاسو لاره بیا مومئ ف۱ او چا چه را توئے کړے

مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ

د اسمان نه اوبۀ په اندازه، بیا مونږ راژوندے کړو په دے سره یو ښار مړ،

كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾ وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا

دغه شان به تاسو هم راویستے شئ او چا چه پیدا کړی دی ټول قسمونه جوړه جوړه

وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوُوا

او ګرځولی ئے دی تاسو لره کشتۍ او چارپایان چه تاسو په هغے سوریږئ، ځکه دپاره چه دیاسه کینئ

عَلَىٰ ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ

تاسو د هغوی په شاګانو بیا یاد کړئ د خپل رب احسان کله چه کینئ په

عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا

هغے باندې او وایئ تاسو، پاک دے هغه ذات چا چه تابع کړل مونږ دپاره دا او مونږ

كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾

نۀ وو دد دے په ضبط او قابو کښې راوستو کې، او ز مونږ خپل رب ته بیا واپس ورتلل دي ف۲ ۹

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا ۚ إِنَّ الْإِنسَانَ

او ګرځولے ئے دی الله تعالیٰ دپاره اولاد د هغه د بندګانو نه، بیشکه انسان

لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

ډیر ناشکره دے ښکاره۔

نکات: ۱ تمهید سره د ترغیب نه۔ ۲ زجر، استفهام انکاری دے۔ ۳ تخویف دُنیوی دے۔ ۴ توحید باندې دوهم عقلی دلیل علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم۔ ۵ اول دلیل باندې زیاتې اچول۔ ۶ شکوی۔

موضح قرآن ف۱ یعنی د دے وجے نه چه تاسو منزل ته ورسیږئ ایا مونږ حکم لیږل بند کړو۔ ف۲ یعنی څو مره حد ده پورے چه انسانان آباد دی

او وسيي ئ خپل مينځ کښې بيويل تنه دَرسيدلو لاره بيا مومي - ف۳ دِے سفرونو سره دَ آخرت سفر يا دکړئ - رَسُول الله صلى الله عليه وسلم به چه کله په سورلئ سوريږلو نو همدا تسبيح به ئے وئيله -

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائي چه قسم خوړل په يو شيز دپاره دَ اثبات دَ هغه شيز يا لازم دَ دغه شيز کنايه دَه په دے چه دغه شيز پخپله دليل دے چنانچه وائي : ے

قسم به لب ميگون تو وزلف شگون تو کہ تو معشوق دلربائی - والله اعلم -

ف۲ يعني عاديان او ثموديان دَ قريشو نه ډير زيات طاقتور وُو - ف۳ يعني دَ قبرونو نه -

تفسير ۲ه وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝ دا تمهيد دے سره دَ ترغيب نه او دَ قرآن دَ عظمتِ شان بيان دے - واؤ قسميه دے او جواب محذوف دے اى انك لمن المرسلين او انك لرسولٌ صادق - او اِنَّا جَعَلْنٰهُ استيناف دے يعني دا واضح او روښانه کتاب په دے گواه دے چه تاسو دَ الله تعالیٰ رښتونے رَسُول يئ . قاله الشيخ رحمه الله - يا اِنَّا جَعَلْنٰهُ الخ جواب دقسم منکور دے يعني دا کتاب چه په واضح او فصيح او بليغ عربي ژبه کښې پخپله دے باندِ شاهد دے چه مونږ دا په عربي ژبه کښې نازل کړے دے ، دپاره دَدے چه تاسو دا پخپله مورنئ ژبه کښې دِے باندِ پوهه شئ (روح) لکه چه دا قرآن پخپله گواه دے ، ے

آفتاب آمد دليل آفتاب ؛

تائيد ، لٰكِنِ اللهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ وَاَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۔ دقسم دوه قسمونه دی : (۱) کوم کښې چه ما فوق الاسباب قادر او عالم الغيب گنړلو سره قسم خوړلے شي. او په هغې کښې دا تصور کولے شي چه که دَ هغهٔ مخالفت وکړے شي نو دا به ورته ضرر اورسوي - دا قسم په غير الله باندِ جائز نهٔ دے -

(۲) مُقسم به په جواب دَ قسم باندِ په طور دَ گواه پيش کولے شي - دلته قسم دو دے قبيل نه دے او دا قسم دَ غير الله جائز دے - وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ الخ :- دَ أم الكتاب نه لوح محفوظ مراد دے يعني دَ قرآن دَ عظمت شان حال دا دے چه چه په لوح محفوظ کښې هغه په ټولو کتابونو باندِ اوچت او حاکم دے او دَ هر قسم لفظي او معنوي فساد او نقصان نه پاک دے :

وهذا فيه تشريف للقرآن وترفيع بكونه لديه علياً على جميع الكتب وعالياً عن وجوه الفساد حكيماً اى حاكماً على سائر الكتب او محكماً بكونه فى غاية البلاغة والفصاحة وصحة المعانى (بحر ، ج ۸ ص ۵)

يا مطلب دا دے چه په لوح محفوظ کښې دَدے قرآن نوم عَلِيٌّ حَكِيْمٌ دے - قاله الشيخ رحمه الله تعالیٰ -

۳ے اَفَنَضۡرِبُ عَنۡكُمُ (الآیۃ) : دا زجر دے او ذکر نه یا قرآن مراد دے یا دَ توحید دعوت یا تذکره او تخویف۔ (کبیر، بحر) او صَفۡحًا د نضرب دپاره مفعول مطلق دے من غیر لفظه۔ قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ، وکذا فی الروح۔ ﴿اَنۡ كُنۡتُمۡ﴾ نه لان اجلیه مقدر دے : ای لان کنتم (بیضاوی) مطلب دا دے چه آیا موږ د قرآن نازلول بند کړو او تاسو ته دَ توحید دعوت درکول پریږدو خالص دَدے وجے نه چه تاسو دَ انصاف دَ حد نه تیر شوئ او ضد او عناد بانږ راغلی یئ او دَ قادر قیوم الله دپاره تاسو نائب تجویز کول شروع کړیدی؟ یا صفحًا مفعول له دے۔ مفعول له علٰی معنی انعزل عنکم انزال القرآن والزام الحجة به اعراضًا عنکم (بحر ج ۸ ص ۲) او استفهام انکاری دے یعنی دا سے نشی کیدے بلکه موږ به تاسو ته دَ توحید دعوت درکوو او دَ نه منلو په صورت کښ به سزا هم درکوو :

وهذا استفهام علیٰ سبیل الانکار یعنی انا لا نترك هذا الاعذار و الانذار بسبب کونکم مسرفین ---- بل نلزمکم العمل وندعوکم الی الدین ونؤاخذکم متی اخللتم بالواجب وقدمتم علی القبیح (کبیر ج ۲۳)

۴ے وَكَمۡ اَرۡسَلۡنَا – تا – مَثَلُ الۡاَوَّلِیۡنَ ۝ : دا تخویف دُنیوی دے او دَدے نه مقصود ترغیب دے۔ دَ مشرکانو انکار څه نوے خبره نهٔ ده ، دَدوی نه مخکښ هم موږ تیر شوؤ اُمتونو له پیغمبران لیږلی وو ، هغوی ته چه کوم پیغمبر هم راغلے دے نو دروغژن ئے گنړلے دے او ټوقے ئے ورپورے کړیدی نو موږ دَ هغوی نه سرکښه او نافرمانه مشرکان تباه کړل کوم چه دَدے مشرکینِ قریش نه زیات سخت او زیات طاقتور وو او دَدوی نه ډیر دَ لوئے او مضبوطے چلے والا وو۔ دَ مخکښو اُمتونو مثال تیر شویدے۔ په دِے وجه دَ قریشو مشرکانو له ویریدل پکار دی چه چرته دوی بانږ هم هغه شان عذاب نازل نشی څنګه چه په مخکښو سرکشو قومونو بانږ نازل شو۔ ای فلیحذر قریش ان یحل بهم مثل ما حل بالاولین مکذبی الرسل من العقوبة۔ (بحر، ج ۸ ص ۶)۔

۵ے وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ (الآیۃ) : دا په توحید بانږ اُولنے عقلی دلیل دے علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم۔ یعنی دا الله تعالیٰ په توحید او دَ هغهٔ دَ شرك او نائب متصرف نه منزه کیدلو بانږ دا سے حقیقت سره استدلال کړے شویدے چه دَ قریشو مشرکان هم هغه منی او دَ هغے اقرار کوی۔ یعنی دَدوی نه تپوس وکړه : بنهٔ ده نو اُووایئ دَ زمکے او آسمانونو خالق او موجد څوك دے؟ نو صفا اقرار به وکړی چه الله تعالیٰ چه په ټولو غالب او دَ ټول هر څهٔ نه خبر دے ، هغه دَ زمکے او آسمان خالق دے۔ هر کله چه تاسو اُومنله چه دَ عالم علوی او عالم سفلی خالق او موجد الله تعالیٰ دے او دَ ټول کائنات په ایجاد کښ هغهٔ سره هیڅوك شریك نشته نو باطل معبودان په دِے کائنات کښ په تصرف او اختیار کښ دا الله تعالیٰ سره شریك

او نائب منل ستاسو د اولنی اقرار خلاف دی۔ هر کله چه د کائناتو په موجودولو کښی
هغهٔ سره څوک شریک نشته نو په تصرف او اختیار کښی د هغهٔ نائب هم څوک نشته۔
خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ؛ دا د مشرکانو په جواب کښی تعبیر بالمعنیٰ دے۔ دا مطلب نهٔ
دے چه هغوی دا الفاظ وئیلی دی ځکه چه بل ځائے کښی لیقولن الله راغلے دے۔
مطلب دا دے چه مشرکان به د زمکے او اسمان پیدا کول د هغهٔ ذات طرفته منسوب
کوی کوم چه دے صفتونو سره متصف دے۔

۶ اَلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ — تا — مَا تَرْكَبُونَ ۝ : اولنی دلیل عقلی بانداز تنویر (رنړا اچول)
دی یعنی دا ټول صفتونه هغه خالق د کائناتو پورے خاص کړے شویدی او دا ټول
کارونه صرف هغه کولے شی، د هغه نه سوا هیڅوک دا نشی کولے۔ اَلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ
الْأَرْضَ مَهْدًا الخ، هغه دا زمکه زمونږ دپاره د ارام او راحت ځائے وګرځولو چه
د هغے نه مونږ ته هر ضرورت او سهولت حاصلیږی، په هغے باندے کلی راتلل، کورونه
جوړول، فصلونه کرل، نهرونه کنستل ټول هر څهٔ اسان دی۔ او بیا په زمکه کښی ئے
لارے جوړے کړے چه د هغے په ذریعه مونږ اسانئ سره سفر کولے شو۔ دا ټول
هر څهٔ د الله تعالیٰ د قدرت او حکمت عجیبه کارنامه ده۔ وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ
مَاءً الخ، هغه د اسمان نه د رحمت باران نازلولو سره او وچے زمکے ته فصلونو
زرغونولو سره نوے ژوند ورکوی۔ نو څوک دے چه دا کار کولے شی؟ كَذَٰلِكَ
تُخْرَجُونَ ۝ : دا جمله معترضه ده څنګه چه الله تعالیٰ مړه زمکه شنه کوی او نوے
ژوند ورته ورکوی، دا رنګے هغه د انسانانو دوباره ژوندی کولو باندے هم قادر دے
نو لکه څنګه چه دا دلیل د الله تعالیٰ متصرف او کارساز او قدیر حکیم کیدلو باندے
دلالت کوی دغه شان د دے دلیل نه حشر او نشر هم ثابتیدے شی۔

۷ وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ (الآية): او خاص هغه د مخلوق دا ټول اقسام پیدا کړل
چه په رنګ، بوئ، خوند او جنس کښی مختلف او قسما قسم دی۔ قال ابن عباس رض
الازواج الضروب والانواع کالحلو والحامض والابیض والاسود والذکر والانثیٰ
(روح ج ۲۵ ص ۶۷) او خاص هغه کشتئ او د سورلئ چارپایان پیدا کړل د دے دپاره
چه تاسو په وچه او لونده سفر په اسانئ او ارام سره وکړئ۔ د دے ټولو افعالو
او صفاتو کښی الله تعالیٰ یواځے او خالق دے او هغه یواځے متصرف او کارساز
دے۔ په دے وجه د هغه نائب نشته۔

۸ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ : دیکښی ئے د پورتنی ذکر شوی نعمت د شکر ادا کولو د
طریقے تعلیم ورکړو۔ دا د سورلئ چارپایان ئے د دے دپاره پیدا کړل چه کله تاسو په
دے باندے سورلی کوئ نو د الله تعالیٰ دا نعمت یاد کړئ او په ژبه سره د هغه
تسبیح او پاکی بیان کړئ چه هغه د هر شریک او نائب او د هر نقص او عیب نه پاک او
منزه دے چه هغه دا طاقتور او لوئے بدنونو والا چارپایان زمونږ تابع کړل حالانکه

مونږ دا د خپل ځان تابع او خپله قبضه کښې د راوستلو طاقت نه لرلو. په چارپایانو باندې د سورلئ کولو په وخت دا دعا ویل پکار دی. سُبْحٰنَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ ۙ وَاِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝ .

ف وَاِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝: دا ټول هر څه الله تعالیٰ دے د پاره پیدا کړی دی چه تاسو دے ته وګورئ او دیکښې غور او فکر کولو سره پوهه شئ چه ټول هر څه کولو والا صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نشته. او په آخرکښې ټول د الله تعالیٰ طرفته رجوع کونکی دی. دے سورت کښې دوه دعوے ذکرشویدی. اول دا چه متصرف او کارساز او خالق د کائناتو الله تعالیٰ دے. دویم دا چه د الله تعالیٰ څوک نائب نشته. تر دے ځائے پورے یوه دعوی ثابته شوه چه ټول هر څه کونکے الله تعالیٰ دے. اول جزء د مشرکانو اقرار سره او دویم جزء دلیل عقلی باندې راوړے شوے تنویر سره. دویمه دعوی مخکښې راتلونکو دلائل عقلیه سره ثابتولے شی.

ف وَجَعَلُوْا لَهٗ — تا — عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِیْنَ ۝: شکوه ده د مشرکانو اقرار (دلیل عقلی) سره او بیا په دلیل باتنویر سره ثابته شوه چه د هر څه خالق او ټول هر څه کونکے صرف الله تعالیٰ دے. اوس مشرکانو د مکے باندې شکوی وکړے شوه کوم چه فرښتے د الله تعالیٰ لونړه او د هغه نائب او متصرف منی. جزء ا ای ولدًا. د ولد نه جزء سره تعبیر اوکړے شو او مراد تري نه نائب متصرف دے نه چه حقیقی ولد لکه چه ډیرو ځایونوکښې دوے ته اتخاذ ولد سره تعبیر کړے شوے دے. ای قالوا الملٰئکة بنات الله (مدارک ج ۴ ص ۸۷) یا د جزء معنی برابر او همسر ده امام قتاده فرمائی د جزء نه معبود د غیر الله مراد دے. حاصل دا دے چه د دے اقرار باوجود چه د ټولو کائناتو خالق الله تعالیٰ دے، بیا هم مشرکان د هغه مخلوق او بندګان هغه سره په عبادت، تعظیم او صفاتوکښې شریک کرځوی. جزءًا ای عدلاً. عن قتادة یعنی ما عبد من دون الله عزوجل (قرطبی ج ۱۶ ص ۶۹) وقال قتادة جزءًا ای ندًا. (بحر ج ۸ ص ۸) بیشکه انسان ډیر ناشکره دے او د ده ناشکری بالکل واضحه او ښکاره ده چه دے خپل خالق او مالک او د ټولو کائناتو بادشاه هم په خپلو صفتونو کښې یو او وحده لاشریک نه منی او العیاذ بالله هغه نائبیتو ته محتاج ګڼری.

اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا یَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِیْنَ ﴿۱۶﴾

آیا هغه اوساتلے د خپل مخلوق نه الله لونړه او وستاسو د پاره ئے غوره کړل ځامن؟

وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ

او کله چه د دوی نه چا ته زیرے ورکړے شی د هغه څیز کوم چه ئے د رحمٰن په نوم کرځولے دے د ده نو ټوله ورځ

وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُا فِي

شي مخ دَ هغهٔ تور او زړګی ئے ډک وي له غمه. آیا دا سے کس چه پرورش مومی ګڼه په

الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ

ګالوکښې ، او هغه په جهګړه کښې خبره نشي کولے. او ګرزولی دی دوی فرښتے

الَّذِينَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ إِنٰثًا ۚ أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ ۚ

چه بندګان دي د الله ښځے؟ آیا لیدل دوی دَ هغوی پیدا کیدل؟

سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا لَوْ شَآءَ

اوس به مونږ اولیکو دَ دوی ګواهي او دَ دوی نه به تپوس کولے شي ۱۹ او وائی چه که خوښه وے ګله

الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ۗ مَّا لَهُم بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ

رحمان نو مونږ به دَ دوی عبادت نکولے، هیڅ خبر نشته دوی په دے،

إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّن قَبْلِهِ

دا بټول ګمانونه چلوی ۲۰ - آیا مونږ ورکړے وو کتاب ورکړے دوی تر دے نه مخکښې

فَهُم بِهِ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوٓا إِنَّا وَجَدْنَآ

پس دوی هغه مضبوط نیولے دے؟ ۲۱، بلکه وائی مونږ موندلی دی

اٰبَآءَنَا عَلٰٓى أُمَّةٍ وَّإِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِم مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾

خپل پلرونه په یوه لاره او مونږ دَ هغوی په قدم مونږ پا نښانو لار موندلې.

وَكَذٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن

او همدا رنګے څوک چه مونږ ولیږل ستا نه مخکښې ویرونکی په کوم یو

نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ ۙ إِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا

کلی کښې نو وویل دَ هغے (کلی) خوشاله خلقو : مونږ خو بیا موندلی خپل پلرونه نیکونه

عَلٰٓى أُمَّةٍ وَّإِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾ قٰلَ

په یوه لاره باندې او مونږ دَ هغوی په قدم مونږ باندې روان یو. هغهٔ اووییل

أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ آبَاءَكُمْ ۖ

اوکوم چه ما تاسو ته راوړی یا ډیر ښه لاره ده ډیره نه په کوم چه تاسو موندلی دی خپل پلرونه او نیکونه،

قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَانتَقَمْنَا

نو هغوی دا ووئیل موږ که ستاسو را او رسے شوے (دین) نه منو. بیا موږ د هغوی نه بدله

مِنْهُمْ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ ع

واخستله پس وګوره څنګه شو انجام د دروغژن ګڼرونکو.

نکات: ۱ استفهام انکاری دپاره د تعجب. ۲ اعاده د شکوے. ۳ استفهام انکاری. ۴ شکوی. ۵ جواب شکوی او اشاره په دلیل عقلی. ۶ دلیل نقلی. ۷ متعلق شکوے سره او تمهید دپاره د تخویف دنیوی. ۸ تخویف دنیوی.

موضح قرآن ف۱ دا چه ئے وفرمایل چه د الله تعالیٰ بندګان دی یعنی لونړه نه دی او معلومه شوه چه فرښتے اګرچه نه ورته نر ویلے شی او نه ښځے بلکه د الله تعالیٰ یو جدا او بیل مخلوق دے.
ف۲ دوی ته هیڅ خبر نشته یعنی دا خو ریښتیا دی چه د الله تعالیٰ د ارادے نه بغیر هیڅ نشی کیدے لیکن د دے نه د هر څیز بهتر او د فائدے کیدل نه ثابتیږی هغه رزق هم پیدا کړے دے او زهر هم لیکن زهر څوک خوری؟
ف۳ یعنی بهتر والے د شرک په دے طریقه ثابتیږی.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د لور په پیدا کیدلو.

تفسیر ۱۱ أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ (الآیة): استفهام انکاری دے دپاره د تعجب. آیا ستاسو د باطل خیال مطابق الله تعالیٰ د خپل مخلوق نه ځان دپاره لونړه غوره کړیدی او ځامن ئے ستاسو دپاره مختص کړیدی. دا د مشرکانو په جهالت او سرکشئ باندے د تعجب اظهار دے. دوی الله پاک طرفته هغه څیز (لونړو) نسبت کوی چه هغه دوی پخپله ډیرے زیاتے سپکے او ذلیله ګڼړی. وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ الخ دا د دوی د حماقت او جهالت زیاتی بیان دے. ضَرَبَ ای جعل مثلاً ای صفةً او حالاً. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. یا مثلاً په معنیٰ د شبهاً دے. ای بالجنس الذی جعله له مثلاً ای شبهاً (مدارک ج ۴ ص ۸۸) او د دے مشرکانو خپل حال دا دے چه کوم جنس (لونړه) هغوی د الله تعالیٰ مماثل او مشابه ګرځولی دی او د هغه طرفته ئے منسوب کړیدی کله چه هغه د دوی کورته راشی او خبر ورته ملاؤ شی چه

دے کور کښې جینۍ پیدا شوے ده نو د غم او خفګان، افسوس او ملامتیا نه ئے مخ تور شي او په غم او خفګان کښې ډوب شي.

۱۲ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ (الآية) دا هم د مشرکانو د قول زیات قبا حت او بدی بیانول دی. ایا دوی دغه جنس الله پاک طرفته منسوب کړیدے چه د کوم پرورش په کالو او زیوراتو کښې کیږي یعنې لونړه او دا د هغوي د کمزوري او ضعیف کیدلو دلیل دے او په جنګ جهګړه کښې هغوي په خپله مُدعا باندے واضح او روښانه دلیل نشي پیش کولے، دا د هغوي د عقلي او ذهني نقصان علامه ده. د مشرکانو دا قول شومره ډیر قبیح او بد دے چه یو بیکاره ذلیل جنس ئے الله پاک طرفته منسوب کړو او هغه ئے د الله تعالیٰ نائب او متصرف وګرځولو.

۱۳ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ (الآية): دا اعاده ده او د وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا: دپاره تفسیر دے. دے ظالمانو د فرشتو باره کښې دا اُوویل چه هغه د الله تعالیٰ لونړه دی حالانکه فرشتے د الله تعالیٰ حکم منونکي او عبادت کونکي بندګان دی. بندګي او خوی ولي کښې بشکاره تضاد دے. څنګه چه بنده وی هغه څوک او بچي نشي کیدے چه هغه د الله پاک نائب وګرځولے شي: و العباد جمع عبد و هو الزام في الحجاج مع اهل العناد لتضاد بين العبودية والولاد (مدارک ج ۴ ص ۸۰) ذکر العباد مدح لهم، اى كيف عبدوا من هو في نهاية العبادة. (قرطبي ص ۷۳ ج ۱۶)

اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ الخ: ایا د فرشتو پیدائش په وخت دوی هلته حاضر او موجود وُو او دوی په خپلو سترګو د هغوي د ښځو کیدو مشاهده کړیده؟ دا استفهام انکاری دے یعنی دا سے نه ده لیکن دوی اټکل او ګمان سره یوه خبره کوی چه دوی سره ئے هیڅ دلیل نشته. د فرشتو باره کښې د دوی دا بیان چه هغوي اِنَاث (ښځے) دی لیکلے شوے دے او د قیامت په ورځ به ترینه د دے تپوس کولے شي. دا تخویف اُخروی طرفته اشاره ده.

۱۴ وَقَالُوْا لَوْشَآءَ: دا شکوه ده. کله چه مشرکان لاجوابه شي نو د الله پاک د مشیت پناه اخلي چه که الله پاک ته منظوره وے نو مونږ به د فرشتو عبادت نه کولے او هغوي به مو د الله تعالیٰ نائبان نه ګرځولے یعنی بیا که الله تعالیٰ غوښتلے وے نو مونږ به زبردستئ سره منعه کړے وے. هرکله چه هغه زمونږ او د هغوي په مینځ کښې حائل نشو نو معلومه شوه چه هغه پدے خوشاله دے. مَالَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ الخ: دا جواب شکوه دے. د الله تعالیٰ مشیت او د هغه اراده د یو فعل د جواز دلیل نشي جوړیدے ځکه چه دے کائناتو کښې کوم څه چه کیږي، حَسن او قبیح (ښه او بد)، خیر او شر ټول هر څه د هغه په اراده کیږي، د هغه د ارادے نه بغیر څوک یو ذره هم نشي خوزیدلے. الله تعالیٰ د انبیاء علیهم السلام په ذریعه او د دلائل انفس (کوم چه د دوی په خپل ذات کښې موجود دی)

او دَ دلائلِ آفاق (کوم چه دَ دوی نه گېر چاپېره اطرافو کښې موجود دی) سره حق او باطل واضح کړے دے او هر انسان ته ئے حکم ورکړے دے چه هغه دَ دواړو نه کوم یو اختیار کړی، دپاره دَ دے چه دَ امتحان او ابتلاء تقاضا پوره شی لیکن دَ هغهٔ رضا او خوشالول صرف نیکو کارونو سره متعلق دی. باقی پاتے شو دَ بدو کار دَ جواز دَ دلیل سوال نو دلیل عقلی او نقلی او وحی سره پیش کولے شی. او دے مشرکانو سره دُ شرک په حق کښې ددے درے وارو دلیلونو نه هیڅ یو دلیل هم موجود نه دے.

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ الخ: دیکښې دَ دلیل عقلی نفی کړے شوے ده چه دوی سره دَ فرشتو په معبود او دَ الله تعالیٰ نائب گڼلو باندې هیڅ عقلی دلیل موجود نشته. دوی چه کوم څهٔ وائی خالص اټکل او گمان سره ئے وائی: ای یقولون قولا باطلا بالظن والتخمین. (مظهری ج ۸ ص ۳۴۳).

۱۵ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا (الآية): دیکښې دَ دلیل نقلی نفی شوے ده او استفهام انکاری دے یعنی دوی سره دَ مخکنو کتابونو نه څهٔ داسے دلیل نشته چه هغے سره دوی دلیل ونیسی او فرشتے معبود او گرځوی. بان یعبدوا غیر الله وینسبوا الیه الولد (جامع البیان ص ۴۲). بَلْ قَالُوْا الخ: دَ دلیل عقلی او نقلی نفی کولو نه پس دلیل وحی په خپله نفی کېږی ځکه چه وحی ربانی هم دَ هغوی خلاف ده. دے دپاره دوی چه دَ هر طرف نه لاجوابه شی نو وائی موږ سره خو دَ عقل، نقل او وحی هیڅ دلیل نشته چه کوم مطالبه تاسو کوئی بلکه موږ دا عقیده او عمل دَ خپل پلار نیکهٔ نه اخستی دی. موږ هغوی لره په دے دین او طریقه باندې موندلی دی. دوی به فرشتو ته دَ الله تعالیٰ لوڼه وئیلے او دَ هغوی عبادت او تعظیم به ئے کولو او هغه به ئے دَ الله تعالیٰ نائب او دَ الله تعالیٰ په نزد شفیع غالب گڼړلے. دَ دے وجے نه موږ هم په پټو سترگو دَ هغوی په نقش قدم باندے روان یو.

۱۶ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا (الآية): دا متعلق دے دَ شکوے سره او دَ تخویف دنیوی تمهید دے. دَ مخکنو امتونو حال بعینه دَ مکے دَ مشرکانو پشان دے چه هغوی ته به دَ الله پاک له طرفه کوم یو پیغمبر راغے هغه ته هم دا جواب ورکړے شو. کله چه به دَ الله پیغمبر هغوی ته دَ توحید دعوت ورکولو او دَ هغهٔ دعذاب نه به ئے وېرول نو دَ دولت او طاقت په نشه کښې مست او سرکشه او عناد کړه چلے به دَ هغوی دَ دعوت په جواب کښې وئیل چه موږ ستا خبره منلو ته تیار نه یو موږ چه خپل پلار نیکهٔ په کومه طریقه او دین باندې موندلی دی موږ به دَ هغے تبعیت اړیع کوو او په هغه لاره باندې به روان یو. قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ: دَ هغے په جواب کښې به ورته پیغمبر علیه السلام وئیل څهٔ ستاسو په مخکښې یو داسے دین پیش کړم چه ستاسو دَ پلار نیکهٔ دَ دین نه غوره او دَ الله تعالیٰ دَ هدایت سره بالکل

موافق دے نو آیا بیا هم تاسو دَ هغې په مقابله کښې دَ خپل پلارنیکهٔ دروغژن دین منئ؟ نو دَ دے په جواب کښې به مشرکانو ډیر په سرکشئ او بے ادبئ سره وئیل کوم دین چه تاسو راوړے دے مونږ هغه په هیڅ حال کښې نهٔ منو او مونږ به همیشه دَ دے نه انکار کوونکی یو۔

۲۵ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ (الآیة): دا تخویف دُنیوی دے ځکه چه دے کافرانو او مشرکانو عنادا و سرکشئ کښې انتهاء وکړه او دَ توحید دعوت ئے او نهٔ منلو، انبیاء علیهم السلام ته ئے تکلیفونه اُورسول او انکار او ټوقے مسخرے ئے ورپورے وکړے نو مونږ مختلف قِسم مصیبتونو او آفتونو او قسما قسم عذابونو سره په دُنیا کښې دوی لره تباه او برباد کړل او دَ دوی نه مونږ له واخستله. اُوس وګوره دَ دروغژنو انجام څرنګه شو. دَ قریشو مشرکانو له هم دداسے انجام نه ویریدل پکار دی او تاسو دَ دوی په تکذیب پانږ پروا مکوئ. دا نبی علیه السلام ته تسلی ده. تسلیة له صلی الله علیه وسلم وارشاد الی عدم الاکتراث بتکذیب قومه ایاه علیه الصلوٰة والسلام. (روح ج ۲۵ ص ۷۶)۔

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ
او کله چه ووئیل ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته او دَ هغهٔ قوم ته څهٔ لرے یم
مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾
دَ هغه څیزونو نه دَ کوم چه تاسو عبادت کوئ، لیکن چا چه زهٔ پیدا کړے یم نو هغه به ما ته لاره اوښائی او
وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾
او دا خبره ئے روستو پریښوده په خپل اولاد کښې دے دپاره چه هغوی رجوع وکړی
بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتّٰى جَآءَهُمُ
(هیڅ خبره نشته) بلکه ما فائده ورکړه دے هغوی ته او دَ هغوی پلارنیکهٔ ته تر دے چه راغے دوی ته
ٱلْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ قَالُوا۟
دین رښتونے او رسول واضح بیان کوونکے۔ او کله چه راغے دوی ته رښتونے دین وے وئیل
هٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِۦ كٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوا۟ لَوْلَا
دا جادو دے او مونږ دا نهٔ منو۔ او وائی ولے نازل

نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ

ولې نه شو نازل دا قرآن په يو لوئي سړي باندې د دې دواړو

عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾ اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحْنُ قَسَمْنَا

کلو نه ف۲ فلا آیا دوی تقسیموی رحمت ستا د رب، مونږ تقسیم کړې دې

بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ

په مینځ د دوی کښې رزق د دوی د دنیا په ژوند کښې او اوچت کړې مونږ دې درجې

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ

د بعضو په بعضو باندې چه ونیسي یو بل لره خدمتګار ف۳

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَوْلَآ اَنْ

او رحمت ستا د رب بهتر دې د هغه څیزونو نه کوم چه جمع کوی ف۱ او که چیرې دا خبره نه وې چه

يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ

ټول خلق ځله به شي په یو دین باندې نو مونږ به ورکړې وې هغه چا ته چه منکر دی

بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ

د رحمٰن نه د هغوی کورونو دپاره چهتونه د سپینو زرو او اندرپایې

عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ ۙ وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا

چه په هغې باندې به ختل او د هغوی کورونو دپاره دروازې او تختونه چه

عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ ۙ وَزُخْرُفًا ؕ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ

په هغې به ئې تکیه لګوله په ناسته، او د سرو زرو، او دا ټول هر څه نه دی

لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ

مګر نفع ځله د دنیا د ژوند او اخرت ستا د رب په نزد هغه چا دپاره

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ ع

دې څوک چه ویریږي ف۲

نکات: ۱ اول دلیل نقلي تفصیلي. ۲ شکوی. ۳ جواب شکوی، استفهام انکاري دے. ۴ دا د ذکرشوے شکوے سره متعلق دے. ۵ ثمره د ما قبل.

موضح قرآن ف۱ د لته نے دا قصه ځکه د یاد کړه فرمائیلے ده چه ګوري ستاسو پیشوا او پلار (ابراهیم علیه السلام) د خپل پلار غلطه لاره ولیدله نو هغه ئے پریخودله، تاسو هم د غسے وکړئ. ف۲ د مکے او د طائف په یَو سردار باندے. ف۳ یعني الله تعالیٰ د دُنیا روزي د هغوی په تجویز باندے نه ده تقسیم کړے، نو پیغمبر به ئے د دوی په تجویز څنګه ورکړي. ف۴ کافرانو لره الله تعالیٰ پیدا کړل، که دنیا کښې ورته آرام او راحت ورکړي نو په آخرت کښې خو ورله عذاب دے، دُنیا کښې خو به هغه ته آرام ملاؤ شوے وے خو که دا سے شوے وے نو ټولو به کفر اختیار کړے وے.

فتح الرحمن ف۱ یعني انبیاء او اولیاء په اولاد د حضرت ابراهیم علیه السلام کښې پیدا شول. ف۲ یعني د مالدارانو د مکے او طائف نه. ف۳ یعني د حقارت په نظر ورته ګوري.

تفسیر ۱۸ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِیْمُ: اول نے دلیل نقلي تفصیلي حضرت ابراهیم علیه السلام سره. اِلَّا الَّذِیْ کښې استثناء منقطع ده (مدارک و بحر) حضرت ابراهیم علیه السلام چه جدّ الانبیاء (د پیغمبرانو نیکه) او د مکے د مشرکانو مشرنیکه وو، د هغه تعلیم دا وو چه هغه د خپل پلار او خپل قوم په مخکښې واضح او ښکاره الفاظو کښې دا اعلان کړے وو چه تاسو د کوم باطل معبودانو عبادت او تعظیم کوئ او کوم چه په حاجتونو او مشکلاتو کښې رابلئ څه د هغه ټولو نه سخت بیزاره یم لیکن هغه پاک ذات چا چه څه پیدا کړے یم د هغه عبادت کوم او هغه په خپلو حاجتونو او مشکلاتو کښې رابلم. هغه څه په دے هدایت باندے قائم ساتلے یم. سَیَهْدِیْنِ کښې سین د تاکید د پاره دے، استقبال د پاره نه دے (روح) یهدین ای یثبتني علی الهدایة. (مدارک)

۱۹ جَعَلَهَا کَلِمَةً (الایة) مؤنث ضمیر کلمه د توحید یا د توحید د دعوت ته کنایه دے. یعني الله تعالیٰ توحید ته د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښې دوام او همیشوالے ورکړو چه د هغه په اولاد کښې به توحید باقي پاتے وي او د هغه په اولاد کښې به انبیاء او علماء وي چه د توحید تبلیغ به کوي تر دے چه په خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم باندے به نبوت ختم شي. لیکن د توحید د دعوت او تبلیغ کار به د علماء کرامو په ذریعه تر قیامته پورے جاري وي د پاره د دے چه شرک کونکي د هغوی د دعوت او تبلیغ نه متأثره شي او شرک نه منع شي:

والضمیر المنصوب لکلمة التوحید اعني لا اله الا الله کما روي عن قتادة ومجاهد والسدي (روح ج ۲۵ ص ۷۷) فی عقبه ای فی ذریته ....

فلا یزال فیهم من یوحد الله و یدعو الی التوحید- (بحر، ج ۸ ص ۱۲)-

۲۰ه بَلْ مَتَّعْتُ هٰۤؤُلَآءِ : کله چه د حضرت ابراهیم علیه السلام په اولاد کښ الله تعالیٰ توحید لره قائم دائم کړو نو بیا دا د مکے مشرکان کوم چه د هغهٔ په اولاد کښ دی ولے مشرکان شول؟ آیا د توحید متعلق د دوی په زړونو کښ شبهات دی؟ د دے جواب ورکړے شو، په توحید باندے دداسے واضحه او روښانه دلائل قائمیدلو نه پس کوم د شبے ځائے شته؟ قرآن کریم ټول شبهات لرے کوی بلکه مونږ هغوی او د هغوی پلرونو نیکونو ته د دُنیا مال دولت او سامانونه ډیر زیات ورکړی وُو او هغوی په دُنیوی عیش او لذت کښ مشغول شوی دی او د توحید نه منکر شول تر دے چه اوس بیا دوی ته د حق دعوت (قرآن) راؤرسید ۀ او د توحید وضاحت او تشریح کوونکے پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تشریف راؤړو، هغوی هم دغه ابراهیمی دعوت ځان سره راوړے دے:

الحق ای القرآن ورسول ای محمد علیه السلام (مدارک ج ۴ ص ۸۹)

ای محمد صلی الله علیه وسلم بالتوحید والاسلام الذی هو اصل دین ابراهیم وهو الکلمة التی بقاها الله فی عقبه (قرطبی ج ۱۶ ص ۸۲)-

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ الخ: او کله چه قرآن راغے چه دوی د غفلت د خوب نه راپاسوی او د توحید د دعوت حاصل دے نو د تحقیر او عناد په لهجه کښ ئے وویل چه دا جادو دے او مونږ دا نهٔ منو-

۲۱ه وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ : دا شکوه ده- دا د مشرکانو د جهالت او د هغوی د عناد او انکار یو بل قسم دے- هغوی خپل جهالت او ناپوهئ سره دا گنړل چه اول خو څوک پیغمبر کیدے نشی او که الله تعالیٰ ته منظوره وے چه هغه چا انسان او بشر ته دا مرتبه ورکړی نو د دے د پاره یو داسے انسان لره غوره کول پکار وُو چه دُنیوی اعتبار سره د ډیر لوئے سړے وے یعنی دولت ورسره زیات وے او په دُنیوی شان و شوکت کښ د ټولو نه اُوچت وے. دے د پاره دا قرآن په محمد (صلی الله علیه وسلم) باندے ولے نازل شو چه نهٔ ورسره دولت شته نهٔ جائیداد او د مکے او طائف د وارو ښارونو نه په یو لوئے (مالدار) سړی باندے ولے نازل نشو؟ اَهُمْ یَقْسِمُوْنَ : دا د شکوے جواب دے- لِیَتَّخِذَ کښ لام عاقبت د پاره دے یعنی په دُنیا کښ د دوی روزی خو زمونږ په لاس کښ ده او د رزق دا تقسیم خو مونږ کړے دے چا ته زیات او چا ته کم دے د پاره چه امتحان واخلو- د هغے نتیجه دا شوه چه اکثر مالدار خلق دے امتحان کښ ناکامه شول او په ځائے د دے چه د الله تعالیٰ شکر ادا کړی نو اُلټه په مسکینانو فقیرانو پورے پوقے شروع کړی، د دوی رزق

څما په قبضه کښې دے۔ نو آیا څما رحمت چه د هغې اعلیٰ فرد نبوت دے د هغوی په لاس کښې دے چه هغوی دغه تقسیم کړی او چا ته چه وغواړی هغه ته ئے ورکړی. ؟ استفهام انکاری دے۔ د دوی دا خیال باطل دے ځکه چه رزق او د رحمت ټولے خزانے د هغه په خپله قبضه کښې دی۔ دغه شان نبوت هم د هغه په اختیار کښې دے، هغه چه چا لره وغواړی محض خپل رحمت سره ئے نبوت ورپاره منتخب کړی۔

تائید:۔ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ (انعام، ع ۱۵) المراد بها النبوة وهو الانسب كما قيل وعليه اكثر المفسرين (روح ج ۲۵ ص ۸۰)

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝: او د الله تعالیٰ رحمت او برکت، ایمان او هدایت نو فیق او جنت د دُنیا د مال او اسباب نه ډیر زیات بهتر دے۔

۳۳ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ: دا د فَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ الخ (شکوے) سره متعلق دے۔ وَاحِدَةً نه مراد اُمتِ کافره دے۔ لولا كراهة ان يجتمعوا على الكفر ويطبقوا عليها (مدارک ج ۴ ص ۹۰) سُقُفًا: چهتونه، د سُقُفٌ جمع ده. مَعَارِجَ: اندریا په کانے۔ سُرُرًا جمع د سریر په معنیٰ د کټ، پالنګ، زُخْرُفٌ سره زر۔ الزخرف هنا الذهب عن ابن عباس وغيره (قرطبی ج ۱۶ ص ۸۷) او زُخْرُفًا د محذوف فعل مفعول دے: ای ولاعطيناهم زخرفا۔ قال الشيخ رحمه الله تعالیٰ۔ په دے ایتونو کښې د دُنیا د دولت د کمولی او سپکوالی بیان دے په کوم چه کافران مغروره شول او وئیل به ئے چه وحی په هغوی ولے نازله نشوه حال دا دے چه د دُنیا دولت او مال او زر او جواهر د آخرت په مقابله کښې بالکل بے قدره او کم قیمته دی۔ سره او سپین زر او د دُنیا ښائست او ښکلا زمونږ په نزد دومره سپک او بے قدره دی چه که چرے دا خبره نه وے چه خلق به کافران په عیش او نعمت کښې اُوویني او ټول به په کفر باندې راجمع شی نو مونږ به په کافرانو باندې سره او سپین زر د باران په شان ورولے وے او د هغوی د کورونو چهتونه او چهتونو باندې ختلو د پاره اندریا په کانے او د هغوی د کورونو دروازے او د هغوی پالنګونه غرض دا چه هر څیز به ئے د سپینو زرو وے او دومره ډیر سره زر به مو ورته ورکړے وے څومره چه هغوی غوښتلے نو دا ټول څیزونه به ئے د سرو زرو نه جوړ وُلے۔ لنډه دا چه د ټولو خلقو په کفر باندې د جمع کیدلو احتمال نه وے نو دا حقیر او د دُنیا دا بیکاره دولت به په ډیر خراب مخلوق (کافرانو او مشرکانو) باندې هر لحاظ سره په ښه شان فراخه کړے شوے وے خو د دے وجے نه په کافرانو باندے پوره فراخی ونکړے شوه:

استيناف مبين لحقارة متاع الدنيا ودناءة قدره عند الله عز وجل

والمعنی ان حقارة شأنه بحیث لولا کراهة ان یجتمع الناس علی الکفر ویطبقوا علیه لاعطیناه علی اتم وجه من هو شر الخلائق وادناهم منزلة فکراهة الاجتماع علی الکفر هی المانعة من تمتیع کل کافر والبسط علیها (روح ج ۲۵ ص ۷۹)۔

۲۳ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ (الآیة)، دا د ماقبل ثمره ده۔ إِنْ نافیة او لَمَّا په معنی د إِلَّا دے۔ (بحر، ج ۸ ص ۱۵)۔ دا ټول هر څه دغه دخوورځو دنیوی ژوندګئ فانی کیدونکے سامان دے او یوه عارضی نفع ده او د آخرت همیشه او نه ختمیدونکی نعمتونه هغه خلقو دپاره خاص کړے شوی دی چه تقوی ئے خپل شعار جوړ کړه او د شرک او ټولو ګناهونو نه ئے پرهیز وکړو او د الله تعالی په احکامو باندے د عمل کولو کوشش وکړو۔

وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا

او څوک چه سترګے پټے کړی ګله د رحمٰن د یاد نه، مونږ به مقرر کړو هغه دپاره یو شیطان

فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ

بیا به هغه دوی دده ملګرے۔ او هغوی منعه کوی دوی لره د لارے نه

وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا

او دوی دا ګنړی چه مونږ په لاره یو۔ تر دے چه کله مونږ ته راشی

قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ

وائی کاش چه څما او ستا په مینځ کښ جدائی وے د مشرق او مغرب پشان چه ډیر بد

الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ

ملګرے دے وا۔ او هیڅ فائده نشته تاسو ته ۲۵ نن ورځ هر کله چه تاسو ظالمان اوګرځیدلی شوی یئ په دے خبره

فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ

چه تاسو به عذاب کښ شامل یئ ۲۴ نو آیا ته به واورومے ۲۶ کنړو ته یا به

تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا

لاره وښائے ړندو ته او هغه چه ښکاره غلطئ کښ بے لارے شوے ته۔ بیا چه کله

نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿۴۱﴾ أَوْ نُرِيَنَّكَ

تا لره دې ځای نه بوځو کله نو موږ د دوی نه بدله اخستونکي یو. یا به تا ته وښایو

الَّذِي وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿۴۲﴾

هغه وعده چه موږ دوی سره کړېده، پس دوی خو زموږ په قبضه کښې دي.

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ

نو ته مضبوط ونیسه ﷺ هغه د کوم چه تا ته حکم راغلے دے، بیشکه ته یې په نیغه

مُّسْتَقِيمٍ ﴿۴۳﴾ وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ وَسَوْفَ

لاره یانې. او دا به یاد پاتے وي ستا او ستا د قوم د پاره او ورانې به

تُسْأَلُونَ ﴿۴۴﴾ وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن

د دنه تپوس کیږي. او تپوس وکړه کوم رسولان چه موږ لیږلي دي ﷺ ستا نه

رُّسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَٰنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿۴۵﴾

مخکښې، کله موږ ګرځولي دي د رحمن نه سوا نور حاکمان چه عبادت یې وشي وَ۳

نکات: ۱ـ زجر سره د تخویف نه. ۲ـ علت د مضمون جمله. ۳ـ زجر، استفهام انکاري دے. ۴ـ تخویف دُنیوی. ۵ـ دلیل وحی. ۶ـ دلیل نقلي اجمالي د انبیاء علیهم السلام نه.

موضح قرآن ف۱ یعنې په دُنیا کښې د شیطان په مشوره یانې روان وي او هلته به د هغه په ملګرتیا یانې پښیمانه وي، د دا قسم ملګرے چا ته پیرے ملاویږي چا ته انسان. ف۲ یعنې کافرانو ته وائي څه وُشو چه دوی خو موږ په عذاب کښې وغورځولو خو دوی هم. مخ تشول لیکن هغه ته څه فائده کېږے دا یل هم ونیولے شو. ف۳ یعنې په هیڅ یو دین کښې شرک جائز نه دے ګرځولے او تپوس وکړه یعنې کوم وخت چه تاسو د دوی د رُوحونو سره ملاقات وکړئ (د معراج په شپه) یا د هغوی د احوالو تحقیق د کتابونو نه وکړئ.

تفسیر ۳۶ وَمَن يَعْشُ: دا زجر دے سره د تخویف نه او د مشرکانو د نه منلو د وجے بیان دے. کوم سړے چه قصدًا عمدًا د الله تعالیٰ د قران نه رُوند وګرځي او محض د ضد او عناد په وجه تر ینه انکار کوي

نو موږ دَ هغهٔ نه دَ قبولِ حق صلاحیت اَخلو او شیطانان پرے مُسلّط کوُو چه هر وخت دَ دهٔ سره وسیږی او دَ توحید دَ لارے نه ئے بے لارے کوی مختلفو حیلو او دروغژنو اُرنو وکانو ورکولو سره دوی لره دَ غیر الله په عبادت او بلنه باندے آماده کوی، او دوی داګنړی چه دوی لاره موندلی او په سمه لاره روان دی۔ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَنَا الخ: یعنی اوس خو مشرکانو ستر کے پټے کړیدی دَ شیطان تابعداری کوی او حق نهٔ منی او دَ الله تعالیٰ دَ توحید نه ئے ډډه کوی، هغهٔ دپاره نائب تجویز کوی لیکن کله چه دَ قیامت په ورځ زموږ په مخکښ حاضر شی او دَ حال حقیقت پرے ښکاره شی نو هر کافر به خپل ملګری شیطان ته ووائی: اے کاش! په دُنیا کښ ماستا مخ نهٔ وے لیدلے، ځما او ستا په مینځ کښ دَ مشرق او مغرب فاصله وے، ته ډیر بد ترین ملګرے وے، تا خو ځهٔ ګمراه کړم او ځما آخرت دِ برباد کړو۔

۳۹ٙ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ (الآیة): اِذْ ظَّلَمْتُمْ دَ مضمونِ جمله علت دے او دَ جملے په مینځکښ واقع دے او اَنَّكُمْ فِى الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ٥ جمله په تأویل دَ مُفرد فاعل دے دَ لَنْ يَّنْفَعَ (مدارك) دَ قیامت په ورځ به مشرکان تمنا کوی چه کومو شیطانانو، پیرانو او انسانانو دوی ګمراه کړیدی هغوی هم دَ دوی سره په عذاب کښ شریك کړے شی۔ دوی ته به ووئیل شی چونکه تاسو ټول هم ظالمان او مشرکان وئ نو دِے سره به تاسو ته هیڅ فائده نهٔ وی چه تاسو سره ستاسو دَ شرك پیشوایان هم په عذاب کښ شریك وی ځکه چه دَ هغوی عذاب کښ شریکیدلو سره تاسو دَ عذاب نه نهٔ شئ بچکیدے او نهٔ ستاسو په عذاب کښ څهٔ کمے کیدے شی: یعنی لا ينفعكم الاشتراك فى العذاب ولا يخفف الاشتراك عنكم العذاب لان لكل واحد من الكفار والشياطين الحظ الاوفر من العذاب

۴۰ٙ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ (الآیة): دا زجر دے۔ رَسُول الله ﷺ به مشرکانو ته دَ توحید دعوت ورکولو کښ کوُلو او دَ افهام او تفهیم هره ممکنه طریقه به ئے اختیاروله لیکن دَ هغوی له طرفه به دَ انکار نه سوا هیڅ نهٔ ظاهریدل۔ نو الله تعالیٰ وفرمائیل: کوم خلق چه دَ اعراض انتهاء ته رسیدلے وی چه دَ هغوی نه دَ مُهرِ جبّاریت په وجه سره دَ حق پیژندلو صلاحیتونه بالکل ختم شوے وی او هغوی په ښکاره او خپل اختیار او ارادے سره په ګمراهئ کښ ډوب شوی وی۔ آیا ته به هغوی په سمه لاره راولے؟ دا استفهام انکاری دے۔ دا خلق دَ حق او ریدلو نه کاڼهٔ او لیدلو ته ړانده شویدی۔ په دِے وجه دوی به هیچرے هدایت قبول نکړی۔

۴۱ٙ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ (الآیة): دا تخویف دُنیوی دے۔ دا معاندین او دَ کفر او شرك مشران دَ دُنیا کښ زموږ دَ عذاب نه نشی بچکیدے۔ موږ به دوی ته

د دوی د عناد ، سرکشئ ، نافرمانئ ، انکار سخته سزا په دُنیا کښې ورکوو ۔ او که په دُنیا کښې مونږ د څهٔ مصلحت په وجه یو معاند او سرکش اُوږد نیسو نو د اخرت د عذاب نه خو په هیڅ حال هم نشي بچ کیدے ۔ که مونږ تا سو لره د دُنیا نه پورته کړو او ستا سو د وړاندے هغوی ته عذاب ورنکړو نو بیا هم مونږ د دوی نه په دُنیا یا آخرت کښې انتقام اخستونکی یُو ۔ او کچرے مونږ وغواړو چه په دوی باندے راتلونکے عذاب تا ته وښایُو او تا سو دوی لره پخپلو سترګو په عذاب کښې ګرفتار او وینئ نو مونږ داسے هم کولے شو لکه په جنګ بدر کښې چه الله تعالیٰ کوم د قتل او قید عذاب په مشرکانو باندے مسلط کړو هغه نبی علیه السلام ته پخپلو سترګو ولیده بلکه په خپلو لاسونو سره ئے د هغے تکمیل وکړو : قال ابن عباس رض قد اراه الله ذٰلك يوم بدر۔ (قرطبی ص ۹۲ ج ۱۶) ۔

۴۳ فَاسْتَمْسِكْ (الآیتین) : دا دلیل وحی دے ۔ که چرے معاندین نه منی نو تاسو پرے مه خفه کیږئ او تاسو دا وهم هم مکوئ چه کیدے شی تا سو په سمه لاره نه یئ ۔ تاسو د الله تعالیٰ په وحی باندے منګلے ولګوئ او د توحید دعوت مه پریږدئ ، تاسو په سمه لاره یئ ، ستاسو دین ریښتونے دے او ستاسو دعوت ټول حق دے او معاندین ئے ځکه نه منی چه د هغوی په زړونو د جبارئت مهر لګیدلے دے ۔ وَ اِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ (الآیة) : ذکر معنیٰ شرف دے یا پند او نصیحت یعنی دا قرآن ستاسو او ستاسو د قوم د پاره یو ډیر لوئے شرف دے ځکه چه دا قرآن د هغوی په ژبه او د هغوی نه یو فرد باندے نازل شوے دے نو دوی له پکار دی چه دا اُومنی د دے د پاره چه په دُنیا او اخرت کښې دد هٔ د برکاتو نه نفع اخستونکی شی ۔ دا قرآن ستاسو د پاره او ستاسو د قوم د پاره پند او نصیحت او د نصیحت صحیفه ده چه په ټولو بنیادی عقائدو او ضروری شرائعو او احکامو باندے مشتمل ده ۔ د قیامت په ورځ به د قرآن باره کښې ستاسو ټولو نه سوال کیږی چه تاسو دد هٔ سره کومه معامله وکړه ، په دهٔ باندے د عمل کولو حق موادا کړے دے یا نه ؟ یعنی القرآن شرف لك ولقومك من قريش، اذ نزل بلغتهم و على رجل منهم (قرطبی ص ۹۳ ج ۱۶) قال الحسن القوم هنا امته والمعنى وانه لتذكرة وموعظة (بحر، ج ۸ ص ۱۸)

۴۵ وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا (الآیة) : د دلیل نقلی تفصیلی نه روستو دا دلیل نقلی اجمالی دے ټولو انبیاؤ علیهم السلام سره ۔ یعنی د خپل پورتنی نیکهٔ حضرت ابراهیم علیه السلام حال خو تا سو واوریده چه هغه د توحید لوئے داعی وُو ۔ اُوس دا وښایئ چه آیا نورو پیغمبرانو ته مونږ چاته د غیر الله د عبادت او رابللو حکم ورکړے وُو ؟ یعنی مونږ خو د دے حکم نه وُو ورکړے ، بیا تا سو دا مسئله د کوم ځائے نه راوویستله ؟ د انبیاء علیهم السلام نه حقیقةً سوال کول مُراد نه دی بلکه مجازاً ترینه سوال کول مُراد دی چه د هغے دوه صورتونه دی ۔ اول دا چه د هغوی د اصلی او

غیر محرف کتابونو په رڼا کښې د هغوی د دینونو تحقیق او تلاش وکړئ چه په هغې کښې چرته د غیر الله د عبادت او رابللو څهٔ حکم یا جواز شته ؟

لیس المراد بسؤال الرسل حقیقة السؤال ولکنه مجاز عن النظر فی ادیانهم والفحص عن مللهم هل جاءت عبادة الاوثان قط فی ملة من ملل الانبیاء - (مدارک ج ۴ ص ۹۱) -

دوئیم دا چه د مخکنو اُمتونو او د هغوی انصاف پسند عالمانو (مومنان د اهل کتابو نه) تپوس وکړئ چه د هغوی په دینونو کښې د غیر الله د رابللو اجازت شته ؟

وقال اکثر المفسرین معناه وسئل من ارسلنا من قبلك وعلماء دینهم یعنی مؤمنی اهل الکتاب وهذا قول ابن عباس رض فی سائر الروایات ومجاهد وقتادة والضحاك والسدی والحسن والمقاتلین (مظهری ج ۸ ص ۳۵۸)

دے سره د اهل بدعتو استدلال باطل شو چه په دے ایت کښې د ټولو پیغمبرانو نه د سوال کولو حکم دے او سوال په هغه صورت کښې کیدے شي چه هغوی ټول نبي علیه السلام سره موجود وي نو دے سره ثابته شوه چه ټول انبیاء علیهم السلام حاضر او ناظر دي - د تیر شوي تفصیل نه د دے استدلال بطلان ښکاره دے ځکه چه دے ایت کښې د انبیاء علیهم السلام نه حقیقةً سوال کول مقصود نه دي بلکه د غیر محرف کتابونو او د هغوی د اُمتونو د حق پرستو علماؤ نه تحقیق کول مقصود دي ۞

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۠ئِهٖ

او مونږ ولیږهٔ موسٰی سره خپلو معجزو ورکړلو سره فرعون او د هغهٔ سردارانو ته،

فَقَالَ اِنِّیْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۴۶﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ

نو وے ویل څهٔ لیږلے شوے یم د پروردګار عالم له طرفه ، بیا چه کله ئې راوړے دوی ته

بِاٰیٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا یَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرِیْهِمْ مِّنْ

زمونږ نښانے نو دوی شروع کړه هغې پورے خندا - او کوم چه مونږ دوی ته ښایو

اٰیَةٍ اِلَّا هِیَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا٘ وَاَخَذْنٰهُمْ

نښانے نو هغه د مخکنو نه لویه وے ، او ونیول مونږ دوی لره

بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْا یٰٓاَیُّهَ السّٰحِرُ

تکلیف کښې دے دپاره چه دوی واپس شي - او وے ویل اے جادوګره! الخ

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

راوبله مونږ لره خپل رب خپل څخه چه ئے تا ته ښودلی دی، مونږ به ضرور (په سمه) لار روان شو ملا

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿٥٠﴾

بیا چه کله مونږ لرے کړو ددوی نه تکلیف دغه وخت دوی ماتونکی د وعدے وُو۔

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي

او آواز وکړو فرعون خپل قوم کښې ئے وے ویل اے زما قومه! آیا زما په لاس کښې نه دے

مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ۖ

حکومت د مصر او دا نهرونه چه بهیږی زما (د محل) نه لاندے

أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَٰذَا الَّذِي

آیا تاسو نه وینئ؟ ف۱ آیا څه بهتریم د دے سړی نه چه

هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ

څه عزت ئے نشته او صفا خبره نشی کولے ف۲ بیا ولے کله راپرے نه وتلو په ده باندې

أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾

بنګړی د سرو زرو، یا راتللی د ده سره فرشتے صف تړونکی ف۳

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا

پس عقل ئے ضائع کړو د خپل قوم نو د هغه خبره ئے ومنله، بیشکه دوی وو خلق

فَاسِقِينَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّا آسَفُونَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ

نافرمانه۔ بیا چه کله ئے مونږ په غصه کړو نو د دوی نه بدله واخستله بیا مونږ غرق کړل دوی

أَجْمَعِينَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِلْآخِرِينَ ﴿٥٦﴾

ټولو لره۔ بیا مو وګرځول دوی تیر شوی او یو مثال د پاره د راتلونکو۔

نکات:۔ ۱ دویم دلیل نقلی تفصیلی ۱۲

موضع قرآن:۔ ف۱ د مصر حاکم کیر چا پیره ملکو تو کښې لوئے سرے

کنډلے شو او نهرونه هم هغهٔ جوړکړي وُو، دَ دریائے نیل اُوبهٔ ئے په هغې کښ روانے کړے وے او خپل باغ ته ئے هم راوستلے وے. **ف۲** دا ئے حضرت موسیٰ علیه السلام ته وُوئیل. **ف۳** هغه (فرعون) بخپله دا دَ جواهرو بنګړي په لاس کوُل او چه په چا به مهربانه شو نو هغهٔ ته به ئے دَ سرو زرو بنګړي په لاس کښ وا چوُل او دُ هغه په مخکښ به فوج صف بسته ولاړ وُو.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی مسلمانان به ئے وګرځوُو. **ف۲** یعنی دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په ژبه کښ تتوالے وُو.

تفسیر

۲۳ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی: دا دویم دلیل نقلی تفصیلی دے موسیٰ علیه السلام سره او لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ الخ سره متعلق دے ځکه چه دَ عربو مشرکانو په تاسوبانو دَ عناد او تکبر دَ وجے نه اعتراض کوی دغه شان اعتراضات فرعون په موسیٰ علیه السلام باندے کړي وُو. مونږ موسیٰ علیه السلام ته دلائل او معجزات ورکړل، فرعون او دَ هغهٔ دَ حکومت ارکانو وزیرانو او مشیرانو ته مو ولیږلو. هرکله چه هغه زمونږ ایتونو سره راغے نو دَ هغهٔ لیدلو سره ئے دَ توقو او مسخرو په انداز کښ خندا شروع کړه او معجزاتو ته ئے جادو اووئیلے. وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ الخ: مونږ دوی ته ډیرے نرزیات خپل نشانات او معجزات اوښودل او په مختلف قسمه عذابونو کښ مو دوی لره ګرفتار کړل دپاره دَ دے چه دوی دَ انکار نه بیرته وګرزی: والمراد وصف الکل بالکبر کقولك رأیت رجالا بعضهم افضل من بعض (بیضاوی).

۳۱ وَقَالُوْا يٰۤاَيُّهَ السّٰحِرُ (الاٰیة): دَ هغوی دَ عناد او استکبار انتهاء وه چه کله به دوی په څهٔ عذاب کښ ګرفتار شول نو حضرت موسیٰ علیه السلام ته به ئے جادوګر وئیلو سره اواز کولو او وئیل به ئے: خپل رب ته اواز وکړه چه وعده ئے پوره کړی. بیرے دوی ایمان راوړی نو عذاب به ترینه لرے کړے شی، نو دے دپاره دَ الله تعالیٰ نه دُعا وغواړه چه دا عذاب لرے کړی نو مونږ پخه وعده کوُو چه ایمان به راوړو او هدایت به قبول کړو. ای بما اخبرنا عن عهده الیك انا ان امنا کشف عنا، فسله یکشف عنا (انّنا لمهتدون) ای فیما یستقبل. (قرطبی ج ۱۶ ص ۹۸).

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ (الاٰیة): دا بیا بیا دَ هغوی دَ عهد ماتولو بیان دے. دَ هر عذاب نه پس به دوی دَ موسیٰ علیه السلام سره پخه وعده کوُله چه که زمونږ نه عذاب لرے کړے شو نو مونږ به ایمان راوړو لیکن کله چه به دَ الله تعالیٰ دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دُعا سره عذاب لرے کړو نو دوی به خپله وعده نهٔ پوره کوُله او دَ ایمان راوړلو په ځائے به بخپل کفر او نافرمانئ باندے قائم پاتے کیدل. ینکثون ینقضون العهد بالایمان ولا یوفون به (مدارک ج ۴ ص ۹۲)

۳۲ــه وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ ـ تا ـ مُقْتَرِنِيْنَ ۝: دَ فرعون دَ غرور او لویئ کولو بیان دے - فرعون چه کله ولیدل چه دَ موسیٰ علیه السلام بار بار دُعا سره عذاب لرے کیږی نو هغهٔ سره خطره پیدا شوه چه هسے نهٔ دَ قوم په زړونو کښ دَ دهٔ عظمت پیدا شی او دَ دوی زړونه دَ دهٔ طرف ته مائله شی - په دے وجه ئے خپل رعیت کښ دَ اعلان کولو حکم ورکړو دپاره دَ دے چه دَ هغهٔ دَ حکومت او سلطنت شان شوکت او رُعب دَ قوم په زړونو کښ مضبوط شی او دوی موسیٰ علیه السلام باندے دهٔ ته ترجیح ورکړی - ځما دَ قوم خلقو ! ایا تاسو نهٔ وینئ چه ځهٔ دَ ملکِ مصر آزاد حکمران یم او دا نهرونه ځما په حکم چلیږی - ایا ځهٔ چه دومره فراخه حکومت با دشاه یم او دے ملک کښ دَ پوره اختیار مالک یم، ستا سو دپاره ځهٔ بهتر یم یا دا موسیٰ چه ځما په مقابله کښ ډیر زیات سپک او کمزورے دے او پخپله مُدّعا باندے واضح او روښانه حجت هم نشی پیش کولے یا صفا او روانے ژبے سره خبرے هم نشی کولے - دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په ژبه کښ معمولی شان تتوالے باقی ؤ ولیکن فرعون دَ مُبالغے نه کار واخستهٔ او پخپله خبره کښ ئے زور پیدا کولو دپاره ئے وَلَا يَكَادُ يُبِيْنُ اُووئیلے - یا مطلب دا دے چه هغه پخپله مُدّعا باندے واضح برهان نشی راوړلے - دے صورت کښ هم دا کلام محض عناد او ځان لوئے کنړلو باندے مبنی دے : لا يبين حجته الدالة على صدقه فيما يدعى (بحر، ج ۸ ص ۲۳) +

۳۳ــه فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ (الآية): امام مجاهد رحمه الله فرمائی دَ دغه زمانے دستور ؤ چه کوم سړے به ئے دَ سردارئ دپاره خوښولو نو هغهٔ ته به ئے دَ سرو زرو بنګړے او دَ سرو زرو هار به غاړه کښ اچولو - دا څیزونه به دَ سردارئ علامت ګنړلے شو - فرعون اُووئیل چه که واقعی الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام له دَ رسالت دپاره خوښ کړے دے لکه ځنګه چه دَ هغهٔ خیال دے نو دا خو ډیر لوئے سیادت او سرداری ده بیا هغهٔ ته دَ هغهٔ خدای دَ سرو زرو بنګړی ولے وانهٔ غوستل؟ یعنی څوک چه پیغمبروی هغهٔ ته دَ دُنیا شان و شوکت هم ضرور ملیدل پکار دی لکه چه دَ عربو دَ مشرکانو خیال ؤ چه رسالت دَ مکے او طائف په یو لوئے رئیس باندے نازلیدل پکار وو - یا که چرے هغه ریښتنے دَ الله رسول دے نو دَ فرښتو جماعت به ورسره هر وخت او سیدلو او دَ دهٔ تصدیق به ئے کولو او دَ مخالفینو په مقابله کښ به ئے دَ دهٔ امداد کولو -

۳۴ــه فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ: فرعون خپل قوم جاهل او کم عقل بیا موندو او هغوی ئے په ګمراهئ باندے دتیر کړل نو ټول قوم هغهٔ پسے روان شو، هغوی ټول فاسقان او بد کرداره وو په دے وجه ئے دَ دهٔ اطاعت قبول کړو او دَ دهٔ په اشارو باندے ئے کار یدل شروع کړل - (ستخف عقولهم فدعاهم الى الضلالة فاستجابوا له - (ابن کثیر ص ۱۳۰ ج ۴) - فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا: کله چه فرعون او دَ هغهٔ قوم عناد او ځان لوئے کنړلو او غرور او تکبر سره دَ توحید دَ

دعوت نه انکار وکړو، خصوصًا پیغمبر موسٰی علیه السلام او ایمان والو ته ئے ویرونکی عذابونه ورسول او حق والو پورے ئے ټوقے مسخرے اوکړے نو زمونږ قهر او غضب ته ئے دعوت ورکړو نو مونږ هغوی ټول په دریاب کښ غرق کړل، هغوی نه مونږ انتقام او بدله واخستله.
فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا (الآیة): او هغوی لره مونږ روستو راتلونکو کافرانو او مشرکانو دپاره زړه قصه او د عبرت او نصیحت یوه نمونه او ضرب المثل اوګرځولو دپاره د دے چه روستو راتلونکی خلق د دوی د انجام نه عبرت حاصل کړی، یعنی
جعلنا المتقدمین الماضین عبرة وموعظة لمن یجیٔ من بعدهم (خازن ص ۱۳۸ ج ۲) حدیثا عجیب الشان سائرا سیر المثل یضرب بهم الامثال ویقال مثلکم مثل قوم فرعون۔ (مدارک ص ۹۲ ج ۴)۔

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ
او کله چه مثال بیان اوکړے شی د مریم د ځوی لپاره، دغه وخت قوم ستا (کفار خوشالی نه)
يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ
شور کوی ولاړ۔ او وائی زمونږ معبودان بهتر دی یا هغه، دا مثال کوم چه دوی بیانوی
لَكَ إِلَّا جَدَلًا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا
تا ته نو خالص د جهګړے دپاره، بلکه دا خلق دی جهګړه کوونکی۔ هغه نه دے لیکن
عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾
یو بنده چه مونږ په هغه باندے فضل کړے او اوګرځولو مونږ هغه یو مثال بنی اسرائیلو دپاره۔
وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾
او که مونږ وغواړو او به ګرځوو په زمکه کښ فرښتے ستاسو په ځائے دی
وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ
او هغه نښه ده د قیامت ستاسو پس په دے کښ شک مکوه او زما خبره ومنه،
هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ
دا یو نیغه لاره ده دا۔ او منعه دِ نکړی تاسو لره شیطان، هغه

لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ

ستاسو دُښمن ښکاره دے. او کله چه راغے عیسیٰ ﷤ نښو (معجزو) سره وے ویل

قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ

ما راوړی دی تاسو ته پخے خبرے او وضاحت د هغه خبرو به کومو کښ چه

تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ

تاسو جهګړه کوئ له، نو ویرېږئ د الله نه او زما خبره او منئ - بیشکه الله

هُوَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۗ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦٤﴾

هغه دے ﷤ رب زما او ستاسو پس د هغه بندګی وکړئ، دا یوه سمه لاره ده -

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ

بیا جدا شوے ﷤ ډیرے ډلے د هغوی د مینځ نه، پس تباهي ده د ګنهګارانو

ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

دپاره د عذاب د هغے دردناکے ورځے نه ﷺ اوس دا (خبره) ده چه انتظار کوئ

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَلْاَخِلَّآءُ

د قیامت ﷤ چه راشي دوی ته ناڅاپه او دوی خبر هم نه وی - خوږه دوستان چې دی

يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٧﴾

به دغه ورځ به کیو بل د ښمنان وی سوا د هغه خلقو نه چه ویرېږی (د الله نه) ﷺ

نکات: ۱ تخویف اُخروی. ۲ دریم دلیل نقلی تفصیلی. ۳ ازاله د شبهے د مشرکانو. ۴ جواب د سوال مقدر. ۵ تخویف اُخروی.

موضح القرآن

ف ۱ یعنی په قرآن کښ چه د هغه ذکر راشي چه خلقو د هغه عبادت هم کړے دے نو د هغه صفت او ښه والے بیا نیږی او زمونږ بُتانو ته تاسو بد وایئ۔ **ف ۲** یعنی عیسیٰ علیه السلام کښ د فرشتو په شان اثار وو. د دے سره هغه معبود نشي جوړیدے که مونږ او غواړو نو ستاسو د نسل نه به داشان خلق پیدا کړو. **ف ۳** د حضرت عیسیٰ علیه السلام راتلل د قیامت علامه ده - **ف ۴** یهود د هغه نه منکر شو او نصاریٰ و او منلو. بیا نصاریٰ روستو ډیرے ډلے او کرځیدلے. څوک

هغه ته دَ خدای خوښې وائي، څوک خدای دے ځایه وائي، څوک نور څه وائي. ف۵
دغه ورځ به دوست دَ دوست نه تښتته کوي چه هسې نه دَ دهٔ په وجه څهٔ اُونیولے شم.

فتح الرحمٰن ف۵ مترجم وائي دِے مسئله بانډې چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک معبود نشته. مشرکانو اعتراض کولو چه عیسایانو دَ عیسیٰ علیه السلام عبادت کولو او کچرے هغه هم دا رنګې معبود نهٔ وُو نو موږ راضي یو چه زمونږ معبودان به دَ عیسیٰ علیه السلام سره وي او دا خیال یې کولو چه موږ په حجت او دلیل کښې غالب شول- الله تعالیٰ دَ شبهې وضاحت اوکړو او جواب یې ورکړو- والله تعالیٰ اعلم ❖

تفسیر ۳۵ وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ — تا — مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ۝ يَصِدُّونَ: يصيحون ويضحكون- (بحر، جلالین) یعني شور کوي او خاندي- کله چه دَ عیسیٰ ابن مریم مثال بیانیږي نو ستا قوم یعني دَ قریشو مشرکان دَ خوشالئ په وجه بې اختیاره شي خاندي او شور کوي.

دَدے آیتونو ماقبل سره ربط په څلورو طریقو سره دے- دَ ټولو نه زیات مناسب قول دَ شاه ولي الله رحمه الله دے ځکه چه دَ هغې مطابق دَدے آیت ماقبل سره ربط زیات واضح دے- وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ الخ، نه ثابته شوه چه دَ هیڅ یو پیغمبر په شریعت کښې دَ غیر الله دَ عبادت اجازت نهٔ وُو ځکه چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک معبود نشته- دِے بانډې مشرکانو اعتراض وکړو چه نصاریٰ دَ عیسیٰ علیه السلام عبادت کوي- کچرے په حقیقت کښې هغه هم دَ عبادت لائق نهٔ وُو ځکه چه زمونږ دَ معبودانو باره کښې تاسو وایئ نو موږ راضي یو چه زمونږ معبود او عیسیٰ علیه السلام به یو ځائے کښې وي- نو الله تعالیٰ دَ هغوي دَ شبهې ازاله وکړه. (فتح الرحمٰن) دَ شبهې جواب راځي چه حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ خپل عبادت حکم هیڅ نهٔ وُو ورکړے- روستو باغیانو دَ هغهٔ عبادت شروع کړو.

دویم جواب دا دے چه کله آیت إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ۝ (انبیاء ع۷) نازل شو نو عبد الله بن الزبعری ووے چه کهٔ دا صحیح وي چه ټول معبودان غیر الله به جهنم ته ځي نو نصاریٰ دَ عیسیٰ علیه السلام او یهود دَ عزیر علیه السلام عبادت کوي، نو آیا هغوي به هم دوزخ ته ځي؟ دِے تمثیل بانډې مشرکان ډیر زیات خوشاله شول او وے ویل آیا زمونږ معبودان بنهٔ دي یا عیسیٰ علیه السلام او کهٔ عیسیٰ علیه السلام دَ معبودکیدلو په وجه دوزخ ته لاړ شي (عیاذاً بالله) نو کهٔ زمونږ معبودان هم دوزخ ته لاړ شي نو هیڅ خبره نهٔ ده، دا موږ ته منظوره ده: ای الهتنا خیر عندک ام عیسیٰ علیه السلام، فان کان فی النار فلتکن الهتنا معه. (بیضاوی)- دَدے جواب په سورۂ انبیاء کښې په حواله دَ ذکرشوي پورتني آیت متصل روستو ذکر شوے دے، کما مر، دَ سورۂ انبیاء تفسیر حاشیه ۵۹ وګورئ- دا تمثیل دَ حق پیژندلو او حق او باطل کښې تمیز کولو دپاره نهٔ دے بیان شوے بلکه محض دَ جګړے

په غرض نه بيان کړے دے او د اخلق د ير زيات جګړه کوونکي دي. اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عيسی علیه السلام زمونږ د ډيره لويه مرتبے بنده دے چه په هغه باندے مونږ ډير لوئے لوئے احسانات وکړل او بغير د پلار نه مو هغه پيدا کړو او د بنی اسرائيلو د پاره مو په عجيبه واقعه د زمانے او ضرب المثل وګرځولو. ليکن د دے باوجود هغه د معبوديت مستحق نه وو فهو مرفوع المنزلة على القدر لكن ليس له من استحقاق المعبودية من نصيب. (روح ج ۲۵ ص ۹۳).

د ربط، مشرکان وائي مونږ خو د فرشتو عبادت کوو او زمونږ معبودان فرشتے دي نو آيا زمونږ معبودان ښه دي يا عيسی علیه السلام؟ نو که چرے هغه معبود او ابن الله کيدے شي نو زمونږ معبودان په طريقه اولیٰ د الله تعالیٰ لونړه دي: الهتنا الملائكة خير امر عيسى عليه السلام فاذا جاز ان يعبد ويكون ابن الله كانت الهتنا اولى بذلك. (بيضاوي). د دے جواب ورکړے شو چه: وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا (الاية) يعني فرشته کيدل يا د فرشتو د ښو اثارو حاصل کيدل خو د معبود کيدلو هيڅ دليل نه دے که چرے مونږ وغواړو نو تاسو به هلاک کړو او په زمکه کښ به ستاسو په ځائے فرشتے پيدا کړو. منكم بدلك (مدارك) دے صورت کښ دا تخويف دنيوي دے. يا که وغواړو نو ستاسو د نسل نه به فرشتے پيدا کړو. (موضح قرآن) يعني عيسی علیه السلام کښ د فرشتو پشان اثار او علامات وو، د دے سره هغه معبود نه جوړيږي. که مونږ وغواړو ستاسو د نسل نه په دا سے خلق پيدا کړو: لجعلنا منكم اى لخلقنا منكم اى من الانس. (مظهري ص ۳۵۹ ج ۸). فرشتے هم چونکه مخلوق دے، په دے وجه معبود نشي جوړيدے.

خلاصه، شاه عبد القادر دهلوي رحمه الله فرمائي: مشرکانو به نبی کريم صلی الله علیه وسلم ته وئيل چه تاسو زمونږ معبودانو ته بد وايئ ليکن د عيسی علیه السلام ذکر چه راځي نو هغه په ښه ياد وئ حال دا دے چه خلق (نصارىٰ) د هغه عبادت هم کوي. د دے جواب ورکړے شو چه عيسی علیه السلام خلقو ته د خپل عبادت حکم نه دے ورکړے، هغه د توحيد تعليم ورکوو او د بندګئ قابل هغه معبود دے چه خلقو ته د خپل ځان د عبادت کولو حکم ورکوي.

۳۶ وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ: دا تخويف اخروي دے. اِنَّهٗ کښ ضمير حضرت عيسی علیه السلام طرفته راجع دے. د حضرت عيسی علیه السلام د پلار نه بغير پيدا کولے شي نو هغه انسان د مرګ نه روستو دوباره ژوندي کولو باندے هم قادر دے. يا مطلب دا دے چه د عيسی علیه السلام په اخري زمانه کښ نزول د قيامت د نزدے والي علامه ده.

وقال ابن عباس و مجاهد وقتادة والحسن والسدي والضحاك وابن زيد اى وان خروجه لعلم للساعة يدل على قرب قيامها اذ خروجه شرط من اشراطها وهو نزوله من السماء في اخر الزمان. (بحر ج ۸ ص ۲۵).

قیامت کښې شک مکوئ هغه ضرور راتلونکے دے اوځما د شریعت او احکامو تابعداری کوئ، همدا سمه لاره ده- دا د الله پاک قول دے. یا د وَاتَّبِعُوْنِ نه مخکښې قُلْ مقدر دے او نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شوے دے چه تاسو اعلان وکړئ چه په توحید او ټولو شرائعو کښې ځما اتباع وکړئ. بس دا نیغه لاره ده- واتبعون واتبعوا هدای اوشرعی (بیضاوی) وقل لهم اتبعون علی التوحید هذا الذی امرکم به صراط مستقیم- (جلالین) واتبعون ای فی التوحید وفیما ابلغکم من الله- (قرطبی ج ۱۶ ص) اوګورئ شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے، د هغه نه خبردار اوسیږئ چرته هغه تاسو لره د دے نیغې لارے نه لرے نکړی او په شرک اوګمراهئ باندې تاسو روان نکړی.

۳۷ے وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى ـ تا ـ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝ دریم دلیل نقلی تفصیلی حضرت عیسی علیه السلام سره، دا رنګے جواب د مشرکانو د شبهے. حضرت عیسی علیه السلام چه کله بنی اسرائیلو ته واضحه دلائلو او غالب معجزاتو سره راغلے نو وے فرمایل ما تاسو ته یو داسے کتاب (انجیل) راوړے دے چه د علم او حکمت نه ډک دے او د شرائعو او الهی احکامو ترجمان دے او ځکه د دے د پاره راغلے یم چه د تورات کوم مسائلو کښې تاسو اختلاف کړے دے په خپل مینځ کښې، هغه واضح کړم او په هغې کښې د صحیح فیصلے نه تاسو خبر کړم: بالحکمة ای الانجیل کما قال القشیری والماوردی- (روح ج ۲۵ ص ۹۶) بالحکمة ای بالانجیل والشرائع (مدارک ج ۴ ص ۹۴)- نو د الله نه او یریږئ ځما مخالفت مکوئ او ځما تابعداری وکړئ.

۳۸ے اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ (الاٰية): دا د مشرکانو د شبهے جواب دے- بل دا چه دا هغه حکم دے په کوم کښې چه ئے بنی اسرائیلو ته د خپل اطاعت حکم ورکړے وو- دا دے د حضرت عیسی علیه السلام تعلیم چه الله تعالی ځما او ستاسو د ټولو کارساز او مالک دے نو صرف د هغه عبادت کوئ او په ماتحتو کښې مافوق الاسباب صرف هغه ته آواز کوئ، د هغه په عبادت او راپلو کښې هیڅوک مه شریکوئ- دا صراط مستقیم او نیغه لاره ده- د دے نه معلومه شوه چه حضرت عیسی علیه السلام هیڅ ئے هم د خپل عبادت حکم نه وو ورکړے بلکه روستو مفسد او ګمراه پیدا شو نو د هغه عبادت وکړو او خلقو ته ئے د دے شرک تعلیم هم ورکړو.

بيان لما امرهم بالطاعة فيه وهو اعتقاد التوحيد والتعبد بالشرائع (هٰذَا) ای هذا التوحيد والتعبد بالشرائع (هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ) لا يضل سالكه. (روح ج ۲۵ ص ۹۷)-

۳۹ے فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ (الاٰية): دا ایت د یو سوال مقدر جواب دے- کله چه حضرت عیسی علیه السلام د خپل عبادت حکم نه وو ورکړے نو بیا هغه ته ولے آواز وکړے شو؟ نو جواب ورکړے شو چه د هغه د پورته کیدلو نه پس د هغه په اتباع کوونکو

کښې اختلاف پیدا شو او هغوی په ډلو کښې تقسیم شول او د هغوی نه څنو ډلو هغهٔ لره معبود او ګرځولو نو دا سے ظالمانو د پاره درد ناک عذاب دے او هلاکت او تباهي ده۔

۵۶ هَلْ يَنْظُرُوْنَ۔ دا د قریشو مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے۔ دا مشرکان ایمان نه راوړی، هغوی د قیامت په انتظار کښې دی چه هغه به ناڅاپه راځی په دوی باندې۔ بتول مشرکان چه په دُنیا کښې ډیر د یو بل دوستان دی، د قیامت په ورځ به د یو بل دُشمنان وی او یو بل به ملامته کوی او هر یو به د ګمراهئ ذمه واری په بل باندې اچوی: یعادی بعضهم ویلعن بعضهم بعضا (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۰۹) البته د ایمان والو به خپل مینځ کښې دوستی قائمه وی او په هغې به هیڅ فرق نه راځی: اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ۵ استثناء منقطع ده او اِلَّا په معنیٰ د لکن دے ؛

يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾

اے بندګانو زما! نشته دے ویره په تاسو باندې نن ورځ او نه به تاسو غمژن یئ۔

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾ اُدْخُلُوا

چا چه یقین وکړو زموږ په خبرو باندې او شو حُکم منونکی۔ لاړ شئ

الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ يُطَافُ

جنت ته تاسو او ستاسو بیبیانے عزت به مو وکړے شی۔ ګرځولے به شی

عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا

تاسو باندې لګنے د سرو زرو او ګلاسونه، او هلته شته دے

مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا

څه چه زړونه غواړی او کوم سره چه سترګے آرام مومی، او تاسو به همیشه وسیږئ

خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا

په هغې کښې۔ او دا هغه جنت دے چه میراث کښې بیامونئ تاسو په بدله د هغې

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا

کوم چه تاسو کول۔ ستا د پاره به هغې کښې ډیرے میوے دی، د هغې نه

تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾

خوراک کوئ ف. بیشکه خولے چه ګنهګاران دی همیش دَ دوزخ په عذاب کښ همیشه اوسیدونکی دی.

لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ

نهٔ اسانیږی په دوی باندې او دوی به په دغه (عذاب) کښ پراته وی ناامیده. او مونږ په دوی ظلم او نکړو

وَلَٰكِن كَانُوا هُمُ الظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ

لیکن دوی دوی بے انصافه. او آوازونه به کوی اے مالکه! او وایه چه فیصله وکړی

عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنَٰكُم

په مونږ د رب ستا، هغه به اووائی تاسو همیشه اوسیدونکی یئ ف. مونږ راوړے وو تاسو ته

بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٨﴾ أَمْ أَبْرَمُوٓا

رښتونے دین لیکن ستاسو ډیر خلق رښتونے خبره بد ګڼړی. بلکه محکم کړے دوی ف

أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ

یوه خبره نو مونږ هم محکم کوونکی یو ف. آیا خیال کوی چه مونږ نهٔ آورو

سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾

د دوی پټے خبرے او د دوی مشورے، ولے نهٔ او زمونږ لیږلی شوی د دوی سره لیکل کوی ف

قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾

ته ووایه که چرے وی د رحمن دپاره اولاد ف نو زهٔ به یم د ټولو نه اول عبادت کوونکے.

سُبْحَٰنَ رَبِّ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ

پاک ذات دے هغه رب د آسمانونو او د زمکے، د عرش مالک

عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ

د هغه خبرو نه کوم چه دوی بیانوی. او س دوی پریږده ګڼه چه غوپے وهی او لوبے کوی تر دے چه

يُلَٰقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ الَّذِي

ملاو شی د خپلے هغے ورځے سره د کومے چه ورسره وعده شوے ده. او (الله) هغه ذات دے چه

فِي السَّمَآءِ إِلٰهٌ وَّفِي الْأَرْضِ إِلٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ

دَ هغه بندګی په آسمان کښې ده او دَ هغه بندګی ده په زمکه کښې، او هغه دے حکمت والا

الْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

دَ ټول هر څه په خبر۔ او لوئے برکت دے دَ هغه چا چه بادشاهي ئے ده په آسمانونو او زمکه کښې،

وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَإِلَيْهِ

او کوم څه چه دَ دې په مینځ کښې دي، او هغه سره عِلم دَ قیامت دے، او هغه ته به بیا

تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ

واپس ورځئ۔ او اختیار نلری ئے هغه خلق چا ته چه دوی چغه وی دَ الله نه ماسوا

الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾

دَ سفارش لیکن چا چه ګواهي ورکړه رښتونے او دوی ته عِلم ورکړے شو

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ۖ فَأَنّٰى

او که چرے ته دَ دوی نه تپوس وکړے چه دوی چا پیدا کړل؟ نو اوبه وائی الله تعالیٰ! بیا کوم طرفته

يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِ يٰرَبِّ إِنَّ هٰؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا

ګرځولے شی۔ قسم دے دَ رسول په دے وینا چه اے ربه! دا خلق دی چه یقین

يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ۚ فَسَوْفَ

نکوی ف۱۔ نو ته مخ وګرځوه دَ دوی نه او ووایه سلام دے، او بس په په اخر

يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

کښې پوهه شی۔

نکات :- ۱ تخویف اُخروی۔ ۲ بشارت اُخروی ۳ التفات په طرف دَ اهلِ مکه۔ ۴ زجر دپاره دَ مشرکانو۔ ۵ دَ سورت ابتداء سره متعلق۔ ۶ زجر سره دَ تخویف اُخروی ته۔ ۷ دلیل عقلی۔ ۸ دَ سورت دعوی او جواب دَ شبهے دَ مشرکانو۔ ۹ دلیل عقلی علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم۔

موضح قرآن :- ف۱ یعنی چه تا سو به ئے خوښوئ۔ ف۲ مالک دَ فرشتے نوم دے

په دَ دوزخ داروغه دے - وائی چه زر کاله به چغې وهي هغه به یو جواب ورکړی دَ نا اُمیدئ او فیصلے ورکړی یعنی په یو ځل دِ عذاب راکړی او مونږ دِ مرګ سره ختم کړی.

ف ۳ کافرانو یو ځل مشوره وکړه چه ستاسو دَ غفلت په وجه دَ دے نبي خبره مخکښ لاړه او قوی شوه - اوس چه څوک دے دین ته راځی نو دَ هغهٔ خپلوان دِ هغه دومره اُووهي چه هغه واپس خپل دین (شرک) ته راشی او څوک نا اَشنا سړے چه دے بنا رته راشی هغهٔ ته دَ مخکښ نه اُووایئ چه دَ دغه سړی (نبی علیه السلام) سره مهٔ کینه نو الله تعالیٰ خپله اراده اوکړه چه دوی په مزه مزه ته ریځا ذلیله کړی. **ف ۴** هر انسان سره فرشتے اُوسیږی دَ هغهٔ هر کار لیکی. **ف ۵** یعنی دومره سفارش کولے شی چه چا دَ اسلام کلمه ویلے ده، دَ هغهٔ باره کښ ګواهي ورکولے شی - دَ اسلام دَ کلمے نه بغیر دَ هیچا په حق کښ سفارش نشی کولے - نو دومره سفارش به نیکان خلق هم کوی. **ف ۶** یعنی هغهٔ بانديِ الله پاك رحم کوی.

فتح الرحمٰن **ف ۱** یعنی توحید منونکو دپاره به شفاعت کوی.

تفسیر **۶۸** يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ - تا - تَأْكُلُوْنَ ٥: بشارتِ اُخروی دے - دَ قیامت په ورځ هر کله چه به ټول خلق دَ حشر په میدان کښ جمع وی نو ټول به خفه پریشانه او په ویره کښ به وی - دغه وخت به دَ الله پاك له طرفه اعلان کولے شی چه اے زما بندګانو! په تاسو نن ورځ هیڅ ویره نشته او نه به په تاسو څهٔ غم وی - نن به تاسو دَ هر قسم ویرے او غم فکر نه ازاد یئ - دے اعلان اوریدلو سره به کافران هم اُمید وار وکښ شامل شی - هغه به دویم اعلان وکړی: اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ٥ یعنی زما هغه بندګان به دَ ویرے او غم نه ازاد وی چا چه په دُنیا کښ زما وحدانیت او ټولو ایمانیاتو باندِ ایمان راوړے وو او زما حکمونو ته یے غاړه اِیښے وه - دا اعلان چه واوری نو کافران به نا اُمیده شی او ایمان والا به دَ الله تعالیٰ دَ رحمت اُمید لرونکی وی - دغه وخت به دوی ته حکم وشی: اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ (الآية): تاسو او ستاسو مؤمنانے بیبیانے خوشالئ سره جنت ته داخل شئ - (کبیر، خازن، مدارك)

۷۱ يُطَافُ عَلَيْهِمْ: په جنت کښ بنکلی غِلمان دَ دوی خدمت کوی او دَ خوراك څکاك څیزونه به دَ سرزرو په پلیټونو او پیالو کښ دوی ته پیش کولے شی - دَ دے نه علاوه به دوی ته په جنت کښ هر هغه څیز حاصل وی کوم ته چه دَ دوی په زړونو کښ خواهش پیدا کیږی او دَ کوم څیز دَ لیدو چه سترګے شوق لری او په جنت کښ به همیشه اُوسیږی، نهٔ به ورته مرګ راځی او نهٔ به دَ جنت نعمتونه فنا کیږی - جنتیانو ته به وویلے شی: په دُنیا کښ چه کوم نیك عملونه تاسو کړل دَ هغے په بدله کښ دا ټول نعمتونه تاسو ته درکړے شو - دِ یکښ تاسو دپاره بے شماره او مختلف قسمه

میوے دی چه هیڅکله به نه ختمیږی اگرچه تاسو هر څومره زیات هم وخوری خو دَ هغې دوچند به نورے پیدا شی، فاکهة کثیرة بحسب الانواع والاصناف ..... وعن النبی صلی الله علیه وسلم لا ینزع رجل فی الجنة من ثمرها الا نبت مثلاها مکانها۔
(ابو السعود ص ۴۴۵ ج ۷)۔

۴۳ اِنَّ الْمُجْرِمِیْنَ — تا — اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ۞: دا تخویف اُخروی دے، مشرکان به دَ جهنم په عذاب کښ همیشه وی، دَ جهنم عذاب به هیڅکله نه ختمیږی او نه به پکښ څه سیکوالے اوکموالے کیږی او دوی به په عذاب دَ نجات نه نا اُمیده کیدو سره چپ شی لکه څنګه چه یو انسان نا اُمیدئ سره خاموش شی: والمبلس الیائس الساکت سکوت یائس من فرج (کبیر، ج ۷ ص ۳۵۵)۔ همیشه عذاب کښ مبتلا کولو سره مونږ په هغوی هیڅ ظلم زیاتے نه دے کړے بلکه په دُنیا کښ دوی زمونږ دَ حکم خلاف ورزی کولو سره ئے پخپله په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړو، او دا عذاب دَ دوی دَ خپلو ګناهونو سزا ده۔ هرکله چه هغوی دَ هر طرف نه نا اُمیده شی نو دَ جهنم داروغه ته به درخواست وکړی چه دَ الله په دربار کښ درخواست وکړه چه هغه په مرګ سره زمونږ خاتمه وکړی دپاره دَ دے چه مونږ دَ دے عذاب او مصیبت نه خلاص شو نو هغه به جواب ورکړی چه مرګ به تاسو ته نه راځی څکه چه مرګ خو دَ عذاب نه دَ خلاصی یو صورت دے او ستاسو دپاره خلاصے نشته۔ انما یفعله لانه لا نجاة ولا نجاة لکم۔ (مهائمی ج ۲ ص ۲۵۹)۔

۴۴ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ: التفات (خطاب) اهل مکه ته۔ مونږ خپل رسول تاسو ته دَ حق او صداقت پیغام (دَ توحید او شرائع دَ دین) سره لیږلے دے لیکن ستاسو نه اکثر خلق حق نه خوښوی او دَ توحید او دَ یو الله دَ عبادت په مقابله کښ دَ غیر الله عبادت کوی
اما الحق الذی هو التوحید او القرآن فکلهم کارهون له مشمئزون منه۔
(ابو السعود ص ۴۴۵ ج ۷)۔

۴۵ اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا: دا زجر دے۔ دَ مکے مشرکانو دَ یو کار پخه فیصله کړے ده یعنی هغوی رسول الله ﷺ ته دَ تکلیف رسولو او دَ دین اسلام دَ ختمولو سازش جوړ کړیدے لیکن مونږ دَ هغوی دَ ټولو فیصلو خاورے کولو او پیغمبر علیه السلام لره دَ هغوی دَ پلیتو لاسونو نه محفوظ کولو او دین اسلام په ټولو دینونو باندې دَ غالب کولو فیصله کړے ده۔ اَمْ یَحْسَبُوْنَ الخ: ایا دَ هغوی خیال دے چه مونږ دَ هغوی دَ پټو خبرو نه خبر نه یو او هغه نه اوروو؟ ولے نه؟ مونږ اورو او پښے خبر یو او دَ دے نه علاوه زمونږ فرشتے (کراماً کاتبین) هم دَ هغوی سره وی او دَ هغوی هره خبره لیکی۔ په دے وجه به دَ دوی هیڅ منصوبه هم کامیابه نه وی۔ مونږ پیغمبر علیه السلام لره دَ دوی دَ نظرونو نه بچ کړو او صحیح سالم مدینے ته اُورسولو او بیا مو په جنګ بدر کښ دَ مسلمانانو او فرشتو په لاس مشرکان ذلیله او رسوا کړل او قید او قتل مو کړل۔ څنو مید ان پر لیبنودو او تختید ل اوډیر

پکښې مسلمانان شول۔

۲۶ قُلْ اِنْ كَانَ: دا د سورت په شروع کښې د وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا سره متعلق دے۔ د قرآن مجید دا قاعده ده چه کله د سورت ابتدائي مضمون د سورة په اخر کښې هم په يو بل انداز کښې ذکر کولے شي دپاره د دے چه د سورت اول او اخر کښې اتحاد او مناسبت راشي۔ د واضح د لائلو او قاطع براهینو نه دا خبره ثابته شویده چه د الله تعالیٰ څوك ولد او نائب نشته لیکن که چرے بالفرض د مشرکین مکه د قول مطابق د الله پاك دپاره ولد او نائب ثابت شي نو څه به د ټولو نه اول هغه اومنم او د هغه تعظیم به په ځائے راوړم او د هغه مطابق به د الله تعالیٰ عبادت کوم۔ دا تمثیل د ولد په نفي کولو کښې په طور د مبالغے ذکر کړے شویدے۔

معنی الآیة ان کان للرحمٰن ولد وصح وثبت ذٰلک ببرهان صحیح تورد ونه وحجة واضحة تدلون بها فانا اول من یعظم ذٰلك الولد واسبقکم الی طاعته والانقیاد له کما یعظم الرجل ولد الملك لتعظیم ابیه وهذا کلام وارد علی سبیل الفرض والتمثیل لغرض هو المبالغة فی نفی الولد والاطناب فیه۔ (کشاف)۔

سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ الخ، لیکن الله تعالیٰ چه د زمکے او اسمان او عرش عظیم مالك دے او په ټولو کائناتو کښې مدبر او متصرف دے، هغه د ولد او نائب نه منزه او پاك دے۔

۲۷ فَذَرْهُمْ (الآیة): زجر دے سره د تخویف اُخروي نه۔ د دے عنا دگرو د ویرولو حق ادا شو او د الله تعالیٰ حجت په دوی باندې قائم شو۔ اوس دوی لره په کفر او شرك، عناد او ځان لويئ کښې نو تلی پریږده او په دُنیا کښې ئے لوبو ټوقو او د دُنیا په عیش او خوشحالئ کښې ډوب شوی پریږده تر دے چه د قیامت په ورځ بیا مومی هغه چه دوی سره ئے وعده شویده هلته به د خپلو کړو پوره سزا بیا مومی۔

۲۸ وَهُوَ الَّذِیْ ۔ تا ۔ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۵، دا په توحید باندې عقلي دلیل دے۔ الله تعالیٰ چه د زمکے او اسمان او د ټولو کائناتو مالك او خالق دے او په زمکه کښې په حقه سره معبود دے او صرف هغه په ټولو کائناتو کښې متصرف او کارساز دے۔ هم هغه حکیم او مُدبر دے او صرف هغه غیب دان دے۔ نو د هغه هیڅ يو نائب او متصرف ته ضرورت نشته۔ وَتَبٰرَكَ الخ، په زمکه او اسمان کښې متصرف او غیب دان هم صرف هغه دے او برکات ورکونکے هم صرف هغه دے۔ د ټولو کائناتو بادشاه صرف هغه دے او د قیامت علم هم د هغه پورے خاص کړے شویدے۔ د قیامت په ورځ به ټول د هغه په وړاندے وی۔ هر کله چه په ټولو کائناتو کښې متصرف هم هغه دے او عالم الغیب هم هغه دے نو د هغه نائب متصرف ته هیڅ حاجت نشته۔

۴۹ وَلَا يَمْلِكُ (الآية)، دِے سورت کښې چونکه همدا يو زياتي مضمون ذکر کړے
شوے دے، نو دا دَ سورت دعوىٰ ده او دَ مشرکانو دَ شبهے جواب دے چه موږ
او منلو چه زمونږ معبودان حاجت روا نهٔ دي او په ټولو کائناتو کښې متصرف او ټول
هرڅهٔ کوُلو والا صرف الله تعالیٰ دے ليکن موږ دَ دوی عبادت ځکه کوُو چه دوی زمونږ
سفارشيان دي او په الله تعالیٰ باندې زمونږ کاروته کوی۔

تائيد:- وَ يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ
هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ (يونس ع ۲)۔ نو جواب ورکړے شو چه مشرکان دَ الله نه
سوا چه څوك په حاجتونو کښې رابلی، هغوی ته دَ شفاعت هيڅ اختيار نشته۔ اِلَّا مَنْ
شَهِدَ الخ: دا استثناء منقطع ده او دَ شهادت نه دَ کلمه توحيد شهادت مراد دے۔
او مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ نه هغه معبودان مراد دی کوم چه پخپل عبادت باندې خوشاله
وُو۔ او کچرے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عام کړے شی نو په دیکښې به فرشتے، عيسیٰ او عُزير
عليهما السلام هم شامل شی بلکه ټول انبياء عليهم السلام او اولياء کرام کوم چه
معبودان جوړ کړے شول نو مستثنیٰ به متصل وی او مطلب به دا وی چه دَ شفاعت کوُلو
اجازت به صرف هغه خلقو ته وی چا چه دَ توحيد کلمه او منله او څوك چه په خپل
عبادت باندې خوشاله وُو هغوی ته به دَ شفاعت اجازت نهٔ ملاويږی، هغوی به پخپله
هم په دوزخ کښې وی:

ای ولكن من شهد بالحق بكلمة التوحيد وهم يعلمون ان الله ربهم حقا ويعتقدون ذلك هو الذي يملك الشفاعة وهو استثناء منقطع اومتصل لان في جملة الذين يدعون من دون الله الملائكة۔ (مدارک)۔

دِے صورت کښې به دَ مَنْ شَهِدَ نه شفاعت کوُنکی مراد وی او دَ شفاعت نه
هغه شفاعت مراد دے چه دَ قيامت په ورځ به دَ گنهگارانو په حق کښې دَ الله تعالیٰ
په اجازت سره وی۔ يا به اَلَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ الخ نه مراد صرف نيکان خلق وی
کوم چه دَ هغوی دَ خوښے نه بغير معبودان گرځولی شوی دی۔ او دَ مَنْ شَهِدَ نه
مشفوع لهٗ مراد وی يعنی هغه خلق چه دکوم په حق کښې به شفاعت وی، ای
اِلَّا لِمَنْ شَهِدَ الخ: او مطلب به دا وی چه دوی ته به صرف دَ هغه خلقو په حق کښې
دَ شفاعت اجازت وی چا چه دَ توحيد کلمه وُمنله ليکن دَ مشرکانو په حق کښې به هيڅ
نه دَ شفاعت اجازت نهٔ ملاويږی:

قيل المراد بالذين يدعون من دونه عيسیٰ و عزير والملائكة فان الله لا يملك من هٰؤلآء الشفاعة الا من شهد بالحق وهي كلمة الاخلاص وهي لا اله الا الله۔ (خازن ج ٦ ص ١١٩)۔

۵۰ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ (الآية): دا عقلی دليل دے چه خصم (مقابل) ئے هم
اقرار کوی۔ کچرے دَ دغه مشرکانو نه تپوس وکړې چه دا راوښايئ چه تاسو او ستاسو

معبودان کوم چه تاسو عند الله شفیع گڼړئ چا پیدا کړیدي. نو جواب کښې به اُوائي چه
هغه الله تعالیٰ پیدا کړیدي. بیا د هغه د عبادت نه ولې گرځئ او د دے اقرار با وجود
د الله تعالیٰ د عبادت او وحدانیت نه مخ کوم طرفته گرځولو سره اُلټه روان دی.
۸۸ وَقِیْلِهٖ: واو په معنیٰ د رُبّ دے یعني د بیر حالَه د پیغمبر علیه السلام دا کلمه ویلے
کیدل. اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ د مشرکانو د ایمان نه نا اُمیده کیدو سره
به هغوئ الله تعالیٰ ته د مشرکانو شکایت کولو چه اے ځما پروردگاره! دا قوم
داسے سرکشه شوے دے چه اُوس دوی ایمان نه راوړي. قال ابن عباس رضی الله عنهما شکا
الی الله تعالٰی تخلف قومه عن الایمان وقال قتادة: هذا نبیکم یشکو قومه
الی ربه. (خازن ص ۱۹۱ ج ۶). حضرت شیخ رحمه الله فرمائي چه: قسم دے د هغه په
وینا یعني د هغه د دے وینا او دُعا غوښتلو په سبب زهٔ دوی ته سزا ورکوم.
تائید: فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ۝ یا واؤ قسمیه دے، او
اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ الخ جواب قسم دے یعني زما د پیغمبر په یَا رَبِّ ویلو او ځما نه
دُعا غوښتلو باندې قسم چه دا خلق به ایمان نه راوړي او د پیغمبر علیه السلام د دُعا د
وجے نه به ځهٔ هغوی ته سزا ورکوم. کأنه قیل واقسم بقیله یا رب! ان هٰؤلاء
قوم لا یؤمنون. (مدارک) فاصفح عنهم الخ: دیکښې د مشرکانو نه د اعراض
کولو او ضمنًا د خیرو نه کولو حکم دے یعني دوی د خپلو عملونو په وجه سره د
عذاب مستحق گرځیدلي دي، د خیرو ضرورت نشته. نزدے ده چه دوی به
خپل بد انجام اُووینی لکه چه چبرزر دوی په جنگ بدر کښې خپل انجام ولیدهٔ
او د سَلام نه مُراد سَلام د متارکت دے چه په تعلقاتو قطع کولو باندې دلالت
کوي:

امره بان یصفح عنهم وفی ضمنه منعه من ان یدعوا
علیهم بالعذاب والصفح هو الاعراض ثم قال وقل
سلام قال سیبویه انما معناه المتارکة.
(کبیر، ج ۷ ص ۳۶۲).

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین ۝

سورۂ زخرف کښې د توحید ایتونه او د هغې خاصیتونه

① وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ ـ تا ـ مَا تَرْكَبُونَ ○ (ع ۱) نفی د شرك فی التصرف.
② وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا ـ تا ـ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّهْتَدُونَ ○ (ع ۲) نفی د شرك فی التصرف.
③ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ـ تا ـ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ○ نفی د شرك فی العبادة والدعاء.
④ وَسْئَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَا (الآیة، ع ۴) د هیڅ یو پیغمبر په شریعت کښې د غیر الله عبادت او رابلل جائز نه دی ګرځولی شوی.
⑤ إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ○ (ع ۶) د حضرت عیسیٰ علیه السلام تعلیم داؤ چه صرف د الله تعالیٰ عبادت کوئ، هغهٔ د خپل عبادت حکم نه وو کړے.
⑥ وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ ـ تا ـ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ○ (ع ۷) نفی د شرك فی العبادة والتصرف او نفی د شرك فی العلم.
⑦ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ (الآیة): نفی د شفاعتِ قهریه. او نفی د شفاعت د مشرکانو په حق کښې.



سُورَةُ الدُّخَانِ

ربط سورۂ زخرف کښې دَ مشرکانو هغه شُبه لرے کړے شوه چه دوی باطل معبودانو لره دَ الله تعالیٰ نائبان او دَ هغهٔ په دربار کښې شفیع غالب گڼړی - هلته دَ عقلی، نقلی او وحی دلائلو نه ثابت شوه چه الله تعالیٰ دَ ټول کائناتو خالق او مالك او هغه په ټولو کائناتو کښې متصرف او کارساز دے او دَ هغهٔ سره هیڅوك نائب نشته او نه دَ هغهٔ په شاهی دربار کښې څوك شفیع غالب شته - اوس په سورۂ دُخان کښې دَ مشرکانو دَ یوے شبهے جواب ورکړے شویدے یعنی مونږ او منلو چه زمونږ معبودان دَ الله تعالیٰ نائبان او شفیع غالب نه دی لیکن هغوی زمونږ دُعا گانے او آوازونه آوری او زمونږ دَ حالاتو نه خبردی نو ځکه هغوی زمونږ آوازونه آوریدلو سره دَ الله په دربار کښې زمونږ سفارش اوکړی اگر چه قبول شی یا نه، نو په دیکښې څهٔ نقصان دے؟ نو دَے جواب ورکړے شو، اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ○ (ع۱) چه دَ ټول هرڅهٔ نه خبر صرف الله تعالیٰ دے او صرف هغه حاجت روا او مُشکل کشا دے بل څوك نشته -

خلاصه تمهید سره دَ ترغیب نه - دَ سورۃ دعوی (اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ○) تخویف دُنیوی، تخویف اخروی، دَ آخرت زیرے - او مینځ کښې توحید بانډے یو عقلی دلیل: وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ — تا — اِلَّا بِالْحَقِّ -

تفصیل

حٰمٓ وَالْكِتٰبِ الْمُبِیْنِ ○ — تا — رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ : تمهید سره دَ ترغیب نه دا یو عظیم الشان حکمنامه ده چه دا مونږ دَ یو برکت والا شپه کښې نازل کړهٔ چه مقصود دَ دے نه خلق ویرول دی ځکه نه منلو نو عذاب به راځی - هغه حکمنامه (فرمان) څهٔ دے؟ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ○ دا هغه حکمنامه ده چه دَ سورت مقصودی دعوی ده او دَ مشرکانو دَ یوے شبهے جواب دے - فَارْتَقِبْ — تا — اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ○ تخویف دُنیوی دے - دَ مکے په مشرکانو باندے نزدے ده چه دَ قحط سالئ په صورت کښې دَ الله تعالیٰ عذاب راتلونکے دے - دغه وخت به دوی الله تعالیٰ ته آوازونه کوی چه دا عذاب لرے کړه نو مونږ به ایمان راؤړو خو کله چه مونږ عذاب لرے کړو نو دوی به بیا سرکشی کوی - آخر به ئے په میدان بدر

کښې ختم کړو. وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ ـ تا ـ وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ۝ دُنیا کښې دَ عذاب نه دَ ویرولو یوه نمونه فرعون او دَ هغهٔ قوم انجام ته وګورئ، هغوی (پیغمبرانو لره) دروغژن وګڼل ـ دَ غرور، تکبر، سرکشئ او نافرمانئ څهٔ سزا ورته ملاؤ شوه، هر کله چه زموږ عذاب راغے نو هیڅ څیزئے په فائده را نغے نهٔ دولت او حکومت، نهٔ لښکرے سامانونه. وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ـ تا ـ بَلَاءٌ مُبِينٌ ۝ (ع ۲) : دَ دُنیوی بشارت نمونه، بنی اسرائیلو ته دَ صبر او استقلال میوه ملاؤ شوه، دَ فرعون دَ عذاب نه ورته خلاصے ملاؤ شو او دَ خپلے زمانے په خلقو بانديِ ورته الله تعالیٰ فضیلت ورکړو.

إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ـ تا ـ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝ : التفات (خطاب) دے اَهلِ مکه ته. دا شکوه ده. نهٔ صرف دا چه دوی دَ توحید نه انکار کوی بلکه دَ قیامت او دوباره ژوندی کیدلو نه انکار کوی. أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ (الآية) : تخویف دُنیوی دپاره دویمه نمونه. دَ مکے مشرکان دَ تُبّع قوم نه زیات طاقتور او دولتمند نهٔ دی. هر کله چه هغوی دشرك او څان لوئے ګڼرلو په جرم کښې هلاك کړے شول نو دا بیچاره کان دَ کوم باغ مولئ دی (څهٔ اصل او حقیقت نلری).

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ ـ تا ـ لَا يَعْلَمُونَ ۝ : دا په توحید بانديِ عقلی دلیل دے زمکه، اسمان او دا ټول جهان موږ هسے بیکاره نهٔ دے پیدا کړے بلکه هر څیز موږ دَ حق دَ اظهار دپاره پیدا کړیدے. دَ کائناتو ذره ذره زموږ دَ وحدانیت او قدرت کامله دلیل دے. إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ (الآیتین) دَ عذاب نه ویرول او دَ جنت زیرے ورکول دی. إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ـ تا ـ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِ تَمْتَرُونَ ۝ (ع ۳) : دا دَ آخرت دَ عذاب نه ویرول دی. کافرانو ته به په جهنم کښې زقوم خوراك دپاره او جوش وهونکے اُوبۂ څښلو دپاره ورکولے شی.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ۝ ـ تا ـ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۝ : دا بشارت اُخروی دے (دَ جنت دَ نعمتونو زیرے دے).

متقیان خلق به په جنت کښې وی چه دَ امن نه ډك ځائے دے. اغوستلو دپاره به اعلیٰ قسم کپړے وی، دَ جنت حورے به دَ هغوی ملګرے وی، هر قسمه میوے به هغوی ته ورکړے شوے وی او دا ټول نعمتونه به همیشه او نهٔ ختمیدونکی وی.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ (الآیة) : دا دَ ټول سورت سره متعلق دے. فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ۝ : دا دَ دُنیا دَ عذاب نه دهغوی ویرول دی. فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ الخ سره متعلق دے.

سُوْرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّخَمْسُوْنَ آيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة دخان مکه کښې نازل شوې او دې کښې یو کم شپیته ۵۹ ایتونه او درې رکوع دي۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نوم د الله چه ډیر زیات مهربان ډیر رحم کوونکے دے۔

حٰمٓ ۝١ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ

قسم دے په دے کتاب واضح که موږ هغه نازل کړو د یو برکت والا

مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ۝٣ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ

شپه کښې که وو موږ یو ویرونکی وو ، دے کښې که جدا کیږی هر کار

حَكِيْمٍ ۝٤ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۝٥

حکمتناک وو حکم شوے وے زموږ له طرفه شه موږ یو لیږونکی له وو فقط

رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٦

رحمت له جانبه د رب ستا نه، بیشکه هغه دے اوریدونکے خبردار که

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ

رب د آسمانونو شه او د زمکے او کوم څه چه د دوی په مینځ کښې دی ، پکښې تاسو

مُّوْقِنِيْنَ ۝٧ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ رَبُّكُمْ

یقین کوونکی۔ د هیچا بندګی نشته سوا د هغه نه ژوندی کوی او مړه کوی ، رب ستاسو

وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٨ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ

او رب ستاسو د مخکنو پلارانو نیکونو۔ هیڅ شک نشته دوی په دهوکه کښې دی

يَّلْعَبُوْنَ ۝٩ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ

لوبے کوونکی شه پس انتظار وکړه د هغه ورځ چه راوړی به اسمان لوګے

مُّبِيْنٍ ۝١٠ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝١١ رَبَّنَا

ښکاره ، چه پټ به کړی خلقو له ، دا دا عذاب دے دردناک۔ اے ربه !

اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ

لرې کړې زمونږ نه دا عذاب مونږ ایمان راوړو ۔ چرته به ملاؤ شي دوی ته

الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا

پوهه (نصیحت) حالانکه او راغلے دوی ته رسول واضح اورونکے ۔ بیا ئے د هغه نه مخ

عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ

وګرځولو او وے وئیل ښودلے شوے لیونے دے مونږ لرے کوو دا عذاب

قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

لږ موده یقیناً تاسو به بیا هغه شان کوئ ۔ په کومه ورځ چه مونږ نیول اوکړو لوئے

الْكُبْرَىٰ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ

نیول ، بیشک مونږ بدله اخستونکي یو. حقه او ازمائیلي دي مونږ د دوی نه مخکښې حاله د فرعون

فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوا

قوم او راغلے دوی ته رسول عزتمند ، چه حواله کړی

إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ ۖ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن

ماته د الله بندګان حقه تاسو ته راغلے یم لیږلے شوے اعتبار کړے شوے حقه او دا چه

لَّا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ ۖ إِنِّي آتِيكُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾

تکبر مکوه د الله په مقابله کښې ، حقه راوړم تاسو ته ښکاره دلیل ۔

وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن

او ما پناه اخستے ده په خپل رب او ستاسو په رب حاله د دے خبرے نه چه تاسو ما په کانړو ولګی ئ او که چرے

لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ

تاسو یقین نکوئ په ما باندے نو ځما نه په څنګ شئ حقه بیا ئے دعا وکړه د خپل رب نه حاله چه

هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا

دا خلق ګنهګار دی ۔ پس بوځه د شپے ځما بندګان

إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ

بیشکہ تاسو پسې روستو به درځي (قبطیان) او پریږده دریاب په غلي ولاړ حاله بیشکه هغه لښکر

مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ

دوبیدونکي دي. ډیرې پرېښودل باغونه ئې او چینې او فصلونه

وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ﴿٢٧﴾

او کورونه ښائسته او د آرام سامان چه په هغې کښې خوشاله وو،

كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ

همدا سې وشوه او هغه ټول مو ترې پس (په) لاس کښې ورکړل بل قوم ته ف۱۰ بیا او نه ژړل

عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾

په دوی باندې آسمان ف۱۱ او زمکې او ورنکړې شو دوی ته مهلت ف۱۱

نکات :- ۱ تمهید سره د ترغیب نه - ۲ تخویف دنیوی -

موضح قرآن ف۱ یعني اوړول همیشه زمونږ کار او دستور دے - د برکت شپه لیلة القدر ده لکه چه وے فرمائیل : إِنَّآ أَنزَلْنَاهُ فِى لَيْلَةِ الْقَدْرِ ٥

ف۲ جد اکیږي یعني د لوح محفوظ نه جدا شي او هغه کار والا (فرشتو) ته سپارل کیږي چه د تکوینا تو په شعبو کښې کار کوي۔ ف۳ یعني فرشتې په هر کار باندې۔ ف۴ دا دے نه معلومیږي چه د قیامت د وړځې د لوګي ذکر دے چه د غه وخت به نصیحت په کار نه راځي - په قیامت کښې به دا لوګے احاطه وکړي۔ نیک انسان باندې به د زکام پشان اثر وکړي او د بد انسان سرته به ورخیژي، هغه به بیهوشه شي را پرېبه وځي۔ ف۵ یعني عادت ستاسو دا دے۔ ف۶ یعني د آخرت د عذاب نه لرے کیږي، ف۷ یعني بني اسرائیل رخصت کړه. ف۸ بنائي چه هغه د دوی نه وېرېدلي وي۔ ف۹ یعني خپل قوم بوځم ته ئے لاړ نیسه۔ ف۱۰ یعني بني اسرائیل لکه څنګه چه په سورة شعراء کښې دي۔ معلومیږي چه د فرعون د غرقیدلو نه پس بني اسرائیل په مصر کښې تصرف کونکي شول۔ ف۱۱ په حدیث کښې ارشاد دے چه د مسلمان په مرګ د آسمان دروازه ژاړي په کومه چه د ده رزق راکوزیده یا نیک عمل ئے پرې بره ختلو او زمکه چرته چه به ده مونځ کولو سجده به ئے کوله۔

فتح الرحمن ف۱ یعني لیلة القدر۔ ف۲ یعني پیغمبر علیه السلام ف۳ مترجم وائي دا وعده پوره شوه او الله تعالی په قریشو باندې قحط راوسته

چه دَ سختې لوږې یا دَ ډیرو بخاراتو په وجه دوی لوګے محسوس کړلو او دَ الله تعالیٰ طرف ته ئے رجوع وکړه - الله پاک ترینه قحط لرے کړو - بیا دوی په کفر بانډې همیشوالے وکړو - الله تعالیٰ دَ بدر په ورځ دَ دوی نه انتقام واخستو چه اویا تنه دَ دوی مشران سرداران ئے اُووژل او اویا تنه ئے قیدیان جوړ کړل - والله اعلم - **ف ۳** یعنی بنی اسرائیل ما ته حواله کړئ او غلامان ئے مه جوړوئ.

تفسیر **۲** وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝: دا تمهید دے سره دَ ترغیب نه - دَ کتاب نه یا خو قرآن مراد دے - دِے صورت کښې به مبارکه شپه کښې دَ قرآن نازلولو مطلب دا وی چه دِے شپه کښې دَ قرآن نازلول شروع شو - وقال غیر واحد المراد ابتداء انزاله فی تلك اللیلة علی التجوز - (روح ج ۲۵ ص ۱۱۱) ځنو مفسرینو لیکلی دی چه دِے برکت والا شپه کښې ټول قرآن دَ لوح محفوظ نه په یو ځل دَ دُنیا اسمان ته نازل شو او دَ هغه نه لږ لږ دَ ضرورت موافق په درویشت کاله کښې نازل شو - لیکن دِے باره کښې چه کوم حدیث ذکر کولے شی هغه قوی نه دے - یا سورت مُراد دے لکه چه وے فرمائیل: يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝ (البینة) دلته دَ کُتُب نه مراد سُورتونه دی - دِے صورت کښې به په اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ کښې دَ تاویل ضرورت نه وی او مطلب به دا وی چه دا سُورت مونږ دَ برکت والا شپه کښې نازل کړے دے - دریمه توجیه دا ده چه دَ الکتٰب نه دَ سورت دعویٰ مراد ده:

یعنی انا انزلنا هذا الحکم الآتی فی لیلة مبارکة فعلیکم ان تأتمروا به وننذرکم من مخالفته وفی هذه اللیلة افرق عذاب من لم یؤمن بهذا الحکم وانزلنا هذا الحکم رحمة بکم وهو انه هو السمیع العلیم لکل شیء العلیم بکل شیء لا غیر - (الشیخ رحمه الله تعالیٰ) -

الله تعالیٰ خالص په خپل رحمت سره دا حکم رالیږلے دے - دَ دے برکات همیشه دپاره باقی دی - دَ دے برکاتو اثار همیشه دپاره باقی دی ځکه چه لیلة القدر په کومه کښې چه دَ قرآن دَ نزول شروع وشوه، دَ زرو میاشتو نه بهتره ده په کال کښې چه کله هغه شپه راځی نو دَ رحمت دَ اثارو ظهور کیږی.

وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ: قسم دے او جواب قسم محذوف دے، ای مابقی موضع شبهة - یعنی دا کتاب چه دَ حق واضح او روښانه کونکے دے پدے شاهد دے چه دَ توحید دَ مسئلے هر اړخ ښکاره شوے دے او اوس څه شک او شُبه باقی پاتے نشوه - قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ - یا اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ الخ جواب دَ قسم ذکر شوے دے (روح وغیره) یا دا جمله معترضه ده دَ عظمتِ قرآن دَ بیان دپاره او اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ۝ جواب قسم دے، قال ابن عطیه لا یحسن وقوع القسم علیه ای علی انا انزلناه وهو اعتراض یتضمن تفخیم الکتٰب ویکون الذی وقع علیه القسم

انا کنا منذرین انتهی (بحر، ج ۸ ص ۳۲) - قرآن مجید کښې چه څومره قسمونه راغلی دی دَ هغې نه مقصود دلائل او شواهد دی چه هغه په صورت دَ قسمونو کښې ذکر شویدی، ان الایمان التی حلف الله تعالٰی بها کلها دلائل اخرجها فی صورة الایمان مثاله قول القائل لمنعمه وحق نعمك الکثیرة انی لا ازال اشکرک فیذکر النعم وهی سبب مفید لدوام الشکر - (کبیر - الذاریات) -

سـ۳ـه لَيۡلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ: دَ جمهورو په نزد دَ لیله مبارکه (برکت والاشپے) نه لیلة القدر مُراد ده چه په رمضان کښې راځي په قرینه دَ: اِنَّآ اَنۡزَلۡنٰهُ فِيۡ لَيۡلَةِ الۡقَدۡرِ - (القدر) او شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِيۡۤ اُنۡزِلَ فِيۡهِ الۡقُرۡاٰنُ (البقرة ع ۲۳) - دَ دینه معلومه شوه چه لیلة البراءت یعنی دَ شعبان پنځلسمه شپه مراد نه ده:

قال ابوبکر بن العربی وجمهور العلماء علی انها لیلة القدر ومنهم من قال انها لیلة النصف من شعبان وهو باطل لان الله تعالٰی قال فی کتابه الصادق القاطع شهر رمضان الذی انزل فیه القران - (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۲۷) هی لیلة القدر علی ما روی عن ابن عباس وقتادة و ابن جبیر و مجاهد و ابن زید والحسن وعلیه اکثر المفسرین والظواهر معهم (روح ج ۲۵ ص ۱۱۰) -

دَ شب براءت باره کښې دَ فضائلو کوم احادیث چه وارد شویدی، هغې کښې ډیر لږ دَ ثبوت درجے ته رسیدلی دی او باقی ټول بے اصله دی. ځینې علماؤ خو ټول غیر ثابت گرزولی دی - ولیس فی لیلة النصف من شعبان حدیث یعول علیه لا فی فضلها ولا فی نسخ الاٰجال فیها فلا تلتفتوا الیها - (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۲۸) -

اِنَّا كُنَّا مُنۡذِرِيۡنَ ۝ دَ دے کتاب نازلولو نه مقصود اِنذار دے یعنی خلقو ته دَ توحید پیغام اَورول او نه منونکو له دَ عذاب الهی نه خبرول - لیلة القدر دَ اُمتِ محمدیه خصوصیت دے - (مؤطا، مالک، بحر، ابن کثیر) او دَ جمهورو په نزد دا شپه همیشه په رمضان کښې راځي - اول دا شپه متعین وه - روستو الله تعالٰی دَ هغې تعیین پورته کړو - یعنی اُوس هغه شپه دَ رمضان په یو غیر معین تاریخ بانډ راځي بلکه دَ رمضان په روستنو لسو شپو کښې به راځي لکه چه په حدیث شریف کښې دی چه لیلة القدر دَ رمضان په ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹ شپه کښې تلاش کوئ - (ابن کثیر، ج ۴ ص ۵۳۳) -

سـ۴ـه فِيۡهَا يُفۡرَقُ، دِے شپه کښې هره یوه اَهمه معامله دَ مرګ ژوند، رزقونه وغیره، قحط دَ اهلِ مکه او په جنګ بدر کښې دَ هغوی رسوائي هم په دا سے اُمورو کښې داخل دی - دا سے اهم امور چه دَ اول نه دَ دے کال دپاره مقدر وی هغه فرشتو باندې ظاهرولے شي او هغوی ته ئې لیکلو حکم ورکولے شي دَ کوم فرشتو چه هغه فرائض وی: ومعنی یفرق یفصل ویکتب کل امر من ارزاق العباد و اٰجالهم

(مدارک ج ۴ ص ۹۷) ومعنی هذا ان الله یظهر لملائکته ویأمرهم بفعل ما هو من وظیفتهم بان یکتب لهم ما قدره فی تلك السنة ویعرفهم ایاه (خازن ج ۷ ص ۱۲ القدر) - صرف لوئ لوئ أمور ملائکو ته حواله کولے شی - ټول واړه او لوئ أمور مراد نه دی حکه چه فرشتو ته د ټولو أمورو علم نشته - د یکښ تخویف دُنیوی اړخ هم شته چه مونږ دا حکمنامه د برکت والا شپه کښ نازله کړیده - اُوس هم کړے دوی ونه منله نو په دُنیا کښ به ورته عذاب ورکولے شی او دا شپه داسے ده چه دیکښ لوئ لوئ کارونه فیصله کولے شی مثلاً قحط او د قومونو تباهی وغیره - په دے وجه مشرکانو له ویره ل پکار دی حکه چه د مکے مشرکانو اُونه منله نو په هغوی باندې د قحط سالئ او په جنګ بدر کښ د قتل، قید او ذلت، رسوایئ عذاب مُسلط کړے شو - اَمْرٍ حَکِیْمٍ ۔ محکم او یقینی حکم چه واپس نکړے شو - الحکیم په معنیٰ د المحکم : الحکیم بمعنی المحکم لانه لایبدل ولایغیر بعد ابرانه للملائکة علیهم السلام - (روح ج ۲۵ ص ۱۱۳) -

۵ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا : امرًا منصوب علی الاختصاص - او د دیته مقصود د هغه فیصله کړے شوُو اُمورو د اهمیت او عظمت اظهار دے یعنی د دینه هر لوئے او اهم امر مُراد دے چه زمونږ د حکمت او تدبیر موافق وی - (الزمخشری) "امرًا" نصب علی الاختصاص جعل کل امر جزلا فخما بان وصفه بالحکیم، ثم زاده جزالة وکسبه فخامة بان قال اعنی بهذا الامر امرًا حاصلا من عندنا، کائنا من لدنا وکما اقتضاه علمنا وتدبیرنا (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۲۹) -

۶ اِنَّا کُنَّا مُرْسِلِیْنَ ، د دے تعلق یا خو د وَالْکِتٰبِ الْمُبِیْنِ سره دے په دے معنیٰ چه مونږ دے کتاب سره خپل پیغمبر لرہ لیږو نکی یُو چه ستا د پروردګار له طرفه محض رحمت دے یا د لیلة مبارکة سره متعلق دے یعنی دے شپه کښ فرشتو ته نوی فرائض سپارلی کیږی او خپل خپل کار باندې لیږلے شی - یا د مرسلین نه مراد دا دے چه مونږ خپلو بندګانو ته انبیاء او رسولان لیږو بندګانو باندې د رحمت د پاره چه هغوی هدایت بیاموهی - رَحْمَةً مفعول به د مرسلین د پاره یا مفعول له یا مفعول مطلق دے د فعل محذوف :

مفعول له علی معنی انا انزلنا القران لان من شأننا وعادتنا ارسال الرسل بالکتب الی عبادنا لاجل الرحمة علیهم (مدارک ج ۴ ص ۹۷) وجوزوا فی رحمة ان یکون مصدر ای رحمنا رحمة ...... وان یکون مفعولا بمرسلین والرحمة توصف بالارسال - (بحر، ج ۸، ص ۳۳) -

په قرأت کښ رحمةٌ په رفع سره راغلے دے - دے صورت کښ به هغه د مُبتداء د محذوف د پاره خبر وی (وقرء الحسن رحمةٌ علی تلك هی رحمة) - (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۲۹) یعنی دا کتاب ستا د رب له طرفه رحمت دے -

۷ۓ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝: دا دَ سورت مقصدی دعوی ده او دَ مشرکانو دَ یوې شبهې جواب دے لکه چه په ربط کښې ذکر کړے شوے دی۔

۸ۓ رَبِّ السَّمٰوٰتِ: دیکښې دوه قرأته دی، اول جر۔ دے صورت کښې دا په مِنْ رَّبِّكَ کښې دَ رَبِّكَ نه بدل دے۔ دوئیم رفع۔ دے صورت کښې به دا دَ اِنَّ دوئیم خبر وی یا به دَ مبتداء محذوف خبر وی: ای هو رب السمٰوٰت الخ۔ دے قرأت بانِدې به، لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ۔ یُحۡیٖ وَیُمِیۡتُ، او رَبُّكُمۡ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِیۡنَ ټول دَاِنَّ خبرونه وی۔ یا جمله مستانفه ده یا به دَ مبتداءات محذوفه خبرونه وی او په اول قرأت بانې جملے مستانفې دی۔ یا مبتداءات محذوفه خبرونه (کل ذلك من الروح) هغه دَ زمکے او آسمان او دَ ټولو کائناتو مالك دے۔ که واقعی ستاسو په دے ایمان وی لکه څنګه چه تاسو دَ دے اقرار کوئ او ستاسو اقرار دَ ایمان او یقین لرلو نه راپیدا شوے وی نو بیا دَ دے نه چه کومه مُدّعا ثابتیږی هغه هم منل پکار دی چه هغه نه سوا هیڅوك متصرف، کارساز او عالم الغیب نشته۔

ان هذا الرب هو السميع العليم الذی انتم مقرون به و معترفون بانه رب السمٰوٰت والارض وما بينهما ان كان اقراركم عن علم وايقان۔ (مدارك ج ۴ ص ۷۹)۔

۹ۓ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (الآیة) پورتنو صفتونو سره چه څوك متصف دے صرف هغه اِلٰه دے، هغه کارساز متصرف، عالم الغیب دے۔ ژوند او مرګ دَ هغه په اختیار کښې دے، هغه ستاسو هم مالك او کارساز دے او ستاسو دَ پلار نیکه هم۔ هر کله چه دَ ټولې دُنیا مالك او خالق هغه دے نو دَ هغه نه سوا هیڅوك کارساز او په غیبو عالم نشته۔

۱۰ۓ بَلۡ هُمۡ فِیۡ شَكٍّ یَّلۡعَبُوۡنَ ۝: دا دَ مقدر نه استدراك دے: ای ما بقی موضع شبهة۔ یعنی دوی له پکار وه چه منلے ئے وے ځکه چه مسئله دومره واضح شوے ده چه دَ شك او شبهې هیڅ ګنجائش باقی پاتے نه دے لیکن بیا هم دوی نه منی بلکه په شك او تردد کښې لوبے تهوقے کوی یعنی دا سے تهوقے کوی لکه چه هغوی اوس هم په مسئله کښې په شك کښې دی۔ ای داخلین فی صورة الشك (قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ)۔

۱۱ۓ فَارۡتَقِبۡ، دا تخویف دُنیوی دے۔ دَ دُخان نه قحط مراد دے ځکه چه اوږې انسان ته دَ سختې لوږے د وجے نه په فضا کښې وریځ او دَ سترګو مخے ته هوا کالے اولوتو نکے په نظر راځی۔ کله چه دَ قریشو مشرکان په عناد او سرکشی کښې دَ حد نه تیر شول نو نبی کریم ﷺ هغوی ته ښیرے اوکړے چه اے الله! دوی بانې دَ یوسف علیه السلام دَ زمانے دَ قحط پشانے قحط مسلط کړے۔ نو په

هغوی باندې داسې سخت قحط راغې چه هغوی د مُردارو په خوړلو باندې مجبوره شو یعنی بیچرې دوی نړمنی نو تاسو دَ هغه وخت انتظار وکړئ کله چه به دوی باندې سخت قحط مُسلط کړې شي۔

قال عبد الله انما کان هذا لان قریشا لما استعصت علی النبی صلی الله علیه وسلم دعا علیهم بسنین کسنی یوسف ، فاصابهم قحط وجهد حتی اکلوا العظام ، فجعل الرجل ینظر الی السماء فیری ما بینه وبینها کهیئة الدخان من الجهد۔ (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۳۱)۔

۱۲ یَغْشَی النَّاسَ ۔ یعنی هغه قحط به ټول مشرکان په خپله قبضه کښې واخلی او دوی به وائی دا خو ډیر درد ناک عذاب دے۔ ای یقولون هذا الخ اویقال لهم هذا۔ (روح) کله چه مشرکانو دَ سختې لوږې په وجه مُردارے او هډوکی خوړل شروع کړل ، نو ابوسفیان دَ نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او دَ صِله رحمیٔ واسطه ئې ورکړه او وعده ئې وکړه چه که چیرې دا عذاب پورته کړې شي نو مونږ ټول به ایمان راوړو۔ رَبَّنَا اکْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ الخ ای یقولون ۔ لما اشتد القحط بقریش مشی ابو سفیان الی رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم وناشده الرحم وواعده ان دعا لهم وزوال مابهم امنوا۔ (روح ج ۲۵ ص ۱۱۹)۔

۱۳ اَنّٰی لَهُمُ الذِّکْرٰی : دَ مشرکانو دَ نفاق او دَ هغوی دَ دروغو ویټلو بیان دے۔ یعنی هغوی دَ دروغو وعدے کوی ۔ دے سره دَ هغوی مقصد صرف دَ عذاب لرے کول دی ۔ صرف دومره خبرے سره به هغوی څنګه نصیحت حاصل کړی حال دا دے چه هغوی ته دَ توحید دَ مسئلے وضاحت سره بیا نونکے رسُول راغلے دے ۔ هغوی دَده دَ وعظ او نصیحت نه متاثره نشول بلکه اعراض ئې تر ے اوکړو ۔ او کله وائی چه هغه دا دَ بل چا ته زده کړے دے او مونږ ته ئې راوړے دے او کله ورته لیونے وائی ۔ حال دا دے چه دا دواړه خبرے غلطے دی ۔ دَ داسے عنادګرو نه به سه لاره دَ را تللو څه توقع کیدے شي ۔ اِنَّا کَاشِفُوا الْعَذَابِ : بنده نو مونږ دَ څه وخت دپاره عذاب لرے کوو لیکن تاسو به دَ وعدے مطابق ایمان نه راوړئ بلکه په کفر باندې به قائم پاتے کیږئ ۔ نو دَ نبی علیه السلام په دُعا سره باران اوشو او قحط لاړو ۔ لیکن مشرکانو ایمان راؤنړلو ۔ یَوْمَ نَبْطِشُ الخ : دا دُنیوی عذاب دَ آخری فیصلے اعلان دے او دَ دینه دَ بدر دَ ورځے عذاب مراد دے ۔ (مدارک ، بحر وغیره) یعنی دَ بدر په ورځ چه کله مونږ دوی لره په ډیر سخت نیولو سره اونیسو ، دغه ورځ به دوی ته انتقام اخستلو سره پریږدو ۔ یَوْمَ نَبْطِشُ دپاره ناصب مقدر دے : ای ننتقم چه په هغے باندې اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ قرینه ده دَ یَوْمَ نَبْطِشُ ظرف لفعل دل علیه انا منتقمون (بیضاوی)

۱۴ وَلَقَدْ فَتَنَّا ـــ تا ـــ مَا فِيهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ : دا دَ تخویف دُنیوی یو نمونه ده او فَارْتَقِبْ یَوْمَ الخ سره متعلق دے ۔ څرنګه چه دَ دوی نه مخکښې فرعون او دَ هغه

قوم ته دَ سرکشئ سزا هم په دُنیا کښې ملاؤ شوه دغه رنګے به دوی ته هم سزا ملاویږي دَ دوی نه مخکښې مونږ فرعون او دَ هغهٔ قوم بانډې ازمیښت اوکړو یعنی دَ خپلو حکمونو منلو حکم مو ورکړو او دوی ته یو عزتمند پیغمبر داپیغام راؤړو چه اسے د الله تعالیٰ بندګانو! کوم حقوق چه ځما دَ طرفه تاسو بانډې واجب دی هغه ادا کړئ. په دے صورت کښې به عباد الله منادیٰ وی او حرف ندا به مقدر وی. دَ حقوق واجبه نه ایمان او دعوت قبلؤل مراد دی:

الاوا الیّ حق الله تعالیٰ من الایمان وقبول الدعوة یا عباد الله علیٰ ان مفعول (ادّوا) محذوف وعباد منادی. (روح ج ۲۵ ص ۱۲۱).

یا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ بندګان ما ته حواله کړئ. په دے صورت کښې به عباد الله دَ اَدّوا مفعول وی او دَ دے نه مراد هغه اسرائیلیان دی کوم چه دَ فرعون قوم غلامان جوړ کړی وُو: اطلقوهم وسلموهم، والمراد بهم بنو اسرائیل الذین کان فرعون مستعبدهم (ایضًا). اِنِّیْ لَکُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ: ځهٔ ستاسو طرفته دَ الله رَسُول یم لو دَ هغهٔ دَ وحی امانتدار یم، دے دپاره ځما پند او نصیحت قبول کړئ او دَ توحید مسئله اُومنئ او سرکشی او غرور او کبر مکوئ او دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو نافرمانی مکوئ. ما تاسو ته داسے واضحه دلائل راؤړی دی کوم چه ځما دَ دعوت دَ رښتونی کیدو ښکاره ثبوت دے.

۵ل وَاِنِّیْ عُذْتُ: دَ دے نه مخکښې ادماج دے. کله چه موسیٰ علیه السلام وفرمایل سرکشی مکوئ نو هغوی دَ قتلولو ویره ورکړه. نو موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل ځهٔ پخپل رب او ستاسو په رب سره پناه نیسم دَ دے نه چه تاسو ما په کاڼو وُلئ. مطلب دا دے چه ځهٔ دَ خپل رب په حفاظت کښې یم، تاسو ما ته تکلیف نشئ رسولے. لما قال ان لا تعلوا علی الله، توعدوه بالقتل فقال ذلك (روح). وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا الخ، او که چرے تاسو په ما بانډې ایمان نه راؤړئ نو ځما نه جُدا شئ او په ما هیڅ کار مهٔ لرئ او ما ته تکلیف مهٔ رارسوئ ترڅو چه الله تعالیٰ پخپله دَ حق او باطل فیصله اوکړی ایا دَ یو مهربان نصیحت کؤنکی دا جزا ده چه هغهٔ ته تکلیف اُورسولے شی. کونوا بمعزل منی وانا بمعزل منکم الی ان یحکم الله بیننا (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۳۵) ولا تتعرضوا لی بشرکم واذاکم فلیس جزاء من دعاکم الی ما فیه فلاحکم ذلك. (مدارک ج ۴ ص ۹۸).

۶ل فَدَعَا رَبَّهٗ: کله چه فرعون او دَ هغه قوم په تکذیب بانډې ټینګ پاتے شول او دَ عناد او سرکشئ نه منع نهٔ شول نو موسیٰ علیه السلام دَ هغوی نه شکایت الله پاك ته اوکړو چه دا خلق سخت مجرمان دی او دَ خپل جرم او شرك نه واپس کیدونکی نهٔ دی په دے وجه دوی ته سزا ورکؤل پکار دی. مجرمون - مشرکون (جلالین) اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قوم مجرمون تناهی امرهم فی الکفر وانت اعلم بهم فافعل بهم ما یستحقونه،

(روح ج ۲۵ ص ۱۲۲) - فَأَسْرِ بِعِبَادِیْ الخ دَدے نه مخکښ حذف دے. دا قاعده ده چه کله دَ تیرے شوے زمانے دَ یو کار نه حکایت او نقل اوکړے شی نو دَ هغے نه مخکښ قلنا یا بل کوم یو مناسب فعل محذوف وی. ای فاجبنا دُعاءه و اوحینا الیه ان اسر بعبادی (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۳۶) - مونږ دَ هغهٔ دُعا قبوله کړه او هغهٔ ته مو حکم ورکړو چه ځما بندګان مؤمنان دَ بنی اسرائیلو ځان سره واخله او په شپه کښې وُځه ستاسو دَ رانیولو اراده به کیږی. فرعون به سره دَ خپل لښکرو نو اوسامان تاسو پسے ستاسو دَ رانیولو دپاره وُځی.

کلے وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ، رهوًا ساکنا (روح، قرطبی) دَدے نه مخکښ اندماج دے لنډه دا چه کله حضرت موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیل ځان سره روان کړل او دَ دریاب غاړے ته وُرسیدل نو دَ الله تعالیٰ په حکم سره ئے دریاب په همسا اُووهلو او هغوئ په هغے سره په کښې دولس وُچے لارے جوړے شوے. کله چه دوی دغه لارو وباندے دَ دریاب نه پورے وتل هغهٔ وخت فرعون هم دَ خپل دیرو لښکرو سره دَ دریاب غاړے ته راوُرسیده نو موسیٰ علیه السلام اراده وکړه چه هغه دوباره دریاب په همسا اُووهی چه روان شی او فرعون وړاندے رانشی. دغه وخت الله تعالیٰ حکم وکړو چه دریاب لږه ساکن پریږده ځکه چه مونږ دَ فرعون لښکرلره هم په دغه لارو کښې غرقول غواړو.

۱۸ کَمْ تَرَكُوْا : فرعونیانو ځومره ډیر او ښائسته باغونه او چینے او تازه فصلونه، عالیشان محلات او دَ خوشالئ زوند سامانونه پریخودل چه هغوی پکښې دَ خوشالئ ژوند تیرولو. کَذٰلِكَ : خبره همدا رنګے ده او مونږ دَ نافرمانانو او سرکشو سره همدا رنګے معامله کوو. وَأَوْرَثْنٰهَا بَنِیْٓ إِسْرَآءِیْلَ. (شعراء ع ۴) یعنی دَ فرعون دَ حکومت او دَ هغهٔ دَ ټول دولت وارثان مونږ بنی اسرائیل اوګرځول دَدے خویو صورت دا دے چه بنی اسرائیل خو دَ شام ملک نه دَ مصر طرفته واپس رانغلل لکه ځنګه چه حسنؒ او قتادهؒ ویلی دی: ان بنی اسرائیل رجعوا الی مصر بعد هلاك فرعون. (بحر، ج ۸ ص ۳۶) . باقی دا اعتراض چه دَ بنی اسرائیلو مصر ته دَ واپس راتللو ذکر په تاریخ کښې نه ملاویږی قابل التفات نه دے ځکه چه دَ تاریخ په کتابونو کښې دَ دروغو او تحریف امکان دے او دَ الله تعالیٰ فرمان ټول حق او رښتونے دے.

ولا اعتبار بالتواریخ فالکذب فیها کثیر وکلام الله صدق، قال تعالیٰ فی سورة الشعراء کذٰلك واورثنٰها بنی اسرائیل (بحر) وقالوا لا اعتبار بالتواریخ وکذٰلك الکتب التی بید الیهود الیوم لما ان الکذب فیها کثیر وحسبنا کتاب الله تعالیٰ و هو سبحانه اصدق القائلین وکتابه سبل وعلا مامون من تحریف المحرفین. (روح ج ۲۵ ص ۱۲۴).

١٩ فَمَا بَكَتْ: دا کنایه ده ددې نه چه د فرعون هلاکت څه اهمه او لویه حادثه نه ده بلکې یوه حقیره او معمولي شان خبره ده - د هغه هلاکت سره هیڅ فرق رانغی: مجاز عن عدم الاکتراث بهلاکهم والاعتداد بوجودهم (بیضاوی) ؛

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿٣٠﴾

او موږ خلاصې ورکړې وې بنی اسرائیلو ته د ذلت د عذاب نه ،

مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَ

چه د فرعون له طرفه وو، بیشکه هغه وو سرکشه د حد نه تیریدونکي - او

لَقَدِ اخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى الْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم

موږ هغوی غوره کړل په علم خپل د جهان په خلقو او ورکړل موږ هغوی ته

مِّنَ الْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾

دلائل چه په کښې وو مدد ښکاره - دا خلق وائي چه

إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾

نور هیڅ نشته زموږ دا مرګ کیدل دي اول ځل او موږ نه یو بیا راپاڅیدونکي -

فَأْتُوا بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ

پس راولئ زموږ پلرونه که چیرې تاسو رښتونی یئ- آیا هغوی بهتر دي یا

قَوْمُ تُبَّعٍ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ أَهْلَكْنَٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ

د تبع قوم او کوم چه د هغوی نه مخکښې وو ، موږ تباه کړل ، بیشکه هغوی

كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

وو ګنهګاران ٢٠ - او نه دي موږ چه کوم آسمانونه او زمکه پیدا کړي او څه چه د دې په مینځ کښې دي

لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

نه یو موږ لوبې کونکي- موږ دا پیدا کړل صحیح کار بانې لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳۹﴾ إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۴۰﴾

نه پوهیږي. بیشکه د فیصلې ورځ نه وعده ګاه ده د دې ټولو.

يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْئًا وَلَا هُمْ

کومه ورځ چه هیڅ بکار نه راځي څوك دوست د بل دوست د هیڅ څیز او نه به دوی سره

يُنصَرُونَ ﴿۴۱﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ

امداد اوکړے شي، لیکن چه په چا رحمت وکړي الله، بیشکه هغه دے غالب او

الرَّحِيمُ ﴿۴۲﴾

رحم کوونکے.

نکات: ۱- التفات (خطاب) اهل مکه ته، شکوه. ۲- توحید بانیٔ عقلی دلیل. ۳- تخویف اُخروی.

موضح قرآن ف۱ یعنی اګرچه په هغه بني اسرائیلو کښ به ئ هم مونږ ته معلومے وے. ف۲ یعنی د حضرت موسیٰ علیه السلام په لاس.

ف۳ تُبّع د یمن بادشاه وُو، د هغهٔ ټول قوم بُت پرست وُو، هغهٔ په تورات باندې ایمان راوړو د خپل قوم مخکښ اُزمینت اوکړو چه ریښتونے دین کوم یو دے، ډیر زیات اُور ئے بل کړو- د یهودو یو عالِم تورات په ترخ کښ اونیولو هغه اُور ته داخل شو نو اُونه سوزیدهٔ- هغه بُت پرستو بُت په ترخ کښ اونیولو اور ته داخل شو نو اوسوزیدل، په شا پیرته راوتختیدل- د هغهٔ قوم د هغهٔ دُشمنان شول، آخر الله تعالیٰ هلاك کړل.

ت۳ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا: فرعون او د هغهٔ قوم لره مونږ هلاك کړل او بني اسرائیلو ته مو د یو رسوا کوونکي او ذلت نه ډك عذاب نه نجات او خلاصے ورکړو کوم چه ئے د فرعون د لاسه زغملو- بیشکه فرعون ډیر زیات سرکشه مغرور او د حد نه زیات ظالم وُو- مِن فِرْعَوْنَ: د دهٔ متعلق محذوف دے او دا د ما قبل نه حال دے. حال من المهين بمعنى واقعًا من جهته (بیضاوی) وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ الخ: او مونږ بني اسرائیلو ته د هغه وخت په ټولو قومونو باندې فضیلت او شرافت ورکړهٔ- دوی ته دا امتیاز د دوی د ایمان او عمل، صبر او استقلال په وجه حاصل شو. عَلَىٰ عِلْمٍ: یعنې مونږ دوی لره مستحق اوګڼړل او دا شرف مو ورکړو- وَآتَيْنَاهُم الخ: دا د زیاتو انعامونو ذکر دے چه په بني اسرائیلو باندې اوکړے شو. مونږ بني اسرائیلو ته داسے نښانات ورکړل چه په هغې کښ د انعام او احسان اړخ ښکاره وُو او د امتحان

او ازمائش صورت ښکاره وُو مثلاً په دریاب کښې لارے جوړول، وریځې په هغوی بانې سورے جوړول، مَن او سلوٰی نازلول وغیره دا انعامات وُو او دے سره دَ هغوی امتحان هم مقصود وُو چه هغوی څرنګه دَدے شکر ادا کوی: بلآء مبین نعمة ظاهرة او اختیار ظاهر لننظر کیف تعملون. (مدارک ص ۹۹ ج ۴)۔

۳۴ ﴿اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ﴾: دا اهلِ مکه طرفته التفات دے او شکوه ده۔ دَ مکے مشرکان وائی چه بس دَدے اول ژوند ختمیدلو سره به قصه ختمه شی او دَدے نه پس به هیڅ ژوند نه وی او مونږ به دوباره نشو پاڅولی۔ یعنی دا کوم مخکښې راتلونکے مرګ چه دے، دا خو مونږ منو لیکن دَدے نه روستو چه بل ژوند بنودلے شی هغه نه منو۔ اوس دا اعتراض پاتے نشو چه کافرانو خو مرګ منلو او انکار ئے دَ دویم ژوند نه کولو۔ دَدے وجے نه ﴿اِنْ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الْاُوْلٰی﴾ وئیل پکار وُو۔ ﴿فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ﴾ الخ خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو ته دے۔ یعنی بچرے تاسو په دے دعوٰے کښې رښتونی یئی چه انسان به دَ مرګ نه پس دوباره ژوندے کولے شی نو زمونږ پلرونه نیکونه را ژوندی کړئ او مونږ ته ئے اوښایئ تو مونږ به ئے اومنو۔

۳۵ ﴿اَهُمْ خَیْرٌ﴾ آیا دا دَ مکے مشرکان دَ تُبَّع قوم او دَ هغه نه مخکښې مشرکانو نه بهتر دی؟ نه دی بهتر، دوی دَ عذاب مستحق دی او څرنګه چه هغه مخکنی قومونه هلاک کړے شول دوی به هم هلاکولے شی۔ هٰذا استفهام انکاری ای انهم مستحقون فی هذا القول العذاب اذ لیسوا خیرا من قوم تبع والامم المهلکة، و اذا اهلکنا اولئك فکذا هؤلاء (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۴۴)۔ کله چه مونږ دَ تُبَّع قوم او دَ هغه نه مخکښې مشرکان په دے وجه هلاک کړل چه هغوی مشرکان وُو: تعلیل لاهلاکهم ای اهلکناهم بسبب کونهم مجرمین فلیحذر کفار قریش الاهلاك لاجرامهم۔ (روح ج ۲۵ ص ۱۳۰)۔

دَ تُبَّع حمیری اصلی نوم اسعد یا سعد وُو، او کُنیت ئے ابوکرب وُو۔ دا نیک او صالح سړے وُو، دَ شرك نه بیزاره او دَ توحید منونکے وُو۔ دَ خپلے زمانے دَ علماؤ نه ئے اوریدلی وُو چه په مکه کښې به حضرت خاتم النبیین پیدا کیږی او مدینه (یثرب) به دَ هغهٔ دار الهجرت وی نو هغهٔ دغه وخت په نبی علیه السلام بانې ایمان راوړو او دَ بیت الله حج ئے وکړو او دے ړومبے کس دے چه بیت الله ته ئے غلاف اغوستولے دے او خپلو وارثانو ته ئے وصیت اوکړو چه څما نه روستو هر کال خانه کعبے ته غلاف واغوستولے شی۔ (قرطبی، روح وغیره) دَ تُبَّع دَ مرګ نه پس دَ هغهٔ قوم مشرکان شول۔ دغه قوم ذکر دلته شوید دے۔

۳۸ ﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ﴾: دا په توحید بانې عقلی دلیل دے۔ مونږ زمکه او آسمانونه او ټول کائنات خالص دَ لوبو په طور بے مقصده نه دی پیدا کړی او هغه مقصد دَ حق اظهار دے، دپاره دَدے چه دَ کائنات تو ذرّے ذرّے

سره دَ الله تعالیٰ په وحدانیت او دَهغه په قدرت کامله باندې استدلال اوکړے شی.
لیکن اکثر خلق جاهلان دی او پدے حقیقت باندې نه پوهیږی. بالحق ای لاظهار
الحق. تائید: "هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ. (فاطر ع۱) (۲) لَوْ اَرَدْنَا اَنْ نَّتَّخِذَ
لَهْوًا لَّا تَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ○ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ
فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ. (انبیاء ع۲).

۴۰ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ: دا تخویف اخروی دے. دَ ټولو دَ حساب کتاب، جزاء
او سزاء دپاره دَ فیصلے ورځ مقرره ده چه په هغې کښې به دَ حق او باطل، محق او مبطل
مینځ کښې آخری فیصله کولے شی. يَوْمَ لَا يُغْنِىْ مَوْلًى الخ: دغه ورځ به هیڅ یو
دوست دَ بل دوست هیڅ پکار نه راځی او نه به دَهغوی څوک حمایت کونکے او
امداد کونکے وی چه دوی دَ الله تعالیٰ دَعذاب نه خلاص کړی لیکن په چا باندې
چه دَ الله تعالیٰ رحمت اوشی هغوی باندې به دَ الله تعالیٰ رحمت وی، هغوی په
عفوے او مغفرت سره یا دَ نیکانو خلقو سفارش سره به دَعذاب نه بچ کړے
شی. دا دَ يُنْصَرُوْنَ دَ ضمیر نه بدل دے یا استثناء منقطع ده او ددے نه مُراد
مؤمنان دی: إلا من رحمه الله بالعفو وقبول الشفاعة فيه ومحله الرفع على
البدل من الواو والنصب على الاستثناء (روح - بیضاوی) بیشکه الله تعالیٰ
په ټولو باندې غالب او مهربانه دے، چا ته چه هغه عذاب ورکول او غواړی نو
هیڅوک هغه نشی خلاصولے او چا ته چه او غواړی خپلے مهربانئ سره به ئے معاف کړی.

اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿۴۴﴾ كَالْمُهْلِ

بیشکه ونه دَ زقوم ﷲ خوراک دے دَ ګنهګار، لکه ویلے شوی مس (زیږ)

يَغْلِىْ فِى الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلْىِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوْهُ

جوش وهی په خیټو کښې، لکه جوش وهونکے اوبه. اونیسی دے

فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ

او ټیل وهلو سره ئے بوځئ دَ جهنم مینځ ته. بیا واچوئ ددهٔ په

رَاْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۸﴾ ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

سر باندې عذاب دَ جوشیدلو اوبو. دا اوڅکه، ته ئے

الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿۴۹﴾ اِنَّ هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾

دیر عزتمند سردار وا. دا هغه دے کوم سره چه تاسو په دهوکه کښې پریوتلی وئ.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِي جَنَّتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾

بیشکه ویریدونکي په کور کښې دي د ارام لره، په باغونو او چینو کښې،

يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾

اغوندي جامې د نرو ریښمو او د پیړو ریښمو یو بل ته مخامخ -

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا

دغه شان به وي، او نکاح به کړو مونږ دوی ته حورې د غټو سترګو والا - راغواړي به هلته که

بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ

هره میوه اطمینان سره، نه به څکي هلته مرګ

إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾

لیکن کوم چه څکلي را غلی دے او بچ کړي لې دي دوي د دوزخ د عذاب نه،

فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا

په فضل سره ستا د رب، همدغه ده کامیابي لويه - پس دا

يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

قران مونږ اسان کړے دے ستا په ژبه کښې د دے دپاره چه دوي ئې یاد او ساتي -

فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

او س ته انتظار کوه ځکه دوي هم انتظار کوي -

نکات: سا تخویف اُخروي. سا بشارت اُخرویه. سا خلاصه د سورت. سا تخویف دنیوي، متعلق ابتداء د سورت سره او اشاره نصرت د پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام ته -

موضح قرآن | **ف ا** هغه په دنیا کښې خپل ځان دا شان ګڼړلو -

تفسیر | **۲۵ لے** إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ: دا تخویف اُخروي دے. زقوم د دوزخ یوه ډیره زیاته بدشکله او خبیثه ونه ده چه د هغې معمولي شان نمونه د دُنیا ازغو والا زقوم اُونه ده. اَلْاَثِيْمِ: نه مراد کافر

دے۔ (روح، ابن کثیر) اَلْمُهْلِ ویلے کړے شوے مس (زیتو) (روح) په دوزخ کښې به د کافرانو خوراك ناکاره ونه زقوم وی او هغه به د ویلے شوے تانبے او وسپنے پشان ګرم وی او د دوی په خیټو کښې به داسے خوټکیږی لکه څنګه چه ګرمے اوبه خوټکیږی۔ خُذُوْهُ الخ ای یقال للزبانیة (مدارك) فَاعْتِلُوْهُ : هغه په راښکلو او دیکو بوځئ : فجروه بقهر (روح) د دوزخ فرشتو ته به حکم اوشی چه دغه مجرم دیکه کړئ د ګرم بړقیں ونګی اورمینځ ته ئے بوځئ او د هغهٔ په سر باندې جوشیدلے اوبه واچوئ دپاره د دے چه هغه د پاسه نه هم د عذاب مزه وڅکی. یا مطلب دا دے چه د دوی د سرونو د پاسه د دوی په خُلو کښې اوبه واچوئ۔ قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ۔

ذُقْ : ای یقال (روح) او هغهٔ ته به اوویلے شی د دے عذاب مزه وڅکه، ته په دُنیا کښې ډیر عزتمند جوړشوے وے او ویل به د : اے عزت، عظمت او شان کښې څما نه هم څوك لوئے شته۔ یا به دا د اِهانت او سپکاوی او توقوخند اکولو په طور باندې دهٔ ته ویلے شی۔ وقیل علی معنی الاستخفاف والتوبیخ والاستهزاء والاهانة والتنقیص (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۵۱)۔

اِنَّ هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ۝ دا هغه عذاب دے د کوم نه چه تاسو په دُنیا کښې ویروُلے شوے لیکن تا همیشه په هغې کښې شك کولو او د ویروُنکو په خبرو باندې ستا یقین نهٔ کیدهٔ۔

۲۶ اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ ـ تا ـ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ۝ : دا د آخرت زیرے دے. فِیْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ۝، د مَقَامٍ اَمِیْنٍ نه بدل دے۔ متقی او پرهیزګار خلق او د شرك نه ځان ساتونکی به د قیامت په ورځ د اَمن نه ډك ځائے یعنی د جنت باغونو او چینو کښې به وی چه هلته به د هر قسمه ویرے، تکلیف او عذاب نه محفوظ او په امن کښې وی او دوی ته به د ژوند هر قسمه راحت او آسانتی حاصلے وی۔ یَلْبَسُوْنَ مِنْ سُنْدُسٍ الخ هلته به دوی د نری ریښمو او پیړو ریښمو جامے اغوندی یعنی کوم قسم کپړے چه غواړی ورته به ملاویږی. سُنْدُس، نرے ریښم، اِسْتَبْرَق : پیړ ریښم۔ سندس مارق من الدیباج واستبرق ما غلظ منه۔ (مدارك ج ۴ ص ۱۰۰)۔ دوی به په جنت کښې د محبت او اُلفت او خوشالئ د اظهار دپاره یو بل ته مخامخ کینی، متقبلین فی مجالسهم لیستأنس بعضهم ببعض (روح ج ۲۵ ص ۱۳۵)۔ همدارنګے بے شماره نعمتونه به دوی ته ملاویږی او د غټو سترګو والا ښائسته جنتی حورے به جنت کښې د دوی د ژوند ملګرے وی۔

۲۷ یَدْعُوْنَ فِیْهَا، دوی به په جنت کښې چه د کوم قسم میوو طلب کوی هغه به ورته ملاویږی او دوی به د هر ضرر او تکلیف نه محفوظ وی۔

لَا یَذُوْقُوْنَ الخ جنت کښې به په دوی بانـدې مرګ نۀ راځي. يو ځل چه کوم مرګ دوی د پاره مقدر وُو دَ هغې مزه يې په دُنيا کښې څکلې ده او الله تعالی به دوی لره د دوزخ دَ عذاب نه بچ وساتي - دا ټول نعمتونه به خالص دَ الله تعالی په فضل او کرم سره دوی ته حاصل وی او په اصل کښې هم دا لويه کاميابي ده چه په جنت کښې به هر نعمت حاصل وی، معمولی تکليف بـه هم نۀ وی. نۀ به دَ جنت نعمتونه ختميږی او نۀ به جنتيانو بانـدې فنا راځي. هميشه راحت او هميشه ژوند به وی.

۲۸ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ: دا دَ ټول سورت سره متعلق دے يعنی دَ ټول سورت خلاصه ده. موږ دا (کتاب مبين) قرآن کريم، يا دا حکمنامـه ستا په ژبـه بانـدې په ډيره زياته اسانه ژبـه او اسلوب کښې بيان کړيده د پاره دَ دے چه خلق پرے په اسانئ سره پوهه شي او دَ دے په تعليماتو بانـدې عمل او کړی۔

وهذا فذلكة واجمال لما فی السورة بعد تفصيل تذكيرًا لما سلف مشروحًا فيها فالمعنی ذكرهم بالكتٰب المبين فانما يسرنه بلسانك كی يفقهوه ويتذكروا به ويعملوا بموجبه.
(روح ج ۲۵ ص ۱۳۷)۔

۲۹ فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ۵ دا تخويف دنيوی دے، او دَ سورت دَ ابتدا دَ (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِی) سره متعلق دے، د پاره دَ دے چه دَ سورت آخر په شروع بانـدې چسپان او منطبق شي۔ تاسو دَ دوی دَ انجام او دَ خپلې کاميابئ انتظار کوئ او دوی هم په انتظار کښې دی چه ستا سو انجام به څۀ جوړيږی او دَ دوی حشر به څۀ وی۔

دا يو طرفته مشرکانو د پاره دَ دُنيا دَ عذاب نه ويره ول دی او بل طرفته نبی کريم صلی الله عليه وسلم د پاره دَ نُصرت وعده ده:

قال الله تعالٰی لرسول الله صلی الله عليه وسلم مسليًا له وواعدا له بالنصر ومتوعدا لمن كذبه بالعطب والهلاك فارتقب انهم مرتقبون ۵۔
(ابن کثير، ج ۴ ص ۱۴۷) ❖

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖

سورة دخان کښې د توحید آیتونه او د هغې خاصیتونه

① إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ — تا — رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ۝ نفی د شرک اعتقادی۔

② وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ — تا — إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝ (ع۲) نفی د شفاعت قهری او دلیل عقلی دپاره د اثباتِ توحید.



سُوْرَةُ جَاثِیَة

ربط سورۀ دُخان کښې دَ هغه شبهې جواب ورکړے شو چه مونږ باطل معبودان ځکه رابلو چه هغوی زمونږ اواز واوری نو دَ الله تعالیٰ په دربار کښې به زمونږ سفارش کوی. هغه سفارش قبول کړی یا نهٔ، دا دَ هغهٔ خوښه ده. دَ دے جواب ورکړے شو چه دَ هرے خبرے اوریدونکے او په هر څیز باندې خبردار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے. اوس په سورۀ جاثیه کښې دَ یوے بلے شبهې جواب ورکړے شو چه مونږ او منلو چه زمونږ معبودان شفیع غالب هم نهٔ دی او زمونږ اواز هم نهٔ اوری لیکن مونږ هغوی دَ دے وجې نه رابلو چه زمونږ پلرونو نیکونو به هغوی رابلل او کهٔ الله تعالیٰ هغوی ته زمونږ اواز واوروی او هغوی دَ الله په دربار کښې زمونږ سفارش اوکړی نو بهتره ده که نهٔ زیات نه زیات زمونږ رابلل به بے فائده شی. دَ دے جواب ورکړے شو چه دَ عقلی او نقلی دلائلو نه ثابته شوے ده چه ټول هر څهٔ اوریدونکے او په ټول هر څهٔ خبردار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے، په دے وجه صرف هغه رابلئ او غیر الله ته چغے مهٔ وهئ. دا رنګے مونږ دَ دین لاره واضحه او روښانه کړې شوے ده، په هغې روان شئ او دَ ګمراه خلقو دَ نفسانی خواهشاتو تابعداری مکوئ، او غیر الله ته چغے مهٔ وهئ. ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا (الآیة)

خلاصه تمهید سره دَ ترغیب نه. توحید باندې پنځه عقلی دلیلونه او یو نقلی دلیل، زجرونه، تخویفات، بشارتونه، او شکوی او مینځ کښې ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ الخ دَ سورت مقصودی دعوٰی.

تفصیل

حٰمٓ ۚ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ (الآیة) تمهید سره دَ ترغیب نه. دا حکمنامه دَ غالب او حکمت والا بادشاه له طرفه ده. دا وُمنئ. اِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ــ تا ــ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝ دا په توحید باندې اولنے عقلی دلیل دے علیٰ سبیل الترقی والتدریج. صرف په زمکه او اسمان کښې دَ ایمان والو دپاره خوشخبری دا الله تعالیٰ دَ وحدانیت کافی دلائل موجود دی. بیا دَ انسان او دَ ټولو حیواناتو پیدائش کښې، دَ شپې او ورځې تلو راتلو کښې، دَ اسمان او زمکے نه

دَ رزق سامان برابرَوُلو او رَسوُلو کښ، او دَ مختلف قِسم هواګانو چلوُلو کښ دَ عقل او بصیرت والو دَپاره دهغهٔ دَ قدرت او وحدانیت بے شماره نښانات او دلائل موجود دی. کچرے مشرکان دِے ایتونو او نښانانو ته وګوری او بیا هم ایمان نهٔ راوړی نو بیا دَ دے نه بل څهٔ زیات واضح دلیل نشته. وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيمٍ ـ تا ـ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيمٍ ۝ دا دویم زجر دے سره دَ تخویف اُخروی نه. هغه مجرم دپاره هلاکت دے چه دَ الله تعالیٰ واضح ایتونه اَوری او غرور، تکبر سره دَ هغے نه اعراض کوی، ګویا چه بیخی ئے اَوریدلی نهٔ دی. دا سے مجرم ته دَ دردناک عذاب خوشخبری واوروه.

وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا ـ تا ـ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيمٍ ۝ دا دویم زجر دے سره دَ تخویف اُخروی نه. دا خلق دا سے عنادیان دی چه کله یو ایت واوری نو ټوقے ورپورے کوی. دا سے خلقو دَپاره ډیر زیات دَ ذلت نه ډک عذاب تیار دے. دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه به نهٔ خو هغوی له دَ دُنیا دولت څه کړی او نهٔ به معبودانِ باطله خلاصے ورکړی. دا سے خلقو دپاره ډیر ذلیله کوُنکے عذاب تیار دے.

اَللّٰهُ الَّذِىْ سَخَّرَ لَكُمُ ـ تا ـ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ (ع۲) دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے په طورِ ترقئ. نهٔ صرف په زمکه کښ بهیدونکی دریابونه او سمندرونه هغهٔ پخپل حکم سره ستاسو په کار کښ لګولی دی بلکه دَ هغے نه علاوه دَ زمکے او اسمان هر څیز هغهٔ په خپل حکم سره ستاسو په خدمت کښ لګیا کړے دے. غور او فکر کوُنکو دپاره دیکښ دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت او قدرت کافی دلائل موجود دی. قُلْ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ـ تا ـ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ۝ دا دَ دُنیوی عذاب نه ویرَوُل دی. کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ په عذاب باندے ایمان نهٔ لری او بے باکه کیدو سره دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو نه انکار کوی، هغوی باندے به په دُنیا کښ دَ الله پاک عذاب راځی. وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ ـ تا ـ يَخْتَلِفُوْنَ ۝ دا دلیل نقلی دے. مونږ په تورات کښ هم دا حکم ورکړے وُو چه څما نه سوا بل څوک کارساز مهٔ جوړوئ. بیا دَ موسیٰ علیه السلام نه علماءسو په رنړا ستړګو سره دَ عِلم نه محض دَ ضد په وجه دے مسئله کښ اختلاف اوکړو. ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ ـ تا ـ وَاللّٰهُ وَلِىُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝ دا دَ سورت مقصودی دعوی ده. مونږ تا ته واضح او روښانه شریعت درکړو. تاسو دَ دے تابعداری وکړئ او دغه کم عقل ناپوهانو دَ خواهشاتو اتباع مکوئ چه په پټو سترګو (بے دلیله) دَ خپلو مشرکانو پلرونو او نیکونو او ګمراهانو پیرانو او مشرانو پیروئ کښ دَ خود ساخته معبودانو عبادت کوی. دهغوی په اطاعت کښ هیڅ فائده نشته. اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ (الآیة): دا زجر دے دهغه بدکارانو او منکرینو دا خیال دے چه مونږ

په هغوی ته دَ صالحو مؤمنانو برابر درجه ورکړو - دا خیال بالکل باطل دے.
وَخَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ (ع ۳) الآیة: دا دریم عقلی دلیل دے سره دَ تخویفِ اُخروی نه - زمکه او اسمان الله تعالیٰ دَ اظهار حق دپاره پیدا کړی دی او هر سړی ته به دَ هغهٔ دَ اعمالو موافق جزا او سزا ملاویږی او په هیڅ باندې زیاتے نه کیږی.
اَفَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ (الآیة): دا زجر دے - دا مشرکان دَ خپلو خواهشاتو پیروی کښ دَ عقل او نقل نه بغیر غیر الله لره معبود جوړوی او را بلی - الله تعالیٰ دَ دوی په زړونو باندې دَ جباریت مهر لګولے دے. دَ دے وجے نه هغوی په سمه لار (هدیٰ) باندې نهٔ راځی. وَقَالُوْا مَا هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا (الآیة): دا اوله شکوی ده - دا خلق صرف دَ الله تعالیٰ دَ توحید نه منکر نهٔ دی بلکه دَ قیامت نه هم منکر دی او نهٔ دا خبره منی چه دا دُنیوی عذاب دَ ګناهونو سزا ده - هغوی دا دَ زمانے دَ حوادثو نتیجه ګرځوی.
وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ (الآیة): دا دویمه شکوی ده - کله چه دَ دوی په مخکښ دَ بعث او نشور دلائل نقل کولے شی نو سوا دَ دینه هغوی سره هیڅ جواب نهٔ وی. ګڼړے تا سو رښتونی یئ چه دَ مرګ نه پس دوباره ژوندی کیدل دی نو زمونږ مړهٔ پلرونه نیکونه را ژوندی کړئ او مونږ ته ئے وښایئ. قُلِ اللّٰهُ یُحْیِیْکُمْ ثُمَّ یُمِیْتُکُمْ (الآیة)، دا دَ دواړو شکوو جواب دے - کوم قادر او قیوم ذات چه تا سو پیدا کړی یئ او دَ چا په اختیار کښ چه مرګ دے هغه په دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے او هغه به ضرور تول دوباره ژوندی کوی او دَ حشر په میدان کښ به ئے کوی. وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (ع ۴): دَ زمکے او اسمان حکومت خاص الله تعالیٰ دپاره دے او په ټولو کائناتو کښ هغه متصرف او مختار دے - دَ هغهٔ نه سوا هیڅوک معبود او کارساز او دَ رابللو لائق نشته.
وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ - تا - مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۰: دا تخویفِ اُخروی دے - دَ قیامت په ورځ به باطل پرست ډیر لوئے تاوان کښ وی - دَ هر سړی اعمالنامه چه په هغے کښ به دَ هغهٔ دَ ټولو اعمالو ریکارډ وی - دَ هغے مطابق به ټولو ته سزا ګانے ورکولے شی. فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا (الآیة): دا بشارتِ اُخروی دے - کومو خلقو چه ایمان راوړو او نیک کارونه ئے وکړل، هغوی به دَ الله تعالیٰ په رحمت کښ وی او دَ عذاب نه به امن او حفاظت کښ وی. وَاَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا - تا - وَلَا هُمْ یُسْتَعْتَبُوْنَ ۰ دا تخویفِ اُخروی دے - دَ قیامت په ورځ به کافرانو او مشرکانو ته وئیلے شی چه ایا تا سو ته دَ الله تعالیٰ ایتونه لوستلو سره نشو اورولے لیکن تا سو به دَ غرور او تکبر په وجه هغه دروغ ګڼړل او کله چه به تا سو ته وویلے شو چه دَ الله تعالیٰ وعده رښتونے ده او قیامت به ضرور راځی نو تا سو به وئیل، مونږ قیامت نهٔ پیژنو، مونږ ئے نهٔ منو. دَ قیامت په ورځ به دَ هغوی دَ ټولو بد عملونو نتیجه



ظاهره شي او د هغې سزا به اوزغمي. وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنسٰكُمْ الخ، دَ قيامت په ورځ به دوی ته دا هم ويلې شي چه څنګه تاسو د آخرت پروا نکوله، هغې دپاره مو څه تيارے نه دے کړے، دغه شان نن مونږ هم تاسو سره هغسې سلوک کوو او ستا سو ځائے جهنم دے ځکه چه تاسو دَ الله تعالیٰ ايتونو پورے ټوقے مسخرے کړيدی او دَ دُنيا په ژوند باندې دهوکه شوئ۔ نن تاسو هيڅوک دَ الله پاک دَعذاب نه نشي بچ کولے۔

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ (الآيتين): دا پنځم عقلي دليل دے او په څلورم دليل باندې متفرع دے۔ کله چه دَ زمکے او آسمان بادشاهي دَ الله تعالیٰ په اختيار کښې ده نو ټول دَ کارسازی صفتونه هم هغه پورے خاص کړے شويدی ځکه چه هغه دَ زمکے او آسمان او دَ ټولو کائناتو خالق او مربّي دے، دے ټولو کائناتو کښې لوئ او اوچتوالے هم دهغه صفت دے۔ دَعظمت او لويئ مالک صرف هغه دے۔

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة جاثيه مکه کښې نازل شو او ديکښې اووه دېرش ايتونه او څلور رکوع دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم دَ الله چه ډير مهربانه نهايت رحم کونکے دے۔

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾

دَ کتاب نازلول دی له دَ الله دَ طرفه چه غالب حکمتونو والا دے۔

اِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾ وَ

بيشکه آسمانونو کښې سه او زمکه کښې ډيرے نښے (دَقدرت) دی منونکو دپاره۔ او

فِىْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٤﴾

ستاسو پيدا کولو کښې سه او څومره چه ئے خوارۀ کړيدی حيوانات نښے (دَقدرت) دی دهغه خلقو دپاره چه يقين لری

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

او په بدليدلو کښې دَ شپې او ورځے او هغه چه نازل کړيدی الله دَ آسمان نه د

مِنْ رِّزْقٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ

رزق ، بيا ئے ژوندئ کړه په هغې سره زمکه دَ هغې دَ مرګ نه پس او په بدليدلو دَ



الرِّیٰحِ اٰیٰتٌ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۵﴾ تِلْكَ اٰیٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا

هواګانو کښې نښې دي هغه خلقو دپاره چه دعقل نه کار اخلي شته دا خبرې دي د الله مونږ ئې تاسو ته

عَلَیْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ وَ اٰیٰتِهٖ

اوروُو صحیح صحیح ، پس کومه خبره به د الله او د هغهٔ د خبرونه پس

یُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ وَیْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِیْمٍ ﴿۷﴾ یَّسْمَعُ

مني - هلاکت دے هر دروغژن ته ګنهګار دپاره ، چه اوري

اٰیٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰی عَلَیْهِ ثُمَّ یُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ

خبرې د الله چه هغهٔ ته لوستلے شي ، بیا ضد کوي د تکبر په وجه لکه چه نه ئې وي

یَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۸﴾ وَ اِذَا عَلِمَ مِنْ

اوریدلے ، پس زیرے وکړه هغهٔ ته د یو دردناک عذاب - او کله چه پوهه شي که زمونږ

اٰیٰتِنَا شَیْئَا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

خبرو (آیتونو) بانډې د څه شي نو نیسي ئې په توقو مسخرو ، دا سې خلقو دپاره سپکوونکے

مُّهِیْنٌ ﴿۹﴾ ؕ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا یُغْنِیْ عَنْهُمْ مَّا

عذاب دے - روستو د هغوی نه دوزخ دے ، او په کار به نه راځي د دوي نه کوم څه چه

كَسَبُوْا شَیْئًا وَّ لَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِیَآءَ ۚ

دوي ګټلي دي لږ هم او نه هغه کوم چه دوي نیولي وو د الله نه سوا مددګاران ،

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۰﴾ ؕ هٰذَا هُدًی ۚ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا

او دوي دپاره لوئے عذاب دے - دا لارښود نه ئے وکړه شه او خلق چه منکر دي ،

بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِیْمٌ ﴿۱۱﴾ ع

د خپل رب د خبرونه هغوی دپاره عذاب دے سخت دردناک -

نکات :- ۱ تمهید سره د ترغیب نه - ۲ توحید بانډې دریم عقلي دلیل -

۳ زجر سره د تخویف اُخروي نه - ۴ دویم زجر -

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی باران لره۔

تفسیر | ۲ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ (الآیۃ) دا تمهید دے سره د ترغیب نه۔ دا حکمنامه (فرمان) د هغه مالك الملك دے چه په ټولو غالب او حکمت والا دے چه د هغه هر حکم او فعل د حکمت نه خالی نه دے۔ دا او منئ او عمل پرے وکړئ۔

۳ اِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ ۔ تا ۔ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۰ دا په توحید باندِ اولنے عقلی دلیل دے علیٰ سَبِیل التدریج۔ دیکښ درجه په درجه دا سے اُمور بیان کړے شویدی چه د الله تعالیٰ په قدرت کامله او د هغه په وحدانیت باندِ دلیل دے۔ د دے عظیم الشان سورت مضمون دا دے چه ځمکه او اسمان ایمان والو د پاره د الله تعالیٰ په قدرت او وحدانیت باندِ کافی دلیل دے۔ ځمکه او اسمان کښ عجائب المخلوقات او د کائنات هر څیز یو مستقل دلیل دے،

ان انفسهما لاٰیٰت لما فیهما من فنون الدلالة علی القادر الحکیم جل شانهٗ (روح ج ۲۵ ص ۳۹) لاٰیٰت لدلالات علی وحدانیته (مدارك ص ۱۰۱ ج ۴)

بیا د اسمانونو د ستنونه بغیر محض د هغه په حکم سره او دریدل او د ځمکے په فضا کښ د کوم ظاهری اډانے او سهارے نه بغیر زوړند پاتے کیدل، دا ټول د هغه د وحدانیت او قدرت دلائل دی۔ لکه چه وے فرمائیل: وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ۔ (روم ۔ ع ۳)۔

۴ وَفِىْ خَلْقِكُمْ (الآیۃ): د دے نه زیات تاسو خپل پیدائش ته وګورئ چه څرنګه هغه خپل قدرت کامله سره تاسو د یو څاڅکی اُوبو نه پیدا کړئ او بیا په ځمکه کښ ئے بے شماره چارپایان مختلف قسمونه خوارۂ کړل۔ متوکلو د پاره په دیکښ بنکاره دلائل دی۔ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ (الآیۃ): بیا د دے نه مخکښ لا رڼا شپے او ورځے یو د بل نه روستو تلو راتلو ته ګټلو سره غور او فکر وکړئ، هغه د اسمان نه باران راوورَوی، اوچه او تاکاره شوره ځمکه شنه او زرغونه او ګرزوی او هوا ګانے د هغه په حکم سره چلیږی، عقل او پوهه لرونکو د پاره د دے ټولو څیزونو کښ د الله پاك په توحید او قدرتِ الٰهی باندِ عظیم الشان نښانات موجود دی۔ د رزق نه مراد باران دے په طریقه د تسمیة الشئ باسم المسبب۔ من رزق من مطر سماه مطرًا لانه سببه (بیضاوی)۔

۵ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ (الآیۃ): دا د الله تعالیٰ د وحدانیت دلائل او براهین دی چه مونږ ئے تا ته اَورَوُو۔ دا ټول حق او ریښتونی دی او دیکښ هیڅ خبره غلطه او باطله نشته۔ کچرے دا معاندین دا آیتونه وینی او اوری ئے او بیا هم ایمان نه راوړی، تو بیا هغه کوم یو بیان دے او هغه کوم دلائل دی چه هغوی

ئے مطالبه کوی حکم چه دَ دے نه زیات واضح بل کوم بیان نشته او دَ دے نه زیات بل قوی دلیل نشته: ای حججه وبراهینه الدالة علی وحدانیته وقدرته. (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۵۸) لا بیان ازید من هذا البیان ولا آیة ادل من هذه الآیة. (روح ج ۲۵ ص ۱۴۲)۔

۶ وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ: دا زجر دے سره دَ تخویف اُخروی نه۔ دغه دروغجن مجرم او دروغ تړن دپاره وَيْل (هلاکت دے یا دَ جهنم یوه کنده ده) څوک چه دَ الله تعالیٰ ایتونه اوری لیکن دَ غرور او تکبر په وجه دَ هغې پرواه نه لری او هغوی په خپل کفر، انکار او عناد باندې قائم پاتے کیږی او دَ الله تعالیٰ دَ ایتونو نه داسے اعراض کوی لکه چه هغه بالکل نه دی اوریدلی۔ داسے معاندینو او مستکبرینو ته دَ دردناک عذاب زیرے واوروه۔ دا عذاب دَ هغوی په غرور او تکبر او کفر باندې دَ همیشوالی او دَ الله تعالیٰ دَ ایتونو نه دَ اعراض سزا ده

۷ وَإِذَا عَلِمَ: دا دویم زجر دے۔ زمونږ ایتونه منل خو پرېږده کله چه زمونږ دَ ایتونو نه یو ایت هغه ته ورسیږی نو هغې پورے ټوقې کوی۔ داسے بدبختانو دپاره دَ ذلت نه ډک او رسوا کوونکے عذاب تیار دے۔ مِن وَرَائِهِمْ جَهَنَّمُ: دا خلق دَ دنیا په عیش او کفر او سرکشئ کښې ورشو تلی دی خو دَ دے نه نا خبره دی چه دَ دوی په مخکښې دَ دوی دپاره جهنم دے چه دَ هغې دَ عذاب نه به ئے خونه دَ باطل معبودانو را ابلل خلاص کړی او نه دَ دوی خود ساخته کارسازان او سفارشیان به دوی ته خلاصے ورکړی۔ او نه په دنیا کښې ګټلے شوے دولت هلته په کار راځی۔ مَا كَسَبُوا نه مال او اولاد مُراد دے۔ دَ حضرت شیخ قدس سره په نزد دیکښې دَ غیر الله را ابلل دَ ما سوی الله نذر و منت هم داخل دی۔ او دَ مَا اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ نه باطل معبودان مُراد دی: ولا تغنی عنهم الآلهة التی عبدوها من دون الله شیئا: (ابن کثیر ج ۴ ص ۱۴۸، معالم و خازن ج ۶ ص ۱۵۱) دا تخویف اُخروی دَ سورت مقصود سره متعلق دے یعنی ستاسو دَ خپل ځان نه جوړ کړے شوے معبودان او سفارشیان په آخرت کښې تاسو ته هیڅ هم فائده نشی در رسولے۔

۸ هَٰذَا هُدًى (الآیة): هَٰذَا یا خو دے ذکر شوی سورت طرفته اشاره ده یا دَ دے نه قرآن مُراد دے۔ جمهور و مفسرینو هم دا لیکلی دی۔ دا قرآن ټول هدایت دے وَالَّذِينَ كَفَرُوا الخ: او کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ دَ واضح ایتونو نه انکار کوی هغوی دپاره ډیر زیات سخت او دردناک عذاب سزا ده۔

اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِیَ الْفُلْكُ فِیْهِ

الله هغه دے چا چه قابو کړل له تاسو دپاره دریاب روانے دی په هغے کښې بیړئ رجهازونه

بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

د هغه په حکم او د دې د پاره چه تلاش کړئ د هغه د فضل نه او د دې د پاره چه حق اومنئ۔

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا

او په کار ئے لګیا کړل ستاسو د پاره هغه څه چه په آسمانونو کښ دي او هغه چه په زمکه کښ دي ټول

مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ قُل

د خپل طرفه، دے کښ نښې دي هغه خلقو د پاره چه فکر (سوچ) کوي۔ او وایه

لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ

مؤمنانو ته ئے چه معافي وکړي هغه خلقو ته څوک چه اُمید نلري د الله د ورځو (عذابونو) ط

لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ

د دې د پاره چه الله سزا ورکړي یو قوم ته په بدله د هغې کښ کوم چه دوي کول۔ چا چه نیک کار

صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ

اوکړو نو خپل ځان د پاره، او چا چه بد کار اوکړو پس په خپل ځان ئے وکړو، بیا به د خپل رب طرفته

تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ وَ

ګرځولی شئ۔ او مونږ ورکړو یقیناً بني اسرائیلو ته کتاب او

الْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ

حکومت او پیغمبري او خوراک ئے د پاره مو ورکړل ورله پاک څیزونه او غوره مو کړل

عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ وَآتَيْنَاهُم بَيِّنَاتٍ مِّنَ الْأَمْرِ ۖ فَمَا

په ټولو خلقو باندې۔ او ورکړې وې مونږ دوي ته ښکاره خبرې د دین، بیا دوي چه

اخْتَلَفُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ

کوم اختلاف وکړو نو د پوهې راتللو نه پس خپل مینځو کښ د ضد په وجه،

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ

بیشکه ستا رب به فیصله کوي د دوي په مینځ کښ د قیامت په ورځ په کومه خبره کښ چه

يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ

دوی جهګړه کوله. بیا مونږ اوګرځولې ته په یوه لاره باندې د دین د کار

فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨﴾ اِنَّهُمْ

پس ته په هغې روان شه او مه ځه په خواهشاتو د هغه خلقو پسې چه نه پوهیږی. د دوی به

لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ

هرګز په کار نه رائی ستا ګله د الله په وړاندې لږ هم، او بے انصافه

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩﴾ هٰذَا

د یو بل دوستان دی، او الله دوست دے د پرهیزګارانو. دا (قرآن)

بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٢٠﴾

د نصیحت خبرے دی خلقو د پاره او لاربنودنه او رحمت هغه خلقو د پاره چه یقین لری.

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ

ایا خیال کوی هغه خلک چه کړی ئے دی بدئ چه مونږ به وګرځوو دوی لره

كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ

برابر د هغه خلقو چا چه یقین وکړو او وے کړل نیک کارونه، یو شان دے د دوی ژوند

وَمَمَاتُهُمْ ۭ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾

او مرګ ئے، بد دے دعوے دی چه دوی ئے کوی.

نکات:- ١ دویم دلیل عقلی په طور د ترقی. ٢ تخویف دنیوی. ٣ توحید باندې عقلی دلیل. ٤ د سورت دعویٰ او د مشرکانو د شبهے جواب. ٥ زجر او شکویٰ، استفهام انکاری دے.

موضح قرآن ف١ معافی وکړی یعنی د بدلے فکر نه کوی، الله پاک ته ئے پریږدی.

فتح الرحمٰن ف١ عقیده نه لری چه حوادث د دوی د اعمالو جزاء ده.

تفسیر ف٩ اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ ـ تا ـ لِقَوْمٍ یَّتَفَکَّرُوْنَ ۵ دا په توحید

بانڼ دویم عقلي دلیل دے په طور دَ ترقئي - اول دلیل کښ دَ قدرت عجائب اودَ فطرت دَ نا آشنا څیزونو ذکرو و - اُوس ئې ددے نه وړاندې درجه ذکر کړه چه هغهٔ داټول کائنات علوي (اسمانونه) یا سفلي (دزمکو) پید اکړیدي او په خپل حکم او اختیار سره ئې ستاسو په کارکښ لګولي دي - دریابونه او سمندرونه هغهٔ په خپل حکم سره ستاسو په کارکښ لګولي دي چه کشتئ پکښ چلیږي دپاره ددے چه خپل سامانونه او دَ تجارت مال دَ یو ځائے نه بل ځائے ته وړلو سره نفع حاصله کړئ ، او دَ الله تعالیٰ په دے انعام بانڼ دَهغهٔ شکر ادا کړئ - ددے نه علاوه په زمکه او اسمان کښ څهٔ چه دي ټول دَ الله تعالیٰ په حکم سره ستاسو په خدمت کښ مصروف دي - جَمِیْعًا او مِنْهُ دواړه دَ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ نه حال دي. (مدارک ، روح) مطلب دا دے چه الله تعالیٰ دا ټول څیزونه مسخر کړیدي او دا ټول هرڅهٔ دَهغهٔ له طرفه دي او هغه دَهر څیز خالق دے او دا ټول دَهغهٔ انعام او احسان دے :

جمیعًا منه یعني ان ذلك فعله وخلقه واحسان منه وانعام (قرطبي ج ۱۶ ص ۱۶۰) والمعنی سخر هذه الاشیاء جمیعا کائنة منه وحاصلة من عنده یعني انه سبحانه مکونها وموجدها بقدرته وحکمته ثم سخرها لخلقه (روح ج ۲۵ ص ۱۴۵، بحر، ج ۸ ص ۴۵) -

دیکښ سوچ فکر کوونکو دپاره دَ الله تعالیٰ دَ قدرت کامله او حکمت بالغه اودَ هغهٔ دَ وحدانیت بے شماره نشانات موجود دي ؟

خله قُلْ لِّلَّذِیْنَ (الآیة) : تخویف دُنیوي دے - یَغْفِرُوْا ای یعفوا ویصفحوا (روح) - اَیَّامَ اللّٰهِ نه مجازًا وقائع او حوادث مُراد دي کوم چه الله تعالیٰ خپلو دُشمنانو بانڼ راولي (بحر) لِیَجْزِیَ دپاره متعلق محذوف دے - لتاتیق ایام الله - (الشیخ رحمه الله تعالیٰ) یا یَغْفِرُوْا سره متعلق دے (روح) مطلب دا دے چه ایمان والو ته اووایئ چه هغه خلقو سره جنګ جګړه مکوئ بلکه ورګذر کوئ - کوم خلق چه دَ الله دَ عذاب توقع نهٔ لري یا دَ هغې په راتللو بانڼ ایمان نهٔ لري - دَ الله تعالیٰ عذاب به دَ مختلفو وقائعو او حوادثو په شکل کښ ضرور راځي دے دپاره چه دے انکارکوونکو ته دَ خپلو کړو سزا ورکړے شي - یا مطلب دا دے چه ایمان والا دے معافي اوکړي دپاره ددے چه الله پاک دغه جګړه کوونکو ته سزا ورکړي - مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ - څوک چه نیک کار کوي هغه دَ خپل ځان دپاره کوي او دَ هغې فائده هم هغهٔ ته ده - وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَیْهَا : او څوک چه بد کار اوکړي دَ هغې عذاب او نقصان به هم په هغهٔ بانڼ وي - بیا به په آخرت کښ ټول دَ الله تعالیٰ په مخکښ حاضر شي او هغه به هر یو ته دَهغهٔ دَ اعمالو جزاء او سزا ورکوي -

لله وَلَقَدْ اٰتَیْنَا - تا - یَخْتَلِفُوْنَ : دا په توحید بانڼ دلیل نقلي دے -

موږ بني اسرائيلو ته يو عظيم الشان كتاب (تورات) وركړو او په هغوی كښې مو بادشاهان پيدا كړل چه خلقو باندې به ئې حكم چلولو او د هغوی د كارونو او معاملاتو فيصلې به ئې كولې او موږ په هغوی كښې ډير پيغمبران او ليږل چه د تورات مطابق په ئې اُمتونو ته تبليغ كولو او د دين تعليم به ئې وركولو۔ تورات كوم چه د ټولو بني اسرائيلو دپاره د ژوند تيرولو او عمل قانون وُو په هغې كښې موږ هم دا حكم وركړې وُو چه څما نه سِوا هيڅوك كارساز مه جوړوئ۔ وَاٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ وَجَعَلۡنٰهُ هُدًى لِّبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اَلَّا تَتَّخِذُوۡا مِنۡ دُوۡنِيۡ وَكِيۡلًا ۝ (بني اسرائيل)۔

ف ۱۲ وَرَزَقۡنٰهُمۡ : بني اسرائيلو باندې موږ ډيرزيات انعامات اوكړل۔ مختلف قسم حلال او پاك رزق موږ هغوی ته وركړو لكه مَنّ او سَلۡوٰی وغيره۔ او هغه وخت د دُنيا په ټولو قومونو باندې موږ هغوی ته روحاني او مادي لحاظ سره غوره والے وركړو۔ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الۡاَمۡرِ۔ او د دين په معامله كښې موږ هغوی ته واضح دلائل او براهين وركړل۔ د دين اُمور مو ورته ښه روښانه كړل۔ ليكن د دين د واضح عِلم باوجود روستو دُنيا پرست عالمانو محض د حسد او عناد په وجه د تورات اصلي تعليم (توحيد) بدل كړو او په بني اسرائيلو كښې ئې د توحيد باره كښې د اختلاف يو فراخه ميدان پيدا كړو او هر يو ځلے خپل باطل نظريات برحق گنړل شروع كړل۔ د دے اختلاف آخري فيصله به الله تعالیٰ د قيامت په ورځ د دے باطل پرستو جهنم كښې غورځولو سره اوكړي يعني د دوی آخري فيصله به د جهنم عذاب وي۔ اوس هم آخري كتاب قرآن مجيد نازل شويدے چه په هغې كښې د توحيد مسئله كښې عقلي او نقلي او د وحي دلائلو سره مُدلّل واضح او روښانه شويده نو اوس چه كوم خلق د دے مسئله كښې اختلاف كوي، هغوی خالص د حسد او ضد او عناد او تكبر په وجه كوي۔

ف ۱۳ ثُمَّ جَعَلۡنٰكَ عَلٰى شَرِيۡعَةٍ ـــ تا ـــ رَحۡمَةٌ لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ۝ دا د سورت مقصودي دعویٰ ده او د هغه شبهے جواب دے چه موږ اُومنله چه زموږ معبودان شفيع غالب نه دي او زموږ اواز ونه هم نه اَوري ليكن موږ هغوی ته صرف د دے وجے نه اواز كوو چه زموږ پلرونو نيكونو او زموږ رهنمايانو او پيرانو به هم دغه شان كول۔ كه چرے الله تعالیٰ زموږ اواز هغوی ته واوروي او هغوی زموږ سفارش اوكړي نو ښه ده كني زموږ رابلل او اواز به بيكاره او ضائع شي۔ نو د دے جواب ئے وركړو چه كله عقلي او نقلي دلائلو نه ثابته شوه چه ټول هر ځاے وريدونكے او پيژندلو والا الله تعالیٰ دے نو صرف هغه ته اواز كوئ او غير الله ته اواز مكوئ۔ هم دا رنگے موږ د اسلام لاره روښانه او واضحه كړيده، په دے باندې تاسو موږ روان كړي يئ۔ تاسو په دے باندې روان اوسئ او د دے نه د وخته د سر برابر هم يو خوا بل خوا مه كيږئ۔ او د دے ناپوهو او د خواهشاتو د بندگانو

دَ نفساني خواهشاتو تابعداري کَوَلو سره غير الله ته اُوازمکوئ.
تائيدات: ① وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ
نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا. (الآية) (البقرة ع ۲۱) ② وَلَا تَتَّبِعُوْا اَهْوَآءَ
قَوْمٍ قد ضلوا و اضلوا كثيرا وضلوا عن سوآء السبيل (مائده ع ۱۰) ③ واذا
قيل لهم تعالوا الى ما انزل و الى الرسول قالوا حسبنا ما وجدنا عليه
اباءنا (مائده ع ۱۴) ④ و اذا قيل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع ما
وجدنا عليه اباءنا (لقمان ع ۳) ⑤ ذلكم الله ربكم له الملك والذين
تدعون من دونه ما يملكون من قطمير ○ ان تدعوهم لا يسمعوا دعاءكم
ولو سمعوا ما استجابوا لكم ويوم القيمة يكفرون بشرككم ولا ينبئك
مثل خبير ○ (فاطر ع ۲) ⑥ ام اتيناهم كتبا من قبله فهم به مستمسكون ○
بل قالوا وجدنا اباءنا على امة وانا على اثارهم مهتدون ○ (زخرف ع ۲)
⑦ ومن اضل ممن يدعوا من دون الله من لا يستجيب له الى يوم
القيمة وهم عن دعاءهم غفلون ○ (احقاف ع ۱) ⑧ واتل عليهم
نبأ ابراهيم اذ قال لابيه وقومه ما تعبدون ○ قالوا نعبد اصناما
فنظل لها عكفين ○ قال هل يسمعونكم اذ تدعون ○ او ينفعونكم او
يضرون ○ قالوا بل وجدنا اباءنا كذلك يفعلون ○ (شعراء ع ۵) ⑨
ان الذين تدعون من دون الله عباد امثالكم فادعوهم فليستجيبوا
لكم ان كنتم صدقين ○ (اعراف ع ۲۴).

۱۹ إِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا (الآية): کوم خلق چه دَ خپلو نفساني خواهشاتو اودَ باطل
رائے بند کان دی دَ هغوی تابعداری سره به هیڅ فائده نه وی اونه به دهغوی اتباع
سره دَ الله پاک لاره نصيب شی اونه به دَ باطل اتباع سره دَ الله تعالیٰ دَ عذاب
نه دوی بچ کړے شی. مؤمنانو بانديڅه شوی دی چه دوی دَ دغه ظالمانو سره
تعلق ساتی او تابعداری نه کوی. دَ دغه مشرکانو دوستی دَ دوی دَ همجنس
مشرکانو سره کیدے شی او دوی به هغوی پسے اقتداء کوی لکه چه بل ځائے
ارشاد دے: إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ
الدُّنْيَا (عنکبوت ع ۳). دَ متقيانو او شرك نه دَ بچ کيدونکو خلقو دَ محبت مرکز
دَ الله تعالیٰ ذات دے. دِدے دپاره دوی له دَ هغهٔ دَ ارشاداتو اطاعت او پیغمبر
باندې عمل پکار دے. هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ (الآية): دا قرآن یا پوره ذکر
شوی احکامات دَ خلقو په زړونو او ذهنونو کښې دَ رڼړا او دَ هدايت دَ نور پيدا
کولو ذريعه دی او منونکو دپاره هدايت دے او دَ الله تعالیٰ رحمتونه دی
ايمانداروو دپاره. دَدے تابعداری پکار ده او دَ نفسِ اَمّاره دَ بندګانو دَ خواهشاتو او
آرزوګانو او دَ هغوی دَ ځان نه جوړ کړے شوی دين نه ځان ساتل پکار دی.

۱۵ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ (الآية): دا زجر او شکوی ده او استفهام انکاری دے۔ اجترحوا - اکتسبوا سواءً - کاف په معنیٰ دَ مثل نه بدل دے او مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ دَ سَوَآءً په معنیٰ دَ مستوٰ فاعل دے (بحر، روح، مدارک) کوم خلق چه دَ حق دین نه اعراض کوی او سره په پوره ډول نافرمانئ او سرکشئ کښ مصروف دی، ایا دَ هغوی دا خیال دے چه مونږ به هغوی دَ ایمان والو سره برابر کړو؟ خولګ چه هر وخت دَ الله تعالیٰ په اطاعت او عبادت کښ په پوره ډول مشغول دی یعنی مونږ به دَ هغوی دنیوی او اُخروی ژوند یو مثال اوګرځوو۔ دَ دوی دا فیصله ډیره زیاته بده او دا خیال ئے غلط دے۔ دوی له دا خیال بیخی په زړه کښ راوستل نه ښائی دی۔ مومن او کافر، تابعدار او نافرمان نشی برابریدے ځکه چه مؤمن دُنیا او اخرت دواړو جهانو کښ دَ الله تعالیٰ دَ رحمت مستحق دے لیکن مشرک اګرچه دُنیا کښ دالله پاک دَ رحمت نه حصه مومی خو په اخرت کښ به دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه بالکل محرومه وی۔ دارنګے په دُنیا کښ هم دَ دواړو ژوند برابر نهٔ دے۔ دَ یو ژوند دَ الله تعالیٰ په محبت او اطاعت کښ تیریږی او دویم خپله ټوله زندګی په نافرمانئ او ناشکرئ کښ تیروی:

> والمعنى انكار ان يستوي المسيئون والمحسنون محيا وان يستووا مماتا لافتراق احوالهم احياء حيث عاش هؤلاء على القيام بالطاعات واولئك على اقتراف السيئات، ومما تا حيث مات هؤلاء على البشرى بالرحمة والكرامة واولئك على اليأس من الرحمة والندامة۔
> (مدارک ج ۴ ص ۱۰۳)

وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى

او پیدا کړل الله آسمانونه او زمکه ځکه چه ښکاره وو او دے د پاره چه بدله ورکړے شی

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ اَفَرَءَيْتَ

هر څوک دَ خپل کړے عمل او په هغوی به ظلم نهٔ کیږی۔ ایا تا ولیدل؟

مَنِ اتَّخَذَ اِلٰـهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

هغه چا چه وګرځولو خپل حاکم خواهش خپل او ګمراه کړو الله هغه لره سره دَ علم نه

وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ

او مهر ئے ولګولو دَ هغهٔ په غوږونو او زړهٔ باندې او وے ګرځولے دَ هغهٔ په سترګو باندې

غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ یَّهْدِیْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۳﴾

تیرے، پس څوک به هغه ته لار اوښائي د الله نه سوا، نو آیا تاسو غور نه کوئ۔

وَقَالُوْا مَا هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا نَمُوْتُ وَنَحْیَا وَمَا

او وائي نو هیڅ نشته بس دا دے ملے زمونږ ژوند د دنیا مونږ مرو او ژوندي کیږو او

یُهْلِكُنَاۤ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ

مونږ لره وژني زمانه، او دوي ته هیڅ خبر نشته د دے،

هُمْ اِلَّا یَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ

خالص گمانونه چلوي ف۔ او کله چه واورلی شي دوي ته ملے زمونږ آیتونه واضح واضح

مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَاۤ اِنْ

نو هیڅ دلیل نشته د دوي لیکن دا چه وائي راولئ زمونږ پلرونه تیکونه بچرے

كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ یُحْیِیْكُمْ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ

تاسو رښتوني یئ۔ ته ووایه الله ژوندي کوي تاسو بیا به وژني تاسو

ثُمَّ یَجْمَعُكُمْ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ لَا رَیْبَ فِیْهِ وَلٰكِنَّ

بیا به یوځاے کړي تاسو د قیامت په ورځ، په هغے کښ هیڅ شك نشته لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾

اکثر خلق نه پوهیږي۔

نکات: ۱۔ توحید بانږ دریم عقلي دلیل۔ ۲۔ تخویف اُخروي۔ ۳۔ زجر۔ ۴۔ اوله شکوه۔ ۵۔ دویمه شکوه۔ ۶۔ د دوارو شکوو جواب۔

موضح قرآن ف۱ یعني دهر د زمانے نوم دے چه هغه هیڅ کار کوئے نه د که نو ضرور به بل کوم شے وي هغوي ته به معلوم نه وي او په دُنیا کښ به د هغه تصرف چلیږي نو بیا ولے هغه الله ته د دے تصرفاتو نسبت او نکړے شي۔ همد دے معنے سره حدیث شریف کښ راغلي دي چه دهر الله تعالیٰ دے، هغه ته بد مه وایئ۔

تفسیر: ۱۶ وَخَلَقَ اللّٰهُ (الآية): دا د توحید دریم عقلي دلیل دے۔

الله تعالیٰ زمکه او اسمان او دا ټول کائنات دَحق ظاهرولو دَپاره پیدا کړل دے دپاره چه دَ کائناتو ذره ذره دَهغهٔ په قدرت کامله او دَهغهٔ دَ کارسازئ په صفاتو باندې دلالت وکړی او دارنګے دَهغهٔ توحید دَ کائناتو دَ ذرے ذرے نه ظاهر شی۔

بالحق لیدل علیٰ قدرته (مدارک ج ۴ ص ۱۰۳) ای لیدل علیٰ وجوده وقدرته وصفات کماله (مظهری ج ۸ ص ۳۸۶)۔

وَلِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍ الخ، دا تخویف اُخروی دے او بِالْحَقِّ باندې معطوف دے۔ (روح) دَدے کائناتو پیدا کولو کښې بله حکمت دا هم دے چه دَ بندګانو امتحان وشی او هغوی کښې دَ نیک او بد په مینځ کښې فرق اوشی او هر یوته دَهغهٔ دَ اعمالو مطابق جزا او سزا ورکړے شی او دَ هیچا حق ضائع نکړے شی۔

۲۳ اَفَرَءَيْتَ (الآية): دا زجر دے تا هغه څوک لیدلے دے چه خالص دَخپل ارزو بنده دے چه دَ دلیل عقلی او نقلی نه بغیر محض دخپل خواهش سره غیر الله رابلی لکه چه هغهٔ خپل خواهش معبود ګرځولے دے۔ عَلٰى عِلْمٍ د اَضَلَّهٗ دَضمیر منصوب نه حال دے یعنی دَ هدایت طریقه پیژندلو او دَدے پوهے سره چه هغه څوک رابلی نو هغه دَ دَ اواز نهٔ اوری، الله تعالیٰ هغهٔ لره باوجود دَدے علم نه چه پتا ته دے چه هغه وَهی هغه نهٔ اوری ګمراه کړے وی او دَهغهٔ په غوږونو او زړهٔ باندې ئے دَجباریت مهر لګولے وی او په سترګو باندې ئے ورله پردے اچولے وی نو او بنایئ اوس هغهٔ لره څوک په لاره راوستلے شی یعنی دَهغهٔ په سمه لاره راوستلو هیڅ صورت نشته ځکه چه دَهغهٔ دَ ضد، عناد او خان لوئیئ دَوجے نه هغه دَ الله تعالیٰ په قهر کښې راغلے دے او دَ قهر مُهر پرے لګیدلے دے او دَ هدایت دَ توفیق او حق قبلولو نه محرومه شوے دے۔

۲۴ وَقَالُوا مَا هِیَ ــ تا ــ يَظُنُّوْنَ ○: دا اوله شکوه ده۔ دوی دَ حشر او نشر نه هم منکر دی او وائی چه ژوند صرف همدا دَ دُنیا ژوند دے۔ دَدے ژوند ختمیدلو نه روستو بل هیڅ ژوند نشته۔ مونږ وینو چه څنګے خلق مری او څنګے پیدا کیږی۔ بس همدا سلسله په دغه رنګے جاری وی او زمونږ مرګ خو دَ زمانے دَ حوادثو نتیجه ده۔ دا دَ مشرکانو دَیوے ډلے خیال دے چه ټول واقعات او حوادث به ئے وخت او زمانے ته منسوب کړل۔ وهٰؤلاء معترفون بوجود الله تعالیٰ فهم غير الدهرية ..... والكل يقول باستقلال الدهر بالتأثير۔ (روح ج ۲۵ ص ۱۰۳)۔ دا خلق چه کوم څه وائی هغه محض دَ بے علمئ نه پیدا شوی دی او دوی سره هیڅ عقلی یا نقلی دلیل نشته خالص ګمان او تخمل سره دعویٰ کوی۔

۲۵ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ (الآية): دا دویمه شکوه ده چه کله دَ الله تعالیٰ واضح ایتونه دوی باندې لوستلی شی او په هغے کښې چرته دَ حشر او نشر ذکر راشی نو دَ هغے نه دَ انکار دپاره دوی سره هیڅ دلیل نهٔ وی سوا دَدینه چه دَ بے ځایه دلیلونو په طور باندې

ئے وائی چه تاسو چرته دے دعوی کښې رښتونی یئ چه واقعی مونږ د مرګ نه پس راژوندی کولے شو نو زمونږ د اطمینان د پاره زمونږ پلار نیکه راژوندی کړئ او مونږ ته ئے وښایئ.

قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيكُمْ (الآیة): دا د دواړو شکو جواب دے چه په دُنیا کښې ډیر کولو والا هم الله تعالیٰ دے او د عُمر ختمیدلو نه پس وژل هم هغه کوی او ټول د زمانے حوادث هم د هغه په تصرف او اختیار کښې دی او کله چه د قیامت قائمیدلو وخت راشی چه د هغه په راتللو کښې هیڅ شک نشته نو تاسو ټول به ژوندی کولے شئ او د حشر په میدان کښې به راجمع کولے شئ لیکن اکثر خلق نه پوهیږی او په هغے یقین نه لری حالانکه دا حقیقت دے. باقی پاتے د هغوی په مطالبه بانډې د هغوی پلرونه نیکونه ژوندی کول نو الله تعالیٰ اګر چه په دے قادر دے لیکن د قیامت نه وړاندے هغوی راژوندی کول د هغه د حکمت تشریعی نه خلاف دی.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

او د الله حکومت دے په اسمانونو او زمکه کښې شته او کومه ورځ چه قائم شی قیامت.

يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۟

هغه ورځ به تاوان کښې وی دروغژن. او ته به ووینې هره ډله چه ناسته به وی په ګونډو

كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰٓى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ

هره ډله به رابللے شی خپل خپل کتاب (عملنامے) ته، نن به بدله درکړے شی د هغه څه چه تاسو

تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّا

(عمل) کولو. دا زمونږ کتاب (عملنامه) ده خبرے (ګواهی) کوی ستاسو په کارونو باندے په حقه، مونږ

كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

ؤ چه لیکلو حکم به مو ورکولو کوم څه چه تاسو کول. نو کوم خلق چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِىْ

یقین کړیدے او نیک کارونه ئے کړیدی نو دوی لره به داخل کړی د دوی رب په خپل

رَحْمَتِهٖ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

رحمت کښې، دا چې کوم دے نو همدا دی ښکاره مقصود حاصلیدل. او هغوئ چه

كَفَرُوْا ۣ اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ

منکر شوی ئے ایا تاسو ته به نه وې اوروُلې خبرې زما بیا تاسو غرور اوکړو

وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ

او شوئ تاسو خلق ګنهګاران. او کله چه به اوویلے شو چه د الله

اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ مَا

وعده رښتونے ده او قیامت کښې هیڅ شک نشته تاسو به ویئیل مونږ نه پوهیږو چه

السَّاعَةُ ۙ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿۳۲﴾

قیامت څه څیز دے، مونږ ته خو یو خیال شان راځي او زمونږ یقین نه کیږی.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا

او ښکاره به شی دوی ته بدی د هغه کارونو کوم چه ئے کړی وُو او را ګیر به شو دوی باندې هغه څیز کوم پورې چه

بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا

ئے ټوقې کولے. او حکم به وشی چه نن مونږ تاسو هیروُو څنګه چه

نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا

تاسو هیره کړې وه خپله دا ورځ د ملاقات او کور ستاسو دوزخ دے او هیڅوک

لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ

نشته ستاسو مدد ګار. دا (عذاب) په تاسو ځکه دے چه تاسو اوڅیولے د الله

اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا

خبرې په ټوقو او دهوکه شوئ د دنیا په ژوند باندې پس نن نه

يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۳۵﴾ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ

دوی ویستل منظور دی د هغې (دوزخ) نه او نه دوی نه د توبې طلب کولے شی. پس الله دپاره دی ټول صفتونه

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۶﴾ وَ

چه رب دے د اسمانونو ٥ٖله او رب دے د زمکے رَب د ټول جهان . او خاص

لَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۠ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

هغهٔ لره لوئی ده په اسمانونو او زمکه کښ او هغه دے غالب

الْحَكِيْمُ ﴿۳۷﴾

حکمت والا .

نکات : ۱ـ څلورم عقلی دلیل . ۲ـ بشارت اُخرویه . ۳ـ تخویف اُخروی ۴ـ فاء تفریعیه، پنځم عقلی دلیل .

موضح قرآن ف۱ په څنګنونو ناست عاجزی کوُلو د پاره او د فتر هغه عملنامے دی کومے چه لیکلے شویے ی. ف۲ هیرؤ و تاسو لره یعنی په تاسو مهربانی نکړو. ف۳ د دُنیا په ژوند دهوکه کیدل چه څنګه مونږ دُنیا کښ مسلمانان او کافران مقابل یو هلته به هم زمونږ دا زور او طاقت چلیږی.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د سوال او جواب د پاره تیار شه .

تفسیر ۲۸ـ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۠ دا څلورم عقلی دلیل دے او د تیرو شوو دلیلونو خلاصه ده چه د زمکے او اسمانونو بادشاهی الله تعالیٰ پورے خاص کړے شوے ده او په ټولو کائناتو کښ بغیر د بل چا د صرف هغه متصرّف او مختار دے. لهذا د هغهٔ نه سوا بل چاته آواز مکوئ . وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ الخ او کله چه قیامت قائم شی دغه ورځ به باطل پرست (کافران او مشرکان) ډیر زیات نقصان او خساره کښ وی څکه چه دوی به دوزخ کښ ورغورځولی شی چه همیشه به پکښ وسیزی او همدا د ټولونه زیاته خساره او نقصان دے . وَ تَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ د قیامت په ورځ به ته د هر اُمت خلق او وینے چه د ویرے او نا اُمیدئ په وجه به څنګنونو باندې پراته وی او د هر اُمت خلق به د خپلو اعمالو کتابونوته رابللے شی چه دلته راشئ او خپلے عملنامے پخپله اولولئ. نن تاسو ته ستاسو د اعمالو جزاء درکولے شی .

هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ الخ: دا کتاب به په تاسو باندې ریښتونے ګواهی کوی څکه چه کله تاسو په دُنیا کښ یو عمل په ځائے راوړلو مونږ به هغه وخت فرشتوته د لیکلو حکم ورکولو.

٢١ فَأَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا (الآية): دا بشارتِ اُخروي دے. یعنې صالح مؤمنانو ته به الله تعالیٰ دَقیامت په ورځ په خپل رحمت کښې پناه ورکړي او دَهغوي ګناه به معاف کړي او جنت ته به داخل کړي. دَقیامت په ورځ دَالله تعالیٰ په رحمت کښې داخلیدل ښکاره کامیابي ده کومه چه به مؤمنانو ته حاصلیږي.

٢٢ وَأَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا — تا — وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ٥ دا تخویف اُخروي دے چه په هغې کښې څه تفصیلات هم ذکر شویدي. د اَفَلَمْ تَكُنْ نه وړاندې فيقال لهم محذوف دے. دَقیامت په ورځ به دَالله پاک لطرفه کافرانو او مشرکانو ته دَ رټنې او زورنې په طور اُوویلے شي، آیا دُنیا کښې تاسو ته څما آیتونه نه وُو اَورولے شوي؟ لیکن دَغرور او تکبر په وجه تاسو دَ هغې نه انکار کولو او تاسو غلوي مجرمان او مشرکان وئ څما دَ پیغمبرانو تبلیغ او دَهغوي دَ وعظ او نصیحت باوجود تاسو دَشرک او نورو ګناهونو نه نۀ منعه کیدلئ. مُجْرِمِيْنَ ای مشرکین تکسبون المعاصي. (قرطبي ج ١٦ ص ١٧٦). وَاِذَا قِيْلَ (الآية): او کله چه به تاسو ته اُوویلے شو چه دَالله پاک وعده رښتونې ده او هغه به خامخا تاسو لره دوباره راژوندي کوي او قیامت به خامخا راځي، هغې کښې هیڅ شک نشته. نو تاسو به انتهائي سرکشئ سره ووئیل چه مونږ نۀ پوهیږو چه قیامت څۀ څیز دے؟ ستاسو بیا بیا ویلو سره زمونږ په زړونو کښې یو معمولي او کمزورے شان خیال خو کله کله راځي لیکن زمونږ به هغې هیڅکله یقین نۀ کیږي. إِنْ نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا ضَعِيْفًا (روح بحر). یا مطلب دا دے چه دَقیامت باره کښې زمونږ په زړونو کښې سوا دَ شک او تردد نه بل څۀ نشته او په دې کښې زمونږ دا سې شک دے چه دا سې په بل هیڅ یو څیز کښې نشته. (روح)

٢٣ وَبَدَا لَهُمْ (الآية): سَيِّاٰتُ، دَبد عملونو بد نتائج یعنې دَبد و عملونو سزاګانې به ظاهرے شي او دَ پیغمبرانو سره دَ مسخرو سزا به په دوي باندې نازله شي. وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ الخ چونکه دَ نسیان دَ حقیقي معنے نسبت الله تعالیٰ ته محال دے، ځکه دے ویے ته مجازاً په عذاب کښې پریښودل مُراد دي. دَقبیل دَ تسمیة المسبب نه په اسم دَ سبب یعنې مسبب له دَ سبب نوم کیښودل یعنې ځنګه چه تاسو دَ قیامت په ورځ دَ الله تعالیٰ په دربار کښې پیشي هیر کړلو سره دَ هغې نه بالکل غافله شوي وئ، نو دغه شان نن به مونږ تاسو لره په همیشه عذاب کښې ګرفتار کړو، او تاسو به همیشه دپاره هغې کښې پریږدو. دغه شان دوزخ به همیشه دپاره ستاسو دَ استوګنې ځائے وي او نن ستاسو هیڅوک یار او مددګار او ناصر او غمخور نشته چه تاسو دَ الله پاک دَ عذاب نه خلاص کړي.

٢٤ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ (الآية)، دا همیشه عذاب تاسو ته ځکه نصیب شو چه تاسو دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو منلو نه انکار کولو او په هغې باندې دَ عمل کولو په ځائے تاسو هغې پورے ټوقې کولے او په هغې باندې مو فضول اعتراضات کول او دَ دُنیوي ژوند ظاهري شان و شوکت کښې دا سې ورک شوئ چه هغه مو اصل ژوند

اوکتړلو او دَ اخرت نه مو انکار اوکړو، نو نن به دوی په همیشه عذاب کښې غورځولې شي چه دَ هغې نه به هیڅ رے نشي راوېستلے اونه به دوی ته ایمان، عمل او توبے سره دَ الله تعالیٰ دَ راضی کولو موقعه ملاؤ شي۔ ای لایطلب منهم ان یرضوا ربهم بالتوبة لفوات اوانه (مظهری ج ۸ ص ۳۹۲)۔

۲۵ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ (الآیتین)، فاء تفریعیه دَه او دا پنځم عقلي دلیل دے او څلورم دلیل پانډې تفریع دَه۔ هر کله چه دَ زمکے او اسمان بادشاهي دَ الله تعالیٰ په قبضه کښې دَه نو دَ کارسازۍ دَ ټولو صفاتو مالك هم صرف هغه دے۔ دَ زمکے او اسمان او دَ ټولو کائناتو خالق او مالك او دَ ټولو پروردګار هم صرف هغه دے۔ په ټولو کائناتو کښې اُچتوالے اولوئي دَ هغه کلوئے شان حصه دَه، دیګښ ورسره هیڅوك شریك او حصه دار نشته، هغه په ټولو غالب دے او هیڅ یو کارئے هم دَ حکمت نه خالي نهٔ دے۔

دَ سورۀ جاثیه خاصیتونه او دیګښ دَ توحید ایتونه

① وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ ۔ تا ۔ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝ نفی دَ شرك فی التصرف۔

② اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ ۔ تا ۔ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ (ع ۲) نفي دَ شرك في التصرف۔

③ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔ (ع ۴) نفی دَ شرك في التصرف۔

④ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ ۔ تا ۔ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (ع ۴) نفی دَ شرك في التصرف واثبات دَ ټول صفاتِ کارسازۍ الله تعالیٰ دپاره ده۔

کتابت خطاط ابوطلحه گلزار احمد سلمه الصمد
گاؤں صریح براستہ شبقدر فورٹ ضلع چارسدہ
۲۹ جولائی ۱۹۹۲ء



وحیدی کتب خانہ

قصہ خوانی بازار پشاور